کابـــــــــــل پوهنتـــــــــــون
ژبـــــو او ادبیـــــاتو پـــــوهنځی
د پښتو ژبې او ادب دوکتـورا برنامـه

د پښتو ادب منځنۍ دورې د دېوانونو څېړنه

(د دوکتورا ډېزرټېشن)

څېړونکی : جمشېد خان رشیدي
لارښود استادان: پوهاند دوکتور محمد رفیق رفیق او پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون

کال: ۱۴۰۱ لمریز

د پیل خبرې

له معمول سره سم د هرې تحصلي دورې په پای کې د هماغې تحصیلي موسیسې له لوري فارغ محصل ته په یوې موضوع د کار او تحقیق اجازه ورکول کېږي، چې د نوموړي څېړنې په وسیله یوه نوې فرضیه اثبات ته ورسوي، چې ټولنې ته د درد دوا شي او خلک ترې په ټولنیز ژوند کې گټه پورته کړي.

ما هم د همدې اصولو له مخې د خپلې دوکتورا(Ph.D) دورې په پای کې له فکر کولو وروسته (د پښتو ادب منځنۍ دورې د دېوانونو څېړنه) موضوع د څېړنې لپاره وټاکله. لومړی مې د موضوع رسمي پروسیجر پای ته ورسوه، بیا مې د موادو د راټولولو چارې پیل کړې، چې په دې اړوند زیاتو دوستانو راسره د خپل وس مطابق مرسته وکړه، هر یوه راته د ضرورت وړ مواد له مختلفو ځایونو راوړل، چې د دې ټولو له جملې به زه د یوه ډېر حقدار دوست نوم یاد کړم، ځکه چې هغه راسره تر بل هر چا ډېر د موادو راټولولو په برخه کې مرسته او کومک کړی دی. نوموړی شخص زما گران ټولگیوال سیداصغر (هاشمي) دی.زه د استاد له کړې زحمت مننده یم او له لایزال رب څخه ورته اوږد عمر او روغ صحت غواړم.

د موادو له راټولولو وروسته مې د خپلې موضوع لپاره د منابعو مطالعه په پوره دقت سره پیل کړه او یادداښتونه مې واخیستل، خو کله به چې هم له مشکل سره مخ کېدم نو خپل لارښود استادانو پوهاند دوکتور محمد رفیق رفیق او پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون سره به مې مشوره کوله، که څه هم چې د استادانو نور مسوولیتونه هم ډېر وو، مگر بیا یې هم زما غوښتنو او پوښتنو ته په سړه سینه او ارام فکر ځواب ویلی او خپله مشوره او نظر یې راسره شریک کړی دی، زه له قدرمنو استادانو څخه ډېره مننه کوم او له رب څخه ورته اوږد عمر او روغ صحت غوښتونکی یم، چې د دې وطن نور بچې زموږ په څېر په ملي او هېوادنۍ روحیه وروزي، تر څو د دې دردېدلي هېواد د رېښتني خدمت مصدر وگرځي.

باید ووایم ما په دې څېړنه کې هڅه کړې، چې داسې یو پایله ټولنې ته وړاندې کړم، تر څو په مسلک کې یوه زیاتونه وي، د پښتو ژبې او ادب مینوالو ډېرو پوښتنو ته ځواب و وایي او ممد درسي موادو لپاره یوه ارزښتمنه څېړنه وي.

د یادونې وړ ده چې د منځنې دورې د زیاتو شاعرانو دېوانونه چې زه یې په پیدا کولو کې بریالی شوی یم په پوره حوصله مندۍ سره مې لوستي دي، د شاعرانو له افکارو څخه مې تر ډېره هغه برخه را واخیسته چې د دې ټولنې له اوسني حالت سره ببخي سم او جوخت اړخ لگوي، په نوموړي جریان کې مې ولیدل او راته څرگنده شوه چې موږ څومره له پردۍ ژبې او ادب څخه متاثر یو او تر کومه حده د پردي غږ ترجمانان پاتې شوي یو. د هر دېوان د لوست پر وخت ډېر متاثره شوی یم، کله ناکله به مې خپل تېر برم او اوسني محکوم او سخت ژوند د ترازو پلې ته ورواچوه او د تول نتیجې ته به مې له سترگو نرۍ اوښکې راغلې، خو د څېړنې یو هدف همدا وي چې دغسې ورکې خواوې راوسپړي او نور لیکوال ورته متوجه کړي، تر څو خپلې ژبې او ادب د غنامندۍ لپاره کار وکړي.

نو ما سره هم د دې څېړنې انگیزه ځکه پیدا شوه چې لوستونکي د پښتو ژبې د دویمې دورې د زیاتو شاعرانو له دېوانونو سره اشنا شي او دا به د لوستونکو لپاره گټوره وي، ځکه چې په یو اثر کې د منځنۍ

دورې د زیاتو شاعرانو له دېوانونو سره اشنا کېږي، دېوان لرونکي شاعران پېژني، د دوی فکر ورته معلومېږي، همدارنګه له هغه شعري فورمونو څخه معلومات پیدا کوي، چې د منځنۍ دورې شاعرانو پکې شاعري کړې ده، د دېوانونو له محتوا خبرېږي او په ټوله کې د منځنۍ دورې د دېوانونو یو لنډ جاج په لاس ورځي.
په پښتو ژبه کې هر علمي کار خپل ارزښت لري او د دوکتورا دورې څېړنې باید یو نوی کار وي چې په راتلونکي کې پوهنتونونه، موسسات، علمي ځایونه او داسې نورې ادارې یې له کړي څېړنې ګټه واخلي. دغه څېړنه د لېسانس، ماسټرۍ او دوکتورا محصلینو لپاره یو ښه مرستندوی اثر ثابتېدلای شي.
د څېړنې په جریان کې له ځینو ستونزو او محدودیتونو سره مخامخ وم، د بېلګې په ډول د دویمې دورې د ټولو دېوانونو او کلیاتو پیدا کول راته سخت کار وو، خو بیا هم د ملګرو په مرسته مې تر یوې اندازې پیدا کړل او د څېړنې د مېتود له مخې مې پرې کار شروع کړ، چې دا دی اوس ستاسو په لاس کې دی.
د څېړنې اسانتیا په دې کې وه چې ټول کار په سیستماتیک ډول د یو خاص طرزالعمل او مېتود له مخې تر سره کېده او په کار کې ډېر ابهام او پیچېدګي موجوده نه وه، د بېلګې په ډول ټول کلیات او دېوانونه په یو شان پېژندنې ته یې اړتیا درلوده.
په پای کې له خپلو ټولو هغوی دوستانو او استادانو څخه د زړه له تله مننه کوم چې له ماسره یې د دې تحقیقي پروژې په بشپړونه کې تکلیفونه ګاللي او د هرې ستونزې په حل کې یې راسره پوره همکاري کړې ده.

درنښت

جمشېدخان رشیدي

لنډيز

دا څېړنه (د پښتو ادب منځنۍ دورې د دېوانونو څېړنه) تر سرليک لاندې تر سره شوې، په دې کې مې د منځنۍ دورې د دېوان لرونکو شاعرانو لنډې پېژندنې راوړي او د دوی دېوانونه مې څېړلي دي او دا پکې څرګنده شوې، چې شاعرانو په کوم فورم کې شاعري کړې ده؟ همدارنګه د دېوان پر محتوا باندې غږېدلی يم، دا هم پکې ثابته شوې ده چې کوم شاعران د يو مکتب خاوندان دي او کوم د ځانګړي سبک لارويان دي؟ يعنې ټولې هغه خواوې چې د دېوان په پېژندنې او سپړنې کې ورته اړتيا ليدل کېږي په دې څېړنې کې ورباندې بحث شوی دی.

د دې څېړنې په لومړۍ برخه کې پر تيوري بحث شوی، چې پکې دېوان، کليات، د دورو وېشنه، د منځنۍ دورې د پيلېدا عوامل او يو شمېر نور موضوعات په لنډيز سره تر بحث لاندې نيول شوي دي.

په دويمه برخه کې د منځنۍ دورې پيلوونکی بايزيد روښان او د هغه ټول پيروان لکه: ارزاني خويشکی، علي محمد مخلص، دولت لواڼی، بابو جان لغمانی او داسې نور څېړلي او له دېوانونو څخه مو د هغوی فکر او د اشعارو شعري قالبونه څرګند کړي دي، د دوی په ټولو دېوانو کې ځينې مشترکات تر سترګو کېږي، هغه دا چې دوی تر ډېره حده په خپلو شعرونو کې د تصوف مقامات او اصطلاحات راوړي دي.

په درېيمه برخه کې مو د خوشحال خان خټک کليات او تر څنګ يې د ادبي مکتب د ټولو پيروانو دېوانونه، لکه د اشرف خان هجري، سکندرخان خټک، عبدالقادر خټک او داسې نور تر څېړنې لاندې نيولي، چې د دوی په اثارو کې له روښان پير او پيروانو څخه يې د محتوا او فورم دواړو له مخې لوی فرق موجود دی، نثر يې ساده او روان دی او شعري قالبونه يې تر ډېره د عروضي نظمونو برخه ده او محتوا يې هم يوازې په تصوف او عشق بنا نه ده، بلکې د ژوند ټولې برخې يې پکې څرګندې کړي دي.

له دې وروسته بيا د رحمان بابا د عرفاني او تصوفي او د حميد بابا د هندي ادبي مکتب ټول پيروان تر څېړنې لاندې نيول شوي دي او په هر يوه يې جلا جلا بحث شوی دی.

د دوی په ادبي مکتبونو کې ډېر لوی توپير موجود دی. د رحمان بابا د ټولو پيروانو شاعري په وعظ او نصېحت بنا ده او د حميد ادبي مکتب بيا تر ډېره عشقي مسايل راوړي دي.

په پای کې مو د هوتکيانو او احمد شاهي عصر څېړلی دی او هغه ورک لعلونه چې تر اوسه مو ورته پام شوی نه و راڅرګند کړي دي او بيا مو موضوع د متفرقاتو په راوړلو سره پای ته رسولې ده.

لیکلړ

سریزه ۱۷
د څېړنې ارزښت ۱۸
د څېړنې موخې ۱۹
د څېړنې ستونزې ۱۹
د موضوع پوښتنې ۲۰
فرضیه ۲۰
د څېړنې مېتود ۲۰
د څېړنې شالید ۲۰
لومړی برخه ۲۳
د دېوان پېژندنه ۲۳
د دېوان، کلیات او ټولګې توپیرونه ۲۳
په پښتو ادب کې د دېوانونو لومړي څرکونه ۲٤
دویمه برخه ۲٦
ادبي دورې ۲٦
د پښتو ادب منځنۍ دوره ۳۲
د منځنۍ دورې نثري او نظمي ځانګړنې ۳۳
د منځنۍ دورې ادبي مکتبونه ۳۵
د منځنۍ دورې دېوان نه لرونکي شاعران ۳۸
د منځنۍ دورې د ناچاپو دېوانونو شاعران ۳۹
د پښتو ادب منځنۍ دورې دېوانونه او شاعران یې ٤۰
درېیمه برخه ٤۲
د پیرروښان ادبي مکتب او پیروان یې ٤۲
د پیرروښان لنډه پېژندنه ٤۲
د پیرروښان شاعري ٤٤
د ارزاني خویشکي پېژندنه ٥٦
د ارزاني شاعري ٥۸
د ارزاني د دېوان ځانګړتیاوې ٥۹

د ارزاني د شاعرۍ فورمونه ٦١
د ارزاني د دېوان محتوا..... ٦٣
د علي محمد مخلص پېژندنه ٦٩
د علي محمد مخلص شاعري ٧٠
د علي محمد مخلص د دېوان کالبونه ٧١
د علي محمدمخلص د دېوان منځپانګه ٧٣
د علي محمدمخلص د دېوان ځانګړتیاوې ٨٢
کریمداد بنګښ ٨٣
د اخوند درویزه بابا پېژندنه..... ٨٤
د اخوند درویزه د شاعرۍ ځانګړتیاوې..... ٨٤
د اخوند درویزه د شاعرۍ کالبونه ٨٥
د درویزه د شعر محتوا ٨٦
د اخون میاداد لنډه پېژندنه ٨٨
د میاداد شاعري..... ٨٩
د میاداد د شاعرۍ کالبونه ٩١
د میاداد د دېوان ځانګړتیا..... ٩١
د اخون میاداد د شعر محتوا ٩٢
د خواجه محمد بنګښ پېژندنه ٩٥
د خواجه محمد بنګښ شاعري ٩٥
د خواجه محمد بنګښ د دېوان شعري فورمونه..... ٩٧
د خواجه محمدبنګښ د شعر محتوا..... ٩٩
د شېخ ادم خویشکي پېژندنه ١٠٢
د ادم شاعري: ١٠٤
د ادم د دېوان ځانګړتیاوې ١٠٥
د ادم د دېوان شعري فورمونه ١٠٥
د ادم خویشکي د شعر محتوا ١٠٦
د ملامست ځمند پېژندنه ١١١
د ملا مست ځمند شاعري ١١٢
د ملامست د دېوان ځانګرتیاوې..... ١١٣

د ملامست د شاعرۍ کالبونه ۱۱٤
د ملامست د شعر محتوا ۱۱٦
د واصل روښاني پېژندنه ۱۲۰
د واصل شاعري..... ۱۲۲
د واصل د دېوان ځانګړنې ۱۲۲
د واصل د دېوان شعري فورمونه ۱۲۳
د واصل د شاعرۍ منځپانګه..... ۱۲٦
د دولت لواڼي لنډه پېژندنه ۱۳۰
د دولت لواڼي شاعري..... ۱۳۱
د دولت لواڼي د دېوان ځانګړتیا..... ۱۳۲
د دولت د شاعرۍ فورمونه ۱۳۲
د دولت لواڼي د شعر محتوا..... ۱۳٤
د میرزا خان انصاري پېژندنه ۱۳۹
د میرزا خان انصاري شاعري ۱۳۹
د میرزا خان د دېوان ځانګړتیا ۱٤۰
د میرزاخان په دېوان کې شعري فورمونه ۱٤۲
د میرزا خان د اشعارو محتوا ۱٤۳
د بابوجان لنډه پېژندنه ۱٥۲
د بابو جان شاعري ۱٥۳
د بابو جان د دېوان ځانګړتیاوې ۱٥٤
د بابوجان په دېوان کې شعري فورمونه ۱٥٤
(٦۱٥:٦م)..... ۱٥٦
د بابوجان د دېوان محتوا ۱٥٦
څلورمه برخه ۱٦۸
د خوشحال خان ختک پېژندنه ۱٦۸
د خوشحال شاعري..... ۱۷۳
د خوشحال بابا د دېوان ځانګړنې ۱۷٥
د خوشحال د دېوان شعري فورمونه ۱۷۷
د خوشحال د شعرونو منځپانګه ۱۸۱

د اشرف خان هجري پېژندنه ۱۸۷
د اشرف خان هجري شاعري ۱۸۸
د اشرف خان هجري د دېوان ځانګړنې ۱۹۰
د هجري د شاعرۍ فورمونه ۱۹۱
د اشرف خان د دېوان منځپانګه ۱۹۳
د عبدالقادرخان خټک پېژندنه ۱۹۷
د عبدالقادر خان خټک شاعري ۱۹۸
د عبدالقادر خان خټک د دېوان ځانګړنې ۱۹۹
د عبدالقادر خان خټک د دېوان شعري فورمونه ۲۰۰
د عبدالقادر خان خټک د دېوان منځپانګه ۲۰۳
د سکندر خان خټک پېژندنه ۲۰۵
د سکندر خان خټک شاعري ۲۰۵
د سکندر خان خټک د دېوان ځانګړنې ۲۰٦
د سکندرخان خټک د دېوان شعري فورمونه ۲۰٦
سکندرخان خټک د دېوان منځپانګه ۲۰۹
د ګوهرخان خټک پېژندنه ۲۱٤
د ګوهر خان خټک شاعري ۲۱٤
د ګوهر خان خټک د دېوان شعري فورمونه ۲۱۵
د ګوهر خان خټک د دېوان منځپانګه ۲۱٦
د کامګارخټک پېژندنه ۲۲۰
د کامګار خټک شاعري ۲۲۱
د کامګار خټک د دېوان ځانګړنې ۲۲۲
د کامګار خټک د دېوان شعري فورمونه ۲۲۳
د کامګار خټک د دېوان منځپانګه ۲۲۵
د سعید خټک پېژندنه ۲۲۹
د سعید شاعري ۲۲۹
د سعید د دېوان ځانګړنې ۲۳۰
د سعید د دېوان شعري فورمونه ۲۳۱
د سعید د دېوان منځپانګه ۲۳۲

د صدیق پېژندنه ۲۳٤
د صدیق شاعري ۲۳٥
د صدیق د دېوان ځانګړنې ۲۳٥
د صدیق د دېوان شعري فورمونه ۲۳٦
د صدیق د دېوان منځپانګه ۲۳٦
د معاذالدین خټک پېژندنه ۲٤۰
د معاذالدین خټک شاعري ۲٤۱
د معاذ الدین خټک د دېوان ځانګړنې..... ۲٤۲
د معاذالدین خټک د دېوان منځپانګه ۲٤٤
پینځمه برخه..... ۲٤۸
د رحمان بابا لنډه پېژندنه ۲٤۸
د رحمان بابا شاعري..... ۲٤۹
د رحمان بابا د دېوان ځانګړنې..... ۲٥۱
د رحمان بابا د دېوان منځپانګه..... ۲٥۳
د معزالله خان مومند پېژندنه..... ۲٥۹
د مغزالله خان مومند شاعري..... ۲٥۹
د معزالله خان مومند د دېوان ځانګړنې..... ۲٦۰
د معزالله خان مومند د دېوان شعري فورمونه ۲٦۰
د معزالله خان مومند د دېوان منځپانګه..... ۲٦۳
د عبدالعظیم پېژندنه..... ۲٦۸
د عبدالعظیم شاعري ۲٦۸
د عبدالعظیم د دېوان ځانګړنې..... ۲٦۹
د عبدالعظیم د دېوان شعري فورمونه ۲۷۰
د عبدالعظیم د دېوان منځپانګه ۲۷۰
د میرعلي پېژندنه..... ۲۷٥
د میرعلي شاعري..... ۲۷٦
د میرعلي دېوان ځانګړنې ۲۷٦
د میرعلي د دېوان شعري فورمونه ۲۷۷
د میرعلي د دېوان منځپانګه..... ۲۷۷

د ملا امیر لنډه پېژندنه ۲۸۰
د ملا امیر شاعري ۲۸۰
د ملا امیر د دېوان ځانګړنې ۲۸۱
د ملا میر د دېوان شعري فورمونه ۲۸۲
د ملا امیر د دېوان منځپانګه ۲۸۲
د طلب شاه پېژندنه ۲۸۵
د طلب شاه شاعري ۲۸۵
د طلب شاه د دېوان ځانګړنې ۲۸۷
د طلب شاه د دېوان شعري فورمونه ۲۸۷
د طلب شاه د دېوان منځپانګه ۲۸۸
د بیاض لنډه پېژندنه ۲۹۱
د بیاض شاعري ۲۹۱
د بیاض د دېوان ځانګړنې ۲۹۲
د بیاض د دېوان شعري فورمونه ۲۹۲
د بیاض د دېوان منځپانګه ۲۹۳
د یونس پېژندنه ۲۹۶
د یونس شاعري ۲۹۶
د یونس د دېوان ځانګړتیاوې ۲۹۷
د یونس د دېوان شعري فورمونه ۲۹۸
د یونس د دېوان منځپانګه ۲۹۹
د نجیب پېژندنه ۳۰۵
د نجیب شاعري ۳۰۵
د نجیب د دېوان ځانګړنې ۳۰۶
د نجیب د دېوان شعري فورمونه ۳۰۶
د نجیب د دېوان منځپانګه ۳۰۷
د میا نعیم پېژندنه ۳۱۲
د میا نعیم شاعري ۳۱۲
د میا نعیم د دېوان ځانګړنې ۳۱۲
د میا نعیم د دېوان شعري فورمونه ۳۱۳

د میا نعیم د دېوان منځپانګه ۳۱٤
د ملا لتاړ پېژندنه ۳۱۸
د ملا لتاړ شاعري..... ۳۱۸
د ملا لتاړ د دېوان ځانګړنې ۳۱۹
د ملا لتاړ د دېوان شعري فورمونه ۳۱۹
د ملا لتاړ د دېوان منځپانګه ۳۲۰
د ملا جان محمد پېژندنه ۳۲٦
د ملا جان محمد شاعري ۳۲٦
د ملا جان محمد د دېوان ځانګړنې ۳۲۷
د ملا جان محمد د دېوان شعري فورمونه..... ۳۲۷
د کاکړملاجان محمد د دېوان منځپانګه ۳۲۸
د شادمحمد خان پېژندنه..... ۳۳۵
د شادمحمد خان شاعري..... ۳۳۵
د شادمحمد خان د دېوان ځانګړنې..... ۳۳٦
د شادمحمد خان د دېوان شعري فورمونه ۳۳٦
د شادمحمد خان د دېوان منځپانګه ۳۳٦
د حبیب الله پېژندنه ۳٤۳
د حبیب الله شاعري ۳٤۳
د حبیب الله د دېوان ځانګړنې ۳٤۳
د حبیب الله د دېوان شعري فورمونه ۳٤٤
د حبیب الله د دېوان منځپانګه ۳٤۵
د جدید توخي پېژندنه..... ۳۵۰
د جدید توخي شاعري ۳۵۱
د جدیدتوخي د دېوان ځانګړنې..... ۳۵۲
د جدیدتوخي د دېوان شعري فورمونه ۳۵۳
د جدید توخي د دېوان منځپانګه..... ۳۵٦
د محمد رفیق پېژندنه..... ۳٦۱
د محمد رفیق شاعري ۳٦۱
د محمد رفیق د دېوان ځانګړنې..... ۳٦۲

د محمد رفیق د دېوان شعري فورمونه ۳٦۳
د محمد رفیق د دېوان منځپانګه ۳٦٦
شپږمه برخه ۳۷۱
د عبدالحمیدمومند پېژندنه ۳۷۱
د حمید مومند شاعري ۳۷۳
د حمید مومند د دېوان ځانګړتیاوې ۳۷۵
د حمید د دېوان شعري فورمونه ۳۷٦
د حمید د اشعارو محتوا ۳۷۸
د حمید په اشعارو کې تمه او حرص ۳۸۲
د کاظم خان شیدا پېژندنه ۳۹۲
د شیدا شاعري ۳۹۳
د شیدا د دېوان ځانګړتیا ۳۹٦
د شیدا د دېوان شعري فورمونه ۳۹۹
د شیدا د دېوان محتوا ٤۰۳
د محمدي صاحبزاده پېژندنه ٤۱٦
د محمدي صاحبزاده شاعري ٤۱۷
د محمدي صاحبزاده د دېوان ځانګړتیاوې ٤۱۸
د محمدي صاحبزاده د شاعرۍ فورمونه ٤۱۹
د محمدي صاحبزاده د دېوان محتوا ٤۲۰
د علی خان پېژندنه ٤۲٦
د علي خان شاعري ٤۲۸
د علي خان د دېوان ځانګړتیا ٤۲۹
د علي خان د دېوان شعري فورمونه ٤۲۹
د علي خان د دېوان محتوا ٤۳۱
د بېدل پېژندنه ٤۳۷
د بېدل شاعري ٤۳۷
د بیدل د دېوان ځانګړتیاوې ٤۳۸
د بیدل د دېوان شعري فورمونه ٤۳۹
د بیدل د اشعارو محتوا ٤٤۰

د قلندر افریدي پېژندنه ٤٤٦
د قلندر شاعري ٤٤٧
د قلندر د دېوان ځانګړتیاوې..... ٤٤٨
د قلندر د دېوان شعري فورمونه ٤٤٩
د قلندرمومند د اشعارو محتوا ٤٥٠
د پوپلزی، عبدالله محزون پېژندنه ٤٥٣
د عبد الله محزون شاعري ٤٥٣
د محزون د شاعری فورمونه ٤٥٤
د مخزون د دېوان ځانګړتیاوې..... ٤٥٦
د مخزون اشعارو محتوا ٤٥٧
د احمدشاه بابا پېژندنه ٤٦٤
د احمدشاه بابا شاعري..... ٤٦٤
د احمد شاه بابا د دېوان ځانګړنې..... ٤٦٥
د احمد شاه بابا د دېوان شعري فومونه ٤٦٦
د احمد شاه بابا د دېوان منځپانګه..... ٤٦٨
د پیرمحمد کاکړ پېژندنه..... ٤٧٣
د پیرمحمد کاکړ شاعري..... ٤٧٣
د پیرمحمد کاکړ د دېوان ځانګړنې..... ٤٧٤
د پیر محمد کاکړ د دېوان شعري فورمونه ٤٧٤
د پیرمحمد کاکړ د دېوان منځپانګه..... ٤٧٧
د شمس الدین کاکړ پېژندنه ٤٨٢
د شمش الدین کاکړ شاعري ٤٨٢
د شمس الدین کاکړ د دېوان ځانګړنې ٤٨٣
د شمس الدین کاکړ د دېوان شعري فورمونه..... ٤٨٣
د شمس الدین کاکړ د دیوان منځپانګه..... ٤٨٥
د عبدالرحیم هوتک پېژندنه..... ٤٩٠
د عبدالرحیم هوتک شاعري..... ٤٩٠
د عبدالرحیم هوتک د دېوان ځانګړنې..... ٤٩١
د عبدالرحیم هوتک د دېوان شعري فورمونه ٤٩١

د عبدالرحیم هوتک د دېوان منځپانګه..... ٤٩٢
د فیاوالدین پېژندنه ٥٠٠
د فیاوالدین شاعري..... ٥٠٠
د فیاوالدین د دېوان ځانګړنې ٥٠٠
د فیاوالدین د دېوان شعري فورمونه ٥٠١
د فیاوالدین د دېوان منځپانګه ٥٠١
د ګل محمد مالګیري پېژندنه..... ٥٠٧
د ګل محمد مالګیري شاعري..... ٥٠٧
د ګل محمد مالګیري د دېوان ځانګړنې..... ٥٠٨
د ګل محمد مالګیري د دېوان شعري فورمونه ٥٠٨
د ګل محمد مالګیري د دېوان منځپانګه..... ٥١٠
د احمد دین طالب پېژندنه..... ٥١٦
د احمد دین طالب شاعري..... ٥١٦
د احمد دین طالب د دېوان ځانګړنې..... ٥١٧
د احمد دین طالب د دېوان شعري فورمونه..... ٥١٧
احمد دین طالب د دېوان منځپانګه ٥١٨
د پیر مطیع الله پېژندنه ٥٢٧
د پیر مطیع الله شاعري ٥٢٧
د پیر مطیع الله د دېوان ځانګړنې ٥٢٧
د پیر مطیع الله د دېوان شعري فورمونه ٥٢٨
د پیر مطیع الله د دېوان منځپانګه ٥٢٩
د حسین پېژندنه..... ٥٣٨
د حسین شاعري..... ٥٣٨
د حسین د دېوان ځانګړنې..... ٥٣٩
د حسین د دېوان شعري فورمونه..... ٥٣٩
د حسین د دېوان منځپانګه..... ٥٤١
د رحمت داوي پېژندنه ٥٤٨
د رحمت داوي شاعري ٥٤٨
د رحمت داوي د دېوان ځانګړنې ٥٤٩

د رحمت داوي د دېوان شعري فورمونه ۵۵۰
د رحمت داوي د دېوان منځپانګه ۵۵۱
د مصري خان ګګیاڼي پېژندنه ۵۵۷
مصري خان ګګیاڼي شاعري ۵۵۷
د مصري خان ګګیاڼي د دېوان ځانګړنې ۵۵۸
د مصري خان ګګیاڼي د دېوان شعري فورمونه ۵۵۸
د مصري خان ګګیاڼي د دېوان منځپانګه ۵٦۰
د میافقیرجمیل بېګ خټک پېژندنه ۵٦۷
د میا فقیر جمیل بېګ خټک شاعري ۵٦۸
د میا فقیر جمیل بېګ خټک د اثر پېژندنه او ځانګړنې ۵٦۸
د میافقیرجمیل بېګ خټک د اثر شعري فورمونه ۵٦۹
د میافقیرجمیل بېګ خټک د اثر منځپانګه ۵۷۰
د میرزاحنان بارکزي پېژندنه ۵۷۲
د میرزاحنان بارکزي شاعري ۵۷۳
د میرزا حنان بارکزي د دیوان ځانګړنې ۵۷۳
د میرزا حنان بارکزي د دېوان شعري فورمونه ۵۷٤
د میرزا حنان بارکزي د دېوان منځپانګه ۵۷٦
د احمد پېژندنه ۵۸۱
د احمد شاعري ۵۸۱
د احمد د دېوان ځانګړنې ۵۸۲
د احمد د دېوان شعري فورمونه ۵۸۲
د احمد د دېوان منځپانګه ۵۸٤
د شریف پېژندنه ۵۹۰
د شریف شاعري ۵۹۰
د شریف د دېوان ځانګړنې ۵۹۱
د شریف د دېوان شعري فورمونه ۵۹۱
د شریف د دېوان منځپانګه ۵۹۲
پایله ۵۹٦
مناقشه ۵۹۷

نتیجه گیري..... ۵۹۸
وړاندیزونه ۵۹۹
ماخذونه..... ۶۰۰

سریزه

انسان په ټولنه کې د ژوند کولو او له نورو انسانانو سره د عالي او انساني چلند لپاره ادب ته ضرورت لري، همدارنګه د یوې ټولنې د ملي خصوصیاتو څرګندونه تر هر څه زیات د هغې ټولنې په ادبیاتو کې څرګندېږي.

ادبیات چې د انسان په ژوند کې دیني، سیاسي، ټولنیز، اخلاقي، ښوونیز، روزنیز، تاریخي او کلتوري ارزښت لري، د نورو هنرونو تر څنګ د تاریخ په اوږدو کې د مختلفو قومونو او خلکو تر منځ له ځانګړي باور څخه هم برخمن دي او د ملتونو په عامه پوهاوي، بیداری، د فکري او ځاني بوختیاوو برخه کې ارزښتمن رول لوبوي.

پښتو ادبي دورې په درېو برخو ویشل شوي چې زموږ د څېړنې موضوع د پښتو ادب منځنۍ دورې د دېوانونو څېړنې ته ځانګړې شوې ده. پښتو ادبیاتو منځنۍ ادبي دوره د څومره والي او څرنګوالي له مخې له لرغوني ادبي دورې سره جوت توپیر او ټاکلی ځای لري.

منځنۍ ادبي دوره له لسمې پېړۍ څخه چې سرلاری یې پیرروښان دی پیلېږي. که چېرې د دې پیړۍ هر اړخیزو (سیاسي، اجتماعي او کولتوري) پېښو ته بشپړه کتنه وکړو؛ نو دا په څرګنده معلومېږي چې باید د تېرې ادبي دورې ځای دا ډول یوې نوې ادبي دورې ته پرېښودل شي. په دې ادبي دوره کې په لوی افغانستان او پخواني هندوستان کې د پښتنو ملي خوځښت، مذهبي او پښتني غورځنګونه یو له بل پسې د ځینې سیاسي ناخوالو له کبله راوټوکېدل، وده او پرمختګ یې وکړه. ځینو لیکوالو، شاعرانو، مذهبي او سیاسي شخصیتونو خپلو لیکنو او ویناوو ته پراختیا او پرمختیا ورکړه او منظم اثار یې چاپ او نشر شول.

د منځنۍ دورې لومړي سرلاري د خیرالبیان په نوم لومړی اثر ولیکه او نورو لارویانو یې د نورې مبارزې تر څنګ دا لاره هم تعقیب کړه او ځانګړي دېوانونه یې ولیکل، د پیرورښان مخالف اخونددرویزه او لارویان هم له دې سیالۍ څخه بې برخې پاتې نه شول او د لیکنو برخه یې هم ګرمه وساتله، همدارنګه د دغې دورې دویم پړاو چې له لومړي پړاو څخه یو څه پرمختللی ښکاري او د خوشحال، رحمان، حمید او نورو غوندې هستۍ پکې راوټوکېدي او لارویان یې پیدا کړل، دوی د ځانګړو دېوانو خاوندان شول، چې په دې څېړنه کې به یې له پوره تعارف سره اشنا شئ او شعري ځانګړنې به یې ولولئ.

د دې څېړنیز اثر عمده موضوعات دا دي: د لیکنې په لومړي سر کې د څېړنې ارزښت، د څېړنې موخې، د څېړنې پوښتنې، میتود، شالید او نورې برخې راوړل شوي دي.

بیا د دیوان پېژندنه او له نورو اړوندو برخو سره یې توپیر په نښه شوی او په ترتیب سره د لیکلړ مطابق د ادبي دورو ټاکنې مسئلې په اړه په تفصل سره بحث شوی، د منځنۍ دورې نثري او نظمي ځانګړنې تر سرلیک لاندې موضوعات تشریح شوي دي، چې په دې دوره کې تصوف او عرفان پښتو ادب ته لاره پیدا کړه، په نثري لیکنو کې مسجع نثر ودې او پرمختګ ته زمینه برابره شوه، اخلاقي او دیني مسایل په شعر او ادب کې زیات شو، د نظم او نثر نیمګړتیاوې اصلاح او خوږوالی یې پیدا کړ او یو شمېر ابتکارونه رامنځته شول.

همداسې په منځنۍ ادبي دوره کې درې مهمو برخو باندې لنډې خبرې شوي چې د فکري، سیاسي او هنري ځانګړنو له مخې د تشخیص وړ دي، چې غوره استازي یې په فکري لحاظ د روښان پلویان، په

سیاسي لحاظ خوشحال خان خټک او په هنري لحاظ رحمان بابا، حمید مومند، کاظم خان شیدا، حنان بارکزی او نور دي په بشپړ ډول واضیح شوي دي.
کله چې موږ د منځنۍ دورې پر دېوانونو بحث او څېړنه کوو، نو په دې دوره کې لومړی نوم د بایزید روښان راځي، چې د ده په لارویانو کې هم داسې خلک شته چې دېوانونه یې لا نه دي چاپ او یا یې د اشعارو څو نمونې تر موږ را رسېدلي دي، لکه میا علي، شیر محمد، اخوند مصري، شیخ الدین، ازاد، بیک محمد، قادر، میاالهداد، نجابت او داسې نور، د دې پړاو بل مبارز او مرشد اخونددرویزه دی، چې ځینې لارویان یې د دېوانونو خاوندان ول؛ مګر تر ننه یې دېوانونه چاپ شوي نه دي، تر دې وروسته بل د مکتب بنسټګر خوشحال لرو، چې د ده د ځینو لارویانو دېوانونه هم نه دي چاپ او تر موږ نه دي را رسېدلي او یا یې د اشعارو یوازې څو بېلګې تر موږ را رسېدلي دي، لکه ګوهر خان خټک، عابد خان خټک، توتیا، حلیمه، ازاد خان، عجب خان، بهرام خان او داسې نور هغه شاعران دي، چې دېوانونه یې تر موږ نه دي را رسېدلي یا یې نه لري، خو دوه درې غزلې، بل شعري فورم او یا څو بیتونه یې تر موږ را رسېدلي دي.
په منځنۍ دوره کې د رحمان بابا په تصوفي مکتب کې هم داسې شاعران شته، چې دېوانونه یې نه دي چاپ شوي او د اشعارو یوازې څو نمونې تر موږ را رسېدلي، چې دلته به د ځینو د نومونو په یادونه بسنه وکړو، لکه اخوند ګدا، غفور، جمال خان، نیاز محمد، عبید، نصرت، شیخ نامدار، ګل محمد کاکړ، عبدالوهاب اڅکزی، عبید الله الکوزی، خدیداد محمدزی، فدا محمد، ابن یمین، منصور او داسې نور....
په هندي مکتب کې هم داسې شاعران شته چې دېوانونه یې نه دي چاپ شوي، ورک شوي او تر موږ نه دي را رسېدلي او یا یې د اشعارو څو نمونې تر موږ را رسېدلي دي، چې د ځینو نومونه یې دا دي: خانګل خلیل، صمد، دوست محمد، فضلي، سلیم، شمشیر، میا خان، امام خان ترین، نور محمد نوري، سردار مهردلخان، صدیق اخونزاده، سردار غلام محمد خان، سردار طرزي، ملامحمد، ملا صالح، ملا حسین او داسې نور....
د دې څېړنې اصلي او اساسي سرلیک د پښتو ادب منځنۍ دورې دېوانونه او شاعران یې دي، پښتو ادب منځنۍ دوره چې په پښتو ادب کې یو ځلنده او روڼ نوم دی، له (۹۵۰) کال څخه پیلېږي او په دې ادبي دوره کې په لسګونه شاعران او لیکوالان را پیدا کېږي او یوه تل پاتې او کلاسیکه شاعري کوي، چې یوازې په لره او بره پښتونخوا نه، بلکې په نړیواله کچه شهرت پیدا کوي او د نړۍ څېړونکي یې د خپل بحث محور ګرځوي. د دې دورې په یوه شاعر هم کتابونه، کتابونه خبرې کېدلی شي او ان په یوه بیت یې بشپړ کتاب لیکل شوی دی، خو په دې څېړنه کې د منځنۍ دورې ټول دېوان لرونکي شاعرن په لنډ ډول معرفي شوي، د دېوان پر منځپانګه او فورم یې بحث شوی او زما خپل تحلیل ورسره راوړل شوی دی.

د څېړنې ارزښت

د دې څېړنې ارزښت دا دی، چې د منځنۍ دورې د ټولو شاعرانو د دېوانونو محتوا او فورم په ښه ډول څرګندوي. همدارنګه لوستونکو ته د منځنۍ دورې د هر شاعر په اړه معلومات ورکوي، د هغه وخت فکر راسپړي او د هغه دور فرهنګي، ژبني او ټولنیز تاثیرات پکې موندل کېږي.

د دې موضوع یو ارزښت دا دی، چې لوستونکو او د پښتو ادب مینوالو ته د منځنۍ دورې په اړه یو جامع ،هراړخیزه او سیستماتیکه عمومي څېړنه وړاندې کېږي. په دې امید یم چې تر چاپ وروسته په پوهنتونونو کې هم د مْمد درسي موادو په توګه ترې استفاده وشي، ځکه چې په پوهنتونونو کې داسې یو جامع اثر نه لرو، ترڅو محصلینو ته د نوموړې دورې ټول شاعران معرفي او د هغوی په فکر بحث وکړي.
د همدې تشې د بشپړولو او ډکولو په هدف د کابل پوهنتون ماستریاو دوکتورا بوردلخوا دا موضوع چې پروپوزل یې ما مخکې وړاندې کړی و ومنل شوه چې د پخوانیو او نویو علمي اثارنه په ګټه اخیستیو بشپړ او د ادب مینه والو ته یې دالۍ کړم .

د څېړنې موخې

د دې څېړنې اصلي او اساسي موخه دا ده چې د منځنۍ دورې د دېوانونو په اړه یوه دقیقه څېړنه کول، تر څو د منځنۍ دورې ټول شاعران راغونډ او لوستونکي د منځنۍ دورې د شاعرانو ژوند، فکر او شعري جوړښتونه په یو اثر کې مطالعه او د ټولو ورته والی او لیري والی ورته معلوم شي، چې له یوه طرفه د وخت له ضایع کېدو او له بله اړخه به هر چاته د منځنۍ دورې د لوست زمینه برابره شي.

د څېړنې ستونزې

هره موضوع د څېړنې پر وخت یو شمېر ستونزې او مشکلات له ځان سره لري، چې دغه مشکلات په بېلابېلو برخو کې تر سترګو کېږي.زیات وخت داسې پېښېږي، چې یو نوی فکر د سړي ذهن ته ورشي؛ خو نشي کېدای دغه فکر د کلمو په چوکاټ کې د کاغذ پرمخ راوړي چې دا کار د تمرین او ډېرو لیکلو له لارې مکمن کیدای شي، لیکنه که څېړنیزه اثر یا هم مقاله وي، د هر کار په شان د یو شمېر مقدماتو چمتو کولو او د ځینو ټکو رعایت ته اړتیا لري.
د دې څېړنې په جریان کې زه هم له یو شمېر ستونزو سره مخ شوم، چې تر ټولو لویه ستونزه یې د موادو د راټولونې په برخه کې د هر شاعر د یوه دقیق دېوان لاسته راوړل و، ځکه چې د منځنۍ دورې د زیاتو شاعرانو دېوانونه د مختلفو څېړونکو له لوري په مختلفو شکلونو سره چاپ شوي دي، په دې څېړنه کې هڅه شوي چې له هغه دېوان یا کلیات څخه استفاده وشي، کوم چې ډېر دقیق وي او همدا شان دېوانونه له موضوع سره سم په تسلسل توضیح او تشریح شي. د وخت مدیریت او مصروفیت بله ستونزه وه، چې تل ورسره مخ وم، خو د کار تر سره کولو لپاره مناسب مهالوېش او ګام په ګام وړاندې تلل د هغو مسایلو له ډلې دي، چې له ټاکلي مهالوېش سره سم د څېړنې چمتو کول او تدوین حتمي کوي.
همدارنګه د منځنۍ دورې په دېوانونو کې داسې بیتونه او شعري ټوټې هم تر سترګو کېدلې چې د عروضي نظمونو له هېڅ یوه کالب سره به یې هم سمون نه درلوده.
بله دا چې د زیاتو شاعرانو د دېوانونو د خطاطانو نومونه او د دېوان د لیک نېټې څرګندې نه وې، یوازې لیکل شوي وو او بس، په ځینو دېوانونو کې یو څه برخې له منځه تللي وي، چې د لوست پر وخت به راته لویه ستونزه پیدا کېده او په یو شمېر دېوانونو کې املایي مشکل هم زیات وو.

د لومړي دیوان کتل یا هم پرتله کول له نورو چاپونو سره، چې په دې کې د معتبر او غیرمعتبر موندل خپله یوه ستونزه وه، له ټولو مشکلاتو سره سره الله تعالی توفیق راکړ او څېړنه بشپړه شوه، په دې هیله چې د قلم خاوندانو ته ګټوره تمامه شي.

د موضوع پوښتنې

۱ـ د منځنۍ دورې دیوانونو تر منځ کوم توپیر اوشریک ټکې موجود دي؟
۲ – په منځنۍ دوره کې شاعرانو په کوم شعري کالبونو کې شعرونه ویلي دي؟
۳ – د منځنۍ دورې مهمې ځانګړنې کومې دي؟
۴ – د منځنۍ دورې په شاعرانو کې کوم فکر پالل شوی؟

فرضیه

۱. امکان لري د منځنۍ دورې د ډېرو شاعرانو دېوانونه چاپ او د دوی د شعرونو تر منځ ګډ مشترکات موجود وي.
۲. د منځنۍ دورې د ډېرو دېوانونو شعرونه د شکلي جوړښت له مخې شاید ګډې خواووې ولري.
۳. د منځنۍ دورې په شعرونو کې د ولسي ادبیاتو څرکونه کیدای شي کم وي .
۴. کیدای شي د منځنۍ دورې د شاعرانو په اشعاروکې د فکر ورته والی او توپیر شتون ولري .

د څېړنې مېتود

د دې څېړنې ډول کتابتوني دی، ځکه موږ کوښښ کړی چې د هر شاعر د دېوان په اړه د هغوی کتابونه او په هغوی لیکل شوي نور کتابونه ولولو، په همدې خاطر مو له کتابونو استفاده کړې ده.
د دې ترڅنګ په دې څېړنه کې له تشریحي او تحلیلي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې ده او د هر دېوان محتوا په لنډ ډول تشریح شوې ده.
په دې څېړنه کې د بېلابېلو کتابونو، مقالو او داسې نورو اثارو څخه ګټه اخیستل شوې ده، یعنې د کتابتوني څېړنیز ډول او د تشریحي او توضیحي مېتودونو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

د څېړنې شالید

هر څېړنه باید له پخوانیو لیکنو او څېړنو سره توپیر ولري، که توپیر ونه لري؛ نو بیا د دې اړتیا نه پېښېږي چې پر تکراري موضوع دې بیا پاڼې تورې او وخت ضایع شي، دا څېړنه هم نوې ده او په دې موخه، مفهوم او بڼه هېڅا نه ده څېړلې او د یوې علمي او منظمې اکاډمیکې څېړنې په توګه پرې کار نه دی شوی.
باید ووایم چې د دې موضوع په بېلابېلو برخو زیاتو لیکوالو لیکنې او څېړنې کړي، ځینو یې د پښتو ادب منځنۍ دورې د دېوان لرونکو خاوندانو پېژندنې رااخیستې، چا د دغې دورې شاعري راسپړلې او راپېژندلې، همدارنګه په جلا توګه د ځینو دېوانونو ځانګړنې، ادبي صنایع، تشریح او نور مشخصات هم راښودل شوي، د یادې دورې د شاعرانو او لیکوالو د ژوند بېلابېل اړخونه رابرسیره شوي، چې د ځینو دېوان لرونکو شاعرانو،

لکه د پښتو ادبي مکتبونو د سرلارو او نورو په باب ډېرې خبرې شوي او د ژوند، شاعرۍ او حالاتو مختلف اړخونه یې څرګند شوي، چې د بېلګې په توګه خوشحال بابا، رحمان بابا، عبدالحمید مومند، کاظم خان شیدا.... او نور یادولی شو.

همدارنګه د منځنۍ دورې زیات دېوانونه چاپ شوي، چې له ټولو څخه په دې څېړنه کې کار اخیستل شوی، شعري ځانګړنې یې، فورم او محتوا یې رابرسیره شوي، نو ځکه یې دلته د هر یو جلا یادونه اړینه نه بولم، خو باید ووایم چې د منځنۍ دورې د ټولو دېوانونو یو ځایي د فورم او محتوا سپړنې په اړه تر اوسه کومه څېړنه نشته، هغه څه چې د دغې موضوع په تړاو پکې په بېلابېل شکلونو یو څه لیدل کېږي، په عمومي توګه دلته د یو څوو یادونه کوم، له مشخص کتاب او لیکوال د نوم له یادونې ځکه تېرېږم، چې پښتو ادب کې منځنۍ دوره یوه غني دوره ده او د دې دورې د هرې برخې په تړاو لیکنه له دې موضوع سره یو ډول نه یو ډول اړیکه لري.

- د ادبپوهنې کتابونه: د ادبپوهنې په تړاو لیکل شوي کتابونه په مختلف شکلونو د منځنۍ دورې د دېوانونو یو څه اړخونه راسپړي او شعري ځانګړنې یې راښیي.
- د پښتو ادب تاریخونه: پښتو ادب کې زیات ادب تاریخونه لیکل شوي، چې ځینې یې د مځنۍ دورې د زیاتو دېوان لرونکو شاعرانو پېژندنې، شاعري او د دغه وخت پوره عکاسي پکې لیدل کېږي. همدارنګه د بېلابېلو ادبي پدیدو ځای او ارزښت ټاکي او ادبي بهیر او د منځنۍ دورې ادبي مکتبونه پکې سپړل شوي. په ځانګړې ډول د استاد سرمحقق هیوادمل صاحب ، رفیع صاحب ، حبیبي صاحب کار د قدر وړدی .
- ادب تیورۍ کتابونه: دا اثار چې په ټوله کې د ادبي پدیدو ټولنیز ماهیت او د تخلیقي ادبیاتو ځانګړنې مطالعه کوي او د ادبي اثارو د څېړنې او بررسۍ عام اصول وضع کوي. د منځنۍ دورې د دېوانونو، شعري فورمونو، شعري ځانګړنو او پیغامونو په اړه خورې ورې خبرې لري، چې زموږ له څېړنې سره یو څه اړیکه لري او د دې څېړنې ځینې اړخونه پکې لیدل کېږي.
- د ادبي کره کتنو کتابونه: د دې اثارو موخه د ادبي اثارو او لیکنو شننه او تحلیل دی او هنري ارزښت یې په ګوته کول دي، چې په ځینو کره کتنیزو اثارو کې د منځنۍ دورې د دېوانونو شاعري راسپړل شوي، ښې او نیمګړې نقطې یې په ګوته شوي او د دې موضوع یو اړخ پکې خامخا روښانه شوي.
- د منځنۍ دورې د دېوانونو شرحې او لغت نامې: په دې وروستیو کې ځینو لیکوالو د منځنۍ دورې د دېوانونو د بېلابېلو اړخونو په سپړنه او څېړنه کتابونه لیکلي، همدارنګه ځینو یې د دغې دورې د دېوانونو ادبي صنایع راښودلي او ځینو بیا خپلې څېړنې یوازې د دیوانونو شرحو او لغت نامو ته ځانګړې کړي.
- ادبي تذکرې: په پښتو ژبه او ادب کې زیاتې ادبي تذکرې لیکل شوي، چې ځینې د منځنۍ دورې شاعرانو ته ځانګړې شوي او ځینې بیا د یوې برخې په توګه د منځنۍ دورې شاعران او د دوی شعري بېلګې تر موږ را رسوي.
- د منځنۍ دورې متون: په دې اثارو کې د منځنۍ دورې متون راسپړل شوي، چې زموږ له موضوع سره اړخ لګوي.

همداراز د قافیې فن کتابونه، شعر پېژندنې یا شعر پوهنې، د کلاسیک ژانرونو د تشریح اثار، د ادبي مکتبونو د پېژندنې، سپړنې او څرګندونې اثار، د ادبي مکتبونو د سرلارو هر اړخیزې سپړنې او څېړنې، بېلابېل ادبي بحثونه او د ادب او ادبیاتو په تړاو بېلابېل هغه اثار چې په مختلف شکلونو سره پر ادبي موضوعاتو غږېږي او د منځنۍ دورې دېوان لرونکي شاعران او دېوانونه راپېژني، د دغې دورې شعري ځانګړنې او د دېوانونو پر فورم او محتوا مختلف بحثونه لري، په پښتو ادب کې پریمانه لیدل کېږي

دغه اثار چې زموږ له موضوع سره په بېلابېلو شکلونو یو څه اړخ لګوي او په دې باب یې یو څه معلومات وړاندې کړې، چې ځینې کره او ځینې نور یې بیا یو د بل په مقابل کې واقع دي لکه : توریالی پښتون،د عبدالحمیدمومند یاد د مقالو ټولګه ده چې داستاد زلمی هیوادمل په زیاراو اهتمام په دولتي مطبعه کې چاپ شوې ده ، ادبي څېړنې د څېړندوی محمد صدیق روهي اثر ، د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغونې او منځنۍدوره چې د استاد زلمی هیوادمل اثردی او دانش خپرندویه ټولنې چاپ کړی ، د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره د پوهاند دوکتور زیورالدین زیور اثر چې د ساپی څېړنو او پراختیا مرکز له خوا چاپ شوی دی لکه پورته مې چې یاده وکړه د ادبپوهنې څانګې د سید محی الدین هاشمي اثر چې د میهن خپرندوی ټولنې له خوا چاپ شوي ، خو زما څېړنه بیا له دې ټولو سره جوت توپیر دا لري، چې په دې څېړنه کې د منځنۍ دورې د ټولو چاپ شوو دېوانونو د پېژندنې، د دېوانونو فورمي او محتوایي ځانګړنو د سپړنې، د دېوان لرونکو شاعرانو د لنډې پېژندنې او دېوانونو د ځانګړنو یوه منظمه اکاډمیکه څېړنه یې بللی شو.

لومړی برخه

د دې څېړنې لومړی برخه د دېوان پېژندنې، له کلیات او جونګ سره یې توپیر ته ځانګړې شوې، دا برخه راته ځکه اړینه ښکاره شوه، چې زموږ موضوع د منځنۍ دورې د دېوانونو څېړنه ده، نو لومړی باید دېوان او اړوند برخې وپېژندل شي. همدارنګه په پښتو ادب کې د دېوان د څرک په اړه هم بحث لري.

د دېوان پېژندنه

دا چې زموږ د تحقیق موضوع د منځنۍ دورې د دېوانونو څېړنه ده، نو په لومړي سر کې غوره بولم چې د دېوان په اړه یو څه خبرې وکړم.

(دېوان په لغت کې راټولو شوو کاغذي پاڼو ته ویل کېږي او په ادبي اصطلاح کې د یو شاعر د شعرونو هغې ټولګې ته ویل کېږي چې له (الف) څخه تر (ي) پورې د ټولو قافیو شعرونه پکې د هجاء د تورو په ترتیب راټول شوي وي، د دېوان په نوم یادېږي. لکه د (رحمان بابا دېوان)... (۷۵:۷۲م)

په یوه بله پېژندنه کې داسې راځي: (دېوان معربه کلمه ده چې جمع یې دواوین او دباوین ده. په لغت کې راټولو شوو کاغذي پاڼو، هغه کتاب چې د لښکر نومونه پکې لیکلي وي او د یو هېواد د ټولواک دفتر ته ویل کېږي.

د تسمیې وجه یې دا ده چې د ایران یوه پاچا کاتبانو ته وویل، چې د خلکو حساب ورته په درې ورځو کې ورکړي، یوه ځانګړې ځای کې کېنول او هغوی په خپل کار پیل کړ، څه وخت وروسته پاچا ورښکاره شو کاتبان د ډېرې بېړې له امله داسې ژر او چالاک خوځېدل لکه لېونیان؛ نو پاچا چې کله هغوی ولیدل ویې ویلې (ای دېوانه) نو د هغوی د کتابونو او هغه ځای نوم دېوانه شو، عربي کې ترې دېوان جوړ شو، اوس په عربي، پښتو، فارسي او اردو کې د دېوان کلمه مستعمله ده.

په اصطلاح کې د یو شاعر د شعرونو هغه ټولګې ته ویل کېږي چې له (الف) څخه تر (ي) پورې د ټولو قافیو شعرونه پکې د هجا تورو په ترتیب راټول شوي وي، لکه د عبدالرحمن بابا دېوان، د عبدالحمید مومند دېوان او... (۳۳۵:٦۳م)

د دېوان، کلیات او ټولګې توپیرونه

پورته مو د دېوان د پېژندنې په باب خبرې وکړې، اوس به د کلیات او ټولګې په باب هم یو څه څرګندونې وکړو او توپیر به یې واضح شي.

(کل په لغت کې ټول یا د ډېرو اجزاوو او افرادو مجموعې ته ویل کېږي (ي) د نسبت او (ة) د تانیث ده او په ادبي اصطلاح کلیات د یوه لیکوال، ادیب او شاعر د ټولو نثري یا شعري لیکنو مجموعې ته ویل کېږي. له

همدې امله کلیات د یوه لیکوال، ادیب یا شاعر له مرګ نه وروسته را ټولېږي، چې د هغه د ژوند ټول نثري یا شعري لیکنې پکې ځای شي.

په پښتو ژبه کې په دې وروستیو کې په کلیاتو کار پیل شوی دی، چې ځینې نیمګړتیاوې هم لري، لکه د خوشحال کلیات، د حمزه کلیات، د الفت کلیات، د غني کلیات او داسې نور.(٣٣٦:٦٣م)

دېوان او کلیات په هکله بحث وکړ او دواړه مو وپېژندل، چې په پېژندنه یې تر منځ توپیر هم جوت شو، ځکه چې دېوان یوازې د یو شاعر او لیکوال شاعري ده او هغه اثر ته ویل کېږي چې له (الف) څخه تر (ي) پورې د ټولو قافیو شعرونه پکې وي او د هرې پټۍ شعرونه ولري. په همدې ډول کلیات بیا د شاعر د ټولو نظمي او نثري اثارو مجموعې ته وایي.

نو له دې وروسته د ټولګې پېژندنه داسې کوو: هر هغه تخلیقي اثر یا شعري مجموعه چې د متن څېړنې په مېتودولوژي کې نه د دېوان او نه د کلیات تر حده رسېدلې وي ټولګه ورته وایي. معمولاً دېوانونه او کلیات غټ وي، مګر ټولګې د شاعر د ذوق مطابق کله ډېرې کوچنۍ او فقط یو څو مخه وي، خو ځینې ډېرې لویې شعري ټولګې هم شته، چې توپیر یې په لویوالي او کوچنیوالي کې نه دی، بلکې توپیر یې په ترتیب او د ټاکلو اصولو په پوره کولو کې دی، چې د دېوان لپاره هم ټاکل شوي یا منل شوي او د کلیات لپاره هم.

د دېوان، کلیات او ټولګې پېژندنه او د دوی تر منځ توپیر واضیح شو، په دې باب نورې خبرې نه اوږدوم. اوس د موضوع مطابق بل عنوان ته راځم او پر هغې د څېړنې مطابق خبرې کوو او سپړو یې.

په پښتو ادب کې د دېوانونو لومړي څرکونه

په ځینو ادب تاریخونو کې د لرغونې دورې د ځینو دېوان لرونکو شاعرانو یادونه شوې او همدارنګه د دوی د دېوانونو یادونه هم شوې ده، خو لاس ته راغلي نه دي. په منظم ډول دېوانونه په منځنۍ (دویمې) دورې کې لاس ته راغلي دي چې له دې جملې څخه لومړنی دېوان د روښانیانو د ارزاني خویشکي دی. په ده پسې وروسته نور په منځنۍ دوره کې په لسګونه دېوانونه د بېلابېلو شاعرانو له خوا لیکل شوي دي او دا لړۍ همداسې دوام لري.

په منځۍ دوره کې د روښانیانو په دوره کې له ارزاني خویشکي وروسته اخوند درویزه د دېوان لرونکی شاعر دی، په ده پسې خواجه محمد بنګښ او همداسې نور دېوان لرونکي شاعران شته.

له روښانیانو وروسته د خوشحال په ادبي مکتب کې د خوشحال خان ختک په شمول د ده ځینې زامن او نور لارویان هم د بشپړو دېوانونو درلودونکي دي، لکه اشرف خان هجري، سکندر خان ختک او داسې نور.

له خوشحال وروسته رحمان بابا او د ده لارویانو کې هم ډېری شاعران د بشپړو دېوانونو لرونکي دي او دېوانونه یې تر موږ را رسېدلي دي.

له رحمان بابا وروسته د هندي ادبی مکتب بنسټګر او لارویان هم د یادولو وړ دي، چې د حمید مومند په شمول، کاظم خان شیدا او نور د دوی د پیروانو دېوانونه تر موږ را رسېدلي دي او تر نن پورې دا لړۍ همداسې دوام لري.

دویمه برخه

د دې څېړنې موضوع د منځنۍ دورې د دېوانونو څېړنه ده، دا چې په پښتو ادب کې څو دورې دي او یوه دوره له بلې څخه څنګه بېلېږي؟ هره دوره کومې ځانګړنې لري؟ د یوې دورې پای او د بلې دورې پیل څنګه پېژندلی شو؟ منځنۍ دوره څو پړاوه لري؟ په دې اړوند ټول بحثونه د څېړونکو د نظریاتو په رڼا کې په دې برخه کې راوړل شوي او دا برخه له دې امله هم مهمه ده چې د منځنۍ شروع او پای راته معلومه شي، ځکه په دې هکله ټول لیکوال سره په یوه خوله نه دي.

همدارنګه په دې برخه کې د منځنۍ دورې د دېوان لرونکو شاعرانو، د دېوان نه لرونکو شاعرانو او د ناچاپ دېوان لرونکو شاعرانو نومونه هم راوړل شوي دي.

ادبي دورې

کله چې موږ د منځنۍ دورې د دېوانونو په باب څېړنه کوو؛ نو اړینه بولم چې د پښتو ادب په ادبي دورو هم یو څه بحث وکړم. لکه څنګه چې د ادبي دورو د ټاکنې په باب د ټولې نړۍ په ادبیاتو کې بېلابېل معیارونه ټاکل شوي دي او بېلا بېلو لیکوالو د خپل نظر په اساس وېشلي دي او دا هم باید وویل شي چې د ادبي دورو ټاکل یو ستونزمن کاردی او د ادبي مورخ زیاته پاملرنه غواړي، دا هم باید وویل شي چې د ادبي دورو لپاره کوم ټاکلی او منلی معیار نشته او د بېلابېلو ژبو ادبي تاریخ لیکونکو په دغه برخه کې ځانګړي ځانګړي معیارونه کارولي دي.

ځینو د پاچاهانو او مشرانو په نظر کې نیولو سره، ځینو د کرونولوژي او وخت په نظر کې نیولو سره، ځینو د ژانرونو، سبکونو او مکتبونو په نظر کې نیولو او ځینو د نورو روشونو په اساس وېشلي دي.

د ادبپوهنې ځانګې اثر لیکوال د ادبي دورو د وېش په اړه د یو ټاکلي او منلي معیار د نشتوالي لامل داسې ښودلې ده: (د ادبي دورو د وېش په برخه کې تر ډېره د یو ټاکلي معیار نشتوالي یو ستر علت دا دی چې ځینې ادبي جریانونه په اسانۍ سره خپل ځای نوي ادبي جریان ته نه خوشې کوي. کله کله د یو ادبي جریان ریښې ډېرې پخوانۍ وي، په تدریجي توګه وده مومي. د هغه د انکشاف په دوران کې ښایي یو بل قوي ادبي جریان را منځته او د هغه له سقوط سره سم بې له ځنډه محوه شي. کله کله شرایط بدل شوي وي خو ادبي عنعنه لا پر ځای پاتې وي (۴۳۷:۷۴م)

په همدې ډول نورو ډېرو لیکوالو او څېړونکو هم د ادبي دورو ټاکنې مسئله ستونزمنه ګڼلې او د ادبي دورو ټاکنه یې یو کړکېچن کار بللی دی، چې په همدې باب د پښتو ادبیاتو تاریخ معاصره دوره اثر لیکوال هم یاده موضوع له ستونزو ډکه بللې او د ادبي دورو د وېش د مسئلې په اړه یې تفصلي بحث کړی، چې دلته به

یې ځینې ټکي په لنډیز سره را واخلو(د ادبي تاریخ لیکنې میتودلوژۍ یوه لویه ستونزه د ادبي دورو ټاکنه ده. ادبي تاریخ لیکونکو په دې اړه له بېلابېلو لارو او میتودونو څخه کار اخیستی دی چې ځینې یې دا دي:

۱ـ د ادبي ژانرونو یا ادبي سبکونو او یا ادبي مکتبونو په اساس د ادبي دورو ټاکنه: د دورو د وېش لپاره د دې مېتود یا لارې ښېګڼه دا ده چې د ادب ذاتي تصور یې د معیار په توګه ټاکلی دی. ادبي تاریخ په اصل کې د ادبي جریاناتو تاریخ دی، نو کله چې یو ادبي مکتب خپل ځای بل ادبي مکتب ته پرېږدي د ادبي تاریخ بله دوره پیل کېږي. ادبي مکتبونه که له یوې خوا له ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي پېښو سره اړه لري، له بلې خوا نسبي خپلواکي هم لري. د ادبي دورو ټاکنې د دغې لارې یوه عمده ستونزه دا ده چې ادبي ژانرونه او ادبي مکتبونه کله کله په یوه وخت کې پیلېږي.

لکه په پښتو ادبیاتو کې اکبر زمینداوری لومړنی شاعر دی چې د مثنوي او غزل بېلګې یې تر موږ را رسېدلي دي، نو دغه دوره په پښتو ادبیاتو کې په څه نامه یاده کړو؟ د غزل دوره یې وبولو او که د مثنوي. همدارنګه په اروپا کې د سمبولیزم، دا دائیزم او سوسیالیزم ادبي مکتبونه په یوه ټاکلي وخت (۱۹۲۴ـ۱۸۸۰ م) کې را ټوکېدلي دي او په یو ادبي چاپېریال کې یې وده کړې ده.

۲ـ د پاچاهانو د کورنیو په اساس د دورو وېش: د دورو د وېش دا لاره ادبي پدیدو د پرمختیا له توضیح او تحلیل سره مرسته نه شي کولی. ادبي سبکونه، مکتبونه او ژانرونه د کوم پاچا یا واکمن په حکم یا دستور مینځ ته نه راځي او د هغه مړینه هم پر ادبي جریان کومه اغېزه نه لري.

۳ـ د ټولیز اقتصادي فورماسیون د تیورۍ پر بنسټ د ادبي دورو وېشنه: د دې لارې پلویان د ادبي تاریخ د دورو وېشنه هم د پینځو تاریخي دورو له مخې کوي. د دې نظریې د پلویانو په اند ادب د ټولنیز شعور یو شکل دی چې د بنسټ له بدلیدو سره سم بدلون مومي، یعنې کله چې تولیدي مناسبات بدلون مومي په ادب کې هم بدلون راځي. د یادونې وړ ده چې د ادبي دورو د وېش دغه نظریه د ادبي تاریخ په برخه کې په بشپړه توګه د تطبیق وړ نه ده او په ادب تاریخ کې د یوې تاریخي دورې تر سرلیک لاندې د ټولو ادبي جریانونو شرحه له ستونزو ډکه ده.

۴ـ د تاریخي، سیاسي او ټولنیزو پېښو په اساس د ادبي دورو وېشنه: د دغې لارې له مخې په ادبي تاریخ کې د دورو وېش هم لږو ډېرې نیمګړتیاوې لري. که څه هم سیاسي او ټولنیزې پېښې پر ادبي بدلون او تحول باندې اغېز لري، خو هغه د ادبي تاریخ اصلي موضوع نه کېږي. د ادبي تاریخ اصلي موضوع په خپله ادب دی (۴۳۹:۷۴م).

په همدې ډول د ځینو نورو معیارونو پر اساس هم ادبي دورې د لیکوالو او څېړونکو له خو وېشل شوي دي، چې ډېری وېشنې یې له ستونزو خالي نه دي، خو باید د ادبي دورو د ټاکنې په مسئله کې د ادب محتوا او

شکل په نظر کې ونیول شي، ځکه د ادبیاتو د محتوا او شکل په بدلون سره نوې ادبي دوره پیلېږي. هېره دې نه وي چې ځینو لیکوالو د ادبي دورې پر ځای د دوران کلمه غوره ګڼې او وایي چې د دورې پر ځای دې دوران وویل شي.

د پښتو ادبیاتو تاریخ (معاصره دوره) اثر لیکوال وړاندیز کړی او د ده په اند چې د ادبي دورې پر ځای د ادبي دوران کلمه کارول غوره دي، ځکه یوه دوره پای ته نه وي رسېدلي چې بله پیل شي او لوړې څوکې ته ورسېږي. د مثال په توګه د ریالیزم دوره چې د مخه پیل شوې ده لا تر اوسه دوام لري او د دغې دورې په اوږدو کې د نیچرلیزم، سمبولیزم، اګزیستنتالیزم او سوریالیزم په شان یو شمېر ادبي مکتبونه را وټوکېدل او ثمرې ته ورسېدل. د دوران کلمې مقصد دا دی چې په یوه دوره کې ښایي ډېر نور ادبي جریانونه د شهرت اوج ته ورسېږي، دغسې لوړې څوکې یا د شهرت اوج د دوران په نامه یادېږي) (۴۴۰:۷۴م)

په لویدیځې نړۍ په ځانګړي ډول د انګرېزي ژبې په ادبیاتو کې د ادبي دورې د ټاکلو یو معیار دا دی چې هره دوره د یو نومیالي لیکوال، استازي او ادیب په نامه یادېږي، لکه د چاسر عصر، سپینسر عصر او داسې نور او یا هم ادبي دورې د پېړیو په نوم نومول کېږي. لکه د پینځلسمې پېړۍ ادبیات او داسې نور. ځینې وخت یې بیا د ادبي مکتبونو په نامه نوموي، لکه د کلاسیزم عصر، رومانتیزم عصر او داسې نور.

د پښتو ژبې په ادبیاتو کې هم د ادبي دورو ټاکنې په برخه کې ستونزې شته او په دري ادبیاتو کې هم په همدې ډول، دلته تر ډېره د ادبي تاریخ لیکونو له دې پرته چې په ادب کې د شکل او محتوا د کمي او کیفي بدلون د ادب دورې او انکشاف جریان او د هغه عوامل په نظر کې ونیسي، تر ډېره د خپلې خوښې او ذوق سره سم یې د ادبي دورو وېش په عنعوي ډول کړی دی.

د ادبي دورو ټاکنه اثر کې پوهنمل سید اصغر هاشمي وایي: (د ادبي دورو په ټاکلو کې باید یوازې کرونولوژي په نظر کې ونه نیسو، بلکې د منظومو او منثورو اثارو منځپانګه، شکلي جوړښت، او موضوع باندې باید فکر وکړو.

د مثال په ډول که چېرې لرغونې (لومړۍ) دوره په نظر کې ونیسو، د دې دورې نه مخکې دویمې دورې څرکونه لیدل کېږي یعنې د لرغوني دورې پیدایښت، انکشاف او زوال نه مخکې دویمه دوره پیل شوې ده. (۱۱:۷۱م)

لکه د نورو ژبو په پښتو ژبه کې هم ډېری لیکوالو او پوهانو ادبي دورې د بېلا بېلو معیارونو او نورمونو په اساس او د خپل نظر مطابق وېشلي دي، چې یادې وېشنې هم له ځینو نیمګړتیاوو سره مل دي، دلته به یې د ځینو یادونه وکړو:

(لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي پښتو ادبي دورې پر څلورو برخو وېشلي دي:

لومړۍ دوره: په لومړۍ دورې کې دا کوښښ شوی دی چې تر اسلام د مخه د پښتو ژبې موجودیت او د نورو اریایي ژبو تر منځ د پښتو ژبې موقیعت تثبیت کړي.

دویمه دوره: د اسلام له ابتدا څخه پیل او تر (۱۰۰۰) هـ ق پورې را رسېږي.

درېیمه دوره: درېیمه دوره له (۱۰۰۰) هـ ق څخه شروع او په (۱۳۰۰) هـ ق کې پای ته رسېږي.

څلورمه دوره: څلورمه دوره له (۱۳۰۰) هـ ق څخه پیل کېږي.

پوهاند صدیق الله رښتین پښتو ادبي دورې په پینځو دورو وېشلي: لومړۍ دوره: (۱۰۰) هـ ق نه تر (۸۰۰) هـ ق پورې.

دویمه دوره: (۹۰۰) هـ ق نه تر (۱۱۰۰) هـ ق پورې.

درېیمه دوره: (۱۱۰۰) هـ ق نه تر (۱۲۵۰) هـ ق پورې.

څلورمه دوره: (۱۲۵۰) هـ ق نه تر (۱۳۵۰) هـ ق پورې.

پینځمه دوره: (۱۳۵۰ هـ ق نه تر اوسه پورې.

سرڅېړونکي دوست شینواري په خپل اثر د ادب تیوري اساسونو کې پښتو ادب تاریخ په درې پړاونو وېشلی دی، لومړی پړاو: په لومړي پړاو کې د ملنډه پنهو مذاکرې او د سره کوتل ډبر لیک ته هم د پښتو پانګې په توګه اشاره شوې ده، د لومړي پړاو پیل یې له امیر کروړ څخه بللی دی.

دویم پړاو: د دویم پړاو پیلامه له بایزیدروښان څخه شروع کېږي: دویم پړاو دا فرعي سرلیکونه لري روښاني مکتب، د رحمان بابا سبک، هندي سبک، د هوتکیانو دوره او نورې دورې.

د ادب نوی پړاو: نوی پړاو د امیر شېرعلي خان له پېره پیل بولي، دا پړاو د انتقادي ریالیزم پیدایښت په نامه یو فرعي سرلیک لري.

کاندید اکاډمېسین محمد انور نومیال د ادب تاریخ دورې پر درېیو دورانونو وېشلي دي:

۱ـ د شفاهي ادبیاتو دوران.

۲ـ د خوشحال د کتبي ادبیاتو دوران.

۳ـ د معاصرو کتبي ادبیاتو دوران.

په پورتنۍ طرحه کې د ادبي دورې د اصطلاح پر ځای د ادبي دوران اصطلاح غوره شوې ده.

کاندید اکاډمېسین محمد صدیق روهي د پښتو ادبي دورو په اړه دوه طرحې وړاندې کړي او وایي چې په لومړۍ طرحه ټینګار نه کوم. په لومړۍ طرحه کې ادبي دورې د ژانرونو له مخې پر اووه دورو وېشلي دي: ۱ـ لرغونې سندرې. ۲ـ د قصیدې دوره. ۳ـ د غزل دوره. ۴ـ د مثنوي دوره. ۵ـ د رباعي دوره. ٦ـ د روښانیانو پر

پېر د مخمس، مسدس او نورو شعري ژانرونو دوره. ۷ـ په شلمه زېږديزه پېړۍ کې د ازاد شعر، سپين شعر، ناول، لنډې کيسې او نورو ژانرونو د رامنځته کېدو دوره

دويمه طرحه کې وايي زما په اند پښتو ادب تاريخ پر درېيو عمده دورو وېشل کېږي.

۱ـ پخوانۍ دوره: چې له امير کروړه پيل او تر پير روښانه پورې دوام کوي.

۲ـ منځنۍ دوره: چې له شپاړسمې زېږديزې پېړۍ تر شلمې زېږديزې پېړۍ پورې دوام کوي.

۳ـ اوسنۍ دوره: چې له شلمې پېړۍ پيل او تر دې مهاله دوام کوي.) (۱۳:۷۱م).

په همدې ترتيب پوهنمل نورمحمد غمجن، سر څېړونکي نعمت الله اندړ او نورو هم د پښتو ادب تاريخ دورې وېشلي دي، د ادبي دورو ټاکنه اثر ليکوال پوهنمل سيد اصغر هاشمي په دې باب داسې وايي: (زما په اند دلته د ادبي دورو د وېش په برخه کې تر دورې د دوران کلمه سمه برېښي، د دورې په اړه د تاريخپوهانو نظر داسې دی، چې د يوه بهير درې واړه پړاونه او مرحلې لکه پيلامه، انکشاف او ځوړ يا زوال پکې بشپړېږي او له راتلونکې يا وروستۍ دورې څخه يې ټولې ځانګړنې توپير پيدا کوي.

په داسې حال کې چې په ادبي بهير کې دغه بېلوالی په کانکرېټي او وچه بڼه نه ليدل کېږي، چې موږ ووايو د لومړۍ دورې دغه بېلوالی په دغې نېټې ختم او پای ورسېد. نوموړی زياتوي زما پر اند ادبي دورې پر درېيو دورو وېشل شوي دي، خو د دې درېيو دورو نه مخکې بايد پر شفاهي، فوکلوريک او ولسي ادبياتو باندې پوره بحث وشي، ځکه چې شفاهي ادبيات تحريري ادبياتو ته لار هواروي او لارښوونه يې کوي، د نړۍ په نورو ژبو کې هم داسې مثالونه چې د تحريري ادبياتو موضوعات له شفاهي ادبياتو څخه اخيستل شوي دي چې مخکې يې يادونه وشوه.

لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه تر نورو وېشنو د پښتو د ادبي دورو پر درېيو دورو وېشنه يو منلې وېشنه ده، چې دلته به يې له لومړۍ او اوسنۍ دورې څخه په لنډ ډول يادونه وکړو او منځنۍ دوره چې زموږ د بحث موضوع ورپورې تړلې ده په تفصيل سره بحث وکړو.

(لرغونې دوره د ټولنيزې ارواپوهنې او فرهنګي عنعنې له پلوه د ريګويدا او اوستا له سندرو او ګاڅونونو سره ورته والی لري، د ځينو ادبپوهانو په عقيده د ريګويدا او اوستا د سندرو او ګاڅونونو او د پښتو د لرغونو سندرو موضوعګانې او کالبونه سره ورته دي.

(لرغونې (لومړۍ) دوره: د امير کروړ د وياړنې (۱۳۹ هـ ق) کال نه پيل او د بايزيد روښان تر ظهور (۹۵۰ هـ ق) کال پورې دوام کوي، د دې ادبي دورې څرکونه تر (۱۰۰۰ هـ ق) پورې تر سترګو کېږي، د دې دورې ځينې ځانګړنې په لاندې ډول دي.

۱ـ د دې دورې اشعارو ته د لرغونې دورې د سندرو نوم ورکړل شوی دی، ځکه دغو اشعارو ته نه د ختیځې شاعرۍ نوم ورکولی شو او نه د فولکلوریک یا ولسي نوم ورکولی شو، خو د ختیځې شاعرۍ او ولسي شاعرۍ ډولونه هم لري.

۲ـ د دې دورې اشعار د افکارو په لحاظ ساده دي، ژبه یې سوچه او د شعر وزنونه (اهنگ) سره عیار شوي دي.

۳ـ د دې دورې عمده موضوعات د لمانځنې سندرې، ویاړنې، ویرنې، مینه، بېلتون او اخلاقي ښودنې دي چې په هغو کې پېچلي تخیلات او لفظي صنایع چندانې نه لیدل کېږي.

۴ـ د لرغونې دورې اشعار ملي وزن لري، یعنې د عربي او فارسي عرضو تر اغېز لاندې نه دي راغلي او یا کم راغلي دي.) (۱٦:۷۱م) .

لرغونې دوره نورې ځانګړنې هم لري او د پښتو ادب له منځنۍ دورې څخه جوت توپیر لري چې له یو څو یې موږ دلته یادونه وکړه، د منځنۍ دورې په باب به وروسته د جلا عنوان په ډول او په تفصیل سره بحث وکړو. اوس به په لنډ ډول د معاصرې یا درېیمې دورې یادونه وکړو او څو ځانګړنې به یې د نمونې په ډول یادې کړو.

د درېیمې دورې څرکونه په افغانستان او پښتونخوا کې په یوه وخت پیل شوي دي، خو انکشاف یې یو شان نه دی. په افغانستان کې د پښتو ادب درېیمه دوره څو پړاونه لري چې لومړی پړاو یې په (۱۹۱۱م) کال د سراج الاخبار افغانیه په خپرېدو سره پیل کېږي، په دغه وخت کې د درېیمې دورې د ادب لپاره عیني اړو ذهني شرایط برابر شوي وو.

د درېیمې دورې نامتو استازي مولوي احمد کندهاری، غلام محي الدین افغان، مولوي عبدالواسع کندهاری، عبدالعلي مستغني، عبدالهادي داوي او نور دي.

په پښتونخوا کې د درېیمې دورې مخکښان او سرلاري فضل محمود مخفي، راحت زاخېلي، خلیق، محمد اکبر خادم، اکبر او نور دي.

د درېیمې دورې ځینې ځانګړنې په لاندې ډول دي چې همدغه ځانګړنې درېیمه دوره له مخکنیو دوو دورو څخه بېلوي.

۱ـ د ازاد شعر او ازاد نظم پیدایښت چې په لومړۍ او دویمې دورې کې وجود نه درلود.

۲ـ د سپین شعر او هایکو منځته راتګ چې لومړیو دوو دورو کې یې هېڅ مثال نه لرو.

۳ـ ناول، لنډه کیسه، رومان او ټولو نثري هنري ژانرونو پیدایښت د دې دورې لاسته راوړنې دي.

۴ـ د نړۍ له ډېرو ژبو نه ژباړې وشوې چې په لومړۍ او دویمې دورې کې هم ژباړې لرو، خو په دریمې دورې کې د کمیت او کیفیت په لحاظ ډېر کار وشو(۲۲:۷۱م) .

دریمه ادبي دوره همداسې نورې ګڼې ځانګړنې هم لري، چې د ځینو څخه یې موږ په پورته ډول یادونه وکړه، اوس به د منځنۍ دورې په باب چې زموږ د بحث اصلي موضوع ده په تفصیلي ډول بحث وکړو.

د پښتو ادب منځنۍ دوره

د پښتو ادب منځنۍ دوره یا دویمه دوره چې کلاسیکه دوره یې هم بولي، یاده دوره(د بایزید روښان د پاڅون او ادبي هلو ځلو (۹۵۰هـ ق) څخه پیلېږي.

دې ادبي دورې کې دوه پړاوونه او مرحلې موجودې دي، چې لومړی پړاو یې له (۹۵۰ هـ ق) څخه پیلېږي. بایزید او لارویان یې په (۹۵۰ هـ ق) کال ادبي هڅې پیلوي او تر څنګ یې اخونددرویزه او لارویان هم راپیدا کېږي او بیا د خوشحال د ادبي هڅو پورې دوام کوي.

د دې دورې دویم پړاو ته کلاسیک پړاو ویلای شو، له دې سره چې په ډېرو ادب تاریخونو کې ټولې دورې ته کلاسیکه دوره وایي، خو د روښان ادبي مکتب ته د کلاسیکیت د معیار په نظر کې نیولو سره د کلاسیک نوم نه شو ورکولی.

د دویمې دورې په کلاسیک پړاو کې درې ادبي مکتبونه راتللی شي. د خوشحال ادبي مکتب، د عبدالرحمن بابا ادبي مکتب او د عبدالحمید مومند او کاظم خان شیدا هندي ادبي مکتب، چې په سیاسي لحاظ خوشحال خان خټک او په هنري لحاظ حمید مومند او کاظم خان شیدا او داسې نور دي.

دویمه دوره له سیاسي او ایدیالوجیکي مبارزې سره پیلېږي، خو دغه مبارزه د فیوډالي شرایطو له چوکاټ څخه د باندې نه وځي، روښان د یو مذهبي فرقې د لارښود په توګه په توره او قلم مبارزه کوي، د روښانیانو او خټکو ادبیات په عمده توګه تبلیغ او تنویر ته متوجې شوي دي، روښان او خوشحال دواړو د پښتو د خپلواکۍ او ملي حاکمیت لپاره توده او سړه جګړه پرمخ بیولې ده. سړه جګړه یعنې د قلم له لارې مبارزه یو فکري سیستم ته اړتیا لري.

روښانیانو د عرفان له لارې د خلکو د سیاسي شعور د لوړولو او په هغې کې د خودۍ او پر ځان متکي کېدلو احساس د ویښولو لپاره اهنګوال ادبي اثار ایجاد کړل او په دې توګه د کتبي ادبیاتو پانګه رامنځته شوه. خوشحال خان خټک پښتو ادبیات د مضمون، شکل او کالب له پلوه غني کړل، ده د فارسي ژبې ټول کالبونه لکه مثنوي، غزل، قصیده، رباعي، مخمس او نور لفظي او معنوي صنایع په پښتو ادب کې راوستل. د خان بابا په اثارو کې د مضمون له پلوه هم ډېر زیات نوښتونه لیدل کېږي، چې د هغه وخت په شرایطو کې ساری نه لیدل کېږي.

(د منځنۍ دورې ادبیات د مضمون د لرغونې (لومړۍ) دورې سره د مضمون او شکل په لحاظ جوت توپیر لري، په دې دورې کې د لرغونو سندرو وزنونه متروک شول، کلاسیک معنوي او لفظي صنایع په پښتو ادب کې باب شول، د مفکورې په لحاظ سیستماتیک اثار منځته راغلل، پېچلي تخیلات د پښتو ادب په بڼه راوټوکېدل، په دغه وخت پښتو ادبیاتو د سیمې له ادبیاتو رنګ واخیست او د انزوا له حالت څخه را ووتل.

د افکارو ژورتیا، د تخیلاتو رنګیني، د کالبونو پراختیا او نوښت د دویمې دورې عمومي غوره ځانګړنې دي. دا څرګنده خبره ده چې نه د روښانیانو تصوف او عرفان، نه د خوشحال افکار، نه د رحمان بابا ادبي بلاغت او نه د حمید مومند او کاظم خان شیدا نازکخیالي هېڅ یو د پخوانۍ (لومړۍ) ادبي دورې په اشعارو کې نه لیدل کېږي.

د دې دورې نثري او نظمي ځانګړنې به په لېست وار شکل تر جلا عنوان لاندې در وپېژنو او ورڅخه به یادونه وکړو، خو تر هغې وړاندې دا څو نورې کرښې هم ورزیاتول غواړم.

(د منځنۍ (دویمې) دورې یوه عمده ځانګړنه دا ده چې موږ د دې دورې بشپړ او مکمل ادبي او فرهنګي اثار په واک کې لرو. په دې دورې پورې مربوط په سلګونو پښتو دېوانونه، په سلګونه قصصي اثار او په زرګونو ولسي سندرې له موږ سره شته، چې د پښتو ادبي تاریخ د یوې سترې پانګې په توګه هر اړخیز بحثونه پرې کولی شو. دې دورې ته موږ د منظمو اثارو دوره هم ویلی شو او دا ځکه چې په لومړۍ دورې پورې مربوط اثار زیاتره متفرق دي.

په دې دوره کې د پښتو ادبیاتو علایق له ګاونډیو ژبو سره هم پراختیا مومي. له عربي، فارسي او هندي ژبو څخه پښتو ته او له پښتو څخه ځینو دغو ژبو ته د اثارو د راکړې ورکړې مسله هم خپلو لوړو پړاونو ته خېژي. (۸۵:۷۸م) .

د منځنۍ دورې نثري او نظمي ځانګړنې

پورته مو په عمومي ډول د منځنۍ دورې په باب بحث وکړ او د دې ادبي دورې په باب مو یو څه خبرې وکړې، اوس د پښتو ادب د منځنۍ (دویمې) دورې ځانګړنې په لېست وار شکل در وپېژنو.

۱ـ د تصوف او عرفان پېچلو مسایلو او اصطلاحاتو په پراخه پیمانه پښتو ادب ته لاره پیدا کړه. یا په بله وینا عرفان د یو مسلک په ډول پښتو ادب ته راغی.

۲ـ په نثري لیکنو کې مسجع نثر رواج شو.

۳ـ اخلاقي او دیني مسایل په شعر او ادب کې زیات شوي، حماسي او ملي روحیه پکې ډېره تته او کمزورې ښکاري.

۴ـ د نظم او نثر نیمګړی طرز چې پخوا موجود و، په دغه وخت کې اصلاح شو، نثر خوږوالی پیدا کړ او له نیمه منظوم حالت څخه را ووت او د محاورې (خبرو اترو) شکل یې غوره کړ، نظم هم ساده والي ته مخه کړه.

۵ـ پښتو شعر د شکل په لحاظ هم په دې دوره کې پراختیا وموندله او یو شمېر ابتکارونه رامنځته شول.

٦ـ د مضمون له پلوه هم په دې دوره کې د ژوندانه ټول اړخونه را څرګند شوي دي، په دې دوره کې ډېر اثار لیکل شوي دي او د پښتو ادب نړۍ ښه رنګینه شوې ده، خلک یې د اجتماعي او د ژوند له نورو مسایلو سره اشنا کړل.

۷ـ د دغه وخت په اشعارو کې طبیعي او ساده تشبه ګانې رواج او راغلي دي.

۸ـ د حماسي احساساتو بنسټ پخپله خوشحال کېښود او پیروانو یې بیا پسې تعقیب کړ.

۹ـ انتقاد او هجوه په دغه وخت کې ډېره اړول شوې را اړول شوې ده او د مغلو د زور زیاتي په هکله دغه موضوع ډېره زیاته و په ډاګه شوې ده.

۱۰ـ د ادبي ارزښت له پلوه د دې پړاو سبک تر ټولو جامع او ښه دی، په دې معنا چې هم یې د معنا خوا او هم یې ادبي او شعري اړخ پوخ دی.

۱۱ـ د دې پړاو سبک په تخیل کې هم ډېر پیاوړی دی، ډېر لوړ او له نزاکته ډک شاعرانه تخیلات پکې شته دي.

۱۲ـ د دې دورې په اشعارو کې د زیاتو معنوي ارزښتونو انعکاس د خلکو په روح باندې د هنري تاثیر له کبله عام مقبولیت ترلاسه کړی دی.

۱۳ـ په شعر کې له استثنایي شعرونو پرته جادویي اغېزې زیاتې دي.

۱۴ـ شعر نه یوازې په شکلي لحاظ منظم دی، بلکې یو ډول معنوي نظم هم لري، په دې معنا چې د زیاترو شعرونو د بیتونو دواړه مسرې یې سره یو ډول مقناطیسي فکري پیوند هم لري.

۱۵ـ د دې دورې په اشعارو کې فکري نوښت او ابتکار موجود دی.

١٦ـ د دې دورې اشعار د تمثیل، حیرت، حکمت، فلسفې او متلونو د خصلت د لرلو له کبله ډېر مینه وال لري.

۱۷ـ په شعر کې یې د تصوف او عرفان پرته نور افکار هم ځلېږي.

۱۸ـ په دې دوره کې لکه د رحمان بابا ډېر شعرونه ساده او راون دي، چې ځینې یې بیا په عین سادګۍ کې ډېر پېچلي هم دي.

۱۹ـ د دې دورې په شعرونو کې د حقيقي او مجازي مينې برید ډېر نازک دی، چې ښه مثال يې د رحمان بابا شعرونه کېدلی شي.

۲۰ـ په دې دوره کې د حميد مومند په اشعارو کې ستره جبلي شاعرانه وړتيا او اوچت علمي او فرهنگي قابليت له ورايه څرگندېږي، ځکه خو ورته د وخت اديبانو او شاعرانو د موشگاف نوم ورکړی دی.

۲۱ـ د دې دورې په اشعارو کې د شعري جوړښت د تخنيکي اړتيا له کبله د ناپښتو اشنا ژبو لغاتونه او لفظونه هم ليدل کېږي.) (۲۱:۷۱م) .

پورته مو د منځنۍ دورې ځينې نظمي او نثري ځانگړنې په گوته کړې، چې په همدې ډول گڼې نورې ځانگړنې هم لري چې موږ دلته په همدې پورته ذکر شويو بسنه کوو او په دې پسې د خپل تحقيق مطابق د منځنۍ دورې په پړاونو هم يو څه رڼا اچوو.

د منځنۍ دورې ادبي مکتبونه

د پښتو ادبياتو په منځنۍ دورې او د دې دورې په ځانگړنو مو يو څه خبرې وکړې، اوس راځو او د يادې دورې پر پړاونو او په دې دوره کې په رامنځته شويو ادبي مکتبونو بحث کوو.

د ادبي مکتب په اړه ادبپوهانواو څېړونکوتعريفونه وړاندې کړې د مکتب په اصطلاح کې دوه مفهمونه نعښتې دي :لومړی داچې مکتب ډله ييز خاصيت لري او دغې کلمې له اوريدو سره ډله تدعي کېږي دويم چې مکتب زياتره له يوه فکره جريان سره اړه لري .

په انگريزي ژبه کې د ادبي مکتب اصطلاح شته ،سربيره پردې په خپله د ادبي مکتب يوه مانا داسې راغلې ده د يوه استاد سيستم يامیتود پيروانو ته مکتب ويل کېږي .

ادبي مکتب ته د منسوبتو آثارو تر منځ د موضوع ،ايډياو تمثيل په طرزکې دومره نږديوالی وي چې ډېر ځله لوستونکي په يوه اثرد بل د بشپړوونکي گومان کوي .په يوه مکتب کې د پيړۍ د کانفليک جنگ اوجکړه درک او هغه نه دحل لاره تقريباً سره يو شان وي هغه شباهتونه او ورته والی چې ديوې ډلې ليکوالو او شاعرانو په اثاروکې موجود وي دوی او د دوی اثار سره نږدې کوي د ته ادبي مکتب ويل کېږي .هيڅ ادبي مکتب ناڅاپي نه را منځ ته کېږي؛بلکې د يوې ټولنې په ټاکلوتاريخي ، ټولنيزو او فرهنگي شرايطو پورې اړه پيداکوي په دې اړه څېړنپوه سيد محی الدين هاشمي ليکي: ((د ادبي څېړنو په بهير کې جوته شوې ده چې د ادبياتو د بشپړتيايي جريان له مخې ادبي مکتب يا جريان د هغه پړاو محصول دی چې ادبيات پخوالي ته رسيدلي وي . دادبي مکتب رامنځ ته کېدل د يوې ټولنې په ټاکلو تاريخي ، ټولنيز او فرهنگي شرايطو پورې اړه لري او هر يو مکتب د يوې ډلې ادبياتو د ذوقي او فکري تمايلاتو او گټواستازيتوب کوي ،

ځکه نو د تاریخ په اوږدوکې بېلابېل ادبي جریانونه او غورځنګونه د خپلو ځانګړو تاریخي او ټولنیزو خصلتونو په لرلو سره د بېلابېلو پرګنود ډله ییزو ارمانونو او ګټو د تبلیغ لپاره کارېدلي دي(۲۷:۵۳م) .

په منځنۍ ادبي دوره کې درې مهم پړاوونه د فکري، سیاسي او هنري ځانګړنو له مخې د تشخیص وړ دي، چې غوره استازي یې پکې په فکري لحاظ د روښان پلویان، په سیاسي لحاظ خوشحال خان خټک او په هنري لحاظ رحمان بابا، حمید مومند، کاظم خان شیدا، حنان بارکزی او نور دي(۴۵۱:۷۴م)

(دویمه دوره د څلورو پیاوړو لیکوالانو د سبکونو زېږنده ده چې د وخت په تېرېدلو یې ډېر پیروان پیدا کړه او د جدا جدا مکتبونو بنسټ یې کېښود.

دغه ادبي مکتبونو د بایزید روښان سیاسي او تصوفي ادبي مکتب، خوشحال خان ملي ادبي مکتب، رحمان بابا عرفاني ادبي مکتب او د عبدالحمید مومند هندي ادبي مکتب دویمې دورې کې منځته راغله او هر ادبي مکتب خپل پیروان درلودل.

روښانیانو د تصوف له لارې د خلکو د سیاسي شعور د لوړوالي او د احساس د ویښولو لپاره اهنګوال ادبیات ایجاد کړل او په دې توګه د کتبي ادبیاتو پانګه رامنځته شوه.

خوشحال خان خټک پښتو ادبیات د مضمون، شکل او کالب له پلوه غني کړل، ده د عربي او فارسي ژبو نه راغلي ټول ځېلونه(مثنوي، غزل، قصیده، رباعي، مخمس او نور) په خپلو اشعارو کې وکارول، لفظي او معنوي صنایع یې په پښتو ادب کې راوستل، د مضمون له پلوه یې په اثارو کې ډېر نوښتونه لیدل کېږي.

همدارنګه د رحمان بابا هنریت او ادبي بلاغت، د حمید او کاظم خان شیدا نازکخیالي یې ښه مثالونه دي(۷۱:۷۳م)

پورته مو په عمومي دول د منځنۍ دورې د پړاونو او ادبي مکتبونو بحث وکړ اوس به د دې دورې په ادبي مکتبونو یو څه په تفصیل سره وغږېږو.

روښاني ادبي مکتب د لسمې هجري پېړۍ په دویمه نیمایي کې رامنځته شوی، بنسټګر یې پیاوړی علم او لیکوال بایزید روښان(۹۳۰ـ۹۸۱ هـ ق) دی. د روښاني ادبي مکتب پیروان عبارت دي له ارزاني، علي محمد مخلص، دولت لواڼی، ابابکر کندهاری، واصل روښاني، میرخان روښاني، میرزاخان انصاري، قادرداد او داسې نور.

په روښاني دوره کې لیکل شوي اثار نیم منظوم، منظوم او منثور دي. د نیم منظوم، مسجع مقفي نثر د لیکلو دود په همدې دوره کې د بایزید روښان له خوا پیل شو. په دې پړاو کې پښتني فرهنګ له اسلامي فرهنګ سره خورا نږدې شو او ځینې دیني کتابونه هم ولیکل شول، لکه: مخزن الاسلام، نافع المسلمین، فواید شریعت او نور.

(له بایزید روښان تصوفي ادبي مکتب وروسته د خوشحال ادبي مکتب پیلېږي، دا ادبي غورځنګ ډېر د ختګو کورنۍ ته منسوب دی، خوشحال خټک د پښتو ادب یو غښتلی، ملي، اجتماعي او حماسي شاعر د دې کورنۍ د ادبي مکتب سر لاری او موسس بلل کېږي.

په دې ادبي مکتب کې د نظم او نثر لمنې پراختیا وموندې او د پیر روښان د مسجع او نیم منظومو نظمونو خصوصیاتو څخه را اوښتی دی. خوشحال خان خټک د هغه توږلي الماس په څېر دی چې د ده د ژوند هره خوا یې روڼ او رنګینه کړې ده. خوشحال خان د جګړو اتل، د ادب پلار، ښکاري، طبیب او په پښتو کې د بېلا بېلو هنرونو او اثارو سرلاری و.

د خوشحال خان خټک ادبي لار د نوموړي د کورنۍ د غړو په شمول نورو ګڼو شاعرانو پاللي چې دلته به یې د ځینو د نومونو یادونه وکړو چې د دې ډلې به سر کې د خان بابا مشر زوی اشرف خان هجري او په همدې ډول نور هم لکه عبدالقادر خان خټک، سکندر خان خټک، صدر خان خټک، ګوهر خان خټک، عابد خان خټک او داسې نور دي.

د خوشحال د ادبي مکتب ځینې ځانګړنې په دې ډول دي: (د خان بابا او د نوموړي د لارویانو په اشعارو کې د نورو ژبو لغتونه په خپله بڼه او یا یې په لږ څه بدلون سره کارولي دي. د خوشحال په ادبي مکتب کې د ختیځې شاعرۍ ټولو ژانرونو څخه استفاده شوې ده او پکې کارول شوي دي. د خوشحال په ادبي مکتب کې د شعر ډېر معنوي ډولونه څرګند شوي دي چې تر دې وړاندې نه وو لکه حبسیات، سفرنامه، او هزلیات یې ښې بېلګې دي. په شعرونو کې یې د خلکو ښوونیزې، سیاسي، او فرهنګي پوهاوي ته زیاته پاملرنه کړې ده او همداسې نور. (۱۴۹:۷۳م) .

په منځنۍ دوره کې درېیم ادبي مکتب د عبدالرحمن بابا دی چې بیا د دغه لاره نورو ډېرو شاعرانو هم تعقیب کړه، د دې ادبي مکتب سر لاری رحمان بابا دی.

(د دې ادبي مکتب شاعري د روښانیانو د تصوفي مکتب او د خوشحال خان ملي مکتب سره جوت توپیر درلود. رحمان بابا د جدا سبک څښتن شاعر و او کله چې شاعري عام مقبولیت پیدا کړ او نورو لیکوالو او شاعرانو یې لاره ونیوه، نو په یو پیاوړي عرفاني ادبي مکتب بدل شو. د رحمان بابا په اشعارو کې د جولیز جوړښت له مخې غزلې، رباعیات، قصیدې، مثنوي، مخمس، مسدس او نور پیدا کېږي، خو دی د غزلو شاعر دی او زښتې ډېرې غزلې یې په دېوان کې د نورو کالبونو په نسبت پیدا کېږي. عبدالرحمن بابا ته پښتو شاعرانو د لسان الغیب، سلطان الشعراء او واف (بلبل) لقبونه ورکړي دي د رحمان بابا په اشعارو کې د منځپانګې له مخې ګڼې خواوې را نغاړلې دي او لاندې کسانو د نوموړي ادبي لار تعقیب کړې ده، معزالله خان مومند،حافظ الپوري، نجیب، عبدالعظیم، میا نعیم متي زی او داسې نور.

د رحمان بابا ادبي مکتب د اخلاقو او انساني ښېګڼو منبع ده او همداسې نورې ګڼې ځانګړنې هم لري.
په منځنۍ(دويمې) ادبي دورې کې ځلورم ادبي مکتب د عبدالحميد مومند هندي ادبي مکتب دی، چې د دې ادبي مکتب په باب به هم يو څه خبرې وکړو. (د لسمې هجري پېړۍ په جريان کې د پارسي ژبې ځينې شاعران د پارسي شاعرۍ له زړو عنعنو څخه ووتل او په خپل شعر کې نوې لاره غوره کړه.
د يوولسمې هجري پېړۍ په اواخرو او د دولسې هجري پېړۍ په اوايلو کې دغه نوې شعري لار خپل اوج ته ورسېده، په هند کې اوسېدونکو ځينې پارسي ژبو شاعرانو هم د دغې نوې شعري لارې ته مخه کړه، نو ځکه دغې ادبي لارې د هندي سبک په نامه شهرت پيدا کړ. کله چې سړی په پښتو ادبياتو کې د هندي سبک پر اثراتو بحث کوي، نو ورته ښکاري چې په پښتو کې د دغه سبک په پيروي شاعري په پښتونخوا کې پيل شوه او په هند کې اوسېدونکو ځينو پښتنو شاعرانو معراج ته ورسوله او په کندهار کې وده وکړه.
دا ادبي مکتب باريک مضمونونه، پيچلي افکار، غيرې طبيعي خيالونه، خاصې استعارې، کنايې، تشبه ګانې او ډېره زياته خيالبافي لري.
د اغراق او مبالغې په ډول د غم، درد او خفګان څرګندولو ته تمايل. وياړ او غرور او په شعر کې د خپل مقام په لوړتيا باندې تفاخر او داسې نورې ګڼې ځانګړنې پکې شتون لري(۱۸۱:۷۳م)
د دې ادبي مکتب ځينې پيروان په لاندې دول دي، د دې ادبي مکتب مخکښ حميد مومند دی او بشړونکی يې کاظم خان شيدا دی، دوی دواړه د دې سبک په مشرانو کې حسابېږي. حسين، قلندر اکوزی، کامګار ختک، علي خان، حمد الله کاکاخېل، بېدل هشنغری، خوږدل، خادم شاه، کاظم خان شيدا او داسې نور د دې ادبي مکتب پيروان دي.
پورته مو د منځنۍ ادبي دورې د پړاونو او ادبي مکتبونو په باب بحث وکړ اوس به د منځنۍ دورې د دېوان لرونکو شاعرانو په باب يادونه وکړو.

د منځنۍ دورې دېوان نه لرونکي شاعران

د پښتو ادب منځنۍ دوره چې د پير روښان ادبي هڅې يې په سر کې قرار لري او د (۹۵۰) کال څخه يې شروع بولي؛ په ياده ادبي دوره کې پښتو ادب له هر اړخه غني شو او له نور ګاونډيو ژبو سره د سيالۍ په قطار کې ودرېده. که څه هم په لرغونې دورې کې هم د ځينې دېوان لرونکو شاعرانو يادونه کېږي او ويل کېږي چې بشپړ دېوانونه يې درلودل، خو تر موږ نه دي را رسېدلي.
هغه لومړنی دېوان چې موږ يې په لاس کې لرو هغه د دويمې ادبي دورې دی چې هغه د ارزاني خويشکي دی، له دې وروسته موږ د روښانيانو په دوره کې نور دېوان لرونکي شاعران هم لرو، لکه خواجه محمد بنګښ، اخوند ميا داد، ملا محمد ځمند، شيخ ادم خويشکي او داسې نور.

له روښانیانو وروسته د خوشحال دور شروع کېږي چې خوشحال د پښتو ژبې لپاره نه هېرېدونکي او هر اړخیز خدمتونه وکړل، په دې لړ کې د خوشحان خان ختک په ګډون د نوموړي ډېرو لارویانو له ځانه بشپړ دېوانونه په میراث پرېښودل، لکه د اشرف خان هجري، عبدالقادر خان ختک، سکندر خان ختک او داسې نور.

په منځنۍ دروه کې د بل ادبي مکتب بنسټګر او د بشپړ دېوان لرونکی شاعر خوشحال خان ختک دی چې لارویان یې هم د دېوانو درلودونکي دي، لکه عبدالعظیم، میا نعیم متی زی او داسې نور د یادونې وړ دي.

په منځنۍ دورې کې په هندي ادبي مکتب کې هم د بشپړ دېوان لرونکي شاعران شته، لکه حمید مومند، کاظم خان شیدا او داسې نور. هېره دې نه وي چې دلته خو فقط د ګوتو په شمېر دېوان لرونکو شاعرانونومونه موږ یاد کړل، په همدې ډول په منځنۍ ادبي دوره کې په لسګونه دېوان لرونکي شاعران شته دي، چې د ټولو نومونه اخیستل مې دلته اړین ونه ګڼل، ځکه موږ د منځنۍ دورې د هر دېوان لرونکي شاعر لنډه پېژندنه وروسته کوو او په دېوان یې څېړنه کوو.

د منځنۍ دورې د ناچاپو دېوانونو شاعران

منځنۍ دوره چې د پښتو ژبې او ادب د بډاینې دوره وه، د پښتو ژبې د چاپ شویو او لاسته راغلو دېوانونو تاریخ هم له همدې دورې څخه شروع کېږي، که څه هم په لرغونې دورې کې هم د ځینو دېوانونو او دېوان لرونکو شاعرانو یادونه کېږي، خو موږ سره په لاس کې نشته او تر موږ نه دي را رسېدلي. د را رسېدلو او موږ سره په لاس کې د شته دېوانونو لړۍ له دویمې (منځنۍ) دورې څخه شروع کېږي. د دېوان لرونکو شاعرانو یادونه مو وکړه او همدا زموږ د بحث اصلي موضوع هم ده، چې د منځنۍ دورې هر دېوان لرونکی شاعر په لنډ ډول پېژنو او په دېوان یې په هر اړخیز ډول بحث او څېړنه کوو.

دلته اوس د منځنۍ دورې ځینو هغو شاعرانو یادونه کوو چې دېوانونه یې لا نه دي چاپ شوي او یا یې د اشعارو څو نمونې تر موږ را رسېدلي دي. کله چې موږ په منځنۍ دورې بحث او څېړنه کوو، نو په دې دوره کې لومړی نوم د بایزید روښان راځي چې د ده په لارویانو کې هم داسې خلک شته چې دېوانونه یې لا نه دي چاپ او یا یې د اشعارو څو نمونې تر موږ را رسېدلي دي چې دلته به یې زه د ځینو د نومونو یادونه وکړم، لکه میا علي، شیر محمد، اخوند مصري، شیخ الدین، ازاد، بیک محمد، قادر، میاالهداد، نجابت او داسې نورو نومونه د یادونې وړ دي، چې د دوی دېوانونه نه دي چاپ او یا یې د اشعارو څو نمونې تر موږ را رسېدلي دي.

تر دې وروسته موږ په دویمه ادبي دوره کې خوشحال لرو چې د ده د ځینو لارویانو دېوانونه هم نه دي چاپ، تر موږ نه دي را رسېدلي او یا یې د اشعارو څو بېلګې تر موږ را رسېدلي دي چې زه به یې د ځینو له نومونو

څخه یادونه وکړم چې په لاندې ډول دي، لکه گوهر خان خټک، عابد خان خټک، توتیا، حلیمه، ازاد خان، عجب خان، بهرام خان او داسې نور هغه شاعران دي چې دېوانونه یې تر موږ نه دي را رسېدلي یا یې نه لري خو دوه درې غزلې، بل شعري فورم او یا څو بیتونه یې تر موږ را رسېدلي دي.

په منځنۍ دوره کې د رحمان په ادبي مکتب کې هم داسې شاعران شته، چې دېوانونه یې تر موږ نه دي را رسېدلي، نه دي چاپ شوي او یا یې د اشعارو څو نمونې تر موږ را رسېدلي، چې زه به یې دلته د ځینو له نومونو څخه یادونه وکړم، لکه اخوند گدا، غفور، جمال خان، نیاز محمد، عبید، نصرت، شیخ نامدار، گل محمد کاکړ، عبدالوهاب اڅکزی، عبید الله الکوزی، خدیداد محمدزی، فدا محمد، ابن یمین، منصور او داسې نومونه د یادونې وړ دي.

په منځنۍ دوره کې په هندي مکتب کې هم داسې شاعران شته چې دېوانونه یې نه دي چاپ شوي، ورک شوي، تر موږ نه دي را رسېدلي او یا یې د اشعارو څو نمونې تر موږ را رسېدلي دي، چې د ځینو نومونه یې دا دي: خانگل خلیل، صمد، دوست محمد، فضل، سلیم، شمشیر، میا خان، امام خان ترین، نور محمد نوري، سردار مهردلخان، صدیق اخونزاده، سردار غلام محمد خان، سردار طرزي، ملامحمد، ملا صالح، ملا حسین او داسې نورو نومونه د یادونې وړ دي.

پورته مو د منځنۍ دورې د هغو شاعرانو یادونه وکړه چې دېوانونه یې نه دي چاپ شوي، ورک شوي او یا تر موږ نه دي را رسېدلی او فقط د کلام یوه یا څو نمونې یې تر موږ را رسېدلې دي چې په دې برخه کې هم په همدې پورته نومونو بسنه کوو او د دې عنوان بحث همدلته پای ته رسوو د خپلې څېړنې مطابق وړاندې ځو.

د پښتو ادب منځنۍ دورې دېوانونه او شاعران یې

د پښتو ادب منځنۍ دوره چې په پښتو ادب کې یو ځلانده او روڼ نوم دی، له (۹۵۰) کال څخه پیلېږي او په دې ادبي دوره کې په لسگونه شاعران او لیکوالان را پیدا کېږي او یوه تل پاتې او کلاسیکه شاعري کوي، چې یوازې په لره او بره پښتونخوا کې نه، بلکې په نړیواله کچه شهرت پیدا کوي او د نړۍ څېړونکي یې د خپل بحث محور گرځوي.

د دې دورې په یوه شاعر هم کتابونه، کتابونه خبرې کېدلی شي او ان په یوه بیت یې بشپړ کتابونه لیکل شوي دي، په دې ادبي دوره کې چې وړاندې مو پرې په مفصل ډول بحث وکړ، پښتو ادب ته خدای ج خوشحال خان خټک ورکړ، چې هم د تورې هم د قلم او هم د سیاست مېړنی و، نوموړی ښه مشر هم و او د طبابت په برخه کې هم خدمتونه او لیکنې د پوره ارزښت وړ دي.

بابا په خپلو اشعارو کې ټول دینې شعایر هم رانغاړلي دي، لنډه دا چې ده په خپلو اثارو کې ټولې خواوې را نغاړلي دي او هرې برخې ته یې د شکل او معنا له اړخه پوره کار کړی او موږ یې له سیالانو سره سیال کړي یوو.

په دې دوره کې د ده لار د ده د کورنۍ او زامنو په ګډون لسګونونورو هم تعقیب کړې ده چې د زامنو له جملې یې اشرف خان هجري، عبدالقادر خان خټک، صدر خان خټک، سکندر خان خټک او نور شاعران دي، په همدې ډول نورو ګڼو شاعرانو د ده ادبي لار تعقیب کړې او د ده لارویان دي، لکه فیض محمد، علیم، موسی، افضل، عبدل او داسې نور د خوشحال خان خټک پیروان او د منځنۍ دورې شاعران دي.

له خوشحال وړاندې په روښانیانو کې هم ډېر شاعران دي چې دا هم د منځنۍ دورې شاعران دي لکه ارزاني خویشکي، اخوند درویزه، خواجه محمد بنګښ او نور.

په منځنۍ دورې کې د رحمان بابا هڅې او شاعري هم له پوره ارزښت څخه برخمنه ده چې د اشعارو په باب به یې د دېوان د څېړنې په برخه کې بحث وشي، دلته فقط دومره یادونه کوو چې نوموړی هم د پښتو ادب تاریخ د دویمې دورې شاعر او د ادبي مکتب څښتن دی چې نورو لسګونو شاعرانو او لیکوالو یې لار تعقیب کړې ده، چې د ځینو به یې دلته یادونه وکړم.

د رحمان بابا لارویان او د منځنۍ دورې شاعران دي، لکه معزالله خان مومند چې د دېوان څښتن شاعر دی، حافظ الپوري چې اصلي نوم یې معظم دی او د سوات په الپور کې اوسېده، د رحمان بابا پیرو او د منځنۍ دورې شاعر دی، نجیب بل د رحمان بابا د ادبي لارې پیرو او د منځنۍ دورې شاعر دی، عبدالعظیم چې د دېوان لرونکی د منځنۍ دورې شاعر او د رحمان بابا د سبک پیرو دی، میا نعیم متي زی هم د رحمان بابا د سبک پیرو او د منځنۍ دورې شاعر دی، په همدې ډول نور هم په لسګونو کسانو د رحمان بابا ادبي لار تعقیب کړې او د منځنۍ دورې شاعران دي چې دلته یې د ځینو له نومونو څخه موږ یادونه وکړه.

په منځنۍ دوره کې د رحمان بابا له ادبي مکتب څخه وروسته د هندي ادبي مکتب یادونه کولی شو، چې بنسټ ایښودونکی یې عبدالحمید مومند او اوج ته رسونکی یې کاظم خان شیدا دی، نوموړي دواړه د منځنۍ دورې شاعران او نورو ډېرو شاعرانو بیا د دوی ادبي لار څارلې او پرې تللي دي چې دلته به یې د ځینو یادونه وکړو، لکه حسین چې د دېوان څښتن د عبدالحمید مومند پیرو او د منځنۍ دورې شاعر دی، قلندر اکوزی، کامګار خټک، علي خان، حمد الله کاکاخېل، محمدي صاحبزاده، بېدل هشنغری، خوږدل، خادم شاه، اسلم لوڼ، عبدالله هوتک او داسې نور دي چې په پورته ذکر شویو کې یې ډېری د دېوانونو درلودونکي دي او د ډېرو دېوانونه یې تر موږ را رسېدلي دي.

دریمه برخه

څرنګه چې زموږ څېړنه د منځنۍ دورې د دېوانونو سپړنې ته خاص شوي او تر څنګ یې د مېتود مطابق دېوان لرونکي شاعرانو پېژندنې او د دېوان نورو ځانګړنو ته بېله شوي؛ نو تر دې ځای مو د دېوان پېژندنې، له کلیاتو سره توپیر، د منځنۍ دورې سپړنه او پړاوونو مشخص کول او نور اړوند موضوعاتو باندې وغږېدو؛ نو څلورمه برخه د موضوع اړوند اصل برخې باندې شروع کوي، چې په دې برخه کې د منځنۍ دورې د لومړي پړاو شاعران او سرلارې پېژندل شوي او د دېوانونو ځانګړنې یې مشخص شوي دي.

دا برخه له پیرروښان څخه شروع کېږي، چې پکې د پیرروښان پېژندنه، شاعري او د پیرروښان د لارویانو پېژندنې او دېوانونو په باب وضاحت راغلی، همدارنګه د پیرروښان هم عصر او مخالف اخونددرویزه او لارویانو پېژندنې او دېوانونو ځانګړنې هم په دې برخه کې راوړل شوي او د دواړو تر منځ شریکې او بېلې نقطې څرګندې شوي دي.

د پیرروښان ادبي مکتب او پیروان یې

روښانیان هغه خلک دي چې د پښتو ژبې ادبیاتو ته یې په خپلو لیکنو ډېر داسې څه ور وبخښلي، چې هېڅ وخت به کوم پښتون ته د هېرېدلو نه وي. موږ دلته د روښاني دورې تقریباً دیارلس تنه شاعران او د هغوی دېوانونه څېړلي دي، چې په دې څېړنه کې مو د هر دېوان شعري کالبونه، محتوا، شاعري، د شاعر لنډه پېژندنه او د دېوان مکمله پېژندنه ذکر کړې ده، چې دلته به لومړی د روښاني ادبي او سیاسي مکتب بنسټګر بایزیدروښان دروپېژندل شي:

د پیرروښان لنډه پېژندنه

پیرروښان د پښتو ژبې د منځنۍ دورې پیلوونکی شاعر، لیکوال او مبارز دی، په خپل ژوند کې یې د پښتو ژبې او ادب ډېرخدمت کړی او د پښتون قوم لپاره یې هر قسم قرباني ورکړې ده. دی که له یوه اړخه ډېر پلویان لري نو له بلې خوا یې یو شمېر خلکو مخالفتونه هم کړي دي.

د روښان اصلي نوم بایزید دی، په (٩٢٦هـ ق) کې د پنجاب په جالندرکې زېږېدلی. پلار یې په اصل کې د کندهار اورمړ و، چې نوم یې عبد الله و؛ له کندهاره د وزیرستان کاڼي ګورم ته لاړل او هلته مېشت شول. پیرروښان په څلورو ژبو (پښتو، فارسي، عربي او پنجابي) خبرې کولای شوې، په دیني علومو کې پوره پوهه درلوده او په فقه، حدیث، اخلاق او تصوف کې یې هم لوی لاس درلوده، روښان له اوږدې مودې مبارزې وروسته په (٩٨٥هـ ق) کال له دې فاني دنیا څخه د تل لپاره رخصت واخیست. روښان دا لاندې اثار لیکلي:

(**خیرالبیان، مقصودالمومنین، صراط التوحید اوفخرالطالبین**) همدارنګه نور اثار هم پیرروښان لیکلي، چې د ځینو په اړه یې لیکوال په شک دي، چې دلته به د نمونې په توګه د (علم رساله) د لیکوالو د نظریاتو په رڼا کې رانقل کړو، همدارنګه د فرحت المجتبی رسالې تشریح به هم په خپل ځای کې وکړو او د بایزید روښان د شعري منځپانګې تشریح به هم له علم رسالې څخه د بېلګو په را اخیستلو سره وړاندې شي.

د علم رساله

دا کتاب د سرمحقق دوست شینواري په سمون او سریزه چاپ شوی دی. په دې کتاب کې دا موضوعات بیان شوي دي (د خدای ج ثنا، نعت، د توحید علم، د ایمان بیان...او داسې نور) چې لوست یې د انسان په فکر کې ډېر لوی بدلون راولي.

په (۱۳۵۳) کال چې کله د بایزید روښان په ویاړ بین المللي سمینار جوړ شو؛ نو په دغه وخت کې پښتو ټولنې ته یوه پښتو رساله چې (۵۹) مخونه یې درلودل راورسېده، دغه رساله د اخر له خوا ناقصه وه. نوموړې رساله له پیله د میا روښان په نوم باندې شروع شوې وه، خو بیاهم یو شمېر خلکو په دې رساله باندې شک څرګنده کړ او دا رساله یې د ملا ارزاني او یا د روښان د کوم بل مرید تالیف وباله، خو مالا په یقین سره په هماغه وخت کې دا ویلي و چې دا د روښان ده. د استاد هېوادمل دوه نسخې هم د کتاب په اړه زموږ لاسته راغلي دي، چې دواړه بدلې نسخې وې خو دا کار د سرمحقق زلمي هېوادمل په زیار سره تر سره شو.

دغه متن له درې نسخو څخه ترتیب شوی دی چې عبارت دي له:

۱چاپي نسخه: دا نسخه په (۱۳۵۵) کال کې هم د افسیټ او هم په اوسني لیکدود د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې وه. دغه رساله چې د پیل له خوا بشپړه ده او په (۵۹) مخونو کې یوه داسې برخه نه لري چې وینې خوړلې وي او یا دې د کومې بلې عارضې له امله ضایع شوې وي. یواځینۍ نیمګړتیا یې دا وه چې د پای له طرفه یې یوه برخه له منځه تللې، ټول (١٦) بیتونه، څو ایتونه او حدیثونه دې. هغه برخه هم د نورو نسخو په پیداکولو سره بشپړه شوه. دغه چاپي نسخه له نورو نسخو څخه بشپړه ښکاري او داسې څرګندېږي چې دا به له نورو نسخو څخه دمخه لیکل شوې وي.

۲- د استاد هېوادمل نسخه:

د دغې نسخې د پیل یو مخ چې (۷) بیتونه پکې دي له منځه تللي دي او پاتې ټوله برخه یې پاتې ده، د وروستي مخ په پای کې د قلمي نسخو له دود سره سم د راتلونکي مخ د سر عبارت (لااجل ان) عبارت له لوستونکي سره د پاتې عبارت په اړه پوښتنه پیدا کوي. خو دا یوازې د هغه قدسي حدیث برخه ده چې په هندي نسخه کې نه ده اخیستل شوې او د پښتو متن هم په دې نسخه کې او هم په هغې نسخه کې بشپړ

شوی دی. د دغې نسخې د لیکلو وخت او ځای نه دي معلوم، هم یې د لیکوونکي څرک نشته، ټول (٦٢)مخونه لري چې په هر مخ کې یې (١٥) کرښې دي، په تو ر رنګ او روښاني لیکدود لیکل شوې ده.

٣- د ډیلي نسخه:

دغه نسخه د استاد هېوادمل د تشرېحاتو له مخې په دې ډول سره ده:

د لیکلو کال د فرخ سیر پاچا د دورې درېیم کال دی. د دې رسالې د لیکلو کال (١٧١٥) دی، کاتب یې گل محمد روښاني دی. د پاڼوشمېر یې (٥٥) دي چې په هر مخ کې (١١)کرښې لري په روښاني لیکدود لیکل شوې او د هند په موزیم کې په(٨١٠٦٦١) قید ده. دغه نسخه په کال (١٣٦٢) هند ته د سفر پر مهال استاد هېودامل موندلې او را نقل کړې ده. په توره سیاهي لیکله شوې او ځای په ځای په سره رنګ سره د هغې ځینې برخې لیکل شوې دي. ځینې برخې یې وینو خوړلي دي او ځینې یې شوکېدلې دي.

دغه رساله د پیل او پای له پلوه بشپړه ده او په پای کې یې ځینې ورقې نورې هم شته چې ځینې کمزوري اشعار پکې د پیر روښان په نامه هم راغلي دي. په دغو دواړو قلمي نسخو کې ځینې ایتونه او حدیثونه هم راغلي دي چې د هرې موضوع مطابق دي(٣٣:ط-س م) .

د یادونې وړه ده چې د روښان د شاعرۍ منځاپانګې په شریح کې به د دغې رسالې بېلګې راوړل شي.

د پیرروښان شاعري

د پیرروښان شاعري پښتون قوم او ژبې لپاره ترسره شوې ده، د دغه قوم او ژبې د پرمختګ لپاره یې غږ اوچت کړی دی او د دې ترڅنګ د ده په شاعرۍ کې د هغه وخت حالت په ډېر ښه شکل سره انځور شوي دي، د دې ټولو موضوعاتو ترڅنګ د شاعرۍ اصلي روح یې تصوف دی. د روښان په اشعارو کې د عرفان ټول اصول او مدارج په ښه شکل سره بیان شوي دي.

د ده په اشعارو کې د عرفاني او تصوفي رنګونو سربېره نور ټولنیز او دیني موضوعات هم بیان شوي دي چې موږ به یې دلته د مثالونو په راوړلو سره څرګند کړو، چې دا مثالونه د روښان د علم رساله کې پلټل شوي دي.

د الله ج ثنا او صفت:

روښان په خپله رساله کې د الله ج صفت په ښکلي شکل سره کړی، د بېلګې په توګه:

هر څوک محتـــاج د ده دی

دی محتاجی د هیچا نه لرینه

اووه صفته د خدای ج دا دي

چې په یوه بیت یاد شوي دینه

دی حیات دی نه پـــه روح

چې به هیڅکله نه مرینـــــه

مخلوقان په ده حیـــات دي

باورکاڼی د اخر خو به ومرینه

(۴:۳۳م) .

نعت شریف

د ده په رساله کې د الله ج له ستاینې څخه وروسته د خوږ نبي کریم (ص) ستاینه اوصفت بیان شوی دی، چې موږ یې دلته د بېلګې په توګه یو څو بیتونه را اخلو:

دوم د محمـــد صـــفت بـــه وایـــــــم

دا ســـــړي دې یـــــې نغوږیـــنـــــــــه

دی خـــــــاتم د انبیـــــــــــــــــاوو

هـــم لـــه مخلوقـــاتو بـــه و هرڅـــو دینـــه

احمد، محمـود، محمـد یـې نـــــــوم دي

داعی، هادی، سراج د رسوب صفتونه دینه

(٦:۳۳م) .

د اصحابوکرامو ستاینه

ده په خپلو اشعارو کې د الله ج او نبي کریم (ص)له صفاتو یادولو وروسته د اصحابو کرامو یادونه او توصیف هم کړی دی چې موږ یې دلته د بېلګې په توګه راوړو:

درېـــیم صـــفت بـــه وایـــم د لســـو یارانـــــــو

چـــې دوی هـــم پـــه بهـــتری یادشـــوي دینـــه

هغـــــه عـــــشره مبشـــــــــــــــره وو

چـــې نومونـــه د لـــس واړو څرګنـــد دینـــه

ابـــــابکر عمـــــر د ده خســـــــــــران وو

عـــثمان عـــلي پـــه زومـــان یـــاد شـــوي دینـــه

دلته په دغه شعرکې د یو شمېر اصحابو کرامو یادونه شوې ده چې موږ یې ټول د موضوع د اوږدوالي له مخې نه شو راوړلی او دلته مو صرف د بېلګې په توګه د یو څوو یادونه وکړه.

د توحید بیان

ده د توحید وضاحت په خپل شعر کې په ډېر ښکلي انداز سره کړی دی، چې موږ یې د ده د خولې بیان کټ مټ دلته راوړو، تر څو د نوموړې موضوع په هکله د ده فکر ښه څرګند شي، بېلګه یې دا ده:

د توحیـد علـم پـه در بیـان کـړم.
چـــې ســـړی یـــې زده کوینـــه
توحیـــــد مقـــــام د یګـــــانګي
چـــې شـــپږ یـــې منزلـــه د ینـــه
نومونـــــه بـــــه یـــــې وایـــــم
کـــــه د چـــــا پـــــه رضاوینـــــه
شریعـت، طریقـت، حقیقـت دي
معرفت، قربت وصلت دې ګڼینـه

(۱۲:۳۳م) .

دی په خپل شعر کې دغه شپږ منزلونه چې عبارت له: شریعت، طریقت، قربت، وصلت، حقیقت او معرفت څخه دي، په اړه وایي: هله به د توحید پوره لاراوی جوړېږي چې په دغو منازلو پوره عمل وکړي او د دې په رڼا کې خپل ژوند مخې ته یوسي.

دی وایي چې الله ج بنده ده ته اختیار ورکړ او په دنیا کې یې په هېڅ قیدیت مکلف نه کړ، چې د هر نېک او بد کار بدله به په اخرت کې ورکړي؛ د دې اختیار په باره کې روښان پیر داسې ویلي دي:

کـــــه د چـــــا پـــــه بـــــاور شـــــینه
لـــــــه بـــــــدی دې پرهېزکـــــــا
چـــې بلـــه نیکـــی یـــې زیاتـــه شـــینه

په بل ځای کې دې وايي چې د ټولو کړنو د بدل او عوض ورځ شته چې انسان ته خپل بدل ورکړي او د دې ورځې مالک به الله ج وي، چې دې يې په هکله داسې نظرلري:

د نیکۍ جزا راحــت دي

د ګناه جزايي عذاب وينه

(۱۹:۳۳م) .

له مرګه وروسته ژوند

د دې موضوع په اړه دی داسې نظرلري:

اووم دي هســــــــــی يقيـــــــــــن که

چی له مرګه پس به ژوندی شيـــــــــــنه

(۱۹:۳۳م) .

دی وايي چې ټول مسلمانان بايد په دې کلکه عقيده ولري، چې د قيامت ورځ لازمي او حتمي ده او ټول مړي به په دې ورځ د الله تعالی په امر سره ژوندي کېږي او د الله تعالی په وړاندې به د خپلو کړو اعمالو ځواب وايي.

له مرګه وړاندې مرګ

دی د دې موضوع په هکله داسې خپل نظرځرګندوي :

له مرګه وړاندې مـــــــــــرګ دغـــــه دی

هرچې خپل اندام له نهی وژغـــــــــــورينه

دی په دې ځای کې داسې وايي چې: له مرګه مخکې ځان وژل په دې مانا دي چې ته په ژوندونې ځان له هرڅه پرهېز کړې او د الله تعالی ټول اوامر په ځان عملي کړې، يوازې په دې دنيا به درته دا سخته وي، چې په ځان به دې سخته تېره کړې او ځان به د نفس تابع نه کړې؛ مګر بيا به دې هغه دنيا د خوشحالېو ډکه وي او تل به خوشحاله اوسې.

د ايمان په هکله داسې وايي:

دی وايي چې ټولې ښېناوې د اسلام اساس دي، خو الله تعالی په حکمت سره چې کومه ښېنا په پيل کې راغلې ده؛ نو هغه د اسلام د سر په مانا ده چې بې له سره ژوند هېڅ مانا نلري او بيا ورپسې نورې ټولې ښېناوې د وجود د نورو غړو په مانا دي، موږ بايد د اسلام ټولې ښېناوې په ورځني ژوند کې په ځان تطبيق کړو، چې د شعر بېلګه يې لاندې ده:

پاک کلمه د ایمان ســــــر دی

او د ایمان تن دې نمونځ ګڼینه

(۲۰:۳۳م) .

د منافق نښې

دی په خپل کلام کې یو ځای داسې د منافق په هکله وایي:

د منافقـانو یـو نښـان دغـــــــــــــه دي

چې نمونځ په سستۍ پـه ریـایې ګذارینـه

زیـات بـه غافـل وینـه لـه خدایـــــــــــه

په ژبه به یـی لـږ پـه رسم یادوینـــــــــــه

منافقان بـه امیـد کـړي چـې د اطاعـت دي

پـه قیامـت بـه یـې لـه ګنـاه بیـا مومینـــه

(۲۸:۳۳م) .

دی وایي چې کله دغه نښې په چا کې ولیدل شي نو په دې پوه شه چې دا منافق دی، موږ باید له داسې کړنو څخه ځان وژغورو، تر څو الله ج له موږ څخه ناراضه نشي، دا نښې عبارت دي له: په لمانځه کې سستي کول، له خپل رب څخه غافل کېدل، د رسم او رواج لپاره عبادت کول....او داسې نور... همدارنګه له لمانځه منکر کافر بولي او په هکله یې داسې وایي:

کافر به شي هغـــــــه ژوی

هر چې به منکر له نمانځه شینه

د اوبو بیان

دی په خپل کلام کې د اوبو په هکله داسې نظر لري:

د اوبـــــو بیـــــان بـــــه وکـــــــــــــړم

چـــــې ســـــړی یـــــی زده کوینـــــــــــه

څلورجنســـــه اوبـــــه دي لـــــه اســـــمانه

بـاور کـاڼی څلـور د زمکـی دینـــــــــــــه

داوره، واوري، ږلـی پرخـول اسمانـــــــه دي

رود، دریاب، چینه، له کوهي له زمکـی دینـه

اودس پـه هغـو اوبـو روا نـــــــــــــه دي

چی له ونـی لـه میـوې نښـتیځلي وینـــــــه

(۲۸:۳۳م) .

دلته په دې بیان کې ده د اوبو ډېر زیات خصلتونه بیان کړي دي او په هغوی یې بحث کړی دی، چې ټول یې دلته راوړل او پرې بحث کول موضوع ببخي اوږدوي او موږ له عمومي بحث څخه پاتې کوي خو بیا هم موږ هڅه کووچې په موضوع تر ډېره بریده رڼا واچوو.

دلته دی وایي چې اوبه لومړی په دوه ډوله دي لومړی د زمکې اوبه او بیا د اسمان اوبه چې بیا دا هم په خپلو کې په بېلابېلو برخو باندې ویشل شوي دي او د اسلامي اصولو په رڼا کې پرې بحث شوی دی. دی وایي: په هغو اوبو اودس نه کېږي، چې له ونې یا میوې څخه ویستل شوي وي او په بل ځای کې دی وایي: په هغو اوبو هم اودس نه کېږي چې خوند، رنګ او بوی یې خراب وي.

د اوداسه بیان

دی په خپل کلام کې د اوداسه په هکله هم پوره بیان کړی دی چې موږ یې دلته یوه برخه د نمونې په توګه راوړو:

د اودس بیـــان بـــه وکـــــــــــــړم
چـــی ســـړی یـــی زده کوینـــــــــــــه
دا ســـړي دې بـــاور کانـــــــــــه دي
چی بې اودسـه نمـونځ مطلـق نـه شـینه
دا اودس دي څلورځســـــــــــــــــنه
کـــه د چـــا پـــه بـــاور شیـــــــــــــنه
فـــــرض، واجـــــب، سنـــــــــــت دي
څلـــورم دې مســـتحب ګڼینـــــــــه

(۴۲:۳۳م) .

دی په دې ځای کې وایي چې اودس د لمانځه لپاره فرض دی او په اودس کې څلور مرحلې دي، چې عبارت له :(فرض، سنت، واجب او مستحب) څخه دي. دا ټول د پوره اودس لپاره ضروري دي او هر مسلمان ته په کارده چې د اوداسه پر وخت دې ته پوره پام وکړي تر څو په اوداسه کې نقص پیدا نشي.

په ټوله کې باید ووایم چې په نوموړي کتاب کې دغه موضوعات راغلي دي: (د اوداسه ماتوونکي، د تیمم بیان، د غسل بیان، د فرض لمانځه بیان، د لمانځه ارکان، د لمانځه واجبات، سجده سهوه، د لمانځه

سنت، د لمانځه تباکووني، د لمانځه مکروهات، حیض او نفاس، روژه، زکات، سرسایه، د حج بیان، د خدای ج کتابونه، څلور پېړۍ ، اته مقامونه، څلور مقامونه) چې دلته موږ ټول د بحث لاندې نشو نیولی ځکه چې موضوع بېخي پراخېږي او د حده به واوړي؛ نو دلته مو د ځینو بېلګې راوړي چې د ځینو به بیا هم د ضرورت پربنا راوړو.

د حج بیان

دی په خپل کلام کې د دې موضوع یادونه په دې ډول سره کوي:

د حج بیان به وکـــــــــــــــړم

چې سړي یې زده کوینـــــــــــــه

پنځم عمل د ایمان حـــــــــج دی

چې روا حج دې وا ګذاریـــــــــــنه

د حج ګذاردن په مسلمان فـرض دي

په ازاد عـــــــــاقل چې بالغ وینه

(۷۳:۳۳م) .

دی وایي: حج هغه وخت پر انسان فرض دی چې عاقل او بالغ وي او د دې ترڅنګ ازاد هم وي چې غلام نه وي، ځکه په غلام حج ندی فرض شوی. دی وایي له حجه منکر کافر دی ځکه چې له حجه انکار یو ډیر سخت له ګنا ډک عمل دی.

د الله ج کتابونه

روښان په خپل کتاب کې د الله ج د کتابونو په هکله داسې وایي:

هـــــر چـــــې زده کـــــه پنځـــــه بنیـــــاده

تـــــرو نومونـــــه د کتـــــابو دې زده کوینـــــه

د خـــــــدای کتابونـــــــه ډېـــــــــــــر دي

د څلـــــورو کتـــــابو نومونـــــه څرګنـــــد دینـــــه

تـــــورات پـــــه لـــــوز عبـــــــــــــرانی

وموســـــی وتـــــه خـــــدای رســـــولی دینـــــه

بایزید په دې ځای کې په دې اړه داسې نظر لري: اسماني کتابونه ځلور دي. دی هر کتاب بېل بېل تشریح کوي او تر څنګ یې د دې کتاب ژبه هم موږ او تاسې ته راښایي چې دا له هغه وخت سره سم لوی خدمت دی.

د حضرت محمد(ص) شجره

دی د خوږ نبي کریم(ص) د نسب شجره په خپل شعر کې داسې راوړي:

محمـــــــــد د عبـــــــــــــد اللـــــــه و

عبـــــد اللـــــه د عبـــــد المطلـــــب وینـــــه

عبـــــــــد المطلـــــــــب د هاشـــــــــــم و

او هاشـــــم د عبـــــد المنـــــاف وینـــــه

دی دلته د حضرت نبي کریم (ص) د کورنۍ شجره بیانوي چې موږ یې دلته له مکمل راوړلو تېر شو، نور خو یې د بیان ژبه ساده او اسانه ده. نوځکه مو پرې ډېره تشریح ورنکړه.

بایزید روښان د علم په رساله کې د ټولو فقهي موضوعاتو بیان کړی دی او په پوره تشریح سره یې نوموړي موضوعات بیان کړي دي، له دې ځایه معلومېږي چې روښان پیر په فقهي موضوعاتوکې پوره پوهه درلودله.

د بایزید روښان فرحت المجتبی

مخکې له دې مو د ملي مبارز بایزید روښان په نورو اثارو کې د ده پېژندنه رانقل کړې ده، بیا به یې پېژندلو ته دومره ضرورت پېښ نه شي او نه به یې په هکله پوښتنه پیداشي نو ځکه مو د نومړې رسالې د پېژندنې پروخت د شاعرله پېژندنې صرف نظر وکړ او ترې تېر شولو.

د افغانانو د یوه ستر او د ملي او عرفاني نهضت مشر بایزید روښان د خپلې روښاني لارې د تبلیغ او د خپلو پیروانو د پوهاوي لپاره په پښتو، دري، عربي او هندي ژبو ډېر منظوم او مسجع اثار لیکلي دي، د تېرې شلمې پېړۍ دویمه نیمایي کې د ده د اثارو چاپ ته توجو شوې ده، په کابل، پېښور او اسلام اباد کې یې موجوده او موندل شوي اثار چاپ شوي دي، چې د دې اثارو له جملې څخه یې یو هم (فرحت المجتبی) دی، چې د سرمحقق زلمي هېوادمل په زیار او کوښښ سره په کال (۱۳۸۵هـ ش) کې چاپ شوه.

د رسالې په اړه:

د دې رسالې د چاپ او پیدایښت په اړه استاد سرمحقق زلمي هېوادمل داسې ویلي: ((د ډهلي د ملي موزیم په خطي نسخو کې په۱۸/۴۴۱ نومره یوه نسخه موجوده ده، په دې نسخه کې د بایزید روښان دوه

نسخې خطاطي شوي دي. خطاط يې گل محمد روښاني دی، دی د رشيد اباد اوسېدونکی و، او دا کتاب يې د فرخ سير د پاچاهۍ په دريم کال ليکلی دی، چې غالبا دا سنه به (۱۱۲۷هـ ق) وي.
ناظم بايزيد په عام ډول رسالې معرفي کړي دي، خو دواړو ته يې ځانگړي نومونه هم ورکړي دي، چې يوه يې د(علم رساله) ده او بله يې (فرحت المجتبی) ده. چې موږ يې دلته په فرحت المجتبی باندې بحث کوو. د دې رسالې نظمونه لکه د بايزيد د نورو نظمونو په څېر د خوند نه دي او ماتې گوډې لري. دا رساله داسې پيل شوې ده:

مياروښان ويلي دي په عنايت د الهـــــــــي
زه در بيـان کـړم يـو څـو رباعـــــــــــــــي
هرچې يې کړده که شناخت يـې پيداشـــــــي
کړده دې په اخلاص کاکـه څـوک يـې پتـــــيي
څو عالم تـير شـوی دی لابـه پسـې ځـــــــــي
په مرگ به واړه ومري څوک دې نه کـا ناميـدي

په لوړ اقتباس په ټوله رساله کې د بايزيد په اصطلاح ترهرې رباعي وروسته تکرار راغلی دی او دا هغه خصوصيت دی چې د بايزيد په نورو پښتو اثارو کې هم لېدل کېږي.
په فرحت المجتبی کې ټول (۱۷) رباعي ډوله نظمونه راغلي دي چې تر هر دغسې نظم لاندې دغه يو بيت:

څو عالم تيرشـوی دی لا بـه پسـې ځـــــــــي
په مرگ به واړه ومري څوک دې نه کا نامينـه دي

بيا بيا تکرار شوی دی، که دا تکرار بيتونه ورسره حساب کړو، نو د رسالې ټول بيتونه (۵۱) يوپنځوس کېږي دا رساله په دې ډول پای ته رسېدلې ده :

چـې روح بيـا مـومې د خدايـه قـــــــــــراروي
خـدايي رحمـت بـه واړه دی لـه خپسرـ گنـــــــي
مياروښان ويلي دي دا رساله مې فرحت المجتبـــــی
هرچـې زدکـړه د پـاره زده کـا د ښـو اثـر بي وزړه تـه
څو عالم تـير شـو ی دی لا بـه پسـې ځـــــــــي

په مرگ به واړه ومري څوک دې نـه کـا نامینـــــه دي

د دې رسالې بله نسخه تر اوسه چېرې بل ځای نه ده لیدل شوې او یا دا چې ماته نه ده معلومه. په دې نسخه کې د رسالې متن ظاهر بشپړ دی، خو ځینې بیتونه او یا د بیتونو د مسرو ځینې کلمات د وینو د خوړنگ له امله له لوستو وتي ځکه په ظاهر متن کې ځینې بیتونه او مسرې ناقصې دي.

دا رساله د روښاني لارې یو کوچنی او لنډ لارښود غوندې دی چې د لارې عمده ټکي پکې امام الطریقه په دې نیامت راوړي او رانغښتي دي چې د دې لارې طالب ډېر ژر او په لږو الفاظو او جملو کې د دې طریقې له ځینو اصولو او ضوابطو سره اشنا شي. په دې رساله کې اکثره راغلي مطالب په خیرالبیان، تذکره او نورو اثارو کې هم راغلي دي. همدارنگه د کلماتو او لغاتو اشتراک هم په دې درېواړو اثارو کې ښکاره لیدل کېږي او متني قراین په دې گواهي لري چې دغه درېواړه اثره (خیرالبیان، تذکره او فرحت المجتبی) دې دیو سړي وي(۱۱:۳۴م) .

د رسالې ځانگړتیا

مخکې مو د نوموړې رسالې په هکله کافي خبرې وکړې، فکر کوم دلته به بیا په یوه ځانگړي عنوان کې د دې ضرورت نه وي چې په تفصیل سره پرې بحث وشي، په لنډو کې به ووایم چې دا رساله د سرمحقق زلمي هېوادمل په زیار په کال (۱۳۸۵هـ ش) کې د چاپ لپاره تیاره شوه. په دې رساله کې ټول (۱۷) اولس رباعي ډوله نظمونه راوړل شوي دي چې یو بیت په هرې رباعي کې په تکراري شکل سره راغلی دی، چې له دې سره د دې رسالې د ټولو بیتونو شمېر (۵۱) یوپنځوسو ته رسېږي.

د فرحت المجتبی شعري کالبونه

په دې رساله کې ټول رباعي ډوله نظمونه راغلي دي چې بېلگه یې دا ده:

چـې روح بیـا مـومې د خدایـــــــــــــه قـراروي

خدایي رحمت به واړه دی له خپسر گڼـــــــــي ...

(۱۳:۳۴م).

د ده په دې رساله کې دې ته ورته نظمونه راغلي دي چې د دې پرته بل کوم شعري کالب نلري.

د فرحت المجتبی محتوا

د ژوند د هرې برخې په اړه انسان ته معلومات ورکوي او انسان خپلو نیمگړتیاوو او خامیو ته متوجې کوي. روښان وایي چې انسان په دنیا کې له خپل مسوولیت نه خبر نه دی؟ ولې انسان ځان دومره گنگ کړی او ځان یې د دنیا په چارو مصروف کړی دی او اخرت ترې هېر دی؟ دی وایي چې انسان په دنیا کې هر څه

کوي؛ نو باید په دې وپوهېږي چې د دې ورځې حسابي به ورسره کېږي او بدل به یې هم ورکول کېږي، هم به ترې اخیستل کېږي.

انسان ته نصیحت

روښان د دې زمانې انسان ته داسې پیغام لري:

د دنیـــا پـــه چـــارو کـــې دې کانـــه دي هتیـــاتي

بـــل پـــه دفترکـــې بـــې بـــدي نـــــــه ډېرېـــږي

ویـــره د قهـــار دې پـــه زړونـــوکې کښـــیباسي

توبـــه دې پـــه پیروکـــا بـــې توبـــه دې نـــه اوسي

(۲۴:۳۴م)

روښان وایي چې انسان باید په دنیا کې د دنیا معاملې په احتیاط باندې سر ته ورسوي. څوک چې د دنیا په کارونوکې له سوچ او فکر څخه کار واخلي؛ نو په دفتر کې به د ده د ملایکو له لوري بد نه لیکل کېږي؛ نو چې کله ورته ښه ولیکل شي، ملایکې به غږ وکړي چې دا یو نیک انسان دی په اسمانونو کې به نورې ملایکې د دوی غږ بدرګه کړي او الله تعالی به ورته د نیکانو خلکو اجر ورکړي، تر څنګ به یې د دنیا چارې هم په خیر او خوشحالۍ سره ترسره شي.

د دې ترڅنګ دی وایي چې انسان دې هر وخت خپل رب ته توبه وباسي او بې توبې دې ځان نه پاتې کوي، ځکه چې الله تعالی توبه کوونکي خلک خوښوي.

دی بل ځای کې داسې وایي:

ښه کړده اختیار کړه ترو پرېږده بد خویي

بدۍ به دې په نیکۍ بدلې شـــــــــي

(۲۵:۳۴م)

دی وایي چې دا دنیا د انسان لپاره د باغ حیثیت لري، کله چې باغوان په باغ کې هر بوټی وکري؛ نو هماغه میوه ورته نیسي، هېڅکله به هم د اغزیو ونه ګلان او یا میوه ونه نیسي. انسان دې هم همدې ته وګوري او له دې دې عبرت واخلي.

انسان چې هرڅه کوي په دنیا کې اجر او بدل به یې په دنیا او اخرت کې په هماغه شکل سره ګوري، هېڅکله به هم ده سره د بدۍ په مقابل کې انسان په دې دنیا ښه ونکړي او الله تعالی به ورته په هغې دنیا

اجر ورنکړي؛ نو انسان ته بایده ده چې په دې دنیا د ځان لپاره یو ښکلی او د ښو مېوولرونکی باغ جوړ کړي ترڅو یې ښه ثمر په دواړو دنیاوو کې په سترګو وګوري.

د مرګ په هکله

په دې رساله کې د مرګ په هکله راغلي:

مرګـــوټی درســـیږي ناګـــا بـــه دریـــــــــشي

څـــو رنګـــه عـــذاب دی دا ســـړی دې پټېیـــي

روښان وایي چې ای انسانه! ته ولې دومره غافل یې ستا او د مرګ ترمنځ فاصله به یوازې یو څو ثانیې وي ته بیا هم دومره دې خپل ژوند ته غره یې هېڅ د مرګ پروا درسره نشته، تل د خپل نفس په غوښتنه په خپلو خواهشاتو پسې ګرځې دا به تا ته ډېر لوی زیان ورسوي، دا دوه ورځې غافل توب او بې غوري به دې ټول عمر چې هغه په ابدي دنیا کې ده در خراب کړي او په سرو سترګو به دې وژړوي؛ نو مخکې له دې چې ته د داسې حالت سره مخامخ شې ځان ترې وساته او د هغې ورځې لپاره نن اماده ګي ونیسه.

د تصوف د مقامونو بیان:

په دې رساله کې هم د تصوف مقامونه تشریح شوي او د هر یوه په اړه بشپړ او کامل معلومات د شعر په ژبه وړاندې شوي لکه:

شریعت د رسـول وینـا ده طریقـت کـــــړ ده نبـي

حقیقت د نبي حال دی معرفت اسرې دي د نبـي

دلته موځکه مکمل نظم رانه وړ چې د موضوع د لویوالي باعث ګرځېده.

د واصل تعریف داسې کوي:

واصل هغه څوک دی چې د خپل هدف په لوري تر هغه سفر کوي، تر څو یې یګانګي نه وي حس کړي:

واصـــلان بویـــه چـــې پـــه وړانـــدې روان شي

لـه یانـه دې نـه دربـېږي څـو نـه مـومي یګـانګي

(۳۰:۳۴م)

دا چې د بایزید روښان پېژندنه او د یو څو اثارو تشریح وشوه، نو د موضوع اړوند به د بایزید روښان د لارویانو پېژندنې او د دېوانونو ځانګړتیاوې راوړو، خو باید ووایم چې په لارویانو کې یې لومړی د ملا ارزني پېژندنه او

د دېوان پر ځانګړتیاوو بحث ځکه کوم، چې دا په پښتو ادب کې د دېوان بنسټګر دی او لومړی دېوان لرونکی شاعر راپېژندل شوی.

د ارزاني خویشکي پېژندنه

په پښتو ادب کې لومړی دېوان لرونکی شاعر چې د دېوان د بنسټ ایښودلو افتخار ورته حاصل دی هغه ارزاني خویشکی دی، چې د منځنۍ دورې یو لوی او پوه شاعر دی. د ژوند، نسب، علم او کمال په هکله یې بېلابېلو خلکو څېړنې کړې دي، چې موږ پرې دلته لنډ بحث کوو: ((ارزاني د پیرروښان د ملي مبارزې او نهضت د لارې یو تکړه مجاهد او یو پوه عالم و، چې بایزید غوندې یې په څلورو ژبو (پښتو، فارسي ، عربي، هندي) لیکل او لوستل کولی شول. د ارزاني د زېږېدو ځای او نېټه په روښانه توګه نه ده څرګنده شوې، یوازې دومره څرګنده شوې چې د پنجاب په قصور ښار کې اوسېدلی دی. ارزاني په قوم سربڼ زمند خویشکی دی(٥٣:٣٦م).

د ارزاني د نوم په هکله هم ټول پوهان په یوه خوله نه دي څوک یې نوم ارزاني او څوک یې نوم عزیز بولي، خو ډاکټر زلمی هېوادمل بیا عزیز نوم ردوي او ارزاني یې بولي، مګر پروفیسر افضل رضا او ډاکټر راج ولي شاه خټک د دوست محمدکامل مومند د تحقیق په اساس په (پښتوادبي تحریکونو) کې یې نوم عزیز ښایي او دوست محمد کامل یې هم د لاندې شعرونو په اساس نوم عزیز بولي، چې په لاندې ډول دي لکه:

ارزاني په پښتو ژبـــــــــــــه

له زړه وکېښ دا شعـــــــــــــر

په سربڼ کې دی ځمنـــــد دی

او په خویشکي کې عزیـــــز

(٥٣:٢٦م).

له پورته بیت څخه موږ ته له ورایه څرګندېږي چې دی به د عزیز په نوم یاد شوی وي.

همدارنګه قلندرمومند په خپل اثر(خیرالبیان یې تنقیدي) او همېش خلیل په (ورکه خزانه) کې چې د ارزاني کوم شعر رانقل کړی دی د عزیز د ثبوت په خاطر هغه دا دی:

دی په خویشکو کې عزیز

د والد نوم یې برهـــان دی

(٥٣:٢٦م).

له پورته بیت څخه دا نتیجه اخیستلی شو چې د دې نوم به عزیز او د قبیلې نوم به یې عزیزي وي، خو ځینې لیکوال بیا د پورته شعر اصلي بڼه داسې ښایي:

په سربڼ کې دی زمند دی

او په خیشکي کې لـــــزیز

دی په خیشکي کې لزیـــز

د والد نوم یې برهـــــــان

(٢٦:٥٤م).

دلته خبره په لزیز کې ورانه شوې ده، چا یو ډول بللی او چا بل ډول، خو له دې یوه شعره بیا داسې څرګندېږي، چې ارزاني یې نوم نه و؛ بلکې دا یې تخلص و لکه:

ارزاني له نصه وایـــــي

کښې له خپله تخلصـــه

له دې پورته بیت څخه معلومېږي، چې د دې نوم نه عزیز دی، نه لزیز او نه ارزاني؛ بلکې دا یې تخلص دی. د ملا ارزاني د نوم له مسلې څخه وروسته دویمه خبره د ده د زوکړې او د زوکړې ځای دی، چې تاریخونه یې په هکله داسې روایتونه وړاندې کوي: ((ملا ارزاني د خویشکو له قبیلې څخه و او اصلي وطن یې (قصور) پنجاب دی، د داخلي شهادتونه لیکي چې د ارزاني خپله ګواهي دا ده، چې له یوه بیته یې ښکاري: دی قصوري پښتون دی چې بېلګه یې دا ده:

دم ولاړخاکي صوري کـــــــا

هم اناالحق ګفت منصوري کـــا

په دادم حق خپل وصفونـــــه

په ارزاني قـــــصوري کـــــا

(٢٦:٦٠م).

له دې وروسته موږ دې نتیجې ته رسېږو چې ارزاني د قصور پنجاب اوسېدونکی و، د ژوند زمانه یې د(٩٢٩هـ) او(١٥٢٦م) کلونو شااوخوا اټکل شوې ده. د برهان زوی و، د لوی دیني علوموعالم تېرشوی دی دا چې کوم علوم یې لوستي، چېرته او څنګه یې لوستي، په هکله یې له دېوانه مستند شواهد را اخلو:

((تر کومه حده چې د ارزاني د علمي استعداد او صلاحیت خبره ده؛ نو په دې لړ کې د ارزاني په علمي شخصیت او استعداد په یوه ضمني باب کې خبرې شوي دي، لکه څنګه چې واضیحه ده، ارزاني یو عالم او فاضل سړی و، له پښتو علاوه د عربي، فارسي او هندي ژبو لوی عالم و او له تنصیفاتو یې څرګندېږي، چې نوموړي د قران او احادیثو علم حاصل کړی و، خو دا خبره په ګوته کول به ګران وي چې هغه کوم کتابونه لوستي وو؟ او د چانه یې لوستي و؟

له دې نه علاوه ارزاني د تصوف په علمي او باطني دواړو اړخونو ښه عالم او عار ف سړی و. د دې ترڅنګ يې د نجم او فلکياتو په هکله هم څه ناڅه مطالعه درلودله، چې بېلګه يې په لاندې بيت کې ښه څرګنده ده:

دا فلـــک دايم په رقـــــــــص

کله سعد کله نحـــــــــــس

سعد نحس په خپل بخت شـــي

څـــــوک دې نه کا سره بحـــث

د ارزاني د مړينې او د مقبرې په هکله دومره ويلی شو، چې (١٠٢٨هـ) کال يې د وفات نېټه ده، چې قبر يې د هند د بهار صوبې په پټنه ښار کې دی او مشهور زيارت دی. (٦١:٢٦م).

د ارزاني شاعري

ارزاني د منځنۍ دورې د لومړي پړاو يو پوخ شاعر او عارف و. د ارزاني شاعري د ارزاني تصوف او مذهبي مشر يوه شرحه او دعوت دی. د ارزاني شاعري د دين او مذهب يو زبردست احساس او شعور رابيداروي. د ذات، معرفت او توحيد د علم يو خاص زور او شور لري، د خدای په وحدانيت د يقين سرور را پيدا کوي. د ارزاني د اثارو موضوع تصوف دی، ارزاني په پښتو ژبه کې هغه لومړنی شاعر دی، چې د تصوف موضوع يې په علمي او تصوفي رنګ کې وړاندې کړه.

له دې څخه علاوه په لومړي ځل يې اخلاق او مذهب په داسې تفصيل او بسيط انداز سره وړاندې کړل چې نه صرف د خپل وخت او ولس اصلاح يې وکړه؛ بلکې په پښتو شعري ادب يې تل پاتې اثرات مرتب کړل او له دې څخه علاوه يې يو داسې تصوفي او ادبي اسلوب هم وضع کړه چې روښانيانو يې په خصوصي توګه تقليد وکړ او باقاعده يو ادبي مکتب يې پيدا کړو، د دې تر څنګ د ادب په حواله يې قومي شعور د ارزاني د شاعرۍ اهمه موضوع ده او د دې تر څنګ د ارزاني شاعري يوه مقصدي شاعري ده، ځکه چې ټوله د روښاني تعليم لپاره وقف وه.

د ارزاني شاعري د يوه اعلی صوفيانه تخيل او عارفانه وجدان نغمه ګري د ارزاني شاعري د ژبني او قومي شعور وده ده، د ارزاني شاعري توحيد د علم او ودې اسرارو او رموزو يو داسې بيان دی، چې په مستۍ يې صرف رېښتيني عاشقان ګډېږي لکه:

ارزانـــي د زړه خبـــــرې

د طالبـــو لوی سرور دی

(١٨٩:٢٦م).

تر کومه چې د ارزاني په شاعرۍ کې د تشبیه ګانو او استعارو معنوي او لفظي صنعتونو خبره ده، نو ارزاني په فني توګه د دې فني اړتیاوو اهتمام کړی دی، دا چې د ارزاني شاعري تصوفي او عرفاني ده او په شاعرۍ کې راغلي تشبیهات هم علمي او تصوفي بڼه لري، د بېلګې په توګه:

د شب فرق خو ښه تیاره ده

ځـــکه تښـــــتي له افتابه

(۱۹۱:۲٦م).

دلته په پورته بیت کې له افتاب څخه مطلب (رڼا) ده، له تیارې څخه مطلب د رڼا ضد دی، ګمان شرک دی او شب پرک هغه سړی دی، چې د معرفت د رڼا او د توحید له علم څخه تښتي، د ګمان او د شرک په تیارو کې خوښ وي. د ده په شاعرۍ کې د ادبي فنونو ټول فورمونه راغلي دي لکه: تضاد، ایهام، مراعا ت النظیر، مشاکله، لف او نشر، تلمیح، تجنیس، اشتقاق، سیاقة الاعداد او تاریخ ګویي. (۲۱۰:۲٦-۱۰۷م).

له دې سره چې د ارزاني په هکله ډېرو تذکره لیکونکو او ادبپوهانو ډېرڅه ویلي دي، خو موږ یې دلته د نمونې په هکله د یو څو تنو نظرونه را اخلو.

میا روښان د ارزاني په هکله داسې نظر لري:

بې میرزا بې ارزاني بې مخلص یاره

بل شاعـــر برابر ندی مخلص ستایو

(۵٦:۳٦م).

د تورې او قلم خاوند د پښتو ادب پلار خوشحال خان ختک د ارزاني یاد داسې کوي:

د میرزا دېوان مـــې ومانده په ګوډې

مسخره مې ارزاني خیشکی ځمند که

(۵٦:۳٦م).

دا وه د ارزاني په هکله د خوشحال خان نظر چې د ارزاني یاده یې کړې وه.

د ارزاني د دېوان ځانګړتیاوې

(ارزاني د پښتو ژبې یو ضخیم دېوان لري، د ارزاني دا دېوان چې تقریبا شپږزره بیتونه لري، د تصوف د اسرارو او رمزونو ډک دی. د وحدت الوجود د خیالاتو د اظهار خزانه ده، د روښاني فکر، فلسفې او د هغه د مذهبي اړخ یوتشریح او توضیح ده، د شریعت او طریقت د علمي ژوند یو پیل دی. د ذات د معرفت او توحید د علم په اصول یو زبردست اسرار او تاکید لري(۹۵:۲٦م).

له دې وروسته پوهاند زیورالدین زیور په خپل اثر (پښتو ادبیاتو تاریخ منځنې دوره) کې د ارزاني د دېوان په باب ښې څرګندونې لري، چې موږ یې یوه برخه دلته را اخلو: ((ارزاني په پښتو کې یو بشپړ دېوان لري، چې د دغه دېوان یو څو نسخې په دغو وروستیو وختو کې د ادبپوهانو ګوتو ته ورغلي او په همدې توګه د ارزاني د ژوند ډېر تیاره ګوټونه روښانه شوې دي.

د ارزاني د دېوان یوه قلمي نسخه د بینوا په ځانګړې کتابتون کې وه، دغه نسخه دوه برخې لري، په لومړۍ برخه کې یې غزلې او نور او په وروستۍ برخه کې څلوریزې راغلې دي، چې دا پښتو ادب ته د ارزاني یو ابتکاري خدمت دی، د ارزاني د دېوان بله نسخه د بریټش په موزیم کې خوندي ده او د پښتو د قلمي نسخو په کتلاک کې په (۴۴۹٦) نمره راغلې ده، له دغې نسخې څخه یو مایکرو فلم اوس د ادبیاتو په پوهنځي کې موجود دی.

د دېوان بله نسخه د پېښور موزیم په کتابتون کې خوندي ده، د ارزاني د دېوان څلورمه قلمي نسخه د پېښور په پښتو اکیډمي کې شته او د دېوان بله نسخه د شیدو تحصیل نوښار محمد نواز خټک سره ده، چې د دغې نسخې څخه بیا همېش خلیل په ورکه خزانه کې ګټه اخیستې ده او د شاعر په ځینو مسایلو باندې غږېدلی دی. د ارزاني د دېوان بشپړه قلمي نسخه په پېښور کې د بالا ماڼۍ اوسېدونکي سید فضل صمداني په ځانګړې کتابتون کې شته دی.

د دې برخې په پای کې پخپله د ارزاني له خولې هغه وینا دلته رانقلوو چې د دېوان په باب یې ویلي دي:

د فقیر پښتو دېـــــــوان دی

دا دېوان حـقاني خـــوان دی

دی رېښته په څـــــلور ژبو

دی بیان په څو الـــــوان دی

(٦٢:٣٦م).

ارزاني د دېوان په پای کې د دېوان بشپړوالي ته داسې اشاره کړې ده:

دا دېوان دلته تـــــمام دی

کل ددین په احتمـــام دی

چې ددین پښتو کـــلام دی

دی بیان له حق اسلام دی

(٦٢:٣٦م).

اوس د ارزاني د دېوان د چاپ توبه قبوله شوې او په پېښور کې د کلیاتو په نامه چاپ شو (٦١:٣٦-٦٢ م).
استاد حبیب الله رفیع بیا د ارزاني د دېوان په هکله داسې نظر لري: ((ما چې د ارزاني د دېوان کومې څلور قلمي نسخې مطالعه کړې دي، په هغو ټولو کې په مشترک ډول لومړنۍ برخه د غزلو ده، چې یوه الف نامه یوسل او څوارلس (١١٤)غزلې لري دویمه برخه یې د رباعیانو ده، چې شمېر یې (٥٦)دی، په (٩٣٧) نمبر قلمي نسخه کې د هجایي حروفونو په ترتیب د غزلو باقاعده بابونه جوړ کړی شوي دي، لکه: باب البا، باب التا، باب الپا او داسې نور... له غزلو نه پس لکه څنګه چې مخکې وویل شول چې (٥٦) رباعیانې دي او په باب کې یو نظم راغلی دی، د ارزاني رباعیانې ټولې د اتو سیلابونو په بحر کې لیکل شوي دي.)) (١٠٢:٢٦م).

د ارزاني خویشکي د کلیاتو متن د پښتو ژبې له ګرانو متونو څخه یو ګران متن دی دا متن د پښتو، فارسي او هندي ژبو یوه زړه ریخته ده اکثره لغات یې متروک دي، رسم الخط یې روښاني دی املا یې هم مشکلات لري او د (یا) ګانو مسله یې هم جنجالي ده.

د ارزاني د شاعرۍ فورمونه

د ارزاني د شاعرۍ کالبونو په اړه پورته هم یو څه وضاحت ورکړل شو، خو دلته به یې بېلګې هم راوړو، باید ووایو چې د ارزاني د شاعرۍ فورمونه ډېر نه دي، یوازې په دوه درې کالبونو کې یې ټوله شاعري کړې، چې موږ یې دلته نمونې راوړو. د دېوان پیل یې په غزل سره کړی دی چې د دېوان ټولې غزلې (١١٤)دي موږ یې د نمونې په توګه د پیل غزل را اخلو:

ترالـــــف کـــــوزه تـــــــــــــــر یـــــا
فقـــــــیر راوړه بـــــــې ریـــــــــــــــا
اول دفتربـــــــــــه وکښـــــــــــــــــم
پـــــــه نامـــــــه د کبریـــــــــــــــا
د بـــل چـــا صـــفت بـــه څـــو کـــــــړم
لـــــــــــکه نقـــــش د بوریـــــــــــــا
حـــــق لـــه شـــش جهتـــه پـــاک دی
بـــــــــې پایانـــــه لـــــــــوی دریـــــا
دوړاه کـــــــــونه یـــــــې پیـــــــداکړه

د دې خپـــل کـــون په کېميا

(٢٢١:٢٦م).

له غزل وروسته چې کوم کالب د ارزاني په شاعرۍ کې ليدل کېږي هغه رباعي ده او د ارزاني د شاعرۍ يوه درنه برخه په همدې فورم کې خوندي ده، چې موږ يې دلته د نمونې په توګه يوه رباعي را اخلو:

اى زما د زړګـــــــي رازه

د مولى ثنا کـــــــړه درزاه

خه مـــــولى له اول يادکړه

هــره چار چـــې کړې اغازه

(٤٥٣:٢٦م).

د ارزاني د شاعرۍ يوه برخه نظمونه دي، چې د دېوان په پاى کې راغلي، موږ يې دلته يوه نمونه را اخلو چې د الله ج ثنا په باره کې ويل شوې ده:

يو الف الله نومينـــــــــه

د الف شوه ډېره مينـــــه

چـــې زه پټه خزينه يـــم

که مـــې څوک وپېژنينـــه

****

د الف له ډېره پـــــــــــياره

ميم مصحف شوسي سيپـــــاره

د دې ميم مصحف يې وکـــوېښ

د خـــــــــپل مـــعرفت د پاره

****

چې د ميم مصحف يې وکوېښ

ميـــم يې مى شه الف وڅېښ .

ارزاني په خپله شاعرۍ کې قصيده نلري، خو ځينې غزلې يې د بيتونو د زياتوالي له امله د قصيدې شکل ته اوښتې دي، مګر هغه فورم چې ارزاني په پښتو شاعرۍ کې رواج کړى، هغه الف نامه ده، چې په اوږد شکل ويلى شوي دي او د زياتو شمېر يې ان تر(٢٠٠) بيتونو پورې رسېږي.

د ارزاني د دېوان محتوا

د ارزاني دېوان اساسي برخه عرفان او تصوف دی. ارزاني انسانیت شموله شاعري کړې ده او په دېوان کې انسانیت ته په هره برخه کې لوی پیغام پروت دی. ارزاني په خپل دېوان کې د الله ج ثنا او صفت، د حضرت نبي کریم (ص) ستاینه او له دې څخه بغیر الله ج ته د رسېدلو په لارو چارو او خلکو ته د انسانیت په معیارنو ډېر لوړ غږېدلی او د ټولنې هرې برخې ته یې شامله شاعري کړې ده.

د شاعرۍ اساسي پیغام یې د الله ج طرف ته رجوع کول دي، چې د دې رجوع په خاطر یې د پیرروښان د طریقې اته واړه مقامونه په پوره تفصیل سره د شعر په اهنګینه ژبه خپلو خلکو ته وړاندې کړي دي، د دې ترڅنګ یې د تصوف ځینې اصطلاحات د شعر په ژبه وړاندې کړي دي او په شاعرۍ کې ځینې شعري صنعتونه هم استعمال شوي، د دې ټولو تر څنګ د اسلام مبارک دین د پنځه بناوو ذکر هم راغلی دی.د ارزاني په شاعرۍ کې د پښتو او پښتونولۍ رنګ له ورایه ښکاري.

د ارزاني په اشعارو کې پښتو او پښتونولي:

ارزاني د دین او سیاست تر څنګ د خپلې ژبې او خلکو په باره کې هم چپ ندی پاتې شوی او تل یې داسې اشعار ویلي، چې د پښتو او پښتونولۍ رنګ ترې له ورایه ښکاري، د بېلګې په توګه یې موږ دغه بیت دلته وړاندې کوو:

ارزاني پښتو خبـــــــــــره

ته یې مه ګڼه هلکـــــــــــه

دا خبره که پښتـــــــــــو ده

څوک دې نه کا ځینې کـرکه

(١٧٥:٢٦م).

له پورته بیته یې د پښتو ژبې خدمت او پښتونولي له ورایه څرګندېږي، په بل ځای کې بیا د پښتو ژبې ویل او لیکل خپل فرض ګڼي او په هکله یې وایي:

ارزاني په پښتو وې

نن یې غاړه کړه ادا

(١٧٤:٢٦م).

په یو بل ځای کې بیا د خپلې قامي ژبې د اهمیت په باره کې وایي:

د مولا له ډېره حـــــــبه

رسولان کړه له کتبـــــه

هررسول له کتب راغــی

په خپل قام د قام په ژپه

(۱۷۵:۲٦م).

په پورته بیتونو کې د خپل قوم او ژبې خدمت ته اشاره شوې ده او په هر قوم د خپلې ژبې خدمت کول لازمي ګڼل شوي دي.

د ارزاني په شعر کې د افغانیت ثبوت:

د ارزاني په شاعرۍ کې څو ځایه د افغان کلمه یاده شوې ده او خپل ځان افغان ګڼي، د قومي فخر له مخې ځان ته د افغان کلمه استعمالوي د بېلګې په توګه:

دا پښتوخبره واوره

له دې ارزاني افغانه

ارزاني افغان وکښلې

د خپل زړه له تصوره

یــووینا به کړم اغازه

په پښتوبه یې کړم سازه

(۱۷٦:۲٦م).

د ارزاني په دېوان کې سیاست:

ارزاني په خپل د ېوان کې د نورو برخو تر څنګ ځینې سیاسي مسایل هم راوړي دي، چې موږ یې دلته یوه نمونه را اخلو، دغه نمونه یو نظم دی چې د باچا او رعیت په نوم یې لیکلی دی، په همدغه نظم کې د باچا او رعیت تر منځ یو سیاسي تعلق بیان شوی دی چې د بېلګې یوه برخه یې موږ دلته راوړو:

د رعیت بادشاه راعـــــي دی

رعیت د شه داعـــــــي دی

چې رعیت ازارویـــــــــنه

دی خپل زړه خوري افاعي دی

(۱۸۱:۲٦م).

ارزاني د نورو ټولنیزو مسایلو تر څنګ له سیاسته هم بهر نه دی پاتې شوی.

انسان دوستي:

ارزاني د انسانيت لپاره شاعري کړې ده او تل يې خلکو ته د انسانيت درسونه بيان کړي دي، چې موږ يې له اشعارو يوه بېلګه دلته رانقلوو:

چې په نور چا پورې خانه دي

بې خبرد حق له خـــوان دی

د مولا په خوان راغلـــــــــي

نيک او بد سر اخـــــوان دي

(١٨٥:٢٦م).

په پورته بيت کې ارزاني يو انسان ته په احترام قايل دی، هېڅکله نه غواړي چې يو انسان دې په بل انسان ځان بهتر وګڼي.

د ارزاني په شاعرۍ کې بديع او بيان:

د ارزاني په شاعرۍ کې په ډېر لوړ انداز سره ځينې لفظي او معنوي ښايستونه استعمال شوي دي، چې له هغې جملې څخه کنايه، استعاره، تضاد، تجنيس، مراعات النظير...او داسې نور بيان شوي دي، دلته يې د بېلګې په توګه يو څو بيتونه راوړو:

د تضاد صنعت:

هغه ده چې دوه کلمې پکې د مانا له مخې متضادې واقع شي بېلګه:

د شب پرک خوښه تياره ده

ځـــــــکه تښتي له افتابه

په پورته بيت کې د تياره او افتاب د کلمو تر منځ تضاد واقع شوی دی.

ارزاني په رښتينولي تاکيد کوي او تل نورو ته د رښتيا ويلو امر کوي د بېلګې په توګه:

هره سبق په رښتيا لوله

خداى خبـــرله پټه نيته

(٢٣٥:٢٦م).

دی وايي: تل رښتيا وايه او له الله ج څخه وډارشه؛ ځکه چې الله ج د هر څه اوربدونکی دی.

په تقدير ايمان

ارزاني په تقدير ايمان لري او تل په خپلو شعرونو کې خلکو ته توصيه کوي چې برخې الهي دي، هر څه الله ج انسان ته له پخوا څخه مقررکړي دي او انسانان بايد دنيا په سر بې ځايه کارونه د دنيايي مال د پيداکو لو لپار ترسره نه کړي، بېلګه يې دا ده:

څوک دې نه کـــــا سره بحث

څوک يې سعد که څــوک نحث

هر چا بـــــــخرې دي راوړې

هر چې دي په اول بـــــحث

(٢٦:٢٤٠م).

د نفساني خواهشاتو رد:

ارزاني په خپل دېوان کې د نفس اشاره رد کړې او د نفس د اشارې په لاره تلونکي خلک يې ناکام ياد کړي دي، د بېلګې په توګه:

که دې نوس د يوث هوس کا

وايه کورې مه غپېـــــــــره

کل نهـــــي بې رهي پرېږده

ولوی امر ته کـــــــــرېږه

د لباس بندګي ګند ګـــــي ده

په تش اس مه ګـــــنه ده کېږه

(٢٦:٢٥٢م).

په پورته بيت کې ارزاني انسان د نوس په هوس د کارونو له ترسراوي څخه منع کوي او دی دا دنيا يوه عبث او ګنده پديده ګڼي. دی وايي موږ بايد د دې لنډې دنيا په مينه هغه ابدي دنيا خرابه نه کړو، ځکه چې هلته زموږ ابدي ژوند دی.

کبر او حرص:

ارزاني په خپل دېوان کې د کبر او حرص يادونه هم کړې ده او دا دواړه يې د نفس تابع ګڼلي دي، دی وايي چې دا دواړه ناروا دي او انسان بايد ترې ځان وساتي د بېلګې په توګه:

کبراو حرص هم هـــــوا دی

کل بدخـــوی کل نـــــاروا دی

نوس بادشاه دا يی لښـــــکردی

مرګ او ژوند:

ارزاني دا ژوندون هسې تش خوب ګڼي او خلکو ته وايي چې بهتره ژوند دا دی چې موږ په دې دنيا د الله ج معرفت حاصل کړو، تر څو د حقيقي ژوند په مانا وپوهېږو چې بېلګه يې دا ده:

لـکه خواب دان ژوندون دی

په دا ژوندفرض پېژندون دی

چې له خوبه نن بیدار شـــې

هغه گروه د مهـــــتدون دی

کار او زیار:

ارزاني د نورو برخو تر څنگ انسانانو ته د کار او زیار درس ورکوي او دا دنیا یو فرصت گڼي، دی وایي چې انسان باید له وخته گټه پورته کړي د بېلگې په توگه:

وقت د نوبهـــــــــــار دی

نن دې وقت دی نوی بار دی

وقت دې دا دی د کـــــرلې

څـو ارواح درسره یـــار دی

(٢٦:٩٩٤م).

د رسول الله (ص) خوب:

ارزاني په خپل دېوان کې د نظم په ژبه د رسوالله (ص) یو خوب بیان کړی دی، چې د خپل امت په غم کې رسوالله (ص) له الله ج څخه د خپل امت لپاره اساني غواړي، د بېلگې په توگه:

یوه شپه رسول ویده شه

جبرایل پرې ولیده شـه

دا یې ووې ای حـضرته

د امت احوال دې څه شه

(٢٦:١٠٠٢م).

په پورته بیتونوکې ارزاني د حضرت نبي کریم (ص) د یوه خوب بیان کړی دی.

د الله ج ستاینه:

ارزاني په خپل دېوان کې څو ځایه د الله ج صفات په پوره وضحات سره بیان کړي دي او د الله ج د ستاینې په باره کې یې پوره، پوره نظمونه ویلي دي، چې موږ یې دلته د بېلگې په توگه یوه برخه راوړو:

دا یو نور دی تـــــــوېدلی

په هر چا دی وربـــــــدلی

کوزه زمکه پاس اسمـان دی

په قدرت دی دریـــــــــدلی

(٨٠٨:٢٦م).

د خوږنبي کریم (ص)ستاینه:

ارزاني په خپل دېوان کې د حضرت رسول اکرم (ص)صفات په خورا ښه شکل سره بیان کړي دي، چې موږ یې دلته یوه برخه د ثبوت په توګه راوړو:

د نبـــي پاکه ســـینه ده

دا سینه یې بې کینـــه ده

معـــجزه د رسول ګـــــوره

قـــمر شوې دونیـــــمه ده

(٨٢٠:٢٦م).

د علي محمد مخلص پېژندنه

علي محمد مخلص د کلاسیکو ادبیاتو یو سترګور او ژبور شاعر و، د ده د پېژندنې په هکله چې تر اوسه پورې زموږ د مشرانو کومه رایه ده هغه دا ده چې ((د حالنامې تر موندلو پورې دغه نومیالی شاعر چا په یوه نوم او چا په بل نوم یاد کړی دی. چا به ویل چې ارزاني او ملا عمر ورونه دي او چا بیا علي محمد او خلیفه علوه شینواری یو بللي دي. علي محمد مخلص د ابابکر زوی او د خواجه محمد کشر ورور دی)) (١٢٢:٣٦م).

تر ده وروسته د پښتو ژبې نور پوهان هم د ده په هکله په یوه خوله نه دي، پوهاند صدیق الله رښتین یې په هکله داسې نظرلري: ((علي محمدمخلص د میاروښان مرید او خلیفه و. د دروېزه په قول د ارزاني شاعر ورور دی(٣٧:٦١م).

خو په هر حال موږ یې د نوم د ثبوت په هکله له ډېرو نظریاتو راوړلو تېرېږو؛ تر څو د موضوع د اوږدوالي مخه ونیول شي او په هکله یې لنډ معلومات وړاندې کوو: ((علي محمدمخلص د ابابکر کندهاري زوی دی. پلار یې د پښتو ژبې شاعر وه (مرات العارفین) او(سراج العارفین یې) دوه منظوم کتابونه دي. د حالنامې د واقعاتو او مندرجاتو له مخې د علي محمدمخلص د زېږېدلو نیټه قیاساً (١٠١٩-١٠٢٠هـ ق) یا (١٦١٠-١٦١١م) ټاکل کېدای شي.

زده کړه: لکه څنګه چې د علي محمد مخلص د ژوند نور اړخونه ناڅرګند دي همدا راز یې د زده کړې په هکله هم مستند احوال نشته ((د علي محمدمخلص د زده کړې مدرسې یا استادانو په هکله څه مستند معلومات نشته، خو په حال نامه کې چې کله دی د پنځو کالو و، ده د قران د لوستنې شهادت ورکوي.

مرزاخان انصاري یې د روحاني روزنې استادو، په حالنامه کې د ده د فیض ذکر کوي. له ده نه علاوه د تربیت په لړ کې د رشیدخان د برخې ذکر هم کوي.

بل ځای بیا په خپل شعر کې دولت لوانې په درانه نامه سره یادوي او د ده د صحبت نه د ګټې پورته کولو ذکر هم کوي لکه چې وایي:

د دولت ولي صحبت یو لوی دولت دي

د مستۍ په دیدن مست شم بې صهبا

دا مخلص یې له صحبته فایده مندشه

ښـــــه یاران د دین او تادوینقبـــــا

(٣٠:٦١م).

په پورته بیتونو کې مخلص دولت په ډېر دروند نامه سره یادوي او د ده له صحبته د لوی پند پورته کولو ادعا کوي. د علي محمد مخلص له شاعرۍ او حالنامې لوستلو دا له ورایه څرګندېږي چې دی ډېرلوستی سړی

و. دی په باطني او روحاني توګه د ذات، معرفت او توحید د علم نه اګاه و او په روحاني سلسله کې د خلاقت په منصب نمانځلی شوی و. د دې نه علاوه د تصوف په فلسفیانه او علمي سطحه هم پوره اګاه و د قران او حدیث مطالعه یې لرله د فارسی، عربی او هندی ژبو او ادب نه هم خبر و.

مړینه:(د علي محمد د مړینې نېټه هم پوره څرګنده نه ده، خو په حالنامه کې یې د مرګ نېټه له (١٠٦٩هـ/١٦٥٨م) نه وروسته ښودل شوې ده. دومره ویلی شو چې د ده ژوند تر (١٦٥٩م) پورې یقیني دی.

دی په عقیدوي لحاظ حنیفي مذهبی و او رشیداباد یې د اوسیدو ټاټوبی یاد شوی دی، په ټوله کې مخلص د جهانګیر باچا په وخت کې پیدا شو، د شاه جهان په وخت کې یې ټوله ځواني تېره کړه او د اورنګزیب وخت یې د ژوند وروستي کلونه وه(٦١:٣٧م).

د علي محمد مخلص شاعري

مخلص د پښتوژبې لوي شاعر تیرشوی دی، د شاعری لمن یې د روښاني دور ځینو شاعرانو ته ډېره پراخه ده هر ډول مضامین یې په خوږه او نسبتاً ساده ژبه بیان کړي دي، هرې موضوع ته یې له هره دیده پراخ نظر ورکړی دی.

(د علي محمد مخلص شاعري اکثره د پیرروښان د تعلیماتو او فلسفې وضاحت خپرونه ده، د مثال په توګه د پیرروښان د اتو مقاماتو شرعي او روحاني مرام او د دغو مقاماتو حال او مقام د هغوی امر او نهې او خفي شرک نه نجات په خفي ذکر تاکید، د کامل پیر اطاعت او ناقص پیر څخه ډډه کول، ګمان ترکول او یقین پیدا کول، حضوري لرل او له نفرت څخه ځان ساتل، نیستي او استي په تصوف او مذهب کې د عقل اهمیت او مدارج، عشق او محبت، د فقر مقام، نفس او شیطان څخه ځان ساتل، مرګ ډېر ډېر یادول او د توحید او معرفت اسرار بیانول دي. د پیرروښان د ټولو تعلیماتو روح د وحدت الوجود فلسفه ده، همدغه ده چې د مخلص هر غزل یو عنوان لري، چې په هغو ایتونو، حدیثونو او معقلو پورې اړه لري، چې د وحدت الوجود د نظریې په نکات او جزیات باندې رڼا غورځوي.

د مخلص د بیان او اسلوب انداز ټول اصطلاحي دي، په همدې وجه یې د شاعري ډېره زیاته فلسفیانه او علمي ژورتیا لري.

د مخلص دېوان د فارسی د لوړې صوفیانه شاعری او د پښتو د صوفیانه ادب تر منځه یو کړی ده چې د دواړو ژبو تر منځ صوفیانه تړون راولي، همدارنګه مخلص په خپله شاعری کې دا کوښښ هم کړی دی، چې د پیرروښان اته مقامات د عام تصوف له اتو مقاماتو سره معنوي مطابقت پیدا کړي، د مخلص په ټوله

شاعرۍ کې د روښاني تعليماتو تومنه له ورايه انعکاس کوي او د ده سير او سفر ترې له ورايه ښکاري او دی په خپله شاعرۍ کې د روښان مقامونه په پوره توګه تشريح کوي .)(مخلص دېوان:۴۸-۵۰)

د مخلص د شاعرۍ په هکله يو شمېرشاعرانو نظرونه ورکړي چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

دولت لواڼی دی د ښه کلام خاونداو د مرغلرو پېونکی بولي:

شاه طبعانو يې زده قدر

ښه کلام درعـــدن دی

همدان مخلص دولـــته

د دې دور په سفتـــن دی

(۱۲۴:۳٦م).

په بل ځاي کې بيا د ده د شعر قوت ته تن ږدي:

بې ميرزا بې ارزاني بې مخلص ياره

بل شاعر برابر ندی پښتون ستايو

(۱۲۴:۳٦م).

ميرزا خان اورمړ يې ستاينه په دې الفاظو کړې ده:

ای ميرزا له پاکو پاکه وينـــــا وايه

د مخلص کلام خالص دی معتبرشه

(۱۲۴:۳٦م).

د دې ټولو تر څنګ مستر راورټي د خپل پښتو ګرامر په سريزه کې د قاسم علي د يوې قصيدې په حواله د مخلص يادونه هم کړې ده په پای کې بايد دا له ياده ونه باسو، چې په ټوله کې د مخلص شاعري تر بل هر څه زيات د تصوف رېښتيني خواږه لري او همدغو خوږو يې د کلام رنګا رنګي او خوند څو چنده کړی دی.

د علي محمد مخلص د دېوان کالبونه

د مخلص پښتو دېوان يو ضخيم دېوان دی، چې (۵۱۷۲) بيتونه پکې راغلي دي. د دېوان شروع يې له يوه نعت شريف څخه شوې ده، چې يو مربع ډول دی. دا دېوان (٦۱) رباعياني او (۲)الف نامې لري، چې يوه يې نيمګړې او دويمه يې پوره ده، پوره الف نامه په اته ويشت غزلونو مشتمله ده چې هر غزل لس، لس بيتونه لري لکه چې وايي:

کل اته ویشت دي حرفونه

لام الف تکرار په میان کې

د هرحرف تعریف به وایم

نولس بیته په بیان کـــــې

(٦١:٥٨م).

د مخلص په دیوان کې له الف نامې وروسته غزلونه شروع کېږي، چې شمیر یې تقریبا (٣٦٠) ته رسېږي. اروښاد ریښتین صاحب د علي محمد د غزلونو شمیر(١٩١) ښودلی دی چې صحیح ندی.(مخلص:٥٨)

د غزل بېلګه:

توانـــــــگر په زړه قانع شه

چې پرېشـــان زړه یې جامع شه

چې یې زړه فراغـــــت نه وي

کل طاعت نمونځ یې ضایع شه

یو دنیا عارض بل خلـــــــق

هم یې نوس شیطان قاطع شـه

څو یې دا عارض هـمراه دی

زړه دایم پریشان جایـــــع شه

نور هیله د خلاصي نشتـــــــه

مگرخداي وته راجع شـــــه

د علي محمد مخلص په دیوان کې ترغزل وروسته د رباعیانوشمیر زیات دی، چې تقریبا(٥٤) یې اصلي تعداد دی، خو ریښتین صاحب بیا دغه تعداد(١١٧)ښودلی دی، مگر دا هم د غور وړ دی، خو که چېرې د نعت رباعیاني ورسره جمع کړو؛ نو بیایې شمیر تر (١١٥) پورې رسېږي، چې د ریښتین صاحب شمېرې ته نږدې کېږي.(مخلص:٥٨)

د مـــــولي ذات بېچگون دی

دی بې شـــــبه بې نمون دی

څوک یې څه رنگه صفت کا

له ادراکه دی بـــــــېرون دی

د رباعي بله بېلګه:

په صنعت صانع معلوم شـــي

په لوګي اتش مفعوم شـــي

کل عالم د حق نښـــان دی

ووهمي ته خيال مو هم شي

(٧٣٣:٦١م).

همدا راز د مخلص د دېوان پيل په يوه نعتيه کلام سره شوی دی، چې د رباعيانو په ترکيب سره بشپړ شوی دی. موږ يي دلته د بېلګې په توګه يوه برخه راوړو:

زه په دا ښېوه سر ورکـــــــړم

چې صفت د حق د نور کـــړم

د حضرت صفت وي فرحـــه

زه به خپل زړه پرې مسرور کړم

****

د احمد ياد زړه روښان کـــا

نيک او بد پکې عيان کـــا

چې افتاب په ملک وخېژي

تاريکي خپســـــر نهان کا

(٦٦:٦١م).

د علي محمدمخلص د دېوان منځپانګه

علي محمدمخلص د نورو شاعرانو په څېر د خال او خط ستاينه دومره نه ده کړې، بلکې د انساني ژوند ضرورتونو په نظر کې نيولو سره د ټولنې هر اړخ ته شامله او کامله شاعري يې کړې ده او تر بل هرڅه يې د خپل محبوب ستاينه او صفت ډېر کړی دی او د ده په اشعارو کې د تصوف د اته واړو مقامونو تشريح په تفصيلي شکل سره راغلې ده. د بيلګې په توګه:

دی وايي چې شريعت د پېغمبرانو ګفتار دی سالک له لازمي دی، چې په شريعت دې پابند اوسي لکه:

شريـــــعت ثابت کلام د پېغمبر شه

د روښان يار په ثـــابت کلام بلند دی

چې بنياد د شريعت يې محکم نه وی

د عرفان دې عمارت باندې هر اس دی

(٥١:٦١م).

طریقت

طریقت د پېغمبرانو چاره ده، چې سالک د پېغمبرانو په پیروۍ کې د زړه او روح په اشارو کار کوي لکه:

دا منزل د طریقت یې د مرسل افعال طاعت دی

د اریس په صف به پاڅـــي شي ناجي له بطالته

(٥٢:٦٢م).

حقیقت

حقیقت د پېغمبرانو حال دی او د پېغمبرانو حال خفي ذکر دی، حقیقت گمان ترک کول او یقین پیداکول دي.

حقیقت زاهد ذاکر دی چې له غیره کل طاهر دی

چې نفي یې غیرې غوڅ کړه د نفي لا په صلـــته

دا منزل د حقیقت دي د نبیېو ښه حالـــــت دي

په حشر به له عیسی شی دی ناجي شي له غفلته

(٥٢:٦١م).

معرفت

په معرفت کې د سالک د زړه سترگې بینا شي او په هر لور ورته د ذات جلوه ښکاره شي.

چې پټ گنج د معرفت یې په لاس کېوت

په ازل وه د مخلـــــــــص بخره فېروزه

(٥٢:٦١م).

قربت

په قربت کې خدای سالک ته دا فهم ورکړی چې هغه له هره اوازه د خدای تسبیحات اوري.

د دې زړه د غوږ پرده به دې شي لرې

که د هو تسبیحات ونغوږې له چنگه

چې یې فـــهم په تسبیح د هر اواز وي

وعـــــارف ته هر اواز بانک نماز شي

وصلت

په وصلت کې د واصل هره چاره په پیوستون سره وي.

په هیڅ لور حق به بیا نه مومي بې ځانه

په طـلب یې که ډیر ستړی شي له تگه

(٦١:٥٣م).

وحدت

په وحدت کې په سالک د ذات تجلی وشي له بشري اوصافو څخه فنا شي له خفي شرکه نجات ومومي او ځاځکي له دریابه سره ضم شي.

د مخلص په زړه د ذات تجلي وشوه

د مقصود څېره یې ولـــیده حضوره

په مخلص د بایزید مسکـــین نظر و

چې یې زړه شه د توحید د دور خریطه

(٦١:٥٣م).

سکونت

د روحاني طریقې اخیري منزل د وحدت سیر او د ولایت انتهایي مقام دی. په دې مقام کې سالک ته یو حقاني وجود عطا شي.

نن صفت د مســـــــــکین ونیسه مخلصه

چې یې خوي د مسکین ونیوه مسکین شي

(٦١:٥٤م).

د مخلص په دېوان کې د نورو برخو سربیره د خوږ نبي کریم(ص) ستاینه هم شوې ده چې بېلگه یې په دې ډول ده:

هر وجود چې نن اظهر دي

د حضرت د نور مظـهر دي

د حضرت نور یې ماغزه شه

نور عالـــم گوره قـــشر دي

په همدې ترتیب سره مخلص د الله ج اسما او صفات په خپل دېوان کې په خوږه ژبه او لحن سره بیان کړي دي د بیلگې په توگه:

الف الله يې د ذات نوم شه

د جمـــيع صفـــاتو جم شه

صفات وپـــــټ په ذات کې

دا تن صفات باندې معلوم شه

د صفات نامې يې ډيـــــرې

رب رحـــيم رازق قيوم شـــــه

(٦١:٨٠م).

په پورته بيتونو کې مخلص د الله ج د نامه تر څنګ د هغه صفات (رحيم، رازق، قيوم) هم ذکر کړي دي.

د دې تر څنګ مخلص يوه بله مهمه مسله چې تر اوسه پرې ځينې خلک لوی لوی کتابونه ليکي او ټولنې ته يې وړاندې کوي هغه روح، نفس او زړه دي، چې دی يې په بېلابېلو تشبيهاتو سره وړاندې کوي، تل يې په خپلو اشعارو کې د نورو تصوفي اصطلاحاتو تر څنګ د روح او نفس يادونه هم ډېره کړې ده؛ ځکه چې د اهل تصوفو اصلي مقصد او مرام الله ج ته ځان نږدې کول وي او دغه نږدې کېدل مستقيما د روح او روان سره اړيکه لري د همدغو دوو عناصرو د تزکې په واسطه کولی شي چې خپلې موخې ته ځان ورسوي او خپل مقصد حاصل کړي، تر څو د خپلې کړې خوارۍ او پرهېزونو نتيجه په لاس ورشي، چې دلته يې هم په خپل شعر کې د دغو عناصرو يادونه کړې ده:

انسان زړه جهان يې تن دي

تـــن د زړه سره وصـــل شه

تن د زړه د پاره شـــــــوي

زړه د مـــــعرفت دلدل شه

چې عرفان يې روزي نه وي

زړه يې مه ګـــنه غوجل شه

روح يې پلار دي نفس يې مور

زړه فرزند تر ميان داخل شه

(٦١:٨٢م).

په پورته بيتونو کې مخلص زړه د نفس او روح تابع ګڼي او تعبيروي چې د هر څه دمخه د نفس تزکيه مهمه ده.

صبر او قناعت

مخلص د کامیاب ژوند لپاره صبر او قناعت شرط ګڼي او تاکید کوي، چې انسان باید صابر او قانع اوسي. که چېرته دا دواړه عناصر په چا کې موجود نه وي نو ژوند به یې له مشکلاتو ډک وي او تل به له ستونزو سره لاس او ګریوان وي بېلګه:

توانګر په زړه قانـــــــع شه

چې پرېشان زړه یې جامـع شه

چـــې یې توکل په خدای کـــه

نفس شیطان ځینې دافع شـــه

(٦١:٨٣م).

نوموړي په پورته بیتونو کې تل په الله ج د توکل او کلک ایمان توصیه کوي او په الله ج تکیه د ټولو مصاحبتونو علاج ګڼي.

علم او عمل

علي محمد مخلص په خپلو اشعارو کې علم سره تل د عمل توصیه کوي او بې عمله علم ته د هېڅ په سترګه ګوري، دی وایي چې بې عمله عالم هېڅ کله هم خپل هدف ته رسېدلي نه شي د بیلګې په توګه:

حاصل نشته بې عملـــــــه

که یې یاد تمام فرقان شـــه

بې تلونه رسي وځای تـــه

بې عـــمله هم چنان شـــــه

(٦١:٨٥م).

حرص

علي محمد مخلص حرص ته په انتقادي نظر ګوري او حریص ته د بې ایمانه خطاب کوي او حرص له اور سره تشبیه کوي: وایي چې حرص د انساني ژوند د بربادۍ تر ټولو ستره وسیله ده، څوک چې حریص وي ټول عمر به ذلیل او خوار وي، هیڅکله به یې زړه د سکون په خوب ویده نشي او نه به یې د ژوند کېښتۍ په ارامه سره سفر وکړي د بیلګې په توګه:

کینه کبر د بـــــــد اتش دي

زړه کړه خلاص له کـــین له اور

اول وسېزي څښتن خپـــــل

هـــاله ځي د بل تر کـــــوره

واړه بـــخرې ازلـــــــي دي

په زور نشـــــي بـــــخره نوره

که راي په خپـــــل قسمت شوې

اســـــوده ورځـــــــه تر گـــوره

(١١٢:٦١م).

په پورته بيتونوکې شاعر په قناعت تکيه کوي، دي وايي: چې برخي له الهي درباره حواله کېږي موږ بايد د انساني ژوند د ضرورتونو په خاطر له ناروا لارو کار وانخلو تر څو مو دين او دنيا دواړه خوندي شي.

هغه متل چې موږ به ويل (راست اوسه په سمه لار کې ملاست اوسه) دی هم په راستي تاکيد کوي.

د علي محمد مخلص په دېوان کې عشقي مسايل

علي محمد په خپل دېوان کې عشقي مسايل په بدله بڼه راوړي دي او د عشق موضوع يې له الهي دربار سره کلکه او ټينگه اړيکه ده، علي محمد د مجازي عشق په پله قدم نه دی ايښی، نه يې په دېوان کې د مجازي عشق څرگنده نمونه شته او حقيقي مينې بېلگې يې تر لسگونو اوړي د بيلگې په توگه:

نن زما چې محبت شه له اشبا

د ښه يار ديـدن را تيرله اقربـا

يا:

د خپل يار صفت به کښم په څو ترا

په ډيـــر ډير لونه جلـــوه کا خودارا

د عاشق له ډېرې مينې يې څرگند کا

په هر څيز کې خپل ديدار په دوسرا

دلته شاعر په هر څه کې د خپل حقيقي محبوب مينه گوري اونور هرڅه ورته هيڅ ښکاري.

مناجات

د مخلص په دېوان کې د مناجاتونو شمير او اندازه زياته ده. دی تل له خپل رب څخه خپلې غوښتنې کوي او د شعر په ژبه يې الهي دربار ته د خپل زړه غوښتنې څرگندې کړي دي، د بيلگې په توگه:

نـــن توفيق د عبادت غواړم لتا

ته دانايي سعادت غـــــواړم لـتا

ته رحيم په بنه ده گانوتر مادر يې

په هرکـــار کې رفاقت غواړم لـــــتا

(٦١:١١م).

د مخلص په دېوان کې تصوفي اصطلاحات

علي محمد مخلص په خپل دېوان کې څو ځايه د ځينو تصوفي اصطلاحاتو يادونه کړې ده د بيلګې په توګه:

له وحدته د کثرت په ميدان راغـــــــــــي

سپين وتور زيړ او زرغون شه يار زمـــــــا

جلوه ګرشه و محب ته په څو ولوونـــــــه

دا مـــعشوق شي دلربا دلدار زمـــــــــــا

د عاشق د معشوق نوم يې په ځان کېښود

په خپل ځان باندې شيدا انوار زمـــــــا

(٦١:١٣٠م).

په پورته بيتونو کې څو تصوفي اصطلات راغلي دي، چې عبارت دي له:(وحدت، کثرت، جلوه، معشوقه او انوار) څخه موږ د مخلص په نورو شعرونو کې هم دې ته ورته اصطلاحات پيدا کولي شو.

د مخلص په دېوان کې هجر، وصال او د غم يادونه

موږ پورته بيلګې د مخلص په دېوان کې په پوره وضاحت سره ليدلي شو او په هکله يې پوره څرګندونې لري چې په دې ډول دي:

د عاشق پر زړه د غم يـــــــــښې دي پنډې

د وصال دې هجران غم که زړګي خنـــډې

په هجران کې د وصال له غمه ســـــــوزي

په وصال غم د هجران کا پسې مـــــــنډې

(٦١:٣٢٠م).

دلته له هجران څخه هدف دا دنيا ده او وصال د هغې بلې دنيا ديدن او له الهي محبوب سره وصال دی. د ده خفګان د دنياوي ژوند څخه لرې تلل او خپل محبوب ته ځان رسول دي.

مخلص په انساني ژوند هېڅ تکيه نه کوي او انساني ژوند د سيند له مخ سره تشبيه کوي او تل خلکو ته په ژوند د ملا نه تړلو درس ورکوي، لکه:

څه عـجب ده د دريا د مـــخ ننداره

صفايي د زړه مو نه ده شي له غباره

مخلص ځای ځای خپلو خلکو ته د الله ج په قدرتونو کې د فکر کولو درس ورکوي، تر څو د دې فکر په نتیجه کې لوی حقیقت ته ورسېږي، لکه:

که تـــه یو زمان په فکر د صفات شـــې

په صفات کې به بینا د حق په ذات شي

یو زمان فکر تر ډیر عبادت ښـــه دي

په ښه فکر به دانا په کل کلیات شـــې

(٦١:٤٣٦م).

د ظلم او زیاتي په هکله درس

نوموړي په خپل دېوان کې څو ځایه خلکو ته د ظلم په هلکه خبرې کوي او له خپلو خلکو څخه غواړي چې په یو او بل بې ځایه ظلم او زیاتي ونه شي تر څو خالق له موږ څخه ناراضه نه شي.

دلته په یوه غزل کې له سره تر پایه په همدې موضوع بحث شوی دی، چې موږ یې یوه برخه د نمونې په شکل وړاندې کوو:

کل اشیا مخلوق د حـــق دي

پر مخلوق مینه الحـــــــقه

هر چې دوست د چا ازار کـــا

د دوست زړه بد شي مطلقه

له خوښـــه تل پیدا کېـــږي

دا وینا رښتیـــــا ده حقـــه

(٦١:٥٠٥م).

په پورته بیتونو کې مخلص خالق د مخلوق دوست او بادار ګڼي او دی وایي: چې خالق د خپل مخلوق په ازار خپه کېږي؛ نو موږ باید هېڅ وخت د الله ج مخلوق ازار نه کړو تر څو الله ج له موږ څخه ناراضه نه شي.

د کبر او کینې په هکله د مخلص نظر

مخلص مغرور او متکبر انسان غندي او دی ترې کرکه لري، ځکه چې کبر د الله ج صفت دی او له انسان سره نه ښایي چې کبر وکړي. انسان باید متواضع او عاجز اوسي، چې بېلګه یې په دې ډول ده:

چې یې زړه خالي له کبره هم له از شي

د رحمـــت ور په هغه باندې فراز شـــي

تل دا زتښتن نیازمند وي په جهان کې

د بې ازصاحب له دوو کونو بې نیاز شي

چې کینه کبر خواهش یې له زړه وویست

په دنیا کې د بهشت وربانديې باز شي

(٦١:٦٦٥م).

مخلص په پورته بیتونو کې انسان ته له کبر او غرور څخه د خلاصون توصیه کوي او هغه څوک چې له پورته اعمالو څخه ځان وساتي، نو په دنیا او اخرت کې به کامیاب وي. مخلص خپلې ټولنې ته په اسلامي اصولو برابر د ژوند کولو اصول او لارښونې وړاندې کړې دي او د انسانیت د بقا لپاره یې لوی او نه حېرېدونکي کارونه کړي دي چې هېڅکله به یې انساني ټولنه د یاده ونه باسي. دی وایي چې بې کبره او بې کینې انسان ته دا دنیا جنت وي او ژوند به یې له خوښیو ډک وي.

د دنیا مینه او اسراف

مخلص په خپل دېوان کې د دنیا مینه، زیات خوراک او بې وخته خوب غندي، انسانانو ته له اسراف څخه د منع کېدو درس ورکوي او دا یو ډول انساني رنځ بولي، د بېلګې په توګه:

ته انسان نه یې دواب یـــــــــې

چې مشغول په خورد وخواب یـــې

دا دنیا مثال شـــــــــراب دي

ته مست شوي په شراب یـــــــې

(٦١:٦٢٣م).

دی وایي چې انسان دنیا ته د خوب په خاطر ندی راغلی، چې دلته خپل خوب وکړي. دی وایي چې موږ دې دنیا ته د الله ج د عبادت په خاطر را استول شوي یو، موږ باید د دنیا مینه له زړه څخه وباسو او خپل اصلي مقصد ته ځان ورسوو.

د ځان پېژندنې په هکله د مخلص خبرې

دی په خپل شعر کې د ځان پېژندې په هکله د یوه حدیث شریف ترجمه په خوږه او ساده ژبه داسې بیانوي:

من عرفه نفس رسول وې یقین وکـــــــړه

ترخپـل ذات پورې معلوم د مولي ذات دي

په انسان کې چې صفات تمـــام لیده شي

دغه واړه دکریم غني خیـــــــــرات دي

په پورته بیتونو کې د انسان پېژندې لپاره لومړی درس خپل ځان پېژندل دي. څوک چې په حقیقت کې خپل ځان وپېژني؛ چا چې خپل رب وپېژنده، نو پوه شه چې همدا یو کامیاب شخص دی.

همدا راز مخلص په یو بل ځای کې د دنیا بې وفایي غندي او په دنیا کې شته څیزونه بېهوده ګڼي او ټول دنیا یې ساز او سامان بې وفا او نیمګړی بولي.

د علي محمدمخلص د دېوان ځانګړتیاوې

د مخلص پښتو دېوان یو ضخیم دېوان دی، په دغه دېوان کې (۵۱۷۲) شعرونه راغلي دي، د دې دېوان شروع له یوه نعت شریف څخه شوې ده، چې په مربع ډول (٦١) رباعیانې لري، بیا ورپسې دوه الف نامې راغلې دي، چې یوه یې نیمکړې ده او دویمه یې پوره ده. بیا له دې الف نامې څخه وروسته غزلې شروع کېږي، چې شمیریې (٣٦٠) رسي، له دی وروسته بیا د رباعیانو برخه شروع کېږي چې اصلي شمېر یې (۵۴) دی؛ خو که چېرې د نعت رباعیانې ورسره جمع شي نو بیا یې شمېر(۱۱۵)ته رسېږي. د مخلص په دېوان کې د هغه څو شعرونو نه علاوه چې د فارسي ژبې د مشهورو شاعرانو دي.

د سرخط په توګه یې د بعضې غزلونو په سر کې استعمال کړي دي، له دې څخه علاوه د خپل فارسي شعرونه نشته. دا دېوان په لومړي ځل د پښتو اکیډمۍ له خوا د لوستونکو په واک کې ورکړل شو. له دې څخه وړاندې د مخلص دېوان چېرې چاپ شوی نه دی. علت یې دا وه چې نسخې یې ډېرې نایابې وې، د دېوان یوه قلمي نسخه د لندن د بریټش په موزیم کې موجوده ده، چې ډېر پخوا ترې پښتو اکیډمۍ د مایکرو فلم په صورت کې یو نقل تر لاسه کړی و او د اکیډمۍ په کتابتون کې تر اوسه موجود دی. د دې مایکرو فلم ځینې یوه ټایب شوې نسخه مرتب کړی شوې وه، ولې تر اوسه پرې د کار او څېړنې کومه تابع نه ده نیول شوې. د مخلص دېوان د پښتو اکیدمۍ په راجستر کې په دریم نمبر خونه کې دي او تاریخ یې (١٩٦١م) د مارچ دویم دی.

مخلص د دېوان غزلونه په روښاني الفبایي سیستم ترتیب شوی دی، په وروسته کې دغه دېوان د ډاکټر مهجورخویشکي په ترتیب او د پروفیسور ډاکټرراج ولي شاه خټک په سریزه چاپ شو(٦١:١٣-١٤م).

کریمداد بنګښ

کریمد اد بنګښ د روښانیانو د ډلې یوداسې شاعر دی ،چې پښتو او پارسي ژبو یې اشعار ویلي دي د اشعارو یونیمګړی دیوان یې د پېښور اکاډمي چاپ کړی دی ده په پارسي اشعاور کې عیشي تخلص کړی دی .

دی دشمالي هندوستان د فرخ آبادد شمس آبادپه سیمو کې زوکړی دی او په رشید اباد کې اوسېده او هورې لوی شوی دی او ښایي چې همالته به مړ وي .یوه سنه چې دده له اشعارو څخه لاس ته راځي هغه (١٠٥٦ هـ.ق)کال دی ؛نوځکه زموږ محقیقینو د ده ژوند تر دغه وخته یقیني ګڼلی دی .د کریم داد په موجود دیوان کې قصیدې او غزلې پیداکېږي دی د روښان پیرو دی لکه چې خپله یې ویلي دي .

کریم داد حکمت موندلی

لــه روښان د دین سقراط

ددې په دیوان کې چې کوم عرفاني افکار بیان شوي دي ، هغه د روښاني تصوف تر اغیز لاندې دي کریمداد بنګښ په خپل دېوان کې د عرفاني اندېشو د بیان ترڅنګه ، اخلاقي ، عشقي او ځینې نور مضامین هم بیان کړي دي .

د کریم داد بنګښ کمال دادی چې د نورو روښانیانو په پرتله د ده په اشعارو کې د هنرتومنه زیاته ده ، کریم داد بنګښ خپل اشعار د هنر په ګاڼه سمبال کړي دي د استاد چپي وینا ده چې په روښاني شاعرانو کې کریمداد یوازینې سړی دی ، چې د روښانیانو قصایدیې د وچو خبرو او نظمونو له درشل څخه راویستل او د ادب او هنر میدان ته یې ور داخل کړل . د ده هنرمندی قدرت په لاندې بیتونو کې ګورو.

د عاشـــق پـــه نظـــر ګـــورئ
د محبـــوب د مـــخ جـــمال دی
تـــورې زلفـــې یـــې خـــورې کـــړې
پرسپین مـخ یـې اېښـې خـال دی
ګهـــــــې سرو د چمـــــــن شي
بیا جنبش یـې پـه خپـل حـال دی
کـــه بلبـــل خـــوش الحـــان شي
کـــه طـــوطي شریـــن مقـــال دی

(١٠٢:٧٨م).

د اخوند درویزه بابا پېژندنه

اخوند درویزه د منځنۍ دورې د لومړي پړاو یو مشهور او پېژندل شوی شخصیت دی، چې پښتنو او پښتو ژبې ته یې زیات خدمت کړی، د ژوند په هکله یې داسې روایتونه شتون لري: ((اخوند درویزه بابا په اصل کې ترک و. په نیکونو کې چې کوم یو لومړی سړی له لغمانه ننګرهار ته راغلی و، د هغه نوم جیهون بن جنتي و، د پلار له ډډې تاجک ترک و او د مور له طرفه د سلاطین بلخ سره تړلی و.

اخوند درویزه د شیخ ګدا زوی او د مور نوم یې بي بي قرادي ده، په (۹۴۰هـ ق) کال یا (۱۵۳۳م) کې پیدا شوی دی او خپل پلار پرې د ګدایي په مناسبت پرې درویزه نوم کېښود. تاریخ پوهانو د اخوند درویزه لپاره د الله داد او عبدالله نومونه هم راوړي دي، چې دا سم نه دي او عبد الله یې د یوه زوی نوم دی. ده هم تل خپل ځانته په خپلو لیکلو کې د درویزه نوم لیکلی دی، خو د القابو شمېر یې بیا زیات دی، لکه: ملک العلماالراسخین، رئیس الفضلاالتبحرین، تاج العرفا الکاملین، زبدت الاصفیا الواصلین، سیف السنته والشریعته، شیخ الاسلام ولمسلمین شېخ درویزه ننګرهاری، قدس الله سره العزیز.

د اخوند درویزه د اوسېدو ځای هم څرګند نه دی او نه یې په هکله مکمل معلومات شته، خو صرف دومره خبره شوې چې په (بنیر) کې اوسېده. پلار یې عالم نه و، نو ځکه له علم سره علاقه هم له ماشوموالي نه وه. استاد یې ملاسنجر پاپیني ګڼلی شو، همدارنګه له ملاسیر مصراحمد او ملازنګي پاپیني څخه یې هم علم حاصل کړی، خو په دې یې هم تنده ماته نه شوه او هند ته ولاړ. هلته یې له ملاجمال الدین هندوستاني ذکر کوي او د طریقت استاد یې پیر بابا و. بالاخره د ژوند اخیري شیبې په استغراق کې تېرېږي او په (۱۰۸۴هـ ق) (۱٦۳۸م) کال کې د ۱۰۸ کالو په عمر وفات شو او د پېښور هزارخانې په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.)) (درویزه: ب...ـ له مخونه)

د اخوند درویزه مخزن الاسلام یو کتاب نه، بلکې د څو کتابونو مجموعه ده، چې په ترکیب کې یې دا شامل دي: د قرات رساله د درویزه خپله وه او په دې پسې د حضرت ابوالحفص نجم الدین نسفي (کتاب العقاعد)، د شرف الدین محمد بن سیدالبوصیري (قصیده برده) او د ملا کیداني (خلاصه).

له دې څلورو کتابونو څخه بغیر اخوند درویزه د نورو کتابونو هم ځینې برخې را اخیستې دي، لکه د ضیاالدین شامي د عقاید نه، په مخرن الاسلام کې د درویزه بابا خپل کلام الف نامه ده.

د اخوند درویزه د شاعرۍ ځانګړتیاوې

د اخوند درویزه بابا شاعري نظر نثر ته ښېخي کمه ده، د اخون درویزه بابا یوازې یوه الف نامه راغلې ده، چې هغه هم په تصوفي رنګ کې ویل شوې ده او نوره کومه برخه پکې نه تر سترګو کېږي. د دې الف نامې هر حرف قطعه له بل نه جدا ده، داسې ښکاري چې په بیت کې د یو سطر په اندازه کمی زیاتی په هغه وخت

کې عیب نشو ګڼل کیدای، که دا عیب ترې وباسو؛ نو دغه اشعار له نورو ښو ښو اشعارو سره څنګ په څنګ ایښودلی شو.

په دې الف نامه کې اخوند درویزه بابا خپل صوفیانه مسلک ته اشاره کړې ده او ډېرې نازکې مسئلې یې څېړلې دي، خو په دې الف نامه کې ډېر زور په دې دی، چې شریعت او طریقت بېل بېل څیزونه نه دي او د پیر په متعلق یې ځای ځای دا یادونه کړې ده چې د پیرۍ لپاره دینداري او د پیرۍ تسلسل شرط دی.

((له دې ور اخوا د اخون درویزه بابا په هکله د کریمداد ځینې بیتونه او په مسجع نثر راغلي نور مواد هم په لاس کې شته چې دلته یې له نثر سره موږ کوم خاص غرض نه کوو او په نظم یې بحث کوو چې په نظم کې هم د لمانځه په هکله ځینې خبرې راغلي دي))

د اخوند درویزه بابا کوم کتاب چې زموږ په لاس کې دی، موږ ورته په پوره او ډاډمنه توګه د دېوان نوم نشو ورکولی او نه یې پکې حسابولی شو؛ ځکه چې په دې کتاب کې ډېرې مختلفې برخې د مسجع نثر هم راغلي دي، خو بیا هم په دې کتاب کې د اخوند درویزه بابا یو نظم د الف نامې په شکل راغلی دی او د دې تر څنګ ځینې نورې برخې چې کریمداد راڅرګندې کړې دي په نظم کې هغه ځینې بیتونه دي، چې د لمانځه په هکله یې ویلي دي.

((دا کتاب په اول ځل سید تقویم الحق کاکاخیل په (١٩٦٩م) کې چاپ کړی و او دویم ځل بیا دغه دېوان په جدون پریس کې په کال (١٩٧٨م) کې چاپ شو(٦:٣٠م).

((له پښتو اکیډمۍ سره د دې کتاب شاوخوا لس قلمي نسخې موجودې دي، دا کتاب یوازې یو کتاب نه، بلکې د څو کتابونو مجموعه ده، چې پر دې کتاب باندې به خلکو فیصلې کولې او په هر مسجد کې به دغه کتاب لوستل کیده.)) (درویزه: الف)

د اخوند درویزه د شاعرۍ کالبونه

د اخوند درویزه په کتاب کې یو نظم راغلی، چې د الف نامې په شکل دی او له دې ورسته د کریمداد ملحقات راغلي دي، چې په هغې کې هم غزلې، رباعي او یو شمیر نور بیتونه هم راغلي دي، موږ یې د بېلګې په توګه دلته راوړو:

د الف نامې بېلګه:

الف امان غواړه له ناره

ب بندګي کړه اختیاره

ت توبه کړه له خودۍ

ث ثنا کړه له غـــــفاره

ج جهان نابوده نیســـــه

ح حق بین شه ای دلداره

(۱۵۲:۳۰م).

غزل

په دېوان کې د غزل فورم هم راغلی دی چې بېلګه یې دا ده:

ب وجود ظاهر په بې شـــــــــــــه

عین هغه عکس هوی شـــــــــــــه

طالب اوده وو په احدیت کـــــــــــي

ولې ویخ اوس د وحدت په غلغلې شـــه

(۱۵۲:۳۰م).

رباعي

رباعي یو له هغو فورمونو څخه ده چې د ده په دېوان کې د ګوتو په شمار تر سترګو کېږي:

ای بنده بمن گریز خود رایله کـــــن

گرشاهی جهان نه کردی انگاه گله کن

برگرد جــهان بگرد پای ابله کـــــــن

گربه زمن یابي مـــارایله کـــــــــن

پورته رباعي چې په فارسي ژبې سره راغلې؛ نو ما هم همدلته رانقل کړه، اگر چې د دغې رباعي پښتو ترجمه هم راغلې ده، خو ښه راته ښکاره شوه چې په خپل رنګ کې یې راوړم)) (۱۸۳:۳۰م).

د درویزه د شعر محتوا

د درویزه په شعر کې په اصلي او اساسي توګه هماغه موضوع تر بحث لاندې نیول شوې، کومه چې دمخه په نورو کې د بحث د ارتقا ټکی و، دی په خپله یوې الف نامه کې د چشتیه طریقې ذکر په دې ډول کوي:

درویزه ظاهر باطن په عشق مشغول شه

د چـــشتیانو داسې پاکه سلســـــله ده

په بل ځای کې بیا د قضا او قدر په مسله هم بحث لري، له دې ځایه یې لوړ علمیت هم موږ ته ښکاري؛ ځکه چې په قضا او قدر بحث د هر چا د وس او توان خبره نه ده، لکه چې وایي:

راضـــي شه په حکمونو او راضي يې په قضاشه

په بلا يې صبر وکړه خاص امت د مصطفی شه

د وحدت الوجود بيان: د دې بيان په هکله وايي ، چې وحدت الوجود د تصور د فنا يو کيفيت دی لکه:

سکه وليان به يې له کومې مطلق ووينې ای خلقه

مگر دا چې گمشدن به دا وليان ديدن گڼـــــينه

دی بيا يو ځای د لمانځه ترجمه هم راوړي چې بېلگه يې دا ده:

سبحانک اللهم وبحمدک

پاکي ستا ده پاکه خـدايه

چـــې راغلې ده له ځايـــه

کـــــل ثنا ده ستا لايقـــه

ای خـــــــالقه رهنمايـــــه

په دې کتاب کې انسان ته يو نصيحت هم راغلی دی، بېلگه يې په دې ډول سره ده:

الف امان غواړه لـــه ناره

ب بندگي کړه له اختياره

ت تـــــوبه کړه له خودی

ث ثنـــــاکړه له غفـــاره

(۱۵۰:۳۰م).

د اخون میاداد لنډه پېژندنه

اخون میاداد هم د کلاسیکو ادبیاتو د لرغوني دورې د لومړي پړاو یو مشهور شاعر دی. ژوند یې لکه د دې دور نورو شاعرانو ته ورته دی، په هکله یې داسې مستند اسناد وجود نه لري، چې موږ ترې د ده د ژوند او زېږون په هکله ځرګندونې رانقل کړو؛ دی په خپله د خپل نوم او تخلص په هکله په خپلو اشعارو کې څه ناڅه یادونه کوي ((اخون میا داد په خپل کلام کې په ښکاره ډول سر د خپل نوم او تخلص په باره کې څه نه دي ویلي هغه د خپل نوم او تخلص لپاره زیاتره یو نوم (میاداد) ۱۴٦ځله پکار کړی دی، په کلام کې یې اخون میا داد (٦٠) کرته «الهداد«او میا الهداد» یو، یو وار د تخلص په بڼه تر سترګو کېږي لکه:

او (میاداد) لکه بلبل ژبه یې ګل دی

ترمنقاریې ګل ورېږي و هر چاتـــــه

(٦٨:٢٢م).

په پورته بیت کې د (میاداد) کلمه ذکر شوې ده.

(اخون میاداد) بلبل ثنا که ستا د مخ د ګل

او ستا د ګل پـــــه بویونه بورا سپر ندی

(٦٨:٢٢م).

او په دې بیت کې د(اخون میاداد) یادونه شوې ده.

هغه زه (الهـــــداد) شاهد یم

چـــې بې تمیزه روژه ضلاله ده

(٦٨:٢٣م).

دلته نو بیا د الهداد یادونه شوې ده او تر دې لاندې بیت کې بیا د میا الهداد یادونه شوې ده.

بیـلتون غضب وه هغه حکم د رب و

او (میا الهداد) د مجنون یې مل کړې

(٦٨:٢٣م).

له دې بحث څخه دې نتیجې ته رسېږو، چې ((الهداد)) د نوموړي شاعر اصلي نوم دی. (هداد) او ((اداد)) یې اوښتي شکلونه دي. اخون او میا یې صفتي نومونه دي. عوام او خواص یې د(اخون میاداد) په نوم پېژني. نوموړی شاعر د خپل تخلص لپاره د اخون میاداد او الهداد په نسبت د میاداد نوم ډېر خوښوي.

د میاداد د نسب سلسله په تفصیل سره (علي خیل، خواجه عمرخېل، شامېزی، یوسفزی، افغان دی او د زېږون په هکله یې کوم لیکوال څه نه دي ویلي، البته د یولسمې هجري پېړۍ د اخیري برخې شاعر ښودل شوی او د ځینو تاریخي حقایقو په رڼا کې یې د زوکړې کال (١٥٩٠م) او د مړینې کال (١٦٦٨م) دی.
همدارنګه د میاداد استوګنځی یوه محقق (اتمانزی) ښودلی دی او ځینو نورو بیا تپه شامیزی (تحصیل مټه صوات) ښودلی دی او هم د دې تپې په یوه کلي کې بردرخشېله کې یې د ژوند اخري برخه تېره کړې ده او مړینې ځای یې هم همدا دی. قبر یې په پېژندلي ډول د قاضي بابا په هدیره کې موجود دی. د چشتیه تصوفي سلسلې لاروی او د دروېزه تصوفي سلسلې او ادبي مکتب غړی دی. دروېزه د ادبي مکتب لومړی دېوان لرونکی شاعردی او په خپل کلام کې خپله رسمي زدکړه ردوي او خپله پوهه الهامي او لدني څرګندوي:

دغه نه کاغذ وه نه قلم نه مې پرې توري لوستی

او د خپـــل زړه په تختـــه کې علم الدون وینمه

(٦٨:٣٠م).

د ده له باطني او ظاهري علم څخه څرګندېږي، چې دی یو لوستی شخص وه، مګر د لوست استاد یې معلوم نه دی. (٦٨:٣٠م).

د میاداد شاعري

لکه څنګه چې د منځنۍ دورې د لومړي پړاو ټول شاعران د تصوف په مدار خپله شاعري کوي؛ نو دی هم له دې رنګه بې برخې پاتې شوی نه دی او ځان یې په نوموړي رنګ ښه خول مول کړی دی، ټوله شاعري یې د تصوف په رنګ رنګېدلې ده. ((د اخون میاداد دېوان د تصوفي افکارو یوه رڼه هنداره ده، د تصوف ډېرې ستري او ستغې مسلې پکې په ډېر زړه راښکوونکي انداز څېړل شوي او خېړې شوې دي. د فن او هنر په حواله په ښو ټکو د ستایلو وړتیا لري. یو شمیر ژبني او ادبي ارزښتونه یې په خپل پلو کې نغښتي دي. د نورو ښېګڼو تر څنګ یې یوه ځانګړتیا دا هم ده چې د تصوف ځینې اصطلاحات یې په خپل شعر کې په ساده او اسانه ژبه بیان کړي دي.)) (٦٨:٧٧م).

دی په خپل شعر کې د وجودي توحید مکمل بیان کوي او په پوره وضاحت سره یې تشریح کوي، په شعر کې یې دا نمونه موندلی شو:

هغه د الا الله په اسم لـــــــــــر کړه د غین ټکی

او هغه دا چې عین غین سره یو دی دوه بللی نشي

د وحـــــدت په باران د کثرت زمکـــــــي زرغوني

که یوساعت یې نه وي سبزی وچ ډاډه شـــــي

واړه زه شها یم خپسر ستایـــــــــــــــــم

دا ستا په ژبه ثنا ده خپـــــــــــــــــــله

(٦٨:٦٥م).

میاداد په شاعری کې د تصوف ځینې تنزلات راغلي، لکه: (احدیت، وحدت، واحدیت، عالم ارواح، عالم امثال او عالم اجسام). دا تنزلات د نوموړي په شاعری کې په ښه شکل سره تشریح شوي چې دلته یې ځینې بېلګې رااخلو، خو له تشرېح څخه یې د موضوع د اوږدوالي په خاطر تېرېږو:

وحدت

په وحـــدت کې توره شپه وه له وحدته نمر را وخوت

دواړه کونه یې پیدا کړل د انسان له نـــــــــوره

(٦٨:٦٧م).

احدیت

ما تا و ته د کـــــــرم په نظر هور ته کاته

اوس پخـــپله مې خپل شناخت لره راوبللې

(٦٨:٦٧م).

واحدیت

له ده خـــومه رنـــگا رنگ خزری رنگ وخاته

او نه یې څوک د ده په رنگ نه دا وه چا و ته ده

له دې وروسته د عالم ارواح او عالم امثال مرتبه راغلې ده، چې عالم یې ارواح د تشبیه او خارجي وجود مسله ده او عالم امثال نه مراد هغه څیزونه دي، چې مرکب دي، خو لطیف او غیرې مادي دي، چې عملي بیلګې یې دلته په وضاحت سره زما تر نظر رانغلې.

عالم اجسام

له دې مرتبې نه مراد په نظر راتلونکی مادي جهان دی.

غه میاداد د لامکان د ملکوت مرغه دی

او تا دې زلفو په دام بند کړو لوبولو لره

په صـــورت له خلـکو سره یو ځای دی

ارواحان يې تللی خدای په لور دی

(٦٨:٦٨م).

د دې مراتبو تر څنګ د میاداد په دېوان کې ځیني تصوفي اصطلاحات هم راغلي دي چې په دې ډول دي: پیرکامل، فقیر، بلا، حال، د طریقت اودس، روحاني حج او عشق....

همدارنګه کله چې موږ د میاداد د شاعرۍ له موضوعي اړخ ور اخوا شو، نو د دې د کلام فني خوا ته د سر ښکاره کولو په صورت کې موږ ته د دې د کلام خوند او رنګ یو بل نوی حس محسوس کېږي، چې علت یې په خپل کلام کې د لفظي او معنوي صنعتونو تکرار دی. د همدې تکرار په واسطه خپل کلام ته خوند او رنګ ورکوي، تشبیه او ځینې ډولونه یې لکه: (ملفوفه، اضافي موکده، عقلي، حسي او مرسله) او تر څنګ یې د ځینو بدیعي صنعتونه هم راوړي چې عبارت دي له (تجنیس او ځینې ډولونه یې، سوال او ځواب، طباق، مراعات النظیر، لف او نشر، تلمیح...

د ټولو موضوعاتو تر څنګ د حمد او نعت برخه هم په دېوان کې راغلې ده او په خوږه ژبه یې په خپلو غزلونو کې زموږ د ستر رب او د هغه د نازولي خوږ نبي کریم (ص) ستاینه هم په خپل کلام کې راوړې ده.

د میاداد د شاعرۍ کالبونه

د میاداد شاعري سر تر پایه د غزل په فورم کې شوې ده، خو د غزلونو جوړښت یې اوږد دی او ډېر کم پکې د کمو بیتونو والا غزلونه تر سترګو کېږي او په دېوان کې یې د نظم هم یو څو نمونې شته، چې د غزل بېلګه یې دا ده:

ای د عـــــــشق په میو مسته دا د عـــشق پیاله و مارا
چې د عشـــــق په می ژوندی شو نور به و نمري دوباره
هغه زاده په خانقـــــا کې په شپه سل رکعته نمونځ کا
او صوفي چې شراب وڅښي نمونځ یې ټول وشي یکباره
او زاهد چې هوسیږي د جـــــــنت زرغون طوطا دی
زه د عشق د باغ بلبل یم خوشحالۍ کـــــــــوم له ناره

(٧٩:٦٨م).

د میاداد د دېوان ځانګړتیا

د اخون میاداد دېوان له شکلي اړخه سر تر پایه د غزل په فورم کې ویل شوی او د محتوا له مخې نوموړی دېوان په ټوله کې د تصوف تشریح ده، په خاصه توګه د وجودي نظریې تفصیل د زړه له اخلاصه په مکمل

ډول سره کړی او په فني خوا کې یې د بدیع او بیان رنګارنګي پکې په ښه شکل سره لیدل کېږي. ((د دېوان یواځینۍ څرګنده نسخه (۱۱۷) پاڼې لري چې د بیتونو شمیر یې تر(۱۵۰۰) اوړي او نوموړې نسخه د پروفیسر ولي محمد خان سیال کاکړ په ځایي کتابتون کې خوندي ده.)) (٦٨:٣١م).

په دېوان کې ځینې شعرونه بې قافیې هم راغلي دي او ځینې ځایونه یوه او یا له یوې څخه زیاتې کړې اضافه هم راوړل شوي دي.

د اخون میاداد دېوان په درې نسخو کې ترلاسه کېږي، چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

۱ـ اصله نسخه:

دا نسخه اخون میاداد په خپل قلم لیکلې او اصلي نسخه ده، چې په ګاړېن ټاون لاهور کې د میاداد د کورنۍ له یوه غړي مختار احمد خان صواتي سره خوندي ده. د دې نسخې اولینۍ دوه صفحې ورکې شوي دي، ټول شمیر یې (۱۱۹) دی، خو اوس له دې دوو صفحو بغیر (۱۱۷) مخه پاتې دي.د لیک تاریخ نه لري، د کاغذ رنګ یې ژېړ بخن دی. دا دېوان ټول په (۱۵۷) نظمونو او غزلونو مشتمل دی، رسم الخط یې نستعلیق دی. (٦٨:١٠م).

۲- اکیډمي نسخه:

دا نسخه د اصلي نسخې فوټوسټېټ کاپي ده، په ۱۹۹۸کال د دویمې میاشت په اته ویشتم تاریخ د مولانا محمدمحی الدین سواتي لخوا د پېښور پوهنتون پښتو اکیډمۍ کتابتون ته ورکړې ده. (میاداد:۱۱)

۳- د مولانا محمدمحی الدین سواتي نسخه:

دا اصلي نسخې قلمي نقل دی کاتب یې پخپله سواتی دی او د لیک کال یې ۱۹٦۸م دی او اوس له علي اکبر سواتي سره پرته ده. (میاداد:۱۱)

دا نسخه نظر هغه نورو نسخو ته اساني لري او د املا په برخه کې یې سواتي یو څه اساني راوستې ده، چې دا نسخه ۱٦۱مخونه لري.

یادونه: د بدرالحکیم حکیم زي د زحمت یادونه باید وکړو، چې د میاداد دېوان یې بیا په کال ۲۰۱۱م کې تدوین کړی.

د اخون میاداد د شعر محتوا

د اشعارو یوه زیاته برخه د الهي صفاتو بیانولو ته ځانګړې شوې ده او تل یې د خپل رب حقیقي اوصاف په خپل شعرکې بیان کړي دي لکه چې وایي:

فقیر په نام الله ج ژبه ګویـــــــا کـــــــا

که قبوله یې زاری په خپل درګاه کـــــــــه

دی رحمان رحیم خدای دی کانه دي چـارې

واړه سازې دقیامت هم د دنـــــــــــیا کا

(٦٨:٨٠م).

وحدت الوجود

لکه څنګه چې موږ دمخه وویلې دی یو کلک صوفي وه او بیا په خپل صوفي توب کې د وحدت الوجود دنظریې پیرو و؛ نو له همدې امله یې په شعر کې د وجود د نظریې رنګ غالب دی، لکه چې وایي:

هـــغه د الا الله په اســـم لـرکړه دغـېـن ټکی

او هغه دا چې عین غین سره یو دی دوه بللی نه شي

وحت په باران دکثرت زمکې زرغونې

که یو ساعت نو نه وی سبزی وچ ډاده شي

(٦٨:٦٥م).

د پیر ارزښت

میاداد په دې اند دی چې تصوف بغیر له پیر کامل څخه ناممکن دی، چې سړی یې په سم شکل سره سرته ورسوي او پکې بریا ته ورسېږي. دی وایي چې پیر کامل ستا لارښود دی او درته سمه لاره ښایي، که ته چېرته د ځان لپاره کوم پیرغوره نه کړې، نو ته به هېڅکله هم د اصلي مینې په ماهیت باندې پوه نه شې او بې سره به تر پایه پورې ګرځې.

د انسان د اصل تشریح:

میاداد انسان ته د نصحت په شکل وایي چې ستا اصل له یو کمزوري شي څخه جوړشوی او ته هېڅکله هم دومره غرور مه کوه، دا ته چې دومره ښایسته یې دا ستا اصل برکت نه دی، بلکې دا د الله ج مینه او مهرباني ده په خپلو بندګانو باندې؛ نو ته دهماغه رب شکرګذار اوسه او سرکشي مه کوه لکه:

ای بنـي ادمـه پـه څـه یـې ناسـت غـره بـې غمـه

وخپـل اصـل تـه وګـوره مـا پیـدا کړلـې لـه بولـه

دا زینت واړه زما دی چې بنه ده پـرې خـانتمادی

وخپـل اصـل تـه وګـوره مـا پیـداکړلې لـه بولـه

ای عاجز بنه ده ناتوانه پسو خوښ له خپله ځانـه

وخپـل اصـل تـه وګـوره مـا پیـداکړلې لـه بولـه

څلورعنصرــ وزېږېــدلی افتــاب کــې ځلیــدلی
وخپــل اصــل تــه وګــوره مــا پیــدا کړلــې لــه بولــه
د اوبو د خاورې ختې د ګمان په تیاره پټ یې
وخپــل اصــل تــه وګــوره مــا پیــدا کړلــې لــه بولــه

(۱۲۴:٦٨م).

په پورته بیتونوکې میاداد انسان ته هغه ماهیت تشریح کړی او ورته توصیه کوي چې هېڅ وخت له ځانه لوړ کارونه مه کوه، ځکه چې ته په یوه ټاکې محدوده کې را ایسار یې، ته باید همېشه د خپل خلقت په اصل کې فکر وکړې او د خپل رب شکر ادا کړې چې له داسې یوه خراب څېز یې تا ته داسې بې شان ښایسته وجود درکړ.

عشق : هغه کلمه ده چې د میاداد دېوان یې سر تر پایه په خپل رنګ رنګ کړی دی او همدې لفظ د میاداد د شاعرۍ محتوا ته ځان وقف کړی.

عشق په دوه ډوله دی: یو حقیقي دی دویم مجازي، خو زیات وخت انسان د مجازي عشق په پله او ګودر ځان د حقیقي عشق جغرافیې ته رسولی دی، چې همدا حقیقي عشق د انساني ژوند اصلي او اساسي هدف هم دی.

د میاداد په دېوان کې دعشق کلمه په هر ځای کې د حقیقي عشق په مانا استعمال شوې ده. دا چې ولې د میاداد په دېوان کې د دې کلمې رنګ دومره غالب دی؟ ځواب به یې د میاداد لوړ تصوفي شخصیت وي، ځکه چې دی یو لوی صوفي تېر شوی دی او د صوفیانو د ژوند اساسي هدف د الله ج سره رېښتینې مینه ده، چې د خپل ځان په قربانۍ او ویلې کولو کې یې دوی پیدا کوي. دوی تل لکه پتنګان له ستي توبه خوند اخلي او په خپله سوزېدا کې د خپل هدف لاسته راوړل ګوري،

زه عاشــق چــې ســتا د عشــق شراب او تــاب غــواړم
ورسره یـــې کـــل سرود چنـــګ وربـــاب غـــواړم
هغــه زړه مــې پــه ســیخ دعشــق پــه اور وریتېــږي
و اور تــه ناســت لــذت خــورم هســې کبــاب غــواړم
مـــاضي راڅخـــه ځـــي وصـــال د دوســـت ویـــنم
ځکــه د عشــق پیالــه حلالــه پــه شــتاب غــواړم

(۱۲۴:٦٨م).

د خواجه محمد بنګښ پېژندنه

خواجه محمد بنګښ د منځنۍ دورې د لومړي پړاو شاعر دی، نوموړی لکه د پښتو ادب د منځنۍ دورې د ځینې نورو شاعرانو غوندې تت او تاریک ژوند لري، خو دا تاریکي به یې یوازې د ژوند په احوال کې موږ حس کړو، مګر هغه مرغلرې او با ارزښته پښتو اشعار چې ده موږ ته په میراث پرې ایښي دي، هغه به تل لکه لمر روښانه وي او د هر پښتون په خوله به جاري وي.

د ژوند او حال په اړه یې کره او دقیق معلومات موږ په لاس کې نه لرو، خو هغه څه چې بیا هم موږ سره دي دلته یې وړاندې کوو: خواجه محمد بنګښ د پښتو ژبې یو دېوان لرونکی شاعر و، دی د بنګښو له مشهورې قبیلې څخه و، خو په بنګښو کې یې نور باقي حال او پښه نامعلومه ده. دی د بنګښو د قبیلې لومړنی دېوان لرونکی شاعر و.

دی یو فقیر او عاجز انسان وه، د بیت الله شریف زیارت یې هم کړی و، خو کله چې له هغه ځای څخه راغی شاعري یې پرېښوده. د اورنګزیب باچا په وخت کې اوسېده او تقریبا د خوشحال هم عصر و، دی د چشتیه طریقې پیرو او د عبدالرحیم مرید و. بنګښ په ډېر کم عمر کې د علم په تلاش وتلی دی او دا هم معلومه نه ده چې له ده څخه اولاد پاتې دی او که نه؛ دی ټول وخت له خپل پیر سره اوسېدلی دی. د مرګ وخت او ځای پته یې نه لګي او هم هغه قبر چې دی پکې خښ دی، تر اوسه چا ته معلوم نه دی.

مشهور مستشرق راورټي په خپل اثر ګلشن روه کې د خواجه محمد بنګښ په هکله ویلي دي: خواجه محمد بنګښ له پښتنو شاعرانو څخه دی چې د خوشحال خان معاصر او د اورنګزیب مغولي په عصر کې ژوندی و. د خواجه محمد بنګښ نورې سوانح ښکاره نه دي، خو لکه نور خپل معاصرین د مغولو له مظالمو څخه ډېر شکایتونه لري او دا ځینې ښکاري چې دی هم لکه نور ملګري له وطنه ورک او پردېس و، دی خپله وایي:

د اورنګ په بادشاهۍ کې یې نیاو نشي

زه خواجه مـــحمـــد به ووځم بل لور ته

(۸:۱۰م).

دغه برخه بیا استاد عبدالحی حبیبي په خپل اثر پښتانه شعرا کې را اخېستې ده.))

د خواجه محمد بنګښ شاعري

د نورو روښاني شاعرانو په څېر د بنګښ دېوان هم په مکمله توګه زموږ لاسته نه دی راغلی. د خیال بخاري په احتمام او د پریشان خټک په هڅه دا دېوان په (۱۹٦۵م) کې چاپ شو. د دې دېوان قلمي نسخه له پېښور پوهنتون سره ده. په قلمي نسخه کې د (ش) او (کړ) په ځای (شه) او (کړی) لیکل شوي دي.

خواجه محمد بنګښ د پښتو ژبې نورو هم عصرو شاعرانو په څېر د خپل وخت او مکان تر تاثير لاندې راغلی او هغوی ته ورته ارونه يې په خپله شاعرۍ کې پاللي دي. د شاعرۍ پله يې نظر د منځنۍ دورې د لومړي پړاو نورو شاعرانو ته درنه ده. اشعار يې د خوند او رنګ يو بيل کيفيت لري. په اشعارو کې تصوفي او عرفاني رنګ ډېرغالب دی او تل يې هڅه کړې ده چې نوموړې برخې ته کار وکړي. اشعار يې لکه د رحمان بابا په شان اخلاقي او نصيحتي بڼه ډېره لري؛ نو ځکه يې کله نا کله يو شمير خلک په اشعارو د رحمان بابا ګمان کوي.

د ده ټول اشعار د يو دېوان په ډول راټول شوي او مردف شوي دي، مګر د اشعارو بشپړ دېوان يې تر اوسه نه دی نشر شوی، اشعار يې په فصاحت، بلاغت او نورو ادبي ښېګڼو کې منځنۍ درجه لري، د عرفاني او اخلاقي مضامينو تر څنګ عشقي مضامين هم لري، چې يوه برخه يې مستشرق راورټي په ګلشن روه او هيوز انګليس په کليد افغاني کې نشر کړي، د شاعرۍ زياته برخه يې د مرشد او پير په باب راغلې ده او د دې تر څنګ د عرفان او اخلاقو برخه يې هم درنه ده، په ادبي تلازماتو کې هم تر خپلو معاصرينو تر شاه نه پاتې کېږي، مثلا په دې بيت کې يې يو خورا زوړ او مبتذل مضمون په يوې حسي تشبيه سره نوی کړی دی:

زړونه مه ماتوه لعل د بدخشان دی

بيا مشکل دي رغول د شکسته وو

(۱۱:۸م).

خواجه محمد بنګښ که خپل شعر او قريحه فقط عرفاني مضامينو ته بېله کړی نه وی او په نورو خواوو کې يې شاعري کړی وی؛ نو دی به د پښتو ژبې له لومړۍ درجه شاعرانو څخه و.

د احساس ډکه شاعري د ژوند عکاسي کوي، لکه نور روښاني شاعران تش نظمونه نه دي؛ بلکې د مانا اړخ يې ډېر پياوړی دی او په شعر کې يې ډېرې نوې خبرې شته او چې همدې نوي والي يې په خلکو کې محبوبيت پيدا کړی دی.

د شاعرۍ ژبه يې ساده، روانه او خوږه ده او زياته شاعري يې په خلوت کې شوې ده، ځکه چې ځينې روايتونه يې په هکله داسې راغلي، چې خلوت او جلا والی څرګندوي او په همدې خلوت کې د انساني ژوند د بقا او ښايست لپاره ښې او په زړه پورې لارې ښودلې دي او ټوله شاعري يې د پند او نصيحت خواږه له ځانه سره لري.

څه چې د نوموړې په کلام کې کم تر سترګو کېږي، هغه د مرثيې برخه ده، دی په خپل کلام کې مرثيه راوړي؛ مګر دومره نه چې خپله ټوله شاعري په همدې رنګ ولړي، که فکر وشي دا يې په خپله دوره کې

تقریبا یو نوښت هم دی چې په خپل ټولي کې داسې یو شاعرانه ابتکار کوي او د مضمون له مخې په خپل دور کې د شعر لمن پراخوي.

د دې ټولو تر څنګ په کلام کې یې د خدای تعالی ستاینه، د خوږ پېغمبر ص ستاینه او د خپلو پیروانو د قصیدو یوه غټه برخه هم راغلې ده.

د خواجه محمد بنګښ د دېوان شعري فورمونه

د بنګښ په دېوان کې د ګډو یا عروضي نظمونو یو شمېر کالبونه راغلي دي، چې موږ یې بیلګې دلته وړاندې کوو، لکه:غزل، قصیده، رباعي، قطعې او نظمونه چې د دېوان ښکلی اړخ پیاوړی کوي.

غزل

د دېوان زیاته برخه یې غزل جوړوي او دا غزلونه په داسې فني شکل سره ویل شوي دي چې ښکلي او محتوایي اړخونه یې دواړه نیمګړي نه دي، لکه:

د مـــــــــــین مینـــــه زمـــا د زړه دمـــــه ده
پـــه خـــاطر کـــې یـــې دورن ښـــکلې نامـــه ده
چـــې تـــاوده اهـــــونه کـــړم لـــه درده ژاړم
پـــه هجـــران مـــې د زړه څوکـــه دونیمـــه ده
عارفـان همـېش د خـدای پـه یـاد مشـغول دي
د غـــــافل تـــوره د زړه تختـــه همـــه ده
ډېرعـالم بـه پـه سـایه لـه لمـره خـلاص کـړي
شریعـــت یـــې بـــــادشاهي لویـــه خیمـــه ده

قصیده

دی په خپل دېوان کې یو شمیر قصیدې هم لري چې موږ یې دلته د بېلګې په توګه څو بیتونه را اخلو:

چـــې یـــې اســـم پـــه اســـمونو کـــې اعظـــم دی
ښایســـــته د زمـــانې شـــاه عالـــــــــم دی
مـــاه رویـــان پـــه جهـــان ډېـــر دي بـــې حســـابه
ترهمـــــه واړو بهـــــتر زمـــا صنـــــــــم دی

(۳۳:۸م).

نظمونه: په دېوان کې یو شمېر موضوعات د نظم په څېر وړاندې شوي چې بېلګه یې دا ده:

هـــــدایت وکـــــړې وماتـــــه الهـــــــــــــي

چـــې مـــې نـــه کېـــږي لـــه لاســـه سیاهـــي

مســـتغرق شـــوې ســـتا پـــه فکـــر او پـــه ذکـــر

بېهـــــوده خـــــبرې نکـــــړم افواهـــــــــــــي

د دنیـــا ســـیاهي لـــرې لـــه وجـــود کـــــړه

حـــــــقایق راتـــــه معلـــــوم کـــــړه کماهـــــي

(۸:۱۳۰م).

رباعي: د نورو شعري فورمونو تر څنګ رباعي هم د ده په دېوان کې بې برخې نه ده پاتې شوې، په دې چوکاټ کې هم خپله طبعه ازمایي او په دې فورم کې هم شاعري کړې ده، لکه:

که بادشاه د ګدا میلمه شـــــــي

د ګدا کور به ګلزار همه شـــــــي

هېڅ کمی به د بادشاه ونشـــــــي

پـــرې به ښه د ګـــــــدا نامه شي

(۸:۱۴۳م).

قطعه: خواجه محمد بنګښ په خپله شاعرۍ کې نظر نورو روښاني شاعرانو ته ډېر فورمونه د خپلې شاعرۍ لپاره استعمال کړي دي، چې یو یې له جملې څخه قطعه ده او بېلګه یې هم په دې ډول ده:

چې ورته ګورم مـــــــــــــینه مې زیاته شي

که هر څو موړ یم دیدن مې خـــــــوا ته شي

چې سترګې تورې کړی اتش پرې پورې کړی

بلې لمبې شي مخ یې وماته شـــــــــــــي

کـــله وفا کړې کله جفا کـــــــــــــــړې

چاره مې نشته ګیله مې تا ته شـــــــــــــي

د دیدن شپـــــه کړه یوه خوله راکـــــــــــــړه

خـــــواجه به ومـــــــــري نوم به یې پاتې شي

(۸:۱۴۴م).

د خواجه محمدبنګښ د شعر محتوا

د خواجه محمد بنګښ شاعرۍ کې د ژوند زياتې برخې په پوره کمال سره عکاسي شوې دي او هم شاعري يې ټول شموله ده، يوازې په يوې موضوع کې بند نه دی پاتې شوی او تل يې د ژوند ټول حقايق په خپل شعر کې رانغاړلي دي او هغه څه چې د ده په شاعرۍ کې ډېر بارز دي، هغه د الله ج او د هغه د خوږ نبي کريم ص ستاينه او صفت دی، چې موږ يې دلته بېلګې په خپل ځای او نوبت سره راوړو، د دې موضوعاتو تر څنګ يو شمېر نور موضوعات هم شته لکه صبر، حوصله، قناعت، عشق، تصوف او اخلاقي مسايل چې موږ به يې په خپل وار سره بيان کړو.

د الله ج ستاينه:

د بنګښ په شعر کې سره تر پايه نوموړې موضوع په بېلابېلو کالبونو کې راغلې ده او د خپل خالق ثنا يې ترهر څه ډېره ويلې، لکه:

بې حسابه مهربان زما صاحبـــــه

پـــر ازاد پرندگان زما صـــــــاحبه

تا احسان دی نهايت راسره کړی

زه تر تا پورې يم گران زما صاحبه

(۸:۵۰م).

د رسول الله (ص) ستاينه:

ده په خپل کلام کې د خوږ پېغمبر ص ستاينه په پوره مينه او محبت سره کړې ده او د هغه په مينه يې خپل ځان خړوب کړی دی لکه:

ځـــکه وايم لااله الا اللـــــــــــــــه

محمد دی په رښتيا رسول اللـــــــه

همـــــگي په يگانه گۍ د ده گوادي

چې له زمـــکې زرغـــــونېږي هرگيـــــا

(۸:۱۱۴م).

عشق: د خواجه محمد شاعرۍ اساس عشق جوړوي او دی ځان په خپله حقيقي مينه کې پتنګ کوي، همېشه په خپله مينه کې ستې وي او له همدې ستې توبه يو نوی خوند او رنګ اخلي.

موږ که چېرته د ده شاعري وګورو؛ نو راته به معلومه شي چې بنګښ هم له کماله ډک سړی دی، د شاعرۍ په کتو يې سړي ته دا سوچ پيدا شي چې ده به ټول عمر د عشق فلسفه لوستې وي او له دې موضوع به

چېرې هم بهر شوی نه وي، خو نه داسې نه ده. د ده شاعري ټول شموله ده او هره برخه يې په خپله شاعرۍ کې رانيولې ده.

عشق او شاعري خو په خپلو کې داسې تړون لری چې ته به وايې عشق د شاعرۍ اساس او بنياد دی. عشق که حقيقي وي او که مجازي خو عشق عشق دی، په هرحالت کې زړونه ويلي کوي او ډېر زيات اثر لرونکی وي. خواجه محمد هم شاعر و، په کلام کې يې د عشق برخه شته په عشق کې يې عاشق ډېر ډېر ځله د معشوقې د بې رحمۍ سنګدلۍ نه ګيله کوي. دی چې په عشق کې خپل کړاو ويني او د دې کړاو سوځېدل په معشوق هېڅ تاثير نه کوي او ورته د شعر په ژبه وايي:

که دې ما غوندې غريب پرېوځي و اورته

ستا سنګين خاطر به نشي ښکته پورتــه

دی دا مني چې زما حيثيت ستا په مخکې هېڅ نه دی او دغه وجه ده چې هېڅ فکر نه ساتې، خو دا ياد لره چې د عاشق زړه سوی وي. د دغه سوي زړه اه ډېر سخت وي او هر څوک ترې ويرېږي خو ته ترې نه ويرېږې. (بنګښ:۱۸،۱۷مخونه)

په بل ځای کې بيا د عشق يوه بله سوې سړيکه داسې زمزمه کوي:

څــه به درته وايم د دلبر لـــــــــه کرامته

هېڅ پرې خبر نشم زړه مې يوسي له صورته

(۱۹:۸م).

اخلاقي برخه

خواجه محمد بنګښ د نورو مسايلو تر څنګ د اخلاقي مسايلو باب هم په خپل کلام کې پرانستی او يو شمېر نوي درسونه يې موږ ته راکړي دي، خلک يې د ژوند کولو هغه اصلي او اساسي هدف ته چې انسانيت دی رابللي دي، لکه:

هرسړی په نيک خويي سره سړی دی

په بد خوی سړی بـــــدتر شي له دوابه

پند او نصيحت

بنګښ لکه رحمان بابا په ساده او روانه ژبه انسانو ته د پند او نصيحت باب پرانېزي او اساسي مسووليت ته يې متوجې کوي او خپلې تېرې شوې تجربې له خلکو سره د شعر په ژبه شريکوي، لکه:

له اوربشو چا غنم اخيستي نه دي

دا خـــبره ده مشهوره مجـــــــربه

(۲۸:۸م).

دلته خلکو ته دا پیغام ورکړل شوی دی چې تاسې د خلکو په وړاندې هر ډول نظر لرئ، نو ستاسې په وړاندې د هغوی نظر هم داسې وګڼئ.

عرفاني موضوعات

دا چې د بنګښ لاره او طریقه عرفان او تصوف و او ټول ژوند یې د همدغې پوهې په رڼا کې تېر شوی دی؛ نو هرو مرو به یې په شعر کې د عرفان رنګ غالب وي او د عرفان په محتوا او لاره به یې ډېر ژور بحثونه کړي وي، چې موږ یې دلته د بیلګې په توګه یو څو بیتونه را اخلو:

څه ناحقه په نیمګړي نازېـــــــــده دي

چې د هر چا عاقبت ځینې واتـــــه دي

عــارفانو په ځان خوب خندا حرام کــړل

غافلان مې د غـــفلت په خوب ویده دي

(۱۰۳۷:۸م).

مرثیه: د بنګښ په شاعرۍ کې د مرثیې برخه هم راغلې ده، د خپلو یارانو د غم سړولو لپاره یې له خولې څخه داسې بې دریغه کوکې راوتلی چې هېڅ حد نه لري، لکه:

چې رایاد شول د مـجلس یاران د مینې

ګډې وډې مې په مــخ ځي اوښې وینې

ښایسته خولې هم شولې تورې خاورې

چې هــله یې پر ې خبرې کړې شیرینې

چې کړې پګړۍ یې ایښې وې له خیاله

اوس له خاوروسره خاورې شوې کمینې

(۳۹:۸م).

د شېخ ادم خويشکي پېژندنه

شېخ ادم خويشکی د منځنۍ دورې د لومړي پړاو دېوان لرونکی شاعر و، چې د ژوند په هکله يې دېوان کې استاد حبيب الله رفيع داسې وايي: د ادم د دېوان په موجوده نسخه کې هغه څو بيتونه چې د پېژندګلوی په برخه کې څه نا څه مرسته راسره کوي او موږ دا موضوعات داسې رالنډولی شو:

ادم د ظريف زوی او د بټک د کورنۍ و، چې له خپل نامه سره يې د خپلې تصوفي لارې د وړتيا له مخې د شېخ او فقير کلمې زياتې کړي دي او خپلې ليونۍ مينې سره يې د وړتيا له مخې کله ناکله له خپل نامه سره د دېوانه کلمه راوړې ده. د استوګنې ځای يی د اشنغر د جنيدي د سيند غاړې وي او د ژوند زمانه (۱۰۴۰هـ او ۱۱۱۸هـ ق) کلونو تر منځ اټکل کولی شو او اولادونه هم درلودل او له دې ورسته محمد معصوم هوتک يې د قبيلې په هلکه ځينې خبرې او بيتونه د پوره وضاحت لپاره په دې ډول سره راوړي :

په جهان کې يې نوم لاړشـــه

ادم څه بلا پيدا شه له ظريف

(۱۱:۲۷م).

په پورته بيت کې يې د پلار نوم له بيته پوره څرګنديږي، له دې وروسته بيا په بل بيت کې د کورنۍ يادونه په دې ډول سره شوې دي:

خلـقه يې ښور ماښور کـــړه

ادم څه بلا پيدا شو له بټکه

(۱۱۲:۲۷م).

په پورته بيت کې د ادم خويشکي د قبيلې په هکله په خپله خوله د بټک نوم راغلی دی. بټک زي د سړبنيو پښتنو د ځمند په اولاده کې د خيشکو د قام يو ښاخ دی. خويشکي اصلا د ارغستان او پېښين اوسيدونکي دي او له هغې ځايه بيا ملتان ته راغلل او له دې وروسته يې په پنجاب کې د قصور په علاقه کې دوه کلي ودان کړل، چې د لر او بر په نومونو سره يادېدل. په بر کلي کې د خويشکو بټکزي، حسين زي، عارف زي، شين زي، کرلاني ميشته شول او په لر کلي کې يې عزيززي، جنوزي او ابراهيم زي ميشته شول. په ټوله کې به داسې ووايو چې ادم خان په قوم خويشکی او په خويشکو کې بيا د بټک زيو له ډېر څخه و چې د ده له يوه شعر څخه موږ ته دا جاج په لاس راځي:

خيشکی لويه ستانه ده په سربڼ کـې

هرسړی يې په نوبت صاحب قران شي

د وتو دعـــايې سپر د پټکي تـــــــوره

غلیمان یې سرگشته په ځان حیران شي

(۱۳:۲۷م).

له دې توصیفي بیان څخه موږ ته پوره په وضاحت سره څرگنده شوه چې دی خویشکی دی.

له دې وروسته موږ د ده په دیوان کې د نوموړې د اوسېدو سیمه پلټو:

ادمـــــــــــه راشـــــه کـه یې گورې

د جنیدي زلمي طوطیان نجوني بلبلې

په پورته بیت کې دی په خپله خوله خپل ټاټوبی (جنیدی) بیانوي، چې جنیدي سیند په اشنغر کې بهېږي. د ژوند زمانه خو یې موږ پورته مشخص کړه، خو دلته هغه بیت چې د ژوند زمانې په هکله موږ ته اسناد په لاس راکوي او زموږ قول نور هم قوي کوي، هغه دا بیت دی:

د دکن په جنگ شهید شو خشنود اوسه

په تـــاریخ د زرخـلوېښت کې یې گذر و

(۱۴:۲۷م).

په دې بیت کې یې د ژوند زمانه ځکه ښه مشخص شوې ده، چې نوموړی بیت د میرزا خان انصاري تر مرگ وروسته ویل شوی دی او د هغه د مرگ نېټه د(۱۰۴۰هـ) وه؛ نو په دې وخت کې اوسېده نو موږ ویلی شو، چې د ژوند زمانه هماغه پورته ذکر شوې، چې د روښاني دورې د پای وخت و.

د روښاني تصوف منل او ځانته د روښاني ویل څه اسانه خبره نه وه، چې په همدې ترخ کې ادم هم چپ پاتې کېږي او ځانته په صراحت سره روښاني نه وایي، خو په شعر کې د روښاني تصوف بیان او تصوفي اصطلاحات په خورا ښه شکل سره راوړي. له اشعارو څخه یې معلومېږي چې دی به د شاه عیسی پیرو و او په خپل دیوان کې یې څو څو ځایه د شاه عیسی نوم راغلی دی، خو موږ بیا هم په پوره دقت سره دا خبره نه شو کولی، صرف په شعرکې د شاه عیسی په نامه لیدلو موږ دا حکم کوو چې دی به یې مریدو؛ ځکه یې ورته نوم څو څو ځایه راوړی دی چې د بیت بېلگه یې دا ده:

دې وې غـــشی مې په تا کې اثر نه کـــه

پټ سپاهي مړنی سور سپور د شاه عیسی

مـــاوې نورې د عوې مکوه خولـــه راکړه

که مـــرید یې لکـــــه زه د شاه عیسی

(۱۹:۲۷م).

او دې ته ورته بل ځای یې هم شاه عیسی نوم راوړی دی لکه:

مـــخ دې هر څـــــه پکې ويني

د ادم اينه کړه شاه عـــيسى روڼه

له دې دوه ځايه نوم راوړلو څخه موږ دې هدف ته رسېږو چې دى به د شاه عيسى مريد و، خو بيا هم پوره ثبوت ته اړتيا شته چې ممکن د وخت په تېرېدو او د نورو ورکو معلوماتو په پيدا کېدو موږ شايد يو نظر ته ورسېږو.

د ادم شاعري:

د ادم شاعري هم د نورو همدوره شاعرانو په څېر ټوله د تصوف په روح او جسد څرخېدلې ده او د شعر خواړه يې همدا د تصوف کامل بيان دى. همدارنګه په شعرونو کې يې د بېلابېلو لهجو لغات استعمال شوي او دې استعمال د اوسنۍ زمانې ژبپوهانو ته د څېړنې په برخه کې پوره مواد په لاس ورکړي دي لکه:

سربره يې حاصل په منګول واخلـــه

که په ادم باندې دې شته قرض وربا

(۲۰:۲۷م).

په پورته بيت کې د (سربره) کلمه راغلې ده چې په پخوانيو متونو کې دا کلمه په اصلي بڼه راغلې او اوس د يو مخيزه لپاره استعمالېږي.

دې ته ورته نورې کلمې چې اوس يې بڼه کاملا بدله ده په هغه وخت کې استعمال کړي دي، لکه د (ږوږ) کلمه چې اوسنۍ بڼه يې (زوږ) دى او د غالمغال لپاره استعمالېږي، له دې وروسته يې يوه بله کلمه چې (دوغښ) ده په خپل شعر کې راوړې ده، چې اوسنۍ بڼه يې (دوزخ) ده، همدارنګه د (پټانه) کلمه چې اصل او اوسنى شکل يې (پښتانه) دى په هغه وخت کې استعمال کړي، نو موږ دې نتيجې ته رسېږو چې په شاعرۍ کې د پښتو سوچه والى تر سترګو کېږي.

د ادم شاعري يوه اندازه د عربي ژبې تر تاثير لاندې راغلې ده؛ ځکه چې دى په خپله شاعرۍ کې د عربي نومونو تر څنګ د زور، زېر او پېښ حرکتونه په سمبوليک شکل د عربي په څېر په خپله شاعرۍ کې استعمالوي او په کلام کې د طريقت، وحدت او کثرت اصطلاحات هغه عموميات دي چې د پښتو صوفيانه اشعار پرې ډک دي.

پر شريعت باندې ډېر ټينګار خو يې پر کلام باندې د اخوند درويزه د روش د اغېزې څرک په لاس راکوي او همداشان په شاعر ى کې لکه رحمان بابا د نصيحتونو برخه هم ډېره درنه ده.

د ادم د دېوان ځانګړتیاوې

د ادم خویشکي دېوان د شکل له مخې د نورو روښاني شاعرانو دېوانونو ته ورته دی او زیاته برخه یې غزلونه برابروي او ترڅنګ یې د نظمونو برخه هم راغلې ده.

((د ادم دېوان کټ مټ د نورو روښاني شاعرانو د ېوانونو ته ورته دی او د الفبې توري یې که سل په سلو کې روښاني الفبې ته ورته نه وي؛ نو مشابهت خو ورسره لري. د کلماتو املایي شکلونه یې هم د خیرالبیان د موجودې نسخې لیکدود ته ورته دي.)) (ادم:۱۸م)

لکه څنګه چې مو دمخه د شاعرۍ په بحث کې یوه خبره یاده کړه چې (زور، زېراو پېښ) نو دلته یې هم ذکر ضرور دی؛ ځکه چې دغه برخه بیا محمد معصوم هوتک په (ه، ی – و) بدله کړه تر څو یې خلک د لوست پر وخت ناسم او غلط ونه لولي او په دېوان کې د نورو روښاني شاعرانو په څېر د (پیر، دستګیر، مسکین او بایزید مسکین)کلمات نه دي راغلي.

د دېوان په قلمي نسخو کې ځینې املایي غلطیانې وجود لري، چې په اوسني چاپ شوي دېوان کې دغه ستونزه ښاغلي محمد معصوم هوتک حل کړې ده، چې موږ یې د بیلګې په توګه ځینې غلطې استعمال شوې کلمې دلته راوړو، لکه: د (نظر) کلمه په دېوان کې د(نضر) په شکل سره راغلي ده، د (غپا، تهمت او مهتاب) کلمې په دېوان کې د (غفا، تحمت او محتاب) په شکلونو سره راغلې دي؛ خو د دغو کلمو له اصلاح او سمون وروسته بیا محمد معصوم هوتک نوموړې غلطې کلمې د اصل په شکل په حاشیه کې ځای کړي دي.

دا چې دغه دېوان له کومې نسخې څخه چمتو شوی، د هغې نسخې د چاپ کال، کاتب او ځای معلوم نه دي، د منځ او پای برخه یې نیمګړې هم ده. د صحافت په لحاظ هم زیاتې غلطیانې لري، زیاتو ځایونو کې یې د شاعر نوم په سور رنګ سره لیکل شوی او نوره ټوله نسخه پر خړ کاغذ په توره سیاهي لیکل شوې ده.

په ټوله کې به ووایو چې د دېوان ټول مخونه (۲۱۲) ته رسېدلي دي او ردیفونه یې ګډوډ راغلي دي، په اصلي نسخه کې یې د (ړ) پر ځای د (د) په منځ کې ټکي ورکوي (ڼ) د (نړ) په شکل سره لیکي.

د ادم د دېوان شعري فورمونه

شیخ ادم خویشکي د شاعرۍ کالبونه اکثره غزلونه او نظمونه دي، چې موږ یې دلته د نمونې په شکل یوه برخه را اخلو:

غزل

د ګومان په هستي پریږه یې ترګرګه

د یقین په چار نرۍ یې لښته بغرګه

بې عــمله سړی هسې څرګندېږي

لـــــکه ونه چې ولاړه وي بې برګه

د ایمان روښنایي کل در څخه ولاړه

پر شېطان باندې دې بایلو بیدو برګه

(۲۷:۱۱۰م).

نظم

ما چې ستا د مـــــــخ صفت که په څورنګه

ماوې ستا سلام به اوس راشـــــــي تر درنګه

دې وې سر دې په تن پورې خوله مې غواړې

دغه هسې اشنـــایي نشي بې رنګـــــــــــه

(ادم:۱۰۹م)

د ادم خویشکي د شعر محتوا

د ادم د شاعرۍ لمن له هر ډول ګلونو ډکه ده او د ژوند هرې ورځې لپاره انسان ته نوي درسونه ورکوي، شاعري زیاتره نصیحتي بڼه لري. دی یوازې په تصوفي اصطلاحاتو او باریکیو کې تم شوی نه دی، د ژوند هرې برخې ته یې لاسونه اچولي او سترګې غړولي لکه: انسانیت، کامیابي، اخلاق، رېښتینولي... او داسې نور چې موږ یې د نمونې په ډول ځینې برخې را اخلو.

د الله ج ستاینه

په نامه دحق مـــــــــــې وکړه ابتدا

چې په خپل کرم را وښـــــــیي هدا

هرزنده یې ثنا که په خپله ژبـــــــه

په شیرین نامه یې کل موجد شـــیدا

(۲۷:۳۱م).

دلته د الله ج د قدرت ستاینه کوي، ټولې چارې د هغه په نوم پیلوي او بې د رب له ارادې هر څه نیمګړي ګڼي. خپل رب ته د تواضع لاسونه پورته کوي او لویي بیانوي. شعرونو ټوله محتوایې د سپېڅلي خالق تعالی په ثنا او صفت راټوله ده. دی یو صوفي و ټول وخت یې د تصوف مراتب په پوره اخلاص سره تشریح کړي دي، چې له حمد سره دا تشریح مستقیمه رابطه لري.

له دې وروسته د خويشکي په دېوان کې چې څه زموږ مخې ته ډېر راځي هغه د خوږ پېغمبر(ص) ستاينه او صفت دی، چې بېلګه يې په لاندې ډول ده:

تر جمله جهان بهتر ته يـــې حبيب

ياد د الله اکـــــــــبر ته يې حبيب

جهان درست په تا رڼا په تا ليده شي

ائينه د شاه سکندرته يې حبيـــــب

(۴۷:۲۷م).

په دې بيت کې په ټوله توګه د حضرت نبي کريم (ص) ثنا او صفت بيان شوی دی، دی يې د ټول جهان غوره او بهتر بنده ګڼلی دی.

دروغ: دروغ بد ګڼي په اړه يې وايي چې د دروغو ويل انسان ته په خير نه تمامېږي. څوک چې دروغ وايي ژوند به يې تل له مشکلاتو سره مخ وي او د ژوند چارې به يې نيمګړې وي لکه چې په خپله خوله داسې وايي:

دواړه حــق خبره وايئ دروغ ورک شه

چې دعـــوه موشي تمامه په خيريت

هرسړی چې دروغ وايي رښتيا پرېږدي

په ايمان کـــې به يې پرېوزي کدورت

(۴۹:۲۷م).

په پورته بيتونو کې د درغو انجام هم ذکر شوی دی. دی په دې باور دی چې دروغ د انسان ايمان نيمګړی کوي او په يوه بيت کې بيا دروغجن ته په هغې دنيا کې د دوزخ يادونه کوي.

د دنيا مينه: خويشکی د دنيايي مينې پر خلاف په دې نظر دی، چې د دنيا مينه په حقيقت سترګې پټول دي، موږ بايد له حقيقته ځان خبر کړو او د هماغه حق تعالی صفت بيان کړو، له هماغه حقيقي ذات سره د مينې اصلي رشته جوړه کړو، لکه چې دی په خپله يوې غزل کې دې موضوع ته داسې اشاره کوي:

ثنا کـــړه له اياتـــــــــه له حديث

د دنيا صـــفت به څه له وي حريث

د دنيا مينه دې زيان د ايمان وينم

تاتر هر مقصود لومړی دې کړه حنيث

(۵۳:۲۷م).

په پورته بیت کې د دنیا مینه د ایمان زیان یاده شوې ده او دا یې یو بېهوده او غیرې ضروري کاربللی دی. دی د همدې غزل په نورو بیتونو کې د دې مینې گناه ډېره درنه یادوي او ټولو ته توصیه کوي چې له دې عمل څخه ځان وژغورئ که مو ورته په وړوکي نظر وکتل نو بیا به مو د توبې قبلېدل په الهي دربار کې ناشوني وي.

دی وایي چې مجازي عشق د ژوند دوه اساسي عناصر چې عبارت دي له عقل او شرم څخه، له منځه وړي او انسان په ټولنه کې سپک او بې باک معرفي کوي.

حرص او تمه: دی حرص او تمه د انسان لپاره مناسب اوصاف نه گڼي او بد یې بیانوي. دی وایي چې انسان باید له انسانه تمه ونه لري او تل باید له الهي ربه د هر څه غوښتنه وکړي. دی وایي چې د حرص او تمې ملگرتیا له دوکې او فرېب سره ده، که چېرته دې ورسره ملگتیا وکړه؛ نو یوه ورځ به دې په لوی مصبت اخته کړي او له گړنگه به دې وغورځوي، لکه چې دی په خپله دې موضوع ته داسې اشاره کوي:

که نوس په طلـــــــب ورشې ترنج
تر نصاحب به نور زیات رانوړې همج
هر زمـــان دې غورځوي تـــر گړنگونو
ستا به صـــبر لرې نه شوگېـــــډه رج
د حرص سواري دې وخاته په غـــــولي
په ورو ورو دې نوس طلب نکړي بې نج
د شیطان په پیروي پسې روان شـــــوې
چې لـــه لاسه دې وخوت د یقـــین وج
چې د نوس غماز په چاکې بنه دې شوی
بېهـــــوده دې په سرتاج دی پگړی کج

(۵۵:۲۷م).

په پورته بیتونوکې شاعر حرص او نفسي حوص د شخیصت د هلاکت اصلي او اساسي عوامل یاد کړي دي. ادم په دې باور دی چې موږ که څو لوی او منصبدار خلک واوسو او د حرص تابع پاتې شو؛ نو ډېر ژر به مو دا هر څه له لاسه لاړ وي، په دنیا او اخرت کې به ناکام پاتې شو.

صبر او حوصله

نوموړی شاعر د صبر او حوصلې په باب موږ ته یو لوی او بااهمیته درس راکوي، دی وایي که موږ په ټولو دنیایي امورو چې د الله ج له لوري د بندگانو لپاره ټا کل شوي صبر وکړو؛ نو موږ به له هرې بلا او مصبت

څخه په امن کې ووسو، تل به په ژوند کې د خوشحالۍ احساس کوو، هېڅکله به ژوند کې د نیمګړتیا او خفګان احساس ونه کړو لکه چې دی په خپله یوه غزل کې دې موضوعاتو ته داسې اشاره کوي:

ص صابرشه په غمـــونو له اخلاص

چې دې غاړه شي له هرې بلا خلاص

(۵٦:۲۷م).

د وحدت بیان: خویشکې په خپلو اشعارو کې الله ج په بې نیازۍ او یګانګۍ لوی لوی بحثونه لري، چې موږ یې دلته یوه بیت د نمونې په شکل راوړو:

چې یقین په یوه خـــدای وکه فقط

د ګومان خونه یې شـي ځینې سقط

د وحدت ننداري تل کانه دي یواځې

دویم فکر یې له زړه لاړ شـــي غلط

عـــــجب نوې مېوه راوړي له وحدته

مـــعرفت یـــې یقیني شي مخطـــط

(۵۹:۲۷م).

دی انسان هغه وخت کامل ګڼي چې په سمه لاره برابر شي او د الله (ج) په مینه کې ورک شي، دنیا هستي محوه وګڼي.

هیله او امید: دی د هیلې او امید په باره کې موږ ته ډېر ښه او غوره درسونه وړاندې کوي، تل یې انسان په خپلو اشعارو کې دې ته هڅولی چې په هرډول حالاتو کې ناهیلی او د الله تعالی له نعت څخه د امید مراندې پرې نه کړي؛ ځکه چې ژوند په هیلې او امید سره روان دی. الله (ج) هېڅکله خپل بنده له خپله دره ناامید نه پرېږدي، لکه چې دی په خپله د امید او هیلې په باره کې وایي:

مدام په طمع اوسه د کـــــــــــــرم

کرم مانه دي که دي چار دې سړي سم

په پورته بیت کې انسان ته توصیه کوي چې ته دې الله (ج) لور ته رجوع وکړه، د ژوند ټولې چارې به دې سمې شي او الله تعالی به دې مددګار شي.

عشق: یوه څه چې بل د ده په شاعرۍ کې ډېر تر سترګو کېږي هغه د خویشکي په دېوان کې د عشق نوم دی خو دا چې خویشکی عشق څنګه تعریفوي دا نو یوه بیله مسله او پوهه ده. دی تل په حقیقي عشق پسې ګرځي او هدف یې هم د خپل معبود مینه او رضایت تر لاسه کول دي. دی تل په مینه کې دومره حد

ته رسیدلی چې خپل هر څه یې محوه کړي دي، رابطه یې یوازې له الله ج سره جوړه کړې ده لکه چې وایي:

هر عاشق چې په ریښتیني عشق گرفتار شي

له ژوندونـــــــــه یې و مـــــرگوته تلوار شي

چې یې یار تر نظر کېوزي ځان یې و هېرشي

د پتنک په څېر تربلـــــــــه ډیـــوه ځارشي

د عشق تاب زغمـــــلی نشي په صـــورت کې

د وسومـــــختن ته رجوعت وکه اقرار شـــي

(۱۳۱:۲۷م).

په پورته بیتونوکې د مینې لپاره ځانته یو بېل تعریف کوي او په دې نظر دی چې، ریښتینی عاشق له ژونده ستړی وي او مرگ ته یې تلوار ډېر وي؛ ځکه چې د خپل حقیقي محبوب دیدن ته ډېر تړی وي.

د ملامست ځمند پېژندنه

ملامست د منځنۍ دورې یو پیاوړی شاعر و، چې پښتو ژبې ته یې د قدر وړ خدمت کړی. د پېژندنې په هکله یې استاد هېوادمل داسې لیکي: ((کوم اثار چې مالوستي دي په هغه کې د خپل نوم (مست) او کله نا کله ملامست لیکلی دی. د مست علي خان نوم ما تراوسه پورې په یو ځای کې هم نه دی لیدلی، تر څو چې ما د خپلو مشرانو کوم اثار لوستي دي، په هیڅ ځای کې دغه نوم نه دی راغلی؛ بلکې ټولو یې نوم ملامست یاد کړی دی او د دې نوم یادونه ده پخپله هم په یوه شعر کې کړې ده:

ملامــست د زمانې لـــــه دوره ژاړي

چې په چا کې یاري نه ویني بې دروه

ده د خپلو ټولو اشعارو په پای کې خپل نوم (مست) یاد کړی دی. (٤:٦٢م).

د ملامست له نوم څخه وروسته چې کومه مسئله زموږ مخې ته راځي هغه یې د نسب په هکله ځینې روایتونه دي، چې موږ یې په لنډ ډول دلته را اخلو: ((په پښتانه شعرا او ځینونورو کتابونو کې یې کښلي دي چې ملامست زمند(ځمند) دی. ملامست په قام شینواری او په شینوارو کې سه پای دی. اما داچې په کتاب کې له نامه سره د ځمند غوندې کوم شکل لیکل شوی، دا ځمند نه بلکې چمن دی. د ده په اثار و کې د سه پای ذکر هم څو ځایه زما په نظر راغلی دی.

لکه چې په یوځای کې وایي:

نن د قــام په ننگه ودره ای مستـــه

که هر څو په زړه هزار یې له سه پایه

(٦:٦٢م).

خو له دې سره هم موږ د ځمند او د چمن په نوم کې په پوره یقین سره دا خبره نشو کولی چې چمن دې ځمند وي؛ ځکه چې د هېوادمل صاحب په قول که موږ چېرته لاړشو نو موږ به یو قانع کوونکی دلیل په لاس راوړو، ځکه چې دی پخپله هم یو پوه او لوستی سړی و، نو ده به چېرې داسې د خپل نسب شجره په تیاره کې اچوله؟ خو بیا هم باید دا خبره دلته واضیحه شي او نورو خلکو او راتلونکي نسل ته مو دا مشکل حل کړی وي، دا چې د دې دېوان یوازې یوه نسخه ده او بله نشته چې موږ یې په مقایسوي ډول سره وګورو او خپل هدف ترې لاسته راوړو.

له دې خبرې وروسته موږ ته یې د اوسېدو ټاټوبی مهم دی باید ویې پېژنو، چې دغه پښتون شاعر په کومه ځمکه کې د خپل ژوند شپې او ورځې سبا کړي دي. د دې خبرې د ښه وضاحت په خاطر د استاد هېوادمل دا لیکنه دلته را اخلو: ((ملامست خپله یوځای وایي:

فقیر مست چې د صافي په نامه راغی له خیبره

پرصـــاحب یـــــــــې د کـــوه لک اوبه دانه وې

دغه موضوع نورو لیکوالو هم تایید کړې ده چې دی د خیبرو.)) (٦٢:٧م).

د ملامست د زدکړې او طریقت په اړه د نوموړي په دېوان کې هېوادمل صاحب داسې لیکي: ((د ملامست له اثارو ښکاري چې ده په عربي او فارسي ژبو ښه پوهیده، په فارسي یې نظم او نثر دواړه کښلی شوای او له دواړو ژبو یې استفاده کوله، په فقه، تفسیر، عقایدو او اخلاقو کې د مطالعې څښتن ښکاري. د خپل مرشد په هکله یو ځای لیکي: ((...فضلیت لسان دانای اقلیم مولانا اخون چالاک توغی...)) او په بل ځای کې بیا وایي چې مست شاګرد د اخون جیو غازي چالاک دی. او دی د خپلې طریقې په باب وایي چې ((مست مرید د نقشبند و)) او خلک بیا اخون چالاک د اخوند پنجو په مریدانو کې شمېري)).(ځمند:٨ـ ٩مخ)

کله چې دا خبره یو څه واضیحه شوه؛ نو اوس په دې برخه کې اړینه ده چې د زوکړې او مرګ په نېټه هم یو اندازه بحث وکړو او تر یوه حده دغه خبره له ابهامه وباسو، خو دا چې د ځینې موضوعاتو په برخه کې له یو شمېر مشکلاتو سره مخامخ کېږو؛ علت یې دا دی چې موږ د هغه وخت ډېر اثار له لاسه ورکړي دي او کوم چې مو په لاس کې هم دي په یوه برخه کې حتماً نیمګرتیا لري، چې یو یې همدغه اوسنی بحث دی چې موږ یې د مست ځمند په هکله کوو.

استاد هېوادمل په پوره خواری او زیار سره دا او دې ته ورته نور مسایل څېړلي دي، د ملامست ځمند د زوکړې او مړینې نامعلومه نېټه یې اسانه کړې ده او د قناعت په ژبه یې موږ ته یو څه په لاس راکړي دي: ((د ملامست د زوکړې او مړینې کلونه نه دي څرګند، خو زموږ ځینو ښاغلو مشرانو د ده په کتابونو کې د ځینې راغلو واقعاتو له مخې ځینې قیاس ارایه کړی دی، چې د هغې له جملې څخه لوی استاد مرحوم علامه حبیبي د زوکړې نېټه ٩٥٠ هـ ق حدود او د مړینې تر زرهجري وروسته تحمین کړې ده، چې د دوی دغه قیاس لر او بر ډېرو ادبي څېړونکو اخیستی دی.

استاد مرحوم بینوا بیا کښلي چې ملامست د ٩٧٠ هـ ق په شاو خوا کې اوسېده. اثر یې بیا د مرګ نېټه د ١٠٧٥هـ ق کال شاو خوا ښودلې ده. د ده مدفن اوس د ننګرهار شینوارو اچین ولسوالۍ د مامندو په دره کې د دوني په کلي کې واقع دی. مرقد یې پوښل شوی او دالان هم لري)). (١٢:٦٢م).

د ملا مست ځمند شاعري

ملا مست یو له هغه شاعرانو څخه و، چې د ژوند ټول اړخونه یې پوره څرګند نه دي. مست یو شاعر او نثر نګار و، د شاعرۍ موضوع یې په عمومي توګه تصوفي وه؛ نو په ځانګړې او خاصه توګه یې ځینې ورځنې مهم عناصر هم په خپل شعر کې راوړي دي او موږ ته یې د هغه وخت تصویر په لاس راکړی دی. د ده په

منتخباتو کې د غزاګانو حالت د مسلمانانو قربانۍ، د پښتنو مېړانې او نور تاریخي احوال بیان شوي دي. دیني او اخلاقي شاعري هم لري. د دې تر څنګ د شعر په ژبه د خپل پیر اخوند چالاک د کارنامو یادونه هم کړې ده. دی په حماسي رنګ کې د تصوف بیان کوي.

د شاعرۍ زیاته برخه یې قصیدې او غزلونه دي. د شاعرۍ ژبه یې په خپل ساده والي کې یو ډول سختي او پیچیدګي هم لري، چې د لغاتو برخه یې ښه نماینده ګي کولی شي، ان تر اوسه یې یو شمیر لغات په منتخباتو کې نا حل پاتې شوي دي. د شعر ژبه یې کله نا کله له پوره منظوم حالت څخه نیمګړي منظوم حالت ته هم تللې ده.

د ملامست د دېوان ځانګړتیاوې

د ملامست د اشعارو دغه اوسنۍ مجموعه چې زموږ په لاس کې ده، د ملامست د منتخباتو په نوم شهرت لري چې د استاد زلمي هیواد مل په نه هېرېدونکي زیار او زحمت سره له ملي ارشیف څخه د یوې نسخې په شتون کې ترتیب شوې ده، دا د استاد هېوادمل خپله زیرکتیا وه چې له یوې واحدې نسخې څخه یې دا برخه چمتو او چاپ ته برابره کړه. د دې منتخب په هکله استاد هېوادمل داسې وایي: ((د مست د اثارو له دغې مجموعې پرته یو نیم بل ځای هم په ځینو خطي اثارو کې یې د کلام انتخاب هم موندل کېږي، لکه:

۱ـ د ملامست د سلوک الغزات د رسالې هغه پاړکی چې د۱۰٦۴هـ تاریخ لري، د ملاعبدالغني په خطي جونګ ۱۱۴۲هـ ق کې هم راغلی دی. بېلګه:

بېچاره مست دا بیان وایي له سوزه په کوه لک کې

زر څلور شپېته کلونه د حضرت د هجـــرت تېر وو

(٦۲:۲۰م).

۲ـ د هندوستان د اتراپردیش ایالت د رامپور د رضا لایبراري لوهار کولکشن کې چې د واصل روښاني د دېوان کومه مخطوطه محفوظه ده په حاشیه کې یې د مست یوه غزله هم راغلې ده.

د مست د اثارو دغه منتخب د ده د اثارو له قلمي مجموعې څخه په دې منتخب کې پاړکي زما له ذوق سره سم انتخاب شوي دي، د منتخب ټول پاړکې رسا نظمونه نه دي؛ بلکې نیم منظوم اثار یې هم پکې راغلي دي. پارسي او ملمع پاړکې هم پکې شته دي. پښتوغزلې، قصیده وزمه غزلې، د چندړ او شمشاد مناظره هم پکې راغلې ده.

د دغه منتخابات په متن یوه سریزه هم لیکل شوې ده چې د مست د ژوند او ځینو نورو برخو په هکله پکې په زړه پورې معلومات راغلي دي. ما مخکې هم یادونه وکړه چې دغه متن له یوې واحدې نسخې څخه تهیه شوی دی.

د ملامست د شاعرۍ کالبونه

د ملامست د شاعرۍ کالبونه مختلف دي او په یوه کالب کې یې شاعري نه ده کړي، د خپل شعر د بیان لپاره یې مختلف کالبونه بیان کړي دي، لکه: غزل، قصیده وزمه غزلې، الف نامې، نظمونه... او داسې نور چې موږ یې د بېلګې په توګه دلته ځینې برخې راوړو.

غزل: غزل د ګډو یا عروضي نظمونو هغه کالب دی چې هېڅ شاعر یې بې تاثیره نه دی پرې ایښیی، یو له دې شاعرانو څخه ملامست هم دی چې ډېر ښایسته او بهتر غزلونه یې موږ ته په میراث پرې ایښي دي.

بېلګه:

دریغـــه غوږ د غـــافل تـاوکړی و مروړلـــــی
چې ویدې چارته روغ په ښی رنځور دی اغیړلـی
سراسر میـدان وروښـوی د خیـــــــــــــــــــــر
د عمـل پـه خـوب وده کـړی مـه چېړلـــــــــــی
ولـی پـوه بـه د ناصـح پـه وصـیت نـه شـــــــي
چـــې یـــې زړه وي د حـــرص لیـــوو داړلـــــــی
پـر دنیـا بـه تـل د حـرص پـه سـورلۍ سـور وي
پـه قیامـت بـه وي مـدام پـه غـم لړلـــــــــی

(٦٢:٦٤م).

الف نامې: په دې برخه کې هم ملامست د خپل فکر اظهار کړی، چې بېلګه یې دلته راوړم:

الف اسم کړه په زړه نهل لکه کجوره
ب یې بار کـــــــــړه میوه ګوره
ت توحید په ژبه وایـــــــــــه
ث ثنا کړه له غفـــــــــــــوره
ج جمیل جمال یې ګـــــــوره
ح حاضر دي هم حضـــــوره
خ خدایان غیرې نفي کـــــړه
د درواخله دال تـــــــــوره
ذ یې ذکر همېشه کـــــــړه

ر راووځه له دې جـــــــوره

قصیده وزمه غزلې: دا د ملامست د شاعرۍ هغه برخه ده چې نه غزل دی او نه قصیده خو قصیدې ته ورته ده چې د بېلګې په راوړلو سره به یې لا روښانه کړو.

بېلګه:

که خبرشـــــې د سلوک لـــــــه عالیجاه

د یوسف په ځـــــــــپربه زر ووځې له چا

که د عشق په بې پایه و دریاب کې غرق شې

په ظاهرباطن به پاک شې له ګنـــــــــاه

که د عشق په اور کې وسوځې ایره شـــــې

دوزخـــــونه به دې ډار کـانه دي لـــــــه اه

(٦٢:٣٧م).

نظم: د نظم برخه هم د ده په منتخاباتو کې زیاته ده چې موږ یې دلته د نمونې په شکل یو څو بیتونه را اخلو:

شاعران د هرې پـــــــښې دي

ځینې باز ځینې باخـــــــې دي

زړونه یې صاف لکه ښیـــــښې دي

عجبه سختې کښـــــــــې دي

پرد د عقل پر توښـــــــــــه دي

په غم چاک ریښې ریښـــــې دي

معنـــوي خبرې ښـــــــــې دي

بد(ی) مه وایه ناښـــــــې دي

پر کـــوتا یې خوخښـــــــــی دي

خـــو د زړونـــــو په لوښی دي

(٦٢:٤٧م).

د ملامست د شعر محتوا

ملامست په خپل شعر کې د ژوند زیات اړخونه راوړي. د ده په شعر کې هر ډول موضوعات شته لکه: تصوف او عرفان، پند او نصیحت، د هغه وخت پېښې او واقیعتونه همدارنګه نور ټولنیز موضوعات یې هم په شعر کې بارز او څرګند دي، چې موږ به یې دلته تر خپلې وسې راوسپړو او ستاسې مخې ته به یې د استفادې په پار کېږدو، تر څو تاسو ته یې هم د ژوند او فکر ځینې اړخونه څرګند شي او پند ترې واخلئ.

د الله (ج) ستاینه او صفت:

د ملامست په کلام کې د الله (ج) ستاینه او صفت په ښه شکل سره بیان شوی، چې له دې بیان څخه دا په واضیح شکل څرګندېږي چې دی به یو لوی او پیاوړی عالم تېرشوی وي او دین په چاروکې به یې پوره معلومات او مطالعه درلوده.

بېلګه:

صـــد هزارځلـه ثنـا کـــــــــــــــړه د مـــــــــــولا

چـــې څښتـــن دی د دوه کونـو معـــــــــــــــــلا

نه اول یـې بـدایت وه نـه اخـیر یـې نهایـت شتـــــــــــــه

کلـه تـل وتـل تـه تلـه هسـې تـل بـه وی نقـــــــــــــــلا

نه یې مورشته نه یې پلارشته نه یې خویندې نه یې ورونـه

نه یې کور شته نه عورته نه یې زوی شته نه یې لوڼه ال فلا

په پورته بیتونو کې د شاعر لوړه اسلامي پوهه څرګنده شوه چې د الله (ج) صفات یې په ډېر عالي شکل سره راوړي دي.

له زمانې شکایت:

له زمانې شکایت دا یوه ټولنیزه موضوع چې ده په خپل شعر کې په ښه او ښایسته رنګ کې وړاندې کړي، د خپل وخت له حالاتو دی متاثره شوی او د شعر په ژبه یې خپل تاثر څرګند کړی دی، چې نمونه یې په دې ډول ده:

بېلګه:

ای زمـــــــــــــــــا دله نـــــاپـــــوه

که دې ورک نه وي د عقـــــل ذره پـــــوه

هغه کسان چې خوش لباسه په زړه ټـګ وي

شپـــه او ورځ ورځخه تښته هزار کـــــــــــروه

له اوله به دې زړه په ښه شيرين ويل خوشحال کا

پراخره به دې بيا له خبروي له غم انـــــــــدوه

(٦٢:٣٥م).

د لته ملامست د خپل وخت له خلکو سر ټکوي او د هغوی له روزمره چارو څخه ګيله من دی.

هجر او جدايي: هجر له ژوند سره تړلې موضوع ده، چې هېڅ وخت ترې سړی بې اغيزې نشي پاتې کيداي او درد يې هم ډېر زيات دی، چې کله ورسره سړی مخامخ شي نو داسې بې واره کوکې له سړي څخه وباسي چې د انسان په واک کې نه وي. دغه سخت او ناقرار درد ملامست هم بې اغيزې نه دی پرايښی او خپل باد يې پرې لګولی دی او د شاعر له خولې يې بې واره او بې ارادې غږونه ويستي دي، چې موږ يې دلته دغه سوې کوکې د بېلګې په توګه راوړو.

بېلګه:

چـــې راموج وهي دا ستا د هجربحر

په چپې له ما جـــــدا که کينه قهر

پرخـــاطريې کوهېږه د کـــرم ورکړي

په محبت يې ودان کړه د زړه ښـــهر

(٦٢:٣٦م).

د شاه حسين غوري احوال: ده په خپل شعر کې هر ډول موضوعات ځای کړي دي چې يو يې له هغوی څخه د شاه حسين غوري احوال دی، چې دا موږ ته د نورو اهميتونو تر څنګ يو لوی تاريخي اهميت هم لري چې ده په خپل شعر کې دغه برخه راوړې ده، چې يوه برخه يې دلته د بېلګې په توګه را اخلو:

نـــــن بـــه وکـــړم ګفتارونـــه

لـــکه لعـل ګـوهر پيـيلي پـه تارونـــه

چـــې غلجـــی د شـاه حسـين اصـل سلطـــان و

شاه حسين وه د بهرام هوری پرغور ملک يـې کورونـه

(٦٢:٥٤م).

د وطن جدايي:

وطن هر چا ته ګران او خوږ وي، هر څوک غواړي چې په خپل وطن کې خوشحاله ژوند ولري، خو دا چې د انساني ژوند ضرورتونه سړی خپلې رضا او خوښې ته نه پرېږدي؛ نو کله نا کله سړی اړ شي چې خپل ټاټوبی

پرېږدي او جلاوطن شي، چې دا جلاوطني بيا سخته وي او سړی زوروي، ملامست دا درد هم ليدلی دی او ورسره مخ شوی چې تاثر يې د ده په شعر کې ښکاري.

بېلګه:

چې هوس مې له زړه دم په دم کمېږي

څــه په غم لړلی وخت داندوه کال دی

د وطن جدايي سخـــــته ترقيامت ده

مــحمدنبي ص ويلی دامشـــــال دی

(٦١:٦٢م).

د شينوارو او غلجي جوړه: ملامست په يوه شعر کې د شينوارو او غلجيو د جوړې يوه واقعه هم بيان کړې ده، ډېر اهميت ځکه لري؛ چې موږ ته له دې واقعې څخه د هغه وخت د پښتون وطن د خلکو دود او دستور څرګندېږي او د هغه وخت ولسي نرخونه راته معلومېږي، لکه:

دا ساعت مې له زړه لرې غـــم انبول دی

د خـــولې ورمې په فـــرياد درته کول دی

چې غلجې شينواري ورونه هم خويشان وه

پرجهان خبره ګډ شوې بول پر بـــول دی

(٦٢:٦٢م).

د جاهل شخص په باره کې: د جاهل شخص عاقبت ډېر خراب ويني چې په شعر کې يې داسې بيان کړی:

دريـغه غوږ د غافـــــــــــل تاو کړی و مروړلی

چې ويدې چارې ته روغ په ښې رنځور دی اغيړلی

پر دنيا به تل د حرص په ســـــــورلی سور وي

په قيامت به وي مدام په غم لـــــــــــــړلی

د قارون په څېر به ښکته ځي نه پورتـــــــــــه

چې يې کار د دنيا بهتر د دين ګڼـــــــــــلی

(٦٤:٦٢م).

د سلطان محمود غزنوي يادونه: ده په خپل شعر کې د سلطان محمود غزنوي يادونه هم کړې ده، چې بېلګه يې په لاندې ډول ده:

زمـــوږ ښه خدايه غـــني پروردګاره

څه قـــدرت لرې قـــــادره کردګاره

د محمو د غزنوي حشم د سوک کذا

چې لښکرې يې انبوه درلې بې شماره

د خپل قسمت نه شکايت: په خپل شعر کې له خپل قسمت څخه راضي نه دی او شکايت ترې کوي. دی خپل قسمت دومره دردولی، چې ان له خولې د همدې درد چيغې او سورې وتلي دي، دا برخه يې په خپل شعر کې هم بيان کړې ده لکه:

ای زما د قســـمت بـــخرې اويزانـــــــــدې

چـــې هېچرې يې مقام نـــــــــشي لوزاندې

خپل نصاحب په هرچا پسې درومي لکه سيـــوری

ته زما له مخه چېرته ځـــــــــــې د وړاندې

(٦٢:٨١م).

پند او نصيحت: نوموړی په خپل شعر کې خلکو ته د عاجزۍ او کمينۍ نصيحت کوي او ترڅنګ يې دا توکي د ژوند اصل بولي لکه:

هرسړی چې ويـــــــوبل ته عاجزي کا

غني خدای ج به يې مقصود فتح روزي کا

سنګ اهنګ به ورته نرم لـــــکه موم شي

که پر اب د کمينۍ توری نيـــــــــزی کا

(٦٢:٨٥م).

عدل او انصاف: دی وايي چې تاسې بايد له خپلو دوستانو سره انصاف وکړئ، لکه:

په انصا ف دې له دوستانو سره اوسي

له دښنـــو سره دې صـــلحه اميزي کا

په پورته بيت کې د عدل او انصاف تر څنګ د سولې موضوع هم راغلې.

د اخون څالاک مدحه: دی په خپل شعر کې د خپل پير اخون څالاک مدح کوي چې بېلګه يې دا ده:

په عزت اوسې تازه د دين شـــــــهابه

د عالمانود سرتاج يې د غازيانو د مخ ابه

زړه دې صاف تر ايينې اوسه همېشـــه

تاريک مه شه د اخون د مخ مهتـــــابه

(٦٢:٨٧م).

دنيا: دی دا دنيا نيمګړې او فاني يادوي، نورو ته توصيه کوي چې د دې دنيا غم مه خورئ ځکه چې دا نيمګړې ده، د دې په ځای د هغې حقيقي دنيا غم وخورئ چې دايمي ژوند مو پکې دی، لکه:

د صورت ژوندون فنا دی غم يې مه خوره

څه اميد پر دا دنيـا دی غم يې مه خوره

(٦٢:٩٨م).

بدبختي: دی د بدبختۍ په هکله وايي:

های وهوی له هسې بخته چې کوټه شي

هر کالی که سلامـــــــت پيرم ټوټه شي

که پـــه زر روپيـــه اس عراقـــــــي واخلم

هـــغه ســود مې اواره مال مې تروټـه شي

(٦٢:٩٨م).

د واصل روښاني پېژندنه

د واصل ژوند هم لکه د نورو شاعرانو په شان پوره ښکاره نه دی، د ژوند واقعات او حادثات يې په څرګند شکل معلوم نه دي، تل مو هڅه کړې او کوو يې چې د داسې باارزښته شخصيتونو ژوند او پند له دې تيارې څخه را وباسو او څه نا څه يې حق اداکړو، خو په پښتنو ليکوالو کې د هېوادمل صاحب قدردانی ځکه پکار دی، چې په داسې خلکو يې ډېره خواري کړې او ژوند يې ورته له تيارو يو څه څرګند کړی او حق يې ورته ادا کړی دی.

د موضوع د څرګندتيا لپاره دلته د استاد هېوادمل نظر را اخلو: ((که موږ د واصل په باب يادې شوې څېړنې او د ده د دېوان له کتلو او څېړنو داسې څه نشو تر لاسه کولی چې موږ د ده د زوکړې او مړينې نېټه او د ده ټاټوبی او ژوند نور حال ترې معلوم کړو. په دې باب ټولې خبرې په حدسياتو او قراينو متکي دي؛ مګر مخکې له دې چې موږ د واصل په باب نور څه ووايو؛ لازمه ده چې د دې يادونه وکړو، چې موږ په پښتو

فرهنگ کې د واصل په نامه دوه تنه لرو: یو یې واصل متي زی (۱۰۰۷- ۱۰۳۸هـ ق) او بل یې واصل روښاني دی.

د واصل د زوکړې نېټه ښکاره نه ده، خو اټکل کولی شو چې واصل به د دویمې هجري پېړۍ د دویمې نیمایي په ورستیو لسیزو (۹۸۰هـ ق) یا (۹۹۰هـ ق) شاو خوا کې زېږېدلی وي.

د واصل د کورنۍ په باب د ده په دېوان کې لولو:

واصـــل حال د پښتانه په لفظ وایـــي

د نسب اصل یې ځي تر شېخ فریده

یا دا چې:

دا فقیر واصل په اصل شېخ ذاده دی

په ظاهر یې ملاقات شه له بنګښـــــه

په پورته لومړي بیت کې دی خپله د نسب شجره شېخ فریدالدین عطار نیشاپوري ته منسوبوي، خو دا خبره ناسمه ده؛ ځکه چې ځینې خلک د تبرک په خاطر ځان ستانه او بزرګو خلکو پورې تړي.

له دویم بیت څخه یې دا نتیجه په لاس راځي چې دی به بنګښ وي، خو دا نظریه یو څه حقیقت ته نږدې ښکاري او سړی پرې یوې نتیجې ته رسېږي؛ ځکه چې د دوی لهجه د بنګښو خبرو ته ورته ده او د سپین غره د خلکو له لهجې سره یو شان ده، خو بهتره به دا وي چې موږ دا نتیجه له ځانه سره واخلو چې دی به بنګښ وه؛ ځکه چې د ژوند په هکله یې کوم روایتونه چې موجود و هغه هم د بنګښو دي، چې د دې دواړو لهجې هم سره ورته دي؛ نو موږ ته دا نتیجه په لاس راځي چې دی به بنګښ وي.

د واصل د مسلسلې زده کړې په باب باوري اسناد له موږ سره نشته او نه یې لرو، خو دا چې د روښان پیر د مکتبه فکر تابع و، نو ښکاري چې د تصوفي لارې زده کړه به یې د همدې لارې له نورو علماو څخه کړې وي.

د دېوان او نورو اثارو له مطالعې څخه یې څرګندېږي چې دی به د لوړې علمي پایې خاوند شاعر و، واصل په فارسي او عربي ژبو هم ښه پوهېده او د دغو ژبو د اثارو ښه مطالعه یې هم درلوده.

د تصوف په باریکو لارو یې یون کړی او د خدای پېژندنې لپاره یې د خپل پیر طریقت په پیروي یې د وحدت الوجود لاره غوره کړې. د دېوان له مطالعې څخه دا ښکاري چې د هندوستان بېلابېلو سېمو ته یې هم سفرونه کړي دي او د مړینې نیټه یې هم تر اوسه نه ده معلومه، مګر ژوند یې د ځینې اسنادونو له مخې تر (۱۰۵۸هـ ق) پورې یقیني ګڼلی شو.)) (۶:۳۵م).

د واصل شاعري

واصل د شعر ویلو ښه قریحه درلوده، د اشعارو د دېوان تر څنګ ځینې نور منظوم اثار هم لري. د شعر او شاعرۍ هنګامه یې د یوولسمې هجري پېړۍ له پیله د دیارلسمې پېړۍ تر پایه توده وه. په ګرده پښتونخوا تر کندهاره پورې په ادبي حلقو کې ادیبان او شاعران له اشعارو او اثارو سره اشنا وو، د پښتو د ډېرو شاعرانو په دېوانو کې یې یاد پیدا کېږي.

لکه:

(۱) خوشحال خان: د خوشحال بابا په شاعرۍ کې دوه ځایه د ده نوم لیدل کېږي:

د مـــوو په حســـــــــاب دي

هېڅ مې نه دی واصل هېـــــــر

که دولت و، که واصل و، که دا نور

(۹:۳۵م).

(۲) اشرف خان خان هجري: اشرف خان هجري په خپل دېوان کې واصل په دې ډول سره یاد کړی دی:

د واصـــل له شـــعره څه وایمه چا ته

چې زما په حال یې پورې د حال دردي

(۹:۳۵م).

(۳) کاظم خان شیدا: د ده په شعر کې هم د واصل یادونه راغلې چې نمونه یې په دې ډول ده:

یو میرزا دولت واصل هم

ښه کلام لري حاصل هم

(۱۰:۳۵م).

(۴) میرزا حنان: دی د واصل اشعار خواږه بولي او یادونه یې په دې ډول کوي:

بل اخوان میاداد دعشق په میو مست و

ښه شیرین الـــفاظ ویـــلي دي واصـــل

(۱۰:۳۵م).

د واصل د دېوان ځانګړنې

د واصل دېوان د هند د اتراپردیش ایالت د رامسپور په رضا لایبریري لوهارو کولکشن کې د واصل روښاني د دېوان یوه خطي نسخه شته او تر اوسه یې د دېوان د بلې خطي نسخې څرک نه دی ایستل شوی.

دغه نسخه په (١١٨٦هـ ش) کال کې لیکل شوې ده، د پای له خوا بشپړه خو د پیل له خوا ناقصه ده او د الف د ردیف یوازې یوه ناقصه غزله پکې خوندي ده؛ نور ردیفونه یې پوره دي.

د واصل د دېوان منتخبات

د واصل د دېوان منتخبات موږ په دوه برخو ویشلی شو:

الف: خطي منتخبات: د واصل د دېوان خطي منتخبات هېوادمل صاحب په یو جونګ کې یادوي. دا مجموعه د ملا اختر کندهاري بیاض دی، چې ١٠٦ پاڼې لري او په ٦٢ نومره د پښتو ټولنې په کتابتون کې خوندي ده او په دې منتخباتو کې د واصل یوه قصیده او پنځلس غزلې خوندي دي.

ب، چاپي منتخبات: د ملا اختر په بیاض کې د واصل راغلي منتخبات په (١٣٥٣هـ ش) کال کې د پښتو ټولنې له لوري چاپ شو.

دغه منتخبات د فاضل استاد علامه اکاډمیسن رشاد په زیار تهیه شوي دي او د ده یوه عالمانه مقدمه هم ورسره مله ده. ټول مخونه یې ۴۸ دي. (واصل: دوولس)

د ده په ډوان کې غزلې، قصیدې او قصیدې ته ورته غزلې راغلې دي. د غزلو شمېر یې تقریبا (١٥٥) ته رسېږي او په دویمه برخه کې یې قصیدې او قصیدې ته ورته غزلې راغلي، چې شمیر یې تقریبا (١٧) دی او موږ ځکه ورته قصیدې ته ورته غزلې وایو چې دا برخه د غزلونو له کالبه وځي او د قصیدې په کالب کې هم نه راځي ځکه چې د قصیدې په معیار برابرې نه دي نو ځکه موږ ورته قصیده وزمې غزلې وایو.

څلوریزې: د واصل دېوان کې د څلوریزو برخه هم راغلې ده چې شمېر یې (٩٣) ته رسېږي. په یوه روایت کې دغه شمېر ۹۴ ښودل شوې، خو د هېوادمل صاحب په قول دا دقیق شمېر نه دی.

متفرقات: د واصل د دېوان اخیري برخه هېوادمل صاحب د متفرقاتو په نوم سره ثبت کړې، ځکه یې ورته د متفرقاتو نوم ورکړی دی. په دې برخه کې یوه ټوټه قطعه او درې مخمسونه خوندي دي.

د واصل د دېوان شعري فورمونه

د واصل په دېوان کې د عروضي نظمونو یو شمېر کالبونه راغلي دي، چې موږ یې دلته ستاسو مخې ته د نمونې په شکل راوړو. واصل په څو صنفونو کې خپل افکار بیان کړي دي او موږ ته یې په میراث پرېښې دي، چې بیا ځل یادونه به یې ضروري نه وي؛ ځکه چې یو ځل یې مخکې یادونه شوې ده، اوس یې صرف بېلګې را اخلو.

غزل

غزل هغه مشهور او نوموتی فورم دی چې هر شاعریې په کالب کې خپل افکار وراچولي دي او دې خپل ځان لپاره یې د افکارو د ښه او غوره وړاندې کیدو کالب ګڼلی دی چې له دې برخې یو هم واصل روښانی دی چې د خپلې شاعری ډېر زور یې د غزل په برخه کې ازمایلی دی.

بېلګه:

کــه دا خپله مانا بیا مومم صحیـــح

هېڅ اندام مې خالي نه دی له تسبیح

په دا هسې حـــال دراز عالم خبر دی

ظـــاهر نه کـــېږي بې وتره تراویـــح

دي لـــه ډېرې پیـــدایي نه ناپدید شه

د گـــمان سترګې ړندې شوې له توضیح

عـــالمانو د ادب هـــجاب نیولـــی

د عـــارف ورق ســـاده دي لـــه ترجیح

د عـــقلت جـــنازه کـــوزه کړه له سره

زمـــانه وزگـــاره نه ده لـــه مـــسبح

(۳:۳۵م).

قصیده وزمه غزلې او قصیدې

مخکې مو د دېوان په ځانګړنو کې په دې بحث وکړ، چې ولې دې ته قصیده وزمه غزلې وایي؟ اوس به ضرورنه وي چې بیا پرې بحث وکړو، صرف نمونه یې دلته په یو څو بیتونو سره وړاندې کوو، لکه:

د مخلوق له مـــــــنت پاک ګڼه صمد

په خپل زورله هېچا نه غـــــــواړي مدد

هر قدرت یې ګوښې ګوښې کرامـت دی

تر ابـــده په خپل حکم مقیـــــــــــــد

یو صـفت یې تمامي د بل مثـــــال دی

په ګړندر(۳۷۱) شماره نشي دي بیـــــحد

(۸۲:۳۵م).

یا:

څه به وایم د دې دور له صـــــفته

څه صفت کړم د اشنا له مروتـــــه

یا یواځې له دې خپله بخته زارکـړم

یا گیله کړم د فلک له ارادتـــــه

(۸۵:۳۵م).

دا جوړښت قصیده وزمه غزل دی؛ ځکه چې د بیتونو شمېر یې تر اوولس بیتونو پورې رسېږي.

قصیده: د واصل په دېوان کې د قصیدو او قصیدې ته ورته غزلو فرق ډېر کم دی چې موږ یې دلته مثال راوړو:

هــر چې یو سړی انگار شـــــي

عیال درست پسې بیمار شـــــي

ځـــینې دی غواړي ارمـــــان که

څوک د خپـــل صورت په ډارشي

د لســوزان یې کـــــوم علاج کا

مگر خپل عمل یې یارشـــــــي ...

(۹۴:۳۵م).

رباعیات: د واصل په دېوان کې یو شمېر رباعیات هم راغلي دي چې بېلگې یې دا دي:

روغـــــه شوي له نفاقه

د مجازله جفت و طاقه

طالبان یې په فرمان دي

په عــارف پسې مشتاقه

(۹۹:۳۵م).

مخمس: د واصل په دېوان کې د نورو فورمونو تر څنگ یو شمېر مخمسونه هم راغلي دي چې په دې ډول سره دي:

د بهار بلبله خانه دي وخت یې چاغ دی

عمر نلري عجـــــــب ښایسته باغ دی

په دا باغ کې د هرگل په لاس چیراغ دی

لا په تېـــره د لالا د زړگـــــــي داغ دی

د نرګس زېړه پیاله په سپین ورغـــــوي ...

(۱۱۴:۳۵م).

د واصل د شاعرۍ منځپانګه

که چېرته په مقایسوي شکل سره فکر وکړو؛ نو راته معلومه به شي، چې د منځنۍ دورې په لومړي پړاو کې واصل روښاني هغه شاعر دی چې د خپلې شاعرۍ په غېږ کې یې موږ ته هر څه را ډالۍ کړي او پښتو ادب ته یې په موضوعي لحاظ یوه لویه غنا ور په برخه کړې ده ((د واصل د دېوان عمده او اساسي برخه د روښاني تصوف لارې تلقین ته وقف شوي دي او د وحدت الوجود د تصوفي لارې ټولې باریکۍ یې په خپل شعر کې بیان کړي دي.

د روښانۍ تصوف د لارې ټولې ځانګړنې د ده په شعرکې لیدل کېږي او د روښاني تصوف د اتو مقاماتو تشریح یې هم په شعر کې په څرګند شکل سره راغلې ده، همدارنګه په دېوان کې یوه نیمه اخلاقي مسئله، کله نا کله اجتماعي موضوعات، د عشق او محبت خبرې هم په دېوان کې راغلي دي او یو شمېر واقعات یې هم په خپل شعر کې راوړي دي.)) (واصل: دولس، دیارلس مخونه)

دا ځانګړنې به له بېلګو سره یو ځای لاندې راوړو:

دیني مسایل:

زرغونه به شي دا مـــــــړي

بیا به پاڅي لکـــــــه زړي

چې بهار د الهي شـــــــي

زړي څه ښه ځمکه سپـړي

(۱۰۵:۳۵م).

دلته د قیامت د ورځې د قایم کېدلو بیان راغلی دی، خلکو ته د هغې ورځې د برملا کېدلو په هکله د الله ج اراده او کړنه بیانوي، چې د الله ج په ارادې سره به هر څه بیا راژوندي شي او د دې موضوع د لا ښه وضاحت لپاره له ځمکې د زړو د زرغونېدلو کیسه کوي او د عبرت په شکل یې خلکو ته وړاندې کوي، چې دا او دې ته ورته مسایل د ده په شاعرۍ کې په تکرار سره راغلي دي.

په لاندې رباعي کې انسان ته یو بل نوی او په زړه پورې درس ورکوي:

د ادم نامه شریـــــکه

هم روشنه هم تاریکه

د قدرت لویه ریښه ده

څه درنه ګڼه څه سپکه

(۱۰۱:۳۵م).

په دې بیت کې انسان ته دا درس ورکول شوی چې ای انسانه بدتري او بهتري ستا په ختې کې ستا له ژوند سره سمه او د تل لپاره تپل شوې نه ده؛ ځکه چې ته د ټولې نړۍ انسانان وګوره، مختلف ارقام لري، څوک ښه دي او څوک بد، څوک غریب دي، څوک مالدار، څوک عالمان دي، څوک بې علمه.

دا او دې ته ورته نور اوصاف د انسان په لاس ژوند ته راځي او د انسان له پیدایښت سره په یوه انسان لازمي او جبري خبرې نه دي؛ ځکه ټول انسانان له یوه مور او پلار څخه پیداشوي دي توپیر نه لري، خو دا چې درجې او مرتبې یې بدلې دي دا د دوی خواري او کوښښ دی چې بېلابېلو سټېجونو کې قرار لري. موږ باید ژوند ته ناهیلي نه شو او د خپل ژوند د بدلون لپاره کار وکړو؛ تر څو خپل مسوولیت رفع او خپل هدف تر لاسه کړو.

په بل ځای کې دی د انسانو تر منځ د عقل او پوهې په توپیر خبرې کوي او هر څوک د عقل خاوند ګڼي، خو د پوهې له نظره بیا ټول انسانان سره مختلف ګڼي، لکه:

دریاب ډک دی له ماهیانو

چې ګوهر پېژني کـــم دي

(۱۰۱:۳۵م).

دلته له ګوهر څخه هدف ژوند دی، چې موږ الله (ج) ولې پیدا کړي یو؟ د کومې موخې لپاره؟ موږ باید هغه خپل هدف درک کړو او ځان ورته ورسوو؛ ځکه چې دا مو د ژوند اصلي هدف دی. له دې موږ یو بل تعبیر هم اخیستلی شو هغه دا چې د وخت ارزښت باید موږ وپېژنو او اعظمي استفاده ترې وکړو. څوک یې چې نه پېژني هغوی د هغو ماهیانو په څېر دي چې په اوبو کې اوسي او په اوبو کې د غمي او لال په ارزښت نه پوهېږي.

واصل د یقین او باور په هلکه په خپله یوه څلوریزه کې د انسان په ظاهري وجود د باور او اعتماد خبره کوي، دی وایي چې تاسې د انسان په ظاهري وجود مه تېروځئ او دومره ژر پرې باور مه کوی، تاسو ته صرف د انسان بیرونی وجود ښایسته ښکاري. دا ښایست د الله (ج) نعمت دی چې االله (ج) انسان ته ورکړ او انسان یې په دومره ښایسته وجود سره پیدا کړ. دا ښایست د الله (ج) دی؛ نو د انسان په داخل باور کول چې موږ ته هېڅ نه ښکاري یو څه ګران او ستونزمن کار دی؛ نو انسان له داد او معاملې وروسته معلومېږي لکه چې وایي:

د بابا ادم له پښتـــــــــه

د ادم له نامې تښتـــــــه

په صورت يې غلط مه شې

د دې خپله نامه زښتـــــه

(۱۰۳:۳۵م).

دلته هماغې پېښې ته اشاره کوي کومه چې د ادم عليه سلام د اولادونو تر منځ راپېښه شوې وه او دی هماغه مشکل د انسانيت لپاره د مشکلاتو او ناخوالو د پيدا کولو پيل ګڼي.

د قيامت د علامو بيان: دی په خپل کلام کې د قيامت د ورځې علايم هم ذکر کوي لکه چې وايي:

بل نښان د قيامت دا شي

چې په خواب واړه فنا شي

روښنـــايي يې حياتي دي

په هر چا باندې سبـا شي

(۱۰۵:۳۵م).

موږ که چېرته په پوره دقت سره ځير شو؛ نو د دې ديني موضوع بيان موږ ته د ده لوړ علمي شخصيت را په ګوته کوي؛ ځکه چې په داسې مسايلو بحث د هر چا د وس کار نه دی. دلته د شعر په ژبه د قيامت دوه لوی علامات چې عبارت دي له: د مړو بيا ژوندي کېدل او ټول بشريت له مړينې څخه بيانوو:

د الله ج ستاينه بيانول: دی په خپل يوه څلوريزه کې د الله ج ثنا په دې شکل بيانوي:

د بنـــده نامه جوازه

د بـــنده ګي لپار سازه

زه دلـی بانې بنده يم

زه محتاج يم ته بې نيازه

(۱۰۷:۳۵م).

بې نيازي د الله (ج) لوی او ستر صفت دی او بنده به تل د خپل رب محتاج وي.

د الله (ج) د رضايت او توکل په هکله: په دې اړه دی داسې نظر لري چې د الله (ج) رضا د هغه په تابعداري کې ده او په الله (ج) توکل مو په کار کې کاميابي په برخه کوي، لکه چې دی په خپله په دې اړه وايي:

ای بنـده په ما ريښتينی توکل کـــړه

يو يـوازې زما يادو ورسره مـــــل کړه

که زما و مصلحتو تـــــــه نظر کړې

ابندا د هرې چارې په خپل محل کړه

چې پخپله رضا تښتي پسې مه ځـــه

چې زما په رضا ورشي سړی ښکل کړه

د خپل ځان تر رضا تېر شه مابه مومې

که در څخه پټ وم نوم مې غل کـړه

(۸۵:۳۵م).

په دې بیتونو کې شاعر وایي چې موږ باید په ژوند کې د هغه چا لاره تعقیب کړو، چې خپل ټول کارونه یې د الله (ج) په خوښه سره وي او د الله (ج)د لارې صحیح لاروی وي.

د صو فیانو د اصلي جوهر د څرګندولو خبره یې په پوره وضاحت سره کړې ده او د صوفي او ذاهد فرق ترې ښه څرګندېږي؛ نو ځکه چې د صوفي اصلي موخه او هدف د الله (ج) دیدار وي او د ذاهد د جنت تمه لري لکه چې دی وایي:

په نعمت کې بهترین دیار دیدار دی

وجـنت و ته به درومـــــــمه له نازه

د هماغه وخت د یوې مهمې تاریخي واقعې بیانول چې لوړ تاریخي اهمیت لري او ده په خپل دېوان کې بیان کړي، بېلګه یې دا ده:

شریفي ختک له خپله ســره تېرشه

د مـــالو شه د تـــــــــمام عمر چلن

ختک واړه په ساړه په غارمه ستېږي

له خواري یې نغن مه شه پیـــړ پلن

د بنګښ دمغل لاس رسیدی نه شي

په طالع د غریبانو شه رهـــــــزن

(۱۳:۳۵م).

د واصل په دېوان کې د مرثیو برخه هم راغلې لکه لاندې مرثیه چې د کمال خان په باب ویل شوې ده:

چې دا لوی سفر په نیت د کمال خان شه

د صـــــــحبت دور باقي او بې نشان شه (واصل:دیارلس)

د ده په دېوان کې یو شمېر اوږدې مناظرې هم راغلي دي چې شکل یې دا دی:

شاه طوطی ویل بلبله څه بهر غواړې له ګله

د ګل څانګه مېوه نه کا واړه رنځ و حبطه ده

اول مرد ویل اورتې زړه مې رېږدي له هیبته

دادم نبي پسرکه څـــــه پوه په دي نعت و

کینه او حسد: دی کینه او حسد د حیواناتو کار ګڼي او د انسان لپاره یې کول ډېر بد ګڼي لکه:

محمد یې له غیرته فراغت دي

د حسد په اتش سوځي بولهب (واصل: ۳مخ)

مینه او محبت: دی مینه او محبت د انساني ژوند اصلي جوهر ګڼي او د انسان تر ټولو ستر صفت یې بولي، لکه:

محبت یې د انسان په بخره کېښود

حیواناتو اشنایـــــي زده یا نسب (واصل:۳مخ)

ناپوهي: دی ناپوهي او بې علمي د خپل ځان عذاب ګڼي او وایي چې ناپوه خلک تل له خپله ژونده رنځ وړي لکه:

د دولت لوانې لنډه پېژندنه

دولت لوانی د منځنۍ دورې یو مشهور شاعر دی، د پیرروښان د مسلک یو کلک مرید و، چې د تصوف مسلک ته یې د شعر په ژبه خدمت کړی او دغه سیر یې یو څه غني کړی، لکه څنګه چې د دې دورې د نورو شاعرانو د ژوند په هکله کره او دقیق معلومات نشته، نو دی هم له دې باده په امن کې نه دی پاتې شوی او د ژوند په هکله یې دقیق اسناد نه لرو، خو د ژوند پېښې یې په دېوان کې په دې ډول راغلي دي: دغه عروضي شاعر چې د روښاني تحریک له غښتلو مبلغینو او تکړه طرفدرانو څخه و، د پلارنوم یې داد الله، دولت الله حسین خیل لوانی دی او مور یې وردګه وه.

مشهور انګریز ختیځ پوه میجرراورټي هندو مسلمان بللی دی، چې علت به یې دا وي چې ده له خپل نوم سره د شېخ کلمه څو ځایه راوړې ده. په هغه وخت کې به د شېخ کلمه چې د چا نوم سره استعمال شوه؛ نو هغه به یې هندو مسلمان باله. د دولت له نامه سره ځای - ځای د مسکین کلمه هم راوړې ده چې دغه کلمه به د هغه وخت خلکو د عاجزۍ لپاره استعمالوله او ځانونه به یې عاجز او متواضع بلل.

د زوکړې کال هم په دقیق ډول څرګند نه دی او داسې کومه ټاکلې نېټه نشته چې موږ یې په دقیق ډول انتخاب کړو، خو د ځینو اسنادو له مخې یې د زوکړې کال د(۹۵۵هـ ق) او د (۹٦۰هـ ق) کلونو تر منځ

ټاکلی شو، چې ټول عمر یې تقریبا څو شپېته کاله تحمینېږي او خوشحال په معاصرو شاعرانو کې هم راوړی دی. د مرګ نېټه یې نه ده څرګنده، خو دومره ویلی شو چې ژوند یې تر (۱۰۸۵هـ ق) پورې یقیني دی.

له یو شمېر بیتونو څخه ښکاري چې د پیرروښان له روزنې څخه مستقیم فیض موندلی دی.

د اوسېدو ټاټوبی رشیداباد ښودلی دی، چې له لاندې بیتونو څخه یې موږ یو سند په لاس لرلی شو:

په رشیداباد به عیدشي که یو ځل بیـــا

د دکن په سفر تللي یاران راشـــــــي

د قادر په قدرت هېڅ مشکلات نه دي

چې رشیداباد ودان و هسې بیا شـــــي

(۱۹:۵۹م).

دی د یوې خالصې او پاکې عقیدې خاوند و، په اشعارو کې یې له قران او حدیث سره مینه له ورایه څرګنده ده، د بېلګو په راوړلو سره به یې په خپل ځای کې ولولو(۲۱:۵۹م).

د دولت لوانې شاعري

دولت د منځنۍ دورې د لومړي پړاو یو ویښ او بیدار شاعر و. د ده د شاعرۍ رنګ تصوفي و او په ټوله کې یې دې مسلک ته د زړه له تله خدمت کړی دی. شاعري یې په بېلابېلو فورمونو کې تر موږ رارسېدلې ده لکه: غزل، قصیده، رباعي او داسې نور چې تر ټولو مشهور یې غزل دی. ډېره شاعري هم په همدې فورم کې موږ ته راپاتې ده. په اشعارو کې یې د تصوف رنګ بارز دی، خو تر څنګ یې نور اجتماعي او دیني موضوعات هم شته.

د شاعرۍ روح یې د وحدت او یقین تبلیغ او د شرک او ګمان غندنه ده:

د توحید وینا مې شوه په زړه نزوله

مبرا ده له الـــــهاد هم له حلوله

(۳۰:۵۹م).

دغه راز د روښانیانو یقین د ایمان په قوت سره عیان لیده دي، عارف چې د توحید مقام ته ورسي هرې خوا ته چې وګوري د (فاینما تولو فثم وجه الله) ورته ښکاري. (دولت: ۲۶،۲۷مخونه)

د دولت لوانې د دېوان ځانګړتیا

دولت لوانی یو دېوان لري چې موږ یې خوشبختانه اوس په لاس کې لرو او په دې دېوان کې د ژوند په اړه په زړه پورې درسونه راغلي دي، چې د دې سربېره د تصوف مسلک پکې په ښه شکل سره بیان شوی دی.

د دولت لوانې دېوان چې له دوو دفترونو څخه جوړ دی، په لومړي وار د پښتو ټولنې له لوري چاپ شو. دغه چاپي دېوان (۳۸۳)غزلې، (۳٦)قصیدې، (۱۱۱)رباعیات او (۳)مثنوي ګانې لري.

دغه دېوان د هغې واحدې نسخې له مخې چاپ شوی چې ډېر کلونه د پښتو ټولنې په کتابتون کې خوندي و. بیا یې د مطبوعاتو په کتابتون او د عامه کتابخانې په قلمي پانګې پورې اړه درلوده. د دولت دېوان یوه بله قلمي نسخه په (۴۲۲۸) ګڼه په بریټېش موزیم کې ساتلې ده، دا نسخه د خوشحال تر مړینې یو کال وروسته انتقال شوې ده. د دولت د دېوان دوه نورې قلمي نسخې د هندوستان د رامپور په رضالایبرایري کې هم شته(۲۳:۵۹م).

د دولت د شاعرۍ فورمونه

دولت د عروضي نظمونو په یو څو فورمونو کې خپل قلم ازمایلی دی او موږ ته یې خپل فکر او تجربې په میراث را پرېښې دي چې تر ټولو ډېره شاعري یې د غزل په فورم کې کړې ده، چې بېلګه به یې راوړل شي.

د دولت لوانې دېوان چې له دوو دفترونو څخه جوړ دی، په لومړي وار د پښتو ټولنې له لوري چاپ شو. دغه چاپي دېوان (۳۸۳)غزلې، (۳٦)قصیدې، (۱۱۱)رباعیات او (۳)مثنوي ګانې لري.

غزل

په هرکـــــار خیر دما راکه توفیق تا

مستقیم دې راته سم وښو د طریق تا

له اوله یې ایـــــمان په رسول وروړ

چې قوت د یقـــین ورکړ د صدیق تا

حقیقت د اشیا کـــل ورته ښکاره شو

چـــې د رحم نظر وکـــــه په شفیق تا

(۱۷۳:۵۹م).

د دولت د غزلو د بیتونو شمېر په اکثرو کې (۱۱) وي چې د دې بیتونو په وزن کې بیا فرق شته ټول غزلونه یې په یو ډول وزن کې نه دي ویل شوي.

قصیدې

له غزلونو وروسته یې د قصیدې فورم هم څه شاته پاتې نه دی او تر ډېره حده په ټولنیزو موضوعاتو هم راڅرخي چې بېلګه یې په لاندې ډول ده:

اول صفت به کـــــــوم له بېچګونه

چې پیدایې کړل هژده هـــــزار قامونه

دواړه کونه د نیستۍ په وجـــــود وو

په قدرت یې کـړل څرګند له کاف نونه

پر انګشت د ارادات یې اشارت کـــه

په ګردش یې کړل بې پښو نه اسمانونه

(۵۸:۵۹م).

د دولت دېوان کې د قصیدو شمېر (۳٦) دی او د نورو موضوعاتو تر څنګ یې د الله ج ثنا او ستاینه هم په ښکلي رنګ سره بیان کړې ده.

رباعیات

له قصیدې وروسته د دولت په دېوان کې د رباعیاتو شمېر هم زیات دی چې شمېر یې تقریبا (۱۱۱) رسېږي، بېلګه یې په لاندې ډول ده:

خو د یو حق دی بازي کانه دي

پـورته ښکته وروسته وړانـدې

چـې ان محوه که په ده کـــې

صـــــدر حمت په هغه بانـــدې

(۵۱۰:۵۹م).

څلوریزو کې هم دې ژوند په اړه ښه او با فایده مفاهیم وړاندې شوي دي، چې دلته به یې له بحثه تېرشو، ځکه چې په خپل وخت کې به پرې بحث وشي.

مثنوي

دولت د مثنوي په فورم کې هم شاعري کړې ده، بېلګه به یې په لاندې ډول ده:

ای کریم رحیم رحـــمانه

ای قدیمه بـــې نقـــصانه

ای خالق د خـــــلایق ته

ای د هـــر مرزوق رازق ته

د دولت لوانې د شعر محتوا

د دولت په شعر کې د نورو روښاني شاعرانو په څېر اساسي موضوع تصوف ده، خو له دې سربېره په نورو ټولنیزو موضوعاتو هم په زړه پورې بحث لري. په اشعارو کې د نورو ټولو موضوعاتو سربېره د الله ج ستاینه په ډېر لوړ شکل بیان کړې ده، چې د رب دغه ستاینه یې په کلام کې خورا بارزه ده. موږ یې دلته په کلام کې په ټولو برخو کامل بحث لرو او په ترتیب سره به یې دلته د اشعارو په ټولو برخو کامل بحث وکړو.

د الله ج ستاینه

د ده په کلام کې د الله(ج) ستاینه بیان شوې ده، دلته یې د بېلګې په توګه څو بیتونه راوړو:

ای کریم رحیم رحمانه

ای قدیمه بې نقصـــانه

ای خالق د خلایق تـــه

ای د هر مرزوق رازق ته

(۵۹:۵۱۷م).

په دې مثنوي کې د الله (ج) صفات په ترتیب سره بیان شوي لکه:(رحیم، رحمان، کریم) او داسې نور صفات چې د موضوع د اوږدوالي لپاره دلته نور تر بحث لاندې نه نیسو.

ده په خپل کلام کې عبادت په دې ډول سره تعریف کړی دی:

عبـــادت د زړه صافي صدق اخلاص دی

نه چې ډېر د کوم سجود فضل لمونځونه

(۵۹:٦۵م).

دی وایي چې د عبادت اصل د زړه صافي او صداقت دی، همدا یې اصلي او اساسي تومنه ده.

انسان ته الله (ج) لوړه درجه ورکړې او په لوړ نظر ورته په ټولو دینونو کې کتل شوي دي. دولت د انسان په هکله داسې نظر لري:

د دې ځمکې پر مخ گـــــوره

زنه ده سر په څو څو شان دی

مخلـــوقات یې ډېر پیدا کـــړه

بهـــترین پکې انســـان دی

(۵۹:۷۰م).

دی وايي کله چې الله (ج) ټول مخلوقات پيدا کړل؛ نو په دې کې يې انسان غوره او بهتر پيدا کړ، دا د انسان ارزښت و، چې ټول مخلوقات يې ورته تابع کړل.

دی نفس د روح دښمن ګڼي، لکه په دې بيتونو کې:

نفس ناقص د روح دښــمن دی

د ده حب له شقـــــــــــاوته

څه خودي کړې څه لويي کړې

د اومـــــــوو خـــاورو صــورته

(۷۹:۵۹م).

وايي چې نفس د انسان د روح دښمن دی او د نفس کار بې لارې کول دي. وايي چې ای انسانه! ته ولې خودي کړې ستا اصل او بنياد خاوره ده.

دی د بې عمله عالم په باره کې وايي:

چـــې عمل علم يې نه وي

صورت هېڅ دې بې سيرته

مثال ګل دی بوی يې نشته

شايسته بې ښه خصلـــــته

(۸۱:۵۹م).

پورته بيتونو کې دا واضيح شوي، چې بې عمله علم داسې مثال لري لکه ګل چې ډېر ښايسته وي او بوی دې ونه لري.

کم همته او نادان انسان ته وايي:

کم همت نادان په رزق پسې پرېشان دی

په رازق اعتقاد نه کا بې يقـــــــين شه

(۱۱۵:۵۹م).

دولت وايي چې نادان او بې همته خلک تل د الله (ج) په رحم اعتقا نه کوي او تل د شک په بېړۍ کې سپاري وي، انسان بايد همېشه د الله تعالی له دربار څخه خپل اميد پرې نه کړي.

عشق

دولت لوانی وايي چې عشق د ژوند اساس دی. هر انسان ته د عشق ضرورت دی، موږ بايد حقيقي عشق په خپل ژوند کې وکړو. دی هم د همدې حقيقي عشق پتنګ دی، حقيقي عشق د ژوند اساسي جوهر ګڼي، په هکله يې دی داسې وايي:

دلربا که و عاشـــــــق ته مخ عيان کا

شب وروځ به يې په ځان پسې ګريان کا

عاشقان د محبت په تير ويشـــــــتلي

درد يې لاپسې زياتېږي څـــو درمان کا

(۱۱۹:۵۹م).

د کبر او غرور په هکله وايي:

نا اهل کم ادب سړی دی کمـــــين

هر چې بې تا کبر لويي کا په مـــال

حسب او نسب به پس له مرګه نوي

وي د هرچا قدر په قيمت په خصال

کبر او لويي د انسان د عزت زاوال دی، هر هغه انسان چې د مال او نسب په واسطې سره ځان له نورو خلکو څخه لوړ ګڼي. دی د الله (ج) په وړاندې هېڅ ارزښت نه لري او د الله (ج) کبرجن انسان نه خوښېږي؛ نو درس پکې دا دی چې انسان بايد له کبر او لويي څخه ځان وساتي.

تصوفي اصطلاحات

د ده په اثارو کې تصوفي اصطلاحات په تکراري ډول سره راغلي دي چې موږ يې د بېلګې په توګه يو څو نمونې دلته راوړو:

پر عـــارف تجلا وشـــوه

د خپل زړه له کوه طوره

(۱۵۵:۵۹م).

دلته په دې بيت کې د(تجلا، عارف او کوه طور)داسې کلمې دي چې په تصوف کې ځانته مانا لري.

جاهل

دولت لوانی د جاهل په هکله داسې نظر لري:

جاهل عمرگرانبها په غفلت تېر که

نه يې قدر د علما نه د مکتب زده

(٦٢٢:٥٩م).

د جاهل په هکله داسې وايي: جاهل هغه څوک دی چې نه د خپل قيمتي وخت په ارزښت پوهېږي او نه د علماوو په ارزښت، ځکه چې څوک د علم په ارزښت نه پوهېږي؛ نو د عالم په ارزښت به څه پوه شي او دا يې د بې علمه خلکو صفت بللی دی.

د علم ارزښت

دی د نورو موضوعاتو تر څنګ د علم د ارزښت په هکله هم ښه بحث لري، چې موږ يې دلته نظر راخلو:

يو سړی تل بهتر شـــــــي

په دانـش علم هنر ډېـــــر

نه هغه شجر خوښېـــــږي

چې پـرې پورې وي ثمر ډېر

(٢٩٠:٥٩م).

دی وايي چې د يوه سړي ښايست په علم او هنر کې دی، وايي خلک هغه ونه خوښوي کومه چې ډېره مېوه نيسي او تل په ميوه پټه وي، نو دلته له مېوه دارې ونې څخه هدف عالم دی.

د مور او پلار رضا

د مور او پلار رضا د يوه انسان لپاره ډېره مهمه ده، بايد د ژوند په ټولو چارو کې د مور او پلار په خوښه او رضا سره مخکې لاړ شو او په هر وخت کې د هغوی مشورې ته غوږ ونيسو او په خبره يې عمل وکړو؛ ځکه چې دوی د ژوند په اړه پوره او کافي تجربه لري، هره پرېکړه يې د راتلونکی لپاره کار کوي چې دلته يې بېلګه راوړو:

چې بې امره د استاد يا د پـــلار مور ولاړ

هغه زويه خوار عاصي شو ژر په ګور ولاړ

(٣٠٤:٥٩م).

وايي چې چا د مور او پلار خبره ونه منله، هم به په دې دنيا خوار شي او هم به په هغې دنيا د الله ج له لوري جزا ورکړل شي؛ نو موږ بايد د ژوند په هر پړاو کې د مور او پلار په رضا پسې لاړشو.

دېوان کې د صبر او قناعت په هکله راغلي:

خدای عزیز که سړی هاله

چـــې د قنــاعت ګنج ورکاه

چې بې قناعت شي خوار دی

ګرځــي طمع در په درکـــه

(۳۴۴:۵۹م).

صبر د یوه انسان لپاره ښه صفت دی، هر انسان باید په ځان کې دغه ماده پیدا کړي. دی وایي چې څوک الله (ج) ته نږدې وي؛ نو الله (ج) ورته دغه صفت ورکوي. د دې تر څنګ څوک چې د ژوند په چارو کې په خپل قسمت باندې صبر ونه کړي؛ نو دی به ټول عمر په خوار او خراب ژوند کې ګرفتار وي او د ژوند چارې به یې سمې نه وي.

د نبي کریم(ص) ستاینه

ده په خپل کلام کې د خوږ نبي کریم (ص) صفت په دې توګه کړی دی:

محمد نبي امـــــــین دی

راست خاتم المرسلین دی

چـې باور یې پر ده نشـــته

د هــغه مقام سجـــین دی

(۵۱۱:۵۹م).

د رسول الله (ص) د معجزاتو بیان

ده په خپل کلام کې د خوږ رسول (ص) د معجزاتو بیان په داسې شکل کړی دی، چې ذهن پرې ښه خلاصېږي او دغه برخه یې په یوه مثنوي کې په پوره وضاحت سره بیان کړې دي چې بېلګه یې په دې ډول ده:

دی داعــي د کل زرات و

دعوات خوان د حشرات و

چې یې ګواه د معجزات و

بزغاله سو سمار حصات و

(۵۳۵:۵۹م).

د میرزا خان انصاري پېژندنه

میرزاخان انصاري د پښتو ادبیاتو د منځنۍ دورې د لومړۍ برخې د لومړي قطار د لومړۍ درجې شاعر دی، چې په پښتو ادب کې د تصوف او سلوک لوی علم بردارګڼل شوی دی او د وحدت الوجود د فلسفې کلک روښانونکی متصوف شاعر دی. میرزا د پښتو شاعري د عربي او پارسي په عروضو برابره کړه او هم یې د خپل نیکه بایزیدروښان افکار او خیالات په خوږه ژبه د اشعارو په څپو کې تبلیغ، پیروي او څرګند کړل.

د ژوند نېټه یې دقیقه نه ده معلومه او د نورو روښاني شاعرانو په څېر یې ژوند پوره روښانه نه دی، خو بیا هم د ده په هکله بېلابېلو خلکو خپل نظرونه څرګند کړي دي، چې ځینې یې د بېلګې په توګه دلته را اخلو: میرزاخان د نورالدین زوی د پیرروښان لمسی او په قوم اورمړ دی، چې تر (۱۰۴۴هـ ق) پورې یې ژوند یقیني دی.

میرزا خان د دکن جنګ ته ولېږل شو، رشید خان او نور خپلوان یې هم ورسره وو، ډېر لوی جنګ وشو چې میرزا خان پکې له خپل زوی عبدالحکیم سره د شهادت درجه وموندله، کله چې جنګ خلاص شو؛ نو میرزا خان او عبدالحکیم هلته ښخ کړای شول، خو یو کال وروسته یې هډوکي له دکنه شمس اباد ته راوړل شول. دغه پېښه د ده هم عصر دولت لواڼي هم په خپل شعر کې انځور کړې ده، د بېلګې په توګه یې دلته هغه بېت راوړو چې د پېښې نېټه پکې راغلې ده:

د دکن په جنګ شهید شو خوشنود اوسه

پــه تــاریخ د زرخــلوېښت د ده ګـــذر و

(۷٦:۳٦م).

د دولت له دې بیت څخه په ډاګه معلومېږي، چې دی د دکن په جنګ کې شهید شوی او همدغه (۱۰۴۰هـ ق) یې د مرګ نېټه ده. (۷٦:۳٦م).

یو شمېر نورو لیکوالو هم د میرزا خان په اړه نظرونه ورکړي دي چې تقریباً سره ورته دي، کوم خاص او ډېر توپیرسره نه لري، چې په همدې لحاظ یې موږ هم له راوړلو تېرېږو.

د میرزا خان انصاري شاعري

میرزا خان انصاري د منځنۍ دورې د لومړي پړاو یو په زړه پورې شاعر و، لکه څنګه چې د دې دورې د شاعرانو د شعر لومړنۍ ځانګړنه تصوف او عرفان و؛ نو دی هم له دې تاثیره خالي او بې اغېزې نه دی پاتې شوی او په ده یې هم پوره تاثیر کړی دی، په شعر کې یې د همدې علت په رڼا کې د تصوف رنګ غالب دی.

د ده په شعر کې لوی لوی مفاهیم راغلي دي چې همدې مفاهیمو دی د بحث وړ وګرځوه. په خارج او داخل کې یې د خلکو په خولو کې مطرح کړ او په هکله یې خپل نظرونه څرګند کړل، دلته یې د شاعري په هکله د یو شمېر لیکوالو نظرونه را اخلو:

دولت: دولت یې هم عصر دی، له ده بغیر د بل چا صفت نه کوي او دی د تصوف کان بولي او په دې برخه کې ورته د استادی په سترګه ګوري:

بــې میرزا بې ارزاني بې مخــلص یاره

بل شاعر برابر نه دی پښتون ستایـــو

(۳٦:۷۸م).

اشرف خان هجري: دی د میرزا خان شعر د پښتو ژبې د غوره شاعرانو په ډله کې یوغوره شاعر او د شاعرانو شمله او افسر یې بولي:

امیران د شعر ډېر دي په دا دور

میـــرزا شعر تر هــمو د میرزا دی

شاعــران د پښتو ګویا څهر دي

د میرزا شعر شمله پکې افسر دی

(۳٦:۷۹م).

ده په خپلو شعرونو کې د روښانیانو مفکوره بیان کړې او په مکمله توګه یې دا نظریه او لاره تشریح کړې ده. د ده په هکله یو بل عالم شوروي ګریس داسې وایي: ((ده په پښتو ادب کې د لومړي ځل لپاره د عربي ژبې عروضي سېستم رواج کړ او په عربي ابحارو یې قصیدې، رباعي، قطعې، مثنوي، غزلې او نور اشعار وویل، همدارنګه میرزا خان او د ده شاګردانو هڅه کړې ده، چې په پښتو ادبیاتو کې عروضي سېستم ته پراختیا ورکړي او غوښتل یې چې پښتو ادب له دې لارې غني کړي.))((ادب تاریخ منځنۍ دوره زېور:۸۰ مخ)

میرزاخان د تصوف د مکتب (وحدت الوجود) د مسلک په اساس شاعري کړې ده.

د میرزا خان د دېوان ځانګړتیا

میرزا خان د اشعارو یو دېوان لري او له دېوان پرته د نورو اثارو په هکله یې معلومات نشته. د دېوان قلمي نسخې په لندن، پېښور، پخواني شوروي اتحاد(روسې) او کابل کې موندل شوې دي، چې دوه نسخې یې په لندن دوه نسخې د پښتو ټولنې په کتابتون کې، دوه نسخې یې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خطي نسخو په کتابتون کې، یوه نسخه د بېنوا په ځانګړي کتابتون او یوه نسخه پېښور موزیم کې ده. همدارنګه له قلمي

دېوان څخه یو شمېر شعرونه په(پښتو منتخباتو)، (جمن ښېنظیر) او (گلشن روه) کې د دوی د خوښې په اساس راوړل شوي دي.

د میرزا دېوان د (دېوان میرزا هد محشي افغاني) په نامه د کندهار د تاجرانو ملا جان محمد او ملابسم الله له خوا په (۱۳۳۴هـ ق) کال لاهور، په (۱۹۵۹م) کال د همېش خلیل په سریزه، څېړنه او زیار سره په پېښور او په (۱۳۵۴) کال د پښتو ټولنې له خوا د دوست په زیار سره چاپ شوی دی.

د میرزا په دېوان کې الف نامې، غزلې، قصیدې، قطعې، مخمسونه او د شعر نور فورمونه راغلي دي(۷٦:۳٦م).

هغه قلمي نسخې چې دوست ترې په (۱۳۵۴) کال دېوان چاپ ته چمتو کړی دی دا دي:

۱- ((د پښتو ټولنې قلمي نسخه: دغه نسخه چې د پښتو ټولنې په کتابتون کې موجوده ده په روښاني لیکدود لیکل شوې او په لومړي مخ یې (دېوان یې مرزا افغاني) لیکل شوی او د نسخې په پای کې یې د نسخې ناقل خپل ځان معرفي کړی دی، چې معرفت یې په دې ډول دی (تمت میرزا افغاني... به دستخط فقیر حقیر پراز تقصیر ملاشاه محمد ولد مرحوم المغفور ملا دادمحمد ولد ملاشاه مراد قوم خوگیانې ساکن ارغستان تحریر یوم دوشنبه شهر ربیع الثاني سنه (۱۳۲۷هـ ق).

۲- د میرزا خان انصاري د اشعارو لومړي ځل چاپ شوې مجموعه:

دغه نسخه چې د (دېوان میر زاهد افغاني محشي) په نامه یاده شوې او د کندهار ښار د کتابونو د تاجرانو ملاجان محمد او ملا بسم الله له خوا د لاهور په اسلامیه مطبعه په (۱۳۳۴هـ ق) کال کې چاپ شوې ده او په دغه نسخه کې هم د روښاني لیکدود بشپړ مراعت شوی دی.

۳- د میرزا خان انصاري دېوان د همېش خلیل له خوا خپرونه:

دا کتاب په (۱۹۱۹م) کال پېښور کې چاپ شوی او موږ یې د ده په نامه یادوو.

۴- نیمگړي نسخه:

دا یوه داسې نسخه ده چې سر او پای یې نه دی معلوم، ډېره پخوا لیکل شوې، لیکوال او د چاپ کال یې هم معلوم نه دی. د روښاني الفبا مرعات پکې شوی نه دی او ټول (۲۲) پاڼې کېږي.

۵- لرغوني نسخه:

دا نسخه په نږدې وختونو کې د پښتو ټولنې کتابخانې ته رسېدلې ده او د چاپ نېټه یې هم (۱۰۸۳هـ ق) اټکل شوې ده، بشپړه ده او د روښاني الفبا بشپړ مرعات پکې شوې دی.

٦: خرستوماتی:

دا د یوه لوی کتاب نوم دی چې په (۱۸۴۷م) کال کې د پښتو نامتو محقق برنارد دورن په پترگراد کې له انگلسي مقدمې سره چاپ کړی دی.

۷- د کابل د عامه کتابخانې (بشپړه نسخه):

دا نسخه چې ډېره پخوانۍ نه ښکاري په (۲۴۰) مخونو کې لیکل شوې ده، د سر له پلوه تر (۵۳) مخه پورې چینجیو خوړلې ده او سمه استفاده ترې نه شي کېدای، خو وروسته بېخي بشپړه او داسې شعرونه لري چې په نورو نسخو کې بېخي نشته، له یوې خوا د دې نسخې لیکدود بېخي ناسم او له بله پلوه داسې شعرونه په دې کې شته چې په نورو کې نشته.

د دې نسخې لیکونکی ځان په یوه شعر کې ملا لعل محمد معرفي کړی، د صاحب جان نومي سړي چې په ختې نورزی دی په سپارښتنه لیکلې ده، خو د نسخې د لیکلو نېټه او ځای معلوم نه دی.

۸- د کابل عامه کتابخانې د خطي نسخو په څانگه کې نیمگړې نسخه:

دغه نسخه چې د چاپ او لیکلو وخت یې نه دی څرگند، همدارنگه د نسخې پیل او پای هم نشته او نیمگړې ده. دا ټول (۱۳۰) گډوډ مخونه لري.)) (انصاري:څلورم،پنځم مخونه)

د میرزاخان په دېوان کې شعري فورمونه

میرزا خان انصاري د عروضي نظمونو په څو بېلابېلو فورمونو کې خپل قلم ازمایلی دی چې عبارت دي له: غزل، قصیده، مخمس، قطعه او داسې نور فورمونه هم د ده په شاعرۍ کې لیدل کېږي، چې د ټولو شمېر پورته ذکر شوی، مگر دلته به یې بېلگې راوړو:

الف نامه

دا هغه فورم دی چې د میرزا خان د دېوان پیل پرې شوی دی، بېلگه یې دا ده:

الف اول خړه وحدت دی

نن راغلی پرې کثرت دی

ب بـــاور په دا کـــلام کړه

تـــه دوم فکـــرحـرام کړه

قصیدې

انصاري قصیدې په فورم کې هم ډېره شاعري کړې او په دې برخه کې یې درانه درانه مطلبونه موږ ته په میراث پرایښي دي، چې موږ یې د بېلگې په توگه دلته یو څو بېتونه راوړو:

دی قادر دی چې قدرت کا

هره چاره په خپل قوت کا

د رسول نور يې پيدا کـــړ

بيا له ځان نه محبت کـــا

(۱۹:۵م).

غزل

په دې فورم کې يې هم تقريباً ډېره شاعري کړې ده، چې د شاعرۍ درنه برخه يې هم همدغه برخه جوړوي، بېلګه يې په دې ډول ده:

ابتـــدا شـــوه پـــه پښـــتو د حـــق ثنـــا

ښـــه ثنـــا پـــه عنايـــت د ربنـــــا

کـــه توفيـــق د کننـــه ده يـــې رفيـــق نـــه وي

د بـــاقي تعريـــف پســـو وايـــي فنـــــا

(۵۳:۵م).

مخمس

دغه فورم يې په دېوان کې ډېر کم تر سترګو کېږي بېلګه يې دا ده:

دا پيغام د پېغمبر دی

لکه شمع منـــــور دی

پيدا کړی يې شجر دی

چې فاني ظاهر بشر دی

په فاني دی څه باور دی

(۲۵۵:۵م).

د ميرزا خان د اشعارو محتوا

لکه څنګه چې د مخه په پېژندنه کې په دې بحث وشو چې ميرزا څوک او څه ډول شخص و، نو هلته به يوه خبره ډېره مخې ته راتله چې هغه به د (تصوفي شاعر) نوم و، دغه نوم مو ورته ځکه ورکړی دی چې ده په خپلو اشعارو کې تصوف په مسلکي توګه داخل کړ، له دې سره د ده شعر ډېرې او مختلفې معناوې لري چې په دې اړه دی پخپله وايي:

د ميرزا کلام رموز دی

او معنا يې په څو بابه

(٨٦:٣٦م).

د ده په شعر کې ځینې موضوعات په ښه او دقیق ډول څېړل شوي، چې موږ یې دلته بېلګې راوړو:

عشق

دا یوه درنه ده مسله ده، خلک ترې زیات او مختلف تعبیرونه اخلي، دی یې په ډېر ساده او روان شکل سره بیانوي او دی یې له مجازه د حقیقت په بېړۍ کې سپروي، په هلکه یې دی داسې وایي:

کل جهان له محبـــــته پیداشوی

دا رېښتینی عشق د کل جهان ابا

(٥٧:٥م).

دی عشق د کل جهان ابا بولي او په دې باور دی چې د هر څه اساس حقیقي عشق دی. بغیر له دې څخه حقیقت او هدف ته ځان رسول ناشوني دي. عشق د زړه بې اندازې زیات میلان دی او دی وایي چې په هر څه کې واکدار زړه وي. د انسان ټولې چارې په زړه پورې اړه لري، چې په یوه کار کې د زړه رضا او خوښه نه وي؛ نو بیا هغه کار سرته نه رسېږي، ځکه چې د وجود پاچا زړه دی، له دې موضوع سره میل او علاقه نه لري چې دغه میل او علاقه په خپله عشق دی نو په همدې بې میلۍ دغه کار هم نیمګړی پاتې شي. دی ځکه وایي چې عشق د ټول عالم ابا دی.

دی په یو بل ځای کې وایي: سړی به هله کمال ته ورسېږي چې د عشق په حقیقي مانا وپوهېږي لکه:

د کـــمال په حقیقت به ورســـــېږي

که د عشق په درسته پوهه و پوهېږي

(٢٣٢:٥م).

لنډه دا چې ده په خپله ټوله شاعرۍ کې په دې موضوع زیات بحث کړی، اخېره نتیجه یې دا شوه چې عشق یې د ټول جهان ابا او د حقیقت په پوهېدو کې یې دا ډېر لوی او با ارزښته څیز وګاڼه.

د کثرت او وحدت فرق

ده په خپلو اشعارو کې زیات بحث په تصوف کړی، چې په پایله کې یې سخت او درانه تصوفي اصطلاحات په ډېرې اسانۍ سره تشریح کړي دي. یو له دوی څخه د (کثرت او وحدت) موضوع ده چې دی یې په هکله داسې نظر لري:

د وحـــدت ونه یوه ده تل ترتـــــــــله

او کثرت یې په ښاخونو تار په تار شي

(٣٩:٥م).

دی وايي چې په ټوله کې مقصد هماغه يوه ونه ده، خو صرف شاخونه يي چې تار په تار کوي او ډېر وي يې دا د کثرت شکل دی، نور حقيقت ټول يو دی.

پير او مريد

ميرزاخان انصاري د پير کامل او مريدی پلوي دي، دا خيال لري چې بې پيره څوک د تصوف لوړمقام ته نشي رسيدی او په تصوف کې د دې اصل پالل حتمي او ضروري خبره ده، چې دغه درنه مو ضوع ده په دې شکل په خپل شعر کې بيان کړې ده:

د تحقيق فهم به يو يو سالک مومي

چې د پير په امر ځي د زړه په سير

(٦٩:٥م).

دی په همدې موضوع يو بل نظر هم ورکوي:

پيرکامل به وده هسې تلقين ورکـــــا

چې به خلاص شي د غفلتو له امراضه

(١٥٦:٥م).

دی په دې بيت کې د پير يادونه کوي او په تصوفي نړۍ کې يې مقام ډېر لوړ او با ارزښته بولي. دی وايي لکه څنګه چې علم کول بې له استاد او رهنما څخه نشي کېدای؛ نو په همدې شکل د تصوف اصل او حقيقت ته ځان رسول هم بې له استاده نشي کيدای او ضرور دی چې هر مرشد بايد پير ولري.

قضا او قدر

ميرزا خان د مذهبي او تصوفي مسايلو په څنګ کې په قضا او قدر هم کلکه عقيده لري او وايي چې په دنيا او اخرت کې هم د هر سړي برخه بيله او له ازله ويشل شوې ده او په دې هکله يې په خپلو اشعارو کې د نومړې موضوع په هکله خپل نظر په دې شکل سره څرګند کړی دی:

برخې ټولې په قسمت ازلـــــي دي

په هرچا باند په خپل قسمت نازل کا

نيک و بد واړه راغـــلي دي له خدايه

اوس د کـــړو ملامت ولې يو پربل کا

(٦٢:٥م).

دی وايي چې ټولې برخې انسان ته له ازله راغلي د دنيا ژوند د الله ج تقسيم دی، چې هر چا ته يې په هر شکل ورکړی دی په همدې دې صبر وکړي او د دنيا په چارو کې دې د کمي او کيفي په اړه بل انسان ته د

بخل په سترګه نه ګوري. تل دې په خپل ورکړل شوي ژوند صبر وکړي تر څو د الله (ج) رضا حاصله کړي. دې موضوع ته په یوه بل ځای کې په وضاحت سره داسې اشاره کوي:

و هر چاو ته به خپل قسمت رسېږي

له ازلـــه یې سپور سپورکړ پلـــی پلی

(۴۵:۵م).

دی وایي چې الله (ج) د انسانو لپاره ژوند د مخه ټاکلی او د دوی خوشبختي او بدبختي یې دمخه ټاکلې ده.

اخلاقي او تربیوي

بایزید د نورو برخو ترڅنګ په اخلاقي او تربیوي مسایلو ډېرغږېدلی او دا برخه یې د انساني ژوند لپاره خورا مهمه او باارزښته ګڼلې ده، چې موږ یې دلته د بېلګې په توګه ځینې بیتونه راوړو:

میرزا ښه کړه څـــو دې توان شـــي

و هر چاو ته په خپل عمل رسېږي

(۲۱۴:۵م).

دی وایي چې انسان باید په ټولنیز ژوند کې ښه وکړي، تر څو پورې یې خپل انساني مسوولیت ادا شي او په ټولنه کې د یو محتاج شخص د درد درمل جوړشي، خوښه کول ډېرې نوعې او ډلونه لري چې موږ پرې دلته پوره بحث نه کوو؛ ځکه چې مکمل بحث به یې موږ له موضوع لرې کړي، خو د انصاري له ښو څخه مطلب په ټوله کې ښه دي که هغه په په خولې یوه خوږه خبره وي او که په لاس له یو چا سره مرسته کول وي. دا موضوع په یوه بل بیت کې په دې شکل سره واضیح کوي:

چـــې ویل عمل یې دواړه برابـــــر وي

ترو به توره شپه ډیوه کانه دي په وعظ

(۷٦:۵م).

انتقادي

دی په ټولنه کې د یو بامسوولیته شخص په صفت ژوند کوي او په ټولنه کې یې هرې ناخوالې ته پام دی، چې همدې بېداری یې ده ته د انتقاد قوت ورکړی. دی د ټولنې په هره برخه یو جایز انتقاد کوي، چې ځینې بېلګې یې موږ دلته راوړو:

که هر څو نعمت پریوان کا

ظالم زړه پرې نه مړېږي

د شاهانو عدل کم شـــــــــــو

زيات عالم په ظلم کې ځورېږي

د سپاهيانو خوی د اور شـــــو

د رعيت په زړه بلېـــــــــرې

(۲۱۴:۵م).

دی په دې بېتونو کې د ټولنې په هره برخه انتقاد کوي او خپل ويښوالی همدلته څرګندوي. دی وايي چې د انسان زړه هېڅ وخت نه مړېږي او تل د هوس په خيال کې وي، چې دا د انسان لپاره ښه صفت نه دی. همدارنګه د شاهانو او پاچاهانو بې عدالتۍ ته په ښه سترګه نه ګوري او د دوی ظلم غندي.

پښتو

دی د نورو ټولو موضوعاتو ترڅنګ د خپلې ژبې يادونه هم کوي او له دې برخې تش نه تېرېږي، خپل فکر يې هم دلته بيان کړی دی. په دې خبره ډېر ټينګار کوي، چې هغه ټول مذهبي مسايل په پښتو بيان کړي، يعنې هغه د بل ځای مفکوره په خپلو اشعارو کې د پښتو په ژبه راوړې او بله کومه ملي روحيه نه لري چې دا لاندې بيتونه يې د دې خبرې شاهدي ورکوي:

د ميرزا کلام پښتو دی

کل مـــعنا يې له عرب

(٦٣:٥م).

يا:

نن ميرزا په پښتوکـــړی

کل صـــفت له الف لامه

(۱۸۱:۵م).

دی وايي چې زما ټول کلام پښتو دی خو په دې کې مې د عربي ژبې موضوعات بيان کړي دي.

په شعرکې د لفظي او معنوي صنايعو استعمال:

ده په خپلواشعارو کې په پراخه توګه دغه صنعتونه د کلام د ښه والي لپاره استعمال کړي دي، چې موږ يې دلته د نمونې په توګه يوازې يوه بېلګه راوړو، چې په دې ډول سره ده:

نوشېروان تر جهان تـــــــېر شو

څو خـــبرې د بهرام کـــــــړم

د جمشېد حـــکمت فايی شـــو

ډېـــر تعريف به يې له جام کـړم

(٥:٨٩م).

دی په دې بيتونو کې موږ ځان سره له نن څخه کلونه پخوا زمانې ته وړي او په هغه وخت کې مو د خلکو له ژوند سره اشنا کوي چې دا د(تلميح) صنعت دی.

بې عمله عالم: دی بې عمله عالم له جاهلانو سېوا ګڼي او په هکله يې وايي:

هرعالم چه په خپل علم عمل نه کا

په تحقيق له جاهلانو دی سېوا دی

(٥:٥٤م).

که نظر ته يې دقيق وګورو نو راته له ورايه ښکاري چې دا يو انتقادي نظردی.

اخلاص: د اخلاص په باره کې وايي چې اخلاص د هرڅه لپاره حياتي او د مغز حيثيت لري چې موږ يې دلته بېلګه راوړو؛ نو موږ ته دا درس راکوي چې همېش بايد په هر کار کې اخلاص وکړو، بې اخلاصه کار به مو هسې تشه خواري وي او هېڅ ګټه به ونه رسوي بېلګه يې دا ده:

هر چې مغز د اخلاص ورسره نه وي

د تـــش رسم چارې واړه دی تـــبا

(٥:٥٦م).

د الله ج ستاينه: انصاري له نورو ټولو موضوعاتو سره د خپل رب ستاينه هم په پراخه پېمانه کوي او تل د الهي قدرتونو يادونه په خپل شعر کې بېانوي، چې موږ يې د بېلګې په توګه يو څو بيتونه دلته راوړو:

دی بادشاه د هرچـــــــــا رب

حـــکمتونه يې عجـــــــــــب

جـــهان يی مخ و څټ کـــــــړ

ګاهي ورځ شی ګاهی شـــــب

ودانی يې شی په رحـــــــم

ويرانی يی په غضـــــــــب

نه په ذات دی له چا ليـــــری

نه لـــه چا سره نســـــــــب

(٥:٦٢م).

په دې بېتونو کې د الله (ج) ستاینه او صفات بیانوي. دی وایي چې الله (ج) یو دی شریک نه لري او د ژوند ټولې چارې د ده په امر سره روانې دي. له امره بغیر یوه ثانیه هم ښکته او پورته نشي او نه به کوم زنده سر په خپل ژوند کې په یوازې توګه کومه چاره تر سره کړي، د ده رضا نیکي زېږوي او خپګان یې د ورانې او غضب باعث ګرځي.

پند او نصیحت

دی په خپل ژوند کې د ژوند ټولو برخو ته ښه متوجې انسان و، د همدې توجو پایله یې دا شوه، چې له ده څخه د ټولنیز ژوند د تېرېدو په هکله غوره او په زړه پورې نصیحتونه راپاتې، چې د انساني ژوند لپاره ښه درسونه کېدی شي. دا درسونه په خپلو صفحو کې مختلف عنوانونه لري، یوازې د ټولنې یوه طبقه تر څېړنې لاندې نه نیسي او په خپل غېږ کې مختلف درسونه لري چې موږ به یې دلته یو څو بېتونه د ثبوت په توګه وړاندې کړو:

دا خطیب چه کرشمه کاندی په واعظ

دی په کوم هنر شیوه کاندی په واعظ

چی پخپله خبر وایی عمل نـــــه کا

چېری ځان به مسخره کاندی په واعظ

چی یی لار لیـــدلی نه وی رهبری کـا

رڼا ورځ به توره شپـــه کاندی په واعظ

چـــه ویل عـــمل یـی دواړه برابـــر وی

ترو به توره شپه ډیوه کاندی په واعظ

(٧٦:٥م).

دلته د ټولنې د هغه کشر حالت او شکل بیانوي چې په خپلو ښکلو باداري کوي. دی وایي که چېرته موږ وغواړو له خپل ځانه ښه رهبران جوړکړو؛ نو وینا او عمل مو باید یو وي؛ ځکه چې موږ وایو (د ځان اصلاح د جهان اصلاح ده) نو دلته خبره همدا ده چې په ټولنه کې اصلاح او سمون باید دې اصل ته پوره پاملرنه وکړه، تر څو د خلکو په زړونو کې ځای پیدا کړو او که نوموړی اصل ونه پاله؛ نو موږ به دې اصل تر پښو لاندې کړی وي او خپل ټول اهمیت او عزت به مو د لاسه ورکړی وي.

دی په خپل دېوان کې عشق د خپل ځان استاد ګڼي او وایي چې زه د همدې استاد رهنما د حقیقت لوړو پوړیو ته ورسولم. دی وایي چې ما کله خپل معشوق ولیده؛ نو د دنیا له فاني ژونده مې زړه تور شو او خپله

لاره مې بدله کړه، نور مې له دې دنیا سره رابطه پرې ښوده او خپلې حقیقي موخې ته د رسېدو لپاره مې هڅه او کوښښ پیل کړ چې د دې بیتونو بېلګه یې دا ده:

لکه عشق مې رهنمون شـــــو

په اشنا پسې مې یون شـــــو

چـــې مې یار په نظر کښیووت

له جـــهانه مې زړه ستون شـــو

(۱۰۳:۵م).

په بل ځای کې بیا دی وایي چې: انسان باید له هر څه د مخه خپل نفس په کنټرول کې وساتي په دې اړه داسې وایي:

که په نفسه اماره دې بری بیاموند

ستا په نزد فتحه دغه ده لویه سوبه

(۱۰٦:۵م).

دی بیا د نارینه انسان تعریف هم کوي چې په دې ډول دی:

د مردانو کار له نفسه سره جنګ دی

د هلـــک په دود یی مه غواړه په لوبه

(۱۰۷:۵م).

نارینه هغه څوک نه دی چې ځانته پهلوان ووایي او ټوله ورځ لکه د هلکانو په څېر لوبې کوي او خپل وخت په همدې څېزونو تېروي؛ بلکې نارینه هغه څوک دي چې تل یې خپل نفس په خپل واک کې وي، د نفس په خوښه کارونه نه کوي، د نفس تابع نه وي او نفس د ده تابع وي.

د جاهل او خود پرست غندنه:

دی د جاهلو او خود پرستو خلکو ډېر زیات خلاف دی، تل له دې خلکو څخه لرې تښتېدلی دی. دا ډول خلک یې غندلي، د دوی تعریف یې په خپل شعر کې کړی دی، دی نورو خلکو ته نصیحت کوي چې له دې ډول عمل څخه ځان وساتي چې د ده په کلام کې یې بېلګې ګورو او یو څو یې د نمونې په توګه دلته راوړو:

چې د نام او ننـــګ شېوه په بې رهی کـــا

کـــم دلیل عالم دې لاندې تر الونـــــد وي

جاهـــلان دي په مثال د سترې زرکـــــــې

چې یې سر په وانښه پټ لم یې څرګندوي

خودپـــرست به له عذابه نه خلاصـــــېږي

که ظاهر په صورت خلاص روح به يې بندوي

(۲۳۹:۵م).

دی وايي چې څوک جاهل او بې عقل وي؛ نو هغه ټول عمر په تاوان کې وي هغه ځان ته فکر کوي، چې زه به کامياب يم خو داسې نه ده، د ده مثال واى د ستړې زرکې په څېر دی چې هر څومره دا ستړې زرکه وګرځي؛ نو بيا په پاى کې خپل ځاى ته راځي چې دمه وکړي، دلته بيا دا په دې وخت کې خپل سر په وښو پټ کړي او بېرون يې لم ښکاري؛ نو دا فکر کوي چې زه به په امن کې يم خو داسې نه ده، دا بيا هم بېرون ښکاري.

ګوري چې په همدې شکل خپل ژوند له لاسه ورکړي. د جاهل مثال هم همداسې دی چې هېڅ نوع ګټه به ورته خپل جهالت ونه رسوي او تل به همداسې ذليل ګرځي؛ نو موږ او تاسو بايد له داسې حالت څخه ځان وساتو او په بل ځاى کې بيا د خود پرست او ځان غوښتونکي سړي په هکله ډېر په زړه پورې نظر ورکوي. وايي چې خودپرست خلک به تل په عذاب کې اخته وي که دوی داسې فکر کوي چې موږ به هوسا يو؛ نو دا يو ناسم قضاوت دی دا نظر داسې مثال لري لکه د روح او جسد خبره چې روح به يې جزا ګوري او جسد به يې همداسې تش کالبوت پروت وي، نو خودپرستي د انسان لپاره ښه صفت نه دی، بايد لاس ترې واخلو.

د عقل په هکله : په دې هکله وايي چې انسان ته الله تعالی عقل د دې په خاطر ورکړ، چې سمه استفاده ترې وکړي او په سم ځاى او لاره يې استعمال کړي،تر څو هغه د انسانيت حد پوره کړي او د جاهلانو په نقش قدم ولاړ نشي، چې دا موضوع ده په خپل کلام کې په دې شکل سره بيان کړې ده:

عقل به څه کړي چې ويښ يې نکړي

وجـــود دې غوړ دی په ساړه موم دی

(۲۰۷:۵م).

دی وايي االله تعالی خپل بنده ته عقل په دې خاطر ورکړ چې استفاده ترې وکړي او په کاريې واچوي، نه دا چې همداسې موم پاتې شي. عقل د موم شوي غوړيو په شان دی، که ته چېرته غواړې چې استفاده ترې وکړې؛ نو بايد دا موم ويلې کړې که ويلې يې نه کړې، نو تاته هېڅ په درد ونه خوري. همدا رنګه که موږ شمعې ته وګورو نو هغه هم دې ته ورته شکل لري چې د استفادې پر وخت يې خلک سوځوي او تر څو پورې ويلې شي او د رڼا په خاطر ترې ګټه پورته شي.

د بابوجان لنډه پېژندنه

بابوجان لغمانی د پښتو ژبې شاعر دی، چې په منځنۍ دوره کې غوره مقام لري، خو متاسفانه چې د نوموړي د ژوند په هکله هم لکه د یو شمېر نورو شاعرانو په څېر پوره او دقیق معلومات نشته او ژوند یې په تیارو کې ډوب دی، خو بیا هم هغه معلومات چې د ده په اړه راغلي او د پښتو ژبې د خدمتګارانو په هڅو او هاند سره اوس زموږ مخې ته ایښي دي استفاده ترې کوو او تاسو سره یې شریکوو.

لومړی د ده په اړه لوی د استاد عبدالحی حبیبي څېړنه را اخلو: ((د راورټي او رضواني صاحب په حواله همدغسې په« پښتانه شعرا»کې لیکلي چې بابوجان د لغمان و، سور کاپرو د بابو جان په نوم چې دېوان پیداشو ی دی، هماغه د بابوجان لغماني دی، له اخوند درویزه بابا نه وروسته تېر دی، اشعار یې د اخوند درویزه بابا په شان دي(٦:٢٦م).

د پښتو اریانا دایره المعارف په څلورم جلد کې دا مسله یو څه نوره هم روښانه شو ې ده او په صفحه (٣٣٠٦) کې یې لیکلي دي: ((بابو جان لغمانی د دېوان څښتن دی. د خیرالبیان او مخزن الاسلام د ادبي سبک پیرو دی. ځینې عروضي اشعار هم لري، چې په «ګلشن روه» او «شکرستان» کې یې ذکر دي. د بابوجان یو کتاب په بربټېش موزیم کې موجود دی، چې (٢٩٠) مخونه لري. یوه یې دعائی سریاني ترجمه ده. د اخوند درویزه د زامنو معاصر دی او(١٠٥٠هـ ق) یې د ژوند زمانه ده.)) (٦:٢٦م).

د دې ټولو څېړنو پایله همدا ده، چې د ده د ژوند ټولې پېښې په سمه او دقیقه توګه نه دي معلومې او نه یې هم د مړینې او د واده کولو زمانه معلومه ده، خو صرف دومره معلومات شته چې د ده قبر په یوسفزو کې دی او خلک یې زیارت ته ورځي.

د ده په هکله چې راورټي کوم نظر ورکړی حقیقت ته نږدې نه دی او هغه ټولې خبرې له عقل سره هېڅ برابرې نه دي؛ ځکه چې دی وایي د ده خپله ژبه پښتو نه وه او نه دی مسلمان و. که دی چېرته مسلمان او پښتون نه وی؛ نو څنګه یې وکولی شول چې دومره ژر دې بله ژبه زده کړي او بیا دې په دې ژبه کې دومره پښه او په تول برابره شاعري وکولی شي.

له دې ځایه دا پایله اخلو چې دا معلومات سم نه دي او نه د دې معلوماتو د راوړلو مرجع معلومه ده. دی په عربي، فارسي او هندي ژبو ښه پوهېده او د پیربابا د مسلک پیرو و.

د بابوجان ژوند په هکله بېلابېل معلومات شتون لري؛ نو په دې برخه کې موږ اوس د سرمحقق زلمي هېوادمل هغه لیکنه رااخلو چې د (پښتو نثر اته سوه کاله) کتاب په (١٨٩) مخ کې یې راغلي دي: ((دی وایي چې بابو جان د اورنګزیب په زمانه کې ژوندی و، قبر یې د صوابۍ په سیمه کې دی. راورټي د دوی

لیکنې نثر بولي، خو رشاد صاحب دغه منتخابات نظم ثابت کړي دي. ځینې د بابوجان درست کلیات نظم بولي، خو زه یې نه ټول نظم بولم او نه ټول نثر؛ مګر زیاته حصه یې د نظم ده.)) (٦:٣٣م).

د بابو جان شاعري

د نوموړي د شاعرۍ په هکله هم داسې پوره او دقیق معلو مات نشته. ټول خلک یې په اړه په یوه خوله نه دي، هر څوک یې په اړه جلا جلا نظرونه ورکوي او په اړ یې وایي چې د ده شاعري نه ټول نثر ته ورته ده او نه نظم ده. ځینې وایي چې د ده شاعري مسجع نثر ته ورته ده، خو د دې ټولو خبرې په خپل ځای سمې دي.

د ده شاعري د منځنۍ دورې نورو شاعرانو ته ډېره ورته نه ده، خو د اخوند درویزه تاثیر پرې ډېر لیدل کېږي او د شعر ژبه یې سخته نه ده تقریبا نور شاعرانو ته یې شعر اسان او روان دی او په خپلو اشعارو کې د ژوند ډېرې برخې منعکس کوي. د ښه وضاحت لپاره یې دا خبرې له دېوانه رانقلوو: ((د بابوجان شاعري د پند او نصیحت شاعري ده. د بابوجان په کلام کې تصوف هم شته او ښکاري چې په تصوف کې د وحدت الوجود د نظریې طرفدار دی، خو تصوف د شریعت نه بهر نه مني.

د ده په کلام کې د مرګ ذکر، د انبیاوو قیصې، د نمرود، شداد او فرعون واقعات، د حاتم طایي سخاوت او د نوشېروان عدل، د صحابوو مناجات، د وخت ذکر، د اولیاو واقعات، بخیل انجام، د سخیانو ذکر، د پیرۍ ژړا، د ظالم ظلم، د جنت او دوزخ ذکر، د اورنګزېب قصیده، د دین او اسلام خبرې، د فقهې ترجمه، د فتوی ظهیریه ترجمه، ولسي مسایل د الله ج وحدانیت، د قصیدې سریانې پښتو ترجمه او داسې نورې ډېرې واقعې یې په زړه راښکونکي انداز کې بیان کړي دي، چې سړی ترې ضرور متاثر کېږي.

د دوی کلام د غزل او نظم بڼه لري، داسې محسوسېږي چې دوی د اخوندبابا او رحمان بابا تر منځ د شاعرۍ مکتب لري. ځینې شعرونه خو یې هو به هو لکه د رحمان بابا لیکلي دي، لکه:

کعبه بزرګه ابراهیم خلیل الله کړه جوړه

زړونه روغ په خپله خود پر وردګار کړل

بابو جان

د خلیل تر کعبې دا کعبه ده لویـــه

کـــه اباد کا څوک ویران حرم د زړه

رحمان بابا

له دې دواړو بېتونو څخه موږ ته دا پته ولګېده چې د رحمان او بابو جان تر منځ څومره نږدېوالی شتون لري. د بابوجان د شعر ژبه څه نا څه سخته ده، همدارنګه د بېتونو په سیلابونو کې یې هم ستونزه شته، چې له

همدې کبله يې په شعر کې سکتې محسوسېږي، د ځينو شعرنو ابلاغ يې نه کېږي پوهېدل وربانديې گران دي.)) (٦:٥١-٥٢م).

د بابو جان د دېوان ځانگړتياوې

د بابوجان د دېوان قلمي نسخې ډېرې زياتې او په بېلابېلو ځايونو کې له بېلابېلو خلکو سره موجودې دي، په هکله يې ما ليدلي معلومات د (د بابوجان مجموعه) کې چې د سليم بنگښ له خوا په کال (۲۰۱۴م) کې د پښتو اکيډمي بلوچستان کويټه کې خور شو او د چاپ شمېر يې هم (۵۰۰) ټوکه و، د چاپ ځای يې يونائتدپريس کوټه و.

د دې مجموعې ليکوال وايي: ((د بابوجان قلمي نسخې لکه چې څنگه ويل شوي دي ډېرې دي، لکه د اکيډمي په کتابتون کې نن سبا اته نسخې موجودې دي. يوه نسخه د پېښور په عجايب گهړ کې ده، يوه نسخه له ما سره ده، يوه نسخه يا لږه کمه له همېش خليل سره ده او يوه نسخه د برټش موزيم په لايبراري کې ده.

د هېوادمل صاحب د وينا مطابق د رامپور په رضا لايبرائري کې هم يوه نسخه شته ده. خدای بخښلي سعيدگوهر صاحب سره هم يوه نسخه وه. د رشاد صاحب د وينا مطابق له سيال کاکړ سره هم يوه نسخه شته دی، په شوراوي کې هم د بابو جان نسخې شته او داسې نورې هم پوره او نيمگړې نسخې وي.)) (بابو جان:۵۰مخ)

د بابوجان لغماني د قلمي نسخو باره کې دا يوه عجيبه خبره مخ ته راځي چې له لندن موزيم څخه نيولي د افغانستان او پاکستان په هر مشهور کتابتون کې د بابوجان قلمي نسخې وجود لري. هر چېرته چې د علماو او صوفيانو کتابخانې ليدل کېږي، نو هلته د رحمان بابا له دېوانه سره سره د بابوجان قلمي نسخه هم وي، چې له هغه څخه د بابوجان د شهرت اندازه کولی شو د بابوجان دغه نسخې جلاجلا خطاطانو په جلاجلا وختونو کې رانقل کړي دي، ځکه خو پکې د لهجې او تورو توپير رامنځ ته شوی، که څه هم د بابوجان شاعري د اخونددرويزه په تقليد کې د مسجع او نيم مسجع نثر نمونه گڼل کېږي، خو وروستي څېړونکي هغه موزون شاعر گڼي له دې سره اوس يې هم پر ځينو ليکنو د باقاعده شاعري اطلاق گران برېښي.

د بابوجان په دېوان کې شعري فورمونه

د بابوجان شاعري دومره ډېر فورمونه په خپل غېږ کې نه نيسي او نه يې په ټولو فورمونو کې شاعري کړې ده. ده صرف د غزل په فورم کې شاعري کړې ده او نور يې ټول نظمونه په خپل دېوان کې راغلي دي، چې موږ يې دلته نمونې راوړو.

مخکې مو وویل چې د ده په اشعارو کې تر اوسه خلک او د پښتو ژبې پوهان یوې قانع کوونکې نقطې ته نه دي رسېدلي. څوک یې شاعري نظم بولي او څوک یې مسجع نثر ته ورته ګڼي، خو موږ له دې ټولو بحثونو تېرېږو ځکه چې د دې خبرې سپینول به مو له اصلي موضوع څخه لرې کړي.

د ده په مجموعه کې د مسجع نثر نمونې هم شته دي چې بېلګې به یې راوړل شي او له دې څخه بغیر یوه الف نامه هم ده، خو د دې ټولو سربیره ځینې داسې برخې هم شته چې نوم ورکول به ورته ګران شي.

غزل

د ده د اشعارو په مجموعه کې د غزلونو شمېر تر یوه حده راغلی دی، خو دلته بیا تسلسل په نظر کې نه دی نیول شوی، د غزل بېلګه یې لاندې ده:

که یو ځل د ناسوت لــه سرایه دور شي

په طلـــب به ملـــکوت وته حضورشـــي

ملکوت مقام د کـــشف کـــرامـــات دی

که دشتن د تا بایده دي که منصور شي

(٦:٢٧٠م).

الف نامه

د مجموعې په پیل کې یوه الف نامه هم راغلې ده چې بېلګه یې دا ده:

د الف له بـــرکته مرحمت کـــــــــــړه

د ب بندګي مې کړه قبوله عنایت کړه

ت تایب مې کـــــړه لـــه غیـــــــــــرو

ث ثـــــواب د فضیـــلت کـــــــــــــړه

(٦:٧٣م).

مسجع نثر نما

په مجموعه کې د مسجع نثر ځینې بېلګې هم شته چې موږ یې دلته یوه برخه را اخلو:

روایت دی بیانېږي مومنان دې وپوهـــــــــــــېږي

سکه د حیض او د نفاس علم د هر مسلمان زده کا

د دوی غـــــاړې به خلاصـــــــــــــــــــــــــېږي

د حـــیض لـــږ مودت درې ورځـــــــــــــــــــــــې

ول اکـــثر مـــدت یې لس ورځې ویلـــــــــــــــــــي

که تر دانه زیات یا کـــــــــــــــــــم وي

هغه رنځ به وررسیـــــــــــــــــــــــــنه

(٦:١٢٠م).

نظمونه

د بابوجان د مجموعې ډېر مخونه د نظمونو په شکلونو تور شوي دي او ده په خپلې شاعرۍ کې ډېرې زیاتې موضوعګانې په نظم کې بیان کړې دي، چې د بېلګې په توګه یې نمونه راوړم:

حکـــایت دی له پتنګـــــــــــه

رد بدل یې له باتۍ و په څو رنګه

او باتـــي وې پـــــروانه تـــــــه

ته مـــــې ګـــــوره زمـــانتـــــه

(٦:٦١٥م).

د بابوجان د دېوان محتوا

د بابوجان په شاعرۍ کې له تصوف سربیره د ژوند نور اړخونه او ورځني موضوعات هم بیان شوي دي چې دلته پرې بحث کوو. د دې موضوعاتو په کتار کې لاندې موضوعات شامل دي: د الله تعال ستاینه، د رسول الله (ص) صفات، د علم او توحید په اړه بحث، د اصحابو یادونه او د نورو دیني مسایلو بیان په پوره توګه راغلی دی. په نظم کې یې پورته موضوعات تشرېح کړي دي چې موږ به یې په ترتیب سره په راتلونکو مخونو کې تر بحث لاندې ونیسو.

حمد

د بابو جان د مجموعې په لومړي سر کې حمد راغلی دی، چې بېلګه یې په دې ډول ده:

تخـــمونه یې په ځمکه کې ساتلـــــي

بیا د دوی د پیدا وخت بهنه باران شي

وچه ځمکه په ګلونه ښایسته کـــــړي

سپین جویونه وي د وچه غره روان شي

(٦:٧١م).

دی په خپل یوه نظم کې وایي، چې ټول تخمونه الله تعالی په ځمکه کې ساتلي دي، د دوی د راشنه کېدو لپاره باران هسې یوه بهانه ده چې ورته جوړېږي. دا ټول د الله تعالی قدرتونه دي. دی وایي چې وچه ځمکه

ښښتن تعالی په ګلونو ښایسته کړي او له دې خړې ځمکې رنګ په رنګ ګلان راشنه شي او په دنیا یو بل پوښ خور شي.

نعت

نعت چې د الله تعالی د خوږ نبي کریم (ص) یادونه او ستاینه پکې کېږي او عموما په ټولو کتابونو کې له حمد څخه وروسته راځي؛ نو بابوجان هم دا تسلسل نه دی مات کړی او په خپله مجموعه کې یې له حمد وروسته همدغه موضوع راوړې ده، چې موږ به یې د بېلګې په توګه یو څو بیتونه را واخلو. دلته به یې تاسو ته وړاندې کړو:

ته د دوو کونو ښښتن یې محمده

په امت باندې مین یې محمـــــده

مرتبه د قاب قوسین او ادنـــــي ده

ومولا وته قرن یې محمـــــــــده

(٦:٧٩م).

دی په دې نعت شریف کې هغه موضوع هم تر نظر لاندې راولي او بحث پرې کوي، کومه چې د رسول الله ص او الله تعالی تر منځ د ده د امت د اسانۍ او ښېولو په پار وه، د ده په پاتې بیتونو کې د دې موضوع پوره روښانتیا راغلې ده او له دې څخه بغیر د پېغمبر (ص) نور صفات یې هم پکې بیان کړي دي.

توحید

دی د توحید د علم په اړه پوره او کامل وضاحت ورکوي او په هکله یې داسې وایي:

علـم په سړي فرض د توحـــــید دی

چې د علم په طلب ومري شهید دی

اول عـــلم د عرفان ولره بـــــــــویه

هم د جنګ له خپله نفسه کا غازي دی

(٦:٧٩م).

دی وایي چې علم په سړي فرض دی، خو هغه علم چې د توحید په هکله بحثونه لري، چې انسان باید لومړی د الله (ج) د توحید په هکله پوره معلومات ولري او بیا دې له هغې وروسته نور دنیاوي علوم یاد کړي.

دی وایي چې څوک د علم حاصلول وغواړي او په هڅه کې یې وي او په همدې حالت کې مړ شو؛ نو دی عادي مړی نه دی، بلکې الله تعالی به ورته د شهیدانو درجه ورکوي.

دی وایي چې لومړی باید موږ په تمامه مانا خالق تعالی وپېژنو.

د ديني مسايلو بيان

دی په خپلو نظمونو کې د ډېرو ديني مسايلو بيان په داسې شکل کوي لکه چې د مسجد يو خطيب يې د ممبر له لارې خلکو ته بيانوي. ده دا مسايل ډېر په ساده او عادي شکل سره بيان کړي دي. د ده هدف او مقصد له دې بيان څخه دا وه چې له دې لارې نورو خلکو ته د دين په هکله معلومات ورکړي؛ ځکه چې په هغې وخت کې خلکو له شعر سره ډېره علاقه درلوده او ډېرو نالستو خلکو به له داسې مشهورو شاعرانو شعرونه په يادو يادول، چې له برکته به يې تر ډېره دا ډول ديني مسايل د شعر په ژبه ياد کړل او په ذهن کې به يې کېنول. دا يې دين او پښتو ژبې ته لوی خدمت و. اوس موږ په ترتيب سره لومړی له اودسه شروع کوو او د دغو موضوعاتو يوه يوه بېلګه را اخلو.

اودس: په دې هکله داسې وايي:

د اودس فرضه په چا څلور په چا پنځه دي

دوی واړه پـــــوروړي د لمانـــــــــځه دي

اول مـــخ يې تر زنخه هم ترغـــــــــوړو

بل ويښته په ناسيه چې زرغونـــــــه دي

(٦:٩٩م).

دی وايي چې د اوداسه فرضونه څلور دي او کله چې په چا اودس فرض شي؛ نو بيا پرې لمونځ هم فرض کېږي او په اوداسه کې د مخ د پاکولو هغه طريقه هم په تمامه مانا د اسلامي اصولو سره سمه او برابره ښايي. دی وايي چې د مخ پاکول له زنې څخه نېولې د ويښتانو تر شنو کېدو پورې او د غوړونو تر نرميو پورې دا ټوله ساحه بايد ومينځل شي.

د تيمم په هکله وايي:

تيمم هم لـــــوی اودس دی

چې اوبه نه وي دی بـــس دی

فرض درې دي په تيـــبانه کې

يو يې نيت وي دوه يـــې ضربه

(٦:١٠٠م).

دی وايي چې اوبه نه وي بيا تيمم سم دی، خو چې اوبه وي بيا تيمم نه سمېږي، بايد اودس وشي. همدارنګه په نورو بېتونو کې د تيمم د روا والي يو شمېر نور شرطونه هم ښودلي دي چې هغه عبارت دي له:

د اوبو په ځای کې د دښمن ویره او د اوبو په شتون کې د اوبو له راوېستلو څخه عاجزي، چې د دې شرطونو په صورت کې هم تیمم رواکیدلی شي. دی بیا د تیمم فرضونه هم بیانوي چې نیت کول او دوه ضربونه دي.

د غسل په اړه د ده نظر: په اړه داسې وایي:

هــم د غسل فـــــرض درې دي

اول خوله وله پسې پـــــــــوزه

د اوبو په نور تمام وجود رواني ده

(٦:١٠١م).

دی په دې برخه کې د غسل د فرضونو تر څنګ د غسل د فرض کېدلو لارې هم بیانوي.

د حیض او نفاس یادونه:

روایت دی بیانېـــــــرې مــومنان دې وپوهېږي

سکه د حیض او د نفاس علم د هر مسلمان زده کا

د دوی غـــاړې به خــلاصـــــــــــــــــېږي

د حـــــیض لږ مودت درې ورځـــــــــــــــــې

ول اکثـــر مدت یې لس ورځې ویلـــــــــــــــي

که تـــــر دانه زیات یا کـــــــــــــــــم وي

هـــــغه رنځ به وررسینـــــــــــــــــــــــــــه

(٦:١٠٢م).

دلته د دې موضوعاتو په اړه ښه په خلاص زړه غږېدلی او دا موضوع یې خلکو ته لکه د اوبو په څېر روښانه کړې ده، د ښځینه ناروغیو موده یې هم ښودلې او چې کله دا په مرض بدلېږي هغه وخت یې هم ذکر کړی دی.

په لمانځه کې سوچونه کول: په دې اړه وایي چې څوک په لمانځه کې سوچونه کوي د هغه شخص لمونځ نه قبلېږي او دا به د الله تعالی په وړاندې هېڅ مانا ونه لري. دا یوازې د یوه رسم او رواج مانا لري چې دی یې په اړه وایي:

څوک چې لمونځ په جماعت کا زړه یې کور وي

یا ولاړ وي په لــمانځه په زړه یې نـــــــــور وي

عبادت د ده په رسم په ریـــــــــــــــــا دی

په قیامت به یې په خدای پورې مخ تـــــور وي

دی وايي چې په لمانځه کې بل طرف ته کتل په لمانځه کې نقص پيداکوي؛ نو بايد په لمانځه کې يو او بل طرف ته ونه کتل شي .

د لمانځه فرائض: د لمانځه فرائض په تمامه مانا بيانوي او په هکله يې پوره معلومات ورکوي چې بېلګه يې دا ده:

پنځلس څيزه فرض د نمانـــــــــــــځه دي

زده کول يې نمونځ ګذار لره بايـــــــده دي

تن، ځای، جامه دې پاک وي ځان دې پټ کا

وخت قبله زده کا تکـــــــبير اول راوړه دي

(٦:١١٤م).

د کلام له مکملې بېلګې راوړلو څخه ځکه تېر شو؛ چې د موضوع د پراخولي سبب ګرځي، دی وايي چې د لمانځه فرضونه (١٥) دي چې په ترتيب سره د (تن، ځای، جامې پاکوالی، ځان پټول، وخت، قبله، تکبير، رکوع، سجده، قيام او داسې نور چې ټول دلته بيان شوي دي.

د روژې په هکله داسې وايي :

روژې فـــــرض د رمضـــــــــــــــــان دي

په هرچـــا باندې تـــــــــــــــــاوان دي

پنـــځه فرضه په روژه کې ته يې زده کـــــــــړه

چې عاميان له دې پنځه واړه شرطونو غافلان دي

(٦:١١٥م).

دی وايي چې روژه په هرمسلمان فرض ده. کله چې بالغ وي او په روژه کې پينځه فرضونه دي چې عبارت دي له (نيت، احتياط، له نهې ځان ساتل، تراويح او تلاوت).همدارنګه زياتوي چې روژه دار شخص دې دغه شرطونه په ځان عملي کړي. د روژه داره سړي په هکله د الله تعالی نورې خبرې له قران او احاديثو رانقلوي.

د حج په هکله:

د حج په اړه وايي کله چې دې وس پيدا کړه او توانايي دې ولرله؛ نو په تا حج د بيت الله شريف فرض دی چې په ټول ژوند کې يو ځلي حج فرض دی. له هغې وروسته بيا حج واجب او مستحب دی. دی د حج شرطونه هم بيانوي چې اوس به يې دلته بېلګه راوړو:

کــه دې اووه څيــزه موجــود بيامونــه ده يــاره
معطـلي مـه کـړه نـور درومـه حـج گـــــــذاره
پـه درسـت عمـر کـې يـو ځـلي حـج فـــــرض دی
بيـا سـنت يـا مسـتحب دی مقـرر ورتلـه دوبـــاره
هغـه اول شرط يـې مسـلم دويـم عاقـل دريـم بالغـه
څلورم روغ پنځم چې زاد او راحلـه يـې وي بيسـاره
شـــپږم ده نفقــه د اهــل پريـــــــــــــــږدي
چــې پــه بيارتــه کړمــه نــه شي نهـــــــــــــاره
اوم لار دې وي پـــه امـــن ښـــه امانـــــــــــــه
چــې ودتــه وســختي نــه شي دوڅـــــــــــاره
(٦:١١٨م).

دی وايي چې د حج لپاره شرطونه اووه دي چې عبارت دي له (مسلم، عاقل، بالغ، روغتيا، اقتصادي پياوړتيا، د اولاد نفقه او اووم د لارې امن)، چې کله دغه اووه شرطونه تاته برابر و؛ نو ته بايد حج ته لاړشي ځکه چې په دې وخت کې په تا حج فرض دی.

د زکات په هکله

د لمونځ په څېر زکات هم په انسان فرض دی او بايد ادا يې کړي که يې ادا نه کړ؛ نو په دې دی يقين ولري چې په ايمان کې يې نقص پيدا شو. دی وايي چې څوک په دنيا کې د خپل مال زکات ورنه کړي؛ نو په اخرت کې به ورته همدغه مال د غاړې ښامار شي او له غاړې به يې تاووي.

داوې دغه سرور کائنات دی
لکه لمونځ هسې زکات دی
(٦:١٢٠م).

دی د زکات په هکله نور بحث هم په خپل کلام کې راوړي چې موږ د موضوع د ډېر والي په خاطر نورې برخې صرف نظر شولو.

کلمه: هرڅوک چې په اخلاص سره کلمه ووايي؛ نو د ده غاړه له اوره خلاصه شوه. او کلمه د اسلام اساس او ښخ دی، چې د دې په اړه يې په مجموعه کې داسې بحثونه راغلي دي چې موږ به يې موضوع د تړاو لپاره يوه برخه دلته راوړو:

هر چې په اخلاص کلمه وواي په زوره

په تحقيق يې غاړه خلاصه شي له اوره

د جنازې د لمونځ په اړه داسې وايي:

په جنـــازه کې دي څلور فرض واړه تکبيـــــــــره

د دعا لوست يې سنت دي ته يې وګوره په ځيره

هـــــغه نمونځ د جنـــازې نه روا کېـــــــــــــرې

که چا کړی بې ولـــــي هم بې قاضي هم بې اميـــره

(١٢٥:٦م).

په جنازه کې تکبيرونه ويل فرض دي او دعاګانې کول سنت دي، بايد د جنازې لپاره امام موجود وي چې بې له امامه لمونځ نه شي کيدای.

پند او نصيحت

دی په خپل کلام کې ډېرې داسې موضوعګانې بيانوي چې ټولې له پنده ډکې دي او په ټولنه کې يې ضرورت هم زيات ليدل کېږي چې بايد عملي شي، ويناوې تر نورو خلکو ورسېږي وعظ او نصيحت يوازې يوه طبقه په خپل بر کې نه نيسي؛ بلکې د ټولنې بېلابېلو قشرونو ته نصيحت کوي او سمې لارې ته يې رابولي چې موږ يې د اشعارو له مجموعې دلته ځينې بېلګې را اخلو:

د ښښتن له عبادته بې خبـــــــــــــــــــره

بېهوده په بېرته چرته ځې ابتـــــــــــــــــره

هغه عمر چې دې تير شو رابه نه شـــــــــــــي

اوس په مخ کې څه د خدای د در لائق عبادت وره

د سړي د حرمت عمر اويا کاله دی ياد شـــــــوی

هغه نـــــور يې بې حـــرمته له ضـــــــــــــــرره

(١٢٦:٦م).

د انسان راتګ دنيا ته په دې خاطر شوی دی چې په سمه توګه د الله تعالی عبادت وکړي او خپل مسوولیت چې د يوه بنده په توګه په دنيا کې لري پوره کړي او له ټولو ناوړو عملونو څخه ځان وژغوري، خپل عمر ته په سم نظر وګوري؛ ځکه چې عمر د الله تعالی له لوري يوه داسې ډالۍ ده چې بايد سمه ګټه ترې واخيستل شي او په داسې لاره کې ولګول شي، چې د قيامت په سخته ورځ زموږ د رنځ سبب ونه ګرځي.

ځواني یوه داسې دوره ده سړی پکې ځان ډېر بې مسوولیته ګڼي، خو په اصل کې داسې نه ده، نوموړې دوره کې په انسان کې زور او قوت وي، کولی شي چې ټول عبادت هم په همدې وخت کې ډېرثواب لري. دی بیا وایي چې تر اویا کلنۍ پورې د انسان عمر په راحت کې وي او له دې وخت وروسته بیا نور د انسان د زوال دوره پیل کېږي او مخ په ښکته ځي چې په دې وخت کې بیا یو کار هم په سمه توګه سړی سرته نه شي رسولی، دی بیا په یو ځای کې داسې وایي:

د هر چا چې د ځوانۍ لوښی نسکور شـــي

دا صورت بـــه یې لاوي رنګ به یې نورشي

حرمت قدر به یې کـــم شي په عالم کـــې

تند خویونه د ځوانـــۍ به یې پېـــغور شي

(٦:١٢٩م).

دلته په دې بیت کې چې یو ځوان باید د ځوانۍ پر وخت کې داسې کوم منفي کړنه او حرکت ونه کړي چې بیا په پیرۍ کې د ده د پېغور سبب وګرځي. دی وایي چې د عمر په تېرېدو سره د سړي زړه د دنیا له ذوقونو موړشي او بیا لاړشي چېرته یو ګوټ ونیسي، د خپل تېر ژوند په هکله سوچ او فکر کوي. د ده نصیحت دا ده مخکې له دې چې د حال ژوند مو د تیر ژوند د خپګان باعث ونه ګرځي؛ نو راځئ دا نن د خپل ژوند واکې په لاس کې ونیسو او په سمه لاره مزل وکړو؛ تر څو مو نورو ته خیر ورسي او په ښه نوم سره یاد شو.

د ژبې په هکله وایي: هر انسان باید د خپلې ژبې جلب په خپل لاس کې ونیسي او خپله ژبه په سمه توګه استعمال کړي تر څو یې ورته خیر ورسېږي او له شره یې په امن کې واوسي.

ستا دښمنه او دوسته ستا ژبه ده که دې په سمه توګه استعمال کړه؛ نو ستا دوسته ده او که دې په بده توګه استعمال کړه؛ نو دښمنه ده چې په دې اړه یې د کلامه نوموړې بېلګه را اخلو:

کـــه زما نغوړې انسانه

غافل مه شه له لسانه

خپله ژبه د دښښنه ده

که په بد دې کړه روانه

(٦:١٣٩م).

دی په دې ټینګار کوي چې انسان باید لږې خبرې وکړي او ډېرې واوري، تر څو پورې ډېر څه زده کړي. دی وایي چې لږ ویل پند دي او ډېر ویل دي په ټولنه کې حیثیت کموي، بیا دې څوک خبرې ته په سمه سترګه نه ګوري لکه چې دی په یوه بیت کې وایي:

لږ ویل هم پند دي بابو جانه!

که غوږ باسې د زړه فهم لرینه

(٦:١٤٥م).

د قیامت علامې

دی په خپل کلام کې د قیامت د ورځې علامې ذکر کوي او په هکله یې داسې وایي:

اتلس نښې د قیامت به شي څرګندې

یو به غرقه خلک په ګناهونه شي اکثره

زوی بـــه حرمت له پلاره نکـــــــا

نه به لور ملاحظه کا له مـــــــادره

ارتینې به شرم واچوي له سترګـــــو

نارینه به شي له صبره بې وقـــــره

فقیران به قناعت توکل پرېـــــردي

سخاوت همت به ورک شي له توانګره

(٦:١٤٦م).

دی په خپل کلام کې د قیامت ټول علایم بیانوي چې هغه به د سخا کمېدل وي. د مور او پلار بې احترامي به وي، قناعت به نه وي او قتل به ډېر شي....

د انسان کردار: خپل کردار د سړي لپاره کر او کښت دی، چې څنګه دې وکړل په هماغه شکل به درسره کېږي او ته به یې ثمره ګورې، که دې ګلونه وکرل؛ نو تا ته به هم ګلونه ونیسي او که دې اغزي وکرل؛ نو تا ته به هم اغزي ونیسي، چې په دې اړه د ده د نظم یوه برخه راوړو:

خـــپل کردار د ســـړي کر دی

که د خیـــــر کـــه د شـــر دی

هر چې کـــا هســـې به مـــومې

حق عالم هـــــم دانا تـــر دی

که کرلې چا ګلونه یا مـــــېوې وي

ننداره د باغ حاصل هم یې ثمر دی

بې عذابه بل حاصل به د ده نه وي

که کرلي چاپلوسه یا کیـــــکر دی

د دنيا په هکله داسې نظر لري: انسان بايد له دنيا سره مينه ونه کړي؛ ځکه چې د دنيا مينه فاني ده او هېڅ رنګه بقا او وفا نه لري. دی وايي چې دنيا مکرجنه ده، دې مکارې ډېر خلک له پخوا تر اوسه وغولول او له سمې لارې يې واړول. دا لومړی تر هر چا ځارېږي، خو بيا په پای کې يې د هېچا پروا هم نه کوي او نه ورسره وفا کوي چې دی يې په اړه داسې نظر لري:

د دنيـا مينه پانـــــــــــــــي ده

محـــبت يې نادانـــــــــــــــی ده

ډېر ياران يې د غولو لي لا پخوا دي

هرچې ولاړه هغوی وړې پښيماني ده

(٦:٢٥٧م).

دی د درغجن په اړه په خپله مجموعه کې داسې نظريه لري:

که سل عذره کړې کذابه

خلاص به نشې له عذابه

(٦:٢٦٠م).

بابوجان وايي څوک چې دروغ وايي د الله تعالی عذاب پرې نازلېږي او هېڅ وخت به هم د الله تعالی له عذاب څخه بچ نشي او نه به ورته معافي وشي.

عاشق او فاسق

د دې دواړو کلمو د تشريح لپاره داسې وايي: څوک له دنيا سرمينه کوي او خپل ځان د دنيا عاشق بولي دا په حقيقت کې عشق نه ده دا شخص فاسق دی. دی وايي داسې شخص ته دنيا ګرانه وي له هر څه څخه تل د دنيا په سر د دين کارونه پرېږدي، حقيقي عاشق هغه څوک دی چې ټوله رابطه يې له الله تعالی سره وي او د دنيا په کيسه کې ونه اوسي:

ســـــتا چـــــې مينـــــه پـــــه دنيـــــا وه

ســـــتا هالـــــه و مـــــوړ تـــــه شـــــاه وه

تـــــه عاشـــــق نـــــه وې فاســـــق وې

چـــې تـــر مـــوړه وه دنيـــا و تـــا تـــه ګرانـــه

(٦:٢٦١م).

د اوه اسمانونو بيان: دی په خپل کلام کې د اوه اسمانونو بيان کوي او د دې ټولو په هکله کافي معلومات ورکوي:

خبرشه له دې طبقه د اسمان اوه طبقه

مـــــوږ ته څرمه د اوبـــــــــــو دي

بل د مس هغه دریم دی له اهیـــــنو

څلـــورم اسمان د سپیـــــــــــــنو

هـــغه پنځم دی د ســـــــــــرو زرو

هغه شپږم له مر غلـــــــــــــــرو

هغه اوم د سرو یاقوتو دی حلیـــــمه

(٢٧٢:٦م).

پورته بېتونو کې په واضیح شکل سره د اوو اسمانونو تشریح راغلې، چې هر یو له څه شي او څنګه جوړشوی دی. له دې ځایه معلومېږي چې دی د لوړې پوهې او بصیرت خاوند هم و، ځکه چې د داسې موضوعاتو په داسې پراخ شکل بیانول څه دومره اسان کار نه و او نه دی، خو دا هر څه د ده د ډېرې پوهې او بصیرت محصول دی.

د جنت بیان: دی په خپل شعر کې د جنت بیان په داسې شکل کوي، لکه چې سم یې لیدلی او دا په دیني علومو کې د ده د پوهې محصول دی. دی په جنت کې شته نعمتونه بیانوي او په اړه یې ښه څرګند وضاحت کوي.

دی وایي چې په جنت کې به نه خواري وي، نه محنت، نه به بوډاوالی وي، نه به مرګ، نعمتونه به پرېمان وي، د هر نعمت خوند به بېل بېل وي او هم به یو نعمت په څو رنګه خپل خوند د الله تعالی په کرم سره افاده کوي، په جنت کې به غم نه وي، تل به جنتیان له الله تعالی سره په محبت اخته وي. د دې ټولو خبرو لپاره یې بېلګه دلته را اخلو:

په جنت کې نه ضرر نه به محنت وي

هر سړی به په ښادۍ کې فراغت وي

نعـــمتونه به پرېمان وي ولو نه ولونه

په څـــو رنګه به د هر نعمت لذت وي

اشنایي عزیزولي به سره کانـــــه دي

په جنت کې نه غصه نه به شدت وي

مخـــامخ به په تختونو سره ناســت وي

دا خاکي بنه ده به هسې په حرمت وي

(٦:٤٤٤م).

دی وايي چې دغه له خاورو جوړېنده به په هغې دنيا کې په ډېرو ښکلو تختونو سره ناست وي، له هر درد او غم څخه به د الله تعالی په حکم سره په امن کې وي.

د قناعت په باره کې وايي: هر څه چې انسان ته په هره اندازه او پيمانه د الله تعالی له لوري ورکول کېږي؛ نو بايد انسان پرې صبر او قناعت وکړي. که صبر وکړي نو الله تعالی به ورته له دې نور هم زيات ورکړي او که په دې ناخوښي وښودله، نو الله تعالی به ترې ناراضه شي او په مال کې به يې له دې هم کمی راشي .

دی وايي چې انسان دې د صبر او قناعت په برخه کې د چارپايه زده کړه وکړي او له هغه دې ياد کړي، چې صبر څه ته وايي چارپای ته چې خپل څښتن وانښه وانه چوي له ډېرې ولړې او سترپا سره بيا هم دا لويه حوصله پروت وي او هېڅ نه وايي چې په پای کې يې خپل خاوند په پوره دلچسپۍ سره ورته خواړه په ښه پرېمانه اندازه راوړي او مخکې يې ورته کېږدي، دا يې ګټه ده په دې اړه يې دغه بېلګه له مجموعې دلته راوړو:

د قناعت په کرسۍ کښينـــــــــــه

خامــوشي بېداري زده کړه له چارپايه

(٦:٤٩١م).

درې بربادونکي څيزونه: دی وايي چې کله انسان دغه درې بربادونکي څېزونه چې عبارت دي له (زړه، نفس او سترګې) څخه په ناسم ډول استعمال کړي؛ نو ژوند به يې له لوی نقصان سره مخ وي هم په دنيا او هم په اخرت کې ځکه چې همدغه درې څېزونه د انسان سرنوشت ټاکي او په سم او ناسم استعال سره يې د انسان په ژوند کې مثبت او منفي تغير راتللی شي چې موږ په همدغې موضوع کې د ده له کلام څخه يوه بېلګه را اخلو :

زړه بادشاه نفس يې وزير شي

سترګې غـــم راوړي له ورايـــه

(٦:٤٩١م).

څلورمه برخه

په پورته بحثونو کې د منځنۍ دورې د لومړي پړاو دېوان لرونکي شاعران او دېوانونه يې له خپلو ځانګړنو سره وپېژندل شو، دا چې زموږ څېړنه د منځنۍ دورې د ټولو دېوانونو سپړنې ته ځانګړې شوې، نو ځکه زموږ د څېړنې څلورمه برخه د منځنۍ دورې د دويم پړاو د شروع سرلارې او مخکښ خوشحال بابا څخه پيلېږي، چې ورپسې به د ده د لارويانو د دېوانونو جاج هم اخيستل کېږي.

د خوشحال خان ختک پېژندنه

زما موضوع د دويمې دورې د دېوانونو څېړنه ده، په خپل وار د خوشحال د ادبي مکتب او د نوموړي د لارويانو د دېوانونو څېړنه او پېژندنه کوم، په دې برخه کې لومړی کس چې د يادونې وړ دی، خوشحال خان ختک دی.

((د مغلي پاچا جهانګير د (۱۰۱۴- ۱۰۳٦هـ ق) د پاچاهۍ په اتم کال د ختکو په جاګيرداره کورنۍ کې يو ماشوم نړۍ ته سترګې پرانستې، کله چې لوی شو، ځوان شو او خان شو؛ نو د خپلې خانۍ د سياست په ساحه او عام ډول د فرهنګ په باره کې دومره کارونه وکړل، چې کارنامې يې اوس د پښتنو او سيمې په اجتماعي او فرهنګي تاريخ کې ځلانده او نه هېرېدونکی موقف لري، دا شخص د ختکو نوميالی خان خوشحال خان دی. خوشحال په خپلو اثارو کې د ځان په باب ډېر څه ليکلي او ويلي دي، نوموړی په خپله يوه قصيده کې خپل ځان داسې راپېژني:

زه خوشحال د شهباز خان يم
چې تورزن يم کان په کان
شهباز خان د يحيی خان و
چې بل نه و هسې ځوان
يحيی خان د اکوړي و
چې په توره شو سلطان
د هجرت زر دوه ويشت سن وه
چې زه راغلم په جهان
هغه کال پوره پنځوس و
چې شهيد شو شهباز خان

د هغـــــــــه دور بـــــــــادشاه و

قـــــــدردان شـــــــاه جهـــــــان

د پـــلار ځـــای يـــې وماتـــه راکـــړ

(۱۳۵:۷۸-۱۳٦م).

خان بابا چې په يوه جاگيرداره کورنۍ کې نړۍ ته سترگې پرانستې، له هماغه لومړي سره يې ژوند له ځينو پېښو سره مل و، همدا د ژوند پېښې، کورنۍ موقف او د چاپېريال تاثير و، چې خان بابا يو داسې سياستوال او فرهنگيالی شو، چې د تورې او قلم ځلا يې ښکاره شوه، نوموړي په خپل وخت کې د پښتنو يواځېنی لوی ليکوال او سياستوال دی چې په نړيواله کچه پېژندل شوی دی، پښتو يې له سيالانو سره سيال کړه او په نشت حساب امکاناتو يې دومره لاسته راوړنې او کارونه کړي، چې موږ يې په فرهنگي تاريخ کې لا تر اوسه هم مثال نه لرو.

خان په پورته قصيده کې د ځان پېژندنې تر څنگ خپل او د خپل نسب ستاينه هم کړې، هېره دې نه وي چې د خان ياده ستاينه هم په حقيقت ولاړه او رښتينې ستاينه ده. هغه واقيعتونه يې ذکر کړي چې ټولو ته ښکاره او نه پټېدونکي دي.

په تاريخ مرصع کې د زوکړې تاريخ په پارسي ژبه داسې راغلی:

تاريخ خوشحال خان ختک در ربيع الثاني

امـــد چـــون دريـــن کهنـــه ربـــاط خـــاني

حـــق گردانـــا و مـــرد راخـــير رســـان

تـــاريخش گشـــت خـــير عالميـــان

(خير عالميان) د ده د زوکړې تاريخي ماده ده چې د ابجدو په حساب (۱۰۲۲) ترې راوځي. خوشحال خان د همدغې (۱۰۲۲هـ ق) کال د ربيع الثاني په مياشت کې زيږيدلی دی. د خان بابا زوکړه د ميلادي تقويم له مخې په(۱٦۱۳م) کال د مې يا جون په مياشتو کې ده.

د خوشحال خان د زوکړې په وخت کې د ډهلي د مغلي امپراطورۍ واگې د جلال الدين اکبر د زوی نورالدين جهانگير (۱۰۱۴-۱۰۳۷ هـ ق) په لاس کې وې. د دوی د جاگيردارۍ کابو درې دېرش کاله تېر و، پلار يې شهباز خان د ده د زوکړې پر کال د دوه ويشتو کالو ځوان و، سرای اکوړی د دوی د سردارۍ مرکز و، خوشحال خان په همدې سرای اکوړي کې دنيا ته سترگې پرانيستې دي تاريخ مرصع چې د افضل خان ختک اثر دی، د خان د پېژندنه تر ټولو لومړی ماخذ دی او د خان بابا په اړه يې تر موږ ګڼې خبرې او

معلومات را رسولي دي. په همدې اساس يې د خان بابا د زوکړې په باب هم په پورته ډول يادونه کړې ده او (خيرعالميان) چې د ابجدو په حساب ترې د خان د پيدايښت نېټه جوتېږي ذکر کړې ده. هېره دې نه وي چې د خان د پيدايښت په نېټه کې د ميلادي تاريخ دوه مياشتې ځکه ذکر شوي چې د نوموړي د پيدايښت نېټه د مې له اتلسم څخه شروع او ان تر جون پورې ورځو کې يوه ده او دقيقه څرګنده نه ده، نو ځکه يې د دواړو مياشتو ذکر کړی دی.

((لکه څنګه چې په مخکې قصيدې کې يادونه وشوه، خوشحال خان د شهباز خان زوی د يحيی خان لمسی او د ملک اکوړي کړوسی دی، په قام خټک او (ترې) پښې ته منسوب او نسبي شجره يې کرلان ته رسېږي چې هغه بيا د پښت د قبيلې يوه پښه ده. خان په خپل منثور اثر دستار نامه کې خپله نسبي شجره دا ډول ښودلې ده: افضل خان د اشرف خان، اشرف خان د خوشحال خان، خوشحال خان د شهبازخان، شهباز خان د يحی خان، يحی خان د شيخ علي، شيخ علي د هوتي، هوتي د بټي، بټي د لقمان، لقمان د برهان(۷۷:۷۲-۷۳م).

هېره دې نه وي چې د دغه بريالي سالار ژوند له کوچنيوالي څخه له ځينو حوادثو سره مخ و، د مثال په ډول دی په (۱۰۲۹ هـ ق) کال په لنډي سيند کې ډوب شو او نجات يې وموند، په اته کلنۍ کې په (۱۰۳۰هـ ق) کال له څپرې کاڼی پرې رالوېده، دا ځل يې هم نجات وموند. په (۱۰۳۵ هـ ق) کال خوشحال ديارلس کلن و چې د خټکو او يوسفزو تر منځ په جګړه کې ګډون وکړ. په (۱۰۵۰ هـ ق) کال د مالي د ورکړې څخه د اکاخېلو قبيلې په صورت کې د شهباز خان لښکرو په اکاخېلو قبيلې يرغل وکړ، چې په ياده جګړه کې خټکو ماتې وخوړه، شهباز خان غشـی خوړلی و او له جګړې پينځه ورځې وروسته مړ شو.

خوشحال خان هم په ياده نښته کې ټپي شوی و، هېره دې نه وي چې د قبيلې له رسومو سره سم د پلار له مرګ څخه وروسته خوشحال خان د پلار ځای ناستی وټاکل شو، په همدې ترتيب د خوشحال خان خټک ټول ژوند تر مرګ پورې د حوادثو او پېښو څخه ډک دی چې د ټولو يادول يې موږ له موضوع څخه لرې باسي.

په پای کې خان بابا په (۱۰۹۸)هـ ق کال ډنبرنومي ځای ته هجرت وکړ او بالاخره د(۱۱۰۰)هـ ق کال د څلورمې مياشتې په ۲۸ مه نېټه وفات شو، مړی يې له اپريدو څخه سړای اکوړي ته څو ميله لرې ابسوړ مقام ته راوړل شو او خاورو ته وسپارل شو(۷۸:۱۴۰م).

پر مقبره يې د څه له پاسه اويا کالو راهيسې هر کال په سپرلي کې غونډې جوړېږي، د قبر ډبرليک يې په افغانستان کې جوړ او د پښتو ټولنې د يو پلاوي له خوا په (۱۹۴۸) کال پښتونخوا ته ويوړل شو او هلته يې په مزار کې ځای پر ځای شوی دی(۱۸:۱۸۵م).

د خان بابا په دې پورته څو کرښو پېژندنه بسنه کوم اوس غواړم څو کرښې یې د پښتو ژبې لپاره پر استعمال کړي قلم ولیکم. خان بابا د پښتو ادب په کلاسیکه شاعرۍ کې هغه ستر شاعر او ادیب دی چې زیات او کم له څلورسو کالو راهیسې د افغان ولس، د نړۍ د لویو پوهانو او پوهنیزو مرکزونو د پاملرنې او څېړنې وړ ګرځېدلی دی چې په دغه کلتوري میراث به څېړنه او ځیر کتنه تر هغې دوام ولري، چې په نړۍ کې ولسونه په څېړنه بوخت وي.

له دغه سترې فرهنګي هستۍ څخه ګڼ موضوعات او درانه درانه اثار په میراث راپاتې دي. د خان بابا اثار د شعر، ادب، ژبپوهنې او نورو بېلابېلو پوهنو او څېړنو لپاره د لوی دریاب حیثیت لري چې لامبوزن پکې ستړی کېږي، خو د ده برید، پوله، سر او تل به تر خپلې لامبو لاندې دخیل نه کړي او د ژوند تر پایه به پکې ستړی او ستومان وي.

خان بابا چې د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې د خپلو هر اړخیزه نوښتونو په وسیله د یو پوره ادبي مکتب بنسټ ایښودونکی دی چې وروسته بیا د ده همدغه لار ډېرو لیکوالو، شاعرانو او پوهانو تعقیب کړې او نوموړی د دې لویې ډلې سر لاری، سالار او لارښوونکی دی. خان بابا هغه څوک چې:

(پښتو شعر او ادب یې یو نوي پرمختیایي پړاو ته داخل او د ودې او پرمختیا لپاره یې په شعوري توګه هلې ځلې پیل کړې. د مسجع او متکلف نثر پر ځای یې ساده، روان او د خلکو محاورې ته نږدې نثر لیکلو بنسټ کېښود. د ختکو ځانګړی لیکدود یې را منځته کړ.

په شعر او ادب کې حماسي، رزمي او ملي روحیه پیاوړې شوه. د خوشحال په ادبي مکتب کې شعر او ادب د مضمون له پلوه ډېر بډای شو، په پخوانیو عشقي، عرفاني، پند، نصیحت او اخلاقي مسایلو سره سره بېلا بېل موضوعات تاریخي پېښې، پر ټولنه او حاکمه طبقه انتقادونه، له قوم او وطن سره د مینې احساسات په پراخه پیمانه په ادب کې انعکاس شول. پښتو ادب ته یې د شرقي شاعرۍ ټول انواع، له غزل، قصیدې، رباعي، مثنوي او مربع سربېره چې موږ یې تر دې د مخه دوره کې هم نمونې لرلې، مسدس، مثمن، ترکیب بند، ترجیع بند، ذولقافتین او نور ډولونه په پښتو شاعرۍ کې په پراخه پیمانه رواج کړل(۱۸۸:۷۴م).

محمد صدیق روهي په خپله ادبي کره کتنه کې وایي: خوشحال څو بعدي شخصیت دی، دی پښتون لیکوال، سیستمدار، سیلاني جرنیل، تورزن، عالم، فاضل، شاعر، ادیب، حکیم، فیلسوف، مصنف، متقي او پرهیزګار انسان و. (۱۱۷:۷۳م).

په پای کې ویلی شو چې د خان بابا مثال په پښتو ادب کې د هغه ځلانده لمر دی چې رڼا او شغلو یې پښتو ژبه په نړۍ وځلوله او هغه شاعران او لیکوال چې له ده څخه وړاندې تېر شوی و، د خان بابا په راتګ سره له نظره پناه او د دې روښانه او هر اړخیز شخصیت د کارنامو او قلم په وړاندې هڅې په هېڅ شمار

شوې.

مبالغه به نه وي که ووايو چې خان بابا د پښتو شاعري پلار او بابا ادم دی. په پښتو شاعري کې نه له خوشحاله وړاندې او نه له هغه وروسته تر دې دمه د خان هومره لوی شاعر پیدا شوی دی. باید ووایو چې خوشحال خان ختک د پښتو شاعري هغه لوی انسان دی چې عظمت او جامیعت یې نه یوازې پښتنو او پښتو ته روښانه دی، بلکې نړیوال هم د نوموړي له روښنایی څخه اگاه او مستفید دي.

اړینه بولم چې د خان بابا په اړه له لاندې موضوعاتو هم یادونه وکړم: د خوشحال خان ختک د پېژندنې په اړه تر ټولو پخوانی ماخذ تاریخ مرصع (١١٣٦هـ ق) دی، تر دې وروسته پټه خزانه (١١٤١هـ ق کال کې تالیف) د خان بابا احوال پکې راغلي دي. په اروپایي پوهانو کې الفنسټن لومړنی اروپایي پوه دی چې د خان اثار یې پښتو ته ژباړلي دي.

لومړنی کس چې د خوشحال پوهنې مطالعات یې په افغانستان کې پیل کړل، اروابناد غلام محی الدین افغان د (حالات خوشحال خان ختک) تر عنوان لاندې په دري مقاله ولیکله او په سراج الاخبار کې نشر شوه، یعنې د بابا په افغانستان کې د معاصرې ادبي دورې په پیل کې د بابا په اړه کار پیل شو. په پښتونخوا کې لومړنی کس اروابناد پروفیسر عبدالمجید افغاني دی چې د خان بابا په اړه یې مطالعات پیل کړل او په کلیات یې مقدمه ولیکله.

په افغانستان د خوشحال خان مطالعات په پښتو او دري ژبو شوي دي او په پښتونخوا کې د پښتو تر څنگ په اردو او انگریزي ژبو هم پر بابا هر اړخیزې څېړنې شوي دي. علامه اقبال لاهوري لومړنی عالم دی چې د خوشحال خان ختک مطالعات یې پیل کړلو ده په انگرېزي ژبې د بابا په اړه یوه مقاله ولیکله چې د مقالې عنوان یې (افغان جنگیالی شاعر خوشحال خان ختک) و. مېرمن فېروزالدین لومړنۍ مېرمنه وه چې په پنجاب کې یې د بابا په اړه د (phd) تېزس په انگرېزي ژبه ولیکه، د تېزس عنوان یې(د خوشحال خان ختک ژوند او هنر) و.

پورته ذکر شوي لیکوال، عالما او پوهان په خپلو کارونو کې د اولیت حق لري او په خپلو کارونو کې اول دي. ختیځ پوهانو د خان بابا په اړه خپل مطالعات په انگرېزي، روسي، فرانسوي، جرمني، ډنمارکي او داسې نورو ژبو ترسره کړي دي. همدارنگه د بابا په اړه د افغانستان، پښتونخوا او ځینې نورو هېوادونو په پښتو څانگو او ادبیاتو پوهنځیو کې څانگړي مضامین تدریسېږي.

د خوشحال په اړه گڼې فرهنگي ټولنې او موسسې هم جوړې شوي. په افغانستان کې لومړنی کس چې د بابا پر اثارو یې مقدمه لیکلې ده، لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي دی، همدارنگه د بابا په ژوند، فن او نورو خواوو ډېری کتابونه چې څېړنیزه بڼه لري لیکل شوي او لا هم دا لړۍ روانه ده(١١٢:٧٣م).

د خوشحال شاعري

خوشحال خان خټک په شل کلنۍ کې شعر ویل پیل کړي دي، د خان بابا د یوې قصیدې په یوه بیت کې راغلي:

په شل کـاله کې دیګ زما د شعر په اور بار شو

په دا دور مې پوخ کړ چې شپیته کاله مې تللي

د خان بابا د پورتنۍ یادونې له مخې ویل کېږي چې ده په شل کلنۍ کې په شعر ویلو پیل کړی، چې له (۱۰۴۲هـ ق) سره سمون لري. خوشحال پوهان د ده دا لاندې شپږ بیتیزه غزله د خان لومړنی غزل بولي:

عقــل ســل د مصــلحت بندونــه جــوړ کــا

چــې د عشــق ســېلاب پــرې راشي واړه توړکــا

ماته مه وایه عـــاقله چــې عــشــق څـه دی؟

که مئیــن شــې تا به هـم لـه عقـــله مـوړ کـا

زه بـــه هېـڅکله لـــه عشــقه نـه وانــه وړم

عقــل څـــه پـه قــهر تـل د ګــوتو مـروړ کـا

زه کــه هر څو خپل پیــوند شلوم لــه عشـقه

ولې ما او عشق بـه خـــدای لـه وبلـه جـوړ کـا

زمـــا عمـر پـه حســاب تـر شـــلو زیـات دی

دعشق غم به مې په دېـرش کالـه کـې زوړ کـا

که یې چېرې د خپـل یـار پـه وصـال لاس شي

بېـچاره خوشحال به هـم خـاطر پـرې سـوړ کـا

ډېر لیکوال د خان بابا د کلام د پوخوالي په اساس وایي چې نوموړي تر دې وړاندې هم شاعري کړې. پروفیسور پرېشان خټک په دې عقیده دی چې خان بابا به له هلکتوبه په شعر ویلو پیل کړی وي او په شل کلنۍ کې به یې څرګنده کړې وي. خان بابا له (۱۰۴۲هـ ق څخه تر ۱۱۰۰هـ ق) کال پورې شاوخوا اته پنځوس کاله باقاعده شاعري کړې او په دې اته پنخوس کالو کې یې په پښتو نظم کې موږ ته ډېر څه په میراث را پرېښې دي(۱۷۷:۷۷م).

دا چې خان بابا په خپله وایي چې نوموړي په شل کلنۍ کې په شعر ویلو پیل کړی او پوهان پورته ذکر شوی شعر د نوموړي لومړنی شعر بولي، نو موږ د ده د شعر د پوخوالي په اساس دا خبره په زغرده کولی شو

چې خان بابا تر دې وړاندې هم شاعري کړې، خو په دې هکله کوم ښکاره ثبوت نشته. په دې باب زه هم د پرېشان خټک پورته ذکر شوې خبره تاییدوم.

په عمومي ډول د بابا فرهنګي او تاریخي ژوند درې مهمې مرحلې لري چې په لاندې ډول دي:

۱ـ (۱۰۲۲ـ۱۰۷۴هـ ق پورې): (بابا د ژوند په دې ۵۲ کلونو کې له مغلو سره کار کاوه او په (۱۰۴۲هـ ق) کال کې د شلو کالو په عمر یې لومړنی شعر ویلی دی، په دې وخت کې د ژوند ډېرې پېښې د شعرپه واسطه په خپل کلیات کې ځای کړي دي. د خان بابا له دې پړاو شاعري څخه د دوو ورستیو پړاونو شاعري نسبتاً پیاوړې ده(۱۱۳:۷۳م).

په دې موده کې خوشحال خان خټک خان و او د مغلو په طرف ولاړ و، د مغلو لپاره یې ګڼې جګړې او سوبې کړې دي. د خان بابا له دې پړاو شاعري څخه یې ځکه د دوو نورو پړاونو شاعري پیاوړې ده چې په هغې کې د سختیو، بند، د پښتنو د بې اتفاقۍ، د مغلو د ظلم او... دردونه پراته او منعکس شوي دي.

۲ـ (۱۰۷۴ـ۱۰۷۹هـ ق پورې): (بابا په دې کلنو کې بندي و، د بند موده یې څلور کاله او نهه میاشتې کېږي. د بند مودې شاعري یې د هنریت له پلوه غني ده او د خپلو قصیدو ډېره برخه یې په بند کې ویلې ده، د اشعارو دا برخه یې د زندان تاثیرات لري. فراق نامه، ترکیب بند، ذوالقافیتین او نور اشعار یې په بند کې ویلي دي.

د بابا د بند او له بند څخه وروسته شاعري ځانته خصوصیات او ځانګړنې لري، په یو لاس کې توره او په بل لاس کې قلم، د رباب د ټنګ پر ځای یې د تورې له شړنګ سره سندرې پیل کړې او دغه د تورې پر شړنګ باندې ویلې سندرې هېڅ زړښت نه لري.

د خان بابا د بند مودې شاعري له ځانګړې کیف څخه برخمنه ده، ځکه ټول هغه دردونه د شعر په ژبه بیان کړي دي چې د زندان په تورو تیارو کې ورسره مخ شوی او د مغلو له زور او زیاتي څخه یې سر ټکولی، دا یې هم په زغرده ویلي چې نور به هېڅکله د مغلو تر څنګ ونه درېږي او نه به د مغل لپاره جنګ وکړي، بلکې له دې وروسته دوه شعاره چې مغلو سره رزم او یا مرګ زمزمه کوي او دا اعلان په زغرده کوي.

۳ـ (۱۰۷۹ـ۱۱۰۰ هـ ق پورې): (د بابا د دې دوران شاعری رزمي خوا درنه ده او په خپلو اشعارو کې خپلو اولادونو او پښتنو نه د اتفاق غوښتنه کوي، د دې دورې شاعري هم په هنري لحاظ پیاوړې شاعري ده.) (۱۱۳:۷۳م).

د بابا د دې مودې شاعری کې د رزمي خوا تر څنګ د پښتنو اتفاق هم غواړي، د خپلو زامنو او پښتنو له بې اتفاقي سر ټکوي او د دوی له بې غوری زړه خوري. نوموړی دوی ته دا توصیه کوي چې د مغلو او پردیو خواه پرېږدي، یو موټی دې شي، په خپلو کې دې یو بل وزغمي او د نورو په اشارو دې نه ناڅي.

د خوشحال بابا د دېوان ځانګړنې

کلیات د یو لیکوال او ویناوال د اثارو راټولې شوې مجموعې یا ټولګې ته وايي او تر کومه چې د خوشحال بابا د منظومو اثارو د ټولګې د چاپ او خپراوي د تاریخي بهیر په شالید پورې اړه لري. دېوان یې لومړی ځل د پېښور جېل په چاپ خونه کې پر(١٨٦٩م او ١٨٧٠م) کلونو د ډاکټر بیلیو په زیار او د سلطان داروغه په څارنه لومړی برخه په ٨٩ او دویمه برخه په ٦٠٨ مخونو کې جلا جلا او بیا دواړه په یو ټوک کې چاپ او خپور شوی دی.

دویم ځل د پروفیسرعبدالحمید افغاني په سریزه په هوتي مردان کې په (١٩٢٩م) کال او بیا یې یو بل څېړنیز متن (د خوشحال مرغلری) په نوم د پوهاند عبدالحی حبیبي په سریزه او تدوین په(١٣١٧ ل) په کندهار کې، (١٩٢٥م او ١٩٦٠م) کلونو کې (کلیات خوشحال خان) په نوم د دوست محمدکامل مومند په سریزه او تدوین په اداره اشاعت سرحد پېښور کې، ورپسې په شپږم ځل پر (١٩٦٤م) کال د میاسیدرسول رسا په سریزه او تدوین چې پکې له دېوان سربېره د بابا ځینې منظوم اثار لکه فضلنامه، طب نامه، بازنامه، سوات نامه او... هم را یو ځای شوي دي.

د یونیورسټي بک ایجنسي پېښور له خوا د (ارمغان خوشحال) په نوم، په اووم ځل(د خوشحال خان ختک کلیات) لومړی ټوک په نوم یوازې غزلې او دویم ټوک یې(قصاید، قطعات او متفرقات) په (١٣٦٩ل) کال د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز له خوا، ورپسې په پښتونخوا پېښور کې د محکمه ثقافت صوبه سرحد له خوا د دېوان خوشحال خان په نوم په دوو ټوکونو کې، (د خوشحال خان ختک کلیات) په نوم د عبدالقیوم مشواني په تدوین او ترتیب، په (١٣٨٤ل) کال په پېښور کې د دانش خپرندویې ټولنې له خوا او په (٢٠٠٦م) کال د پښتونخوا یونیورسټي بک ایجنسي د پروفیسر یارمحمد مغموم په سمون، سریزه، حاشیو، تشریحاتو، فرهنګ، تدوین او ترتیب چاپ شوی.

د خوشحال خان ختک دېوان په نوم یې لومړی ټوک (غزلې) د څېړنوال حبیب الله رفیع په سریزه، سمون او تد وین د خوشحال خان د دېوان د خپلې لاس کښلې(قلمي) نسخې له مخې په ډېره ښکلې کچه او صحافت په(١٣٩٧ل) کال په کابل کې چاپ او خپور شو. د دغه لوی دېوان (کلیات) پاتې برخه به په راتلونکي کې په شپږو ټوکونو کې چاپ او خپور شي(٣٦:٧٤م).

پورته مو د خان بابا د چاپ شویو کلیاتو او دېوانونو په اړه تفصیل سره بحث وکړ، اوس راځم د موضوع مطابق د خان بابا هغه کلیات چې زما په اند نظر نورو دېوانونو ته بشپړ او ما ورته په پوره ډول لاس رسی درلوده، تاسو ته درپېژنم چې په لاندې ډول دی:

د اثر نوم: ارمغان خوشحال

مقدمه: سید رسول رسا

د چاپ کال: لومړی ځل(۱۹۴۷) دویم ځل (۲۰۰۱)

تعداد: زر ټوکه

خپرندویه ټولنه: یونیورسیټي بک ایجنسي خیبر بازار

چاپ ځای: ماسټر پریس محله جنگي پېښور

دا اثر د (تړون) تر سرلیک لاندې (سرایولن هاول او سراولف کیرو) چا چې د خوشحال خان خټک منتخب کلام د انگریزي شعر په جامه کې ننني دنیا ته څرگند کړ ډالۍ شوی دی.

د کتاب په درېیم مخ کې د پېش لفظ تر سرلیک لاندې د سید رسول رسا د هغې مقالې د ځینو برخو یادونه شوې چې په (۱۹۳۸) کال د خوشحال بابا په مزار د اولې جلسې او مشاعرې پر مهال د سیدرسول رسا له خوا وړاندې شوې او د ځینو هغو لیکوالو یادونه یې هم کړې چې په خوشحال یې جامع اثار لیکلي دي، لکه دوست محمد کامل، میر عبدالصمد خان او... د دې تر څنگ یو څه خبرې نورې هم شوې دي چې دلته یې د ټولو یادول موږ له موضوع څخه لیرې کوي.

تر دې وروسته د اثر له شپږم مخ څخه تر بېلابېلو عنوانونو لاندې یوه جامع او بشپړه سریزه راغلې چې تقریباً تر (۱۴۸) مخ پورې دوام کوي.

په سریزه کې لومړی څېړل شوی سرلیک (د خوشحال خان شخصیت او شاعري، د خوشحال زمانه او د هغې زمانې تاریخي پس منظر) کې د خوشحال د اوسېدو ځای په منځنۍ اسیا کې د اوسېدونکو قومونو یادونه او هغو پښتنو قبیلو یادونه شوې، چې په هند یې کې حکومتونه کړي، چې دا ټول یوې لویې قبیلې غلجیانو ته منصوبېږي یادونه شوې، همدارنگه د خیبر د لارې تاریخي او اقتصادي ارزښت ته هم اشاره شوې ده.

دې پسې په ترتیب سره د خوشحال خان خټک خاندان، د یوسفزیو او خټکو تر منځ د قبایلي جنگونو بنیاد او گڼ نور عنوانونه څېړل شوي دي، هېره دې نه وي چې د سریزې په پای کې د هغو کتابونو یادونه هم شوې چې په دې مقاله کې ورڅخه استفاده شوې.

تر دې وروسته د کتاب د سرلیکونو فهرست راغلی چې نوموړی اثر په اته ټوکو وېشي، اول ټوک یې قصیدې، دویم ټوک یې رباعیات، درېیم ټوک غزلې، څلورم ټوک قطعې او متفرقات، پینځم ټوک فارسي کلام، شپږم ټوک فضل نامه، اووم ټوک بازنامه او اتم ټوک صوات نامه ده.

له دې وروسته د اثر د اشعارو برخه شروع کېږي چې اوله برخه یې د قصیدې دي.

په (١٠٦) مخ کې قصیدې پای ته رسېږي او تر دې وروسته د کتاب دویم ټوک (رباعیات) شروع کېږي. په (٣٠٨) مخ کې د رباعیاتو برخه هم پای ته رسېږي؛ په دېوان کې د ټولو راغلو رباعیاتو شمېر (١٥٩٥) ته رسېږي.

تر دې وروسته د اثر دریم ټوک غزلې شروع کېږي. په ٦٧٢ مخ کې د غزلو برخه پای ته رسېږي او د اثر څلورم ټوک قطعې شروع کېږي. یاده برخه هم په ٧٥٦ مخ کې پای ته رسېږي او له دې وروسته د اثر د متفرقاتو برخه شروع کېږي، چې مسدس، ترکیب بند، ترجیع بند، مخمس، ترکیب بند ذوالقافیتین، مربع، معشر، مثنوي ... پکې راغلي دي، یاده برخه هم په ٧٨۴ مخ کې پای ته رسېږي.

تر دې وروسته د کتاب پینځم ټوک (فارسي کلام) شروع کېږي. په ٨٠٠ مخ کې د فارسي اشعار هم پای ته رسېږي. په ٨٠١ مخ کې د دېوان شپږم ټوک (فضل نامه) شروع کېږي. یاده برخه په (بسم الرحمن الرحیم) شروع شوې چې په لومړي شعر کې یې د الله (ج) ثناء او حمد دی، په دې پسې صفت د پاک رسول الله (ص) راغلی او تر دې وروسته فصل ذکر موت، فصل ایمان راوړنه په حشر او په همدې ترتیب ټول دیني او اسلامي شعایر په ترتیب سره راغلي دي، پورته برخه هم په ٩٧٢ مخ کې چې له اودس څخه نیولې تر زکات، طلاق، د بېلابېلو ورځو لمونځونو، د اخترونو د لمونځونو د اسلامي قوانینو او اصول په راوړلو سره پای ته رسېږي.

په ٩٧٣ مخ کې د کتاب اووم ټوک (بازنامه) شروع کېږي، یاده برخه هم په فصلونو تقسیم شوې چې ټول بحث یې په باز راڅرخي، د فصلونو تر څنګ په یاده برخه کې په متفرق ډول هم ځینې بیتونه راغلي دي. دا برخه هم په ١٠١٦ مخ کې پای ته رسېږي.

له دې وروسته د دېوان اتم ټوک (سوات نامه) شروع کېږي چې په یاده برخه کې د سوات په اړه بېلابېلې برخې او اوصاف د شعر په ژبه ذکر شوي دي، دا برخه هم په ١٠٣۴ مخ کې پای ته رسېږي او د دېوان د اشعارو برخه هم په همدې ځای پای ته رسېږي.

وروستیو کې د نشرونکو یوه کوچنۍ غوندې یادونه شوې او ویلي یې دي چې د دوی د لټون چارې دوام لري، هر کله یې چې مستند مواد تر لاسه کړل، نو هغه به په دویم جلد کې خپاره کړي. د اثر د کاتب غلام لطیف چپرهاري له خوا (١٩٩٩) کال، فبروري دریم له یادولو سره دېوان پای ته رسېږي.

د خوشحال د دېوان شعري فورمونه

په عمومي ډول د خان بابا دېوان ټول عروضي اشعار لري او د ولسي اشعارو هېڅ ژانر پکې نه لیدل کېږي، د ختیځې (عروضي شاعري) ټول ژانرونه یې په خپلو اشعارو کې کارولي دي، ځینې ژانرونه له ده څخه وړاندې په لروغونې دورې او د روښان په ادبي مکتب کې کارېدلي و او د ځینو ژانرونو لکه: ترکیب بند،

ترجیع بند، ترکیب بند، ذوالقافیتین، معشر او مثلث سر لاری او بنسټگر په خپله خوشحال دی(۱۲۱:۷۳م).

د خان بابا په دیوان کې لاندې ژانرونه موجود دي:

غزلې

د بابا د دیوان یوه لویه برخه د ده غزلې دي چې شمېر یې (۸۰٦) ته رسېږي، دا غزلې په لومړي ځل په (۱۳۵۸هـ ش) کال او دویم ځل په (۱۳۵۹هـ ش) کال ځانته په یو ټوک کې چاپ شوي دي(۱۷۷:۷۷م).

یوازې عرفاني، روحاني او ځینو اخلاقي مضامینو پورې محدوده وه، د بدیعي صنایعو استعمال هم پکې کم رنګی ښکاري، خو د بابا غزلې بیا هر ډول مضامین لري او د ادبي صنایعو په ګاڼه سمبال دي، د شعریت او هنریت له اړخه هم غني دي. د پښتو نظم په تاریخ کې له خوشحال خان خټک څخه دمخه بل داسې غزل ویونکی نه لرو چې له بابا سره یې پرتله کړو.

په پښتو ادب کې لومړنی شاعر چې غزل ته یې پښتني شال ور واغوست خوشحال خټک دی، نوموړي د غزل په یوه بیت کې توره او زلفې یادې کړې.

د خان بابا د یوه غزل څو بیتونه په لاندې ډول دي چې وایي:

بیـــا له ورایه په خنـــدا راغله نـګاره

د ښه کال خوبي ښکاره وي تـــر بهاره

مـــخ توري د رقـــیبانو د یـــار وصل

فلـک ښه راپسې وکـــړل دا دوه کاره

د ګـــلزار ګلـــونه څـــه دي راشه ګوره

تـر ګـــلونو یې ښایسته دواړه رخساره

لـــکه روح چـــې لـه کالبه نه واته کا

په دا شـــان مې جدایي کېږي له یاره

(۳۵۹:۱۷م).

د خان بابا په غزلو کې بې ردیفه غزل، ردیف وال غزل، مات غزل، څو قافیز غزل او ټول قافیز غزلې موودې دي، تر بابا د مخه د هېڅ شاعر په اشعارو کې د غزل پورته ډولونه نشته.

قصیدې

د بابا د دیوان بله غټه برخه قصیدې دي چې څېړونکي یې شمېر (۵۲) ښایي او یادې قصیدې یې په کلیات کې موجودې دي. د خان بابا قصیدې هم بېلابېلې منځپانګې لري، لکه سیاسي، اجتماعي، رزمي او داسې

نور..

په دېوان کې راغلې قصيده چې له خپلو زامنو څخه يې په فرياد کې ويلي، څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

نـــاخلف مـــې حـــواله کـــړ پـــه تـــقدير
نصـــيحت وربـــاندې نـــه کـــاندي تـــاثير
خـــوی خصـــلت چـــې ازلي وي نـــه نـــورېږي
پـــه ارشـــاد او تلقـــين د کـــامل پـــير
بـد فـرزند دې خـدای د هيچـا پيـدا نـه کـا
په خصلت يـې پلار پـه ځـان وي مـور پـه ويـر
چـــې نصـاحب د بـــولهب و نـور څـه نـه شـو
محمـــد کـــه نصـــيحت کـــړ يـــا تـــدبير

(۳۸:۱۷م).

رباعي

د خان بابا د رباعياتو شمېر ۱٦۰۴ ته رسېږي، په پښتو ادب کې د رباعي ويل تر لرغونې دورې پورې رسېږي، چې له خليل خان نيازي او بهلول لودي څخه دوه رباعي را پاتې دي. خان د رباعياتو په ويلو کې هم تر نورو ډېر غښتلی دی؛ له ساده رباعي سره سره يې په اشعارو کې بې رديفه رباعي، رديف لرونکې رباعي او څلور قافيز رباعي موجود دي، چې وايي:

لـه خپـــله يـاره چـې بـد گـويي کـړې
د اغـــــيارانو چـــــې دلـــجويي کـــړې
حق شـته انصـاف شـته عـذاب ثـواب شـته
ولـــــې دا هســـــې نـا پېـــــرزويي کـړې

(۱۴۱:۱۷م).

قطعې

د خوشحال خان د دېوان بله لويه برخه د قطعاتو ده چې شمېر يې(۴۰۵) دی. (پښتو نظم تاريخ ۱۲۷)

د خان بابا د قطعاتو شمېر د لرغونې دورې او روښاني پېر له قطعاتو څخه ډېر دی، د خان بابا په قطعو کې له يو بيت څخه نيولې تر پنځلس بيتيزو قطعو پورې شته، د خان بابا د قطعو معنوي ارزښت تر شکلي جوړښت لوړ دی. په دېوان کې راغلې يوه قطعه يې په لاندې ډول ده:

چـې صرفـه کانـدې پـه سر يـا صـرفه کانـدې پـه زر
نه به خان نه به سلطان شي نه بـه خپل کاندي کشـور
چـې پـه ځـان مېړنـی نـه وي مېړنتـوب نـه کـا لښـکر
يـا تخـت دی يـا تخـته ده د شـاهانو ځـای مقـر
کـه گـورې بـد ژونـدون دی پـه جهـان تـر مـرگ بدتـر
(١٧:٦٧٦م).

مثلث

د خوشحال خان ختک په دېوان کې يو مثلث موجود دی چې نمونه يې په لاندې ډول ده:

د پـــيسو پـــه ټولولـــو لکـــه مـــرک دی
چـې پيسـه ور ځينـې درومـي زهـره تـرک دی
د غـــوولي دنيـــادار پـــه کونـــه کـــک دی
(١٧:٦٩٢م).

مربع

د خان بابا په دېوان کې دوه څلوريز(مربع) موجود دي، چې نمونه يې په لاندې ډول ده:

د شهی تورو سنبلو په سپين مخ يې د سلسلو
پرې غوغا کا نړی بلبلو تل به وخت نه وي د گلو
لـــه ما گـــرځې دوره دوره نظـــر نه کا له غروره
نور که مـرې په تېره توره زه يې مـرم پـــه تغافـلو

(١٧:٢٧٢م).

((همدارنگه د خان بابا په دېوان کې يوه ټوټه مثنوي، څلور مخمسونه، دوه مسدسونه، يو معشر، يو ترکيب بند، يو ترجيع بند، او يو ترکيب بند ذوالقافيتين موجود دي.

خوشحال خان خان ختک ترکيب بند ذوالقافيتين د بند په دوران په رنتبور کې ويلی دی چې دغه ژانر ټول (٢٢٠) بيتونه لري او د بابا له نيولو څخه تر بند او تر رنتهبور پورې ټول حالات پکې راوړي دي.))
(پښتو نظم تاريخ: ١٢٩)

بايد ووايو چې د خوشحال خان ختک نور منظوم اثار فراقنامه، پښتو منظومه بازنامه، سواتنامه، فضل نامه، فالنامه او طب نامه دي چې د ټولو ذکر په ارمغان خوشحال کې شوی دی، دا هر يوه نامه يې ځانته ځانگړي موضوعات لري. هغه شعري فورمونه چې خان بابا پرې شاعري کړې ده؛ ټول مو له بېلگو سره ذکر

کړل، اوس به د خان بابا د اشعارو په منځپانګه بحث وکړو او د خوشحال د اشعارو معنوي اړخ به وڅېړو.

د خوشحال د شعرونو منځپانګه

لکه څنګه مو چې مخکې یادونه وکړه چې خوشحال خان ختک د ځینو ژانرونو سرلاری دی، په همدې ډول د معنا له اړخه هم د ځینو اشعارو لکه سفرنامه، حبسیاتو او هزلیاتو مخکښ او بنسټګر دی.

د بابا په اشعارو کې د معنا له اړخه هر ډول موضوعات شته چې له ځینو څخه به یې په لاندې ډول یادونه کوم:

ویاړنه: په خپل دېن، قوم، ژبه، نیکونو او نورو اوچتو صفتونو ویاړ کولو ته ویاړنه وایي.

د خان بابا په اشعارو کې ویاړنې شته چې د یوې قصیدې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

په پښتو شـــــعر چې مـــا عـلم بلند کړ

د خبـــرو ملـــــک مې فتحه په سمند کړ

مـدعي د تـــورې شـــپې اور اورکـــــی و

د سهیل غوندې مې ځان باندې څرګند کړ

(۱۷۱:۱۷م).

په پورته قصیده کې خان بابا په خپل ځان ویاړ کوي او پښتو شعر ته خپل کړي خدمتونو یادوي او ستاینه یې کوي او له هر اړخه ځان اوچت ګڼي.

ستاینه:

په همدې ډول د خان بابا په اشعارو کې ستاینې هم شته، خو خان بابا لکه د نورو درباري شاعرانو په شان ستاینه نه ده کړې او نه یې د مال او موقف لپاره د چا ستاینه کړې، بلکې د خان بابا په اشعارو کې د دیني شعایرو او ځینو هغو خلکو چې په واقعي ډول د ستاینې وړ دي، ستاینه شوې ده چې د یوې قصیدې یو بیت یې چې دیني او مذهبي ستاینه ده په لاندې ډول دی:

د خدای منت راباندې چې یې هست کړم له عدمه

بل خلـــقت یې نـــه کړم را پیدا شوم له عـــدمه

(۱۳۲:۷۳م).

لکه څنګه چې په پورته ډول یادونه شوې د خان بابا په اشعارو کې داسې ستاینه نشته چې هغه د ده د مال موقف او درباري رنګ ولري، بلکې د ده ټولې ستاینې واقعي او رښتینې ستاینې دي چې پورته دوه بیتونه یې ښه بېلګه کېدلی شي.

غندنه:

خان بابا لومړنی شخص دی چې د نورو تر څنګ یې ځان، خپل قوم او اولادونه هم غندلي او دا غندنه په واقیعت ولاړه ده، هغه څه چې باید په اړه یې غږ پورته شوی وی او د غندلو وړ دي، خان بابا هماغه غندلي، لکه چې د مغلي دربار شاهنشاه په غندنه کې د ویلې قصیدې څو بیتونه په لاندې ډول دي:

تا هنــر د سرداری نه زده بــهرامه

سرداري دې په خپل دور کړه بدنامه

هــم تمامې خپلخانې لره بلا شوې

هم خپل ځان لره بلا شوې بد فرجانه

(۱۷:٦۲۷م).

ویرنه:

دا هغه ډول شعري ځانګړنه ده چې د غم، ویر او مړه انسان په یاد او غم شریکی کې ویل کېږي، د خان بابا په دېوان کې یاده برخه هم شته چې نوموړي د خپلې کورنۍ د غړو د مرګ په وخت کې ویلي دي.

څــه داغونــه ږدې پــه زړه بانــدې فلکــه

چــې نظـام دې لـه مـا بېـل کـړو خـوا یـې ډکـه

خدایـه تـه خـو سـتمګر نـه یـې دا څـه کـړې

خلقــه دې پــه دا کــار کــړه حکــه پکــه

پـه لحـد کـې هغـه مـخ خـورې پـه چینجیـو

چــې د هیچــا پــرې پېــرزو نــه وه ځوانکــه

کشــکې ځــوان د پښــتانه پــه ننــګ مــړ وی

نــه چــې ګــور لــره روان شــوله تولتکــه

(۱۷:٦۱م).

حمد:

د اردو ادب د ژانر پوهنې له مخې حمد او نعت د شعر په معنوي انواعو کې راځي چې د خدای ج ثناء او صفت ته وایي، د خان بابا په اشعارو کې یاده برخه هم شته لکه چې وایي:

کــــل ثنــــا پــــه هغــــه ښــــایي

چــــې ثنــــایې هــــر څــــوک وایــــي

کــه څــوک کــوز دي کــه څــوک پــاس

د ده واړه پـــــــــــه ســـــــــــپاس دي

(۱۷:۴۳۱م).

مناجات

د دېوان په لومړي مخ کې راغلي لومړي شعر کې له څښتن تعالی دعا او مدد غواړي چې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

زه مـــدد غـــواړم لـــه تانـــه ای يـــوه خدايـــه احـــده
کـــه مـــدد دې راسره وي چـــار بـــه نـــه شي زمـــا بـــده
زه عـــاجز مريـــي د ســـتا يـــم تـــا بـــه ســـتايم پـــه فضـــل
ســـتا ثنـــا صـــفت بـــه وايـــم څـــو زه تـــوان لـــرم بـــې حـــده
ســـتا ثنـــا ده تـــر حـــد تېـــره د بيابـــان تـــر شـــګو ډېـــره
هســـې څـــوک دی چـــې خـــيرش د ديـــو شـــګو لـــه عـــدده
نه ته زوړ يې نه ته ځوان يې لکه دی هسې يکسان يې
لکـــه وي هســـې بـــه وينـــه لـــه ازلـــه تـــر ابـــده

(۱۷:۲م).

نعت:

نعت د رسوالله ص په ستاينه او صفت کې ويل کېږي، د خان بابا په اشعارو کې دا برخه هم شته چې په دې برخه کې لاندې څو بيتونه د نمونې په ډول راوړم چې وايي:

د خـــدای مـــې وشـــو پـــه عرفـــان د محمـــد
پـــاک دی محمـــد پـــاک دی ســـبحان د محمـــد
راشـــه نظـــر وکـــړه پـــه طـــه پـــه ياســـين بانـــدې
خـــدای دی صـــفت کـــړی پـــه قـــران د محمـــد
ډېـــر خلـــق پيـــدا دي انبيـــا کـــه اوليـــاء دي
نشـــته پـــه خلقـــت کـــې بـــل پـــه شـــان د محمـــد
ډېر خلق که يو کړې انس و جن دواړه جهانـه
لا تـــر واړه بـــه دی ګوښـــی ځـــان د محمـــد

(۱۷:۳م).

سفرنامه:

د پښتو نظم په تاریخ کې د منظومې سفرنامې بنسټګر خان بابا دی، بابا یاد اثر د سوات د سفر په دوران او نتیجه کې لیکلی دی، په دې اثر کې د سوات د سفر حالات او د سوات په اړه یې د شعر په ژبه خبرې کړې دي، چې له ده څخه دمخه بل داسې اثر موږ ته معلوم نه دی، د سوات نامې دوه لومړي بیتونه په لاندې ډول دي:

په دوران د شاه جهان بادشاه ځوانـــــي وه
میسرـــه د زړه هـــــره کامـــــرانـــــي وه
سرای لـه سـواته فاصـله لـري دېـرش کروهـه
چـې ورکـوز شـې تـر دریـا د سـوات تـر کوهـه
درې ځیـــزه مـــې د ســـوات د زړه پـــه یـــاد وو
نـــور یـــې هـــر څـــه پـــه حیـــات و ماتـــه بـــاد وو
یـــو خسرـــان چـــې پـــه حضـــور د واده کـــار وو
بـــل یـــې بـــوی د نـــرګس زار دریـــم شـــار وو

(۱۰۱۸:۱۷م).

حبسیات:

خان بابا لومړنی پښتون شاعر دی چې د زندان شپې او ورځې یې تجربه کړې دي، تر ده دمخه بل کوم پښتون لیکوال او شاعر نه دی بندي شوی، خان بابا څلور کاله او نهه میاشتې په بند کې تېرې کړې دي، چې د دې سختو ثمره هم زموږ لویه فرهنګي پانګه ده.

د خان بابا د حبسیاتو ټولګه فراقنامه نومېږي او په دېوان کې یې هم حبسیاتي اشعار شته، د خان بابا د اشعارو دغه معنوي خوا له لوړ هنریت او شعریت څخه برخمنه ده، ځکه چې یو ډول سوز و ګداز ورسره مل دی. د خان بابا د دې اشعارو دوه بیتونه په لاندې ډول دي:

هغه خدای چې بنـدي کـړی یـې دی خوشـحال
هـم هغـه بـه یـې خلاصـی کـا پـه هـر حـال
نـــام و ننـــګ نـــاموس کـــه دا افغـــاني وي
چـــې ښـــکاره یـــې شـــو پـــه دا دارو احـــوال

(۲۰:۱۷م).

هزلیات:

په اشعارو کې ټوقې او شوخی ته وايي، هغه اشعارو کې چې طنز او مسخرې وي هزلیات ورته وايی، د دې ادبي ژانر سرلاری هم خان بابا دی په پښتو ادب کې تر ده دمخه بل هزل ویونکی شاعر نه لرو، د خان بابا په دېوان کې د هزلیاتو ګڼې نمونې شته چې د یوې قصیدې دوه بیته یې په لاندې ډول دي:

اول زړه ښــه کړه د یار

ښه په بوس او په کنار

بیا له پسه که پوهېږې

وصــحبت ته شه تیار

(۱۳۴:۷۳م).

پورته مو د خان بابا اشعار په معنوي لحاظ وپېژندل اوس به د خان بابا د اشعارو فکري، نظریاتي او علمي خواوو وڅېړو.

په دې برخه کې هم خان بابا هره خوا څېړلې او له هر اړخه څخه یې یادونه کړې ده، لنډا دا چې خوشحال د خپل پراخه شاعرانه تخیل په ملتیا هر څه ته لاس اچولی دی، د زړه وینه یې ورکړې او عرج ته یې رسولی. هغه په همدې اړه په خپله په ځان ګواهي ورکوي او وايي:

هــــر مضمون ته چې د زړه توجه وکړم

طبیعت یــې راکـــــــوي په استعجال

(۱۲۵:۵۱م).

روانوالی، مذهبي احساسات، خپلواکي، مېړانه، مینه، ژور فکر، خوندور طرز، سوز او ګداز او... هغه څه دي چې د خوشحال شاعري رانغاړي او شاعر یې پر ژبه باندې د یو برلاسي هنرمند په توګه ټولنې ته وړاندې کوي.

هغه څه چې خان بابا په خپلو اشعارو کې بیان کړي په لاندې ډول دي: (مناجات، تصوف، ملي او وطني سندرې، اخلاق، ښکار، غیرت او مېړانه، سخاوت، پت، تمه پرېکول، قناعت او حرص، سخاوت، طب، نجوم، بازداري، د ژمنې تر سره کول، د خلکو خیر غوښتنه، همدردي، د زړونو ستاینه، ښه چلند، انتقام، مېړانه، عزم، هیله او امېد، محنت او راحت، توکل، محنت او راحت، صبر او شکر، وفا، ځان ستاینه، وینا او عمل، نېک عمل او ښه وینا او نقد تر سترګو کېږي(۱۳٦:۷۳م).

اړینه بولم چې د پورته ذکر شویو ځانګړنو څو نمونې په لاندې ډول ذکر کړم:

سخاوت:

که ګنجونه د قارون درته انبار شي

په هر خوا يې غورځوه په سخاوت

ملي او وطني احساس:

اتفاق په پښتانه کې پيدا نه شو

ګنه ما به د مغول ګرېوان پاره کړ

غيرت او مېړانه:

چې يې زړه نه وي د تورې

هغــه زړونه څه په کار دي

پت:

غــم د يار د ياري هېـــــڅ راسره نشته

خداى دې ما بې پته نه کا په ياري کې

(۱۳٦:۷۳م).

په پايله کې ويلى شو چې خان بابا په خپلو اشعارو کې هره خوا څېړلې او هرې موضوع ته اشاره کړې، په هره برخه کې شاعري کړې، هر څه يې را سپړلي او هېڅ يې هم پټ نه دي پرېښي، خان بابا په اړه که هر څومره وغږېږو بيا هم کمه ده، خو د موضوع د نه اوږدېدو په خاطر په همدې پورته څو کرښو بسنه کوو او د خان بابا برخه همدلته پاى ته رسوو.

د اشرف خان هجري پېژندنه

زموږ موضوع د منځنۍ دورې د دېوانونو څېړنه ده، د خوشحال خان په ادبي مکتب کې مو د خوشحال پر دېوان خبرې وکړې، له خان بابا څخه وروسته د ده د مشر زوی او د دېوان خاوند اشرف خان هجري لنډه پېژندنه کوو.

(اشرف خان هجری د خوشحال خان ختک د مشرې مېرمنې مرجانۍ له نسه په (١٥٦٦هـ ق) کال د رمضان المبارک په اوومه نېټه د پسرلي په موسم کې زېږېدلی دی.

د خپلې فرهنګي کورنۍ په غېږ کې لوی او له همدغې فرهنګي ملاتړ څخه په استفادې خپلې زده کړې وکړې، د خپلې کورنۍ د سردارۍ په ګیر و دار کې د خانۍ او سردارۍ د رواجونو سره هم بلد شو، د خپل قبیلوي هویت او خانۍ د ساتنې لپاره د جنګ او جګړې چارې هم زده کړې او د عمر په دوولسم کال یې د تري بولاقو په جنګ کې برخه واخیسته. اشرف خان د خپل پلار تر نیول کېدو وروسته (١٠٧٤) هـ ق د خپلې قبیلې مشر شو د پلار تر خوشې کېدو وروسته (١٠٨٠)هـ ق کال خپله خانې او سرداري ده ته وسپارله(٧٨:١٥١ـ١٥٢م).

اشرف خان مو ځکه د خوشحال بابا مشر زوی یاد کړ، چې د خوشحال لومړی زوی اکبر له زېږدو اووه ورځې وروسته ومړ.

اشرف خان هجري د مغلو له خوا په (١٩٩٢) هجري کال د سید امیر خان صوبدار په پېښور کې په چل او دوکې سره د سید بهلول په کور کې ونیول شو او بندي هند ته ولیږل شو، د ګولیار او بېجاپور په بندیخانو کې ١٤ کاله بندي وساتل شو د بند سختو کړاوونو څخه وروسته په (١١٠٦) هـ کال په بند کې ومړ. ازاد خان د ده د مړینې پېښه داسې ښودلې ده:

د هـــجرت زر سل شپږو وو

اشرف خان چې فوت شو یاره

(غـــم اندوه) د ده تاریخ دی

که حســـاب کړې و بې شماره

(١٨٣:٣٦م).

څوارلس کلني بند، له وطنه جلاوالي، له خپلو خلکو او وطني یارانو بېلتون او سختو د ده لوړ همت نه دی ټیټ کړی او د زندان له پنجرو څخه به یې دا ناري بدرګه کولې.

ستا له سختونه جوړه چا ورته فریاد کړم

ولـــه مې په غشو ما همت درته نېـولی

صوبدار او امیر خان پاچا اورنګزېب ته له اشرف خان څخه ډول، ډول شکایتونه وکړل همغه و چې اشرف خان د نیولو امر وشو او د عمر څوارلس کاله یې په بند کې تېر کړل، دې څوارلس کاله بند هجري ته د پښتو ادبیاتو په اسمان کې د یو ځلانده ستوري حیثیت ورکړ(۱۵۲:۸۷م).

د اشرف خان هجري شاعري

اشرف خان هجري د پښتو ادب او پښتانه سیاست یو نوموتی شاعر دی، اشرف خان هم لکه د خپل پلار خوشحال خان ختک د ژوند ډېرې سړې او تودې شپې تېرې کړې دي همدا وجه ده چې شاعري یې له ځانګړې کیف او هنریت څخه برخمنه ده.

د پوهانو په وینا که خوشحال خان نه وای؛ نو د خوشحال د ادبي مکتب سرلاری به اشرف خان هجري و، د اشرف خان په شاعری کې ګڼې خواوې څېړلې او د نرمو او لطیفو جذباتو څښتن دی. په شاعری کې اخلاقي، عشقي، شوخي، درد، حسرت او داسې نور موضوعات راغلي دي. د هجري په شاعری کې د یوه مات زړه درد له ورایه ښکاري لکه چې وایي:

د حیات رمق مې شته ځکه بېخوده
لکه پروت زخمي هوسۍ لتې وهمه
حیات سل ځله فدا له هسې موته
چه د خپل صنم په یاد خپسرې شندمه
نور بدن یې رعیت قلب بادشاه دی
نا صالح چارې چې کا ځکه یې وړمه
ما هجري په دا فتوا دې باور کړی
چه خاکي قفس ته شا کړم هست به شمه
(۱۸۸:۷۵م).

بل ځای بیا وایي:

هغه دم مې یې د زړه زرکه شګون کا
په ازل چه ښکار کاوه د ده عتاب
د ذقن په چاه کې بند رها مې نه شي
مګر راکړه له دوو زلفو یو تناب

شـــپه د هجـــر طـــولاني ده بـــې حســـابه
څـــو بـــه ورځ د وصـــال ګـــورم زه خـــراب
مـا هجـري چـې د بـاور پـه چشـمو ولیـد
د وصـــال عمـــر دېـــر کـــم دی تـــر حبـــاب
(٦٣:٧٥م).

په اشعارو کې وطنی نغمې هم په ښه جوش زمزمه کړي او د قوم مینه یې هم په اشعارو کې ورایه ښکاري، د هجري په اشعارو کې دا برخه د زندان تورو تیارو او له هېواد څخه جلاوالي لا پسې خوندوره کړي او یو حقیقي درد پکې له ورایه معلومېږي چې وایي:

څـــو دیـــار د مســـتو ســـترګو نـــه جـــدا یـــم
لاهـــو کـــړی د حـــیرت خـــوني دریـــا یـــم
د ځیګـــر وینـــې مـــې څښـــلې غمونـــو
مرګـــه جګـــې جګـــې راشـــه اوش رضـــا یـــم
کـــه زمـــا پـــه خـــون مئـــین یـــې نـــن دِ وار دی
د یـــار غـــم مـــې ســـبا وژني درتـــه وایـــم
د کفـــن حاجـــت یـــې نشـــته شـــهیدان دي
چـــې پـــه تېـــغ د هجـــر مـــړه دي زه ګـــواه یـــم
(١٣٤:٧٥م).

هجري له درد او غمونو ور هخوا د مینې او محبت د جذبو یو په زړه پورې او ښه ترجمان هم دی، په اشعارو کې دا برخه هم ډېره په زړه پورې او قوي ده چې وایي:

لکـــه زه یـــم ســـتا دیـــدن وتـــه مشـــتاق
شـــاید نـــه بـــه وي مشـــتاق هســـې عشـــاق
څـو د عشـق جـیش دې کـوز زمـا پـه زړه دی
دم پـــه دم یـــې افـــزوني کـــا طمطـــراق
دا جنـــون د محبـــت چـــې ماتـــه پـــېښ دی
کښـــلی نـــه دی د هـــېڅ دور پـــه اوراق
لکـه سـتا چشـم یـې کـا پـه خسـته زړونـو

هســې تاخــت نــه کــا پــه چــا بــا دا قــزاق

(۱۱۳:۷۵م).

د اشرف خان په شاعري که هر څومره وغړېږو بیا هم کمه ده، ځکه نوموړی لکه د خپل پلار توره او قالم دواړه ښه په ذوق پاللي دي چې د قلم له فرهنګي میراثه یې تر اوسه پښتني کهول برخمن او د پښتو ژبې خزانه یې لا پسې بډایه کړې ده. هېره دې نه وي چې اشرف خان هجري په فارسي ژبه کې هم شاعري کړې او د فارسي اشعارو یو کوچنی دېوان هم لري.

د اشرف خان هجري د دېوان ځانګړنې

د اشرف خان هجري له دېوان پرته نور اثار زموږ په واک کې نشته؛ نو ما یې هم ځکه یادونه نه ده کړې او موږ یې یوازې همدا یو د اشعارو دېوان په لاس کې لرو، چې د موضوع مطابق لومړی په لنډ ډول د هجري د دېوان پر پېژندنه او بیا د دېوان په منځپانګه وغړېږم. (هېره دې نه وي چې د هجري دېوان د لومړي ځل لپاره په پېښور کې په (۱۹۸۵ ع) کال د همېش خلیل له خوا ترتیب او چاپ شوی دی(۱۸۳:۳٦م).

دلته به د هغه دېوان چې ما ورڅخه په دې څېړنه کې ګټه اخیستې ده، پېژندنه او لنډ بحث راوړم:

د کتاب نوم: د اشرف خان هجري دېوان

تحقیق، ترتیب، او سمونه: همېش خلیل

چاپ زیار: پښتو اکیډیمي، پېښور یونیورسټي

چاپ کال: ۲۰۰۱

کتابت: لطف الله

د کتاب په دریم مخ (د پېش لفظ) په نوم د پروفیسر ډاکتر راج ولي شاه خټک درې مخه لیکل راغلي او د اشرف خان په اړه یې څرګندونې کړي.

له شپږم مخ څخه تر یودېرشم مخ پورې د (مقدمه) تر عنوان لاندې همېش خلیل د اشرف خان هجري د ژوند پر حالاتو، د خوشحال او هجري تر منځ بد بیني، هجري ازاد که قیدي، یوه بله واقعه، اولاد، نامرد خان او شاعري هر یو تر جلا جلا او کوچنیو عنوانونو لاندې څېړل شوي.

د کتاب له دري دېرشم مخ څخه د دېوان اصلي برخه (اشعار) شروع کېږي، د دېوان لومړی برخه غزلې دي، چې (۳۳) مخ څخه شروع او تر (۲۷۸)مخ پورې رسېږي، شمېر یې (۲۹۵) دی، په ځینو ځایونو کې په متفرق ډول هم دوه او درې بیتونه راغلي دي.

له (۲۷۹) مخ څخه وروسته د قصیدو برخه شروع او تر (۳۷۵)پورې رسېږي چې ټولې (۳۹) قصیدې کېږي، ځینې قصیدې یې تر ځانګړې عنوانونو لاندې هم ویلې دي.

(۳۷۵)مخ وروسته د دیوان دریمه برخه رباعیات شروع کېږی چې شمېر یې(۱۰۱) ته رسېږي. له (۳۹۷) مخ څخه تر(۴۲۵) مخ پورې(۳۲) قطعې راغلي دي.

د دیوان په (۴۳۰) مخ کې مرثیه د قبله گاه مرحوم په نوم یوه قصیده راغلې ده. په دیوان کې یې دوه مخمسونه راغلي دي چې یو یې په (۴۳۲) او بل یې په (۴۳۳) مخونو کې دي.

له دې وروسته د دیوان فارسي اشعارو برخه شروع کېږي، چې د فارسي برخې انتخاب یې نومولی دی.

په (۴۵۰) مخ کې فارسي اشعار هم پای ته رسېږي، د فارسي اشعارو د پای برخه کې(با تمام رسید و باختتام انجامید دیوان میمونو مبارک جد خواین العظام في الانام، زیدة الشعراء خان ابن الخان، ابن الخان بتاریخ پنجم شهر شعبان العظیم) متن راغلی او له (۴۵۱) مخ څخه د دیوان تر پای د الفبا، با د حروفو په ترتیب د دیوان تر وروستي مخ (۴۸٦) پورې د فرهنگ تر عنوان لاندې لغتونه مانا شوي دي.

د هجري د شاعرۍ فورمونه

د اشرف خان هجري د شاعرۍ د جوړښتونو شمېر پورته ذکر شوی، چې دلته یې له تکرار څخه تېرېږو او یوازې به د فورمونو بېلگې راوړو:

غزلې

اشرف خان هجري د غزل په فورم کې ډېره شاعري کړي او د دیوان ډېره برخه یې غزلې دي چې په دیوان کې د راغلي یوه غزل څو بیتونه په لاندې ډول دي:

د بهار په گلو سیل مسته شها کا

نوی داغ به د میین په ځیگر بیا کا

عـــاشقان یې همېشه لري زخمونه

ناوکـــي بانه یې گـــوره څه وغا کا

توري سترگې یې عادت لري د ترکو

پـه کاته مـــې د زړه کور همه تالا کا

(۳۳:۷۵م).

د یادونې وړ ده چې د هجري د غزلو د بیتونو شمېر مختلف دی، ځینې یې اته، نهه او تر دولسو هم رسېږي. د څپو شمېر یې هم مختلف دی.

قصیدې

د هجري په دېوان کې قصيدې هم شته او په دې برخه کې هم ډېره شاعري کړې ده، چې په دېوان کې ټولې (۳۹) قصيدې راغلې دي.هجري ځينې قصيدې تر ځانګړو عنوانونو لاندې ويلې دي، په دېوان کې راغلې يوه قصيده چې (د قلندر د غزل جواب) تر عنوان لاندې ويلې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

ځکه تل د زړه له جوره په فغان يم

اسير کړی يې په چاه د زنخدان يم

د خلاص طمع له چا وسيله څه کړم

کېيوتلی د خـــوني مخ په زندان يم

مګر باد يې زلفې راوړې په دا لوري

منتظر يې د عنبرو په رسيمان يم

تل ژړا ځـــکه کوم د شـاه له سترګو

چې ويشتلی يې د غشيو په کمان يم

(۲۹۷:۷۵م).

رباعيات

د هجري په دېوان کې رباعيات هم شته او په دې فورم کې هم شاعري کړې ده، شمېر يې (۱۰۱) ته رسېږي. په دېوان کې راغلې يوه رباعي يې په لاندې ډول ده

څـــوک چې هېر د يار نعمت کا

زمـــانه واړه پـــرې مـــلامت کـــا

د خدای رحمت شه په هغو باندې

که ډېـــر ضرور وي نظـــر به پت کا

(۳۷۵:۷۵م).

قطعې

تر دې وروسته بل شعري فورم چې هجري پکې شاعري کړې قطعه ده، چې په دېوان کې ټولې (۳۲) قطعې راغلې دي، د يوې قطعې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

هر سړی د خپل جوهر په قدر کار کا

نېـــک له نېکو تـــولد کا بد له بدو

چې سر ستا يې سعيد نه وي له ازاله

نصـــحت پرې کـــله لږي د اسعدو

(۷۵:۴۰۱م).

مخمس

د هجري په دېوان کې يې دوه مخمسونه راغلي دي چې د يو مخمس څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

چـــې همـــېش دې حســـن ســـتايم
بـــاور وکـــړه هـــــمه ستـــــايم
ستـــــا لـــه خويـــه پـــه ژړا يـــم
لـــه تـــا دور هـــم نـــا رضـــا يـــم
راشـــه حـــال بـــه درتـــه وايـــم
مـــخ دې زېـــب کاتـــه ګلونـــه
منجيلـــــه دې پـــــرې مارونـــــه
پـــه حلقـــو يـــې خســـته زړونـــه

(۷۵:۲۳۳م).

پر دې سربېره د هجري په دېوان کې د فارسي اشعارو برخه هم شته او د دېوان وروستۍ برخه يې فارسي اشعار دي.

د اشرف خان د دېوان منځپانګه

د اشرف خان د ژوند حالات او شاعري يو خاص رنګ لري، ځکه چې د ژوند لويه برخه يې په قبيلوي جګړو او د مغلو په بندي خانو کې تېره کړې، په دغه وخت کې له خپل زخمي زړه څخه داسې اوازونه را وېستلي چې هغه د سوز او ګداز څخه ډک دي او د هجري د ژوند دغه باب په پښتو ادب کې له ورايه ښکاري او يو دردېدلی باب دی.

هجري له وطن او خلکو سره رښتينې مينه درلوده، د وطن په باب يې ډېرې نغمې ويلي دي، لنډه دا چې د ده په اشعارو کې د خوښۍ وړمې، د خفګان څپې، د جنګ ترخې، د هجر غمونه، د اوږده بند کړاونه، د بېلتون ناتارونه، د خپلوانو ناخوالې، د فيوډالي مغلو ناکردې او نورو د شعر په ژبه څرګند شوي دي.

د هجري د اشعارو ډېره برخه په زندان کې ويل شوې ده او دغه د بند حالاتو او مشکلاتو د ده په شاعري ځانګړی هنري اغېز کړی دی. د ده حبسيات او فارسي اشعار له خوشحال خان څخه هم غښتلي دي او د شعريت او هنريت خوا يې د خان بابا له حبسياتو او دري اشعارو ډېره قوي ده(۷۳:۱۴۲م).

د هجري د اشعارو د منځپانګې ځینې خواوې په لاندې ډول دي.

وطن دوستي: د هجري په دېوان کې د نورو ګڼو موضوعاتو تر څنګ له خپل وطن او خپلې سیمې سره مینه ډېره څرګنده او ښکاره ده. د ده شاعرۍ ته یې خاص رنګ وربخښلی دی چې په دې هکله وایي:

هغــه ورځ د هجــر غــم لــره ســزا شــوم
چــې لــه یــاره پــه ژړا ژړا جــدا شــوم
مــا هالــه مــاتم د ځــان وکــړ پــه وینــو
چې اټک وتـه مـې شـاه کـړه پـه ژړا شـوم
اوس بــه څــه د وطــن کــاڼي بــوټي ژاړم
د رخصت سلام مـې کـړی تـرې جلاشـوم
یــو نــاوک مــې پــه دل لــک راوړلــه روهــه
ځـار و جـار مـې د بـاغ ونـه کـړ خطا شـوم

(۱۳۷:۷۵م).

اشرف خان هجري په دېوان کې د ځان او خپلې شاعري په باب وایي:

له نـــقابه چې یې مخ ضیا شروع کا
ته به وایې له مشـــرقه نمــر طلوع کا
په دربار د کښـــلیو کبر پاتې نه شي
که بادشـاه یې په در وریشي خضوع کا
زه لـــه یاره په دا خـــوی شکر ګزار یم
چـــې رقیب غـــمازي کا همه مرفوع کا

(۲۸:۷۵م).

مایوسي: د هجري په دېوان کې د تنهایۍ او مایوسۍ ځینې اشعار هم راغلي:

ځـو دیـــار د مسـتو سـترګو نـه جـدا یـم
لاهـــو کـړی د حیـــرت خـوني دریـا یـم
د ځیـــګر وینـــې مـــې څښـــلې غمونـــو
مرګـــه جګـې جګـې راشـه اوس رضـا یـم
کـه زمـا پـه خـون مئـین یـې نـن دِې وار دی
د یـــار غـــم مـــې ســـبا وژني درتـــه وایـــم

د کفـن حاجـت يـې نشـته شـهيدان دي

چـې پـه تېـغ د هجـر مـړه دي زه گـواه يـم

(۲۹:۷۵م).

مجازي عشق: هجري د عشق او محبت لوړه ترجماني کړې او دا برخه يې هم په پوره ذوق سره پاللې او د هجري په دېوان کې د مجازي عشق گڼې بېلگې شته چې وايي:

خـو د يـار د مسـتو سـترگو نـه جـدا يـم

لاهـو کـړی د حـيرت خـوني دريـا يـم

کـه زمـا پـه خـون مئـين يـې نـن دې وار دی

د يـار غـم مـې سـبا وژني درتـه وايـم

چـې نيـولی يـې د مينـې پـه تـاوان يـم

تېنـگ تړلـی يـې د زلفـو پـه ريسـمان يـم

چې په سترگو يې مئين شوم پرې مې وژني

هسـې هـم مسـلماني ده مسـلمان يـم

(۱۳۵:۷۵م).

حمد: د اشرف خان هجري په دېوان کې گڼ داسې اشعار شته چې په هغې کې د الله ج حمد او ثناء بيان کړې او د الله ج د قدرتونو يادونه يې کړې ده، لکه:

په قـدرت چې يې پيدا اول قلم که

په زبان يې د هر چا نصاحب رقم که

(۱۹٦:۷۵م).

نعت: د اشرف خان هجري په دېوان کې نعت هم شته چې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

چې يې نور اول ظهور د مصطفی که

له هغـه يې نور عالم همه اشنا که

د ارواح په مـقام مشـر دی بېشکه

که صورت تر صفي وروستو مولا که

(۴۲٦:۷۵م).

حبسیات: د هجري په شاعري کې د حبسیاتو ګڼې بېلګې شته او دې برخې د هجري شاعرۍ ته ځانګړی رنګ وربخښلی دی چې وايي:

زه لـه یـاره صـبر څـه شـکل کـړم واعظـه

قسمت لیک شه په ازل نن یې ظهور وي

د هغــه یــار لــه دربــاره صــبر نــه شي

چې د زلفو حب د زړه په څټ ساجور وي

(۲۱۳:۷۵م).

بل ځای بیا وايي:

نن اغاز د لســـم کـال دی باور وکړه

چې په بنــد کې یې رنځېږم بې ګناه

(۱۸:۷۵م).

انسان دوستي: په دېوان کې د انسان دوستي باره کې هم ګڼې بېلګې شته چې وايي:

هغــه دم چــې د وطــن هــوا کــړم یــاده

وایـــم راشـــه برابـــر د مـــراد بـــاده

ګونـدې بیـا هغـه یـاران مشـاهده کـړم

ســفینه لــه ټانګــه ووځــي سر هــوا ده

(۳۸۰:۷۵م).

په لنډ ډول ویلی شو چې د هجري په هره برخه کې شاعري کړې، اشعار یې هر ډول منځپانګه خپلولی شي او د هرې برخې ښه او لوړ شاعر دی. د هجري په اړه که هر څومره وغږېږو بیا هم کمه ده، خو د موضوع د نه اوږدېدو په خاطر په همدې پورته څو کرښو بسنه کوو.

د عبدالقادرخان خټک پېژندنه

د خوشحال خان خټک د ادبي مکتب لاروی او دېوان لرونکی شاعر عبدالقادر خان خټک د خوشحال خان د ادبي باغ دویم خوږ ژبی بلبل دی. نوموړی په (١٠٦٣) هـ ق کال د لوی اختر میاشتې په پنځه ویشتم زېږدلی دی. د عبدالقادرخان له اثارو څخه جوتېږي چې نومړی د لویو عالمانو او شاعرانو په لومړي قطار کې شمېرل کېږي.

د دېوان له اشعارو څخه یې دا هم جوتېږي چې نوموړی په هندي، عربي او فارسي ژبو هم ښه پوهېده؛ ځکه په اشعارو کې د قافیو د برابرولو لپاره د دغو ژبو له کلمو څخه استفاده کړې ده، د لیکوالۍ او ترجمې په برخه کې هم پوره استعداد درلود. د قلم تر څنګ د تورې هم پوره مېړنی او پیاوړی شاعر و، چې له مغلو څخه یې د نوښار کلا (درې دقیقو) کې ونیوله، (درې زره) مغلو یې مات کړل او داسې نورې ډېرې سوبې یې هم کړي دي(١٤٤:٣٦م).

ډېرو شاعرانو یې په هکله نظریې څرګندې کړي چې اشرف خان هجری یې هم په هکله وایي:

قادرخـان که بحر بولم دروغ نه دي

چې یې فکر د اصلي دور مصدر دی

(١٤٥:٣٦م).

پورته مو یادونه وکړه چې عبدالقادر خان خټک لوی عالم او پوخ شخصیت و، همدارنګه نوموړي ګڼې ژباړې هم کړي او پوهان یې د اثارو شمېر تر (٦٠) پورې ښايي، خو معلوم او د زمانې له تاړاکه را پاتې اثار یې په لاندې ډول دي .

١. **دېوان:** عبدالقادرخان د اشعارو دېوان لري چې وروسته به په پوره ډول وپېژندل شي.
٢. **ګلدسته:** دغه اثر د سعدي (ګلستان) کټ مټ په خوږ او روان نثر پښتو ترجمه ده.
٣. **یوسف ذلېخا:** دا کتاب د (جامي) له فارسي مثنوي څخه چې هغه هم له عربي څخه ژباړلی، پښتو ته ترجمه کړی دی.
٤. **حدیقه خټک**: دا کتاب په (١١١٠) هـ کال په نظم لیکل شوی دی.
٥. **نصحت نامه:** دا اثر هم منظوم دی او د تجنیس صنعت په اساس په مثنوي لیکل شوی دی. د دې اثر پینځه بیتونه میندل شوي او په دېوان کې د حبیبي صیب له خوا نکل شوي دي.
٦. **د بردې قصیدې ترجمه:** دا د عربي مشهورې قصیدې ترجمه ده.
٧. **څلوېښت حدیثه:** دغه اثر له یوې پینځه سوه بیتیزې مجموعې څخه عبارت دی چې د څلوېښت حدیثونو ترجمه ده(٢٥٩:٣٦م).

د عبدالقادر خان خټک شاعري

عبدالقادر خان خټک چې د شاعرۍ زیاته برخه یې د غزل په کالب کې ده او په پښتو ادب کې د غزل بول شاعر په نامه هم یادېږي، د عبدالقادر خان په شاعري کې ګڼې خواوې او رنګارنګ اړخونه شامل دي. په ټولو اړخونو کې لکه: عشق، اجتماعي موضوعات، سیاسي موضوعات، اخلاقي مسایل، صوفیانه مضامین، انتقاد، د طبیعت منظرکشي، تشبیهات، سوز او ګداز د عبدالقادر خان خټک د شاعري ځانګړنې دي، د همدې ځانګړنو په درلودو سره یې شاعري یوه جامع او منلې شاعري ګڼلی شو.

د عبدالقادر خان خټک شاعري ساده، روانه او عام فهمه ده. خپل جذبات او احساسات په خورا روانه او ساده ژبه بیانوي، په دې باب خپله وایي:

هر غـــزل مـې مبرا دی له تکلیفه

په ساده پښتو ویل شیرین کلام یم

(۱۹:۱٦م).

د عبدالقادر خان خټک په اشعارو کې د حسن و عشق او هجر و وصال داستانونه هم په پوره ډول بیان شوي دي چې وایي:

حسن یو اثـــر دی چـــې په مخکې د چا وشي

نه چې کړه وړه ښه لري هغه صاحب جمال دی

(۱۹:۱۷م).

که د عبدالقادر خان په شاعري خبرې کوو؛ نو اړینه ده چې د حقیقي عشق یادونه هم وکړو، ځکه په شاعري کې دا خوا هم ډېره قوي ده او ګڼې بېلګې یې راغلي دي:

زه او ته په محبت کې نه ځایېږي

زه او ته له منځه ووتې یکتا شوې

(۱۹:۲۰م).

په اشعارو کې د تصوف ځینې اصطلاحات هم راغلي او په دې برخه کې هم ګڼ اشعار لري چې وایي:

د یم ویـــل په طریقت کـــې کـــافري ده

د یم یم په قافیه راوړل کې پښېمان یم

یا دا چې وایي:

د خـــودۍ باد چې اوبـــــاسي له سره

د حباب نامه یې لاړه شي دریاب شي

(۱۹:۲۰م).

د عبدالقادر خان په اشعارو کې رنګا رنګ اړخونه موجود دي او ټولې خواوې یې څېړلي دي، چې د ځینو یادونه مو په پورته ډول وکړه. د عبدالقادرخان شاعري هره خوا ځکه پیاوړې ده، چې نوموړی د یو ښه شاعر تر څنګ لوی عالم او ښه ژباړونکی هم دی او له پښتو ژبې پرته په نورو ژبو کې هم پوره برلاسي و او ډېرې ژباړې یې هم کړي دي.

د عبدالقادر خان ختک په شاعري که هر څومره خبرې وکړو بیا هم کمې دي ځکه د نوموړي شاعري له ډېرو ښو صفاتو او ځانګړنو برخمنه ده چې هر وګړی او فرد کولی شي په یو ځل لوستلو یا اورېدلو ترې مطلب حاصل او پرې پوی شي ځکه چې عبدالقادر خان په شاعري کې له پوره ساده والي او رانوالي څخه کار اخیستی، نامانوس او ګونګ کلیمات یې په اشعارو کې تر ډېره نشته او هر څه یې په ساده ژبه بیان کړي دي.

د عبدالقادر خان ختک د دېوان ځانګړنې

عبدالقادر خان ختک د اشعارو یو بشپړ دېوان لري چې دېوان یې په لومړي ځل په (۱۳۱۷هـ ش) کال د ښاغلي عبدالحی حبیبي په تدوین او تصحیح په کندهار کې چاپ شوی دی. په دویم ځل د همېش خلیل په تدوین او ترتیب سره په (۱۱۹۰م) کال د یوې قلمي نسخې او د کندهار چاپي نسخې د مطالعې او مقابلې په نتیجه کې چاپ کړ، چې تر لومړني چاپ شوي دېوان بشپړ و.

په (۱۹٦۹م) کال ښاغلي سید انورالحق هم د څو قلمي نسخو او د کندهار له چاپي نسخې سره د مقابلې نه پس د (حدیقه ختک) په نوم د عبدالقادرخان ختک دېوان چاپ کړ او اوسنی کوم دېوان چې موږ پرې څېړنه کوو د پېښور چاپ چاپي نسخې او د پښتو اکاډمي د یوې خطي نسخې سره د مقابلې نه پس تیار کړی شوی دی(۱۹:۸م).

دا دېوان د (د عبدالقادر خان ختک دېوان) په نوم د پروفیسر جهانزیب نیاز په تحقیق او ترتیب په (۲۰۰۲ م) کال د پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي له خوا چاپ شوی دی. په دېوان کې لومړی راغلې لیکنه د پېش لفظ تر عنوان لاندې د ډاکتر راج ولی شاه ختک ده، بیا د هنداره تر عنوان لاندې د جهانزیب نیاز لیکل راغلي، پر دې پسې متصل د جهانزیب زیار یو جامع مقدمه راغلې چې د عبدالقادر خان او د شاعري په اړه یې ګڼې خبرې لري او له همدې وروسته د دېوان د اشعارو برخه شروع کېږي چې لومړی برخه یې غزلې دي او په همدې ترتیب ورپسې قصیدې او بیا نور شعري فورمونه راغلي دي.

د عبدالقادر خان خټک د دېوان شعري فورمونه

هغه شعری کالبونه چې د عبدالقادر خان په دېوان کې شته په لاندې ډول دي.

غزل

د دېوان یوه لویه برخه غزلې دي او په دې برخه کې ډېره شاعري کړې ده، د غزلو بیتونه او څپې مختلفې دي او هر ډول منځپانګه خپلولی شي. په دېوان کې د راغلي یوه غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي چې وایي:

بیـــا مـــې نـــوې مینـــه ورغلـــه و دل تـــه
گویـــا سرې لمبـــې مـــې پرېـــوتې گوگـــل تـــه
چـــې دا هســـې رنـــگ پـــه سرو لمبـــو کـــې اوسي
پـــه خپـــل زړه پـــورې حـــیران یـــم ســـتا اوربـــل تـــه
ســـترگې سرې لاســـونه سره جـــامې گلگـــونې
گویـــا بیـــا درومـــې د چـــا و قتلـــول تـــه

(۴۷:۱۹م).

قصیدې

د عبدالقادر خان خټک په دېوان کې په غزلو پسې راغلی بل شعري فورم قصیدې دي، چې په دېوان کې ټولې (۱۱) قصیدې راغلي دي. د یوې قصیدې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

حـــــاکمان او عالمـــــان د دې زمـــــین
چـــې لیـــدل شي پـــه دوران د محـــی الـــدین
هـــېڅ حاجـــت د عیـــان نشـــته و بیـــان تـــه
خـــود دې حـــال دی و هـــر چاوتـــه مبـــین
همگـــې واړه مـــذموم پـــه خـــوی خصـــلت دي
پـــه کـــې یـــو نشـــته بادشـــاه تـــه د تحســـین

(۲۴۲:۱۹م).

رباعیات

په دېوان کې بل راغلی شعري فورم رباعیات دي، چې شمېر یې(۲۳٦) ته رسېږي. لکه چې وایي:

د یـــار لـــه غمـــه خـــالي یـــو دم نـــه یـــم
هـــېڅ ســـاعت نـــه دی چـــې پـــه مـــاتم نـــه یـــم

پــه زړه مــې زخــم پــه زخــم کېــږدي

کــه اه فريــاد کــړم وګړيــه ګــرم نــه يــم

(۱۹:۲٦۵م).

ترکيب بند

د متفرقاتو په برخه کې په دېوان کې يو ترکيب بند هم راغلی چې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

ســخ د هغــه زړه چــې کــا اشــغل د محمــد

بخــت د هغــه خــولې چــې لــري قــال د محمــد

بــې لــه يــوه خــدايا چــې کــمال دی دده علــم

نــور چاتــه ښــکاره نــه دی کــمال د محمــد

وخوت موسی په طور فاخلع نعليک حکم پرې وشو

عــرش هــم مفخــر شــو پــه نعــال د محمــد

سر بــه يــې د فخــر تــر اووه اســمانه تېــر شي

هــر چــه لــه اخلاصــه شي پايمــال د محمــد

(۱۹:۳۱۱م).

ترجيع بند

عبدالقادر خان خټک يو ترجيع بند هم لري چې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

درېغــه درېغــه د دنيــا خونــه تــالا کــړي

پــه ژونــدونې ځــان بــدتر تــر خــاورو لا کــړي

د غرڅــه غونــدې لــه خلکــو تښــتېدلی

ځــان لــه واړه اشــنايانو نــا اشــنا کــړي

(۱۹:۳۱۵م).

مخمس

د نورو شعري فورمونو تر څنګ د عبدالقادر خان په دېوان کې دوه مخمسونه هم راغلي چې د يوه مخمس څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

رڼــا ورځ په ما بــې تا ده توره تمه

راتــه يو شو د غمونو غرونه، سمه

اوښکــې وينې تويوم د زړه له نمه

يو زمـــان مې خلاصی نه وي له المه

زه دې وینمه د خوګ زړونو مرهمه

فراق ډېر راباندې زور شو نــه سهیږم

(۳۱۸:۱۹م).

مربع

د عبدالقادر خان په دېوان کې د مربع په فورم کې هم شاعري لیدل کېږي، چې بېلګه یې په لاندې ډول ده:

خـدای دې تـل لکـه خپـل نـوم لـره خوشـحاله

خوشـــحالي یـــې پـــه نصـــیب کـــړه لایزالـــه

خـــرد منـــد، نېکـــو ســـیرت، نېکـــو مقالـــه

خـود پـوهېږې هـېڅ پښـتون یـې نـه و سـیاله

(۳۲۵:۱۹م).

قطعې

د عبدالقادر خان په دېوان کې ګڼې قطعې هم راغلي لکه چې وایي:

زه چې هسې په خپـل ځـان بانـدې مئـین یـم

د جانـــان دې پـــه جانـــان بانـــدې مئـــین یـــم

د خـــــزان مېـــــوه بهـــــار د بهـــــار دی، دی

تـــر بهـــاره پـــه خـــزان بانـــدې مئـــین یـــم

(۳۲۷:۱۹م).

مثنوي

د عبدالقادر خان په دېوان کې پینځه مثنوي راغلي چې د بیتونو شمېر یې مختلف دی، د یو مثنوي څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

بادشـاهان چـې عـادلان شي عـدل کانـدي

پـــه هـــر قـــوم چـــې کـــرم د کردګـــار شي

سرداران بـــه یـــې دینـــداره نېکـــو کـــار شي

ښـه حـاکم رحمـت پـه خلکـو د سـبحان دی

بـد صـورت کـه د انسـان لـري شـيطان دی

(۱۹:۳۳۴م).

پورته ذکر شوي هغه شعري فورمونه و چې د عبدالقادر خان په دېوان کې پرې شاعري شوې چې تاسو ته مو له بېلګو سره روښانه کړل.

اوس د عبدالقادر خان ختک د دېوان په منځپانګه خبرې کوو او دا برخه به تر خپل توانه راوسپړو.

د عبدالقادر خان ختک د دېوان منځپانګه

عبدالقادر خان ختک چې د شعر په مختلفو اصنافو لکه غزل، قصیده، رباعي، قطعه، مثنوي، ترکیب بند او نور چې پورته ذکر شول شاعري کړې ده، همدغه شان یې د منځپانګې له پلوه هم په اشعارو کې ګڼې خواوې لکه ستاینه، ویرنه، مجازي عشق، حقیقي عشق، وطن دوستي، انتقاد، اخلاقي مسایل او داسې نور موجود دي چې موږ به یې دلته په هره برخه جلا جلا بحث وکړو.

ستاینه: د عبدالقادر خان ستاینه هم لکه د خوشحال خان ختک واقعي ستاینه ده، د خپل پلار په اړه وایي:

شرم ننـــګ لکـــه د ده و د چـــا نـــه وو

شـــجاعت لکـــه رســـتم هســـې د ده وو

شـور و شر یـې تـل د مینـې پـه زړه پـروت وو

شـــان د ده دی در ښـــکاره د ده تـــر قالـــه

(۱۹:۳۲۴م).

ویرنه(مرثیه): اشعار یې د منځپانګې له اړخه دا برخه هم لري او په دېوان کې مرثیې هم شته، د خپل پلار په باب یوې ویلې مرثیې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

همېشه مې ستا له غـمه مشغولا ده

ستا له پستـــه راته پاتې ښادي دا ده

خپل پـــردي را ځینې واړه کناره شول

چې تل مله ده، راسره اندېښنه ستا ده

(۱۹:۲۴٦م).

مجازي عشق: د دېوان ګڼې غزلې یې عشقي محتوا لري او یاده برخه یې په پوره ذوق سره پاللې ده لکه:

خیال یې چې په زړه کې د رخسار ساتم همېش
دننـه پـه گوگـل کـې گویـا نـار سـاتم همـېش
بحر په کیشتۍ کې نه ځـایېږي سـین د اوښـکو
څو به یـې پـه سـترگو کـې ایسـار سـاتم همـېش

(١٩:٦٦م).

قناعت: عبدالقادر خان خټک د قناعت او حرص نه کولو په اړه وایي:

چـې قـانع پـه یـوه څـاڅکي د صـدف شي
قیمتـــي گـــوهر یـــې ځـــي پـــه هـــر طـــرف
که عـزت غـواړې قـانع پـه خپـل قسـمت شـه
ورکـــړه کـــا کـــه بزرگـــي غـــواړې شرف

(١٩:٧٤م).

حقیقي عشق: د حقیقي عشق جذبه یې هم په اشعارو کې له ورایه ښکاري او تر ډېره یې پاللې ده، لکه:

د ا دعـــا مـــې مســـتجابه کـــړې مجیبـــه
چـې وصـال مـې بیـا روزي شي لـه حبیبـه
سـتا لـه فکـره خـالي نـه یـم خـالي مـه شـم
ای تـــر فکـــره زمـــا زړه و تـــه قریبـــه

(١٩:٣٨م).

په لنډ ډول ویلی شو چې په اشعارو کې ټولې خواوې څېړلي دي او دېوان یې د منځپانګې او شکل دواړو له اړخه غني دی، موږ دلته په همدې پورته څو راوړو بېلګو بسنه کوو، ځکه چې د ټولو یادول به د موضوع د اوږدوالي سبب شي.

د سکندر خان خټک پېژندنه

تر سکندر خان وړاندې مو د خوشحال د ادبي مکتب اړوند په بل دېوان لرونکي شاعر بحث وکړ او د نوموړي او د هغه د دېوان په هکله مو هر اړخیز بحث وکړ. اوس هم د خپلې موضوع مطابق د خوشحال د ادبي مکتب اړوند سکندر خان خټک باندې بحث کوو. لومړی د سکندرخان لنډه پېژندنه کوو او بیا یې په دېوان په تفصیل سره بحث کوو.

(سکندر خان خټک د خوشحال خان خټک زوی او د ده د ادبي مکتب له غوره پیروانو څخه دی. یو ښه شاعر او له شاعرۍ سره سره یو ښه ژباړن هم دی، چې له دري او ترکي ژبو څخه یې پښتو ژبې ته غزلیات ترجمه کړي دي. سکندرخان په (١٠٦٨هـ) کال زېږېدلی او په (١١١٦ هـ) کې وفات شوی دی.

کله چې خوشحال د مغلوي امپراطورۍ له خوا نیول کېږي او د خټکو خاوره په خطر کې لوېږي؛ نو سکندرخان په دغه موده کې شپږ کلن هلک و، د زده کړو زمینه ورته مساعده نه وه، خو بیا یې هم پرله پسې تلاشونه کړي او د پوهې په اثر د شاعرانو په قطار کې درېږي.) (عثمان، عارف. (١٣٦١ل). خوشحال خان خټک او دده ادبي مکتب. افغانستان: علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز.)

د سکندر خان خټک شاعري

سکندرخان خټک چې د شعر په مختلفو صنفونو لکه: غزل، قصیده، رباعي، قطعه، مثنوي او نورو کې شاعري کړې ده، خو د نوموړي له اشعارو داسې معلومېږي چې یو غزل گو شاعر دی. د معنا له اړخه یې هم شاعرۍ کې ټولې خواوې رانغاړلې دي. په بېلا بېلو مضامینو لکه اخلاق، سیاست، تصوف، عشق، محبت او نورې خواوې رانغاړلې دي.

سکندرخان د مذهب او تصوف په باب وایي:

د چـا چـې ښـکلی مئـین څـوک وسـتایي
واړه هم دی ستایي که دی څـوک نـه سـتایي
پـــه محمـــد کـــې صـــفت د خـــدای دی
سړی که خدای ستایي احمد دې ښه ستایي

(٣٠٨:٣٨م).

عشق او محبت یې هم په ښه شکل سره په خپل کلام کې منعکس کړی او په ډېر استادانه ډول له خپل محبوب څخه د بوسې تقاضا کوي او غواړي لکه چې وایي:

که د شونډو په بوسه راکړل پښېمان یې
راشه بیـــا یې پستنـــه لـــه ما اخله

(۲٦۴:۳۸م).

په همدې ډول یې په شاعري کې ټولې خواوې څېړلې او په ډېرو فورمونو کې شاعري کړې ده چې د منځپانګې په برخه کې به پرې په تفصیل سره بحث وکړو.

د سکندر خان خټک د دېوان ځانګړنې

د سکندر خان دېوان چې د غزل په شمول پکې د نوموړي نور شعري فورمونه لکه، قصیدې، مثنوي، قطعې، مخمسونه او داسې نور راغلي دي او د منځپانګې له اړخه هم پکې ډېرې موضوعات څېړل شوي، دېوان د دوست محمدکامل مومند په مقدمه د اداره اشاعت، سرحد قصه خوانۍ پېښور له لوري چاپ شوي دی. د دېوان اصلي (اشعارو) برخه له (۴۴) مخ څخه شروع کېږي چې لومړی ټوک یې غزلې، دویم ټوک قصیدې او په همدې ترتیب نور دي.

د اشعارو له برخې څخه وړاندې په هر اړخیز ډول د سکندر خان د اشعارو او نورو برخو په باب لیکل راغلي دي. د یادونې وړ ده چې د سکندر خان په دېوان کې د راغلو اشعارو د بیتونو شمېر او د څپو شمېر مختلف دی. دېوان یې ګڼې نورې ځانګړنې هم لري چې موږ دلته په همدې پورته کرښو بسنه کوو او د موضوع اړوند یې په نورو خواوو خبرې کوو.

د سکندرخان خټک د دېوان شعري فورمونه

د سکندرخان په دېوان کې د غزل په شمول په ګڼو نورو شعري فورمونو لکه قصیده، رباعي، مثنوي او نورو کې شاعري شوې ده، چې دلته به یې له هرې برخې څخه څو څو بیتونه د نمونې په ډول راوړو.

غزل

د سکندرخان د دېوان لومړۍ برخه غزلې دي چې نوموړی په ټوله کې غزل ګو شاعر یادېږي، موږ به یې دلته د یوه غزل څو بیتونه د بېلګې په توګه راوړو:

غـم فـراق د عاشـق پـوخ ننـه لړمـون کـا
طبیبــان یــې دارو فکــر د طــاعون کــا
یار مې ورغړېد لـه سـترګو ځنـې اوښـکې
پیوسته پسې اوباسـم کـه یـې شـتون کـا

(۴۵:۳۸م).

قصیده

د سکندر خان د دېوان دویم برخه قصیدې دي چې په دېوان کې د راغلې یوې قصیدې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

تــه چــې فخــر پــه مــردی کــړې د بابــا
را ښــکاره دې شــوه مــردي درومــه بابــا
دروغجــن زاني ممســک بــه سردار نــه شي
هــم بخیــل قــول بعیــت چــې کــا ابــا
مه بدگوییشه مه فخاش شه مه زود رنځ شه
پــه ښــه خــوی کــې ارســته اوســه زېبــا
لکــه ځمکــه هســې پســت همېشــه اوســه
چــې ښــه بــد دربانــدې ځــي ســبا بېگــا

(۲۱۴:۳۸م).

رباعي

د سکندر خان په دېوان کې رباعیات هم شته چې د دېوان دریېمه برخه یې رباعیات دي. په دېوان کې راغلې یوه رباعي یې په دې ډول ده:

دواړه زلفــــې د ســــحرا ســــنبل لــــرې
دواړه رخســــاره د چمــــن گــــل لــــرې
کمــــی دې نشــــته د هــــېڅ خوبیــــه
یــو مهــر دې نشــته نــورې خوبیــه کــل لــرې

(۲۸۰:۳۸م).

مثنوي

د سکندر خان په دېوان کې مثنوي هم شته چې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

صلی الله علیه په جمال د محمد ص
صلی الهی په هم په ال د محمد ص
صلی الله علیه په رخسار د محمد ص
صلی الهی ښه په دیدار د محمد ص
صلی الله علیه په هرمو د محمد ص

صلی الهی شه په ګیسو د محمد ص

صلی الله علیه په دندان د محمد ص

صلی الهی شه په زبان د محمد ص

(۳۱٦:۳۸م).

قطعه

د سکندر خان په دېوان کې قطې هم مجود دي چې په دېوان کې د راغلې یو قطعې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

د سفله فلک بخشش مې پکار نه دی

که باران وکا په ما باندې اختر زر

زه به مخ ورته وانه ړوم باور کړه

که په مخه مې څوک راوړي برابر زر

ریاضت ګنې د زور مینه

سکه نجات به یې د ځان شي په محشر زر

که یو ځل د قناعت په ملک کې ورشي

کاڼي بوټي به شي واړه درته زر زر

(۳۳۴:۳۸م).

مخمس

د سکندر خان په دېوان کې مخمسونه هم شته چې په دېوان کې د راغلي یو مخمس څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

د یار ملال کاته به ما زبون کاندي پوهېږم

د خلکو له روزګاره مې بېلتون کاندي پوهېږم

په غم کې به مې ویني درست لړمون کاندي پوهېږم

قمیص د اغوستلو چې ګلګون کاندي پوهېږم

اختیار ګورې د کوم عاشق به خون کاندي پوهېږم

(۳۴۲:۳۸م).

فرد

په دېوان کې څو ځایه یو یو بیت د فرد تر عنوان لاندې هم راغلي چې یو بیت یې په لاندې ډول دی:

دا عــالم گوره بي تـر هسې حد کا

څوک و بدو ته بد نه وايي که بد کا

(۳۴۱:۳۸م).

پورته مو د سکندر خان خټک د ډوان په شعري فورمونو بحث وکړ او له نمونو سره مو يې يادونه وکړه. اوس به د سکندرخان خټک د دېوان په منځپانګه بحث وکړو او نمونې به يې هم ذکر کړو.

سکندرخان خټک د دېوان منځپانګه

لکه څنګه چې د شکل له پلوه د سکندر خان دېوان ګڼ شعري فورمونه لري، همداسې يې په دېوان کې د محتوا له اړخه هم ټولې خواوې رانغاړلي دي، په هره برخه کې يې شاعري کړې چې له ځينو څخه به يې په لاندې ډول يادونه وکړم.

له عشقه فرياد: نوموړی د عاشقي غم د لړمون د پخېدو سبب ګڼي او دا غم او فراق لا عالج ګڼي چې وايي:

غــم فــراق د عاشــق پــوخ ننــه لړمــون کــا

طبيبـــان يـــې دارو فکـــر د طـــاعون کـــا

يــار مــې ورغړېــد لــه ســترګو ځنــې اوښــکې

پيوســته پســې اوباســم کــه يــې شــتون کــا

ســـتا د شـــونډو لعـــل چاتـــه ميسرـــ دي

عاشــقان واړه بــې ځايــه ځيګــر خــون کــا

دا فلک چې خداى پيدا کړو دا يې خوى دى

چــې ګــردش پــه کــام د ســفله مــردون کــا

(۴۵:۳۸م).

د يار ستاينه: د يار غاښونه له ملغلرو سره تشبيه کوي او تر ملغلرو يې ښه ګڼي، په دې اړه وايي:

پـــه خنـــدا د غاښـــو در عـــدن مـــات کـــا

پــه سرو شــونډو بــه عقيــق د يمــن مــات کــا

زمــا اوښــکو کسيــ يــوړه پــه هجــران کــې

لکـــه ســـيل راشي دوزن د چمـــن مـــات کـــا

چــې شــونډې يــې څــوک لعــل تــه نسبت کــا

زمانــه بــه يــې پــه کــانې دنــدان مــات کــا

(۴۷:۳۸م).

د رقيب غندنه: د رقيب او غماز خبرو باندې ځان کنول غواړي او رقيب له سپي سره تشبيه کوي:

غوږ کـــانه کا د غـــمازو و پېغور ته

زمری نه گوري د سپيـــو شر و شور ته

د يار خيال راغی و سترگو ته شرمېږم

چې دا حه عزيز مېلمه راغی و کور ته

(٦٨:٣٨م).

ښکلا خوښول: ښکلا ستايي او د ښکليو په مينه کې ځان په اور کې گڼي لکه چې وايي:

غــم مــې اړوي د ښــکليو لــټ پــه لــټ

نه مې خوب کېږي پـه ځمکـه نـه پـه کـټ

زمـــا زړه لکـــه دانـــه پکـــې وريتېـــږي

جهان درست شـه راتـه تـور کـودی د بـټ

(۷۱:۳۸م).

خپل بار په بل اچول نه غواړي: خپل بار په بل نه اچوي او وايي چې هر سړی بايد خپل غم يوسي په بل دې خپل غم نه اچوي چې وايي:

هر ســـړی لري په ځان انبار د غم

په بل مه وړه، وړه په خپله بار د غم

د راحت ياران که ډېـر وي باور وکړه

زه به واړه کـــړم فـــدا تر يار د غم

له دنيا شکايت: د دنيا په باب وايي:

دا دنيـــا ده وچـــه شـــنډه غـــوا اچـــی

وربـــه نـــه کـــا د خوښـــی و چاتـــه پـــی

هر نفس دې در گـوهر قيمـت بهـا دی

تـا وېړيـا ورکـړ شـيطان تـه پـه روپـی

نفس تش نی د هوا درکړ چې گنی دی

هـېڅ لـذت خـوارِه يـې نشـته خـو ژوئ

(۱۷۱:۳۸م).

د احسان په باب وايي: وايي که له چا سره احسان کوئ نو هېر يې کړئ، خو که له تاسو سره چا احسان وکړ که لږ هم و؛ نو ډېر يې وګنئ:

ډېـر احسـان کـه پـه چـا وکـړې هېـروه يـې

څـوک چـې لـږ درسره وکـا ډېـروه يـې

تورې سترګې د شاهين دي چې برند ګـوري

زمـا زړه دې ورتـه ونيـو وېـروه يـې

در پـوهېږم چـې پـه مـا بـه يـې ګـذار کـړې

د غمـزې تـوره دې زنـګ ده تېـروه يـې

يـو تېـره بلـه تېـره بلـه تېـره

پـه تېـره تېـره دې عمـر تېـر کـړو تېـروه يـې

(۱۷۱:۳۸م).

د عشق پلوي: د عشق پلوی دی او وايي چې عشق به هېڅکله زما له هډونو نه لاړ نه شي:

ځـای لـري کـه لـه فـولاده نـه اوبـه وځـي

سـتا د عشـق غشـی زمـا لـه هـډه نـه وځـي

بېرتـه نـه را درومـي غشـی ګـذار شـوی

فهم وکړه چې دې هـر کـلام تـر خولـه وځـي

(۱۷۸:۳۸م).

د نالايق مشر په باب: د نالايق مشر په باب وايي چې که د ملک مشر نادان وي، ملت به خوار او زار وي:

خدای دې څوک ناقابل نه کا

خصـوصاً د ملک سردار

هـغه ځـان لره بلا شي

دا عـالم کا خوار و زار

نام و ننـګ وارِه برباد کا

حبـطه کا درست تبار

د باطن او ظاهر په باب وايي:

پــه بــاطن دننــه زړه لــرې حجــر تــه

کــه ظــاهر يــې و عــالم تــه خاکســتر تــه

طـــور طـــور لاف کـــوې د عـــارفۍ

پــه تحقيــق يــې لا لــه ځانــه بــې تــه

کــه کرامــاً کــاتبين دې ظــاهر کښــوني

پــه قيامــت بــه د زړه را ګــوري دفــتر تــه

کــه تــه نــس مغلــو لــوی راشــه صــابر شــه

پــه حــرص بــه غلــيم نــه کــړې مســخر تــه

(٢٦٢:٣٨م).

عزت: موږ ته داسې لارښوونه کوي چې چېرته مو عزت وي همالته ځئ او خپل عزت خپل دولت بولي، لکه:

چـــې چېرته مې عـــزت دی

هـــــماغه زمـــــا دولت دی

بې عـــــزته روټۍ نه خـــورم

دا مې خوی دا مې عادت دی

(٢٧٠:٣٨م).

د يارانو په ياد کې: په اشعارو کې د يارانو يادونه هم کوي او په فراق يې اوښکې تويوي:

جـــې ياران ياد کـــړم په زړه نولېږم

درست ځان به اوبه کړم هسې ژړېږم

وايـــې ښکارونه کړه غم به غلط کړې

چې غـــم يې غلط کړم تر يار شرمېږم

(٢٨٥:٣٨م).

د تاريخي او مهمو پېښو يادونه: په دېوان کې ډېری تېرو، تاريخي او مشهورو پېښو ته هم اشاره شوې، په دې اړه وايي:

چـــې دا يـــې لـــه دې اسراره

زلېخـــــا کـــــړه خـــــبرداره

د عشق جوش يې په زړه زور شه
خود يې قصد د ده په لور شه
تر ننگ تېره په نام داو شوه
لکه خپلې زلفې تاو شوه
خود به خود شوه ور روانه
په فرياد سينه بريانه
(۳۳۳:۳۸م).

په الله ج توکل: په الله ج توکل کوي او وايي چې حرص به نه کوم:

زړه محکم په توکل لره سکندره
په دنيا پسې حرص و هولې مکړه
کردگار د هر بنده د رزق ضامن دی
شرم وکړه خپل انبار د غلی مه کړه
په کوم ځای کې يې ساتلی چې لا نه وې
هغه خدای دی دلې غم د رزق مه کره
(۳۳۷:۳۸م).

د دنيا په باب: دا دنيا د تورې شپې سره تشبيه کوي او هغه جهان يې سبا گڼي، لکه چې وايي:

دا دنيا يو توره شپه ده
اخرت يې دی سبا
هېڅ شبه په ک را مه وړه
دا خبره ده رښتيا
څوک چې وخاندي په خوب کې
سبا وکاندي ژړا
هر چې وژاړي که گورې
سبا وکاندي خندا
(۳۳۸:۳۸م).

د گوهرخان خټک پېژندنه

گوهرخان خټک د خوشحال خان خټک زوی په (۱۰۷۰هـ ق) کال کې پیدا شوی، دی لا د څلور کالو و چې پلار یې د مغولو بندیوان شو او د رنتبور په کوټ کې هم گوهرخان هېر نه و، لکه چې وایی:

هغـــــه ملـــــک واړه سره زر دی

چـــې پکـــې دمـــا گـــوهر دی

کـــه ســـکندر وي کـــه گـــوهر وي

راتـــــه واړه جلـــــوه گـــــر وي

(قلب السیر، گوهر خان خټک:۱۴)

د گوهر خان د مرگ په هکله هم مختلف نظرونه موجود دي، څېړونکو یې د مرگ نېټه (۱۱۲٦)،ځینو(۱۱۳٦) او ځینې نور لیکوال یې تر دې هم وروسته یادوي، چې موږ یې دلته د همدې دوه نظریو او سنو یادونه وکړه. په دې باب د نوموړي په اثر قلب السیر کې تر جلا عنوان لاندې بحث شوی او اوږدې خبرې پرې شوي دي.

د گوهر خان خټک شاعري

د گوهر خان د شاعرۍ (سخن شناسي) په ستاینه کې د هغه مشر ورور اشرف خان هجري داسې وایي:

صدر خان، عجب، گوهر سخن شناس دی

رحـــمان لا په دا هنـــر د تـــورو غر دی

(۳۴:۲۱م).

د گوهر خان خټک قلب السیر چې په اصل کې د نثر کتاب دی، خو ځای ځای یې پکې د عربي او فارسي قصاید او اشعارو ترجمه هم راوړې ده، له دې سره یې په یاد اثر کې د موقع مطابق خپل شعرونه هم راوړي دي. په اثر کې راغلې لومړۍ قصیده یې هم د اوچتې پایې په قصیدو کې شمېرلی شو او د لوړې درجې قصیده ده. د قلب السیر د شاعري موضوع هم د سیرت مطابق دیني او مذهبي ده.

د گوهر خان خټک د قلب السیر پېژندنه او ځانگړنې

گوهر خان خټک چې ډېرو عالمانو او څېړونکو دېوان لرونکی شاعر یاد کړی او وایي چې نوموړی بشپړ دېوان لري، خو دېوان یې تر موږ نه دی را رسېدلی او یا هم ورک دی، خو د نوموړي شعرونه په قلب السیر په متن کې راغلي دي او لیکوالان هم د قلب السیر د ښې شاعري په اساس دا خبره کوي چې نوموړي د شعرونو دېوان درلود؛ خو د زمانې له لاسونو تر موږ نه دی را رسېدلی. قلب السیر د گوهر خان خټک ترجمه شوی اثر دی چې دا کتاب اصلاً په عربي کې د محمدبن اسحاق رح دی، چې وروسته ابن هشام په صفا

کړی او مکمل کړی دی، چې د سیرت ابن هشام په نامه شهرت لري او گوهر خان خټک فارسي نه پښتو ته ترجمه کړی دی. نوموړی کتاب چې ترتیب او تحقیق یې محمدزبیرحسرت کړی او په اول ځل په (۲۰۰٦م) د مرکه پبلیکېشنز له خوا چاپ شوی دی.

د گوهر خان خټک د دېوان شعري فورمونه

هغه شعري فورمونه چې د گوهر خان خټک په قلب السیر کې پرې شاعري شوې په لاندې ډول دي، چې زه به یې له هر یو شعري فورم څخه څو څو بیتونه د نمونې په ډول راوړم.

قصیده

د گوهر خان خټک په اثر (قلب السیر) کې لومړی راغلی شعري فورم قصیده ده چې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

که وېښـــته په تن ژبـې صد هزار شي
بیا ثناء د حق پرې څو رنگه تکرار شي
هم مې عـــمر شـــي په زرلـکه کلونه
د بـــې حد ثناء بېحده نه به شمار شي
که سیاهي قعر دریاب شي نور سیندونه
بیـــا قلم د جهان کل واړه اشجـــار شي
دا بـــه واړه شـــي تمام کاغذ به تور شي
ناتمـــام به وي که زر ځلـــه در کار شي

(۲۱:۴۹م).

رباعي

په اثر کې رباعیات هم راغلي چې یوه رباعي یې په لاندې ډول ده:

دوه یاران چې راز د زړه تر بله نمایي
بایـــده دی چـــې په خپله ژبـه وایي
د فارسیانو کن مکن ویل څه سود کا
پښتنـــو تـــه مه کړه ویـــل ښـــه ښایي

(۲۱:۵۸م).

مثنوي

د گوهر خان ختک په اشعارو کې ځینې داسې شعرونه شته چې د مثنوي په کالب کې ویل شوي دي، لکه:

ابـــراهیم چـــې مناجـــات کـــړه
همېشـه یـې سـتا درخواسـت کـړه
عیســـی هــم ســـتا بشـــارت کـــړه
تـــل خـــبر یـــې پـــه امـــت کـــړه
پـــس لـــه مـــا د دیـــن رهـــبر دی
چـــــې دی خـــــتم پیغمـــــبر دی
دا خپـــل دیـــن بـــه دی رســـوخ کـــا
نـــور دینونـــه بـــه منســـوخ کـــا

(٦٦:٢١م).

غزل

په اشعارو کې غزلې هم شته چې د یو غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

چې په مهر دې نظر شي هر انسان ته
په بـهانه بهانه یې وبولې خپل ځانته
چرته فارس چرته به شام یا مدینه وه
چـــې دې وښیله لار راسته سلمان ته

(٦٩:٢١م).

په همدې ډول یې په اثر کې د ځینو نورو عنوانونو لاندې هم اشعار راغلي چې له ځینو څخه به یې د منځپانګې په برخه کې یادونه وکړو.

د گوهر خان ختک د دیوان منځپانګه

د گوهر خان ختک په قلب السیر کې چې تر ډېره یې بحث دیني او مذهبي دی، موږ به یې د منځپانګې له اړخه د ځینو شعرونو بېلګې راوړو او یادونه به یې وکړو.

د الله ج په حمد کې وایي:

که وېښـــته پـه تـن ژبـې صـد هـزار شي
بیا ثناء د حق پـرې څـو رنګـه تکـرار شي

هــم مــې عمــر شي پــه زرلکــه کلونــه
د بــې حـد ثنـاء بېحـده نـه بـه شـمار شي
که سیاهي قعر دریاب شي نور سـیندونه
بیـا قلـم د جهـان کـل واړه اشـجار شي
دا بـه واړه شي تمـام کاغـذ بـه تـور شي
ناتمـام بـه وي کـه زر ځلـه در کـار شي
(۴۹:۲۱م).

د حضرت محمد ص په ستاینه کې وایي:

دی ســـلطان دی اولـــوالعزم د انبیـــاوو
د ادم او د حـــوا پـــرې افتخـــار شي
په جهان د صفي زوی راغلې ښکاره شـوې
نـور لـه تـا د همـه کـل پیـدایش پـلار شي
په احمد ص نامه دې خلاص ادم حوا شـول
په نامه دتا شفیع ص گـوره ځـوک کـار شي
چــې یــې داغ د محبــت پــه جبــین وشي
ابـراهیم غونـدې بـه نـار بانـدې گلـزار شي
(۵۲:۲۱م).

د خپلې ژبې په باب وایي:

دوه یاران چې راز د زړه تر بله نمایي
بایـــده دی چـــې په خپله ژبه وایي
د فارسیانو کن مکن ویل څه سود کا
پښتنـــو ته مه کـــړه ویـــل ښه ښایي
(۵۸:۲۱م).

د الله ج په نعمتونو شکر گزاري

څو نعـــمتونه تر ســـر تـــرپایه
چې تا موندلي دي له یوه خدایه
په هـــره ساه یې شـــکر وکـــاړه

که غـــافل نه يې ثناء يـــې وايه

(۲۱:۳۴م).

د حج د فريضې ارزښت: د حج د فريضې ارزښت ډېر لوی ګڼې او وايي که مو ګناهونه تر غرونو هم لوی وي؛ نو په صادقانه ورتګ به محوه شي، لکه چې وايي:

که هر څو دې ډېر لوی ګناهونه وي

هم پـــه لويوالي لکه تور غرونه وي

که تـــر مکې واړه به مـــــحوه شـــي

که دې تر غرونو لـــوی تقصيرونه وي

(۲۱:٦۰م).

د ظالم واکمن په باب: د ظالم سردار په باب وايي چې که په خپل رعايت څوک ظلم وکړي الله ج به پرې عذاب نازل کا او پوښتنه به ترې وکړي چې وايي:

سردار چې ظلم په خپل رعايا کا

جور و جفـــا په مقيم غـــــربا کا

عادل حقيقي شته جزا به بياموي

فلـــک به ســـــازه په ده بـــلا کا

(۲۱:٦۳م).

د مردارو ښځو په هکله وايي:

چـــــې بې وفا دي ښـــــځې مردارې

هر گـــز به نه شي دوی د چـــا يارې

وفا ترې مه غواړه چې ناقص عقل دي

که يـــې په سپينو په ســـرو کې نغاړې

(۲۱:٦۳م).

د محمد ص دنيا ته د راتګ په باب وايي:

مـــخ چې دې ښکـــاره کړ ناګـــهانه له نقابه

روشن دې درست جهان کړ تر مهتابه تر افتابه

په شپه د تـــــولد دې په کافرو هيبت پرېوت

ماڼيه د کســـــرى هم په هغه شپه شوه خرابه

اور يې د زرگـــونو کالــو مړ په دغه شپــه شه
نورې نخښې هم ورته ښکاره شـــوې بې حسابه
کسرى د ده اعوان چې دا احوال ورته ښکاره شو
خوب يې هـــرگز ونه کـــړ لـــه ډېره اضطرابه
(٦٥:٢١م).

د څښتن تعالى د فضل په باب وايي:

چې په مهر دې نظر شي هر انسان ته
په بهانه بهانه يې وبولې خپل ځانته
چرته فارس چرته به شام يا مدينه وه
چې دې وښيله لار راسته سلمان ته
مجوسي اتش پرست يار د احمد کړې
چې هېڅ نه رسېږي عقل و گمان ته
(٦٩٢١م).

د الله ج له دره امېد

کـه هـر څـو غـر غـر گنـاه عصـيان لـرم
ولې په خداى ج په پيغمبر ص ايمان لـرم
پــه شــفاعت د محمــد ص مغــرور يــم
امېـــد واثـــق د جنـــان رضـــوان لـــرم
(٧١:٢١م).

د محمد ص په فراق کې وايي:

زه فراق د محمد ص په زړه کباب کړم
شپه او ورځ يې المــونو په عذاب کړم
(٩٠:٢١م).

دعا

په حرمت د پاک نبي ص د ده د ال ص مـا
کـه مــې وبخښــې حضرـت ذوالجـلال مـا

و کرم ته امېدوار د لوی غفار یم

توره کړې که نامه ده په اوبال ما

(۲۱:۹۲م).

د کامګارختک پېژندنه

د موضوع مطابق د خوشحال خان ختک د ادبي مکتب اړوند بل شاعر چې موږ به يې لنډه پېژندنه او دېوان وڅېړو کامګار ختک دی. کامګار ختک د نامدار خان ختک زوی د اشرف خان هجري لمسی او د خوشحال خان ختک کړوسی دی. د زېږېدو دقیقه نېټه يې معلومه نه ده، خو د کلیات په سریزه کې لیکوال د یوې لویې شرحې وروسته لیکوال د کامګار ختک د زېږېدو نېټه له (۱۰۹۸ـ ۱۱۰۰هـ) پورې یادوي او د تسنیم الحق کاکا خېل هغه خبره ردوي چې وايي کامګار ختک په (۱۰۸۰هـ) شا و خوا کې زېږېدلی دی (۲۲: ٦-۵م).

کامګار ختک د خوشحال خان ختک د ادبي مکتب له لویو پیروانو څخه دی، نوموړی لوی عالم او ستر شاعر و. په فارسي او عربي ژبو هم پوهېده او د دې ژبو ښه عالم و.

د کامګار ختک پلار نامدار خان چې د افضل خان ختک سره وران و او په همدې خاطر له خپل اصلي استوګنځي سرای اکوړي څخه مهاجر و او په (دوبیانو) کې اوسېده، نو کامګار هم په دوبیانو کې اوسېده او په همدې هکله وايي:

د کامګار وطن که سرای دی

نصـــیب بند کړ په دوبیــانو

(۲۲: ۱۳م).

د کامګار ختک د مړینې نېټه د هغه په دېوان کې له راغلې یوې قطعې څخه په لاندې ډول څرګندېږي:

سن زر سل پینځه شپېته و

چې رخـــصت وکړو کامګار

پس لـــه ده نه په درې کاله

پـــلار د ده فوت شو نامدار

(۲۲: ۲۷۵م).

د پورته قطعې په باب د کامګار ختک د کلیات په سریزه کې داسې راغلي دي: (دا قطعه پته نشته چا ویلې، خو داسې معلومېږي چې د اروانباد میا تسنیم الحق کاکا خېل د مرتب دېوان کامګار ختک د خطي نسخې کاتب محمد سعید لیکلې وي، ځکه چې د دې خطي نسخې په اخر کې کاتب د لیکلو نېټه

ذوالحجه (۱۱۹۱ هـ) لیکلې، نو دا خطي نسخه محمدسعید د کامګار خټک له مرګ څخه (۲٦) کاله وروسته لیکلې ده او له دې څخه دا معلومېږي چې هغه وخت سعید ژوندی و، هم ورته د کامګار خان او هم ورته د نامدار خان د وفات کېدو نېټې معلومې وې، ځکه یې قطعه د خطي نسخې په اخر کې کې ولیکله. (۲۲: ۱۴م).

د کامګار خټک شاعري

لکه څنګه مو چې پورته یادونه وکړه چې کامګار خټک د دري او عربي ژبو ښه عالم و، نوموړی پر دې سربېره د پښتو او فارسي ژبې ښه شاعر و او په دواړو ژبو کې شاعري کړې. کامګار خان خټک نږدې په ټولو شعري اصنافو کې شاعري کړې، خو غزل یې ډېر او په خورا لوړه او په پوره ذوق سره پاللی دی.

د شاعري په باب یې ډاکتر راج ولي شاه خټک وایي: (د خوشحال بابا په اولاد کې د هغه د زامنو نه پس د نمسو او کړوسو وار راځي، چا چې غزل شاتو ته د خپل احساس ګلونو نه پور راوړی دی. په دوی کې وړومبی نوم د کامګار خان خټک دی، کامګار خټک په بنیادي لحاظ د غزل شاعر دی او نه یوازې د غزل شاعر، بلکې د غزل د نوي صورت صورتګر هم دی(۲۲: ۴۰م).

د کامګار په اشعارو کې نازکخیالي او رنګیني له ورایه ښکاري او د معنا په لحاظ یې هم په اشعارو کې نږدې ټولې خواوې رانغاړلې دي، لکه: اخلاقیات، وطن دوستي، حسن، عشق، مینه، مذهبي اشعار او نورې خواې پیدا کېږي. همدارنګه یې په غزلو کې پوخوالی، نازکخیالي، درد، سوز و ګداز، رنګیني او نور په پوره ډول موندل کېږي. په مذهبي خوا کې په دېوان کې ګڼې بېلګې شته لکه د اياتونو استعمال، د احادیثو استعمال، فقهي اصطلاحات او تاریخي واقعات راغلي دي. له لاندې شعر څخه یې د تاریخي مطالعې، پوهې او مذهبي اړخ ښه لیدلی شو چې وایي:

چې له ځانه خبر نه دی څه خبر دی له جهانه
چې تنها په لارې درومي څه یې کار دی له کاروانه
ساقي هسې پیاله راکړه چې په څښل یې لا یعقل شم
د خوشۍ د ناوې عقد فلک وکړ له تاوانه
د بدن په مصر کې مې زلیخا د زړه ړنده شوه
ښایسته یوسف به کله را روان شي له کنعانه

(۲۲: ۲۰۴م).

د نورو خواوو تر څنګ یې عشق هم پاللی او د مجازي عشق په واسطه تر حقیقي عشق رسي، حقیقي او مجازي عشق یې دواړه پاللي دي چې وایي:

چـې د عشـق پـه لار روان شـوم لـه اولـه
عشق کتـاب د جنـون راکـړو چـې دا لولـه
لـه ازلـه خـدای زمـا پـه نصـیب خـار کـړو
د ازل بخـــره اوس څرنـــګ کـــړم بدلـــه
خود لـه ښـکلیو توبـه وکـړم بیـا کـړم ماتـه
عشـــق کـــړو واړه زمـــا قـــول بـــې عملـــه
پـــه بـــاران زمـــا د اوښـــکو نـــه ســـړېږي
چـــې لنبـــه د یـــار د مینـــې شـــوه رابلـــه
(۲۲: ۲۰۲م).

د کامګار ختک په شاعري ډېر بحث کېدلی شي او له هر اړخه یې یو په زړه پورې او پوره شاعري کړې، خو موږ دلته د موضوع د ډېر نه طولاني کېدو په خاطر په همدې څو کرښو بسنه کوو او د دېوان نور اړخونه یې څېړو.

د کامګار ختک د دېوان ځانګړنې

په لومړي سر کې د کامګار خان ختک دېوان په حواله د کامګار د دېوان له خطي نسخو څخه یادونه کوو، په همدې ډول له چاپي نسخو، بیا له چاپ شویو دېوانونو او په لنډ ډول همدغه دېوان چې موږ یې سپړنه کو یادونه وشي.(لومړۍ خطي نسخه چې پر (۱۱۹۱ هـ) د ذوالحجې په میاشت کې لیکل شوې او اروابناد میا تسنیم الحق کاکا خېل په ۱۰ د اګست (۱۹۵۱ع) کې موندلې او بیا یې د دېوان کامګار ختک په نوم له خپلې مقدمې او شرحې سره په (۱۹۵۵ع) کې د یونېورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور له اړخه چاپ کړې.

دویمه خطي نسخه چې په پر (۱۱۸۹هـ) کې د کامګار خان له مړینې څخه څلورویشت کاله وروسته لیکل شوې، د دېوان کامګار خان ختک په نوم چې ترتیب او څېړنه یې عبدالمتین متین کړې او د علومو اکاډمي کابل له اړخه په (۱۳۵۸هـ) کې چاپ شوې. درېیمه خطي نسخه د کامګار د دېوان دغه خطي نسخه په (۱۳۲۵هـ) کابل ته راوړل شوې او د پښتو ټولنې له خوا، اغلباً د مولوي محمد شېرګل کاموي په قلم ۱۳۵ مخونو کې نقل شوې ده او اوس د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خطي نسخو په کتاب خانه کې خوندي ده. په همدې ترتیب یې څلورمه قلمي نسخه چې دا د کامګار دېوان دی، چې په غزلو مشتمل دی د لومړي ځل لپاره ښاغلي هیوز موندلی او خپور کړی دی.

د کامګار د پینځمې خطي نسخې په باره کې شهسوار سنګروال د برتانیا کتابتونونو کې پښتو قلمي نسخو پېژندنه وايي: د کامګار خان دغه لاسي نسخه په اندیا افس کتابتون کې په ۳۳۹۹ ګڼه شمېره کې خوندي ده. د دې نسخې مایکرو فیلم پښتو اکېډمي، پېښور پوهنتون هم له اندیا افس لاېبریرۍ څخه حاصل کړی دی. د شپږمې خطي نسخې په باب هم سسنګروال وايي چې د کامګار دغه خطي نسخه په ۴۸۳۴ پرله پسې شمېره د اکسفورډ پوهنتون په کتابتون کې خوندي ده(۲۲: ۱۹م).

د کلیات په سریزه کې د پورته ذکر شویو خطي نسخو په باب ډېر وضاحت ورکړ شوی او په باب یې ډېرې خبرې شوي، خو ما یې صرف په لنډ ډول یادونه وکړه.

تر دې وروسته یې د چاپي نسخو په باب هم خبرې شوي چې لومړی یې (دېوان کامګار خان ختک پېښور چاپ)، دویمه یې (د کامګار خان ختک دېوان، کابل چاپ) او دریمه چې د دېوان کامګار خان ختک د پښتو اکېډمي پېښور چاپ دی یادونه شوې او په پوره ډول سپړل شوي دي، چې دلته د موضوع د نه اوږدېدو په خاطر یوازې د نومونو پر یادونه مو بسنه وکړه.

د یادولو وړ ده چې دغه دېوان چې موږ پرې څېړنه کوو (د کامګار خان ختک کلیات) دي، چې له دېوان سره سره یې د نوموړي یو بله خطي نسخه (شرح عقاید) هم یوځای شوې او د میا وکیل شاه فقیرخېل په شننه، سپړنه او زیار د دانش خپرندویه ټولنې له خوا چاپ شوی دی. په یاد اثر تقریباً د میا وکیل شاه فقیرخېل له لوري (٦٣) مخه تحلیلي لیکنه شوي او د پخوانیو دېوانونو، خطي نسخو او د کامګار له ژوند څخه تر شاعري او ان په نږدې ټولو خواوو یې جامع بحث کړی دی.

د کامګار ختک د دېوان شعري فورمونه

د کامګار خان ختک په دېوان کې په لاندې فورمونو کې شاعري شوې.

غزل

کامګار ختک چې د خوشحال په څېر یې د ختېځې شاعري زیاتو فورمونو کې شاعري کړي، خو په غزل ویلو کې استاد دی او غزل یې له ځانګړې خوند او لذت څخه برخمن دی، لکه چې وايي:

چـې جـدا شـوم زه بلبـل سـتا لـه ریـاض
زړه مې غوځ کـړو د هجـران تېـره مقـراض
مـا پـه خپلـه د تـا مینـه غـوره نـه کـړه
پـه ازل مـې دا نصـیب کـړو رب فیـاض
مګـر بیـا دې د رقیـب خـبره پنـد کـړه
چـې خـبره درتـه کـړم کـوې اغـماض

ستا لـه مخـه بـه ځـوک څـه برابـري کـړه

ته جـوهر يـې کـه نـور ښـکلي دي اغـراض

(۲۲: ۱۳۰م).

د کامګار په دېوان کې فارسي غزلې هم شته چې د يوه فارسي غزل څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

دل ز هجـــر تـــو در فغـــان امـــد

بـــی تـــو جـــان ز جـــان بجـــان امـــد

اشـــک چشـــمم ز اتـــش هجـــران

تـــا بـــدامن روان، دوان امـــد

به فرا قسم بکشست بـر سر مـن

عطـف دامـن کشـان کشـان امـد

کـه منـال از جفـا و جـور وسـتم

ايـــن راه و رســـم دلـــبران امـــد

(۲۲: ۲۴۸م).

رباعی

زمـــا دلـــبره د تـــا لـــه درده

سترګې مې سرې دي ګونه مې زرده

دا هـومره جـور پـه مـا تـل مـه کـړه

ويـــر مـــې وکـــړو لـــه اه وسرده

(۲۲: ۲۷۲م).

قطعه

د کامګار خان ختک په دېوان کې يوه قطعه راغلې چې د هغې د ويونکي په باب هم بېلابېل نظريات لري، قطعه په لاندې ډول ده:

ســـنه زر ســـل پينځـــه شـــپېته ده

چـــې رحلـــت وکـــه کامګـــار

پـــس لـــه دې نـــه پـــه دې کالـــه

پـــلار د ده وشـــه نامـــدار خـــان

(۲۲: ۲۷۴م).

مخمس

په دېوان کې د راغلي مخمس څو بيتونه په لاندې ډول دي:

د يار مينې سرگردان لکه اسمان کړم
د اسمان ځنې جدا گوره څه شان کړم
غم مې نه لري پايان چې يې بيان کړم
جدايي په سرو لمبو باندې بريان کړم
ځکه تل اهو ژړا ناري فغان کړم

(۲۲: ۲٦۷م).

مثنوي

په دېوان کې ډېرى شاعري د مثنوي په فورم کې شوې او نږدې د شرح عقايد برخه يې ټوله د مثنوي په فورم کې ده.

په نامه به د مولا
د کتاب کړم مبتدا
دی رحمان و رحيم خدای دی
د کمراهو رهنما دی
خداوند زموږ کار ساز دی
بې دمسازه بې نياز دی
بې نيازه لوی بادشاه دی
محتاج کله دی د چا دی

(۲۲: ۲۸۲م).

د کامگار ختک د دېوان منځپانگه

کامگار ختک چې شاعري يې د منځپانگې له اړخه ډېرې خواوې په بر کې نيسي او له مجازي عشق څخه نيولې تر تصوف او تر مذهبي اړخه يې ټولې خواوې را نغاړلې دي چې له ځينو يې په لاندې ډول يادونه کوو.

عشق

د کامګار د اشعار په منځپانګیز اړخ کې د عشق په باب ډېر څه راغلي چې د یو غزل څو بیتونه یې د نمونې په ډول راوړو.

په اخر په هجر جام ورکا د زهرو
که اول د وصل نوش کاندې رحیق
نور همه چارې عبث بې له عشقه
ما چې ښه وکړو د دې دنیا تحقیق
تور لوګی مې له خولې ځي په سوز د عشق
په سینه مې هسې اور بل دی حریق
لکه قد زما دیار ښکلی زېبا دی
سروه نه لري دا شان بالا رشیق

(۲۲: ۱۴۱م).

انسان دوستي

لکه څنګه چې انسان ټولنیز مخلوق دی او په ټولنه کې ژوند کوي؛ نو طبیعي خبره ده چې له خپلو همنوعو سره به خواخوږي کوي او له دوی سره به دوستي پالي، خو تر ډېره خلک دا کار نه کوي، خپلې کېنې پالي او یوازې ځان غوښتونکي وي، ولې کامګار خان غوښتونکی نه دی او په دېوان کې د بشر دوستۍ ډېرې نمونې شته، لکه:

چې زخمي زړونه ګنډي لکه خیاط
بې پوښتنې به تېرېږي په صراط
غم خوشي د دنیا واړه ګذاران دي
څوک به څه کا د دنیا غم و نشاط
څرنګ راشي هسې درومي بقا نه کا
رنده سر دی کاروانې دنیا رباط
دنیا درسته په غمونو الوده د
نادانان ترې امید که د انبساط

(۲۲: ۱۳۱م).

نازکخیالي: د کامګار شاعري دا برخه هم لري او په دېوان کې ګڼې بېلګې شته:

چـې دلـبر چېـرې پـه سـيل کـې د بـاغ ګرځـي
تـه بـه وايـې چـې فـانوس کـې چـراغ ګرځـي
زه يـــې درســـت د جـــدايي پـــه لمبـــو وســـوم
بيـــا پـــه څـــه زمـــا لـــه حالـــه فـــراغ ګرځـــي
پـــه مـــا خـــور بـــه نظـــر کلـــه کـــا د رحـــم
يار چې هسې په ډېر په ډېر خيال په دماغ ګرځـي
پـه ليـدل يـې هسـې مسـت ګـرځم بـاور کـړه
لکـه څـوک چـې مسـت پـه څښـل د ايـاز ګرځـي
(۲۲: ۲۱۸م).

د اخرت فکر

خـــبر واړه پـــه رفـــتن د عمـــر کانـــدي
چـې صـدا کانـدي ګړيـال پهـر پـه پهـر
د دنيا ناوې به څـه کـړ کـه هوښـيار يـې
چې له شـويه غـواړې ديـن بـدل د مهـر
بـــار تـــړه يـــاران ولاړل تـــر منزلـــه
سـحر خېـز جـرس نـارې وهـي پـه جهـر
پـه دمـت د مـولا مـټ کـوه کامګـاره
کم خدمت بنده ته کاندي څښـتن قهـر
(۲۲: ۱۱۷م).

وطن دوستي: په دې باب وايي:

د سـړي قـدر و قيمـت دی پـه وطـن کـې
ذره نـور سره سيـــالي کـړه پـه روزن کـې
د غربـت تـر صـحت رنـج د وطـن ښـه دی
عقيق خوښ په ځيګر خون دی په يمين کې
د ګـوهر زړه پـه صـدف پسـې سـورس شـو
کـه يـې هـار کـه مهوشـانې پـه ګـردن کـې
ګـل پـه څانګـه پـه اغزيـو کـې تـازه وي

پژمــرده شي د زربفتــو پــه دا مــن کــې

(۲۲: ۲۲۸م).

نعت

چــې سرور د دنيــا ديــن دی

محمــد رســول آمــين دی

چــې زينــت د دې جهــان

محمــــد دی عاليشــــان

چې عالي يــې ذات نـژاد دي

محمــد صــاحب جهــاد دي

(۲۲: ۲۸۸م).

مناجات

خداونــده ذوالجلالــه

لايمــــوت لا يزالــــه

يــا حلــيم و يــا حکــيم

په جنت مې کړه مقيم

(۲۲: ۲۹٤م).

تصوف: کامګار د تصوف برخه هم په خپلو اشعارو کې رانغاړلې ده لکه چې وايي:

په دا دروند صورت به تېر په صراط نه شې

څو خپل ځان پــه رياضـت نـه کړې ډنګـر

د ګومان لـه ګردابونـو بـه خـلاص نـه شـې

څــو دې حضرــ د يقــين نــه شي رهــبر

(۲۲: ۱۱٦م).

د کامګار اشعار د منځپانګې له اړخه ګڼ نور موضوعات هم په بر کې نيسي، خو موږ دلته د موضوع د نه اوږدېدو له امله په همدې بېلګو بسنه کوو او د کامګار د دېوان څېړنه همدلته پای ته رسو. د موضوع مطابق په ده پسې د خوشحال د ادبي مکتب اړوند بل دېوان لرونکی شاعر په لنډ ډول در پېژنو، د دېوان څېړنه يې کوو او په اشعارو يې بحث کوو.

د سعید ختک پېژندنه

د موضوع مطابق د خوشحال د ادبي مکتب بل دېوان لرونکی شاعر سعید په لنډ ډول پېژندنه کوو او د څېړنې مطابق یې د دېوان سپړنه کوو.

سعید چې په بابا سعید هم یادېږي د نوموړي د ژوند، قبیلې او شخصیت په اړه پوهان یوه خوله نه دي.پوهاند رښتین وایي چې سعید یا سعد الله خان د افضل خان ختک زوی او د خوشحال د ادبي مکتب پیروی دی.

همېش خلیل د سعید د دېوان په مقدمه کې دوه نظریې راوړي: لومړی نظریه وایي چې نوموړی د خوشحال د کورنۍ شاعر بولي او د خوشحال ادبي مکتب ته یې منسوبوي.

دویمه نظریه داسې ده چې نوموړی د شېرشاه سوري د دربار شاعر بولي. پوهاند رښتین د دغه شک د له منځه وړلو لپاره یوه مقاله په وړمې مجله کې چاپ کړه چې په دې مقاله کې یې د همېش خلیل لومړی نظر تایید کړی او ویلي یې دي چې سعید (سعد الله خان) د خوشحال کړوسی او د افضل خان زوی دی او یوازې شعري نوم یا تخلص یې سعید دی(۳۷: ۳-۴م).

سعید په دري ژبه هم شاعري کړې او د خطي نسخې یوه برخه یې دري اشعار دي، په هره برخه کې شاعري کړې او ټولنیز ارزښتونه یې هم له پامه نه دي غورځولي چې وایي:

نادان خـــــبره مـــردان عـــمل لري

عـــمل پېشه وي چـــې طالع مل لري

ته ویـــښ ویده یې عـــمر اخـــر شو

اجـــل ولاړ دی درته چـــل چـــل لري

(۳۷: ۱۸۷-۱۸۹م).

د سعید شاعري

سعید چې د فارسي او عربي ژبې ښه عالم و، په فارسي ژبې یې هم شاعري کړې او فارسي اشعار یې هم شته. د سعید په شاعري کې هم د هغه لوړه علمي سویه له ورایه ښکاري او همدا وجه ده چې د نوموړي په شاعرۍ هر څوک په اساني سره نه شي پوهېدلی، هغه په خپله هم په دې اړه وایي:

د هر لوستونکي ادراک بـه نـه رسي

لکـه چـې ښـايي زمـا دېـوان لولـوي

پکـــې کـــارون اســـتفهامونه دي

معنی رس بویه چـې يـې روان لـولي

نـادان بـه عيـب نسـبت پـه مـا کـا

شـاباش بـه وای چـې يـې تـوان لـري

عيب به يې نه کا دانا په هـېڅ ځـای

سر که يې وسط که يې پايـان لـولي

(۳۷: ٦م).

بل ځای بيا هم په همدې اړه وايي چې د سعيد په شاعري د سعيد په شان خلک پوهېږي او پر دې پوهېدل د ناپوهو خلکو کار نه دی لکه چې وايي:

سـتا لـه گفـت بـه اهـل دل حـلاوت مـومي

ســـعيد نـــه دی د نـــا اهلـــو دا طبـــق

چـې پـه طبـع کـې رسـا روشـن ضـمير دی

د سعيد په گفت يې څو رنگـه شـاباش شي

(۳۷: ۷م).

په شاعري کې د انساني اصلاح، مذهبي، اخلاقي اړخ، عشق او مينې ځينې نمونې هم شته. د سعيد د شاعري په باب داسې ويلی شو چې په شاعري کې نه د خوشحال غوندې جمال او جلال شته او نه د رحمان بابا غوندې سادگي او رواني او نه د حميد مومند د شاعري په شان نازک خيالي؛ خو له دې سره سره بيا هم د سعيد شاعري د تخيل او جذبې ځانگړی رنگ موجود دی او د مضمون او مانا له مخې يې شاعري د علميت په ښايست ښايسته او د انساني اخلاقو نمونه ده.

د سعيد د ديوان ځانگړنې

د سعيد ختک ديوان چې ترتيب، تحقيق او مقدمه يې همېش خليل کړې، په (۱۳۹۳ل) کال د دانش خپرندويه ټولنې له خوا چاپ شوی دی. د ديوان په مقدمه کې د سعيد د ديوان په هکله لاندې خبرې راغلي او ديوان د قلمي نسخې په اړه يې ويلي دي: (د سعيد ختک د ديوان دا قلمي نسخه سيد فضل صمداني صاحب ماته د شايع کولو په غرض په ښه زړه راکړه مننه ترې کوم. دا نسخه دوه برخې لري لومړی برخه يې د فارسي او دويمه برخه يې د پښتو ده. د فارسي برخې ټول صفحات يې (۱۷۱) او د پښتو يې (۸۰) دي چې دا موجوده ديوان ترې جوړ شو(۳۷: ۲م)..

د سعید د دېوان شعري فورمونه

د سعید په دېوان کې څو د گوتو په شمېر شعري کالبونه شته چې دلته به یې د هر یوه نمونه تاسو ته وړاندې کړو:

غزل

د سعید د دېوان لویه برخه غزلې دي، د سعید د غزلو د بیتونو شمېر مختلف دی ځینې غزلې یې ډېر اوږدې دي او تر پینځلس بیتونو هم اوړي او د څپو شمېر یې هم مختلف دی. په دېوان کې د راغلي یو غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

د بلبلــو مینــه هــومره پــه بهــار څــه
بیـا یـې هسـې جـدایي ځنـې دا چـار څـه
رنـــگ و بـــوی د گلـــو واړه بېوفـــا دي
د بلبــل جســتجو هــومره پــه گلــزار څــه
د حباب سر یو نفس تر دریاب هسـک دی
د زړه هــومره خوشــول پــه مســتعار څــه
لــه علمــو جــدایي و یــار تــه روخ دی
دا و خلقــو تــه کشــش دورې د یــار څــه

(۳۷: ۱۲۳م).

رباعیات

له غزل وروسته بل شعري فورم چې د سعید په دېوان کې راغلی رباعیات دي. یوه رباعي یې پـه لانـدې ډول ده:

نــادان دنیــا و دانــا عقبــا غــواړي
دایـم دتـا خپـل لـه تـا هـم تـا غـواړي
ســعید د تــا در ربــوده گــانو کــړي
چې یې نه مومي که سر که پا غواړي

(۳۷: ۲۰۱م).

قطعې

بل شعري فورم چې د سعید په دېوان کې پرې شاعري شوې قطعې دي لکه:

عمر دې تېر شه په پوچ و هېڅ کې

د قیامت کار دې په قیامت کړ

د عقل سترګې د تا ړندې شوې

په شمار د سګ د خپل بصارت کړ

(۳۷: ۲٦۷م).

د سعید دېوان کې په همدې درې شعري فورمونو شاعري شوې او دېوان یې د قطعو په برخه پای ته رسېږي.

د سعید د دېوان منځپانګه

د سعید شاعري چې ډېره پېچلې ده او پرې پوهېدل د هر چا کار نه دی، خو بیا یې هم په اشعارو کې ډېری خواوې څېړلې دي چې موږ به یې دلته په ځینو خواو بحث وکړو.

مردي

د مردۍ په باب سعید داسې وایي او مېړنې داسې ستایي:

مردي له مرده له نا مرده کله شي

نامردي کله له مرد موندله شي

مرد مشابه دی د سپینو بازو

د نا مرد وضع پور اغه کړله شي

(۳۷: ۱۹۹م).

دوستي: د دوستۍ په باب وایي:

د دوستي ګوهر یې کښېښ په خوارۍ کې

یافت یې نشته په ثروت په سردارۍ کې

عزیزان چې په مکان د شرف ناست دي

سر تر پښو دي واړه غرق په مردارۍ کې

(۳۷: ۷۳م).

له دنیا څخه زړه تور والی: سعید دا دنیا د زړه داغ ګڼي او مینه یې خطا بولي، په دې اړه وایي:

چې اخر ځینې حاصل دی د زړه داغ

دانا ځکه له دنیا وکړ فراغ

اشنايي ته هوس مه کړه چې اخـر شي
پــه زړه خــار د بلبلانــو گــل د بــاغ
د وصــال پيالــه بلبــل وتــه لــږ آن وه
تـل بـه کلـه وي د گـل پـه لاس ايـاغ

(۳۷: ۸۲م).

مجازي عشق: په دې باب د يار زلفې ستايي او وايي:

څو په زلف کې د خوبانو پېچ و تـاب دی
د مبين په زړه کـې هـومره دغـه بـاب دی
څـه عجـب يـې و زلفينـو تـه تـب ورکـړه
هـر شـکن يـې بعينـه کـور د افتـاب دی
چې يې هسې قدر دی په جهان خور کړ
ستا د زلفو د باد من پـه مشـک نـاب دی

(۳۷: ۱۸۱م).

د دنيا بې وفايي

په اخر يـې پـه ارمـان ور ځنـې کـوچ دی
د دنيــا د ســلطنت اوامــر پــوچ دی

(۳۷: ۱۸۲م).

ياران او دوستان: نوموړی هر سړی تر خپل مطلبه يار گڼي او په هکله يې وايي:

يــاران اخــوان دي کــه پسرــان دي
مگــس کــل واړه د خــوارِه خــوان دي
کـه لـږ مـراد يـې لـه تـا حاصـل نـه شي
پــه هغــه دم دې کــل دشــمنان دي

(۳۷: ۲۰۳م).

په همدې ډول د سعيد په ديوان کې د منځپانگې له اړخه هم گڼ موضوعات راغلي او بېلا بېل موضوعات يې ويلي دي چې موږ يې په پورته ډول د ځينو يادونه وکړه. د سعيد د ديوان څېړنه همدلته پای ته رسوو او په دې پسې د موضوع مطابق د بل ديوان څېړنه کوو.

د صدیق پېژندنه

د خوشحال د ادبي مکتب په پیروانو کې بل د دېوان خاوند شاعر صدیق دی، چې دلته به یې لنډه پېژندنه راوړو او د دېوان په هکله به یې وغږېږو.

د صدیق په هکله له ډېرې مطالعې وروسته بیا هم ونه توانېدم چې د صدیق په هکله څه پیدا کړم، خو هغه څه چې د نوموړي په هکله راغلي په لاندې ډول یې یادونه کوم، چې هغه هم پوره دقیق نه دي او صدیق داسې یو شاعر دی چې د ژوند حالات یې بېخي په تیاره کې دي. (د نوموړي په هکله رابرت هیوز په کلید افغاني کې د ده د دوو غزلو په رڼا کې، په پښتانه شعرا لومړي ټوک کې همدومره لیکلي و چې صدیق هم زموږ له هغو پخوانیو شاعرانو څخه دی چې سوانح او پوره واقعات یې موږ ته معلوم نه دي.) (دېوان صدیق:هـ مخ)

د پوهاند رښتین د یادونې له مخې صدیق اصلاً د اشنغر و چې د پېښور په نوښار کې اوسېده، صدیق دا دواړه نومونه داسې یادوي:

درېغه که وطن په تورو غروونو د صدیق وای

مه وای په نوښهر مـــــلک یې مه وای اشنغر

(۴۳: ۱۰۸م).

(په همدې ډول یې په ځینې نورو ځایونو کې هم د نوښهر یادونه کړې ده، د ده له دې بیتونو څخه معلومېږي چې صدیق به د اشنغر و، که د تاریخ مرصَع د صدیق سره یې یو شخص وبولو نو یقیناً به د اشنغر د چارسدې وي.) (دېوان صدیق:ی مخ)

په همدې ډول یې د سبک په اړه هم محتلف نظریات دي. صدیق په ځینو ځایونو کې د رحمان بابا له پېروانو او په ځینو ځایونو کې د حمید په پیرو ګڼل شوی دی، خو له اشعارو څخه یې له ورایه ښکاري چې د خوشحال د ادبي مکتب پیرو دی.

په دېوان کې له راغلي یو غزل څخه معلومېږي، چې پکې د هغه جګړې چې (۱۰۸۳هـ ق) کال د پښتنو او مغلو تر منځ پېښه شوې وه، په دغه وخت کې صدیق ځان هلک بولي؛ نو له همدې څخه موږ ویلی شو چې صدیق به دغه وخت د ۱۷ـ ۱۸ کالو عمر درلوده او د یو غزل له یو بیت څخه یې معلومېږي چې تر ډېره عمره (بوډاوالي) پورې ژوندی و، لکه چې وایي:

نظر کم شو، ږیره سپینـــه، خوله کنډاسه

نه شوم خلاص د نفس له مکر له وسواسه

(۴۳: ۲۰۹م).

د صدیق شاعري

د صدیق شاعري په منځنۍ دوره او کلاسیک ادب کې له لوړ ارزښت څخه برخمنه ده، نازکخیالي یې هم پاللې او د ځینو اشعارو په لوستلو یې دا فکر کېږي چې گواکې د حمید مومند د ادبي مکتب(هندي ادبي مکتب) پیرو دی، خو په واقعي او کلي ډول یې په اشعارو کې د خوشحال خان ختک اغېزه ډېره لیدل کېږي او د هغه په ځواب کې ځینې اشعار هم ویلي، لکه خوشحال وایي:

چې په خپله افغـاني ژبه نادان دی

په ترکـي خبرې څه وایې افغان ته

همدغه مطلب صدیق داسې وایي:

زه پښتون لا په پښتو ژبه کې اړ شم

ته و مـــا وته ترکي خــبرې څو کړې

په لنډ ډول ویلی شو چې د صدیق په اشعارو کې پښتونولي، خپلواکي، د مغلو خلاف د ملي احساس څرگندتیا، توره، مېړنتوب او گڼې نورې خواوې راغلي دي او شاعري یې له لوړې درجې برخمنه او د لوړ ارزښت درلودونکې ده.

همدارنگه د شاعري یوه لوړه ځانگړنه یې سادوالی هم دی چې الفاظ یې ساده او شاعري یې روانه ده او د منځپانگې له پلوه هم گڼې خواوې لري، چې په هغې به په خپل ځای بحث وکړو، خو د شعري فورمونو له اړخه یې په دېوان کې یوازې غزلې راغلي دي او شاعري یې تر ډېره په غزلو را څرخي.

د صدیق د دېوان ځانگړنې

د صدیق دېوان چې د څېړنوال دوست په سریزه او تصحیح د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو انستېتوت له خوا په(۱۳۵۸) کال چاپ شوی دی، چې میکرو فېلم یې د تونگ له دولتي کتابخانې څخه د ډهلي موزیم له لارې پښتو ټولنې ته را رسېدلې او د ښاغلي عبدالواجد واجد او محترمې شریفي شریف لوستی دی، بیا د ښاغلي واجد په ملگرتیا پرې ښاغلي عارف غروال نوې کتنه کړې ده. د یادونې وړ ده چې دغه دېوان د سر له پلوه بشپړه او د پای له خوا نیمگړې دی، ځکه د الفبا په ردیف دغه دېوان یوازې د (ل) ردیف پورې رسېدلی او د (ل) په ردیف کې (۱۷٦) یم غزل د دېوان وروستی غزل دی.

له دې وروسته چې کوم غزلونه راغلي هغه د پخواني لیکدود سره سم په نورو ردیفونو کې راغلي دي، خو موږ له اوسني لیکدود سره سم د (مجهول واو، ې، هـ) غزلونه خپلو ردیفونو ته نقل کړل. د دېوان د نسخې لیکدود داسې دی چې کټ مټ د خوشحال د کورنۍ لیکدود دی. دغه نسخه چې ټول (۱۸۴) مخونه لري

او په هر مخ کې یې په منځني ډول (۱۳) بیتونه ځای شوي دي. د دغې نسخې د ټولو غزلو شمېر (۳۱۳) دی او ټول بیتونه یې (۲۳۹٦) دي(۴۳: ب،هـ).

د صدیق د دېوان شعري فورمونه

لکه څنګه مو چې پورته یادونه وکړه چې د صدیق دېوان نیمګړی دی؛ نو په همدې اساس د نوموړي په دېوان کې یوازې یو شعري فورم چې غزل دی شاعري پرې شوې او نور شعري فورمونه پکې نه تر سترګو کېږي. د صدیق په دېوان کې د راغلي غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

هــر وېښــته پــه تــن زمــا د درد فریــاد کــا
سر نشــتر پــه رګ زمــا مــات د پــولاد کــا
درد زمــا غونــدې زغمــل چــې د چــا نــه وي
پــه تېشــه بــه تنــدی مــات لکــه فرهــاد کــا
د منصـــور معلـــم زه ظـــاهر، بـــاطن یـــم
تلــه شــاګرد پخــه طریقــه تــل اســتاد کــا
رســېدل یــار تــه لــه ځانــه تېرېــدل دي
خضرــ لنــډه لار پــه فرمــان اوږده بنیادکــا

(۴۳: ۲م).

د صدیق د دېوان منځپانګه

د صدیق دېوان که څه هم یوازې غزلې پکې موجودې دي، خو بیا یې هم اشعار هر ډول منځپانګې خپلولی شي، مینه، همت، وطن دوستي، مجازي عشق او نور په پوره ذوق سره پاللي دي چې په لاندې ډول یې بېلګې راوړو:

مجازي عشق: د صدیق په دېوان کې د مجازي عشق ډېر نمونې شته لکه:

ستا د زلفو بوی به ما هسې شیدا کا
ستا د حسن غــږ به ما تر نمر والا کا
هغه بوی چې ستا د زلفو نسیم راوړي
اوس بــه خلک بوی د مشکو ناروا کا
د بلبل د پاره ګــل په چـــمن راغی
پـــه کاته یې صبـــا ځـــکه مرحبـــا کا

هغه څوک تر ما غریب چې شته په ښهر
ځـــان دې ســـــم په تنهایي تر ما تنها کا

(۴۳: ٦۴م).

د همت غوښتنه: له څښتنه همت غواړي او وايي:

خدایه راکړه په دنیـا کـې تـه همـت ډېـر
چې بخښنه په همت کـړم د دولـت ډېـر
په دنیا کـې سـخاوت شـجاعت ښـه دی
رب دې راکاندي په دواړو کې غیرت ډېر
قناعــت تــر دغــه دواړو لا تېــری کــا
چـې نظـر یـې تـر هرڅـه کـا برکـت ډېـر
دین دنیـا لـره دا دوه چـارې پـه کـار دي
چې هر څوک د دغو دواړو کا صفت ډېر

(۴۳: ۱۱۰م).

طمعه او قناعت: په دې هکله وايي:

په هر چا چې مینه کړې په طمع زیاتـه
پـه هغـه طمعـه هغـه مینـه شي ماتـه
ما په خپلـه تجربـه کـړه پـه خپـل عمـر
نصـحت ځکـه ښـکاره وایـم هـر چاتـه

(۴۳: ۱۵۱م).

زحمت: صدیق وايي چې بې زحمته راحت نشته او هره سودګي له یوه یوه تکلیفه وروسته حاصل کېدلی شي په دې اړه وايي:

اسـوده پیـدا هیڅـوک پـه جهـان نشـته
بې خزانه ګـل هـر ګـز پـه بوسـتان نشـته
د ګلونـــو خنـــدا کلـــه بـــې ژړا وي
بېهـــوده پـــه دا چمـــن بلـــبلان نشـــته
د ځوانی ارمان په وخت د پیری مـه کـړه
سـود پـه تېـره چـار هرګـز د ارمـان نشـته

فراغـــت تمـــام لـــه غمـــه ازاده کـــا

د تصـــوير د ګلـــو غـــم د خـــزان نشـــته

(۴۳: ۱۵۸م).

مينه: د صديق په ديوان کې د مينې په باب ډېر څه شته او دا برخه يې په لوړ هنر سره پاللې ده چې وايي:

مينـه، مينـه څـه ده واړه غـم ده ځيګـر خـون ده

چانه نـه کړه تـرسره پـورې کړې خـو مجنـون ده

چـا ويـل د مصرـ تـوره ډېـر ښـه غوڅـول کـا

زه وايـــم دروغ دي، تـــوره بـــده د بېلتـــون ده

ستا قصو مې خوب په دواړو سترګو کې حرام کړ

چـا ويـل و ماتـه چـې قصـه د خـوار افسـون ده

(۴۳: ۱۸۴م).

د بدې ژبې په باب وايي:

بـــده ژبـــه تېـــره ډېـــره ده تـــر خـــاره

ګـل د خـار جـدايي نـه کـا لـه کنـاره

زخـم ډېـر تېـره د ژبـې تـر خنجـر وي

پـه چيچـل مچـۍ ور درومـي تـر شـعاره

نه مې لاس په سخا ښې په کين خبر شو

نـــه کمـــې کـــا زر يميـــين و تـــر بســـاره

که صدف غوندې خوله وازه کړم اوبـو تـه

پـه لمـن بـه ګـوهر زيـات وړم تـر هـزاره

(۴۳: ۱۹۱م).

تصوف: د ديوان په ځينو اشعارو کې د تصوف مرحلې هم يادې کړي لکه چې وايي:

چـې ثابـت پـه شريعـت شـې

نـور سـالک د حقيقـت شـې

د توحيـــد ډيـــوه کـــړه بلـــه

چـې روان پـه طريقـت شـې

بـې پرواهـه بـه رفـتن کـړې

چـې د پـیر پـه معرفـت شـې

د تلقـین ذکـر حاصـل کـړه

چې مشغول پـه محبـت شـې

(۴۳: ۲۵۰م).

د صدیق دېوان د منځپانګې له مخې یو غني د ېوان دی، چې د ځینو یادونه یې موږ په پورته ډول وکړه او په همدې څو بېلګو یې بسنه کوو. د موضوع مطابق د صدیق د دېوان څېړنه همدلته پای ته رسوو. په ده پسې به د خوشحال خان خټک د ادبي مکتب اړوند بل دېوان لرونکی شاعر وپیژنو او د دېوان څېړنه به یې وکړو.

د معاذالدین خټک پېژندنه

د خپلې څېړنیزې موضوع مطابق چې د منځنۍ دورې د دېوانونو څېړنه ده، په دې لړ کې د خوشحال د ادبي مکتب لاروي معاذالدین خټک د دېوان څېړنه کوو، په دې لړ کې به لومړی د معاذ الدین خټک لنډه پېژندنه وکړو او بیا به یې په دېوان خبرې وکړو.

د معاذ الدین خټک دېوان چې سریزه، اوډنه او کتنه یې میا وکیل شاه فقیرخېل کړې چې په نوموړي اثر یې یوه لویه تحقیقي سریزه لیکلې، په یاده سریزه کې راغلي چې معاذ الدین د اکبر زوی او د سعادت لمسی دی. نوموړی په خپله یوه مثنوي کې د خپل خاندان په باب وایي:

پـس لـه حمـده لـه دروده
وایـم زه لـه خپـل مقصـود
سن د هجـر شـکاره اوس دی
چې زر سل اووه پنځوس دی
دا خـاطر د دې مسـکین دی
چې خټـک معـاذ الـدین دی
دې د ده قبلـــه گـــاهي
شـــه مغفـــور لـــه الهـــي
محمـــد اکـــبر عیـــان دی
پـلار د ده سـعادت خـان دی
خـــدای عفـــوه د دوی اوکـــا
په غفران دی یې کار شـه کـا

(۲۴: ۹م).

د معاذالدین له پورته مثنوي څخه هم څرگندېږي چې معاذالدین د اکبر زوی او د سعادت خان لمسی دی. د معاذ الدین د دېوان په سریزه کې ویل شوي چې نوموړی د خوشحال کړوسی دی. د نوموړي د ژوند زمانه د هغه له لاندې شعر څخه څرگندولی شو:

پـس لـه حمـده لـه دروده
وایـم زه لـه خپـل مقصـوده
سـن د هجـر شـکاره اوس دی

چې زر سل اووه پنځوس دی

له پورته بیتونو څخه معلومېږي چې په (۱۱۵۷هـ) کې یې ژوند کاوه او په دې موده کې یې خپل یو اثر لیکلی دی، چې د دېوان په سریزه کې نوموړی کتاب حصن الایمان یاد کړی دی. د دېوان په سریزه کې دا خبره هم په پوره دلایلو سره ذکر شوې چې (د معاذالدین ژوند تر (۱۱۷۷هـ) پورې د باور وړ دی او نوموړی سرای اکوړي ته نږدې د جي ټي روډ د پاسه په شیدو کلي کې اوسېده او همالته یې مزار هم دی (۲۴: ۲۴م).

د معاذالدین ختک د پېژندنې په باب په همدې پورته کرښو بسنه کوو او د موضوع مطابق نور مخ په وړاندې ځو او د دېوان له سپړنې سره یې په شاعري، شعري کالبونو، دېوان پېژندنه او د اشعارو په منځپانګه رڼا اچوو.

د معاذالدین ختک شاعري

معاذالدین ختک چې د ډېر علم او پوهې څښتن و او په دیني، فقهي، تصوفي او نورو برخو کې له ډېرې پوهې څخه برخمن و. هره موضوع او هر اړخ یې څېړلی او له دېوان پرته یې نور اثار هم لیکلي دي. په دېوان کې د اشعارو د غزلو برخه درنه ده او په دېوان کې رباعیات هم شته.

په اشعارو کې تصوف، اخلاق، وحدانیت، مجازي عشق، حقیقي عشق، اخلاقیات او اجتماعي مسایل څېړلي دي. په اشعارو یې د فارسي او عربي تاثیرات شته، په ځینو شعرونو او کلیمو پوهېدل یې ډېر غور او پوهې ته اړتیا لري. د اشعارو په څپو کې کمی او زیاتی تر سترګو کېږي. د شعري کیفیت په لحاظ یې د منځنۍ ګټګورۍ شاعر ګڼلی شو. په اشعارو کې د ختک، معاذالدین او معاذالدین ختک خطاب ځانته کړی دی.

عاشقي یې بېخي لوړه پاللې او په دې باب یې بېخي خوندور غزلونه ویلي چې د یو غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

د همـــه ښـــادیو سر عاشـــقي مینـــه
کـا ګـدای بادشـاه قیصرـ عاشـقي مینـه
ګـدایان یـې بـې نیـاز لـه تختـو تـاج شي
ور عطـا کـا لـوی کشـور عاشـقي مینـه
چې سایه یې په چا وي بادشاه د وخت وي

همايـــي لـــري شـــهپر عاشـــقي مينـــه

(۲۴: ۱۲۰م).

د نورو ګڼو موضوعاتو تر څنګ يې يوه خبره چې له اشعارو څخه په ډاګه ښکاري هغه د رقيب غندل دي او چې هر چېرته يې په غزل کې رقيب ياد کړی؛ نو هغه يې زيات غندلی دی.

په لاندې غزل کې رقيب غندي او ښېرې ورته کوي:

لکه زه دې خوار کړم خوار اوسې رقيبه

خوار خسته او دل افګـار اوسـې رقيبـه

چې فـايق دې تـر همـه واړه اشرار کـړم

پـه عـذاب د کـل اشرار اوسـې رقيبـه

دا زما وری هـم سـتا پـه تنـدي بـار شـه

په محنت کې د لـوی بـار اوسـې رقيبـه

د اشنا ديدن چـې بـه وي پـه دوه کونـه

نـا لايـق يـې د ديـدار اوسـې رقيبـه

همداسې نور ګڼ موضوعات هم په شاعري کې رانغاړلي او په دېوان کې يې راغلي دي چې موږ دلته په همدې پورته کرښو بسنه کوو او وروسته نورې خبرې د معاذالدين دېوان په هکله کوو.

د معاذ الدين ختک د دېوان ځانګړنې

د معاذ الدين ختک دېوان چې سريزه، کتنه او وييپانګه يې ميا وکيل شاه فقير خېل کړي، د دانش خپرندويه ټولنې له لوري په (۱۳۹۲هـ) کال چاپ شوی دی. په ياد دېوان د مياوکيل شاه فقيرخېل له خوا يوه جامع او څېړنيزه سريزه ليکل شوې چې د معاذالدين له پېژندنې نيولې د دېوان تر پيدايښته، شاعري، خاندان او نورو خواوو په باب يو جامع بحث لري او په دې اړه ګڼې خبرې رانغاړي.

دېوان چې لومړی برخه يې غزلې دي د کتاب ډېره برخه همدې غزلو نيولې ده، په غزلو پسې رباعيات راغلي او له رباعياتو وروسته يې يوه قصيده چې ژباړه ده ذکر شوې او له هغې وروسته يې وييپانګه راغلې او دېوان پای ته رسېدلی دی.

د معاذالدين ختک د دېوان شعري فورمونه په لاندې ډول دي:

غزل

د معاذالدین د دېوان تر ټولو لویه برخه غزلې دي او غزلې د څپو او بیتونو د شمېر له مخې مختلفې دي چې په دېوان کې راغلی یو غزل یې په لاندې ډول دی:

پـه درپـا دې فلـک خـوار تـر اسـیا
نمر سپوږمۍ دې وښایست وته کیـا
رقیبان دې مخ ته ګوري تعجـب دي
ښـاپېرک د نمـر لـه مـخ نـه کـا حیـا
تجـلي د کـوه طـور پـه لمبـه وسـوه
حوک په ځان وکا دې اور ته ور تکیا
تـه زمـا پـه دا دروغـو قهـر مـه کـړه
په دربار دې ډېر دروغ کا ډېر رښتیا

(۲۴: ۱۸م).

رباعي

په دېوان کې له غزلو وروسته راغلی شعري فورم رباعیات دي چې وایي:

بهتر ســړي دي په ښه اداب
چـــې بدي نه کا بې له ثواب
په دا خبرو هر څوک پوهېږي
په بد کولـــو دي کم له دواب

(۲۴: ۱۴۷م).

قصیده

په دېوان کې یوه قصیده راغلې چې هغه هم د محمد نجم الدین عمر النسفي د عربي قصیدې په پښتو نظم ترجمه ده لکه:

پــه اغــاز د امــالي کــړم دا مقــال
لــه توحیــده د کــریم ذوالجــلال
خداوند د کل عالم مولی قدیم دی
هم موصوف دی په صفاتو د کـمال

دی زنـده او مـدبر د هریـو کـار دی
هم دې حق او مقدر دی ذوالجلال
اراده خیـر و شر کانـدې بـې شـکه
دی هیڅکله راضي نه دی په محال
(۲۴: ۱٦٥م).

د معاذالدین ختک د دیوان منځپانګه

معاذالدین ختک چې په دیوان کې یې د منځپانګې له اړخه ګڼ موضوعات راغلي چې دلته به یې موږ د ځینو یادونه وکړو:

حمد: د دیوان شروع یې په حمد او دعا سره کړې چې لاندې یې بېلګه راوړل شوي:

ســتا ثنــا مــې پــه پښــتو کــړه ابتــدا
ســـتا ثنـــا د خاصـــو عـــامو ابتـــدا
هــدایت لــه تــا نــه غــواړم یــا اللــه
لــک الحمــد هــم پــه دا مــې اقتــدا
د توفیق زنجیر مې طوق د خپل ګرېوان کړو
رحمــت پــه ســیند مــې ډوب کــړه احــدا
چــې مــې عجــز ستا د در وي اختیــار کــړی
د خـودبین پـه حـق کـې ښـکوم تبـت یـدا
(۲۴: ۱م).

مجازي عشق

ســتا د سرو لبــو د اب پــه امیــد هســت یــم
ګڼــه شــب و روز پــه تنــده کــې نشــت یــم
بـــیماري مـــې د امیـــد کـــا لـــه زړه لـــرې
ګڼــه زه د غلــیم تیــغ و تــه بــې دســت یــم
پـــه معنـــا یـــم د غلـــیم د ســـترګو غشـــی
ســتا د ورځـو لـه لینـدو چـې زه پیوسـت یـم

ستا لـه لاسـه کـه يـو غـر پـه مـا نړېـږي
خاک ژوندون کړو زما خدای که تر شکست يم
(۲۴: ۷۰م).

د رقيب په باب

د ادب طمـع چـې کـړمم لـه بـې ادبـه
پـه دا کـار يـم ځکـه شـمار لـه بـې ادبـه
له غليمه چې څوک طمـع د نېکـۍ کـا
د بـدۍ زهـر بـه څښـې لـه دې سـببه
لـه رقيبـه بـه څـه طمعـه د نېکـۍ کـړم
چـــې تنـــه يـــې ده لـــه بـــدو مرکبـــه
لـه رقيبـه پـه امـان معاذالـدين کـړه
له خپل يار سره يـې وصـل کـړه ای ربـه
(۲۴: ۸۸م).

حقيقي عشق

مشرـــف پـــه شرافـــت اوســـې حبيبـــه
ناست په تحت د لوی عـزت اوسـې حبيبـه
چې مطلب دې خلاصول د خپل عاشق دي
کاميـــاب د شـــفاعت اوســـې حبيبـــه
چې څښتن کـړې تـه بادشـاه د دواړو کونـو
اوس يـې تـل پـه عنايـت اوسـې حبيبـه
معـاذ الـدين چـې دا دعـا کـړه سـتا لپـاره
تـــل د ده پـــه محبـــت اوســـې حبيبـــه
(۲۴: ۹۱م).

د دنيا په باب وايي: د دنيا مينه نه غواړي او د دنيا مينه کوونکي په غفلت کې لوېدلي ګڼي، لکه چې وايي:

د دنيـا مينـه پـه زړه انبـار انبـار شـوه
څرنګه هېر شوې پـه غفلـت خـوړه حياتـه
د عالم سترګې ړندې غفلت شـهوت کـړي

اعتبـــار نـــه کـــا د نـــورو لـــه ظلماتـــه

چې نه غـم د دې دنيـا خلـک تـه غـم شـه

خلکـو هېـر کـړې د عقبـا غمـه ميراتـه

خفتـه نـه اوري نصـحت د چـا پـه غـوږو

غافلان په خـوب اوده غـوږ نـه ږدي چاتـه

(۲۴: ۱۰۸م).

ادب او نېک خوی ستايي او په اړه يې داسې وايي:

څـوک بـه څـه سـتايي ادب

لـه هرچـا ښـه ښـايي ادب

دی ښـــه عقـــل و بصـــيرت

ښـــه مـــرات نيمايـــي ادب

کـه کـافر کـه مسـلمان دی

واړه ښـــــه وايـــــي ادب

د محبوب د ښه مجلـس نـه

ښـــه طريـــق نيمايـــي ادب

(۲۴: ۳۵م).

بېلتون: له بېلتونه سر ټکوي او وايي:

هجر دی اور دی زه يـم پـه نـار پـروت

چـــې يـــم لتانـــه جـــدا وېـــزار پـــروت

انـــدوه بـــه برخـــه د هغـــه کـــس دی

چې نا محروم وي ستا له ديدار پروت

کتلـــی گـــرځم د غمـــه پـــه دار پـــروت

پـه ارزو گـرځم د خپـل دلـدار پـروت

(۲۴: ۳٦م).

ستاينه: معاذاالدين ختک د يار په ستاينه کې وايي:

زما مخ د يار له مخ په حسن واب دی

نور د ماه وايي له عکسه د افتاب دی

ماته نن د یار د وروځو مراب بس دی

که ذاهد نیولی تل مخ په محراب دی

(۲۴: ۱۳۴م).

د معاذالدین اشعار د منځپانګې له مخې نورې هم ډېرې خواوې په بر کې نیسي، خو موږ یې په همدې بېلګو بسنه کوو او د معاذالدین د دېوان څېړنه په همدې ځای پای ته رسوو، چې له همدې سره زموږ د موضوع (د منځنۍ دورې د دېوانونو څېړنه) کې د خوشحال خان ختک د ادبي مکتب د لارویانو د دېوانونو څېړنه پای ته رسېږي. په دې پسې به د بل ادبي مکتب د دېوانونو څېړنه او سپړنه کوو.

پینځمه برخه

دا چې زموږ موضوع د منځنۍ دورې د دیوانونو څېړنه ده، دا څېړنه په تاریخي لحاظ همداسې د منځنۍ دورې له شروع څخه پیل او تر اخره به رسېږي.

د منځنۍ دورې لومړي پړاو دېوان لرونکو شاعرانو او د دېوانونو یادونه په خپل ځای کې وشوه، همدارنګه د منځنۍ دورې دویم پړاو چې له خوشحال بابا پیل کېږي، د خان بابا او لارویانو پېژندنې او دېوانونو سپړنه پورته وشوه؛ نو په دې برخه کې د رحمان بابا او د ده د لارویانو د دېوانونو سپړنه کوو، همدارنګه به د دېوان لرونکو شاعرانو پېژندنې هم راوړو او د شعرونو ځانګړنې او بېلګې به یې هم په خپل ځای کې را اخلو.

د رحمان بابا لنډه پېژندنه

زموږ موضوع د منځنۍ دورې د دېوانونو څېړنه ده، تر دې وړاندې مو د خوشحال خان ختک د ادبي مکتب پر دېوانونو بحث وکړ، د یاد ادبي مکتب د دېوان لرونکو شاعرانو لنډه پېژندنه مو وکړه او د نوموړو پر دېوانونو مو په هر اړخیز ډول بحث وکړ. اوس به په منځنۍ دوره کې د عبدالرحمن بابا د ادبي مکتب د دېوان لرونکو شاعرانو لنډه پېژندنه وکړو او دېوانونه به یې د دې څېړنې د مېتود مطابق وسپړو، چې په دې لړ کې تر ټولو لومړی د دغې ادبي مکتب بنسټګر عبدالرحمن بابا په لنډ ډول پېژنو او له هغې وروسته یې پر دېوان، شاعرۍ او د دېوان په منځپانګه هر اړخیز بحث کوو.

(عبدالرحمن مومند د پټې خزانې د روایت له مخې د عبدالستار زوی و، په (۱۰۴۲هـ ق) کال د پېښور د سیمو په بهادر کلي کې زېږېدلی دی؛ عبدالرحمن بابا په مومندو کې ابراهیم خېل او په ابراهیم خېلو کې دویزی و.

د راورټي په قول رحمان بابا له خپل کلي څخه هزار خانې ته راغی او دلته اوسېده. د پټې خزانې په حواله چې عبدالرحمن بابا له ملا محمد یوسف یوسفزي څخه درس وایه او د زده کړو لپاره یې کوهاټ او هندوستان ته سفرونه کړي و. رحمان بابا د خپل وخت رواجي علوم لوستي وو، په فارسي او عربي ادب کې هم مطالعه درلوده او د تصوف له رموزو هم اګاه و. پښتو شاعرانو د لسان الغیب، سلطان الشعراء او واف(بلبل) لقبونه ورکړي دي. د پښتو دغه عظیم انسان دوست شاعر په (۱۱۲۸هـ ق) کال له دنیا څخه سترګې پټې کړې او د پېښور د هزار خانۍ په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.) (پښتو ادبیاتو تاریخ، هېواد مل:۱۷۴ـ۱۷۵)

عبدالرحمن بابا علمي او ادبي مطالعه درلوده، دیني مسایل یې په شعرونو کې ځای په ځای بیان کړي دي، چې په دیني علومو کې د ښو معلوماتو څرګندونه کوي او هم د ده په شعرونو کې د ارزاني، میرزا، دولت او خوشحال یادونه ښیي، چې ده د دې شاعرانو دېوانونه لوستي وو او د فارسي اشعارو قوي مطالعه یې درلوده

او ځای ځای یې د دوی له ویناوو څخه لفظي او معنوي اخیستنې کړې او د حکیم سنایي، سعدي شېرازي او صاحب تبرېزي د اشعارو مطالعه یې درلوده.

پروفیسر طاهر خان د رحمان بابا په اړه داسې وایي: د اردو ژبې له ټولو څخه ذهین شاعر میرزا غالب دی، له ټولو نه زیات لوستی او باخبر شاعر یې علامه اقبال دی او د ژبې د بیان ماهر شاعر یې میرانس دی، خو د رحمان بابا شاعري د دې درې واړو شاعرانو د اشعارو خصوصیات او کمالا لري. رحمان بابا دومره استاد شاعر دی چې ځینې شعري صنعتونه یې داسې هم استعمال کړي دي چې د شرق په شاعري کې یې مثال نشته. (پښتو نظم تاریخ، سید اصغر هاشمي:١٥٦-١٥٧)

د رحمان بابا د ژوند او اشعارو په باب نور هم ګڼو پوهانو خبرې کړي او په دېوان کې هم په دې هکله خبرې شته، خو موږ دلته د رحمان بابا د پېژندنې په هکله په همدې څو کرښو بسنه کوو او نور د خپلې موضوع مطابق بحث ته دوام ورکوو.

د رحمان بابا شاعري

رحمان بابا چې د خپل ادبي مکتب سرلاری او بنسټګر دی، ګڼو نورو شاعرانو او لیکوالو یې ادبي لار تعقیب او د نوموړي پیروي یې کړې ده. د عبدالرحمن بابا شاعري چې ډېره برخه یې د غزل په فورم کې ده. د نوموړي د شاعري تر ټولو ښې ځانګړنې رواني، ساده والی، نازکخیالي او تاثیر ګذاري ده، همدغه وجه ده چې د لویو، وړو او لوستو تر څنګ یې د نالوستو په اذهانو کې هم ځای نیولی دی.

د نوموړي د شاعري په هکله هم ګڼو لیکوالو، شاعرانو او پوهانو نظرونه ورکړي او په هکله یې ګڼ اثار او لیکنې کړې دي. دلته موږ د نوموړي تاریخي او فرهنګي ژوند ته چې تر ډېره یې د شاعري اړخ په بر کې نیسي وېشلی دی.

(لومړی پړاو: لکه څنګه مو چې مخکې یادونه وکړه رحمان بابا په (١٠٤٢ هـ ق) کې زېږېدلی، په (٧) کلنۍ کې زده کړې پیل کړې؛ نو تر شل کلنۍ پورې د لومړي پړاو شاعري ده. د دغې پړاو شاعري یې دیني، اخلاقي، شرعي او ملایي شاعري ده او وعظ او نصحت یې کړی دی.) (د پښتو نظم تاریخ، هاشمي:١٥٨)

په دې باب یې په دېوان کې ګڼې نمونې راغلي لکه چې یو ځای وایي:

ښه ده ښه ده دا دنیا

چې توښه ده د عقبی

مذمت د دنیا مه کړه

واوره پند کړه دا وینا

د دنیا په بازار کېږي

د هغه جهـــان سودا

(دېوان عبدارحمن:۱۵)

پورته بېلګه يې موږ ته د پند او نصحت درس راکوي او د دنيا په باب موږ ته د اګاهي په ډول ويل کوي، چې يادې بېلګې او د غه ډول اشعار د نوموړي د لومړي پړاو اشعار ګڼلی شو.

(دويم پړاو: د ملايي علم د رحمان بابا سترګې رڼې کړې، د ذاتي هستيو د پيدايښت په فکر کې شو، مجازي مينه يې په شاعري ښکاره شوه، چې د حقيقي مينې بام ته پرې وخته. په دې پړاو کې د ده عمر (۲۵ـ۳۰) کلونو و، په دې پړاو کې يې په شعر کې د فکر ژور والی ډېر شو او د هنريت او شعريت خوا يې هم درلوده.) (پښتو نظم تاريخ، هاشمي: ۱۵۸)

لاندې څو بيتونه يې د ياد پړاو د شاعري ښه ښودنه کولی شي، لکه چې په خپل د ېوان کې وايي:

که مئين يې په خپل يار باندې رښـتيا
اواره کـــړه اول ديـــن، پســـې دنيـــا
دل و دين په نيم نګاه له سړي يـوسي
نــه يــې وېــره لــه چــا کېــږي نــه حيــا
د جنت تر حورو تېر شه که يار غواړې
خدای دې نقده د چا نه کانـدي نيسـا

(کليات عبدارحمن بابا:۲۱ـ۲۲)

(درېيم پړاو: د دې پړاو شاعري يې په فکري لحاظ پياوړې شاعري ده. بابا په دې پړاو کې تصوف او عرفان ته داخل شو، دنيا يې د زړه په سترګو مطالعه کړه، د خلکو ستونزې يې حس کړی، بابا ملنګ شو، قلندر شو او درويشي يې اختيار کړه.) (پښتو نظم تاريخ، هاشمي:۱۵۸ـ۱۵۹)

چې په دې باب په خپل دېوان کې داسې وايي:

پـــه بزرګـــی د هغـــه پـــاک پروردګـــار
موقـوف مـه شـه پـه سـړي د سـړي کـار
په سړي چې د سړي غرض موقـوف شي
نــور بــې ابــه بــې حرمتــه شي روزګــار
که د پير په خپل مريد باندې غـرض وي
هـېڅ يـې نـه وي پـه مريـد بانـدې وقـار

(کليات عبدالرحمن:۹۲)

د رحمان بابا ټوله شاعري د هنريت مالګه لري او قوي شاعري ده، خو د وروستي (دريم) پړاو شاعري يې د مفکورې په لحاظ قوي شاعري ده. د رحمان بابا په شاعري ډېرې خبرې کېدلی شي، خو دلته د موضوع مطابق په همدې پورته کرښو بسنه کوو او د حمان بابا د دېوان په باب لا هم خپل بحث پسې غځوو.

د رحمان بابا د دېوان ځانګړنې

د عبدالرحمن بابا په باب ډېرې ليکوالو ليکنې کړي او اثار يې چاپ کړي دي، چې د ټولو يادونه دلته موږ له موضوع څخه ليرې کوي. دلته به موږ يوازې د رحمان بابا د دېوان په هکله خبرې وکړو.(د بابا په دېوان لومړنۍ سريزه پروفيسرعبدالمجيد ليکلې ده، دې لومړنۍ هغه ليکوال دی چې دغه امتياز يې د خوشحال خان په دېوان کې هم درلود.

دې په لومړي ځل د رحمان بابا دېوان له سريزې سره چاپ کړی دی. له ده وروسته دويم شخص د پېښور د اکاډمۍ بنسټګر مولانا عبدالقادر او دريم شخص عبدالروف بېنوا و، چې د بابا دېوان يې د تحقيقي سريزې سره چاپ ته اماده کړ.) (پښتو نظم تاريخ، هاشمي:۱۵۷) په همدې ډول دغه دېوان چې اوس زموږ په لاسونو کې دی او څېړنه پرې کوو د رحمان بابا کليات په نوم د دوست محمد کامل مومند او قلندر مومند په ترتيب، تحقيق او سمونه په (۲۰۱۸) کال د يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور له خوا چاپ شوی دی. هېره دې نه وي چې د عبدالرحمن بابا د ژوند او شاعري په هکله نور هم ګڼ اثار ليکل شوي، سمينارونه يې په هکله وړاندې شوي او همداسې نور.

د عبدالرحمن بابا د دېوان شعري فورمونه

د رحمان بابا په دېوان کې لاندې شعري فورمونه کاريدلي دي:

غزل

عبدالرحمن بابا چې په دېوان کې د غزلو برخه ډېره زياته ده او په عامه معنا نوموړی يو غزل ګو شاعر دی، د غزلو ژبه يې ساده، روانه او سپېڅلې ده، چې په ځينو غزلو کې د فارسي او عربي ژبې ځينې توري هم راغلي دي. د رحمان بابا په غزلو ډېرې خبرې کېدلی شي، خو موږ يې دلته د کلام څوبيتونه راوړو او د کلام په منځپانګه يې په تفصيلي ډول بحث کوو.

زه له دې جهانه تلونی په شتاب يم
لکه پاڼه د خزان پښه رکاب يم
که هزار ابادانی کړم په جهان کې

غرض دا چې نهایت خانه خراب یم

که مې اصل د حیاتو له اوبو دی

بیا خو دا چې د اوبو په سر حباب یم

دا جهان قصاب خانه کړ خدای و ماته

پای بسته ولا په غولي د قصاب یم

(کلیات عبدالرحمن:۱۴۲)

مخمس

د رحمان بابا په دېوان کې یو مخمس راغلی چې د غزلو په پای کې ذکر شوی، څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

هغه یار چې ښایسته دی تر افتابه

مخ به کله را څرګند کړه له نقابه

بېلتانه په زړه زهیر کړم بې حسابه

یو سبب وکړې مسبب الاسبابه

چې زما ملاقات وشي له احبابه

(کلیات رحمان بابا:۳۸۱)

مسبع

په دېوان کې یو مسبع هم راغلی دی چې له دې څخه وروسته بیا ضمیې راغلي دي. د اوییز څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

ستا جفا د حد په هور ته شوه صنمه

تل مې اوښې موج وهي د زړه له یمه

په کې ډوب شومه له سره تر قدمه

د زړه زخم مې محروم دس له مرهمه

څو به پټه واقعه اوسي پنهمه

هسې ډوب په فکر تللی یم له غمه

نه پوهېږم چې په غر یم که په سمه

(کلیات عبدالرحمن:۳۸۳-۳۸۴)

د رحمان بابا د دېوان منځپانګه

عبدالرحمن بابا چې پورته يې د اشعارو پر شکلي جوړښت خبرې وشوې او هغه فورمونه چې د نوموړي په دېوان کې راغلي ورڅخه مو يادونه وکړه، اوس د نوموړي د کليات په منځپانګيز يا محتوايي جوړښت باندې خبرې کوو او هغه څه چې د ده په دېوان کې د محتوا له اړه راغلي سپړو.

د عبدارحمن بابا په دېوان کې حمد، نعت، ستاينې، عشقي مسايل، پند، نصحت او ډېرې نور مسايل راغلي چې دلته به يې له ډېرو څخه يادونه وکړو.

حمد: د رحمان بابا په دېوان کې راغلی لومړی غزل يې د څښتن تعالی په حمد او ثناء کې ويلی دی، چې په ياد د الله ج د قدرتونو يادونه کوي او موږ د خالق تعالی حقيقي بندګۍ ته وربلي، لکه چې وايي:

ګـــوره هســـــې کردګـــــار دی رب زمـــــا
چـــې صـــاحب د کـــل اختيـــار دی رب زمـــا
همګـــي بزرګـــواران چـــې څـــوک يـــې وايـــي
تـــــر همـــــه و بزرګـــــوار دی رب زمـــــا
نه يې هېڅ حاجت په چا باندې موقوف دی
نـــه د هيچـــا منـــت بـــار دی رب زمـــا
له نېستۍ يې دد هستۍ صورت پيدا که
هســـــې رنـــــګ پروردګـــــار دی رب زمـــــا

(۳۱: ۱م).

نعت: د رحمان بابا په دېوان کې تر حمد وروسته د رسول الله ص ستاينه او صفت راغلی چې وايي:

کـــه صـــورت د محمـــد نـــه وی پيـــدا
پيـــدا کـــړې بـــه خـــدای نـــه وه دا دنيـــا
کل جهان د محمد په مخ پيـدا شـه
محمـــــد دی د تمـــــام جهـــــان ابـــــا
نبـوت پـه محمـد بانـدې تمـام شـه
نشـــته پـــس لـــه محمـــده انبيـــاء
نـــور هالـــه د محمـــد و پيـــدا شـــوی
چې نه عرش و، نه کرسي وه نه سما

(۲۴: ۲م).

د عالمانو ستاینه: عبدالرحمن بابا د علماوو ستاینه کوي، د انبیاوو وارثین یې ګڼي او دوی د تمام جهان پېشوا ګڼي، لکه چې وایي:

عالمـــــان دي روښـــــنایي د دې دنیـــــا
علـــمان دي د تمـــام جهـــان پېشـــوا
که څوک لار غواړي و خدای او و رسول تـه
عالمـــــــان دي د دې لارې رهـــــــنما
کېمیـا ګـر کـه د کېمیـا پـه طلـب ګرځـي
همـــــدمي د عالمـــــانو ده کېمیـــــا
پـــه مجلـــس د عالمـــانو بـــه سره زر شي
کـه څـوک کـاڼي وي کـه لـوټې د صـحرا

(۲۴: ۵م).

همدردي: رحمان بابا چې زیاته شاعري یې پند او نصحت دی د همدردۍ په باب داسې لارښونه کوي:

کـه تمـام جهـان پـه خپلـه ګېـډه وخـورې
یـاد بـه نـه شـې پـه درود او پـه دعـا
کـه یـوه دانـه د وږي پـه لاس ورکـړې
همدغـه بـه دې توښـه شي د عقبـی
کـه یـو څـاڅکی اوبـه تـږي لـره ورکـړې
د دوزخ او سـتا تـر میـان بـه شي دریـا
که یو ځله سر د خدای په لورې ټیټ کړې
پـه قیامـت بـه سر بلنـد شـې تـر هـر چـا

(۲۴: ۸م).

د دنیا په باب: دا دنیا فاني بولي او هغه څوک یې چې د خپلولو دعوی کوي هغه باطل ګڼي او په دنیا مئین بېهوده بولي، لکه چې وایي:

هـېڅ ثابتـه نـه کـړه چـا د دې دنیـا وفـا
واړه مینـــې کانـــدي بېهـــوده پـــه دې دنیـــا
هـر څـوک چـې دعـوا پـه دنیـا کـا د خپلویـه
واړه باطـــل وایـــي دا دنیـــا نـــه ده د هیچـــا

دا فلـک کـلال دی سـازه ول او مـاتول کـا
ډېـر مـا او تـا غونـدې پيـدا کـړه هـم فنـا
هر سنگ و کلوخ چې ځرگنـدېږي د دې دهـر
واړه ککـرۍ دي ځـوک د شـاه ځـوک د گـدا
(۲۴: ۱۱م).

مجازي عشق: په دېوان کې د مجازي عشق نمونې هم شته او د همدې مجازي عشق په واسطه بيا تر حقيقي عشق پورې رسېږي. د مجازي عشق نمونه يې په لاندې ډول ده:

دل و ديـن مـې هغـې ترکـې کـړ رهـا
لا يـــې نـــه حســـابوي د ځـــان بهـــا
د ښايست صفت يې ځو کوم حيران يم
په هېڅ رنـگ يـې مونـدی نـه شي انتهـا
د صـورت لـه عيبـه هسـې پـاکيزه ده
لکـه ذات د وېښـتو نشـته دی پـه هـا
که يې مخ په زلفو پټ دی باک يې نشته
تـل پـه گـنج بانـدې پراتـه وي اژدهـا
(۲۴: ۲۰م).

تصوف: د عبدالرحمنن بابا په دېوان کې د وحدت الوجود او وحدت الشهود دواړو بېلگې شته لکه د وحدت الوجود په باب وايي:

په دويۍ کې به ور نه شي تر توحيده
که پېشوا کړې مهتر حضر مهتر الياس
(۲۴: ۱۰۳م).

چې دا هسې بزرگ مېله و کور ته بيا يـې
اول غـولی پـاکيزه کـړه لـه خاشـاکه
په دويۍ کـې بـه ور نـه شـې تـر توحيـده
ځو ضـمير دې خـالي نـه شي لـه اشراکـه
دا همـه واړه حجـاب دی چـې ليـده شي

نــور دې حســن بــالاتر دی لــه افلاکــه

(۲۴: ۱۹۴م).

د خپل شعر په باب: نوموړی د خپل شعر ستاینه کوي او وايي که د رحمان شعر چا واورېده نو بیا به د خوشحال شعر ته غوږ نه نیسي، لکه چې وايي:

ســړی بویــه چــې پــه نېــک عمــل نــازېږي
نه چې ناز کا د دنیا په ملک و مال څوک
د دنیــا چــارې فــاني دي مــرد هغــه دی
چــې نظــر کــا پــه حــرام او پــه حــلال څــوک
هــر چــه کــر کــا د وربشــو غــنم غــواړي
لــه خــاطره دې بېــرن کــا دغــه خیــال څــوک
که یــې شــعر د رحــمان مومنــد تــر غــوږ شي
غوږ به نه باسي په شعر د خوشحال څوک

(۲۴: ۱۲۰م).

ویرنه: رحمان بابا د جمال خان او د هغه د متعلقینو په مرګ لاندې ساندې ویلي چې څو بیتونه یې په دې ډول دي:

ډېــر یــاران وو د ګــل خــان د جــمال خــان
پــه کــار نــه شــه یــو پــه وقــت د زارســتان
د همـــه واړه یـــارانو مـــخ دې تـــور شي
کــه بــه څــوک وبلــه یــاري کــا پــه دا شــان
چې یو یار په سیوري ناست وي بل په اور کې
و هغــو تــه بــه څــوک څــه وایــي یــاران
هــېڅ تعریــف بــه یــې پــه ژبــه ونــه شي
صــد رحمــت شــه پــه یاریــه د ګــل خــان

(۲۴: ۱۵۹م).

ننګ ناموس: د ننګ او ناموس، غیرت او عزت چې د پښتونولۍ روح او جوهر دی په باب یې وايي:

زغــره وا غونــده مــلا وتــړه پــه جنــګ
دغـــه پســـه معرکـــه کـــوه ړ ننـــګ
و بــې ننګــو تــه د ننــګ خــبرې مــه کــړه

یـا ځـان وګڼـه پـه خپلـو وینـو رنـګ
ننګیـالي چـې ځـل مـخ پـه هغـه لـور کـا
نـور هـېڅ نـه وینـي کـوهي وي کـه ګړنـګ
هېڅ له ځانه له ځانه له جهانه خبر نـه وي
چـې څـراغ پـه نظـر کښـیوځي د پتنـګ
(۲۴: ۱۲۲م).

د رقیب په باب: رحمان بابا دا نه چې ګوندې له رقیبه وېرېږي، خو د خپل یار لپاره یې په باب داسې وایي:

د رقیـــب خـــبرې وړم د یـــار د پـــاره
دعا ګوی هم د نېک خواه هم د بد خوه یم
لکـه بـار د ونـې پـوخ شي ځنـې رېـژي
زه هـم هسـې بـار تړلـی سربـراه یـم
اوس مې ځای په دا جهان کې پاتې نه شـه
خوځېـدلی تـر چهـل و تـر پنجـاه یـم
د رقیـب عـلاج اسـان دی بـلا دا شـوه
زه رحـمان لـه خپلـه یـاره ناوېسـاه یـم
(۲۴: ۱۴۹م).

د دنیا قدر: د وخت ارزښت ته مو متوجه کوي او وایي هغه څه ته چې را لېږل شوي یو، هغه د الله ج بندګي ده باید هغه وکړو او خپل حقیقي ژوند جوړ کړو؛ ځکه دا دنیا د امتحان دنیا ده او ترې ځو، نو باید د وخت قدر وکړو:

دوبـــاره دې راتلـــه نشـــته پـــه دنیـــا
نـن دې وار دی کـه دروغ کـړې کـه رښـتیا
هـره چـار چ تـر وقـت تېـره شي عنقـا شي
عنقـــا نـــه دی پـــه دام نښـــتی د هیچـــا
تـر ورخ تېـرې اوبـه بېرتـه نـه جـار ووځـي
نـه جـار ووځـي تېـر سـاعت پـه بېرتـه بیـا
تېـر سـاعت پـه مثـال مـړی د لحـد دی

مــو چــا نــه دی ژونــدی کــړی پــه ژړا

(۲۴: ۵م).

اخلاص: د نورو ګڼو خواوو او اړخونو تر څنګ یې د اخلاص په باب هم په دېوان کې راغلي چې وایي:

څه عب بلــند مقام دی د اخلاص

چې جهان واړه غلام دی د اخلاص

(۲۴: ۱۰٦م).

پورته مو د عبدالرحمن بابا په دېوان کې د منځپانګې له اړخه د ځینو مسایلو یادونه وکړه او بېلګې مو هم ذکر کړې، خو د دې تر څنګ د رحمن بابا په دېوان کې نور مسایل هم شته، خو موږ دلته په همدې څو بېلګو بسنه کوو او د رحمان بابا بحث همدلته پای ته رسوو. د موضوع مطابق به د رحمان بابا د ادبي مکتب نور دېوان لرونکي شاعران په ده پسې په ترتیب سره په لنډ ډول راوړو او په دېوان به یې بحث وکړو.

د معزالله خان مومند پېژندنه

معزالله مومند د رحمان بابا د ادبي مکتب لاروی دی، چې د باړې د محب خېلو مومند و، د ارباب عبد الله خان زوی او ارباب مستجاب خان لمسی دی. معزالله خان یو درویش طبعه شاعر، دانشمند، عالم او فاضل شخص و، خپله ټوله توجه یې د خپل ادبي فن په ذریعه د خلکو اخلاقي خدمت ته اړولې وه او په ژوند کې د همدې مقصد غوښتونکی و.

معزالله خان مومند دوه زامن درلودل چې یو یې نعیم خان او بل یې فیض الله خان نومېده. د نوموړي له اشعارو څخه یې ژوند ۱۳ د ذوالقعدې د (۱۱۸۲هـ) پورې یقیني دی او نور یې د مرګ په اړه کره شواهد نشته، د معزالله خان مومند قبر د هغه په خپل کلي کوټله محسن خان کې د کلي په منځ کې تېر شوي سړک په غاړه اوس هم موجود دی. هېره دې نه وي چې معزالله خان مومند دوه ورونه درلودل چې یوې یې حبیب الله خان او بل یې عزیزالله خان و چې حبیب الله خان هم لکه د خپل پلار ارباب و(٦٧: هـ،ز).

د مغزالله خان مومند شاعري

ملک معزالله خان په پښتو ادب کې د خپل شعري فن په لرلو سره د ځانګړي مقام او ځای درلودونکی دی، نوموړی په فارسي او اردو ژبو کې هم ښه بر لاسی و او په فارسي او اردو شاعري کې خپل ځان د افغان په تخلص یادوي. پښتو شاعري کې له غزل سره سره په اشعارو کې مربع، مخمس، مسدس او معشر شته. په فارسي او اردو اشعارو کې هم له غزلو سره ځینې نور صنفونه شته. معزالله خان مومند د رحمان بابا د سبک پیرو او له اشعارو یې په ډاګه څرګندېږي چې نوموړی د رحمان بابا پیروي په خورا صداقت او رښتوني ډول کړې ده. د رحمان بابا د شعر په باب وایي:

که د شعر کرامــت له چانه غواړې

معزالله د رحمان شعر کرامت دی

(٦٧: ١٣٥م).

د معزالله خان اشعار هم لکه د رحمان بابا د سادګۍ او سلاست له اړخه خورا په زړه پورې او عام فهمه دي، په اشعارو کې عشقي، اخلاقي، تصوفي او اجتماعي موضوعات په ډېره پیمانه راغي او منعکس شوي دي او په خورا ډېرې لفظي ښکلا سره یې بیان کړي دي.

د معزالله خان په شاعري کې د موسیقیت یو ځانګړی رنګ او خوږلت له ورایه ځلېدونکی دی. د معزالله خان په شاعري کې خورا رنګین او په زړه پورې انځورونه په ډېر ښکلي او ساده ډول ځای پر ځای شوي او په خورا لطافت او خوند سره یې بیان کړي دي لکه چې وایي:

دلربا مې ده په شونډو شکرینه

په دوه سترګو جادوګره سحر سازه

فتنه جویه عشوه ګره جنګ امېزه

هم دلبره، دل ازاره، دل نوازه

په ابرو هلال صفته مو کمره

هم په وچولي تمامه چین طرازه

(٦٧: ١٠٤م).

د معزالله خان مومند د دېوان ځانګړنې

د معزالله خان مومند دېوان چې ترتیب یې همېش خلیل کړی، لومړی چاپ یې په (١٩٨٧م) کې ترسره شوی او تر دې وروسته بیا هم څو ځله چاپ شوی دی. د دانش خپرندویه ټولنې له لوري چاپ شوی دی. په دېوان کې لومړی برخه غزلې دي، په دې پسې متفرقات راغلي دي، چې مربع، مخمس، مسدس او نورپکې شامل دي.

له متفرقاتو وروسته یې فارسي کلام شروع شوی دی چې یاده برخه یې هم د غزلو په ګډو متفرقات هم لري او له دې برخې وروسته یې اردو کلام شروع کېږي، چې یاده برخه هم غزلې لري او هم متفرقات. چې په همدې سره د دېوان د اشعارو برخه پای ته رسېږي او د فرهنګ تر عنوان لاندې لغتونه معنا شوي او اثر پای ته رسېږي.

د معزالله خان مومند د دېوان شعري فورمونه

د معزالله خان مومند په دېوان کې لاندې شعري فورمونه لیدل کېږي:

غزل

معزالله خان مومند چې د دېوان لومړی برخه یې غزلې دي او یاده فورم کې په څو ژبو شاعري کړې ده، په غزلو کې ساده ګي، رواني، لفظي ښکلا او ساده والی هغه ځانګړنې دي چې د نوموړي شاعري ته یې ځانګړی رنګ ورکړی، چې په دېوان کې راغلي یوه غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

راته نه ګوري له کبره سم هرګز

نه پوهېږي لږ زما په غم هرګز

چې زما پرې سر لویي شی تر افلاکه

نه ږدي زما په سر قدم هرګز

هغه حال چې مې په زړه باندې تېرېږي

نــه يــې شي ښــکاره وايــه قلــم هرگــز

ته بـه څرنـگ سـم پـه لار د محبـت ځـې

چـې دې نـه شـه قـد لـه غمـه خـم هرگـز

(٦٧: ٥٠م).

مربع

په دېوان کې له غزلو وروسته د متفرقاتو برخه راغلې چې په یاده برخه کې لومړی شعري فورم مربع دی چې وایي:

لـه لېمـو مـې اوښـې ځينـه

ای مـــه رويـــه نازنينـــه

که مې سر ځي ستا په مينـه

وا بــه نــه وړم لــه دې کــاره

(٦٧: ١٤٦م).

مخمس

د معزالله خان په پښتو شاعري کې مخمس هم شته او په دېوان کې هم راغلي دي، بېلگه يې لاندې ده:

هر چې زړه د خدای په مينه مبتلا کا

د دنيــا لــه تعلقــه ځــان رهــا کــا

د خدای ذکر شپه و ورځ په هره سا کا

چــې ناســتی د فقــيری پــه بوريــا کــا

غلامــان يــې کمينــه شي بادشــاهان

(٦٧: ١٤٨م).

مسدس

په دېوان کې يو مسدس هم راغلی دی چې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

حيف په دا ژوندون شه چې له ياره يم مهجـور

هــر نفــس غــوڅېږم د هجــران پــه تېــره تــوره

ژاړم پټ په زړه کې په خوله خانـدم لـه ضروره

ســترگې مــې شــوې دواړه پــه ژړا ژړا بــې نــور

عقـل لـه مـا لاړ شـه لېـونی يـم بـې شـعوره

دا قيصـه زمـا ده پـه تمـام جهـان مشـهوره

(٦٧: ١٥٢م).

معشر

د مغزالله خان د دېوان پښتو شاعري په متفرقاتو کې بل راغلی شعري فورم معشر دی، چې له همدې سره يې د پښتو اشعارو برخه پای ته رسېږي او له دې وروسته يې د فارسي اشعارو برخه شروع کېږي، چې د معشر څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

کـه راکـوز شي مسـيحا

اوبـــه راکـــا د بقـــا

غوښـــې راکـــا د عنقـــا

سـم پـه صـدق و پـه صـفا

لاس کـه پورتـه پـه دعـا

شـپه و ورځ مـې کـه دوا

دعـا غـواړې لـه هـر چـا

څو کښل نه کړم لبان ستا

هسـې نـه دی رنـځ زمـا

چـې شِـفا يـې شي پـه دا

(٦٧: ١٥٤م).

له دې څخه وروسته يې د دېوان د فارسي اشعارو برخه شروع کېږي چې ياده برخه هم له غزلو سره سره متفرقات هم لري او له فارسي اشعارو څخه وروسته يې په دېوان کې د اردو اشعار راغلي دي، چې دا برخه هم د غزل په شمول ځينې نور فورمونه هم لري. موږ به دلته د معزالله خان له دېوان څخه د نوموړي د يوه فارسي او يوه اردو غزل څو څو بيتونه راوړو او په همدې به د نوموړي د دېوان د شعري فورمونو بحث پای ته ورسوو.

د فارسي غزل نمونه

د معزالله خان مومند په دېوان کې د راغلي فارسي غزل څو بيتونه په لاندې ډول دي:

بـرای قتـل مـن در پـرده داری تـا بکـی رو را

اگـر داری سرکيـنم بکـش کـج تيـغ ابـرو را

حنارا هم نشد هرگز خبر گر پاسبان بـودش
به هنگامی که می بوسیدم ان شاخ گل اورا
جز ان قـد قیامـت خیـز در چشـم نمـی ایـد
بلـی کـاری زسـنجیدن نباشـد بـه تـرازو را
بقیـد ان خـم گیسـو سـپردم دل پشـیمانم
که این سیپاره قران بدست افتـاده هنـدو را
(٦٧: ١٦٨م).

اردو غزل

په اردو برخه کې د راغلي یوه غزل څو بیتونه په لاندې ډول دي.

اج پیـــتم مـــیرا خـــماری هـــی
قتل هونی کی کس کی باری هی
سبزه حسن مـوی رکهـا خـط دام
دل هــرن وه پیــا شــکاری هــی
می جدا جل سوی یو نـه هوویگـا
جس مجهـ بـن تـو بیقـراری هـی
لال پنیـــه پیـــانی بانـــدها آج
یـه مـیری قتـل کـی تیـاری هـی
(٦٧: ٢٢٨م).

د معزالله خان مومند د دیوان منځپانګه

د معزالله خان مومند په دیوان کې د محتوا له اړخه ډېر موضوعات راغلي، موږ به یې دلته له مهمو او ډېرو ذکر شویو څخه یادونه وکړو.

حمد: حمد چې د څښتن تعالی ثناء او صفت ته وایي. د معزالله خان مومند په دیوان کې لومړی شعر د څښتن ثناء او صفت دی او د نورو ګڼو موضوعاتو تر څنګ یې دا برخه هم له پامه نه ده غورځولې او په شاعري کې یې ګڼې نمونې راغلي دي:

څـه صـانع د هرمضـمون دی رب زمـا
چـې وجـود یـې لـه عدمـه کـه پیـدا

له قطرې نه هسې ښکلی بشر جوړ کا
چې ادا یې د تعریف نه شي له چا
یو سړی چې په صورت د بل یو نه دی
لـــه جمیعـــو حکمتونـــو دی یـــو دا
و یـاری و تـه د چـا احتیـاج نـه کـا
په قدرت کې له هر چا دی بې پروا
(٦٧: ١م).

نعت: معزالله خان په خپل کلام کې د رسول الله ص ستاینه کړي او د دې مبارک په هکله وايي:

بـل لـه خدایـه پـه رایسـته محمـد ص دی
چـــــې دی سر دی د تمـــــامو انبیـــــاء
پـه ظـاهر کـې کـه اخـر دی پیـدا شـوی
پـــــه بـــــاطن کـــــې تـــــر ادم دی اولا
خدای ج تمام جهان د ده په روی پیدا که
عـرش کـرسي، لـوح و قلـم ارض و سـما
(٦٧: ٢م).

د دنیا په باب: معزالله خان د دنیا مینه عبث ګڼي او په دې لولۍ دنیا تکبر، غرور خطا ګڼي او موږ ته دا توصیه کوي چې باید د دې څو ورځو لپاره خپل ابدي ژوند خراب نه کړو چې وايي:

تکـــبر مـــه کـــړه پـــه زور او پـــه دنیـــا
پـه دولـت، پـه دنیـا مـه ځـه سر هـوا
لا پـه فکـر د نېسـتۍ نـه یـې، مغـرور یـې
کـــه د طـــوق د غـــاړې وې د ګرېـــوان لا
که د نس له کوره کم شـې زړه دې چـوي
د شـــومۍ دې څرنـــګ وا غوســـته قبـــا
پـه ښـکنځل او پـه وهـل نـه مانـده کېـږي
د دنیـــا پـــه ټولـــو شـــوي بـــې حیـــا
(٦٧: ٤م).

مجازي عشق: په اشعارو کې يار، بېلتون او مينه هم شته، مجازي عشق هم پالي او د مينې سوز و گداز يې هم پر شاعري ډېر تاثير گذار دی چې وايي:

چــې مقــام شــه پــه زړه غــم د يــار زمــا
د دنيـــا لـــه لاســـه ووت کـــار زمـــا
ستا په مينه که منصور غوندې په دار شم
مـــا قبـــول کـــه زه د دار يـــم دار زمـــا
زه او يـار کـه ظـاهر دوه يـو بـاطن يـو يـو
دروغ نـــه دي زه د يـــار يـــم يـــار زمـــا
معزالله به خپل اختيار نه کړم په عشق کې
چــې اختيــار دی د اشــنا اختيــار زمــا

(٦٧: ١٢م).

ستاينه: د يار ستاينه کوي، حسن، قد، قامت او رفتار يې په خورا ښکلو، رنگينو او ساده الفاظو ستايي، لکه چې وايي:

گوره څه رنگ يې په سر کېښود دستار کج
له دستار سره يې جوړ که سم رفتار کج
پـه خپـل حسـن مغـرور شـوی دی پـوهېږم
لــه دماغــه کــا و هــر چاتــه گفتــار کــج
کـه دې قـد پـه سـترگو ووينـي يـو ځلـه
لــه غيرتــه بــه قامــت شي دچنــار کــج
معزاللـــه د عاشـــقانو سر بـــه پـــرې کـــا
چـې پـه لاس لـري د وروځـو تېـغ ابـدار کـج

(٦٧: ٣٠م).

صبر: صبر ډېر لوړ ستايي، ستاينه يې کوي او هغوی چې صبر کوي عقلمند يې گڼي چې په دې باب په خپل دېوان کې وايي:

شـــگفته وي همېشـــه گلـــزار د صـــبر
بـــې خزانـــه وي مـــدام بهـــار د صـــبر
کـــار د عقـــل د طـــالع خلـــل پـــذير دی

اســتواره تــر هــر کــار وي کــار د صــبر

هر یو بار به ورته سپک و هېڅ ښکاره شي
که په سر باندې څوک واخلي بار د صبر
و بــه نــه وینــې اســیب لــه زمــانې نــه
کـه پېشـه دې خپلـه کـه روزګـار د صـبر

(٦٧: ٤٣-٤٢م).

نصحت: د نصحت په بڼه پوښتنه کوي چې له مرګه به څو ځان خلاصوې، خلاصی دې ترې نشته او دا ځواني، مال او حال ټول تلونکی دي او هغه څه چې پکاربږي هغه زموږ نېک عمل او تقوا ده، په همدې باب وايي:

غـړوې بـه لـه اجلـه نـه خپـل ځـان څـو
لـه خزانـه بـه دې بـاغ وي پـه امـان څـو
لږ د دین په سود و زیان باندې خـبر شـه
لاس به مړې د دنیا پـه سـود و زیـان څـو
په ځوانۍ کې د پیرۍ خصلت پیـدا کـړه
تل به پایې په دنیا کې مست و ځوان څو
د دنیـا پـه عـروس مینـه پـه کـار نـه ده
ما و تا غونـدې تـر څنـګ لـرې یـاران څـو

(٦٧: ٨٠م).

تاریخي پېښې: په ځینو اشعارو کې د شعر په ژبه د ځینو تاریخي واقیعاتو یادونه هم کړې او هغه یې په خپلو ځینو اشعارو کې د تشبیه په ډول او همداسې هم راوړي دي چې وايي:

که یعقوب غوندې ړندې کړې سـترګې دواړه
بیـا هالـه د یوسـف مخـې دیـدار غـواړه
چـې دا هسـې لـوی سـفر لـرې پـه مخـه
پـه قـد خـم پـه تـن ضـعیف شـه مـدام ژاړه
وږې ګېـډه د منـت تـر خـوراک ښـه ده

د منــت تــر شــاله ښــه ده شــړی شــاړه

(٦٧: ١٠٣م).

پورته مو د معزالله خان د دېوان په منځپانګه خبرې وکړې او د ډېرو مواردو یادونه مو د نوموړي په اشعارو کې وکړه، چې له همدې سره د معزالله خان بحث پای ته رسوو. تر ده وروسته به د رحمان بابا د ادبي مکتب اړوند بل دېوان لرونکی شاعر په لاندې ډول در وپېژنو او پر دېوان او شاعري به یې خبرې وکړو.

د عبدالعظیم پېژندنه

لکه څنګه چې زموږ څېړنه د منځنۍ دورې د دېوانونو څېړنه ده؛ نو په دې لړ کې د عبدالرحمن بابا ادبي مکتب بل صاحب دېوان شاعر عبدالعظیم په لنډ ډول در پېژنو او پر دېوان او شاعري یې هر اړخیز بحث کوو.

د نوموړي په دېوان کې یې د پېژندنې په هکله په لاندې ډول ویل شوي دي.(عبدالعظیم د هجري د دولسمې اخره (١١٦٧هـ) کې پیدا شوی پلار یې عزیز خان او نیکه یې نور خان نومېده چې نیکه یې لوی خان و، د نیکه له مرګ وروسته یې د پلار د خانۍ وخت شروع شو، چې پلار یې د دښمنانو له خوا ووژل شو او دی هم ترې په ډېر چل او هنر سره د نوموړي د مور او ګاونډیانو له خوا بچ شو.

عبدالعظیم او مور یې د پلار له مرګ څخه وروسته ډېرې بدې ورځې ولیدې، خو اخر په پېښور تهکال کې یوه ځایي مولوي سرفراز پناه ورکړه او همدلته مېشت شو، چې بیا هغه خپله لور ورپه نکاح کړه او دوه زامن یې چې بیا دوی هم په ځوانۍ کې مري او له دوی هم یو یو زوی پاتې کېږي خدای ورکړل. د لمسیانو پالنه ور تر غاړه کېږي او د زامنو په غم کې ډېر ځورېږي.

پورته لیکنه چې د دېوان په پای کې لیکل شوي د عبدالعظیم بابا عمر پکې(٨٦) کاله ښودل شوی.) (دېوان عبدالعظیم: د دېوان د وروستۍ برخې لیکنې لنډون)

په دېوان کې د راغلي یو غزل په یوه بیت کې وایي:

شپږ اتیا کاله مې تېر کړه په عذاب کې

په خوارۍ په مشقـــت په اضـطراب کې

(٤٦: ١٠٩م).

د مرګ په باب یې دقیق معلومات نشته، خو له دېوان څخه یې دا معلومېږي چې نوموړی تر (١٢٥٣هـ) پورې ژوندی دی. قبر یې د بر تهکال نه قطب ډډې ته یو میل په فاصله کې د بابا جي نیکه په هدیره کې دی.

د عبدالعظیم شاعري

عبدالعظیم چې د رحمان بابا د سبک یو وفادرا پیرو او ښه شاعر دی. په شاعري کې عشق، نصیحت، سلوک او د زامنو له فراق سره سره ګڼې نورې خواوې هم راغلي ستاینې هم ویلي او د بېلتون له درد او غمه یې هم سر ټکولی دی. د اشعارو ژبه یې روانه او عام فهمه ده، هره ناره او هر شعر یې د زړه له درده راوتلی ښکاري او تاثیر ګذار دی. د دې فاني دنیا مال او دولت پاتې ګڼي او په دې باب وایي:

اخــر پــاتې بــه لــه تــا کــور او وطــن شي

يــک تنهــا پــه لــوی ســفر بــه دې رفــتن شي

ســتا لــه مالــه لــه دولتــه کــه يــې خــدای کــا

پــه نصــيب بــه دې دوه نــيم ګــزه کفــن شي

دا چې سپين سپين روبی تــه ګرځــې عظيمــه

عاقبــت بــه دې دا ســپين نــوری خــيرن شي

(۴٦: ۹۹م).

په اشعارو کې د وعظ او نصيحت برخه هم ډېر قوي ده او په دې باب يې هم ډېر اشعار ويلي چې د جاهل په باب وايي:

له جاهل سره مجلس نه دی پکار ډېر

مناسب په لټ غوايانو نه دی بار ډېر

څوک چې کاندي اشنايي له جاهلانو

عاقبت به يې لــه لاســه شي ازار ډېر

(۴٦: ۳۷م).

په همدې ډول په اشعارو کې د ټګانو پيرانو نښې، د حقيقي پيرانو نښې، د نورو شاعرانو په اشعارو تبصرې او نور ګڼ مطالب راغلي دي چې موږ يې دلته په شاعري په همدې پورته خبرو بسنه کوو او د موضوع مطابق نور بحث ته ادامه ورکوو.

د عبدالعظيم د دېوان ځانګړنې

دېوان عبدالعظيم چې ترتيب کوونکي يې الطاف احمد خليل او عبدالباقي شاه دي، په (۱۹۹۰) کال چاپ شوی دی. په دېوان کې له لومړي مخ څخه د اشعارو برخه شروع کېږي او لومړۍ برخه يې غزلې دي، د اشعارو ورستۍ برخه کې په متفرق ډول دوه مخمسونه او له هغې وروسته د عبدالعظيم بابا په باب ډېرې خبرې چې د ژوند له سختو او کړاونو نيولې او تر شاعري، مرګ او قبر پورې راغلي دي او په همدې سره يې دېوان پای ته رسېږي.

د عبدالعظیم د دېوان شعري فورمونه

د عبدالعظیم په دېوان کې تر ډېره غزلې دي او د دېوان د اشعارو په وروستي برخه کې یې دوه مخمسونه راغلي، نور یې ټول دېوان غزلې دي چې په دېوان کې د راغلي یو غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي چې وایي:

عاشـــقانو لـــره مـــخ د نگـــار ښـــه دی
بلبلانـــو لـــره مـــخ د بهـــار ښـــه دی
د شـــکرو لـــه نابـــاتو لـــه خـــوراک
د سپرلي په وخت کې سیل د بهار ښه دی
لـــه هـــزارو اشرافـــو روپـــو مهرانـــو
دا څـــو ورځـــې د یـــارانو دیـــدار ښـــه دی
د اورنـــگ لـــه شـــاه جهـــان لـــه ســـلطنته
عاشق پروت د یار په در کې بیمار ښه دی

(۴٦: ۹٦م).

مخمس

د عبدالعظیم دېوان چې نږدې ټوله شاعري یې د غزل په فورم کې ده او په دېوان کې له غزلو پرته صرف دوه مخمسونه راغلي چې د یو مخمس څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

پـــه اول چـــې دې دنیـــا تـــه وم راغلـــی
لـــه نیســـتي نـــه و هســـتی تـــه وم وتلـــی
د شـــبنم پـــه دود صـــفا وم ســـپین ســـېځلی
پـــه میـــزان د شرافـــت وم ټـــول تللـــی
اوس په خپله مې خان سپک کړو لکه خلـی

(۴٦: ۱۰٦م).

د عبدالعظیم د دېوان منځپانگه

د عبدالعظیم بابا شاعري چې ژبه یې خورا روانه، ساده او عام فهمه ده، اشعار یې د منځپانگې له اړخه عشق، تصوف، وعظ، نصیحت، فراق، سلوک او ځینې نور مسایل په بر کې نیسي چې موږ به یې دلته له ځینو برخو څخه یادونه وکړو او له نمونو راوړلو سره به پرې بحث وکړو.

حمد: د عبدالعظیم بابا په دیوان کې لومړی راغلی غزل د څښتن تعالی حمد او ثناء ده چې وایي:

سیال دې نشته د خدایي ربه باري ستا
دایماً همېشه حکم دی جاري ستا
له یلد و لم یولد احد صمد یې
ته بادشاه یې مخلوقات دي کل ساري ستا
ته د هر مرزوق رازق روزي رسان یې
نشته هېڅ په ر سول کې دشواري ستا
کل عالم دې ثناء وایي لایزاله
څوک په زړه کې څوک په ژبه ظاهر ستا

(۴٦: ۳م).

نعت: د رسول الله ص ستاینه او صفت یې هم کړی او د څلور یارانو یادونه یې هم کړې او ستایي یې، په دیوان کې یې په دې باب هم اشعار راغلي چې وایي:

الهم وي درود دې ښه بهتر ستا
په رسول باندې په مثل د مطر ستا
بیا دې ډېر وي ښه درود په ابوبکر
بیا دې ډېر وي په فاروق عادل عمر ستا
په عثمان بن عفان دې بیا درود وي
بیا دې په مرتضی علي حیدر ستا

(۴٦: ۴م).

مجازي عشق: د عبدالعظیم په اشعارو کې د مینې او عشق نغمې په ساده او روانه ژبه له سوز سره ویلی شوي او په پوره خوند سره یاده برخه پاللې ده چې وایي:

هسې زه یمه په مینه د خپل یار مست
لکه وي بلبل په وخت کې د بهار مست
په تمام بدن مې زهر را چړاو شو
یم خوړلی په زړه پټ د زلفو مار مست
په هېڅ وخت یې له د غه نشه نه ځي
همېشه وي د سرو شونډو خمر خوا مست

(۴٦: ۱۵م).

غندنه: نوموړی شهرت غندي، کناره والی او د اخفا مرتبه له شهرته غوره ګڼي. نوموړی وايي که څوک په زور او خپله د شهرت خواست ونه کړي، نو الله (ج) به ریښتینوالی او د زړه تسکین ورنصیب کړي. په همدې باب وايي:

مـا چـې ځـان کړلـو پـه خپلـه ملامـت
ځـان مـې خـلاص کـړو د عـالم لـه شرارت
چې مې نه لیدو هېڅ څیز په رسوايي کې
ځکـــه کېناســـتم لـــه خلقـــو فراغـــت
ډېر نقصان دی په رواج او پـه شـهرت کـې
پـــاتې کېـــږي پـــرې ولیـــان لـــه ولایـــت
پـه رواج او پـه شـهرت چـې ضرر مـومي
بزرگـــان دي اکثریـــت لـــه دې جهـــت

(۴٦: ۱٦م).

ویرنه: د خپلو زامنو چې یو یې حبیب ګل او بل یې محبوب ګل نومېده او له دوی دواړو څخه یو یو زوی پاتې شول چې د دې یتیمانو پالنه هم د دوی د نیکه عبدالعظیم په غاړه شوه. نوموړی د خپلو زامنو په غم کې داسې وايي:

نوشـته مـې پـه زړه غـم د حبیـب ګـل شـه
لا د پاسه پرې بـل غـم د محبـوب ګـل شـه
دا ثمـر د ژوندانـه چـې ډېـر شـېرین دی
تـریخ زبـون پـه ځـان زمـا لکـه فلفـل شـه
الهـــــي پرودګـــــاره نجـــــات راکـــــړې
بنـدېوان مـې پـه قفـس د زړه بلبـل شـه
هغـــه ورځ وه د قیامـــت عبدالعظیمـــه
په تهکال کې چې د مرګ د دوی غلغل شه

(۴٦: ۵۸م).

عبدالعظیم چې د رحمان بابا له پیروانو څخه دی او د ده پیروي یې خورا په اخلاص سره کړي، نوموړی د رحمن بابا په باب وايي:

خدایـه وبخښـې مومنـد عبـدالرحمن
پرې نازل کړې خپـل رحمـت لکـه بـاران
څه ښایسته کتاب یې کړی عجیبـه دی
دا شـعار و پـه پښـتو ژبـه عیـان
چې نظر یې کړې هر بیت او هر غزل ته
تـه بـه وایـې چـې یـا دُر دي یـار مرجـان
ټول کتـاب یـې لګېـدلی پـه توحیـد دی
مینـه دار پـرې ځکـه ډېـر دي عارفـان
(٤٦: ٧٨م).

بېلتون: په اشعارو کې د بېلتون درد، سوز و ګداز لکه د سوې چیغې انعکاس شوی او د دېوان په ډېرو اشعارو کې له بېلتون، رقیب او ان کله کله له خپل محبوبه هم سر ټکوي چې وایي:

پـه هـر دم د بېلتانـه پـه اور وریتېـږم
خدایـه زه لـه مهرویـانو اشـنا مـه وی
ما بـه ولـې د جـرس پـه دود فریـاد کـړ
کـه منـزل زمـا لـه یـاره جـدا نـه وی
خراب زړه به مې ټوټې ټوټې و شـوی
کـه سـحر سـحر مـې ورد د ژړا نـه وی
مـا عظـیم بـه دا اشـعار ویـلي نـه و
که پـه زړه مـې د غمونـو غوغـا نـه وی
(٤٦: ٩٢م).

صبر: صبر غوره ګڼي او د خپل ځان لپاره یې غوره کولو کې د سکون احساس کوي او وایي:

غوره کـړی چـې مـا صـبر و قناعـت دی
خدای راکـړی پـه دې صـبر کـې دولـت دی
هېڅ هوس مې د دنیا و مال ته نـه شي
چې موندلی مـې پـټ ګـنج د مصرفت دی

په زبان مې د سکون مهر وهلی
اغوستلی مې لباس د ملامت دی
څوک مې بولي څوک مې بېخوده
د ادنی سړي له ما نه ډېر عزت دی
(۴٦: ۱۰۴م).

وصیت: د وصیت په ډول په لاندې ډول لارښوونه کوي او وايي:

پس له مرګه زما دا دې وصیت وي
وصیت دې زما دا په څو کرت وي
څه غزل چې ما ویلي دي له ځانه
ټول به ښکول واړه زما په خطالت پت وي
نوشته به په قطرو او په پارچو وي
بېنوا به له تربیت له رعایت وي
د الف غزل به ښکلی وي له نونه
قیاس واړه به جاري په دې عادت وي
(۴٦: ۱۰٦م).

پورته مو د عبدالعظیم پر پېژندنه، شاعري، دېوان پېژندنه، شعري فورمونو سربېره د نوموړي د اشعارو په منځپانګه هم ښه پوره بحث وکړ او ومو سپړله، چې له همدې سره د خپلې څېړنې مطابق د عبدالعظیم برخه پای ته رسوو او ورپسې د عبدالرحمن بابا د دېوان اړوند بل دېوان لرونکي شاعر د موضوع مطابق خبرې کوو.

د میرعلي پېژندنه

د میرعلي په هکله د ده له دېوان پرته بل ځای کې څه نه دي راغلي او نه یې چا په کوم اثر یا ادبی تذکره کې یادونه کړې ده. په دېوان کې عبدالروف خان رفیقي ځان لومړی کس بولي چې د ده په باب یادونه کوي او په اړه یې معلومات وړاندې کوي. خو د میرعلي په هکله دلته هم هېڅ خارجي شهادت وجود نه لري او نوموړی هم د میرعلي له اشعارو او داخلي شهادتونو څخه د ده د ژوند، نسب او مړینې په اړه خبرې کوي.

په دېوان کې د راغلي غزل له یوه بیت څخه یې معلومېږي چې وایي:

که پوښتنه یې د ځان د نسب وکړه

میرعلي اندړ نسب دی له مـــقره

(۴۹: ۴۹م).

له پورته بیت څخه معلومېږي چې نوموړی په قوم اندړ او د اوسني اداري تشکیلاتو پر اساس د غزني ولایت د مقر ولسوالۍ اوسېدونکی و. اندړ قوم د غلجیو پورې اړوند پښتون قوم دی.

د ژوند د زمانې په باب یې هم داسې ښکاره څه په ادب تاریخونو یا ادبي تذکرو کې نه دي راغلي، خو په اشعارو کې داسې څه شته چې له مخې یې موږ د نوموړي د ژوند زمانه اټکل کړو، لکه په یوه غزل کې وایي:

واړه عـــاشقان په حـقیقت کې دي صنمه

راشه که یې گورې میرعلي عبدالرحمن شو

(۴۹: ۶۰م).

له پورته بیت څخه معلومېږي چې نوموړی له رحمان بابا څخه را وروسته زمانه کې تېر شوی، د رحمان بابا د سبک پیرو دی او رحمان بابا ته لکه د نورو پښتنو نامتو شاعرانو په څېر په احترام قایل دی. په خپل یوه بل غزل کې د توکل نومي شاعر یادونه کوي چې نوموړی له عبدالرحمن بابا څخه ډېر را وروسته تېر شوی دی، لکه:

هېڅ به نه که فرق که څوک عاقـل او نکتـه دان وي

شـــعر د مـــیرعلي د توکـــل سره چـــې گـــورې

(۴۹: ۶۳م).

(توکل د (۱۲۵۲ هـ ش) په حدودو کې د کونړ په سیمو کې تېر شوی دی او په ختېه ساپی و، خو په ځینو ځایونو کې د ننگرهار ښودل شوی دی. د دې او ځینو نورو شواهدو په اساس موږ میرعلي د توکل نومي شاعر همعصر بولو او د ژوند زمانه یې هم (۱۲۵۰هـ ق) شاوخوا بللی شو او ویلی شو چې نوموړی په همدغه زمانه کې په مقر کې تېر شوی دی(۴۹: ۱۰م).

د میرعلي شاعري

د میرعلي د شعر ژبه ساده او روانه ده، له ساده والي سره سوزنده، د هجران درد او غم یې هم په شاعري کې منعکس کړی دی چې بېلګه یې لاندې راغلي:

د هجــران لــه درده غمــه الغیــاث

لـــه دې بیوفـــا صـــنمه الغیـــاث

چې پوښتنه د خوږ زړه عاشق نه که

لــه دې هســې تــور ماتمــه الغیــاث

(۴۹: ۲۰م).

په همدې ډول بل ځای خپل محبوب ته وایي چې راشه او ما د رحمان غوندې د عاشقانو په قطار کې ووینه چې وایي:

واړه عـــاشقان په حــقیقت کې دي صنمه

راشه که یې ګورې میرعلي عبدالرحمن دی

(۴۹: ٦۰م).

په اشعارو کې له محیط او نورو څیزونو څخه هم ګیله من دی او وایي چې دلته د شاعر قدر نشته او په چا کې د شعر ذوق نشته. هېره دې نه وي چې په شعرونو کې د انساني جامعې ستونزې هم یادې کړي او د هر انسان په باب فکرمند دی، لکه چې وایي:

د نوخطو په صفت مې بند زبان شه

ځکه لـکه زما په شعر هر انسان شه

(۴۹: ۵۰م).

د میرعلي په اشعارو کې تشبیهات په پوره مهارت سره کارېدلي دي او دې یې اشعارو ته نوره هم ښکلا وربخښلې ده. باید ووایو چې په دېوان کې د پښتو اشعارو تر څنګ د فارسي څو غزلې هم راغلي دي.

د میرعلي دېوان ځانګړنې

د میرعلي دېوان چې ټولونه او څېړنه یې عبدالروف خان رفیقي کړي، په (۱۳۸٦هـ ش) کال د شرکت پریس لاهور له خوا چاپ شوی دی. په دې اثر د ښاغلي رفیقي له خوا یوه جامع او څېړنیزه سریزه لیکل شوې، چې تقریباً تر اتلس مخونو رسېږي او د میرعلي له پېژندنې، اوسېدو ځای، سبک او نورو ځینې مسایل یې پکې څېړلي دي، له دې وروسته د دېوان د اشعارو برخه شروع کېږي چې له پښتو شاعري وروسته یې د

دېوان په اخري برخه کې درې څلور د فارسي اشعارو نمونې هم راغلي دي او له هماغه سره يې دېوان پای ته رسېږي.

د ميرعلي د دېوان شعري فورمونه

د مير علي په دېوان کې يوازې غزلې راغلي دي او غزلې د بيتونو د شمېر او د څپو له اړخه مختلفې دي، همدارنګه غزل هغه شعري فورم دی چې په منځنۍ دوره کې پرې نظر لرغونې دورې ته ډېره شاعري شوې. همدارنګه يې غزلې هر ډول منځپانګه خپلولی شي او هره خوا يې پکې رانغاړلې ده. د نوموړي په دېوان کې د راغلي يو غزل څو بيتونه په لاندې ډول دي:

نـن مـې راوړ د يـار وصـف پـر زبـان
چې ثاني يې مونـده نـه شي پـه جهـان
کړې ورځې کج کـمان بانـه يـې غشي-
صرفـه نـه کـه بانـدې ولي عاشـقان
راشه سيل که کوې نن ورځ دې وار دی
رهـي شـوی دی پـه سـيل د بسـتان
کـج کـلاه لـه نـاز هـېڅ چاتـه نـه ګـوري
نـه پـوهېږم چـې پـيری دی کـه انسـان

(۴۹: ۴۳م).

د ميرعلي په دېوان کې څو فارسي غزلې هم راغلي دي چې د يو غزل دوه بيتونه يې په لاندې ډول دي:

زهـر دو نـرګس و جـادوی يـار ميترسـم
وزان افسـانه دريـن کـارزار ميترسـم
نګار من که حمايت کند به به خاطر من
چـرا ز دغـه دغـه اهـل عـار ميترسـم

(۴۹: ۷۰م).

د ميرعلي د دېوان منځپانګه

د ميرعلي اشعار چې د منځپانګې له اړخه هم ډېری خواوې په بر کې نيسي، موږ يې د ځينو برخو يادونه په لاندې ډول کوو:

شکایت: میرعلي په خپلو اشعارو کې مینه پاللې، د یار ستاینه یې کړې او له دې سره سره یې له رقیبه سر هم ټکولی او په خپل یو غزل کې له رقیبه د شکایت به دود داسې وایي:

عرض مې ته واخله د کل عالم سرداره
د رقیب له لاسه مرم د رب د پاره
چپ و راست مې یار د مخه ځنې ګرځي
د یاری لاره یې ډکه کړه له خاره
ناروا چارې کوي په عاشقانو
نه یې ترس شي نه یې وېره له قهاره

(۴۹: ۴۹م).

مجازي عشق: د میرعلي په اشعارو کې د مجازي عشق ګڼې نمونې شته او د خپلې محبوبې په باب یې ډېر غزلونه ویلي دي، چې د یو غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

دلربا مې په زړه باندې ایشی داغ
چې یو دم قاطت شي نه فراغ
چې نری شمال دا ستا زلفې خورې کا
معطر د عاشقانو شي دماغ
حیرانېږم و دا هسې خوبرویي ته
چې جلوه کا په هر دم لکه څراغ

(۴۹: ۳٦م).

نصیحت: میرعلي د نصیحت په باب هم په خپلو شعرونو کې یادونه کړې او د پند او وعظ په باب وایي:

نه پوهېږي هر جاهل جاهل په واعظ
نه خبرېږي هر غافل غافل په واعظ
په اخره زمانه کم پیدا کېږي
چې به چېرته شي عامل عامل په واعظ
د دوزخ له عذابو به په امان شي
که عمل کړي د کامل کامل په واعظ

(۴۹: ۳۳م).

د یار د حسن ستاینه: میرعلي رقیب غندي او کله کله له یاره هم سر ټکوي، خو ډېر کله یار ستایي او د حسن په باب یې په یو غزل کې وایي:

د یار حسن مستغني له خط و خاله
ځکه نه لري پروا زما له وباله
خرامان خرامان درومي نظر نه کا
چار ابرو پسې ذهیر یم بط مجاله
و دیدرا ته د معشوقو به ورنشي-
څو چې تېر نه شي له خپله سر و ماله

(۴۹: ۵۳م).

د کامل پیر په باب وایي: د میرعلي په دېوان کې د صوفیانو په باب هم ځینې ځایونو کې یادونه شوې او نوموړی د پیر کامل په باب وایي:

څوک چې لاندې د کامل پیر تر قدم شي
بیا چې ځي په هرچا باندې به کرم شي
چې اختیار که غلامي د قلندرو
هر سړی به اراسته په لاره سم شي
که څوک بند د کامل اخلي نن یې وقت دی
بیا اخر به ځای مانده په ملا به خم شي

(۴۹: ۵۸-۵۹م).

په همدې ډول د میرعلي په دېوان کې د محتوا له اړخه ځینې نور مسایل هم شته، خو هغه چې پکې ډېره یادونه شوې وه او په دې باب یې زیاتې غزلې راغلې، له هغو څخه موږ پورته یادونه وکړه. له همدې سره د میرعلي د دېوان څېړنه همدلته پای ته رسوو او د موضوع مطابق په منځنۍ دوره کې د عبدالرحمن بابا د ادبي مکتب اړوند د بل دېوان لرونکي شاعر په دېوان خبرې کوو او شاعر هم په لنډ ډول در پېژنو.

د ملا امیر لنډه پېژندنه

ملا امیر د رحمان بابا د ادبي مکتب لاروی او دېوان لرونکی شاعر دی، چې دلته به یې لومړی لنډه پېژندنه او بیا به یې په دېوان او نورو خواوو خبرې وکړو.

ملا امیر چې د څوارلسمې هجري قمري پېړۍ په سر کې د کندهار یو له هغو شاعرانو څخه و چې مردف دېوان یې درلود او شعرونه یې د خلکو خولو ته لوېدلي و. خو هغه څه چې د ده دېوان په سریزه کې د محمد معصوم هوتک له خوا ویل شوي دي په لاندې ډول دي.

(پیاوړی محقیق پوهاند عبدالشکور رشاد د پښتانه شعرا په درېیم ټوک (۸۲۷مخ) کې د امیر په نامه یو شاعر معرفي کړی دی، چې زموږ تر بحث لاندې ملاامیر سره یې ځینې ګډ وجوهات شته. نوموړی په دې اړه لیکي: امیر په ختې پوپلزی و، د کندهار د تلوکان په کلي کې اوسېده، د پښتو مردف دېوان یې شته، د پاړسو او عربي دېوانونو د لرلو په باب یې هم خبرې کېږي. د ده ژوند د(۱۲۹۱هـ ق) په حدودو کې ټاکلی شو او عمر یې تر۹۵ کالو پورې رسېدلی دی. له دېوان څخه یې معلومېږي چې د ژوند وروستي کلونه یې په هلمند کې تېر کړی دی.

له پورته څرګندونو وروسته محمد معصوم هوتک لیکي چې د امیر او ملا امیر تر منځ ځینې ګډ وجوهات شته، خو ځینې مواردو کې سره یو څه توپیر لري او په دې باب موږ دا پرېکړه نه شو کولی چې ایا دا امیر همدغه ملا امیر دی او که نه؟ نوموړی دغه پرېکړه راتلونکې ته پرېږدي.) (دېوان ملاامیر۵ـ٦)

په دېوان کې هم د ده د ژوند په باب داسې ښکاره څه نشته، خو څو ځایه یې د امیر حبیب الله خان (۱۳۱۹ـ۱۳۳۷هـ ق) یادونه کړې ده چې وایي:

د ســراج الملــة والدین ښه دبدبه ده

ملا امیر د ده دعا ګوی نه د فرنګ یم

(۴: ۹۱م).

د امیر حبیب الله خان یادونه یې څو ځایه نوره هم کړې او د نهر سراج یادونه هم کوي، چې یاده ویاله د حبیب الله خان د واکمنۍ په اووم کال (۱۳۲۵هـ ق)، د هلمند له سیند څخه افتتاح شوې ده. له دې پورته خبرو څخه معلومېږي چې د حبیب الله خان واکمني د ملا امیر د شاعري د اوج زمانه ده او په همدې وخت کې نوموړی یو پوخ او عمر خوړلی شاعر دی.

د ملا امیر شاعري

د ملا امیر له اشعارو څخه دا په څرګند ډول معلومېږي چې نوموړی د ټیټې درجې شاعر دی، د لوړ جوش سالک دی او په سلوک کې د نقشبندیه طریقې لاروی دی. په اشعارو کې ډېره برخه د تصوف مسایل دي او

یاد اړخ یې په خورا ساده ژبه بیان کړی دی، د دې تر څنګ اخلاقي اشعار هم لري او په دېوان کې یې نمونې هم راغلي دي. اشعار یې پوره ساده او له هنریته خالي دي او قافیوي نیمګړتیاوې هم لري، خو خپله د خپل شعر په باب بېلا بېل نظریات وړاندې کوي او کله کله ورته خپل شعر دومره لوړ ښکاري چې وایي پخته کار سالک پرې پوهېدلی شي لکه چې وایي:

د مــلا امیر په بیــان هغه څوک پوهېږي

چې سالک وي پخته کار زړه یې وي سپین

(۴: ۹۴م).

اکثره داسې کلیمات یې هم په اشعارو کې راوړي چې غواړي خپله تواضع تمثیل کړي، همدارنګه په اشعارو کې ځینې تاریخي واقیعات او پېښې هم یادې کړي دي لکه چې د نهر سراج په باب وایي:

دیارلس صدي شپږویشت کاله وو تېر شوي

مــــلا امیـــــر بیان کـــوي لـــــه هره باب

(۴: ۲۲م).

په همدې ډول هېواد ته د روسانو په راتګ خبرداری او د خلکو جهاد ته هڅونه یې هم په اشعارو کې شته. د شعر ژبه یې په عمومي ډول د لودیځې لهجې ځانګړتیاوې لري او په خصوصیاتو کې بیا د هلمند شاوخوا سیمو لهجې ته ورته ده. په ځینو ځایونو کې د ځینو کلیمو وروستي حرکتونه غورځوي، لکه د نعمتونه پر ځای نعمتون لیکي. پورته هغه مهم ټکي و چې د ملا امیر په اشعارو کې بارز دي او د نوموړي د شاعري په پوهېدلو کې ورسره مرسته کولی شي.

د ملا امیر د دېوان ځانګړنې

د ملا امیر دېوان چې سریزه، ترتیب، لمنلیکونه او لغتنامه یې د محمدمعصوم هوتک کړې او په (۱۳۹۵ل) کال د عرفان خپرندویه ټولنې له خوا چاپ شوی دی. د ښاغلي محمدمعصوم هوتک په خبره چې په یاد دېوان کې (۷۹) غزلې راغلي دي او له الف څخه تر یا غزلې پکې شته، چې د وروستۍ برخې څو ورقې یې نشته او له اخري خوا څخه نیمګړی دی.

په دېوان کې له غزلو وروسته لغتنامه راغلې او د دېوان ځینې لغتونه یې معنا شوي دي چې له همدې سره دېوان هم پای ته رسېدلی دی. د دېوان غزلې یې د بیتونو د شمېر او څپو له اړخه هم سره توپیر لري او ځینې تېروتنې هم لري.

د ملا میر د دېوان شعري فورمونه

د ملا امیر دېوان چې د حجم له مخې کم دی او یوازې غزلې پکې راغلي دي، چې ټولې (۷۹) غزلې دي، خو الفبې د ټولو پټیو غزلې پکې شته. د پای پاڼې یې د (ي) ردیف ته رسېدلي، چې د مؤلف په خبره وروستۍ څو پاڼې یې ضایع شوي دي. د ملا امیر په دېوان کې د راغلي یو غزل څو بیتونه په لاندې ډول دي:

ستا و دید ته زما ډېر کېږي هوس
محروم مه کړه ما غریب لکه مگس
د وصال د باغ دې سخته گرانه لار ده
گرانه نه ده چې فریاد کړم د جرس
ستا د دید خیال به ونه وځي زما له سره
که رقیب راته غونډۍ کړي خار و خس
سمندر رنگه ساکن د عشق په اور یم
نه به مرم نه د وتو لرمه وس

(۴: ٦١م).

د ملا امیر د دېوان منځپانگه

د ملا امیر په دېوان کې د منځپانگې له مخې راغلي موضوعات به دلته وڅېړو او له بېلگو سره به یې وړاندې کړو.

حمد: لکه څنگه چې د گڼو نورو شاعرانو د دېوانونو پیل هم د څښتن تعالی په حمد او ثناء شوی په همدې ډول د ملا امیر د دېوان لومړی غزل هم د څښتن تعالی حمد او ثناء ده چې وایي:

نن مشغول شه په الحمد و په ثناء
په دهان کې دې چلېږي ژبه ستا
هر بنده لره لازم ثناء گویي ده
په قران کې بیان کړې پاک مولا
صد درود و صد سلامه دې انعام وي
له خواره امتي په خپل پېشوا
هم پر ال هم په اصحابو د ده باندې

هـــم پـــر واړه گذشـــته وو انبيـــا

(۴: ۱۵م).

نعت: د حضرت محمد ص پاکي بيانوي او په دېوان کې د راغلي کلام څو بيتونه په لاندې ډول دي:

کليمـــه مـــې ده ويلـــې مـــا پـــر تـــا محمـــد

چـې لـه رويـه دې پيـدا شـوه دا دنيـا محمـد

و راغـــلي ډېـــر دينونـــه تـــر تـــا وړرانـــدې

ستا د ديـن محکمـي تېـره تـر هـر چـا محمـد

نه زمين و، نه اسمان و، نه عرش و، نه کرسي

امکان نـه لـري چـې بـر بـه شـي تـر تـا محمـد

خـــداى درکـــړې بلنـــدي پـــه دواړو کونـــو

لـه اولـه يـې پيـدا کـړه لـويي سـتا محمـد

(۴: ۴۵م).

تصوف: د ملا امير په اشعارو کې د تصوف خوا ډېره درنه ده او د تصوف خورا پېچلي مسايل يې په ساده او روانه ژبه بيان کړي دي چې په همدې باب وايي:

محبت د خداى نهال پر خپل زړگي کړه

اوبـــوه يـــې پـــه چشـــمه د شريعـــت

اســـم ذات د زړه صـــقيل د ســـالکانو

تصـــفيه د زړه راځـــي پـــه طريقـــت

بيا به کشف و کرامت درتـه حاصـل شي

پوشـــيده لـــره دا حـــال د حقيقـــت

تـــر عـــرش پورتـــه دي اويـــازره حجابـــه

داخـــل کېـــږي عارفـــان بلنـــد همـــت

(۴: ۲۴م).

نصيحت: د ملا امير په اشعارو کې د نورو مسايلو تر څنگ د مور، پلار، استادانو او علماوو په باب نصيحت کوي، عزت او احترام ته مو را بولي، لکه چې وايي:

مـور و پـلار وتـه هـېڅ مـه ووايـه پـوچ

مرتبـــه بـــه دې کمـــتر سي تـــر مـــچ

پاک سبحان یې بیان کړی په قران کې
د والـدینو دی حـق ډېـر وباسـه غـچ
بیا مې حق د استادانو دی بـې شـماره
ښه محکم یې ټینګوه لکـه سـپین ګـچ
بیـا حقونـه پـر هـر چـا د علـماوو
د نبـي مـیراث یـې وړی دی پـه پـچ
(۴: ۳٦م).

مجازي عشق: دا برخه یې هم په دیوان کې شته او د یار او مینې یادونې یې هم پر ځینو ځایونو کې کړي چې وایي:

کـه لـه یـاره پـه یـار راشي د وصـال کاغـذ
پـر چشـمانو قبلـوي د یـار پایمـال کاغـذ
کـه عاشـق لـره یـې خـط د قتـل راشي
و عاشـق تـه معلـومېږي ډېـر د خیـال کاغـذ
د منصور چې عشـق صـادق و حـال یـې ګـوره
پاس پر سر د دار خندان ورک د جنجال کاغذ
پـایبوسي دې سـخته ګرانـه ده صـنمه
زه بـه نیسـمه و مـخ تـه سـتا د فـال کاغـذ
(۴: ۴۹م).

دنیا ته په خطاب کې وایي:

شېرین عمر په غفلت راباندې تېـر شـو
نـه مـې وکـړه ښـه تقـوا و احتیـاط
دنیا ځای د کوچ و بـار هـېڅ بـاور نشـته
و دانـا تـه ده څرګنـد لکـه ربـاط
(۴: ۷۳م).

پورته مو ملا امیر په دیوان او د نوموړي د دیوان په منځپانګه هر اړخیز بحث وکړ او ملا امیر مو هم په لنډ ډول وپېژانده. د ملا امیر د دیوان څېړنه همدلته پای ته رسوو او له ده ورسته بل دیوان لرونکي شاعر پېژندنه او د دیوان ځانګړنې راوړو.

د طلب شاه پېژندنه

د رحمان بابا د ادبي مکتب یو له دېوان لرونکو شاعرانو څخه طلب شاه هم دی چې دلته به لومړی د نوموړي لنډه پېژندنه او بیا به یې د دېوان ځانګړنې راوړو.

د سید طلب شاه په باب زموږ په لاس کې داسې معلومات نشته چې پرې د هغه د ځای او زېږېدو په باب معلومات ترلاسه کړو، خو د دېوان له داخلي شهادتونو څخه یې داسې معلومېږي چې د نوموړي کورنۍ د هغه له زېږېدو څخه دمخه د اټک د تحصیل د جنړیاوالا نومي کلي څخه پښتونخوا ته راغلي او د اوسنۍ چارسدې ضلعې د دواوې علاقې په سیدانو ډېرۍ کلي کې مېشته شوي و.

د دېوان له داخلي شهادتونو څخه یې دا هم معلومېږي چې نوموړي دې د ژوند یو څه موده د صوابۍ تحصیل په زیده کلي کې د هغه وخت د چار رئیس یا خان سره تېره کړې وي، په خپلو شعرونو کې له سېکانو سره په نوښار کې د شویو جګړو، چې یوه یې په (۱۸۲۳) او بله یې(۱۸۲۹) ې رامنځته شوي ذکر هم کړی دی، له همدغې یادونې څخه داسې معلومېږي چې چې سید طلب شاه د مشهور چاربیتي شاعر نور الدین او بیاض جدون همعصر و، ځکه نورالدین هم په خپلو چاربیتو کې د پښتنو او سیکانو د جګړو ذکر کړی او بیاض جدون هم لکه د طلب شاه د زید کلي د رئیس اشرف خان سره دېره و.

د طلب شاه د دېوان په سریزه کې ښاغلی همېش خلیل وایي چې نوموړی په ورستیو کې خپل کلي سیدانو ډېرۍ ته واپس لاړ او وروستی عمر یې په خپل کلي کې تېر کړی و، بیا همالته وفات او د ترخه نومي کلي په هدیره کې خاورو ته سپارلی شوی دی. د سید طلب شاه مزار معلوم دی او د نوموړي له مشر ورور سید مشرف شاه چې په شان پیر هم شهرت لري له قبر سره دی.

د طلب شاه شاعري

کله چې د طلب شاه په شاعري غږېږو؛ نو باید ووایو چې نوموړي د عشق او محبت د درد او غم سره سره د خپل وخت په سیاسي، اجتماعي او اخلاقي حالاتو هم قلم خوځولی او دا موضوعات یې هم په خپلو اشعارو کې رانغاړلې ده. مجازي عشق یې پاللی او له همدې مجازي عشق څخه تر حقیقي عشقه رسېږي. لکه چې د مجازي عشق په باب وایي:

د خوبـــانو طلـــب گـــار یـــم لکـــه وم
گـــډ د مینـــې پـــه بـــازار یـــم لکـــه وم
مال او سر مې ورته ایښي په میدان دي
تـــل د وصـــل خریـــدار یـــم لکـــه وم
که یې نه وینم په سترگو پـه دا څـه شي

د جـمال يـې طمعـه دار يـم لکـه وم

(۴۵: ۳۰م).

حقيقي عشق هم په خپلو اشعارو کې راوړي او په دې باب وايي:

د مجـــاز لـــه محبتـــه قـــدم واخلـــه

حقيقـــي مينـــه حاصـــله دينـــداري ده

پـــه جفـــا د غمازانـــو صـــبر بويـــه

کـــه پکـــار دې د خوبـــانو دلـــداري ده

د هغـې تـورې ګـوزار بـه خطـا نـه ځـي

چې په مخ کې يې د عشق شتې کاري ده

(۴۵: ۵۰م).

په اشعارو کې د محبوب ستاينه، د عشق نغمې ويل او د مينې په خوږو کې کله کله له بېلتونه هم سر ټکوي او د بېلتون له لاسه ځان رنځور بولي او په لاندې ډول يې يادونه کوي:

بېلتانـه کـړو راتـه هسـې ملـک تنـور

چې ترې نه مومم خلاصی په هېڅ دستور

لـه وصـاله بهرمنـد د ترکـو نـه شـوم

لـه هجرانـه همېشـه پـه زړه رنځـور

زه کـه هرڅـو اه فريـاد کـوم يـا ژاړم

هـېڅ مـې نشـول مهرويـانو تـه منظـور

(۴۵: ۱۴م).

مخکې مو هم وويل چې د طلب شاه په شاعري کې د عشق او مينې ترڅنګ د اخلاقي او اجتماعي ژوند په اړوند هم ډېرې خبرې شته چې وايي:

که دې غوږ په دې بيان شي

درښکاره به سود او زيان شي

پـه زړه نـرم توبـه ګـار شـه

چې دې هر مشکل اسان شي

لـه نيمګـړې دنيـا تلـه دي

دا ساعت بـه دې ارمـان شي

(۴۵: ۸۰م).

په همدې ډول د طلب شاه په شاعري کې ګڼې نورې خواوې هم څېړل شوي او په دېوان کې راغلي اشعار يې د بيتونو او څپو د شمېر له مخې هم سره توپير لري او په دېوان کې يوازې د غزل په فورم کې شاعري شوې ده.

د طلب شاه د دېوان ځانګړنې

د طلب شاه دېوان چې همېش خليل ترتيب او سريزه يې پرې ليکلې، په (۲۰۰۵م) کال د دانش خپرندويې ټولنې له لوري چاپ شوی. په ياد دېوان د همېش خليل له خوا يوه څېړنيزه سريزه ليکل شوې چې په دې سريزه کې د دې دېوان په هکله وايي: (د سيد طلب شاه دا دېوان ما په (۱۹۵۸) کې له ښاغلي شېرشاه ترخوي څخه د مطالعې لپاره وغوښت، چې وروسته مې بيا د ده په خوښه او اجازه ما ترې يو نقل واخيست چې اوس دا دی ستاستو په لاسونو کې دی. دا دېوان په دغه وجه هم پوره نه دی چې د سر شپږ پاڼې ضايع شوي دي.) (دېوان طلب شاه:الف)

په همدې اساس لکه څنګه چې همېش خليل هم ويلي دي، نوموړی دېوان بشپړ نه دی او د سر څو مخونه يې نشته او نور اشعار يې چې ټول د غزل په کالب کې دي، د الف با په ترتيب د (ي) په رديف پای ته رسېږي او په وروستيو کې د مؤلف تاليف کړيو اثارو يادونه شوې او په همدې سره دېوان پای ته رسېدلی دی.

د طلب شاه د دېوان شعري فورمونه

په دېوان کې يوازې د غزل په فورم کې شاعري راغلې او په همدې فورم کې مختلف موضوعات رانغاړلي دي. د سوز و ګداز په رنګينو يې د ښکلا تر پوړيو رسولی دی، چې په دېوان کې د راغلي يو غزل څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

نمر سپوږمۍ له چې ورکړی خدای کمال دی
دغـــه واړه برکـــت ســـتا د جـــمال دی
پـه نبيـانو کـې څرګنـد لکـه افتـاب يـې
نه لتا سره حوک سم شـته نـه دې سيال دی
يـــو دې اســـم محمـــد اخـــر زمـــان شـــه

بـل دې بـل پـه هـر طـرف د دیـن مشـال دی

(۴۵: ۸٦م).

د طلب شاه د دېوان منځپانګه

لکه څنګه مو چې پورته هم یادونه وکړه د طلب شاه په شاعري کې له مجازي عشق څخه تر حقیقي عشق، د بېلتون سوې نارې، اخلاقي مسایل او نورې ټولې خواوې څېړل شوي، چې له ځینو به یې دلته یادونه وکړو او نمونې به یې هم ذکر کړو.

مجازي عشق: طلب شاه لومړی مجازي عشق پالي او د همدې مجازي عشق پر اساس تر حقیقي عشقه رسېږي او حقیقي عشق ستایي موږ به یې دلته لومړی د مجازي عشق په باب په دېوان کې راغلي څو بیتونه راوړو چې وایي:

د خوبـــانو طلـــب گـــار یـــم لکـــه وم

گـــډ د مینـــې پـــه بـــازار یـــم لکـــه وم

مال او سر مې ورته ایښي په میدان دي

تـــل د وصـــل خریـــدار یـــم لکـــه وم

که یې نه وینم په سترگو پـه دا څـه شي

د جـــمال یـــې طمعـــه دار یـــم لکـــه وم

په تش اسـم یـې مـدام لـه خیالـه ښـورم

مسـت یـې هسـې پـه خـمار یـم لکـه وم

(۴۵: ۳۰م).

حقیقي عشق: د طلب شاه دېوان کې د حقیقي عشق بېلګې هم لیدل کېږي او نوموړی دغه برخه هم لکه د یوه پاخه هنرمند په هنرمندانه ډول یادوي، چې په دېوان کې په دې اړه راغلي څو بیتونه په دې ډول دي:

چـا چـې جـام د حقیقـت د مئیـو نـوش کـړ

هغـــه هېچـــرې محتـــاج د کـــوثر نـــه شـــول

پـــه هغـــو چـــې د هجـــران وربځـــې راغـــلي

منـــور پـــه نـــور د شـــمس و قمـــر نـــه شـــول

زړونـــه مـــه شـــماره د زړونـــو پـــه قطـــار کـــې

چې په عشق کې د غم تیر ته سپر نه شـول

(۴۵: ۲۳م).

اخلاص: لکه څنګه مو چې مخکې هم وویل د طلب شاه په دیوان کې د عشق او مینې سربېره نور هم ډېرې مسایل او خواوې راغلي چې له هغې جملې د اخلاص په باب وایي:

نـوم د هرچـا پـه زبـان دی د اخـلاص
که یې غواړې مونده ګران دي د اخلاص
د لبـاس بـازار ګرمـي ده پـه هـر لـوري
په کـې ورک نـام و نشـان دی د اخـلاص
په تش اسم یې هر څوک سره روزګار کا
غلـط کـړی هـر چـا کـان دی د اخـلاص
بل ارمان د طلب شاه پـه زړه کـې نشـته
کـه ارمـان دی خـو ارمـان دی د اخـلاص

(۴۵: ۱۹-۲۰م).

له زمانې ګیله او د دوستانو یادونه: طلب شاه له زمانې ګیله کوي او هغه خپل دوستان یادوي چې اوس د ده په څنګ کې نشته او ورپسې ارمان کوي چې وایي:

هغه تېر ساعت را یاد شـه پـه ارمـان نـن
مـا چـې ولیـده کارونـه د هجـران نـن
چې ټولي د ښو ځوانانو به پرې ټـول وو
زمـانې کـړه در پـه در هغـه ځوانـان نـن
همېشـه پـه ملـک رڼـا د سـپین سـبا وه
تـاریکي شـوله د کفـر پشـان نـن

(۴۵: ۳۷م).

انسان ته خطاب: طلب شاه انسان ته په خطاب کې وایي چې ای انسانه ته په خطا یې او د دې څو ورځو ژوند لپاره د ټول عمر او حقیقي ژوند خرابوالی مه کوه، یوازې د الله ج در ته رجوع وکړه او د بنده در پرېږده چې په دې هکله وایي:

خدای پیدا کړې معرفت لره بند
ولـې سم په لاره نه درومې ړنده
د خالق له مرحمته کور و کر شې
د مخلوق و در ته پروت لکه بنده

د دنیـا د سود له پاره خان امیر ته
هسې کوز شې په سلام لکه لنده
(۴۵: ۳۰م).

د بې عقلۍ په باب وايي:

چې په سر کې يې د عقل گوهر نشته
د هغـو خلقـو لـه خدايـه حضرـ نشـته
د توحيد د سپينې لارې گمراهان دي
هم په مخکې يې پېشوا او رهبر نشته
بــر مــلا د حقــارت پــه نظــر گــوري
مســئله پــه غــوږو اوري بــاور نشــت
(۴۵: ٦٢م).

مينه: طلب شاه د مينې کول رنځ گڼي او وايي چې څومره مې په دې اړه وپلټل او د مينې چاره مې وکړه؛ نو له خوږ يې برخمن شو او سربازي يې گڼيچې وايي:

مــا چــې وليــدل د مينــې کتابونــه
نور څـه نشـته خـو رنځونـه دي رنځونـه
مينـه واړه سربـازي ده پـه جهـان کـې
پــه دې لاره کــې پراتــه هــزار سرونــه
شـمع ژاړي پـه مجلـس کـې لـه فراقـه
پتنگــان وربانــدې راشي لــه ملکونــه
که يې زلفې په رخسار زيب و زينت کا
عاشــقانو تــه ښــکارېږي کمندونــه
(۴۵: ٦٨م).

د طلب شاه په دېوان کې د پورته ذکر شويو موضوعاتو تر څنگ گڼ نور مسايل هم راغلي چې دلته په همدې پورته بېلگو بسنه کوو او د طلب شاه د دېوان څېړنه په همدې ځای پای ته رسوو.

د بیاض لنډه پېژندنه

صاحب دېوان او د رنګینو اشعارو درلودونکی شاعر بیاض د پېژندنې په باب زموږ په لاس کې څه نشته؛ خو پر دېوان یې د محمداصف صمیم لیکل شویو کرښو کې چې د دېوان د داخلي شهادتونو پر بنیاد یې خپلې خبرې کړې دي راغلي دي: (د بیاض د نوم په اړه هم موږ ته کره معلومات نشته او بیاض یې تخلص او یا اسم محضه دی. کلی یې د اباخېلو اړوند زیده کلی دی او خپل ټول عمر یې په مدې کلي کې تېر کړی دی. له اشعارو څخه یې داسې معلومېږي چې نوموړی د فقیرانو خاصه لري. د نومړي د وفات او مزار په هکله هم پته نشته، خو دومره ویلی شو چې نوموړی د عمر تر بوډاوالي پورې رسېدلی و.) (دېوان بیاض:د صمیم صیب د لیکنې لنډیز)

د بیاض شاعري

د بیاض اشعار چې ځانګړې شوخي او رنګیني لري او د هنري ښکلا لیدل پکې له ورایه کېدلی شي، هېره دې نه وي چې د هنري ښکلا تر څنګ یې په اشعارو کې د مضمون ښکلا او رنګارنګي هم په ښه ډول پاللې او اشعار یې د مضمون له اړخه هم له ځانګړې ښکلا څخه برخمن دي. په اشعارو کې د کلتوري او فولکلوري ارزښتونو انځور ګري هم په ساده او روان ډول کړې ده چې د جرګې او ننواتې په باب وایي:

دا شوخ چشم د چا بند نصیحت ناخلي
که جرګه پرې ننـــــواتې کلی کور کړم

(۹: ۸۳م).

په اشعارو کې ډېره شوخي هم له رنګینی سره مل ده چې وایي:

ستا د سترګو لېوني دي نور څه نه دي
چې وښکل په دروازې په ټېل وهل شي
چې د خولې په ورکول دې اموخته کړ
بیا په لږ څه د بیاض ولې رټل شي
سود یې نه شي په دیدن خوله ور نږدې کړه
د بیـــاض د زړه دمـــه پـــه ښـــکلول شي

(۹: ۱۵۹م).

همدا شان یې په اشعارو کې د پند او نصیحت درسونه هم راغلي دي، په همدې ډول یې د تربګنیو په باب هم ویل کړي دي. غماز او بېلتون یې غندلی او په اشعارو کې ساده والی هم شته دی، په ټوله کې ویلی شو

چې نوموړی یو زنده دل، د مجازي مینې پالونکی او د اشعارو د ساده، روانې او رنګینې ژبې درلودونکی شاعر و او له عشقي مسایلو څخه نیولې تر ټولنیزو او کلتوري اشعارو پورې یې په شاعري کې شته دي.

د بیاض د دېوان ځانګړنې

د بیاض دېوان چې نقل، سمون، حاشیې او مقدمه یې سر محقق عبد الله بختاني خدمتګار کړي، لومړی چاپ یې پر(۱۹۵۱ ز) او دویم چاپ یې پر(۲۰۰۴) کې شوی دی. یاد اثر د دانش خپرندویې ټولنې له خوا چاپ شوی دی. هېره دې نه وي چې نوموړی دېوان د لومړي ځل لپاره پر(۱۹۵۸ ع) کال د برمول د ګنډېرو شریف مولوي محمد ایوب له خوا بغیر له سریزې او پایلیزې په ۱۲٦ مخونو کې د پېښور په جهانزیب پرېس کې چاپ او خپور کړی دی.

دویم چاپ یې همدغه دېوان چې زموږ په لاس کې دی د سرمحقق بختاني صاحب په ترتیب او سریزه چاپ شوی، چې مخکې مو په اړه یادونه وکړه. په دېوان کې د غزلو په ګډون رباعیات هم شته او د الف با په ردیف کې یې د ځینو حروفو اشعار نشته او د ځینو غزلو بیتونه یې هم نیمګړي دي.

د بیاض د دېوان شعري فورمونه

د بیاض دېوان چې ډېره برخه یې غزلې دي او رباعیات هم لري، غزلې د بیتونو د شمېر او څپو له اړخه سره توپیر کوي. ډېری غزلې د هنري ښکلا او شوخۍ ځانګړی انداز لري چې په دېوان کې د راغلي یو غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي.

که ته راشې سره لاسونه سترګې توري
پـه لمـدو غوښـو بـه اور کـې زمـا پـورې
لویي شي په بېلتانه کې کـه بـاور کـړې
خپل پردي راباندې ژاړي پـخ سرتـورې
بیـا هلـه مـې جنـازې لـره را مـه شـئ
چې تختې شي د لـح د را پسـې پـورې
ستا د مخ د باغچې ګـل پـه خنـدا شـه
او د زلفو څوکې نه دي سـتا سمسـورې

(۹: ۲۱م).

په دېوان کې رباعيات هم راغلي دي، خو د الف با په ترتيب يې د غزلو سره راوړي دي او بېله برخه يې نه ده ورکړې، بلکې د هرې پټې غزلو سره يې د اړوندې پټې رباعيات هم راوړي دي، چې په دېوان کې راغلې يوه رباعي يې په لاندې ډول ده:

پــه زړه ويشــتلی د يــار بېلتــون يــم
ســوری پــه زره هــم پــه لړمــون يــم
شربت به راکړه که څوک خيرات ګټي
اوس خــبر شــوی د خپــل ژونــدون يــم

(۹: ۸۹م).

د بياض د دېوان منځپانګه

د بياض په دېوان کې د ده شوخه طبعه او لوړ هنري ذوق له ورايه معلومېږي، له دې سره سره يې په اشعارو کې د تربګنيو، فولکلوري بېلګو او نورو نمونې هم شته. يارې هم ياده کړی او له بېلتونه هم سر ټکوي او مجازي عشق هم ښه په لوړ هنر سره پالي. موږ به يې دلته د دېوان منځپانګې د ځينو برخو يادونه وکړو او وبه يې سپړو.

ستاينه: د سرور کاينات محمد مصطفی ص ستاينه کوي او په دېوان کې د داسې اشعارو چې د رسول الله ص ستاينه پکې راغلې ګڼې بېلګې شته چې وايي:

پــه کېناســتو بانــدې يــې ځمکــې کــوه فخــر
چــې ولاړ شــو لکــه بــرق پــاس تــر اســمان لاړ
هغــه راز يــې و راز دارو معلــوم نــه کــړو
جبرائيــل تــر خپــل مکــان، دی لا مکــان لاړ
تــا بــه وې لکــه نظــر د ســترګو ووت
چــې پــه لار د محبــت پــه ســپين ميــدان لاړ
ورتــه پولــه بيــا د هــېڅ خــبرې نــه وه
چې د خاص مجلس اواز په درست جهان لاړ

(۹: ۳۰م).

بېلون: د يار په بېلتون کې وايي چې ستا له تلو وروسته مې په خوله کې لاړې وچې شوي دي او دا درد داسې بيانوي:

ستا بلا واخلم چې ته له مانه لاړې
بېلتانه مې کړې په حلق کې وچې لاړې
زړه مې وار نه کا کېناستو ته چې کېنم
یوه خوله راڅخه راکړه په ولاړې
معلومېږي مئین شوی پخوانی یې
چې په سپینه ږیرې ځې ورپسې ژاړې
دریغه بیا مې یو ځل ولېدې په سترګو
چې بندي د تور لحد شي په اوجاړې
(۹: ۲۷م).

نصیحت: د وعظ او نصیحت په دود یې هم ډېرې لارښوونې په دېوان کې شته او په دې باب یې ډېر ویل کړي لکه چې وایي:

سپین وېښته درته د مرګ استازي راغله
د سحر په وقت کې ځان ولې اوده کړې
اوس زما په نصحت باندې زهیرېږې
چې تختې درپسې کېږدي بیا به څه کړې
دا اثر د محبت دی د خوبانو
چې دا هسې اسوېلي تاوده ساړه کړې
(۹: ۳۴م).

عشق: په اشعارو کې د عشق نغمې هم په ښه شان سره پاللي او د اشعارو زیاته برخه یې عشقي شاعري ده چې په دېوان کې د راغلي یوه غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

هغه یار یوړو زما ارام د زړه
چې حرام شه نن په ما ارام د زړه
لا د عشق د ملامت کومړی خورم
چې مې عقل په نفرت شو خام د زړه
که پیاله ورکه د عشق په میخانه کې
پاس په عرش په کرسۍ ګوره ګام د زړه

پــه يــوه نګــاه د ســترګو ښــکلي واړه

پــه نخــاس کــې خرڅــوي غــلام د زړه

(۹: ۸۳م).

مرثيه: د بياض د ديوان په وروستۍ برخه کې دوه مرثيې هم راغلي چې د يوې مرثې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي.

هسې رنګ چغه ژړا شوه په عالم کې

بيا دغم رخنه پيدا شوه په عالم کې

مخ وهل د يار اشنا شوه په عالم کې

د قيامت د ورځ غوغا شوه په عالم کې

جنــازه چــې يــې د کــوره واخســتله

(۹: ۲۲۲م).

هېره دې نه وي چې پورته يادې شوې دواړه مرثيې د مخمس په فورم کې ويل شوي دي.

شوخي: د بياض په اشعارو کې د لوړې هنري ښکلا سره سره ډېرې د شوخۍ بېلګې هم شته لکه چې وايي:

ستا په تور چې څو بې ابه بې ابرو شي

نو روا پرې ښکلول د شونډو سرو شي

بېګاه شپه به په ارام کړم څه خو تېره

کــه دېــره مــې د نتلــو پــه دېــرو شي

(۹: ۱۸٦م).

کبر: نوموړی وايي بايد په ډېر دولت باندې سړی کبر ونه کړي او دا هر څه ختمېدونکي دي، لکه چې وايي:

چــې دولــت منــد شي کــبر دمــاغ لــري

اخــر تــالاشي کــه د سرو بــاغ لــري

(۹: ۱۸۲م).

د خوړو يارانو بېلتون يې ژړوي او د دوی په باب وايي:

بېګــاه پــه خــوب کــې مــې ډېــر ژړلي دي

چــې مــې دوه کسي- پــرې پرېــوتلي دي

(۹: ۱۸۳م).

په همدې ډول یې په دېوان کې نورې هم ګڼې نمونې د نورو موضوعاتو په باب راغلي دي چې موږ دلته په همدې پورته ذکر شویو بېلګو بسنه کوو او د بیاض د دېوان څېړنه په همدې ځای پای ته رسوو.

د یونس پېژندنه

یونس د عبدالرحمن بابا د سبک پیرو او د دېوان خاوند شاعر دی، د ده د پېژندنې په اړه لولو: (د یونس په باب د شاه حسین هوتک د دربار ستر لیکوال محمد هوتک بن داود په خپله تذکرة الشعراء پټه خزانه (۲/۱۱۴۱هـ ق تالیف) کې په زړه پورې معلومات ورکوي، چې موږ یې دلته د یو موثق سند په حیث کټ مټ را اخلو: هسې روایت کا زما تربور رحمت هوتک چې په سنه ۱۱۳۰هجري پېښور ته تللی وم او هلته مې په خیبر کې محمد یونس شاعر شېوا بیان ولید او د ده اشعار مې سماع کړل.

محمد یونس په دغه کال یو دېرش کلن ځوان و او په قوم موسی خېل و، چې پلار یې نورمحمد خان له موسی خېلو څخه د کسي د بابړو سره راغلی او په خیبر کې اوسېده. محمد یونس په پېښور کې علمونه او کتابونه ولوستل او په هغه وقت کې چې عبدالرحمن بابا ژوندی و د هغه شاګرد شو. د شعر دېوان یې جوړ کړ چې ډېر غزل لري او په خیبر کې معروف شو(۲۸: ٦-۵ م).

د یونس په باب په پورته ډول د نوموړي د نسب او نورو اړخونو په هکله هم خبرې شوي، خو د وفات او د خښېدو د ځای په باب یې دقیق معلومات نشته، مګر د نوموړي له ځینو بیتونو څخه معلومېږي چې د زړښت مرحلې ته رسېدلی، لکه چې وایي:

تللی عمر به مې راشي که ته راشې

ګر چـــې نه راځي بیـا عمر د شباب

(۲۸: ۳۸ م).

په همدې ډول یې ګڼ نور اشعار هم د بوډاوالي څخه د شکایت او د زوړوالي په غندنه کې ویلي دي؛ نو له دې څخه معلومېږي چې نوموړی د زړښت مرحلې ته رسېدلی دی.

د مسافرت ځینې نمونې هم په دېوان کې شته خو بغیر د دېوان له داخلي شهادتونو څخه نور کوم ثبوت د ده د پردېسي په باب نه لرو. د یونس د علمیت او فضیلیت په باب د هغه له اشعارو څخه ښه څرګندېدای شي او موږ ته دا رامعلوموي چې نوموړی ښه او د خپل وخت په علومو کې وارد انسان و.

د یونس شاعري

یونس د رحمان بابا شاګرد او د هغه د ادبي مکتب پیرو دی، نوموړی د رحمان بابا داسې شاګرد او لاروی دی چې پر داسې شاګردانو استاد فخر کولی شي. یونس هم د رحمان بابا په شان ساده، روان او خوندور

شعرونه لري، چې په ځينو برخو کې له رحمان بابا هم ښکلې شاعري کړې ده. د اشعارو نازکخيالي يې هم ډېره ده چې ان د حميد مومند سره يې په يوه لار روانوي.

د ډېرى اشعارو ساده گي يې د رحمان بابا په شان او د مضمون تخيل يې د حميد مومند غوندې رنگين دى. په اشعارو کې د فارسي خوندور لغات، ترکيبات، اصطلاحات او سمبولونه استعمال کړي دي، په ځينو ځايونو کې يې دغو لغاتو غلط استعمال او د تحريف عيب يې شعر عيبجن کړى؛ مگر د يونس ادبي افاده دومره قوي ده چې د هغې په رڼا کې دا عيبونه هېڅ ښکاره شي او يا هم هېڅ نه ښکاري. نوموړي چې د پښتو خوندوره شاعري کړې په خپل پښتو شعر نازېږي او په دې باب وايي:

خپله ساده پښتو يونس لره کافي ده

څه حاجت په فارسي شعر د صايب

(۲۸: ۳۴ م).

د يونس په اشعارو کې يو فارسي غزل هم شته چې فارسي شعر يې هېڅ پښتو ته نه شي رسېدلى او د پښتو اشعار يې له فارسي ډېر غښتلى او پوره دي. په همدې ډول د يونس په اشعارو ډېرې خبرې کېدلاى شي، خو موږ دلته په همدې پورته کرښو بسنه کوو.

د يونس د دېوان ځانگړتياوې

د يونس دېوان چې نقل، مقابله، سمون، مقدمه او حاشيې يې د څېړندوى عبد الله خدمتگار له خوا شوي، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د پښتو د پرمختيا او پياوړتيا امريت له خوا په (۱۳۵٦ هـ ش) کال په کابل کې چاپ شوى دى. د يونس د دېوان له اشعارو څخه د نوموړي علم او فضيلت معلومېږي، چې نوموړي به نور اثار هم درلودل، خو د هغې په باب يې موږ ته معلومات نشته.

(د يونس د دېوان او د هغه د شعرونو په باب تر ټولو پخوانۍ نسخه پټه خزانه ده. د لندن په برېټش موزيم کې د ۲۸۷۴ نمبر لاندې د پښتو کلاسيکو انتخابي شعرونو يوه قلمي نسخه خوندي ده چې (چمن بېنظير) نومېږي او پکې د دېرشو تنو پښتنو شاعرانو (۲۴۱) پارچې شعرونه ضبط دي چې په دغو کې د يونس (۳۸) پارچې شعرونه هم شته. (۲۸: ۲٦ م).

د يونس د دېوان له اشعارو څخه مخکې د نوموړي د قلمي نسخو په باب بحث هم شوى دى، خو اوس چې کوم دېوان زموږ په لاس کې دى دا هغه دېوان دى چې (د احمدشاه بابا د سلطنت په دوران کې په (۱۱۷٦ هـ ق) کال پېښور کې د اشنغر د فيض طلب په فرمايش د پېښوري زين الدين په قلم ليکل شوى دى. د يونس دغه دېوان د ۱۸×۱۳ په اندازه (۱۷۵) پاڼې لري، چې اول مخونه يې سپين دي. چا په پنسل د

مخونو شمېره پرې وهلې ده چې (۳۴۹) کېږي. څو پاڼې يې سره بې ځايه ګنډل شوي دي چې د مخونو له دغې شمېرې پته لګېږي(۲۸: ۲۹ م).

په همدې ډول د يونس په دېوان او د نوموړي د خطي او چاپي نسخو په باب د څېړندوی عبد الله بختاني خدمتګار له لوري په خورا ښه ډول او پوره تفصيل سره ليکل شوي دي او له همدغې ليکنې وروسته د دېوان اصلي برخه (اشعار) شروع کېږي.

د يونس د دېوان شعري فورمونه

د يونس اشعار چې په ساده والي او رواني کې د عبدالرحمن بابا، په نازکخيالي کې د حميد مومند او د فارسي لغاتو، ترکيباتو او سمبولونو استعمال کې تر کاظم شيدا رسېږي او غزلې يې له همدې ټولو رنګينيو او خوبيانو برخمنې دي، چې دلته به يې په دېوان کې د راغلي يوه غزل څو بيتونه د نمونې په ډول راوړو:

څو چې ونه ښانده په مينه باندې سر چا
کله بيامونـد شـيرين وصـل د دلـبر چـا
که ښايست يې ستا له حسنه روزي نه وی
پـه دا حسـن بـه ليـده شـمس و قمـر چـا
که پـه خپلـه مـې خپـل مهـر رهـبر نـه وی
را کـاوه بـه د دلـبر د لـور خـبر چـا
که د ستا د زلفو بوی يې تـر مشـام شـوای
دوبـاره بـه يـادول مښـک و عنـبر چـا

(۲۸: ٦ م).

مخمس: د يونس په دېوان کې د نورو اشعارو تر څنګ څو مخمسونه هم راغلي دي چې د يو مخمس څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

چشـم پـر خـمار د يـار
ګل دي دوه رخسـار د يـار
خـوښ يـم يـه ديـار د يـار
سر و مـال مـې ځـار د يـار
مـه شـه زړه ازار د يـار

(۲۸: ۹۰ م).

معشر: د دېوان په ورروستی برخه کې یو معشر هم راغلی چې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

شـپه ورځ مـې پـه زړه یـار دی
د هـر غـم مـې غمگسـار دی
بـې بهـا یـې یـو دیـدار دی
تـــازه گـــل د نوبهـــار دی
ښـــه دیـــدن د گلعـــذار دی
یـــو عجـــب تـــازه گلـــزار دی
د بلبلـــو پـــرې جغـــار دی
چې سوخته د عشق په نار دی
لـــه محبـــوب سره کنـــار دی
د محبـــوب د غـــاړې هـــار دی

(۲۸: ۲٦۴ م).

پورته مو د یونس د دېوان شعري فورمونو یادونه وکړه اوس به یې د دېوان په منځپانگه خبرې وکړو او د دېوان محتوا به یې وسپړو.

د یونس د دېوان منځپانگه

د یونس اشعار چې ډېره برخه یې عشقي ده او د نوموړي اشعار د پښتو د اولې درجې کلاسیکو شاعرانو په لړ کې راتللی شي. د دې تر څنگ یې په اشعارو کې نصیحتونه، روایات، د قرانکریم اياتونه، د حضرت محمد ص احادیث، د مذهبي مشرانو اقوال، د تلمېح او ترجمې په ډول او کله کله کټ مټ هم راوړل شوي دي. نور هم گڼ مسایل د یونس په شاعري کې رانغاړل شوي چې له ځینو څخه به یې په لاندې ډول یادونه وکړو:

حمد او ثناء: د یونس په دېوان کې د خالق (ج) ثناء او صفت ډېر شعرونه ویل شوي چې یو څوبیتونه یې د نمونې په شکل راوړو:

تـــه واحـــد یـــې بـــې شریکـــه ربنـــا
بـــې تـــا څـــوک لـــه مـــا یـــاري کـــه ربنـــا
بې چراغه ستا د فضل لیدی نه شم
د غفلـــت شـــپه ده تاریکـــه ربنـــا

نم يې ستا د عنايت له چشمې بياموند

چـــې مـــې ژبـــه طـــراري کـــه ربنـــا

ستا تقدير يې په تدبير پورې حنـدا کا

چـــې بنـــده څـــه هوښـــياري کـــه ربنـــا

(۲۸: ۴ م).

د غريب ازارول: د غريب ازار د زهرو غرپ ګڼي او موږ ته د نصيحت په دود ترې ځان ساتل ښايي:

چـــې ازار د غريـــب واخيســـت هغـــه چـــا

ګـوټ د زهـرو نصـيب واخيسـت هغـه چـا

پـــه فرســـنګ بـــه لـــه ازاره بېرتـــه څښـــتی

چې نېک پند د اديب واخيسـت هغـه چـا

عاقبـــت بـــه لـــه مقصـــوده بهـــره ورشي

چې خدمت د حبيـب واخيسـت هغـه چـا

پـــه هيبـــت بـــه لکـــه بـــرګ د ولـــې رېـــږدي

چې دهشت د محيب واخيسـت هغـه چـا

(۲۸: ۸ م).

د جانان ستاينه: د خپلې محبوبا شونډې له نبات سره تشبيه کوي او د دې په ستاينه کې وايي:

لکـه شـونډې دي د سـتا

نعـه نبـات دي نـه حلـوا

لعل ځار شه ستا تـر لبـو

دي تـــر لعلـــو دوی زېبـــا

دُر بهـــا لـــري معلومـــه

غاښ دې دُر دي بـې بهـا

په خندا شکر رېزي کړې

شکر ځـار سـتا تـر خنـدا

(۲۸: ۲۷ م).

د رقيب غندنه: يونس رقيب ته د شيطان خطاب کوي او له شيطانه يې هم ورهخوا ګڼي لکه چې وايي:

په مسند کې تر ما کېني بر رقيب
تر سرې به بهتر نه شي خر رقيب
د هر چا بدي همراه د خپل صورت ده
وبه خوري په خپلو بدو سر رقيب
په جهان کې تر شيطانه بدتر څوک دی
تر اوو شيطانو بد دی هر رقيب
د ديدن سايل د يار په در ور درومي
سپی شي نيسي- وسايل ته در رقيب
(۲۸: ۳۵ م).

عشق: په دېوان کې د عشق په باب ګڼ غزلونه راغلي چې دلته يې د يو غزل څو بيتونه راواړو:

و هر چا ته چې عشق ولېږي افواج
په اول يې عقل و هوش کاندي تاراج
عشق د صبر په تخت کېني بادشاهي کا
بېچاره صبر ګوښه شي لا علاج
په پيکان د جدايۍ سوری سوری شي
څوک چې زړه د عشق و تير ته کا اماج
عاشقي څښتن مريی، مريی څښتن کا
د اياز د پښو تلی د محمود تاج
(۲۸: ۵۸ م).

حرص: حرص بد ګڼي او حريص غندي، د صبر ستاينه کوي او صابران ګټونکي ګڼي، چې په دې باب وايي:

که ته تېر شې په حرص تر سمرقند
چې به راوړم په منګولو شکر قند
که طالع دې سرنګونه وي دا زده کړه
ستا په بخت به شي ورمه د کينې بند
د حريص په نا امېدۍ باندې حديث دی

صـــابرانو پـــه مقصـــود وکـــه انـــد
پـه هـر کـار کـې مصـلحت لـه بلـه غـواړه
د شیطان پورې ور یـاد شـوې خـود پسـند
(۲۸: ۷۱ م).

باطن او ظاهر: نوموړی ظاهر د باطن لپاره پُل ګڼي او د ظاهر جوړښت هم د باطن لپاره اړین بولي، لکه چې وايي:

چـې ظـاهر پـه شرعـه نـه وي اسـتوار
د بـــاطن لافـــې دې نـــه وهـــي کـــوار
ظـاهر پـول دی و بـاطن تـه پـرې تېرېـږي
تـــر منزلـــه بـــه دې ورولي پـــه وار
هـر سـړی چـې څـه کـري هغـه بـه لـو کـا
چـــې وربشـــې کـــري نـــه اخـــلي غـــنم
کـه بـارداره ښـځه مـار راوړي بهـتر دی
تـــر فرزنـــده چـــې يـــې راوړي نـــا همـــوار
(۲۸: ۸۵ م).

په ځوانۍ غرور نه کول: نوموړی صورت او صحت د الله ج ورکړه بولي او وايي چې پرې غرور او نازېدل نه دي پکار او دا د الله ج ورکړه ده هر وخت چې زړه شي اخلي يې، لکه چې وايي:

دا صورت به همېش نه وي څه پرې ويـاړې
عاريـــت دی لکـــه څـــه د چـــا وغـــواړې
هر زمان چې يې رضـا شي بيـا يـې واخـلي
سـتا پـه ډېـره ژړا څـه شي کـه تـه ژاړې
هـېڅ دارو د مـرګ پـه رنـځ کـې اثـر نـه کـا
د صـحت پـه ورځ دارو شي خپلـې لاړې
دا دنيـا څـه د اسـتوګې مقـام نـه دی
تـه بـه څـو د پلـه پـه سر بانـدې ولاړ يـې
(۲۸: ۹۲ م).

اخلاص: په هره چاره کې اخلاص بهتر ګڼي او وايي که څوک د الله ج بندګي په اخلاص سره وکړي؛ نو د څښتن تعالی له عذابونو به نجات ومومي، لکه چې وايي:

هـر بنـده چـې بنـدګي کـا پـه اخـلاص
د څښـتن لـه عـذابونو بـه شي خـلاص
چـې شـبنم په تواضـع تـر ځمکـې راشي
بيـا لـه نمـر سره پـه پورتـه ځـي رقـاص
کـه دانـا يـې لـه نېسـتۍ خـاک راه شـه
چې قدم دربانديې پاس ږدي خاص و عام
دوبـاره لـه خپلـه ذاتـه سره يـو شي
هر څخويکی چې په يم کې شي القاص

(۲۸: ۱۱٦ م).

له دنيا څخه تګ: يونس زموږ تګ دلته د موقت وخت لپاره بولي او وايي چې دا هر څه به وي، خو موږ به نه يو او زموږ ځای به نورو نيولی وي، لکه چې وايي:

دا جهـان بـه برقـرار وي مـوږ بـه نـه يـو
پـه هـوس بـه يـار و يـار وي مـوږ بـه نـه يـو
خلقـــات بـــه د ګلونـــو ننـــداره کـــا
لور په لور به ښـه ګلـزار وي مـوږ بـه نـه يـو
د چمـن نـوې غـونچې بـه غوړيـده شي
د بلبلـو بـه چغـار وي مـوږ بـه نـه يـو
عاشـقان بـه صـفت کـا د معشـوقانو
ځای په ځای به ښه ګفتار وي موږ به نه يو

(۲۸: ۱۷۵ م).

د عالمانو ستاينه: عالمان ستايي او په ستاينه کې په لاندې ډول وايي:

دا بيـان د زړه پـه غـوږ واورئ يـارانو
درسـت لـه مدحـه د علـماء و د شـېخانو
عالمـان يـې د ظـاهر علـم څـراغ دي
درويشـان يـې بـاطني چـراغ دی انسـانو

په هر ځـای کـې بـه درسـونه ویـل کېـږي

هغـه ځـای بـه زهـرې چـوي د شـیطانو

درویشـان چـې حلقـې جـوړې کـا د ذکـر

نـــور وربـــږي د څښـــتن پـــه ذاکرانـــو

(۲۸: ۱۷٦ م).

دیني مسایل: په دېوان کې د نورو دیني مسایلو تر څنګ د اودس او غسل په باب هم راغلي، لکه:

درتـــه وایـــم پـــه څـــو رنګـــه اســـتنجا ده

کـــه طالـــب یـــې زده کـــوي زمـــا رضـــا ده

څلـور فـرض، یـوه واجـب، یـوه سـنت ده

مسـتحب، احتیـاط هـم وشـمېره رواه ده

او نهـــم بـــدعت ده پـــرې خـــبر شـــه

حسـاب شـوې پـه کتـاب کـې نـا سـزا ده

فـرض د حـیض و د نفـاض او هـو د غسـل

څلـــورم چـــې پلیتـــي تـــر درم بـــالا ده

(۲۸: ۱۷۸ م).

د یونس په دېوان کې د دې پورته ذکر شویو مسایلو تر څنګ ګڼې نورې خبرې او موضوعات هم راغلي هره خوا او هر اړخ یې څېړلی.

د نجیب پېژندنه

تر دې وړاندې مو د رحمان بابا د ادبي مکتب بل دېوان لرونکی شاعر در وپېژانده، په دېوان او اشعارو یې خبرې وشوې، اوس نو د رحمان بابا د ادبي مکتب بل پیرو او دېوان لرونکی شاعر نجیب پېژندنه کوو، په دېوان او اشعارو یې خبرې کوو.

د نجیب ژوند او حالات تر ډېره په تیاره کې دي، یوازې د دېوان له داخلي شهادتونو څخه یې دومره معلومېږي چې نوموړی د سربند دی او په قوم خلیل دی. نوموړي خپلې قبیلې ته د مونډو څرېن او غوري خښی ویلی دی. ژوند یې هم تر (۱۱۷۸هـ) پورې یقیني دی دا تاریخ د نجیب د یوې مرثیې په یوه بیت کې راغلی دی. له دې ور هخوا یې د ژوند او حالاتو په اړه هېڅ قسمه معلومات زموږ په لاس کې نشته، خو له نېکه مرغه چې د اشعارو دېوان یې په لاس کې لرو، په اشعارو او دېوان به یې تر دې وروسته په هر اړخیز ډول بحث وکړو.

د نجیب شاعري

د نجیب له شاعري څخه موږ ته دا جوتېږي چې نوموړی یو ښه، پوه، عالم او فاضل شخص و چې په دې باب خپله وایي:

هالــه پســه بــه دا شــان غــزل ووایــي

هر شاعر که خدای نجیب غوندې فاضل کا

(۷۰: ۳م).

په اشعارو کې د هرې خوا تر څنګ د هجران غم هم یاد کړی او وایي چې د دېرشو کالو په عمر د هجران غم زوړ کړم لکه چې وایي:

لا بــرش کالــه مــې د عمــر پــوره نــه دي

بیـا نجیـب سـتا د هجـران غمونـو پـیر کـړم

(۷۰: ۱٦۴م).

د نجیب د دېوان له مطالعې څخه موږ دا ویلی شو چې نوموړی د خوشحال، رحمان، حمید، هجري، عبدالقادر او شیدا څخه وروسته نورو شاعرانو کې د اولني کتار شاعر دی. نجیب د رحمان بابا د سبک پیرو دی، چې په ډېرو اشعارو کې د رحمان بابا ذکر په احترام سره کړی دی او په اشعارو کې هم د رحمان بابا ژور تاثیرات له ورایه معلومېږي.

باید ووایو چې نوموړي د خوشحال د ځینو اشعارو په ډول شعرونه هم ویلي او د حمید مومند د اشعارو په څېر یې هم ځینې اشعار ویلي دي، چې بېلګې یې په دېوان کې کتلی شو. د نجیب په دېوان کې د ښکلو

او زړه راښکونکو اشعارو کمی نشته چې د ټولو راوړل یې دلته ستونزمن دي. هغوی چې د لوستلو او له دې ښکلاو څخه خوند اخیستل غواړي دېوان دې یو ځل ولولي. په اشعارو کې نوي تشبهات او د نزاکت انتها هم موجوده ده، لکه چې وایي:

هسې شان زما یار لطیف رخسار دی

چې شمال ورباندې هم ږدي پرهرونه

(۷۰: ۱۷۷م).

د نجیب د شاعري په باب په همدې پورته خبرو بسنه کوو او د موضوع اړوند نور بحث ته دوام ورکوو.

د نجیب د دېوان ځانګړنې

د نجیب دېوان چې ترتیب، تدوین او دېباچه یې خیال بخاري کړې اول ځل په (۱۹۷۲) کال د پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي له لوري چاپ شوی دی. په دېوان کې لومړی څو مخه د نجیب د دېوان او نور خواوو په هکله خبرې شوي او د نوموړي د شاعري په هکله هم خبرې لري، تر دې وروسته د نوموړي د دېوان اصلي برخه اشعار شروع کېږي چې لومړی برخه یې غزلې دي او له غزلو وروسته یې په دېوان کې رباعیات راغلي چې له رباعیاتو سره یې دېوان پای ته رسېږي. هېره دې نه وي چې په دېوان کې فارسي غزل هم شته چې وروسته به یې نمونه ذکر شي.

د نجیب د دېوان شعري فورمونه

د نجیب په دېوان کې لاندې فورمونه راغلي دي:

په دېوان کې لومړی برخه غزلې دي چې د بېلګې لپاره یې څو بیتونه دلته راوړو:

چـې خـبر دي سـتا د سـترګو لـه رمـوزه

پــه هغــوی ده غــیره مینــه لایجــوزه

اور د هجر مې چې بل شه پـه زړه بـادې

له تندي مـې ځکـه خېـژي شـنه ډ ډوزه

دا دلبر دی چې په ځمکه باندې ګرځـي

فرښــته کــه لــه اســمانه ده راکــوزه

جـدایي دې هسـې وسـوم سر تـر پایـه

لکـه پـورې کـا څـوک اور پـه وچـه دروزه

(۷۰: ۸٦م).

فارسي غزل

په دېوان کې د راغلي فارسي غزل څو بيتونه په لاندې ډول دي:

جـانم شـود فـدايت

قـتلم اگـر پسـندی

چيزی به من عطا کـن

بر هر دو لبـت قنـدی

هجـرت بـه مثـل اتـش

مـن چـو کـنم انـندی

سر و ز قـدت پسـته

داری چنـان بانـدی

(۷۰: ۲۹۳م).

رباعي

د نجيب په دېوان کې له غزلو وروسته رباعيات راغلي چې يوه رباعي يې په لاندې ډول ده:

چې يې خبر شوم لـه حقيقتـه

توبـه مـې وکښـه لـه محبتـه

چې دا احوا دی د عشق نجيبه

بل فعل مـه کـړه بـې لـه عزلتـه

(۷۰: ۳۰۲م).

د نجيب د دېوان منځپانگه

د نجيب اشعار د محتوا له اړخه هم ګڼې خواوې لري او زيات موضوعات يې په خپلو اشعارو کې راوړي دي چې موږ به يې له ځينو اړخونو څخه دلته يادونه وکړو.

د دنيا بې وفايي: دا دنيا بې وفا او مکاره ګڼي، د شېبې اعتبار هم ورباندې نشته او د برېشنا په شان يې ګڼي، لکه چې وايي:

جفـــا کـــاره بـــې وفـــا ده دا دنيـــا

بـــې وفـــا هـــم بـــې بقـــا ده دا دنيـــا

په ساعت کې مخ څرګند کاندي بيا نـه وي

تــه بــه وايــې چــې برېښــنا ده دا دنيــا
ډېــر عــالم دي پــه ارمــان ورځنــې تلــلي
نـــه بـــه شي نـــه د هيچـــا ده دا دنيـــا
(۷۰: ۱م).

د يار ستاينه: د يار مخ له گلونو سره تشبيه کوي او د يار زلفې په ختن نه ورکوي، لکه چې وايي:

ســتا د زلفــو خــم چــې شــه مســکن زمــا
پـــه ذره نـــه دی پکـــار خُـــتن زمـــا
د مجنون، فرهاد په طور ستا په عشق کې
بــر کوهســار شــه همېشــه وطــن زمــا
د چمـــن گلونـــه څـــه کړمـــه عالمـــه
د يـــار مـــخ دی ښايســـته چمـــن زمـــا
زه نجيــب ســتا لــه کويــه څرنگــه درومــم
چــې ســتا زلفــې شــوې د پښــو رســن زمــا
(۷۰: ۸م).

له عاشقي شکايت: کله کله پرې د هجران غم زور شوی او عاشقي يې له تورې بلا سره تشبيه کړې، لکه چې وايي:

عاشقي توره بلا ده خـدای دې څـوک پـرې اختـه نـه کـا
د کل درد و غم ماوا ده خدای دې څوک پرې اخته نه کا
عاشقان پکـې تـل سـوځي چـې مهجـور شي لـه خوبـانو
تر سـقره بـده لا ده خـدای دې څـوک پـرې اختـه نـه کـا
عقل و هوش لـه سـړي يـوسي دېوانـه لکـه مجنـون شي
دا خاصه يې ابدا ده خدای دې څـوک پـرې اختـه نـه کـا
چې هر څوک پکې دا خل شي تل تـر تلـه لا يعقـل شي
د جنون مخ تـه قـلا ده خـدای څـوک پـرې اختـه نـه کـا
(۷۰: ۱۲م).

د الله ج ثناء او د حضرت محمد ص ستاينه کوي، د دې مبارک په طريقو او درود ويلو ته مو رابولي، لکه چې وايي:

صـــبح و شـــام پـــه ژبـــه وايـــه
د بـــاري تعـــالی حمـــد وثنـــا
پـــس لـــه دې صـــلوت وايـــه
پـــــه احمـــــد مصـــــطفی ص
هـم پـه ال هـم پـه اصـحابو يـې
هـــــم د ده پـــــه رُفقـــــا
گوندې وي خدای دې غفار شي
ځـای يـې کـه سـتا جنـت مـاوا

(۷۰: ۱۸م).

احتياج: د احتياج په باب وايي چې له زمري څخه گيدړ جوړوي او د انسان لپاره تر ټولو بد حالت احتياج گڼي، لکه چې وايي:

هغـه څيـز چـې مـزری کـا گيـدړ مـزاج
احتيـــاج دی، احتيـــاج دی، احتيـــاج
زيست روزگار يې بې عزت و بې حرمت وي
گر چې پلار شي خپـل فرزنـد و تـه محتـاج
ســتا پــه هجــر کــې زمــا د زړه ارامــه
خـوږ ژونـدون پـه مـا تـر زهـرو شـه اُجـاج
هــېش اوښــکې تويــوم لــه دواړو ســترگو
دا ســتا هجــر پــه مــا کېښــود دغــه بــاج

(۷۰: ۴۵م).

د رقيب غندنه: د نجيب په اشعارو کې په ډېرو ځايونو کې د رقيب غندنه شوې او خورا بد يې ورڅخه ويلي، لکه چې وايي:

د ښــکنځلو پــه رقيــب مــه کــړه مکېــز
مــه ســپاره و دغــه خــره تــه دا پــالېز
اوس منـه د زنـې راکـړه چـې يـې وخـورم
رنـخ د هجـر کـړم خفـه پـه ډېـر پرهېـز

چې بې تا چوي گل گشت کوم صنمه
هر یو گل تر خاره لگي په ما تېز
هسې نه چې دې په خط حسن کمتر شه
لا اوس راغی یاره ستا د حسن خېز
(۷۰: ۸۷م).

د نفس نه قانع کېدل: نجیب وایي چې نس نه قانع کېږي او که ټوله دنیا پرې وخورو هم نه وایي چې بس، وایي چې ځان باید د نس غلام نه کړو او له اخته کېدو یې باید خان وساتو، لکه:

که دې وخوړ تمامي جهان په نس
ده یو ځل درته ونه ویل چې بس
هسې شان یې د دنیا په جال کې نښتی
لکه نښتی وي په شهدو کې مگس
جوړه وه د دنیا له جاله خبردار شه
پرې به وسوځې اخر لکه ققنس
یو راحت که پکې شته دی څوک یې څه کا
زحمتونه د دنیا دي یو په لس
(۷۰: ۸۹م).

ویرنه: د دوست په مرگ یې ساندې ویلي، لکه:

چې اواز مې ستا د مرگ تر غوږو تېر شه
راښکاره راته خوږ ژوند زهرو گنډېر شه
له درختې د ځوانۍ دې ونه خوږ
بې مدې دربانديې سېر د اجل شېر شه
لکه بند کاندي مارغه څوک په قفس کې
زړه مې هسې ستا په مرگ په غم کې گیر شه
خوشحالي هوس له مانه کناره شو
گرد و غم دې همېشه تر ما چاپېر شه
(۷۰: ۱۰۶-۱۰۷م).

حقیقي عشق: په دېوان کې ځینې شعرونه د حقیقي عشق نمونې هم دي، لکه چې وایي:

ستا په عشق کې چې د چا څيرې ګرېوان شه
هغه حوک ګوره د کل مخلوق سلطان شه
ګونـدې وي پکـې د وصـل دُر بيـا مـومم
که له سترګو مې د اوښکو جوی روان شه
يـار چـې راکښـوده لينـده د کـرو وروځـو
د حـرم غزالـه هـم ځنـې لـړزان شـه
ځکـه بيامونـد کرامـت پـه مخلـوق دوی
مشرف چـې سـتا پـه مينـه هـر انسـان شـه
(۷۰: ۱۱۰م).

بېلتون: له بېلتونه سر ټکوي او د هجر سختې د وصل له خوندونو ډېرې زياتې ګڼي، لکه چې وايي:

چـې مـې وليـده د هجـر شـدتونه
فرامـوش مـې شـو د وصـل لذتونـه
لکـه تـه چـې پـه مـا جـور کـړې دلـبره
کـافر نـه کـا پـه مسـلم هـومره جورونـه
ستا په غم کې مې په مخ ځې دومره اوښکې
لکـه دي چـې نربـدا نـدي سـيندونه
دا شـبنم دي د ګـلاب پـه ورق بانـدې
کـه خـولې دي يـاره سـتا پـه عذارونـه
(۷۰: ۱۷۵م).

د فلک له چارو شکايت: کله کله ډېر ودردېږي او له فلکه شکايت وکړي، بېلګه يې لاندې ليدلی شو:

چـې کـړې ناسـازې پـه مـا فلکـه
معلـوم شـو خـوا د ده و ماتـه ډکـه
خلاص به نجيب شم له تانه څرنګه
راپسـې ګرځـې مـلا بسـته کلکـه
(۷۰: ۳۱۳م).

د نجيب په ديوان کې زيات موضوعات ذکر شوي، خو زموږ څېړنه د نورو موضوعاتو د رااخيستلو اجازه نه راکوي.

د میا نعیم پېژندنه

زموږ د بحث موضوع د رحمان بابا د ادبي مکتب بل دېوان لرونکی شاعر میا نعیم دی چې لومړی به یې لنډه پېژندنه وکړو او بیا به یې پر شاعري، دېوان او نورو خواوو بحث وکړو.

د میا نعیم د دېوان په سریزه کې چې د خیال بخاري له لوري لیکل شوې ده ویل شوي چې: (میا نعیم د شېخ دوست محمد خان زوی او د شېخ محمد سعید لمسی دی، په قام خلیل مهمند دی. په شپږم پښت شېخ امام الدین چې په پېښور کې ښخ دی او په اووم پښت کې شېخ کبیر ته چې په تنوخ کې مدفون دی رسېږي.) (دېوان میا نعیم:۱۰)

د نوموړي د پیدایښت او د ژوند په هکله بېلا بېل نظرونه موجود دي چې د دېوان له اشعارو او د هغه وخت له پېښو څخه داسې ښکاري چې د پیدایښت نېټه به یې (۱۱۸۰ هـ) شاوخوا وي. په همدې په باب د نوموړي د دېوان په سریزه کې د خیال بخاري له خوا ګڼې نورې خبرې هم راغلي دي، چې دلته یې د ټولو راوړل اړین نه بولم او د نعیم په باره کې په همدې پورته لنډه پېژندنه بسنه کوم، ځکه چې د نوموړي په باب نورې ټولې خبرې په قیاسي شکل دي.

د میا نعیم شاعري

د میا نعیم شاعري چې په عمومي ډول ساده او روانه ده، همدارنګه یې د ښکلا او لوړوالي برخه هم قوي ده، دیني مسایل او نصایح هم پکې تر ډېره لیدل کېږي او د رحمان بابا تاثیرات یې په اشعارو کې هم شته، په زیاتو ځایونو کې د رحمان بابا د اشعارو قافیې راوړي او د نوموړي له ترکیبونو یې هم استفاده کړې ده. په اشعارو کې د هغه وخت مطابق لفظي او بدیعي صنایع هم تر سترګو کېږي او یاده برخه یې هم پاللې ده.

په اشعارو کې داسې ښکلي تشبیهات هم کارولي چې تر اوسه پورې هم هماغه پخوانی خوند پکې شته او له منځه تلونکي نه دي، د دې پورته ټولو ځانګړنو ثبوت به یې د دېوان د منځپانګې په برخه کې وګورو.

د میا نعیم د دېوان ځانګړنې

د میا نعیم دېوان چې دېباچه، ترتیب او تدوین یې خیال بخاري کړی او د پښتو اکېډمي پېښور یونېورسټي له لوري لومړی ځل په (۱۹٦۴) اګست کې چاپ شوی دی. پر دېوان یې له اول مخ څخه تر نهه ویشتم مخ پورې د خیال بخاري لیکنه راغلې چې د میا نعیم د ژوند او ټبر په هکله او همدا باب د نوموړي د دېوان او نورو خواوو په هکله مفصل لیکل راغلي دي، تر دې وروسته د دېوان د اشعارو برخه شروع کېږي چې په دېوان کې راغلي نږدې ټول اشعار یې غزلې دي.

هېره دې نه وي چې د دېوان اشعار يې نيمګړي دي او ځينې برخې يې نشته، همدا ډول د دېوان په وروستۍ برخه کې فارسي اشعار هم شته چې له همدې سره يې دېوان پای ته رسېږي.

د ميا نعيم د دېوان شعري فورمونه

د ميا نعيم دېوان چې يوازې پکې غزلې راغلي دي، چې فارسي او پښتو دواړه غزلونه پکې شته، د پښتو برخه يې ډېره او د فارسي يې يو څو غزله دي، چې دلته به يې د دواړو څو څو بيتونه د نمونې په ډول راوړو:

غزل: په دېوان کې د راغلي غزل څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

يـاره مـا لـه تـا ليـدلې خطـا نـه ده
دا خطـا واړه لـه ده لـه تـا نـه ده
چې له نازه دې رخسار په زلفو پټ کـه
پـه تمـام جهـان تيـاره شـوه رڼـا نـه ده
هسې اور مې ستا د لبـو پـه زړه بـل شـه
چـې دا رنـګ سـوې سـينه د لالا نـه ده
چې وما غوندې مجنون ته نصحت کړې
معلـومېږي تـا ليـدلې لـېلا نـه ده

(٦٩: ٦٠م).

فارسي غزل

د ميا نعيم د دېوان په اخره برخه کې د نوموړي څو فارسي اشعار هم راغلي دي چې د يادې برخې د يوه غزل څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

کوتـاه دسـت شرح بـدامان نميرسـد
فرصـت نبـود کلـک لبـان نميرسـد
چـون اتـش فـراق بکلکـم رسـيد سـوخت
بـر اهـو بـر فريـاد مـن اسـمان نميرسـد
چون گلشن حريم تو ماوای بيدلان است
بلبـل چـرا بوصـل گلسـتان نميرسـد
گـر مـدعی هـزار تلطـف کنـد بمـن

امـــداد کـــافران بمســـلمان نمـــيرسر

(٦٩: ١٥٤م).

د ميا نعيم د دېوان منځپانګه

ميا نعيم په هره برخه کې شاعري کړې او ډېرى خواوې يې په خپلو اشعارو کې رانغاړلي دي دلته به يې د ځينو برخو يادونه له بېلګو سره وکړو:

د دنيا په باب: نعيم دا دنيا داسې يو ګرداب ګڼي چې وايي ډېر عالمونه يې ډوب کړي دي او هيڅوک پرې نه مړېږي، لکه چې وايي:

کـــه شـــمارم جـــورو عتـــاب د دې دنيـــا
نـــه را درومـــي پـــه حســـاب د دې دنيـــا
سرفـــرازه يـــې همـــه واړه سرنګـــون شي
تـــورو خـــاورو کـــې شـــباب د دې دني
سر سامان يې په هېڅ ځاى کې ښکاره نشته
عالمونـــه شـــو غرقـــاب د دې دنيـــا
هـر يـو کـار يـې بـې بقـا هسـې ښـکارېږي
لکـــه کرښـــه وي پـــه اب د دې دنيـــا

(٦٩: ٣٦م).

له ياره شکايت: نوموړى وايي څومره چې غواړم يار ته نږدې شم، همدومره راڅخه ليرې کېږي او ځان د يار په غم کې لکه نکريزه بولي او وايي:

کـه هـر څـو ويـار تـه وکـړم تمنـا
صـد چنـدان را څخـه شي پـه اسـتغنا
د ګلرنګـــو د چمـــن د سرو ګلونـــو
صبح و شام کړم عندليب غوندې غوغا
پټ لړمون يم رنګ په وينو ستا له غمه
پـه ظـاهر يـم شـين زرغـون لکـه حنـا
کـــه جفـــا ده کـــه وفـــا د مهرويـــانو

مـــا ده کـــړې پـــه دا دواړو امنـــا

(٦٩: ٣٦م).

د یار ستاینه: په دېوان کې داسې ډېر اشعار هم شته چې یار ستایي، د مشرق او مغرب رڼایي د یار د بشر بولي، چې وایي:

راختلـــــی تـــــر مشرـــــقه نمـــــر دی دا
چـــې لـــه خلقـــو تمـــامي بهـــتر دی دا
په شنه خط کې سپینه خوله ده د خوبانو
کـــه ســـبزه کـــې د جنـــت کـــوثر دی دا
چـــې زیلونـــه راتـــه واچـــوي د زلفـــو
نـــور مـــې وایـــي هغـــه یـــار اوتـــر دی دا
چـــې مـــې وینـــي تویـــه وي د زړه لـــه سره
ســـترګې نـــه دي د اشـــنا خنجـــر دی دا

(٦٩: ٣٩م).

نوموړی د مجلس د یارانو په فراق کې وایي او په دې اړه ساندې غږوي چې وایي:

لاس کـــه پـــورې تمـــامي جهـــان پـــه کـــوچ
رانـــه بېـــل شـــو د مجلـــس یـــاران پـــه کـــوچ
تـــرې نـــه پـــاتې شـــو د بـــاغ زېـــړي ګلونـــه
بـــې نـــوا ورځخـــه شـــه باغبـــان پـــه کـــوچ
بلـــبلان پـــه چغـــو سر دي پـــه ګلشـــن کـــې
سره ګلونـــه کـــړه تعیـــین خـــزان پـــه کـــوچ
چـــې توســـن ویـــئ فلـــک تېـــزه لـــه نـــازه
هغـــه خلـــک کـــه زمـــانې ســـتومان پـــه کـــوچ

(٦٩: ٥٧م).

عمر تلونکی بولي او وایي چې هر څوک به خپل روح هم یوازې پرېږدي او د عمر چمن به خزان شي، لکه چې وایي:

تـــل بـــه نـــه وي شـــګفته ګلشـــن د عمـــر
عاقبـــت بـــه شي خـــراب وطـــن د عمـــر

د هـر چـا د روح بلبـل بـه ورنـه لاړشي
وار پـه وار بـه شي خـزان چمـن د عمـر
د جـرس پـه نـارو پاسـه ځـان تيـار کـړه
چې دې نه کوي کـاروان مسـکن د عمـر
د ريبـــار پـــه ننواتـــو نـــه جـــار ووزي
هســـې درومـــي مـــرور مئـــين د عمـــر
(٦٩: ٦٦م).

غماز غندنه: وايي که غماز مې په لاس راشي نو په وينو به يې لاسونه سره کړم او دومره ډېر بدي يې ترې ليدلې لکه چې وايي:

يـــو وار مـــې برشـــوی د غـــماز پـــه قتلـــول لاس
سره مې کړې دده په سرو وينو باندې تر منګل لاس
اوس کـه هـر څـو غـورځې تـر کمـرو نـه خلاصـېږې
ســـتا و تـــورو زلفـــو تـــه چـــې اچـــاوه ســـنبل لاس
دا د مشـکين خـط کـه تـار پـه تـار بـازار د حسـن
يـــا زنګيـــانو پـــورې کـــه پـــه ترکـــو پـــه مغـــل لاس
ســـتا و ګلرخســـار تـــه د حســـن پـــه تعريـــف کـــې
نـــه رســـېږي هـــېڅ زمـــا د فکـــر د بلبـــل پـــه لاس
(٦٩: ٧٨م).

اخلاص: د اخلاص قدر ډېر لوړ ګڼي او وايي چې د اخلاص په واسطه کولی شي تر عرشه پورې سړی ورسېږي:

هســـې رنـــګ قـــدر لـــوی دی د اخـــلاص
تېر تر عرش تـګ د پـوی دی د اخـلاص
خانقـاه دی کـه مسـجد کـه بتخانـه ده
په هرځـای کـې ګفتګـوی دی د اخـلاص
دا مجنون نه دی چې ورکه ليلی غـواړي
دغـــه واړه جســـتجوی دی د اخـــلاص
بلـــبلان کانـــدي چغـــار پـــه سرو ګلونـــو

په چمن کې هاى و هرې دى د اخلاص

(٦٩: ٨٩م).

د رسول الله په ستاينه کې وايي:

فرمان چې رب وتاوته دارنگ وکه چې قل
فخر عرب عجم شوې سر شوې د کل رسول
رخسارو قد و قامت ستا دى پراز لطافت
ارمان يې خوري په باغ کې سو چنارو گل
موصوف شولې په طه القاب رب وکه يسين
قران که خپل الهى دا رنگ په تا نازل
مالک مالک ملائک حورو پرې د ادم
رنگ رنگ کا ستا ستايش ناطق په دا دلل

(٦٩: ١١٩م).

له وطنه جدايي: د رقيب له لاسه وطن پرېښود ته اړ کېږي او د وطنه جلاوالى د رقيب له لاسه يادوي چې وايي:

سپى غماز راڅخه بېل کا مئين ورو ورو
ځکه ما ورپسې پرېښود وطن ورو ورو
چې لښکرې پرې د زلفو مسلط کا
مسخرې که خطا او ختن ورو ورو
شنه خالونه تورې زلفې باغ له درومې
درته ژاړي تور سنبل او سوسن ورو ورو
بلبلانو د کج رو فلک له لاسه
وزاغانو وته پرېښو چمن ورو ورو

(٦٩: ١٤٥م).

لکه څنگه مو چې پورته د ميا نعيم د اشعارو د منځپانگې په باب له تاسو سره څو کرښې شريکې کړې او د اشعارو په منځپانگه مو بحث وکړ، نو په همدې پورته کرښو بسنه کوو او د ميا نعيم د ديوان برخه همدلته پاى ته رسو تر دې وروسته به د موضوع مطابق د رحمان بابا د ادبي مکتب اړوند بل ديوان لرونکى شاعر په لنډ ډول دروپېژنو او د ديوان او شاعري په باب به يې خبرې وکړو.

د ملا لتاړ پېژندنه

د منځنۍ دورې د دېوانونو په څېړنه کې د رحمان بابا په ادبي مکتب کې تر ملا لتاړ راورسېدو، نوموړی د رحمان بابا د ادبي مکتب پیرو او د دېوان درلودونکی شاعر دی، د ده د پېژندنې په باب یې د دېوان په سریزه کې د محمد رحیم ځدرانې له لوري په لاندې ډول لیکل راغلي: (ملا لتاړ د دېوان د داخلي شهادتونو له مخې د (١١٦١هـ ق) کال په شاوخوا کې زېږېدلی دی، نوموړي خپل دېوان په (١١٩٠هـ ق) کې بشپړ کړی دی. د مرګ په باب یې کره شواهد نشته او د ځای په باب یې خان غازي کابلي لیکلي چې ملا لتاړ رامپوری و. د دېوان په سریزه کې داسې هم راغلي چې ملا لتاړ د کوزې پښتونخوا د شلمان و او عمر یې په هندوستان کې تېر کړی دی(٥٨: ٧-٨م).

دا هغه خبرې وې چې د دېوان په سریزه او د دېوان د داخلي شهادتونو پر بنیاد د ملا لتاړ د پېژندنې په باب وشوې.

د ملا لتاړ شاعري

ملا لتاړ د پښتو ژبې یو له هغو شاعرانو څخه دی چې مردف دېوان ترې را پاتې دی. دی په خپل دېوان کې وایي چې خپل دېوان یې په نهه ویشت کلنۍ کې پای ته رسولی دی او د خپل صراحت له مخې له دې سن وروسته نور اشعار په دېوان کې نشته.

په دېوان کې تر ډېره عشقي شاعري راغلې ده، همدارنګه د شاعرۍ اخلاقي برخه یې هم درنه ده، ځینې نور اجتماعي موضوعات یې هم په اشعارو کې رانغاړلي دي. دیني، د پند او وعظ اشعار هم د ده په شاعري کې شته دي.

د عشق نارې یې کله په خوږو نغمو بدلې کړي او کله یې د اور سوځونکې په شان منعکس کړي او شکایت ترې کوي. په اشعارو کې داسې اشعار هم تر سترګو کېږي چې د ټولنې نادودو ته هم ګوته نیسي او شکایت ترې کوي. له ځینو اشعارو یې صوفیانه بوی هم ځي لکه چې وایي:

په اخلاص که دې پیدا بوی د وسواس شه

د یقـین ګوتـه دې کـړه پـه خپلـه ورانـه

(٥٨: ١٦٤م).

هېره دې نه وي چې د لتاړ ځینې شعرونه له لوړ هنري ارزښته برخمن دي، ځینې یې له منځني هنري ارزښته او ځینې یې هېڅ هنري ارزښت نه لري. همدارنګه یې په اشعارو کې له عنعنوي اصولو سره سم ادبي صنایع په زیات ډول موندل کېږي.

د لتاړ په اشعارو کې دا پورته لیکلې کرښې بس ګڼم نور به یې د دېوان د منځپانګې په برخه کې له نمونو سره څرګند کړو.

د ملا لتاړ د دېوان ځانګړنې

د ملا لتاړ دېوان چې نقل، مقدمه، لمنلیک او لغتنامه یې د عبدالرحیم ځدران له لوري شوي، په(۱۳٦۷) کال د افغانستان جمهوریت د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو ریاست له لوري چاپ شوی دی. د لتاړ په باب تر ۱۳۴۲ پورې معلومات نه و، خو کله چې په همدې کال د ملا لتاړ او د ده د دېوان په باب په کابل مجله کې لیکل وشو او بیا څو کاله وروسته په پښتانه شعرا څلورم ټوک کې ذکر شو، نو هغه وخت و چې زموږ په ادبي تاریخ کې یو بل نوم ورکی د دېوان خاوند شاعر اضافه شو.

دېوان یې د ډیلي د ملي موزیم د واحدې نسخې له مخې تهیه او له څېړنو سره د سرمحقق ځدران په همت چاپ ته اماده شوی دی. په همدې باب د ځدران له لوري د لتاړ د دېوان په سریزه کې د لتاړ د دېوان د خطي نسخې او نورو خواوو په هکله هم تفصیلي لیکل راغلي دي او له دې لیکلو او څېړنیزې سریزې وروسته د دېوان د اشعارو برخه شروع شوې ده.

د ملا لتاړ د دېوان شعري فورمونه

د ملا لتاړ دېوان چې لومړۍ برخه یې غزلې دي او تر ډېره یې په همدې فورم کې شاعري کړې، خو د دېوان د پای برخه کې متفرقات هم راغلي چې دلته به یې د غزل د نمونې سربېره متفرقات هم راوړو.

غزل

لکه څنګه مو چې پورته هم یادونه وکړه د لتاړ د دېوان د اشعارو لومړۍ برخه غزلې دي چې په دېوان کې د راغلي یوه غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي.

چې په چا شي برابر دلبره ستا مخ
کا په مینه یې اوتر دلبره ستا مخ
له دنیا روخه ګوښه کناره یون کا
لټوې په بحرو بر دلبره ستا مخ
د ګدا په څېر کچکول واخلي په لاس کې
غواړي ګرځي په هر دلبره ستا مخ
د دنیا خوبان تور مخي ورته ښکاري

چې يې کېوځي په نظر دلبره ستا مخ

(۵۸: ۴۵م).

مخمس

له غزلو وروسته يې په دېوان کې د متفرقاتو برخه شروع کېږي چې په دې برخه کې لومړي شعرونه يې د مخمسونو په فورم کې ويلي دي، چې د يو مخمس څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

تـــل به نه کا دغه هسې استغنا

غوږ به کېـــږدې لږ زما په دا وينا

را څرګنده به د حسن کـا برېښنا

ړندې سترګې مې به دواړه کا بينا

زه پوهېږم په اختيار د خپل اشنا

(۵۸: ۲۳۳م).

رباعي

له مخمسونو وروسته يې په دېوان کې څو رباعيات راغلي او له همدې سره يې دېوان پای ته رسېږي چې په دېوان کې راغلې يوه رباعي يې په لاندې ډول ده:

را پـــورې اور د جـــدايي شـــه

اســباب مـــې وران د وداني شـــه

تـور وېښـته سـپين زمـا لتـاړ شـوو

موسم په ما لاړ د ښې ځواني شـه

(۵۸: ۲۴۴م).

د ملا لتاړ د دېوان منځپانګه

د لتاړ دېوان چې د شاعرۍ په باب يې مخکې هم يادونه وشوه، د منځپانګې له اړخه هم ګڼ موضوعات رانغاړي، لکه: عشق، پند، نصحت او داسې نور چې دلته به يې د ځينو د بېلګو يادونه وکړم.

حمد

د لتاړ په دېوان کې لکه د نورو شاعرانو لومړی شعر حمد دی او د څښتن تعالی له ثنا او حمد سره يې دېوان شروع شوی لکه چې وايي:

کـــل ثنـــا ده خدایـــه ســـتا
چـــې تـــه رب یـــې د هـــر چـــا
ښکته پورته چې هر څـه دي
همـــــه واړه دي لـــــه تـــــا
تـه څښـتن د کـل عـالم یـې
بـــل یـــو ســـیال نشـــته د تـــا
واړه خواست کاندي له تـا نـه
کـــه بادشـــاه دی کـــه گـــدا
(۵۸: ۱۵م).

نعت: په حمد پسې متصل د رسول الله ص ستاینه او صفت کوي، لکه چې وايي:

نه یې څوک مخی شته نه یې سیال شته د سیالی
نـه پـه دواړو کونـو کـې لـه ده شـته څـوک سـوا
کل قدرت د ده دی چې ظاهر په خاصو عـام دی
هست کاندي له نېسته بیا یې نیست کاله دنیا
پاڅـــه وي لـــه خـــاورو ادم تخـــت ورلـــره ورکـــا
درومـــــي زر تـــــر زره هغـــــو خـــــاورو لـــــره بیـــــا
مـــــه کـــــوه هغـــــه چـــــارې لتـــــاړه نیـــــا کـــــې
هـــر چـــې دي پـــه دیـــن د محمـــد کـــې نـــاروا
(۵۸: ۱۷م).

د الله ج بندگي ته بلنه: لکه څنگه مو چې وړاندې هم یادونه وکړه د لتاړ په دېوان کې د پند او وعظ گڼې نمونې شته لکه چې وايي:

پورتـــه شـــه غافلـــه لاړه شـــپه ورځ شـــوه پیـــدا
وخـــت د صـــبح دم دی لـــه ښـــه خدایـــه کـــړه ثنـــا
درست عمر دې تېر کړ د غفلت په خواب اوده یې
خوار دې خپـل ځـان کـړ، څـه دې وکـړه د بـل چـا
زیســـــت د ادم زادو د دېوانـــــو ځبلـــــه نـــــه شي
تـــا ځانتـــه ســـاتلې پـــه خـــاطر کـــې ده بـــلا

مات به دې گردن کا دا صورت به دې کا خاورې

تا به له دې دهره په درمان کاندي جلا

(۵۸: ۲۰م).

د دنیا مینه

د دې دنیا مینه ناقصه بولي او وايي هغوی چې د دې دنیا مینه کې ځان اخته کړي ځان باندې به غم انبار کړي لکه چې وايي:

هر چې مینه د فاني دنیا په کار کا

درد و غم به په خاطر باندې انبار کا

عاقبت به و گرنگو ته ور پرېوزي

چې په سمه لاره نه ځي کج رفتار کا

رنگ به نمری کا په خپلو وینو باندې

هر چې لوبې په وی کلي ذولفقار کا

چې پرهېز له بدو نه کاندي یارانو

په عقبا به خدا هغه وگړي خوار کا

(۵۸: ۲۵م).

له بېلتون او هجران څخه سر ټکوي او وايي چې عاشقان د هجران له لاسه په یار پسې داسې ارمان کوي لکه بلبلان چې په خزان کې د گل ارمان کوي چې وايي:

هی هی څرنگ دا د هجر اور سېزل کا

چې فریاد یې مهجوران له سوبه تل کا

پتنگان په ورځ په شمع پسې ژاړي

په خزان کې بلبلان ارمان د گل کا

د هجران سختي له مرگه ده بهتره

خوار عاشق له غمه نوش زهر قاتل کا

له پرهره به یې تل وینې بهېږي

هر چې خښ د بېلتانه غشی په دل کا

(۵۸: ۲۸م).

نصیحت: د نصیحت په ډول د څښتن تعالی بندگۍ ته موږ رابولي:

خدای لا شریک بوله هم ثنا کړه د حبیب
واړوه د زهــرو جــام لــه لاســه د رقیــب
ځیرې د حرص جامه له تنه کړه عاقله
کېنه بې حرصه په قسمت او په نصیب
واړه برابــر پــه دنیــا نــه دي پیــدا شــوي
شته په دا جهان کې زورور خوارو غریب
عمر دې تېرېږي لکه بحر چې بهېږي
لرې له خاطر کړه د دنیا کار و ترتیب
(۵۸: ۳۵م).

د عمر بې وفايي: عمر تلونکی بولي او وايي که هر څومره په خپل عمر غره يې؛ نو په سينه کې به د مرګ غشي وخورې، لکه چې وايي:

غــره مــه شــه د دې عمــر پــه حیــات
خود به وخورې په زړه غشي د ممات
خدای مختاره په دا خپله سودا ته کړې
کــه شــړی پــه بهــا پېــرې کــه نبــات
د هغه جهان لذت به دلې نوش کړې
که دې یون شي په حدیث او په ایات
که بېړی کړې د طاعت په دریاب ګده
غنــي خــدای بــه دې اســان کــا مشــکلات
(۵۸: ۳۸م).

حقيقي عشق: وايي که په حقيقي ډول دلبر ته رسېدل غواړې، نو دا دنيا او د دې دنيا د سيم و زر په کيسه کې مه اوسه لکه چې وايي:

که طلب کړې په رښتيا د خپل دلبر
ترک ته کړه په دنیات کې سیم و زر
تــل ژړا فریــاد کــوه د یــار لــه غمــه
روغ صورت یې کړه په مینه کې ابتر

سر سرتـور پښـې ابلـه ووځـه لـه کـوره

پـــه طلـــب د اشـــنا تـــه شـــه قلنـــدر

د دې دهـر لـه فـاني کـاره وزګـار شـه

لټـوه مـدام خپـل يـار پـه بحـر و بـر

(۵۸: ۵۹م).

د ژوند په باب لارښوونې: لکه څنګه چې په بهار پسې خزان راتلونکی دی، دغسې د عمر رفتن هم له همدې سره تشبيه کوي او وايي:

پـه بهـار پسـې بـه وي خـزان د عمـر

شين به نه وي همېشـه بوسـتان د عمـر

چې موندلی يې وصـال چـا پـه دنيـا دی

خـرد بـه ووينـې هغـه هجـران د عمـر

تل تر تله به يې مقام پـه يوځـای نـه وي

کـوچ بـه وکـا عاقبـت کـاروان د عمـر

شـپه و ورځ کانـدي رفتـار تحمـل نـه کـا

لکـــه بحـــر دی قاصـــد روان د عمـــر

(۵۸: ٦٢م).

مجازي عشق: په دېوان کې د مجازی عشق هم ګڼې نمونې لري او په دې اړه وايي:

زړه مـې کانـدي پـه دلـبر پسـې پـرواز

پـه کـوتره پسـې تلـه کانـدي شـهباز

زه غمجن د عاشقي په غم کې خوښ يـم

که مې خدای کا په دې کـار کـې سرفـراز

بې رحمي به د درست عمر فراموش کـړم

کـه يـو دم شي خپـل اشـنا لـه مـا همـراز

بې د يار له ښکلي مخـه نـور څـه نـه اورم

په هر دم چـې مـې لـه خـولې خپـژي اواز

(۵۸: ٦٣م).

درويشان ستايي او په باب يې وايي:

که داخل شې په صحبت د درویشانو
شې به پوه په حقیقت د درویشانو
په خپل کور کې سلطنت د کل جهان کا
دی دا هسې حکومت د درویشانو
ښوروي په تش کاته خوارلس طبقه
هومره قدر دی قوت د درویشانو
رنځوران د جهان واړه په پرده کې
په دعا مومي صحت د درویشانو
(۵۸: ۱۱۲م).

له یاره شکایت: په مینه کې د یار له ستم او ازارولو څخه زړه خوري او په دې باب وایي:

ولې مې بې درده په سرو سترگو ژړوې ته
غوڅ دې په زړگي کړم اوس پرې مالگې دوړوې ته
ستا د عشق له جوره درست صورت زما کباب دی
ځکه دا کباب نور په سره اور کې لوغړوې ته
تو وېښته دې هسې له ښاماره سهمناک دي
څه لره زلفینې په فلیلو غوړوې ته
ستا صورت چمن دی هر یو گل دی پکې شمع
څه شوو بتنگان چې تور بورا پرې پټوې ته
(۵۸: ۱۳۵م).

پورته مو د لتاړ د دیوان په منځپانگه خبرې وکړې او د ځینو موضوعاتو یادونه مو د منځپانگې په برخه کې وکړه او بېلگې مو هم راوړې، خو په ټوله کې ویلی شو چې دیوان یې تر ډېره وعیظه بڼه لري او د پند او نصیحت بېلگې پکې ډېرې دي، همدارنگه عشقي شاعري هم پکې شته او نورې برخې هم لکه څنگه مو چې ترې په پورته بېلگو کې یادونه وکړه لیدل کېږي.

د ملا جان محمد پېژندنه

ملاجان محمد هم د رحمان بابا د ادبي مکتب پيرو او د بشپړ دېوان لرونکی شاعر دی، چې د زېږېدو دقيقه نېټه معلومه نه ده، د ده د دېوان په سريزه کې په لاندې ډول راغلي دي: (ملاجان محمد کبزئی کاکړ و چې له شمامزي پښې څخه و. ټاټوبی يې د گوشي په سيمه کې شمامزی نومی کلی دی. ملا جان محمد کاکړ(١٢٦٨ ژوندی) د علم په لټه له خپل ټاټوبي ړوب څخه وتلی دی د کندهار، پېښور او د پښتونخوا پر نورو سيمو لکه بنو گرځېدلای دی. ژوند يې (په تاريخ د فرهنگيانو د غزا) له جوره تر (١٨٣٩) پورې يقيني دی.) (دېوان ملاجان محمد:۴)

د ملا جان محمد مړينه هم لکه د نوموړي ژوند په تياره کې ده، د دېوان په سريزه کې په دې باب داسې راغلي دي: (د زوکړې په شان يې د مرگ په اړه په کلکه څه ويل بې ځايه دي. داسې دليل نشته چې هغه دې زموږ مرسته وکړي. د دېوان کومه قلمي نسخه چې ماته پرته ده، پر سر يې حافظ خان محمد خان کاکړ (١٩٥٨مړ) داسې ليکلي دي «دېوان جان محمد کاکړ متوفی ١٢٢٠ سنه» دا نېټه د دېوان له داخلي شهادتونو سره سمون نه خوري. مړينه به يې د شاه شجاع له مرگه (١٢٥٨ ق) وروسته لټوو (٥٧: ٥م).

د ملا جان محمد د مړينې او دېوان بشپړولو په باب د دېوان په سريزه کې گڼې نظريې راغلي چې بيا هم ترې دقيق څه نه جوتېږي.

د ملا جان محمد شاعري

د ملا جان محمد شاعري د مينې په اړه زياته برخه لري، له دې سره يې نور اړخونه هم په خپله شاعري کې رانغاړلي دي، د دنيا د بې ثباتی په باب هم خپل احساسات راسره شريکوي، پند او نصحت هم د نوموړي د شاعري يوه برخه گڼلی شو او په شاعري کې موږ ته په مخه راځي، په ځينو ځايونو کې د تصوف او وحدت څرکونه هم په شاعري کې شته دي. په اشعارو کې د شاه شجاع د پاچاهي ذکر بېخي ډېر راغلی دی چې يادونه يې په بېلابېلو رنگونو شوې ده. لکه چې يو ځای په همدې باب وايي:

شجاع الملک به خوښ پر تخت دا رنگه نه وي

لکـــه زه د يـــار تـــر غـــم لانـــدې نشـــاط

(٥٧: ١٣٥م).

همدا شان يې په دې په اشعارو کې وطن دوستي، د مينې نغمې، تلمېحات، نزاکت، فکري لوړوالی، عقېدې او عقلي دليلونو کلک تصويرونه شته. په همدې ترتيب يې په اشعارو کې نورې هم گڼې خواوې څېړلي دي، چې له ځينو څخه به يې د دېوان د منځپانگې په برخه کې يادونه وکړو.

د ملا جان محمد د دېوان ځانګړنې

د ملا جان محمد کاکړه دېوان چې سریزه، کتنه او ویپانګه یې عبدالکریم عامر کړي، د دانش خپرندویه ټولنې له لوري په (۱۳۹۲ل) کال چاپ شوی دی. په یاد دېوان د عبدالکریم عامر له لوري یوه څېړنیزه سریزه لیکل شوې چې د ملاجان محمد له ژوند څخه نیولې د ده د شاعري او د دېوان په هکله یې پر ټولو خواوو بحث کړی دی. په سریزه کې د نوموړي د قلمي او چاپي نسخو په باب هم خبرې شوي دي او د ده د ځینو نورو اثارو یادونه هم شوې ده.

دا دېوان چې زموږ په لاس کې دی پکې د ملا جان محمد ۱۴۰ غزلې، ۴ مخمسونه، ۳ مثنوي او ۲ مناجات راغلي دي چې له هر شعري فورم څخه به یې د دېوان د شعري فورمونو تر سرلیک لاندې یادونه وکړو.

د ملا جان محمد د دېوان شعري فورمونه

د ملا جان محمد دېوان چې پکې د غزلو په شمول ځینې نور شعري فورمونه هم شته، له هر یو څخه به یې دلته څو څو بیتونه د نمونې په ډول راوړم.

غزل

د ملا جان محمد کاکړ په دېوان کې د نوموړي د اشعارو لومړی برخه غزلې دي، چې په دېوان کې د راغلي یو غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

الهـــي خدایـــه وماتـــه مـــخ د یـــار را
نرګس سترګې غونچه خوله سمن رخسار را
درست جهان به یې د ورځو پـر کـج ورکـړم
لـــه جهانـــه پـــه دغـــه ګوشـــه ګـــذار را
پـــر سر تـــوره وړم تـــر تـــاج د بادشـــاهۍ
ســتا لـه لاســه یــې پـر سر بانـدې ګـذار را
پـــر مـــا تـــوره شـــپه ده ســـتا د تـــورو زلفـــو
پـــه طلـــوع صـــادق فجـــر د ســـهار را

(۵۷: ۱۷م).

مثنوي

د ملاجان محمد په دېوان کې له غزلو وروسته د نوموړي څو مثنوي راغلي چې د یوې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

کـه دې مینـه کـړه د خـدای او د رسـول
بیـا بـه سـې پـه در د هریـوه مقبـول
هغه څـوک چـې پـه دا ښـه کـې روان سي
دی باچـا د دې جهـان مـخ د جهـان سي
د فتنـو د دواړو کونـو بـه سي خلاصـه
کـه یـې مینـه پـر خـواص کـړه پـه اخلاصـه
عاشـقي لـه یـوه خدایـه سره ښـایي
چې بې خدا دي هغه خان په ختـو بیـایي
(۵۷: ۳۱٦م).

مخمس

په دیوان کې له مثنوي څخه وروسته څو مخمسونه هم راغلي چې د یوه مخمس څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

خـدا قبولـه مـې کـړې سـتا پـه در دعـا
زما نصیب کـړې د محبـوب د خلـې وینـا
بـې لـه تـا مـې امیـد نسـته د بـل چـا
کـه نظـر کـړم پـر زمـین او پـر سـما
خـدا نصـیب مـې کـړې وصـال د محبوبـا
(۵۷: ۳۲۲م).

د کاکړملاجان محمد د دیوان منځپانګه

لکه څنګه مو چې د ملاجان محمد د شاعري په برخه کې هم د نوموړي د اشعارو په باب ځینې خبرې وکړې اوس یې دلته د دیوان پر منځپانګه خبرې کوو چې د نوموړي دیوان اشعار د منځپانګې له اړخه هم له مناجات څخه نیولې تر پند، نصیحت، عشق او نورو پورې شته، دلته به یې په هره برخه بحث وکړو او څو څو بیتونه به یې د نمونې په ډول وړاندې کړو.

مناجات: په دیوان کې څو ځایه مناجات راغلي او رب ته یې زاری کړي دي لکه چې وایي:

خـدا ایمـان مـې پـه امـان کـې
سـتا دیـدار راتـه عیـان کـې

پر ما پراخ تنگ گورستن کې

فریـــــــاد رس الهـــــــي

نســـته زمـــا فریـــاد رس

ســتا د در یــم خــاک و خــس

وایـــم دا پـــه هـــر نفـــس

فریـــــــاد رس الهـــــــي

(۵۷: ۳۵۴م).

حمد: د دېوان په پیل کې د څښتن تعالی ثنا او حمد وایي او د دېوان د اشعارو پیل یې هم په همدې کېږي، لکه چې وایي:

ابتـــــدا او انتهـــــا دی رب زمـــــا

افـــرین د هـــر پیـــدا دی رب زمـــا

نــه دی تــن نــه دی نفــس نــه دی روح

لـــه دا منـــع مســـتغنا دی رب زمـــا

نــه خنثــا نــه مــذکر دی نــه مونــث

لـــه دا ټولـــو مســـتثنا دی رب زمـــا

نه صاحب دی نه جسد نه یې جسد سته

بـــې جســـده جســـد دار دی رب زمـــا

(۵۷: ۱م).

نصیحت: د نصیحت او لارښوونې په دود مو د څښتن بنده ګی ته رابولي او وایي:

شـــــــپه او ورځ شـــــــه پـــــــه ژړا

تـــــه ایمـــــان غـــــواړه لـــــه خـــــدا

چـــــې د مـــــرګ ســـــاعت پـــــر درسي

تــه بــه څــو کــړې پــه هغــه ســاعت ثنــا

اوس دې وخت دی زما دله که رښتیا کړې

پــه هغــه ســاعت بــه خــلاص ســې لــه بــلا

دا شیطان غوندې غلیم هم ستا دښمن دی

تــه وګــوره دی بــېخ کنــد دی د هــر چــا

(۵۷: ۲۴م).

نعت: د رسول الله ص ستاینه او صفت کوي، وايي که حضرت محمد ص پر جهان نه وای راغلی؛ نو هیچا به هم دا جهان نه وای لیدلی، لکه چې وايي:

کــه قــدم نــه وای وهلــی پیشــوا زمــا

پــر دنیــا نــه وای راغلــی پیشــوا زمــا

د جهان بوی بـه هیچـا نـه وای لیـدلای

کــه چــا نــه وایــه لیــدلی پیشــوا زمــا

درېدلی به نه عرش کرسی اسمان وای

کــه تــه نــه وای درېــدلی پیشــوا زمــا

لمــر قمــر اخــتر بــه کلــه ځلېــدلو

هــر چــې نــه وای ځلېـدلی پیشـوا زمـا

(۵۷: ۲۹م).

د دنیا بې وفايي: د دنیا هوس او هوا بې ځایه بولي او دنیا ختمېدونکې بولي، د دنیا ژوندون دوه ورځې ګڼي او هېڅ باور پرې نه دی په کار لکه چې وايي:

څــه هــوس څــه هــوا

چې یې ته کړې پر دنیا

دنیــــا واړه ګذشـــته ده

نـور کـه نـن ده کـه سـبا

هېڅ بـارو پـه دنیـا نسـته

بـــې بـــاوره ده پیـــدا

د هر چا ځینې رفتن دی

کـه بادشـاه دی کـه ګـدا

(۵۷: ۴۰م).

د شیطان مکر: په خپلو اشعارو کې د شیطان غندنه کوي او وايي چې مکر یې خلک خراب کړل او د ښښتن رحم دی چې زه د شیطان په مقابل کې ودرېږم، لکه چې وايي:

(٥٧: ٦٤م).

د سالک یادونه: د ملاجان محمد په دېوان کې د تصوف په هکله هم شعرونه شته او ډېرو ځایونو کې د سالک یادونه کړې ده، لکه چې وایي:

هر سالک چې خپل وجود کاندي خراب
خـدای بـه ورکـا محبـت غونـدې شراب
جـام د میـو نصـیبه د هغـه کـس دی
چـې ورکـړی یـې شـیطان تـه وي جـواب
دا جواب څه هسې نه چې په خوله سي
منکـر زړه یـې وي پـه مثـب د کـاب
هغه زړه چې د الله ج له لـور کبـاب سـو
پـه صـفا کـې بـه بهـتر سي تـر افتـاب

(٥٧: ٦٥م).

مینه او محبت: مینه او محبت ستایي او جنت ته یې د تلو لپاره وسیله ګڼي او وایي چې اول مینه، محبت زده کړه بیا د جنت تمه دار اوسه، لکه چې وایي:

راســـه زده کـــړه اول مینـــه محبـــت
دوبـــاره طمعـــه دار اوســـه د جنـــت
جـــدایي دې د یـــارانو مشـــکل کـــار دی
خدایـه دا مشـکل د چـا مـه کـړې قسـمت
په قسمت څوک خپل راضي څوک نـا راضي
زه راضي یـم کـه وصـال دی کـه فرقـت
نازنینـه تـه پـه خپـل حسـن مغـرور یـې
نظـر نـه کـړې د خوارانـو پـر حاجـت

(٥٧: ٧٦م).

څښتن ته سوال زاري: لکه څنګه چې په کل کې د ملاجان محمد دېوان تر ډېره له پند او نصیحت څخه ډک دی، له الله ج څخه د جنت غوښتنه کوي او وایي چې ته مې د رسول الله ص شفاعت په نصیب کړې، لکه چې وایي:

پــه امېــد د شــفاعت

زما تـن کـړې پـه راحـت

يـوه خدايـه بـې ماننـده

په مـا وکـړه ډېـر رحمـت

زه عاجز غريب بنده يـم

برخـه غـواړم پـه قيامـت

په دنيا کې هم لـه مانـه

ســوی نــه دی عبــادت

(۵۷: ۸۲م).

له جانانه شکايت: له ياره سر ټکوي او وايي دومره به څوک په ظلم د سرکار نه وي لوټ، لکه زه چې د يار سترګو لوټ کړی يم. په دې هکله وايي:

داسـې نـه وي څـوک پـه ظلـم د سرکـار لـوټ

لکــه زه يــم ســتا د ســترګو پــه ناتــار لــوټ

يــو خــبر لــه بلقيســه هــد هــد رانــه وړي

واړه عمــر يــې کــړ پــه انتظــار لــوټ

نــه لــه يــاره نــه بــې يــاره يــم عالمــه

تر دغه ميان يې کړم بې صبر و بې قرار لـوټ

د يــوې دانــې د خــال پــه عــوض تــا نــن

واړه عقـل دې لـه مـا کـړ پـه خـروار لـوټ

(۵۷: ۸٦م).

الله ج ته رجوع: ځانته خطاب کوي چې خدای ج ته رجوع وکړه او د دنيا خلکو احتياج مه کوه، لکه چې وايي:

جـان محمـده و کـوه خـدای تـه احتيـاج

تــه لــه خلکــو څخــه مــه کــړه احتيــاج

لــه عالمــه روی ګــردان ســه و خــالق تــه

و نــور چاتــه پــه کــار نــه دی احنتيــاج

کـه تـه برخـه د اللـه ج لـه لـوري غـواړې

تـــل يـــې کانـــده و دربـــار تـــه احتيـــاج
بادشـــــاهان واړه د ده و در تـــــه گـــــوري
تـــه نـــور ولـــې د نـــور چـــا کـــړې احتيـــاج
(۵۷: ۹۲م).

مجازي عشق: د يار په مينه د خوښۍ اظهار کوي او په مجازي عشق کې هم ډېرې نغمې وايي، لکه:

بې حسابه يم په مينـه د خپـل يـار خـوښ
داسې شان به بلبل نه وي په گلـزار خـوښ
د ارام جنـــت بـــازار يـــې پـــه کـــار نـــه دی
هغـه زړه چـې سي د ترکـو پـه بـازار خـوښ
د خوښۍ ضامن يې زه يـم کـه خـوښ نـه و
و هغـــه چـــې درومـــې پـــر دا لار خـــوښ
پـه يـوه رنـگ يـې مسـت کـړی جهـان واړه
که ښکاره يوه لمحه کـړي د رخسـار خـوښ
(۵۷: ۱۹۲م).

اخلاص: اخلاص ډېر لوړ گڼي او په باب وايي:

کـــه قـــدم راوړې پـــه صـــدق پـــه اخـــلاص
مـــرده گـــان بـــه لـــه قـــبرو کـــې پـــه رقـــاص
ســـنبل زلفـــې دې مومیـــا قـــدم کیمیـــا دی
رنځورانـــو لـــه بـــه ژر کانـــدې رصـــاص
د پښو خاورې به يې رانجه کـړې د چشـمانو
زمـــا دلـــه کـــه مـــخ گـــورې د خـــواص
د خـــواص مـــخ د هغـــو خلکـــو لايـــق دی
چې د عشـق لـه غمـه ځـان کـړې پـه رقـاص
(۵۷: ۱۳۱م).

د يار ستاينه: خپل يار له لمر سره تشبيه کوي او تر هر چا يې لوړ گڼي، لکه چې وايي:

یـار زمـا ختلـی لمـر دی

دی له هر چا ځخه بر دی

ځوک یې نه رسي تر قده

کـړی مـا دغـه نظـر دی

لکـه بـدر پـه اسـمان کـې

هسې شان د ده بشر دی

قـد دې سـم لـه د نخـل

هـر انـدام بانـدې ثمـر دی

(۵۷: ۲۵۸م).

پورته مو د ملاجان محمد د دېوان پر منځپانګه خبرې وکړې او د ده د دېوان د منځپانګې په اړه مو ځینې بیتونه هم راوړل. له دې سره سره د ملا جان محمد دېوان کې نور هم ګڼ مسایل شته چې موږ په همدې مشت نمونې خروار بسنه کوو او د ملا جان محمد برخه همدلته پای ته رسو.

د شادمحمد خان پېژندنه

شادمحمد خان د رحمان بابا پیرو او دېوان لرونکی شاعر دی، چې د خپل وخت خان او رئیس و، نوموړی د میر افضل خان زوی، د احمد خان لمسی دی او د لښکر خان کړوسی دی. د مردان خان او د خپل قوم مشر و. د ده په باب د دېوان په سریزه کې ډېرې خبرې راغلي، خو د پیدائښت په هکله یې څه نه دي ویل شوي.

د شادمحمد خان شاعري

د شادمحمد خان شاعري په زړه پورې او با ارزښته شاعري ده، چې د ده په شاعرۍ کتاب کتاب خبرې کېدلی شي، خو موږ یې په هکله دلته یو څو کرښې لیکو. شاد محمد خان چې د رحمان بابا ادبي مکتب پیرو دی او د دې سربېره یې په خپلو شعرونو کې یادونه هم کړې، چې په ځینو اشعارو کې د نوموړي د قافیې په تعقیب غزلې ویلي او د هغه له ځینو استعمال کړو ترکیبونو یې هم استفاده کړې ده.

شادمحمد خان په هره برخه کې شعرونه ویلي دي، د شادمحمد خان شعرونه لکه د رحمان بابا اشعار ساده، روان، عام فهمه او اسانه دي، خو له دې سره لکه د حمید مومند غوندې په اشعارو کې ځانګړې نازکخیالي هم موجوده ده، تشبیهات یې هم په خورا ماهرانه شکل په شعرونو کې پیلي دي او له مجازي عشق څخه تر حقیقي عشق، له پند او نصیحت څخه تر اجتماعي مسایلو او ټولو برخو ته یې د اشعارو نیلی ور رسېدلی دی او قلم یې پکې چلولی دی.

هغه څه چې په ځانګړې ډول د شاد محمد خان په شاعري کې تر سترګو کېږي هغه د نوموړي په غزلو کې د واحدې موضوع تعقیبول دي، نوموړی داسې نه کوي چې په یوه غزل کې څو موضوعات په بېلا بېلو بیتونو کې را ونغاړي؛ بلکې هر غزل یې یوه ځانګړې موضوع تعقیبوي.

په اشعارو کې د تصوف بېلګې هم شته. هېره دې نه وي چې شادمحمد خان د خپل وخت خان او رئیس و او په خپله علاقه یې واک او جاګیر و، خو د نوموړي د دنیا واک او جاګیر سره مینه نه وه او که څوک له مخکې څخه د ده په هکله معلومات ونه لري؛ نو د ده له اشعارو څخه د نوموړي واک او خاني معلومول ډېر ستونزمن دي، ځکه نوموړ په خپلو اشعارو کې هم لکه د یو ملنګ داسې ښکاري او په ژوند کې هم له دومره واک او خانۍ سره لکه د ملنګ ژوند کوي.

پورته مو د شاد محمد خان د شاعري په هکله خبرې وکړې چې د اشعارو ځینې بېلګې به یې د اشعارو د منځپانګې په برخه کې راوړم چې دا هر څه به ترې په ښه ډول څرګند شي.

د شادمحمد خان د دېوان ځانګړنې

د شادمحمد خان دېوان چې حاشې او مقدمه یې ډاکټر سید شاه خیال بخاري کړې او نظر ثاني او تصحیح یې پروفیسر محمد نواز طایر کړی دی، د پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي له خوا چاپ شوي دی. په یاد دېوان باندې تقریباً په سر کې هم له شپېتو مخو څخه زیات لیکل راغلي دي او له دې وروسته بیا د دېوان د اشعارو برخه شروع کېږي چې د اشعارو په پای کې بیا هم د شادمحمد خان، د هغه د کورنۍ او د هغه وخت د پېښو او نورو ګڼو حالاتو په باب په مفصل ډول ګڼ مخونه لیکل راغلي دي.

په دېوان کې یې یوازې غزلې موجودې دي او په ځینو ځایونو کې املایي او ګرامري قواعدو ته نظر نه دی شوی، همداسې ځینې نورې سطحي ستونزې هم لري. د شادمحمد خان د دېوان په هکله نور څه نه وایوو، که څه هم د دېوان په باب یې په سریزه کې ډېرې خبرې شوي، موږ دلته په همدې پورته کرښو بسنه کو.

د شادمحمد خان د دېوان شعري فورمونه

د شادمحمد خان دېوان چې نږدې ټوله شاعري یې د غزل په فورم کې ده او ټول دېوان یې غزلیات دي، په دېوان کې راغلي غزلونه یې د بیتونو د شمېر او څپو د شمېر له مخې سره توپیر لري او ځینې غزلې یې تر پینځلسو بیتونو هم اوږي، چې په دېوان کې د راغلي یو غزل څو بیتونه په لاندې ډول دي.

سپین رخسار دې لکه ګل هسې ښېراز
خـــال د زنـــې دې کـــوتره زړه مـــې بـــاز
د زړه حـــال دې ګـــوره ونـــه وایـــې چاتـــه
شو سنګســار جـې منصـور ووې د زړه راز
عاشـــقي کـــه پټـــه وي کلـــه پټېـــږي
نـــه پټېـــږي چـــې خـــوړلی وي چـــا پیـــاز
عاشقي خاونـد غـلام، غـلام خاونـد کـړي
صـــاف مثـــال دی د محمـــود او د ایـــاز

(۳۹: ۲۴۷-۲۴۸م).

د شادمحمد خان د دېوان منځپانګه

د شادمحمد خان په دېوان کې له پند او نصیحت څخه نیولې تر ستاینې، ویرنې، مجازي عشق، حقیقي عشق، اجتماعي مسایل او نور ګڼ مسایل راغلي دي چې زه به یې دلته د ځینو له بېلګو سره یادونه وکړم.

حمد: د شادمحمد خان په دېوان کې هم لکه د نورو شاعرانو لومړی شروع په حمد شوې او لومړی وینا یې په دېوان کې د څښتن تعالی حمد او ثناء ده لکه چې وايي:

ګوره هسې پاک سبحان دی رب زما
چې صاحب د کل جهان دی رب زما
نه یې زیان نه یې نقصان نه یې زوال شته
بې زواله بې نقصان دی رب زما
شریک نه لري په خپله بادشاهي کا
بې شریکه بې مکان دی رب زما
څوک به ماشی په مړه ګېډه موړ نه کا
د هر چا روزي رسان دی رب زما

(٣٩: ٦١).

نعت: په دېوان کې تر حمد وروسته د رسول الله ص ستاینه او صفت راغلی او د نعت شریف تر عنوان لاندې د رسول الله ص ستاینه کوي، لکه:

محمد اخر زمان مې دی پېشوا
امید شته چې ما به نه کا بې نوا
د هغه نه به کمبخت و بدبخت نه وي
چې څوک ستا د لارې تله کاندي سوا
که نوري صورت دې شوی اخرین دی
مګر مشر د ادم یې د حوا
اسم ستا محمد ص احمد محمود باله شي
خوند د اسم ته دې زهر شي حلوا

(٣٩: ٦٣).

د دنیا په باب: دا دنیا مکاره او فریبجنه بولي او وايي چې د دې دام کې ګرفتار نه شې او د دې دنیا طلبګار نقصاني بولي، لکه چې وايي:

غلت مه شه په سینګار د دې دنیا
په دام نه شې ګرفتار د دې دنیا
لکه ناوې د ډولۍ په پرده پټه

ښــه او بــد نــه دي اظهــار د دې دنيــا
د دنيا طالـب نقصـان بـه پـه سـود اخلـې
د پــاړو مــرګ دی پــه مــار د دې دنيــا
نادانــان لکــه مچــان پــرې راغــوړېږي
ترنــه تښــتي هــر هوښــيار د دې دنيــا
(٦٥ :٣٩).

مجازي عشق: په دېوان کې د مجازي عشق هم ډېری نمونې شته او جانان هم يادوي، لکه چې د مجازي عشق په سندرو کې وايي:

د صـــلت دې همېشـــه کـــوم طلـــب
سرګــردان درپســـې ګــرځم روز و شـــب
پـــه مـــرض د بېلتانـــه دې مـــرضي يـــم
دوايـــي راتـــه پـــه خولـــه کـــړه دواړه لـــب
سپين رخسار دې لکه نور هسې شغلې کا
د سرو ټيک دې بـدر تـام خـال دې کوکـب
هر زمـان مـې رود د اوښـکو پـه مـخ ګرځـي
جامـــه تـــره ګرځـــووم پـــه اوښـــکو جـــب
(٧٧ :٣٩).

پند او نصيحت: د پند او نصيحت په دود موږ د څښتن بنده ګۍ ته رابولي او وايي چې د څښتن عبادت وکړئ او پر دنيا اعتماد نه دی پکار.

راشـــه وکـــړه د خپـــل ځانـــه مصـــلحت
د بـدۍ لـه هريـو کـار شـه پـه نفـرت
د دنيـا عمـر د بـاد پـه شـان تېرېـږي
پـه دا عمـر کـوه خـدای تـه عبـادت
د بـدۍ نـه پـه توبـه پـه اسـتغفار شـه
پـه خپـل عمـر بـدي مـه راوړه پـه نيـت
په نېکۍ دې خدای راضي په بد ناراضه

هم نا راض دی پرې زموږه پاک حضرت

(۳۹: ۹۷).

له بېلتون شکایت: له بېلتونه سر ټکوي او وايي چې د يار بېلتون لکه کباب غوندې په اور ونيولم او پوخ يې کړم، لکه چې وايي:

بېلتانـــه لکـــه کبـــاب اونيـــوم اور تـــه
هـــر طـــرف نظـــر کـــوم د يـــار و لـــور تـــه
که مې سوی زړهخ د يار په لبـو مـوړ کـړي
هـم مـې تـن کـړي د بېلتـون د اوره پورتـه
سر تـــر پايـــه لـــوغړن د غـــم پـــه اور شـــوم
هسې رنګ مې شه بدرنګ وګوره سکور تـه
د بېلتـون ظلـم بـه ځـو درتـه بيـان کـړم
بې عاشقه يې څوک ځان نه نيسي۔ اور تـه

(۳۹: ۱۰۸).

له بدۍ د خلکو منعه کول: له بدۍ څخه د ځان ساتلو توصيه کوي او وايي چې په بدۍ کې له زيان پرته کومه ګټه او سهولت نشته، لکه چې وايي:

پـه بـدۍ کـې د هيچـا نشـته دی سـود
بـې لـه زيانـه بـه هـېڅ ونـه کـړې بهبـود
بـــد کـــردار کـــه پټـــوې بـــدي لـــه خلقـــو
نه پټېږي بوی چـې کېـږدې پـه اور عـود
د نېکان په کار کې مرې له ډېر خفګانـه
د بدۍ په هريـو کـار کـې يـې خوشـنود
د نېکـۍ پـه کـار کـې ماتـه مـلا ولاړ يـې
د بـــدۍ کارونـــه ډېـــر کـــوې پـــه زود

(۳۹: ۱۴٦).

له نفس شکایت: وايي نفس کوڼ او ړوند کړم او په بدۍ پسې اوتر روان يم، وايي د نفس په پيروي داسې روان يم لکه خر چې چا نيولی وي له جلب، په همدې باب وايي:

نفــس زه دې کړمــه هســې کــور و کــر
پــه بــدۍ پســې دې ډېــر کړمــه اوتــر
زه د نفــس پــه پــيروي هســې روان يــم
لکـــه بيـــايي د جلـــب نيـــولی خـــر
زه دوتر يم د مالک شيطان کاشتکار دی
د بــدۍ مــې پــه بــدن کــې کــوي کــر
مــا پــه خپلــه بينــا ځــان نابينــا کــړی
کــه مــې بيــايي يــا پــه ســمه يــا پــه غــر
(٣٩: ١٦٤).

پر چا تکيه نه کول: نوموړی وايي که دې ورور، ملګری او يا پلار وي، هم بايد تکيه ورته ونه کړو؛ ځکه که هر څوک وي نو په يوحال نه پاتې کېږي. نوموړی وايي چې تکيه او غوښتنه له هغه چا پکار ده چې هغه ستا هره غوښته پوره کولی شي، چې هغه الله ج دی، لکه چې وايي:

بــې لــه ربــه تکيــه مــه کــړه پــه دوســت يــار
بــې وفــا دي کــه دې ورور دی کــه دې پــلار
چې په خواست اوږده وي لاس مدام بل ته
څــوک بــه شي لــه هغــه کــس نــه طلبګــار
چـــې زوال يـــې د نعمـــت او د مـــدت دی
د هغـــه نـــه مـــدام نـــه دی ســـوال پکـــار
ســـوال پکـــار لـــه شهنشـــاه بـــې زوال دی
چـــې مـــدام يـــې ســـلطنت دی برقـــرار
(٣٩: ١٧٩).

کبر: کبر او لويي ښه نه بولي او وايي چې کبر کوونکي سرونه تل ماتېږي او د کبر زوال شک مه ګڼئ؛ بلکې حتمي دی لکه چې وايي:

تـــل د کـــبر سر مـــاتېږي پـــه کوتـــک
شـــته د کـــبر لـــه زوال ونـــه کـــړې شـــک
که په خپـل حسـن غـرور کـبر هـوا کـړې
وېـــــره کـــــړه د ګردشـــــه د فلـــــک

چـې غـرور کـبر هـوا د ځانـه دور کـړي
د هغـــو ثنـــا صـــفت کـــوي ملـــک
زه منـت کومـه تـه قهـر کنځـل کـړې
ستا غرور مې کړ قد خم په ملا کې سک
(۳۹: ۲۹۰).

ویرنه: ویرنه چې د چا، خپلوان، دوست په غم او درد کې ویل کېږي، په دېوان کې دا برخه هم شته، چې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

چـې دې مـخ پـه پلـو پـټ گـور اجـل کـړ
اور د غـم دې پـه همـه خپلوانـو بـل کـړ
اوس دې رب فضـل پـه تـا د بخشـش وکـړي
رب دې مل شه چې دې ځان د موره مل کـړ
چـې دې پورتـه سـانگ د دې دارالفنـا کـړ
پـه طـرف دې د عقبـی پـه لار منـزل کـړ
پـه ځـان زه یـم مرضـی مـرگ تـه قریـب یـم
روغ وجـود دې د اجـل سـتا لـه مـا اول کـړ
(۳۹: ۲۴۲).

نېکۍ ته را بلل: انسان نېکۍ ته رابولي او په دې باب وايي:

راشـه ځـان کـړه د نېکـۍ پـه غـوړو غـوړ
بـې فایـدې او بـې کـار مـه شـه لکـه بـړ
ادم زاد یـــې د ادم خویونـــه زده کـــړه
د چارپـــایو پشـــان مـــه غـــواړه لـــوړ
د پیشـو پـه شـان دشـمن شـه د بـدکارو
لکـه مـوش هسـې وهـي د فصـل جـړ
د مېـږي یـوه دانـه شـپږ میاشـتې بـس ده
مگـر کانـدي شـبو و روز پسـې ملاتـړ
(۳۹: ۲۲٦).

د احمقانو په باب: له احمق سره مو له خبرو او بحث منعه کوي او وايي چې له احمق سره بحث او خبرې تر شره رسېږي، لکه چې وايي:

لـــه احمقـــه سره مـــه کـــوه خـــبره
دا خـــبر بـــه رو رو بـــوځي تـــر شره
هر احمق چې په پړه ونخلي پرې ټينـګ شي
خپلـه پـړه پـه جنـګ دعـوه کـا پـه بـل بـره
هـر هوښـيار بـه ځـان سـاکت کـا لـه سـکوته
خپلـــه وړه بـــه لـــه احمقـــه کانـــدي لـــره
لـــه احمـــق سره احمـــق ســـړی جـــوړېږي
چـــې يـــې صـــلح دښـــمني ده برابـــره
(۳۹: ۱۷۰).

د دې تر څنګ د شاد محمد خان په دېوان کې نور هم ګڼ مسايل شته چې موږ په همدې پورته څو يادو شويو بسنه کوو او د موضوع مطابق به په ده پسې د بل دېوان لرونکی شاعر پېژندنه او د دېوان ځانګړنې راوړو.

د حبیب الله پېژندنه

حبیب الله د رحمان بابا د سبک پیرو او دېوان لرونکی شاعر دی، چې دېوان یې پخوا چاپ شوی او هغه دېوان چې زموږ په لاس کې دی د سر څو پاڼې یې شلېدلي دي او د حبیب د پېژندنې برخه هم ورسره له منځه تللې ده، نو په همدې اساس نه شو کولی چې د حبیب د ژوند او پېژندنې په باب څه ووایو، خو د دېوان، اشعارو او د دېوان د منځپانګې په باب به یې په تفصیل سره خبرې وکړو.

د حبیب الله شاعري

د حبیب الله شاعري چې تر ټولو ښه ځانګړنه یې رواني، ساده والی او سلاست دی، نوموړی په داسې ژبه خبرې کوي په کومه چې رحمان بابا غږېږي، نو ځکه یې کلام هم بې تکلفه او عام فهمه دی. لطافت او سادګي یې ښه مضمون بیانوي.

په اشعارو کې ادبي صنایع او بدایع هم شته او دې برخه کې هم د وخت له شاعرانو وروسته نه دی. د پښتو ژبې تر څنګ یې په دېوان کې فارسي او اردو اشعارو ځینې نمونې او لغات هم لیدل کېږي، چې دا پر نورو ژبو د نوموړي په پوهه دلالت کوي.

له اشعارو یې دا خبره هم په ډاګه معلومېږي چې د وخت په مروجو علومو کې هم ښه پوهه درلوده. په اشعارو کې وعظ، پند او نصیحت هم تر سترګو کېږي، لنډه دا چې په اشعارو کې هره خوا رانغاړلې او په روانه ژبه یې ګڼ موضوعات بیان کړي دي. ځان د رحمان بابا پیرو بولي او په ډېر احترام او عقیدت ورته قایل دی، خوشحال هم ستایي او یونس د رحمان بابا سره په یوه کتار کې شماري، مګر خپل کلام پر حمید مومند او عبدالقادرخان خټک اوچت ګڼي.

د حبیب الله د دېوان ځانګړنې

د حبیب دېوان چې سریزه، سمون، لغتنامه او فهرستونه یې څېړنمل محمد عارف غروال کړي او په (۱۳٦۰) کال د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو علمي او تحقیقي مرکز، پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

دغه دېوان چې زموږ په لاس کې دی، د سر څو پاڼې یې ضایع شوي دي. البته د سریزې د برخې. په لومړي سر کې د څېړنمل عارف غروال اوولس مخه لیکل راغلي او له هغې وروسته د دېوان د اشعارو برخه شروع شوې ده، چې پکې د غزلو تر څنګ رباعیات، مخمسونه، الفنامه او ځینې نور اشعار راغلي دي، چې د دېوان د شعري فورمونو په برخه کې به یې یادونه وکړو.

هېره دې نه وي چې د یاد دېوان په سریزه کې محمدعارف غروال د حبیب الله د دېوان په نسخه هم بحث کړی او ویلي دي چې (د حبیب الله د دېوان یوازځینۍ خطي نسخه د ډیلي په ملي موزیم کې شته چې هورې یې نومره (۱۸) ده. دغه خطي نسخه د ټونګ د نوابانو وه چې بیا وروسته د ډیلي ملي موزیم ته وړل شوې ده. نسخه ټوله (۱۷۷) مخه ده چې د ګل محمد پېښوري په ښکلي خط په (۱۱۷۵هـ ق) د څمکنو د میا عمر صاحب د مشر زوی محمدي احبزاده (۱۲۲۰هـ ق) کې مړ، لپاره لیکل شوې ده (۱۳: ۱۵).

په همدې ډول د دېوان د خطي نسخې او چاپ په باب نورې هم ګڼې خبرې شوي دي چې موږ ترې دلته دغه پورته څو کرښې را واخیستې.

د حبیب الله د دېوان شعري فورمونه

د حبیب الله د دېوان پیل پر غزلو کېږي، همدارنګه په دېوان کې نور شعري فورمونه هم شته چې له هر یو څخه به یې په لاندې ډول یادونه وکړو.

غزل

لکه څنګه مو چې پورته هم یادونه وکړه چې د حبیب الله د دېوان لومړۍ برخه غزلې دي، نو په دېوان کې د راغلي یوه غزل څو بیتونه په لاندې ډول دي:

ښه ده عاشقي چې یې وي مینه په رښتیا
نه ده هغه مینه چې یې مینه وي په غلا
ګوره زلیخا چې دا عاشقه په رښتیا وه
مینه یې کمال وه چې یې بیامونده مولا
واړه محبت دی چې په یار پسې ژړېږي
بې عشقه څوک کله کا دا هسې رنګ ژړا
مینه د مجنون وه چې په ډېر مدت ولاړ و
هله را روان شو چې بیا وویل لیلا
(۱۳: ۲۹).

رباعي

په دېوان کې څو رباعیات هم راځي لکه چې وایي:

تر ګل خوشبویه د ستا جمال دی
له ځمکې پورته په تیښت هلال دی
نظر دمینې په خوار حبیب کړه

چـې خـدای درکـړی حسـن کـمال دی

(۱۳: ۱۵۸).

مخمس

په دېوان کې له رباعیاتو وروسته مخمسونه راغلي چې په دېوان کې د راغلي یوه مخمس څو بیتونه په لاندې ډول دي:

دا خوشـحاله خنـده رویـه یـار د چـا دی

مهوشـــه رندانـــه دلـــدار د چـــا دی

خوش تقره یره خوش دهن گفتار د چادی

گل ترې پټ دی په ورق رخسـار د چـا دی

چې شوه زرکه پـه هـی هـی رفتـار د چـای

(۱۳: ۱٦۲).

الفنامه

د حبیب الله دېوان په وروستۍ برخه کې یوه الفنامه هم راغلې چې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

الـف نـوم دی ثابـت شـوی د سـبحان

دی صانع د مخلوقات دی پـه څـه شـان

پیـدا کـړې یـې ده ځمکـه څـو پراخـه

و درولـی یـې بـې سـتنو دی اسـمان

جنتونـه دوزخونـه یـې پیـدا کـړل

هـر گـوره سـخت دي عذابونـه د نـیران

مومنان به د جنـت پـه مینـه مسـت وي

فواکـه بـه یـې خـوراک وي د رضـوان

(۱۳: ۱٦۴).

د حبیب الله د دېوان منځپانگه

د حبیب الله شاعري چې له شکلي اړخه پکې غزلیات، رباعیات، مخمسونه او نور شامل دي، هر یو مو پورته له نمونې سره ذکر کړ، اوس به د نوموړي د دېوان د منځپانگې له اړخه وڅېړو او هغه څه چې د دېوان منځپانگه جوړوي یادونه وکړو.

حمد: د نورو شاعرانو په شان حبیب الله هم د دېوان پیل د څښتن تعالی په حمد او ثنا سره کړی، چې بېلګه یې لاندې ده:

الف نـوم دی ثابـت شـوی د مـولا
عالمونـه یـې عـاجز دي لـه ثنـاء
ده الســـت دي بـــربکم ویـــلي
هر ارواح پرې مصوت شو چې بلا
ګوره څه یې دي ویلي ورسول ته
ښه ایت دی معتبر قـل هـو اللـه
د ادم خبرې کېږي څـه عجبـې
چـې یـې دا ځـواب وکـړی ربنـا
(۱۳: ۱۸).

نعت: له حمد وروسته یې په دېوان کې د حضرت محمدمصطفی (ص) ستاینه کړې او په هغه مبارک د دعا او درود غوښتنه کوي چې وایي:

پـــس لـــه حمـــده وایمـــه درود د مصـــطفی
شـــک پـــرې مـــه کـــوه اعلـــی شـــو مصـــطفی
دی و نبـــــي چـــــې عـــــالم ادم لا نـــــه و
دین یې لا روښان دی چـې فنـا شـو مصـطفی
هـر چـې پخـوا تـر د ه تـورات و کـه انجیـل و
واړه یې منسوخ کړل چـې پیـدا شـو مصـطفی
دا کـــلام یـــې گـــوره چـــې کـــلام ربـــاني دی
درست جهان پیدا دی چې پیدا شو مصطفی
(۱۳: ۱۹).

د یار بې وفایي: وایي د دې دنیا په یار باور مه کوئ ټول بې وفا دي، په یو ساعت یې ستا گڼي او په بل ساعت یې د بل، لکه چې وایي:

بـاور مـه کـوه پـه یـار د دې دنیـا
بـــې وفـــا دی یـــار غـــار د دې دنیـــا
په یوه گړی د ستا وي بیا د بـل شي

څه ویسا ده په روزګار د دې دنیا
اشنایان یې اشنا نه دي اغیاران دي
راشه مه کوه روزګار د دې دنیا
توبه ګار شه ای عاقله که دانا یې
چې خوښېږي توبه ګار د دې دنیا
(۱۳: ۲۷).

رښتینې مینه ستایي: حبیب په خپلو اشعارو کې د مینې په باب هم ډېرې نغمې ویلي، رښتینې مینه ستایي او د رښتینې مینې کوونکي یو بل ته رسېدونکي بولي لکه چې وایي:

ښه ده عاشقي چې وي یې مینه په رښتیا
نه ده هغه مینه چې یې مینه وي په غلا
ګوره زلیخا چې دا عاشقه په رښتیا وه
مینه یې کمال وه چې بیامونده مولا
نر هغه سړی دی چې یې سوز په زړه کې وینه
عشق سره مونده شي که دنیا ده که عقبا
واړه محبت دی چې په یار پسې ژړېږي
بې عشقه څوک کله کا دا هسې رنګ ژړا
(۱۳: ۲۸-۲۹).

د انساني خلقت ستاینه: لکه څنګه مو چې په لومړیو کې هم وویل چې د حبیب الله شاعري د وعظ او نصیحت خوا درنه ده؛ نو په همدې اساس دلته هم د انساني خلقت ستاینه کوي او انسان ته وایي چې الله ج دومره ښکلی پیدا کړی یې نو د څښتن تعالی بنده ګي کوه، لکه چې وایي:

څه نعمت یې دی درکړی خدای وتا
چې یې نشته دی باور کړه انتها
په صورت یې د ادم یې پیدا کړی
هم حضرت رسول کریم دې رهنما
لاس و پښې یې ښه ساز کړي تاله درکړل
عبادت کوه که مرد یې نه ګناه
خوله و ژبه یې درکړي په ثناء دي

تـا مـدام کـړه خولـه پـه بـدو بانـدې وا

(۱۳: ۳۰).

ریاء: ریا، کبر او غرور ښه نه ګڼي او هغه څوک چې د ریا کمیس یې اغوستی وي محکوم یې ګڼي، لکه چې وایي:

وادې غوسـت پـوهېږم پـه ریـا سره کمـیس
مـړ کـړه مېړنـی شـه لـه اولـه نفـس خبـیس
ګوره چې دې یو سړی محکوم په جهان نـه وي
درومې ځان ذاهد کړې پټ پت بولې خان رئیس
کله مې باور شي چې بـه حـرص د دنیـا پرېږدې
واړه دې دروغ دي چې شېخان دې کړل رئـیس
نـاورې د ناصـح خـبرې څـو کـه درتـه وایـي
ښـې دې پـه غـوږ ولګـي خـبرې د ابلـیس

(۱۳: ۵۹).

د رحمان بابا ستاینه: د حبیب الله په دېوان کې څو ځایه د رحمان بابا یادونه شوې او نوموړي ته په ډېر احترام قایل دی، لکه چې د لاندې څو بیتونو په ورستي بیت کې ورته اشاره شوې ده:

تـه زمـا د زړه دمـه یـې خـدی خـبر دی
بې تا څـه کړمـه جهـان کـه درسـت ویـران شـو
نـاروا شـه کـه وصـال مـې یـو سـاعت دی
ښـه عزیـز عمـر مـې خـاورې پـه هجـران شـو
د حبیـب ویـل پـه دا سـبب شـیرین شـول
چـې تـابع پـه ګفتګـو کـې د رحـمان شـو

(۱۳: ۸۰).

له بېلتونه شکایت: د بېلتون له لاسه او د یار په فراق کې سوې ساندې وایي او له بېلتونه سر ټکوي، لکه چې وایي:

زړه مـې وچـاوده ارمـان دی لـه فراقـه
چـې مـدام دی یـار لـه مـا سره ناچاقـه
مړوندونـه دې هـر ګـوره ښایسـته دي

عاشـق وژني چـې بربـډ يـې کـړې لـه چاقـه

هـېڅ پـرواه دې پـر مـا نـه شي بـې پـرواه يـې

نــه وېرېــږي شــاعران شــاګرد لــه عاقــه

چـې رقيـب دې و خپـل ځـان وتـه نـژدې کـړ

لــه دې غمــه مــې ســينه شــوه لا مــا لاقــه

(۱۳: ۱۱۳).

يار ته منت کوي او په خورا لوړو الفاظو يې ستايي، غوښتنه ترې کوي چې راشه، لکه چې وايي:

راشــه راشــه ګــل اندامــه

پــري رويــه مــاه تمامــه

اهـــو چشـــمه ګلبدنـــه

سروې قــده خــوش خرامــه

تــور باڼــه دې نــاوکي دي

کمان وريځې نېـک فرجامـه

دواړه زلفـــې ښـــاماران دي

سيمن غب غبه صبح شامه

(۱۳: ۱۲۰).

د يارانو فراق: د يارانو په بېلتون ژاړي او وايي چې بې له دې چې په مخ مې د اوښکو رودونه راځي نور هېڅ هم نه شم کولی، لکه چې وايي:

لاړل يــاران لاړل زړه مــې چــوي پــه ارمانونــه

کلـــه مـــې ارام شي پـــه پرېواتـــه غمونـــه

اوس که پسې ژاړم هېڅ دمه مې د زړه نه شي

درومـي مـې پـه مـخ بانـدې د اوښـو بارانونـه

(۱۳: ۱۲۱).

په همدې ډول د حبيب الله په دېوان کې نور هم ډېر مسايل د منځپانګې له اړخه راغلي دي چې ما يې دلته د ځينو يادونه وکړه او په همدې بسنه کوو ځکه د ټولو راوړل يې دلته نه شي کېدلی او موږ د موضوع د حدودو مطابق ترې د ځينو يادونه وکړه.

د جدید توخي پېژندنه

زموږ بحث د رحمان بابا د ادبي مکتب پیرو جدید توخي دی، چې دلته به یې پېژندنه او د دېوان ځانګړنې راوړو:

(د جدید توخي اصلي نوم خدایداد دی او په ختې اکازی توخي و، د ښاغلي زلمي هېوادمل د څېړنې له مخې جدید توخي د ابراهیم زوی دی. زموږ مشرانو فرهنګیانو د جدید توخي د زوکړې او مړینې تاریخونه په تخمیني ډول ضبط کړي دي، چې نوموړی کار یې د هغه د دېوان د ځینو تاریخي شهادتونو پر بنسټ کړی دی.

استاد علامه رشاد په دې باب داسې وایي: د جدید توخي د زوکړې او مړینې په باب کوم یقیني سند نشته، خو له دې څخه چې ده د شاه محمود او کامران سدوزي په شخړو کې (پخوا تر ۱۲۴۷ ق) هرات ته سفر کړی او هلته یې د اولاد په بېلتانه کې کوکې وهي، تخمینېږي چې د ده زوکړه به د تېمور شاه سدوزي (۱۱۸٦ـ۱۲۰۸ق) په پاچاهي کې وي. نوموړي د شاه محمود، کامران او فېروز شخړې او جنګونه په سر سترګو لیدلي دي، چې دغه پېښې له (۱۲۴۷ق) مخکې شوې دي؛ نو په پوره باور سره ویلی شو چې ژوند یې تر (۱۲۴۷ق) یقیني دی(۱۲: ۴).

نوموړی د پورته یادو شویو پېښو په باب په خپل دېوان کې وایي:

که باور نه کړې ای وروره شامحمود و فېروز ګوره
د یوه هرات د پاره ور یې کړ اولاد اکثر
شاه محمود پادشاه معدوم دی پاته شوی یې یو نوم دی
هر چې کاندي کامران کاندي محمود هېڅ نه دی خبر
شاه محمود باد شاه له حاله درته وایم ځما لاله
په هستي کې یې نېستي ده حال یې دا دی مختصر۔
غرض دا چې د دې دور نه تمیز شته نه هېڅ غور
ځما ربه مخلوق ستا دی ته پوهېږې ښه بهتر

(۱۲: ۵۸).

د اوسېد د ځای په باب یې هم کره او ښکاره شواهد او اسناد نشته دا چې په دېوان کې یې څو ځایه کندهار یاد کړی نو له دې څخه معلومېږي چې نوموړی به د کندهار اوسېدونکی و، لکه چې یو ځای وایي:

نـه بـه وي نـه بـه پيـدا شي قنـدهار غونـدې ولايـت

اوس ارمان مې دی يارانو هېر به يې نه کړم په حيـات

(۱۲: ۴۰).

پورته هغه خبرې وې چې د جديد د ژوند او ځای په باب مو د نوموړي د دېوان د شهادتونو پر بنياد وکړي، د نوموړي له اشعارو څخه دا هم معلومېږي چې د پردېس او له وطنه د جداوالي شپې او ورځې هم تېرې کړي دي او په دېوان کې په دې باب هم ګڼې نمونې شته لکه چې وايي:

که هزار په زړه نولېږي چې بندي شي نه خلاصـېږي

هـــــر چـــــې خـــــدای کـــــه هغـــــه کېـــــږي

ظـاهر هسـې معلـومېږي خـاورې سـتا لـه ترکسـتانه

جديـــــــــــده خـــــــــــوار حيرانـــــــــــه

(۱۲: ۲۲۸).

د جديد توخي د پېژندنې په باب په همدې کرښو بسنه کوو نور يې د دېوان، شاعري او نورو خواوو په هکله خبرې کوو.

د جديد توخي شاعري

جديدتوخي د عبدالرحمن بابا د سبک پيرو دی او په کلام کې د رحمان بابا د سلاست او رواني څرکونه تر سترګو کېږي. د دې تر څنګ د نوموړي په اشعارو کې زيات ادبي صنعتونه ليدل کېږي، لکه چې د ردالعجز على الصدر نمونه يې په لاندې ډول ده چې وايي:

ستا هجران کړمه يبلې پښې په تور سر

کـور پـه کـور کـلي پـه کـلي در پـه در

در پـه در گـرځم حيرانـه نـه پـوهېږم

لکـه څـوک چـې لېـونی شي هـم ابـتر

لېونی او ابتر خوښ يـم گونـدې چېـرې

زه مهجـور يـې پـه وصـال شـم برابـر

برابـر کـړه ربـه مـا د يـار پـه وصـل

چـې زه نـه يـم د وصـال پـه حـال خـبر

(۱۲: ۵۴).

همدارنګه يې اشعار د بيتونو او څپو د شمېر له مخې سره توپير کوي او د غزل په ګډون يې په اشعارو کې رباعي، مخمس، مسدس او داسې نور شته دي. په خپلو ځينو شعرونو کې د رحمان بابا فکر د الفاظو په لړ بدلون سره بيانوي لکه چې وايي:

په يو دم د مدعا تر ځايه ورشي

ما ليـدلی پر و بال د دروېشانو

(۱۲: ۱۲۲).

په همدې ترتيب يې په اشعارو کې د معنا له اړخه هم ډېرى موضوعات را نغاړلي دي چې هغه به يې د دېوان د منځپانګې په برخه کې درته وړاندې کړو.

د جديدتوخي د دېوان ځانګړنې

د جديدتوخي دېوان چې سريزه، سمون او لغتنامه يې مطيع الله روهيال کړې، په (۲۰۱۵م) کال د پښتو اکاډمي بلوچستان له لوري چاپ شوى دى.

(د جديد توخي د دېوان يواځينۍ معلومه نسخه چې د پښتو ټولنې په خطي څانګه کې خوندي وه، چې اوس د علومواکاډمي د قلمي نسخو په برخه کې محفوظ ده. دا نسخه د علامه رشاد په لارښوونه د پښتو ټولنې کتابخانې ته ورکړل شوې ده. پر نسخه باندې د علامه رشاد صاحب ځينې يادښتونه هم شته. د دېوان ياده قلمي نسخه يې ٦٦ پاڼې او ۱۳۱ مخه ده. اوږدوالی يې ۲۱ سانتي متره او بر يې پيځلس نيم سانتي متره دی(۱۲: ۱۰).

په همدې باب د دېوان په سر کې په ليکل شوي متن کې دا هم راغلي چې ياده قلمي نسخه ځينې نيمګړتياوې هم لري او ځينې پاڼې يې هم لوېدلې دي. هېره دې نه وي چې جديدتوخي خپل دېوان په هرات کې ترتيب او بشپړ کړى دى او د کتابت کار يې خپله شاعر کړى دى چې په دې باب وايي:

جديـد نـوم دى د کاتـب

لـه دې ملکـه دى تايـب

بـل همـدا وايـم و تاتـه

خواننده اوس غوږ کړه ماتـه

دا کتـاب هـم مـا ويلـى

هم په خپلـه دى مـا کښلـى

هـم کاتـب هـم مصـنف يـم

لــه جانبــه د هــاتف يــم

(۱۲: ۲۴۹-۲۵۰).

د جديدتوخي د حاضر متن چې اوس زموږ په لاس کې دی، په دې کې ۱٦٦ غزلې چې دوه يې فارسي غزلې دي، دوه مخمسه، يو مسدس، څلور څلوريزې، شپاړس چاربيتې او يوه الفنامه شاملې دي. په اخر کې د دېوان منظومه خاتمه راغلې او لغتنامې سره دېوان پای ته رسېږي.

د جديدتوخي د دېوان شعري فورمونه

د جديدتوخي په دېوان کې لاندې شعري فورمونه ليدل کېږي:

غزل

د جديد توخي د دېوان لومړۍ برخه غزلې دي چې غزلونه يې د بيتونو د شمېر او د څپو له اړخه سره توپير لري، هېره دې نه وي چې د نوموړي د غزلو ژبه هم لکه د رحمان بابا ساده، روانه، واعظه او له خاص رنګه برخمنه ده چې په دېوان کې د راغلي يوه غزل څو بيتونه په لاندې ډول دي:

سرگـردان گـرځم حـيران سـتا پـه طلـب
نــه دې ويــنم زه يــو وار پــه روز و شــب
راتـــه ووايـــه احـــوال زمـــا دلـــبره
چــې لــه مــا يــې مــرور پــه څــه ســبب
لــه رقيــب سره پــه ذوق و تماشــا يــې
لــه مــا خــوار سره پــه قهــر و پــه غضــب
اوس که قهر و که غضب کړې خانه زاد يم
لا جـــواب درتـــه ولاړ يـــم پـــه اداب

(۱۲: ۳۴).

فارسي غزل

د جديد په دېوان کې څو فارسي غزلې هم شته چې د يوه فارسي غزل څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

يــار مــن از مــن جــدا دل خــون شــدم
وز جـــدايی يـــار هـــم چـــون شـــدم
ای صـــبا بـــا يـــار مـــا از مـــا بگـــو
رفــتم از دســت از غمــت مجنــون شــدم

گــر بیــایي خــود بــه بینــی حــال مــا

بـا دو چشـم خـون روان جیحـون شـدم

مــن جفــای تــو وفــا دانــم بــه خــود

کــی بگفــتم از تــو مــن معنــون شــدم

(۱۲: ۱۰۲).

مخمس

د غزلو سربېره د جدید توخي په دېوان کې دوه مخمسونه هم راغلي چې د یو مخمس څو بیتونه یې په لاندې ډول دي چې وایي:

هغــه یــار چــې ښــایته دی بــې زوالــه

د ښایسـت مثـال یـې نشـته بـې مثالـه

په دیدن پسې یې مرم زه شوم بـد حالـه

نــه یــې ویــنم پســې یــم خــاطر ملالــه

په وصـال یـې وصـل مـا کـړې ذوالجلالـه

(۱۲: ۲۴۱).

مسدس

تر مخمسونو وروسته یې په دېوان کې یو مسدس هم راغلی چې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

نســیمه ســتا یــم مــدام

که دې گذر وي پـر مقـام

پـرې وایـه زمـا ډېـر سـلام

حلقـــه بگـــوش غـــلام

د یـار سـو صـبح یـا شـام

پــس لــه ســلامه پیغــام

(۱۲: ۲۴۷).

رباعي

د جدید په دېوان کې څلور رباعیات راغلي چې یوه رباعي یې په لاندې ډول ده:

دا چې پرې سوځم اور د هجـران دی

چــې لگېــدلی زمــا پــه ځــان دی

په حال زما اوس خبر څوک نه دي

مگر هغه چې زما سوزان دی

(۱۲: ۲۳۹).

الفنامه

د جدید د دېوان په اخره برخه کې الفنامه هم راغلې چې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

الف ـ سم قامت د یار

گویا سروه د چنار دی

ب ـ بارو وکړئ عالمه

یار مې گل د نوبهار دی

ت ـ تمام جهان وگوره

چې په روی د یار گلزار دی

ث ـ ثنا تل د خپل یار کړم

زه عاشق یم دا مې کار دی

(۱۲: ۲۳۷).

چاربیتې

د جدید په دېوان کې شپاړس چاربیتې راغلي لکه چې وایي:

کېوتې په بند د غره خان ړانده ناتوانه

جدیده خواره حیرانه

مه گرځه خورسنده خلاص به نه شې له دې بنده

که وکړې هزار پنده

(۱۲: ۲۲٦).

پورته مو هغه شعري فورمونه له مثالونو سره راوړل چې د جدید په دېوان کې شته، اوس به د جدید د دېوان په منځپانگه خبرې وکړو.

د جدید توخي د دیوان منځپانګه

لکه څنګه مو چې مخکې یادونه وکړه د جدید شاعري هم لکه د رحمان بابا ساده، روانه او عام فهمه ده، په اشعارو کې د منځپانګې له اړخه ګڼ موضوعات رانغاړلي چې موږ به یې دلته د ځینو یادونه له بېلګوسره وکړو.

حمد

د جدید توخي د دیوان لومړنی شعر د الله ج ثناء ده او د هغه صفات یې بیان کړي دي چې وایي:

رب زما دی ګوره هسې رنګ بینا
چې بینا دی د بینا د نابینا
پرواه نه لري د هیچا و یاری ته
هسې رنګه بې پرواه دی بې پرواه
نه له چا سره شریک نه شراکت که
بې شریکه یک تنها دی یک تنها
جفا کار سره جفا کوي بېشکه
وفادار سره وفا کوي وفا

(۱۲: ۱۴).

نعت

د جدید په دیوان کې لکه د نورو شاعرانو حمد پسې مسلسل نعت شریف راغلی او د حضرت محمد ص ستاینه یې کړې چې وایي:

زه دې جار شم محمده رهنما
ای د درست عالم په دوه کونه پېشوا
اول ته یې کړې پیدا نور پس له هغه
خدای خدایي خپله ښکاره کړه پر دنیا
کې ته نه وای پیدا کړی په دنیا کې
نه دنیا وه نه ادم وو نه حوا
کل مخلوق دی رب په روی ستا پیدا کړی

سردار يــې هــر چــه نــوم يــې دی پيــدا

(١٢: ١٦).

مجازي عشق

د جديد په دېوان کې د مجازي عشق ګڼې نمونې شته او د يار د وصال لپاره يې ډېرې شعرونه ويلي دي، لکه چې په همدې باب يې په دېوان کې راغلي غزل څو بياتونه په لاندې ډول دي:

راشــه دلــبره زه پــر تــا مئــين شــيدا

مـرم لـه ډېـره غمـه چـې لـه تـا يمـه جـدا

زه پر تا مئين يم چې تا نه وينم غمجـن يـم

رايشــه دلــبره دا غــم واخلــه اوس لــه مــا

پروت پر زنکدن يم منتظر دې د ديـدن يـم

واخلــه اوس خــبر زمــا لــه حالــه دلربــا

رايشــه پــه خپلــه يــا خــبر راســتوه دلــه

ګوندې اوس دوا شي ستا د خولې خبر زما

(١٢: ٢١).

د يارانو جدايي: جديد توخي د يارانو پر جدايي ډېر دردېږي او د دنيا بې وفايي هم موږ ته را په ګوته کوي، وايي چې ياران رانه په مرګ جدا شوه او ډېرو يارانو يوازې پرېښودم. په همدې باب په خپل دېوان کې وايي:

ولاړه يــاران ولاړه پــه ارمــان د دې دنيــا

پاتــه بــې يــارانو شــوم زه غمــزده تنهــا

اور دی رالګېږي چې تنها شوم بـې يـارانو

وسومه کباب يې کړم قسم دی پـه رښـتيا

اوس د ښو يارانو جدايی کړم تر دې حـده

بت شو نه پوهېږي له دې غمه شـوم ګويـا

ډوب په فکر تللی له دې غمـه نـه پـوهېږم

چې څرنګه به تېـر شي د ا بـاقي عمـر زمـا

(١٢: ٢٦).

د دنيا او عمر په باب

دا دنیا پینځه ورځې بولي او وايي چې که فکر ونه شي؛ نو په انسان بېهوده تېرېږي او بیا به ورپسې ارمان کوي، چې کاش نیک اعمال او هغه څه چې د هغې په خاطر دلته رالېږل شوي یو ترسره کړي وای، لکه چې وايي:

عمـر عمـر دی تېرېـږي بېهـوده پـه دا دنیـا
دنیـا تېـره ده فـاني ده فکـر بویـه د عقبـا
عمر عمر دی تېرېږي هر سړی پرې هوښیارېږي
څه فایده چې نـه پـوهېږي د خپـل عمـر پـه بقـا
عمر عمر پینځه ورځې په انکار د اور یې سوځې
که هر څو بېرته ترې خوځې نه خلاصېږې له بلا
عمر عمر د طفلۍ وو نه پـه بـرف نـه پـه ژلـۍ وو
چې لوی دی شو په سیلۍ وو تمـام عمـر واوېـلا
(۱۲: ۳۳-۳۴).

د عاشقي نه فریاد

له عاشقۍ فریاد کوي او وايي چې د عاشقۍ دې خدای بېخ وباسي چې زما یې بېخ وباسه، لکه چې وايي:

خـدای دې نـه کـاږي اوس دا رنـګ د چـا بـېخ
لکـــه وکـــېښ عاشـــقیه زمـــا بـــېخ
عاشـــقي نـــه ده بـــلا ده پـــه جهـــان کـــې
خـــدای دې وکـــاږي د داســـې بـــلا بـــېخ
هـــر دا نـــا وا عاشـــقۍ تـــه ډېـــر عـــاجز دی
عاشـــقۍ کښـــلی د ډېـــرو دانـــا بـــېخ
عشـق دی اور عاشـق پتنـګ پـر سره اور بانـدې
سـوځي کـاږي د خپـل ځـان بـې پـرواه بـېخ
(۱۲: ۴۹).

د نورو په چارو کې کار نه درلودل

موږ ته دا توصیه کوي چې د نورو په چارو کې کار ونه لرو او هغوی چې د نورو په کارونو کې مداخله نه کوي؛ نو بریالي او خوشحاله خلک یې ګڼي، لکه چې وايي:

گــوره مــه کــوه پــه کــار د چــا غــرض

پــه گفتــار و پــه رفتــار د چــا غــرض

کـه پـوهېږې اوس پـه دا کـې دې بهبـود دی

واوره مــه کــړه پــه روزگــار د چــا غــرض

کـه تـه غـواړې چـې ازار لـه نـورو نـه شـې

تــه هــم مــه کــړه پــه ازار د چــا غــرض

غرض دا چې ډېر نقصان دی په دې کار کـې

څـوک چـې کـړي پـه کـار و بـار د چـا غـرض

(۱۲: ۷٦).

د رحمان بابا ستاینه

لکه څنګه مو چې وړاندې هم یادونه وکړه جدید د رحمان بابا پیرو دی او نوموړي ته په ډېر احترام قایل دی، رحمان بابا د شاعرانو سرلاری بولي او د شاعرانو بادشاه یې ګڼي چې وایي:

دی رحــمان شــاعر یــارانو

سر حلقـــــه د شـــــاعرانو

شــاعران ټــول امــیران دي

دی بادشـــــاه د امیرانـــــو

اوس په شعر کـې دی دا رنـګ

دی ســـلطان د بادشـــاهانو

شــاعران پــه پښــتو ژبــه

دی منلـــی پـــه چشـــمانو

(۱۲: ۱۱۸).

د عالمانو په باب وایي:

جدید ځان د عالمانو خادم ګڼي او وایي چې دا د عالمانو برکت دی چې زه دومره فصیح لسان یم لکه چې وایي:

زه خـــادم د عالمـــانو

یـــم دایـــم د عالمـــانو

په خدمت یې روز او شب یـم

زه قـــــــايم د عالمـــــــانو

چې يې زه فصيح لسان کړم

دوعـــــا يـــــم د عالمـــــانو

زه جديد يې چانـدې زر کړم

کېميـــــا يـــــم د عالمـــــانو

(۱۲: ۱۲۱).

په همدې ډول د جديد په دېوان کې ګڼ نور موضوعات هم ذکر شوي دي او نوموړي هره برخه د شعر په ژبه بيان کړې ده. موږ دلته په همدې پورته ذکر شويو موضوعاتو بسنه کوو او د جديد توخي بحث په همدې ځای پای ته رسوو.

د محمد رفیق پېژندنه

د رحمان بابا د ادبي مکتب وروستی لاروی او دېوان لرونکی شاعر محمد رفیق دی، چې دېوان یې شمس الفلک په نوم یادېږي، په دې سره به د رحمان بابا د مکتب د لارویانو برخه پای ته ورسېږي، خو تحقیق تر هغې دوام لري، تر څو د منځنۍ دورې د ټولو دېوانونو څېړنه وکړو.

د شمس الفلک دېوان د لیکوال محمد رفیق لنډه پېژندنه کوو او له هغې وروسته یې په نورو خواوو خبرې کوو، د دېوان لیکوال د پېژندنې په باب د شمس الفلک د دېوان په سریزه کې په دې ډول راغلي دي: (د شمس الفلک دېوان د شاعر بشپړ نوم محمد رفیق دی. په اشعارو کې کله خپل بشپړ نوم محمدرفیق او کله یازې رفیق، خو په فارسي شعرونو کې یې تخلص غمزده و، لکه د فارسي د یوه غزل په مقطع کې چې راغلي دي: [چوخنگ دوستی دا دی به غمزده دلبر ـ چو تو سلطان به این زهره به بخت انوری باید] په سریزه کې ویل شوي چې محمدرفیق د پېښور د اکبرپور کلي دی.

د دېوان د داخلي شهادتونو پر اساس یې د زوکړې کال (١٣٦٢هـ ق) ښودل شوی دی. نوموړی یو پوه او عالم سړی و، له پښتو سره سره په فارسي، عربي او اردو ژبې هم پوهېده او له دې ژبو څخه یې لږ و ډېرې ژباړې او اثار هم زموږ په لاس کې شته. دا هم ویلی شو چې په دیني علومو، عقایدو او اخلاقو کې هم د ښې مطالعې خاوند و. نوموړی خطاط هم و او د خط ځینې کتابونه هم ورڅخه پاتې دي(٣٢: ٣١-٣٣).

د مرگ او مزار په باب یې هم د دېوان په سریزه کې په لاندې ډول راغلي دي: (محمد رفیق د دیر د نواب په فرمایش د فردوسي د شهنامې ژباړه مکمله کړه او غوښتل یې چې دیر ته لاړ شي تر څو ژباړه د دیر نواب ته وسپاري او انعام تر لاسه کړي، خو له تگ دمخه ډېر سخت ناروغېږي او د ده شاگرد عبدالمنان له لوري په کټ کې زاخېلو ته راوړل کېږي، چې بیا همدلته په زاخېلو کې وفات او جنازه یې خپلوانو اکبرپور ته یوړه او همالته خاورو ته وسپارل شو.

د مرگ نېټه یې (١٩٠١) ښودل شوې ده. هېره دې نه وي چې په سریزه کې دا هم ویل شوي چې نوموړی مجرد و او واده یې نه و کړی، په یوه سترگه معذور، ږیره یې پرېښې وه او هغه به یې سره کوله(٣٢: ٣٧).

د محمد رفیق شاعري

د محمد رفیق شاعري چې دېوان یې هم په درې دفترونو وېشل شوی، لومړۍ برخه یا دفتر یې له نصیحته ډکه شاعري ده او گڼ دیني مسایل او واقعې یې پکې ذکر کړي دي. دا مطالب یې د ټولنې د اصلاح، اخلاقي او اجتماعي روزنې په خاطر نظم کړي دي او ویلي دي.

په دویم دفتر کې چې د قصیدې امالي پښتو ترجمه او د دې قصیدې شرحه ده، په یاده برخه کې د شرحې لپاره له ځینو احادیثو، قراني اياتونو او تفسیر څخه استفاده شوې ده. چې دا شرحه د مثنوي په کالب کې

شوې ده. د اشعارو یاده برخه یې له هنري ښکلا څخه بې برخې ده او تش منظومو کې یې د شرحې مطالب پښتو کړي دي.

په دېوان کې دریيم دفتر چې تر ډېره پکې د نوموړي غزلې دي، په زیاتو غزلونو کې هنري تومنه لیدل کېږي، خو ځینې یې دا ښکلا نه لري، چې د غزلو د بیتونو شمېر یې هم مختلف دی او اکثره غزلې یې تر پینځلسو بیتونو هم اوږي، په اشعارو کې کومه نوې او ابتکاري موضوع هم نه تر سترګو کېږي. د دېوان په دې برخه کې د پښتو په ولسي اوزانو کې ویل شوې ځینې سندرې هم موندلی شو او مثنوي پکې هم شته.

د محتوا له مخې په یاده برخه کې عشقي شاعري هم شته. په ټوله کې ویلی شو چې په دېوان کې ځینې شعرونه هنري ښکلا لري او تر ډېره یې چې ژباړې دي وچې دي. دلته یې د شاعري په باب په همدې کرښو بسنه کو او د منځپانګې په برخه کې به یې د کلام ځینې نمونې راوړو چې دا هر څه به ترې په ثبوت ورسېږي.

د محمد رفیق د دېوان ځانګړنې

د محمد رفیق دېوان چې د شمس الفلک په نوم په ۱۳۹۳ کال د محمد ارشاد له خوا کتابت شوی او د پښتو اکاډمي له لوري چاپ شوی دی. دا دېوان په درې برخو وېشل شوی دی چې لومړۍ برخه یې ټول وعظ او نصیحت دی، اخلاقي اشعار دي او د فریدالدین عطار د پند نامې عطر او خلاصه ده.

دویمه برخه یې په پښتو کې د قصیدې امالي شرحه ده چې دا شرحه موږ ته د مصنف د عالمانه قابلیت یو ښکاره ثبوت دی. په دریيمه برخه کې خالص غزلیات دي. د دېوان په سریزه کې راغلي چې د شمس الفلک د دېوان اصلي نسخه په (۱۹۵۹) کال د مدیر رڼا ښاغلي غلام عباس سره وه او هغوی د پندو له میا شریف ګل نه حاصله کړې وه او هغه نسخه چې د اسلامیه کالج په لایبریري کې ده، د پورته یادې شوې نسخې نقل دی.

د دېوان په سریزه کې یو ځای داسې ویل شوي: (د محمد رفیق استاد کلام چې د مولانای روم د دېوان شمس تبرېزي په سمون یې ورته نوم دېوان شمس الفلک ایښی دی(۳۲: ٦٢).

د شمس الفلک دېوان په درې دفترونو وېشل شوی دی چې لومړی دفتر یې د خطي نسخې له دریيم مخ څخه شروع کېږي او تر ۱۵۴ مخ پورې رسېږي، چې په دې دفتر کې ډېر دیني مسایل ذکر شوي دي او یو څه برخه یې د پند نامې ژباړه هم پکې راغلې ده. د دې برخې زیات شعرونه د مثنوي په کالب کې ویل شوي دي.

د دېوان دویم دفتر یې د قصیدې امالي شرحه ده چې قصیده امالي یوه لامیه عربي قصیده ده چې د یادې قصیدې د بیتونو شمېر مختلف ښودل شوی دی؛ خو په دې دېوان کې یې شمېر ۷۳بیته دی. قصیده امالي

چې امام سراج الدين ابو محمد عبد الله بن عثمان الاوشي الفرغاني نظم کړې ده چې د شمس الفلک د دېوان دويم دفتر جوړوي. په ياده برخه کې د قران کريم ځينې اياتونه، ځينې قوي او ځينې ضعيف احاديث او تفاسير هم راوړل شوي دي او په شرحه کې تر استفاده شوې ده، ياده شرحه د مثنوي په کالب کې ده.

د دېوان شمس الفلک دريم دفتر چې د خطي نسخې له (۲۵۷) مخ څخه شروع کېږي د کتاب تر پايه دوام لري. په ياد دفتر کې (۹٦) پښتو غزلې او (٦) د نورو ژبو غزلې راغلي دي. همدارنګه ورسره نور متفرقات هم راغلي دي. پورته هغه خبرې وې چې د شمس الفلک د دېوان په باب مو وکړې، دا برخه همدلته پای ته رسوو.

د محمد رفيق د دېوان شعري فورمونه

د شمس الفلک دېوان چې درې دفتره لري په لومړيو دوو دفترونو کې يې منظوم کلام د مثنوي په کالب کې دی او دريم دفتر يې غزليات، مثنوي او متفرقات لري چې دلته به يې له هر شعري فورم څخه څو بيتونه راوړو.

مثنوي

د دېوان لومړۍ برخه چې تر ډېره واعظه شاعري ده او د مثنوي په فورم کې ده، په دې برخه کې يې د فريدالدين د پند نامې ترجمه هم راغلې ده چې په دېوان کې د راغلې يوې مثنوي څو بيتونه يې په لاندې ډول دي.

له وېښته نه دی باريک، له تېغه تېز دی
پــه نرمــۍ کــې لــه اوبــو سره امېــز دی
هم له تورې شپې تياره دی په څو حاله
تېرېــده دي پــرې پــه دېــرش زره کالــه
پــرې د پاســه اووه غرونــه بلنــد تــر دي
پيــدا کــړي پــرې حکــيم خــالق اکــبر دي
پــه اووه غرونــو بــه شي اووه پرســانه
ملايــک بــه پــرې ولاړ وي يکهمانــه

(۳۲: ۱۱۴).

د دېوان دويم دفتر يا برخه چې د امالي قصيدې شرحه ده هغه هم ټوله د مثنوي په کالب کې ده او دريم دفتر چې د غزلو په شمول پکې دا لاندې شعري فورمونه شامل دي.

غزل

د شمس الفلک دېوان دربېمه برخه چې شاعري يې ډېره د غزل په فورم کې ده او د هنر تومنه هم لري، پکې د راغلو شعري فورمونو څو څو بيتونه راوړو، دا هم په دېوان کې د راغلي يوه غزل څو بيتونه:

بېلتانـــــه دې هســـــې زه کـــــړم نـــــاعلاج
چـــې بـــه نـــه وي څـــوک زمـــا غونـــدې محتـــاج
کـــه ايـــاز غونـــدې قبـــول تـــر تـــا محمـــود شـــم
کـــــړم پـــــه سر بـــــه د اوو اقليمـــــو تـــــاج
هغـــه کـــس شـــولو محبـــوس پـــه دواړو کونـــه
چـــې د زلفـــو لـــه کمنـــد دې شـــو اخـــراج
که سلطان دی خو مجنون د عشق په ملک کې
هـــــر نـــــاکی نـــــه دی لايـــــق د دغـــــه راج

(۳۲: ۳۴۰).

فارسي غزل

په دېوان کې د غزلو په برخه کې پر پښتو سربېره فارسي او اردو غزلې هم شته لکه چې وايي:

نگارســـتان خـــوبی را هـــزاران دلـــبری بايـــد
بـــدين اورنـــگ سـلطانی نـه بـی ز سروری بايـد
شـــده ايينـــه ســـازان بـــيش در بـــازار ايـــن دنيـــا
نـــه هـــر ائينـــه ســـازی را سری اســـکندری بايـــد
ســـيه رويـــان قســـمت رابـــه کـــی درون ارنـــد
کـــه فـــردوس معلـــی را رخ خـــور و پـــری بايـــد
پوش ايـن مـا و سـياره بـه دود اه خـود امـی دل
که پيش ماه رخسـارش نـه مـاه و مشـتری بايـد

(۳۲: ۴۴۳).

اردو غزل

په دېوان کې د راغلي اردو غزل څو بيتونه په لاندې ډول دي چې وايي:

گـردن مـيری کاکـل تـيرا رنجـير هـی زنجـير هـی
جانتا هو ميری عمر بهر تتشوير هی تشوير هی

ناصـــح اگـــر غـــزت طـــواف کعبـــه مـــی

عاشق کو کوچـه یـار مـی تـوقیر هـی تـوقیر هـی

تیری لتافت حسن سـی شرمنـده مـاه و مشـتری

از ابتـدا ایجـاد سـی تشـهیر هـی تشـهیر هـی

(۳۲: ۴۴٦).

مخمس

په دېوان کې د غزلو له برخې وروسته متفرقات شروع کېږي چې په یاده برخه کې د لومړي مخمس څو بیتونه په لاندې ډول دي:

پـه توسـن د فلـک سـور قمـر رکـاب

عالیجـــاه معلـــی عـــالي القـــاب

منـــور تـــر افتابـــه تـــر مهتابـــه

ستا د نوره جهـان واړه شـه کامیـاب

د خپل حسن ماه و مهر مشتري کـا

(۳۲: ۴۴۷).

رباعي

په دېوان کې د مخمسونو له برخې وروسته رباعیات راغلي، لکه چې وایي:

صـبح صـادق د رخسـار

که را ښـکاره کـړي نگـار

شـپه بـه د هجـر پـه مـا

بیـا دوبـاره کـړي سـهار

(۳۲: ۴۵۲).

پورته مو د شمس الفلک په دېوان کې راغلي شعري فورمونو ځینې بېلگې تاسو ته وړاندې کړې، هېره دې نه وي چې له دې سره سره یې په دېوان کې څو ولسي سندرې هم راغلي دي.

د محمد رفیق د دېوان منځپانګه

د محمد رفیق دېوان چې لومړۍ دوه برخې یې تر ډېره اخلاقي شاعري ده، پند، نصیحت او دینې اشعار یې پکې بیان کړي دي، خو وروستۍ برخه یې د دېوان بیا ځینې نورې برخې هم لري چې دلته به یې له هرې برخې څخه یادونه وکړو.

حمد

په ټوله کې د محمد رفیق شاعري تر ډېره واعظه شاعري ده او دیني اړخ یې دروند دی چې دا د نوموړي په علمیت دلالت کوي، څښتن تعالی په حمد او ثنا کې وایي:

چې خطاب یې قل هو الله احد دی
بې نیازه له انباز ازل ابد دی
مستغنی دی شریک نه لري په ذات کې
نه همال یې په تکمیل شته د صفات کې
مبرا دی له کل شکه له کل عیبه
یگانه واحد احد دی بلا رېبه
نه په ده باندې د دوران شته دی
نه په ده باندې گردش د زمان شته دی

(۳۲: ۱۰۵).

د رسول الله ص په ستاینه کې وایي:

لولاک د تخت و تاج شاه محموده
کائنات یې کړه پیدا ستا له وجوده
هم قسیم یې هم جسیم یې هم نسیم یې
په پنجه د نبوت باندې وسیم یې
په علو کې د ادم د اولاد فخره
نور سپوږمۍ ستا له ښایسته موندلې بخره
په یوه لاس دې گوهر په بل دې تېغ شه
منعدم له دې جهان د کفر مېخ شه

(۳۲: ۱۱۷-۱۱۸).

ذکر د معراج

په دېوان کې د اسلامي او دیني مسایلو په لړ کې د معراج د واقعې یادونه هم شوې چې وایي:

هغــه شــپه چــې منــوره وه تــر قــدره
د زینـت کچکـول یـې سـوی و لـه قـدره
دغه هسې شپه نه کون ده نـه مکـان وه
نه هرګز پـه خـوب لیـدلې دې جهـان وه
جنتونـــو خلعـــت واغوســـتو د نـــور
پـه شرابـو د ښـادۍ کـې شـو مخمـور
هــم حــورانې مــه پېکــرې رخ قمــرې
پــه جامــه او پــه جلــوه شــوې منــورې

(۳۲: ۱۲۱).

مناجات: له څښتن تعالی څخه دعا غواړي او جرګه ورته کوي، لکه چې وایي:

ای زمـــا رحـــیم رحمانـــه مهربانـــه
مهربـان پـه بنـده ګـانو لـه هـر چانـه
ته غفـور، حلـیم بادشـاه پـوزش پـذیر یـې
په دا خپلې بادشـاهۍ کـې بـې نظـیر یـې
بیـا راغلـی دا بنـده چـې ګرېځتـه دی
اب د مخ یـې پـه عصـیان سره رېختـه دی
د خجلت سـترګې مـې پشـت پاتـه ګـوري
لکه څوک چې په خره سور او په مخ توري

(۳۲: ۱۴۰).

د دروېشانو د محبت او عاجزي په باب بیان کوي او وایي چې د دروېشانو سره نږدې اوسئ او غیبت نه یې ځان وساتئ لکه چې وایي:

هر شجر چې د چمـن ډک پـه ثمـر شي
لـه دې خپلـې ګرانیـې نګـون سر شي
کـړه دربـرد تواضـع خرقـه جمیلـه
پـه هـوا بـه شـې همجـنس لـه عزرائیلـه

کـه خـرد لـرې لـه ځـان سره قـرين

شـه درويـش لـه درويشـانو همنشـين

مـدام اوسـه پـه صـحبت د درويشـانو

بېرتـه ګرځـه لـه غيبـت د درويشـانو

(۳۲: ۱۵۳).

د عمر په باب

عمر غنيمت ګڼي، وايي تېر شوی عمر بېرته نه راګرځي او بايد ټول په قضا راضي شو، لکه چې وايي:

غنيمـت ګڼـه دا عمـر هـر نفـس تـه

هر چې تېر شو وبـه نـه ګرځـوې پـس تـه

چـا حکمونـه د قضـا لـه ځـان رد نـه کـړه

چې راضي پـه قضـا نـه شـو بـد يـې وکـړه

که څوک غواړي په دنيا باندې امان خپل

دی بايد چې مهر کېږدي په دهان خپـل

دي لايـق چـې عمـر ډېـر لـري عزيـزه

چې تېر شـوی نـه راځـي پـه هـېڅ تميـزه

(۳۲: ۱٦۹-۱۷۰).

پورته مسايل مو د ديوان له اولې برخې څخه له بېلګو سره راوړل، اوس به يو څو نمونې له دويمې او يو څو له دريمې برخې څخه راوړو.

د قراني ايت ذکر

د ديوان په دويمه برخه کې د قراني اياتونو په شمول حديثونه او تفاسير هم راوړي لکه چې وايي:

هـم کتـب د عقايـد راوړي پـه نيـت

چـې لـه دوه اويـا ټوليـو د بـدعت

دا کسـان دي چـې پـه ځـان کـوي غـرور

نېـک عمـل غورځـوي شـاته پـه ضرور

پـه ايـات کـې وايـي پـاک پروردګـار

نېک عمل کړه ستا په ذات مې نشته کار

(فاِذَا نُفِخ فِي الصُورِ فَلاَ انسابَ بينهم يومئِذٍ وَلاَ يَتَسَآءلُون.) (۳۲: ۲۸۴).

په همدې ترتیب په دې برخه کې هم ګڼ دیني موضوعات او مسایل راغلي دي. په دې پسې د دېوان دریمه برخه کې هم د ځینو موضوعاتو یادونه له بېلګو سره کوو.

د رقیب غندنه: رقیب غندي او په باب یې داسې وایي:

شي زما په خونخواري رقیب مردادر غټ
لکه تل خمر خوري کا شراب خوار غټ
غمخوري د یار د مینې باریک خس کړم
په طاعون کې چا لیدلی دی بیمار غټ
بې له یاره شېر په جنګ د رقیب مه ځه
په ځنګل کې البته پېښ شي ښهمار غټ
په کمزوري ځان د مینې پېټی مه اخله
په جهان کې دی د مینې کار وبار غټ

(۳۲: ۳۳۸).

نصیحت: د نصیحت په شکل مو د رب بنده ګي ته رابولي:

زړه صفا کړه د مومن له حسد غچ
هر احد ته مه شه تریخ لکه د مرچ
په قضا باندې تسلیم د رضا وکړه
د دنیا په غم خوري کې مه شه وچ
ځان د رب له معرفته سنګ پارس کړه
معلومېږي په محک باندې زر سوچ
د بدانو مساوي جواب بدي ده
مه شه بد ته حلیم تر لکه د کوچ

(۳۲: ۳۴۲).

د یار ستاینه: یار ستایي، وایي کله مې چې د یار مخ ولیده؛ نو لمر او سپوږمۍ راته هېڅ شول، په دې باب وایي:

چې مې ولید د دلبر بې نقاب مخ
راته هېڅ شو د افتاب او مهتاب مخ
هسې برېښ یې کړ په سزه دوشاله کې

لکه برېښ په شین ورق کا د ګلاب مخ

پژمرده یې په صد ناز ساحرې سترګې

منفعد کا د نرګس الوده خواب مخ

په صفحه یې د جبین نقطه د خال ده

یا څرګند کا په اسمان ثاقب شهاب مخ

(۳۲: ۳۴۵).

مینه: په دېوان کې مینه هم یاده کړې او د مینې یوه ورقه له اووه علمونو سره برابروي، لکه چې وایي:

چې مې ولوست ستا د مینې یو ورق

را په یاد شو د اوو علمو سبق

پر جهان شو منجلي نوراني مخ دې

خاص ایت دې د رحمت خال دې مطلق

له خنجر دې د سرو سترګو امېدوار یم

چې مې زړه شوی بې دریغه پرې شفق

د خوني چشمانو باز دې وړی مه شه

ترې مې ځار شه د خسته زړګي علق

(۳۲: ۳۸۵).

دې ته ورته نور ګڼ مسایل د محمد رفیق په دېوان کې ذکر شوي دي، خو موږ په همدې پورته ذکر شویو موضوعاتو بسنه کوو او د همدې دېوان د څېړنې پای ته رسېدو سره د رحمان بابا د ادبي مکتب برخه هم پای ته رسوو او په دې پسې به د خپل تحقیق مطابق د بل ادبي مکتب د دېوانونو په څېړنه پیل کوو.

شپږمه برخه

د عبدالحميدمومند پېژندنه

عبدالحميدمومند د پښتو ادبياتو د منځنۍ دورې نازکخياله او خورا مشهورشخصيت دی. په پښتو ادبياتو کې د پوره نوم او نښان خاوند دی، چې موږ يې په اړه دلته بحث کوو، خو په دغه بحث کې به د ده په ټولو ادبي هڅو رڼا اچول کېږي، که څه هم د ده ژوند لکه د منځنۍ دورې د نور وشاعرانو په څېر په تيارو کې ډوب دی او په ټولو برخو کې يې موږ سره مکمل معلومات نشته خو بيا هم موږ تر خپلې وسې کوښښ کړی دی، چې په اړه يې پوره او درست معلومات راټول کړو.

وبه گورو چې په دې هڅه کې تر کومه حده بريالي کېږو. د ده په هکله استاد پوهاند زيورالدين زيور داسې وايي: (حميد د عبدالحق زوی د پښتو ژبې يو نوميالی او پياوړی شاعر دی. په قام مومند ماشوخيل او د پېښور د ماشو د کلي او سيدونکی و. حميد په خپلو اشعارو کې خپل قام او ځای داسې ښودلی دی:

چې د عشق طاعوني رنځ د حميد مل شو ژر به خښ په هديره شي د ماشو

يو مخ يې د سړبند د ښکليو نه دی مصرکه کنعان دی که کشمير دی د کابل

د حميد د زېږېدو او مړينې نېټه په دقيق ډول معلومه نه ده، خو داسې اټکل کېږي چې په (۱۰۸۰هـ ق) کال کې زېږېدلی وي. د ده ژوند تر (۱۱۴۸هـ ق) پورې يقيني دی؛ ځکه چې دی په دغه وخت کې د شرعت الاسلام له پښتو کولو څخه فارغ شوی دی. ده د کتاب په پای کې دغه مسله روښانه کړې ده:

وکړه ما خدای ته دا تېښته په زر سل اته څلوېښته

د شوال په شپږويشتم په دا دادا د خدای وکتم

که کا خدای دا فيروزي د حميدفقيرروزي

د لې ختم شو کلام په ثنا صلوات سلام

له دې وروسته ښايي چې په (۱۱۵۰هـ ق) کال کې مړ شوی وي.

د حميد د ژوند په هکله نورو بهرنيو پوهانو څه نه دي ليکلي او نه يې د ده په هکله دومره څېړنه کړې ده. (د پښتو ادبياتو تاريخ منځنۍ دوره:۲۵۴مخ)

دلته مو د عبدالحميدمومند په اړه يو څه معلومات تر لاسه کړل اوس به د لا ښه وضاحت لپاره د ده له کلياتو هم دغه برخه را واخلو، چې په دې معلومات کې راغلي دي ((د پښتو شاعرۍ د اسمان په لمن کې عبدالحميد مومند هغه بل او ځلانده ستوری دی، چې تر څو د پښتو ادب اسمان ولاړ وي، دا ستوری به پلوشې خپروي.

عبدالحمید مومند د پښتو په ادبي حلقو کې د حمید، حمید ماشو خیل، ماشووال عبد الحمید، حمید خان، عبد الحمید او موشگاف عبدالحمید په نومونو ځلیدلی دی.

زوکړه

عبدالحمیدمومند هم له بده مرغه د پښتو د هماغو یو څو وتلیو شاعرانو په لړ کې دی، چې د زوکړې او مړینې جوتې نېټې یې لاهم د څېړنې په تورو ایرو کې ډوبې دي، خو پښتو څېړونکو بیا هم د اټکل او دقت له دواړو لاسو یو ټک هومره ایستلی دی. موږ د ډېرو تېرو ستومانونکو شاربنو پرځای یوازې د وروستیو پلټنو او یو څه منلیو پایلو را اخلو:

۱ـ ټاټوبی او زېږنځی

د حمیدبابا د ټاټوبي او زېږنځي په هکله هم پښتانه پوهان او پښتانه څېړونکي په یوه خوله نه وو؛ خو ورستیو پلټنو جوته کړه، چې حمیدبابا د پېښور ـ کوهاټ سړک او باړې رود پر ښی غاړه پراته کلي ماشوگگر (ماشو) کې زو کړی دی.

۲- مړینه او مزار

تر (۱۳۳۸ل) پورې کورني څېړونکي او بهرني (ختیځپوهان) پښتو څېړونکي او لیکوال د راورتي د روایت له مخې په دې عقیده و، چې گڼې حمیدمومند تر (۱۱۴۵هـ ق) پورې ژوندی و. او یا د بلو مهارت په وینا په همدغه کال مړ دی؛ خو د حمیدبابا د شرعة الاسلام په پیداکېدو سره دغه عقیده واوښته او تر (۱۱۴۸هـ ق) پورې د حمید ژوند یقینې ثابت شو.

مزار

د حمیدبابا مزار د ماشو یا (ماشو گگر)په هغه لویه ادیره کې دی، چې د کلي تر څنگ د خوږ پورې غاړې سویل ډډې ته پرته ده. پر مزار باندې یې په لومړي ځل د پښتو ادبي ټولنې لخوا په (۱۹۵۷م) کې او په دویم ځل په (۱۹۷۲م) کال کې مشاعره جوړه شوه.

د حمید مومند اثار

د حمید مومند اثار عبارت دي له:

۱- دېوان

۲- شاه و گدا

۳- نیرنگ عشق

۴- شرعة الاسلام

نوموړي څلور اثار د ده مشهور او پېژندل شوي اثار دي، چې په اړه يې له ډېرې تشرېح څخه تېرېږو او په خپل ځای کې به پرې مکمل بحث وشي(٦٦: ٢-٣م).

د حميد مومند شاعري

حميدمومند د پښتو ادبياتو د منځنۍ دورې هغه شاعر دی، چې د ژوند په هره برخه کې يې قلم خوځولی دی، د ده شاعري د ژوند هرې برخې ته شامله ده او هم يې په خپل شعر کې د ټولنې رنځ راخيستی او هم يې کوښښ کړی، چې نوموړي رنځ ته دارو پيدا کړي او خلکو ته يې ورکړي؛ نو په لنډو کې به ووايو، چې د ده په شعر کې هم سوز دی، هم مينه او د ده په دېوان کې د مينې او محبت کلمې په شعر کې ډېرې وړاندې شوي دي.

د ده د افکارو او اشعارو مانۍ د عشق او محبت په بنسټ ولاړه ده. د فورم له مخې د ده په اشعارو کې د عروضي نظمونو زياتره ډولونه لکه: غزل، قصيده، مثنوي، ترکيب بند، مخمس، قطعه، مسدس او دې ته ورته نور ډولونه شته دي.

د موضوع له پلوه د ده په شاعرۍ کې زياته برخه په ادبي فنونو، عشقي اجتماعي، اخلاقي او انتقادي مسايلو باندې غږېږي، چې په نومړو ټولو برخو کې يې په دېوان کې پوره معلومات شته دی.

موږ که هر څومره د حميد پر شعر بحث وکړو؛ نو دا به کمه نه وي او نه به يې د شعر حق ادا شي. دلته د حميد د شاعرۍ په اړه د ده له کلياتو ځينې برخې راټولوو، چې په دې ډول دي: (حميدمومند يو نازکخيال او رنګين خيال شاعر دی، د ده په کلام کې هنري او ښکلاييزه خوا دومره غښتلې او قوي دي، چې دی يې د پښتو ادب د اسمان لوړو مدارجو ته خېژولی دی. د ده د شاعرۍ منشور (غمی) چې له هرې خوا څخه وکسې، يوه نوې رڼا او يوه نوې پلوشه ترې ښکاري.

دی د شعر پر ښکلاييزو باريکيو او رنګينيو دومره خپور او راچارپير دی، چې مينه والو او لارويانو يې په حقه بللی دی او د موشګاف په پلاز او ګدۍ (مسند) يې کېنولی دی، پښتو څېړونکو او سبکپوهانو د عبدالحميد مومند د سبک ښکلا، رنګيني او هنري لوړتيا د هندي ادبي ښوونځي له اغېزه بللې ده، خو مخکې له دې چې د دې ارزونې او تقميم څه ووايو پکار ده، چې په ادبي سبک او ښوونځي لږه رڼا واچوو، خو موږ ترې تېرېږو او طمع لرو چې نوموړي برخه کې به چا ته هم مشکل نه وي.) (حميد کليات:يوولس ،لس مخ)

دې موضوع ته پوهاند زېورالدين زېور په خپل کتاب (پښتو ادبياتو تاريخ منځنۍ دوره) کې داسې اشاره کړې ده: (حميد د پښتو شعر په فن کې نوي خيالونه او نوي رنګونه پيداکړي دي. هغه په پښتو ادبياتو کې د يوه ځانله ادبي سبک او مکتب څښتن دی. په دې ادبي سبک کې عشق، نازکخيالي، موشګافي، همدارنګه د نايابه تشبه ګانو، استعارو او کنايو ډېر لوی درسونه ويل کېږي.

کوم شی چې تر ټولو دمخه د حمید په دېوان کې زموږ نظر ځانته راکاږي، هغه به په دې ډول وي:

۱- حمید د هندي سبک پیرو دی او د دې سبک یو غټ خصوصیت دا و، چې شاعر به شاعرانه دنیا کې د عشقیوه رنګینه دنیا جوړوله او د هغې په بیان کې به یې ډول ډول خیال بافي کوله، د غزل ډېره برخه به یې د معشوقې د سترګو، ښو، وریځو او قد په باره کې داسې توصیف کېده چې مبالغې نه به مبالغه جوړه شوه.

شاعر به د سترګو په ګولیو ویشتلی یا به د سترګو په ښو ژوبل شوی و او یا به د هجران له اور څخه لولپه و؛ خو هغه داسې یو شاعر نه دی لکه د دې سبک نور پیروان چې د مضمون مانا او مطلب په الفاظو کې نغاړي او په مشکل سره ورنه مقصد اخیستل کیدای شي لکه: کاظم شیدا کوم مهم خصوصیت چې د حمید په کلام کې لیدل کېږي هغه د پښتو ژبې ورځني او ولسي متلونه او خوږې محاورې دي، چې هم یې د کلام لطافت ساتلی او له بلې خوا د عامو پښتنو فهم ته نږدې دي، چې موږ به دلته د بېلګې په راوړلو سره نوموړې موضوع نوره هم روښانه کړو:

ماتوي ښکلی نظر په رقیب باندې
وي کودی ومخ ته ایښی دپالیز
لکه سر دپسه په اور غاخونه سپین کا
هسې ماله نن له غمه خندا راغله

(۳٦: ۲۷۰م).

۲- د حمید د اشعارو بل خصوصیت دا دی چې هغه د خپل مطلب او مدعا د ثبوت لپاره له ارسالمثل او مدعاالمثل څخه هم کار اخلي او د دې ترڅنګ نورې ادبي صنایع هم راوړي، چې استعارې او کنایو استعمال د ده لویه هنر نمایي ده لکه په لاندې بیتونو کې:

د خاطر د خلیل ویره مې تېرې نشي۔
که په بد مې شي رقیب لکه نمرود
پرې کولو ته یې سرتېټ د ګلوښاخ که
چې د باغ په ننداره شي دلربا ګډ
د تورخط لیکه یې ګډه په سپین مخ شوه
تور او سپین زما د سترګو شو په د ا ګډ

(۳٦: ۲۷۰م).

۳- د ده د اشعارو بل خصو صیت دا دی چې ده ډېرې نوې او په زړه پورې نادرې تشبه ګانې کارولې دي او دی د نوموړې دورې د نورو شاعرانو برخلاف د مبتذلو تشبهاتو نه ډېر بد وړي او همدارنګه هغه تشبه ګانې

او استعارې په خپلو اشعارو کې راوړي، چې په پښتني چارپیریال کې رواج لري او پښتانه ورسره اشنایي لري چې موږ یې دلته د یوې بېلګې په راوړلو سره روښانه کوو:

پند او وعظ هلته ښه وي چې مانه شي

تاخو جوړه کړه پیشو وکه څـــوک میـو

ونړاوه سد دسکندر ځوځـو مـا ځـو ځـو

یاد یارله مخه خط و خال شو رابرسـیر

(٣٦: ٢٧١م).

په لومړي بیت کې مرکبه تشبه او مدعاالمثل راغلی او په دویم بیت کې تشبه ګانې(مخ د سد سکندر سره او خط وخال د ځوځو ما ځو ځو سره) او د دې تر څنګ په دې بیتونو کې تلمیح او تجاهل العارف هم لیدل کېږي.

د ده په شاعرۍ کې نه یوازې دا چې ادبي صنعتونه استعمال شوي دي؛ بلکې ده په خپلو اشعارو کې یو شمېر سمبولونه او عنعنوي نومونه هم استعمال کړي دي، چې د ځینو سمبولونو بېلګې یې دا دي: (بلبل، اهو چشم، مجنون او لیلا، پتنګ، شمع، شیرنۍ او فرهاد) او نورو رواج موندلی دی. د ده د اشعارو یو بل لوی خصوصیت دا دی چې دی د ټولنې له ښه او بد سره مستقیاً رابطه لري او د پندونو او واعظونو په څنګ کې داسې اشعار هم لري، چې هغه د ټولنې هر وګړي ته داسې اجتماعي لارښودنه کوي چې اساس یې په کار باندې بنا وي، چې موږ یې دلته بېلګه هم راوړو).(دپښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره:٢٧٠مخ)

په محنت سره ټوک ټوک سړی پروت ښه د ی

نـه ولاړ په دروېزه د یـــــــوه ټـــــــــوک

(٣٦: ٢٧٢م).

د حمید مومند د دېوان ځانګړتیاوې

د حمید د دېوان په هکله به موږ له ډېرو خبرو تېر شو او سیده به د ده د دېوان په هکله د نورو پو هانو نظرونه راواخلو، چې د حمید په کلیات کې د دې موضوع په هکله داسې بحث راغلی دی: (د حمید دېوان چې د اټکل له مخې د ده په ژوند ټول شوی دی، په ادبي حلقو کې په دور و مرجان مشهور دی. خطي نسخې یې ښایسته ډېرې موندل کېږي ،لږ تر لږه ٢٥ نسخې یې ښاغلي زلمي هېوادمل (په کابل، پېښور، لندن او لېننګراد کې) یادې کړي دي.

دا دېوان تر دې وخته پورې نهه ځلي چاپ شوی دی:

په لومړي ځل د ممبي په مطبعه محمدي کې د ملا محمد یحیی په اهتمام .

دویم ځل په (۱۲۸۷هـ ق) په بمبي کې د قاضي ابراهیم له خوا په (۱۳۷) مخونو کې.
دریم ځل په (۱۲۹۵هـ ق) کې بیا د قاضي ابراهیم د زوی فتح محمد له خوا.
څلورم ځل په (۱۳۳۱هـ ق) کې دملاعبدالغفار هوتک کندهاري له خوا په لاهور کې په (۱۳۵) مخونو کې.
پنځم ځل په (۱۳۳۰هـ ق) کال د پوهاند رښتین په مقدمه، تصحیح او اهتمام د پښتو ټولنې له خوا چاپ شو.
شپږم ځل په (۱۹۵۸ع) کال د سیدانورالحق په مقدمه، تصحیح او اهتمام د یونیورسټي بک ایجنسۍ له خوا چاپ شو(همدا چاپ وروسته درې ځلي نور هم تکثیر شو).
په اووم ځل په (۱۳۵۹ل) کال د عبدالحمید مومند د دیوان د منتخابات په نامه د پوهنمل نورمحمد غمجن په زیار چاپ شو.
په اتم ځل په (۱۳٦۳ل) کې په نویو زیاتونو، سپړنو او سمونو سره د سرمحقق زلمي هېوادمل په سریزه، څرګندونو او لغتنامه د افغانستان د علواکاډمي له خوا په ا، ب + ۳۴۴+۱۳۸=۴۸۴ مخونو کې خپور شو.
نهم ځل په (۱۹۹۱ع) کې د پروفیسر قاسم بنوي (په ادبي خدمت) په وړه کچه د پښتو ادبي مرکز سرای نورنګ له خوا په ۱۴۴ مخونو کې چاپ شو.
د عبدالحمید مومند تر ټولو وروستی او په ټولو چاپ شویو دیوانونو کې بشپړ دیوان همدا د سرمحقق زلمي هېوادمل په زیار دیوان دی، چې۲۹۰ غزلې او قصیده ډوله غزلې، قصیدې، یو مخمس، یو ترکیب بند او دوی څلورېزې لري، چې د ټولو بېتونو شمېر یې (۲۹۲۳) ته رسېږي(٦٦: ۳-۴م).

د حمید د دیوان شعري فورمونه

کله چې د حمید په شعري کالبونو خبرې کوو؛ نو تقریباً سره ورته او کامل معلومات زموږ لاسته نه راځي؛ ځکه چې د ده په دیوان مختلفو خلکو کار کړی او مختلف ډوله معلومات یې زموږ مخې ته ایښي دي؛ خو د دې ټولو له جملې څخه یې دلته یوه پایله راوړو، تر څو لږ تر لږه موږ سره په دې برخه کې مرسته وکړي چې د ده په دیوان کې د نومړو کالبونو شمېر څومره دی.
د دې موضوع په هکله د استاد پوهاند زیورالدین زیور په (پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره) کې داسې راغلي دي: ((د ده دیوان په مردف ډول سره (۲۸۵) غزلې، (۱٦) مخمسونه، (۱۴) ترکیب بندونه، (۷) قصیدې، (۳) رباعي ګانې، (۲) قطعې او یو مسدس شامل دي(۳٦: ۲۸۵م).

غزلې

د ده په دیوان کې تقریباً(۲۸۵) غزلې شاملې دي چې د بېلګې په ډول به یې موږ دلته یو غزل را نقل کړو، تر څو پورې د موضوع حق ادا شي چې په دې ډول دی:

الهـي دمحبـت سـوز او گـــــــداز را | پـه دا اور کـې دسـهي سـمندر سـاز را
تـن پـرور بلبـل دې عـيش کانـدي پـــه گلـو | پـــروا نـــــه لـره پـه اور زمـا پـر وازرا
کـه مـې نـه زمـويې پـه ويـار دوړو ستـــرگو | مـــی دعشـق پـه ميخانـه کـې د مجـاز را
چـې نظـر لـه نـاتوانی وچـــــاته نـه کـا | دهغوبيـــــمارو سـترگو نـاز ونيـاز را
چـې مـې نـه وي سرکـوزی چاتـه بـې ښـکلو | لـه دولتـــه دعشـق هسـې کـبر و نـاز را
اضـطراب مـې دعشـق کـړې دزړه نـه لېـرې | قناعـت قـوي لنگـر د دې جهـــاز را
کـه مـې نـه پاشـوې سر زيـد وعمـــرو تـه | خپـل زانـو لکـه نـرگس محـــــرم راز را
څـو بـه گـورم دقيامـت وورځـو شـــپو تـه | داانجـــــام پـه دم قـدم کـې داغـاز را
دحميـد محمـود رايشـــــــه پخپلـه | کمينـــي لـره کـمال زمـا ايـــــــاز ر

(٦٦: ١م).

قصيدې

د ده په دېوان کې د قصيدو شمېر کم دی، تقريبا(٧) قصيدې يې په دېوان کې خوندي دي، چې موږ يې دلته د بېلگې په توگه د يوې قصيدې يوه برخه را اخلو، چې بېلگه يې دا ده:

څو به خـورې پـردي مالونـه پـه ســـــتم
يوه ورځ به دې پـه نـس کـــــې شي اړم
دمظلوم دمال روټی خـــپله بوټی خوري
مه شه هېڅ په دا خـوراک خـوښ خـورم
بې شبهې مار او لـــړم دي بل څه نـه دي
راپيـــــــــرد لـی پـه ستم دام او د رم

(٣٦: ٢٦٥ م).

ترکيب بند

د ده په اشعارو کې تقريبا (١۴) ترکيب بندونه شامل دي، چې بېلگه يې په دې ډول ده:

نن به شپه زما ديار په کوم مـــــکـان وي
جلوه گر به په کوم هټ په کوم دکـان وي
شرمولي به يې حسن کم ترکـــــــان وي
کوم دکان به يې د خولې د درو کـــان وي
په ډيوه به يې دمخ څوک پتنگـــــان وي

همخوابه به يې پا کان که نا پا کـــان وي

ولې نه چوې له دې غمه زما دلـــــــــه

چې دې واورېده دیار دتلو بد لـــــــــه

(٦٦: ٢٦١م).

مخمس

د ده په دېوان کې د نورو عروضي نظمونو تر څنګ د مخمس په فورم کې هم شاعري شوې ده، چې موږ یې بېلګې دلته را اخلو:

د هجران له لاسه ناست یم ویرژلـــی

لکه بوت په غټو سترګو دم ختلـــی

بېهوده په صورت روغ په زړه نتـلی

بېلتانه په مرګ حال یـــــم رسولی

ربه راولې اشـــــــنا په سفر تللی

(٦٦: ٢٦٦م).

رباعي ګانې

د حمید په دېوان کې د زیاتو شعري کالبون ډولونه لیدل کېږي، چې د هغې له جملې څخه یې رباعي هم ده چې نمونه یې دا ده:

کلـه بـه راشـــــــــــــې پـه هنـد براتـه

کلـه بـه کېـــــــــــنې ماتـه مـخ راتـه

څـو تـه رادرومـې پـــــکې ډیـوې ږدې

غـم بـه کـا خونـــــــــد دحمیـد میراتـه

(٦٦: ٢٧٠م).

د حمید د اشعارو محتوا

حمید د هندي ادبي سبک پیرو شاعر و، په نوموړي سبک کې عموماً د عشق، مینې، د مجازي وصل او هجر بیان، د خپل معشوق د زلفو او غاښونو ستایل او په عموم کې د خیالي مسایلو بیان ډېر زیات دي، خو حمید مومند په تمامه مانا په نوموړي دام کې نه دی نښتی.

دا منو چې حمید په همدې رنګ رنګ شوې شاعري کړې ده، خو کټ مټ لکه نومړی چوکاټ چې دی داسې مخکې نه دی تللی او په خپلو اشعارو کې یې د خپلې ټولنې او اجتماع ستونزې او مشکلات هم ځای کړي دي، د خلکو فکر، دود، دستور، عقاید او ځینې فولکوریک روایت یې هم د خپلې شاعرۍ په جوال کې اچولي دي او د خپلې زمانې یو روڼ انځور یې موږ ته د لیک پر ژبه په میراث کې پرایښی دی، چې هېڅ پښتون زوی به د حمید مومند نوموړی احسان هېر نکړي؛ بلکې همدغه اوصاف به د حمید نوم تر ډېره ځلاند وساتي.

مخکې مو هم د ده په شاعرۍ رڼا واچوله اوس غواړم، چې د ده په اشعارو کې ټولې راوړل شوې برخې یو څه په تفصیل سره بیان کړم او هغه برخې چې د ده په شاعرۍ کې ببخي بارزې دي هغه عبارت دي له: اخلاق، مینه، ټولنیز روابط، پند او نصیحت، د تېرو وختونو او حالتو بیان او دې ته ورته نورو څخه چې موږ به یې دلته ټولې برخې په ترتیب سره راوړو.

اجتماعي او اخلاقي برخه

د ده په اشعارو کې دا برخه نظر نورو موضوعاتو ته ډېره نه ده راغلي، ځکه چې موږ مخکې هم یادونه وکړه چې د ده په اشعارو کې دا او دې ته ورته برخې ډېرې کمې تر سترګو کېږي؛ ځکه چې د نومړي سبک په ځانګړتیاوو کې هم دې برخې ته دومره ځای او وخت نه دی ورکړی شوی، خو بیا هم بې برخې نه ده پاتې شوې، لکه د ده یو بیت چې په دې هکله یې ویلی دی داسې دی:

چې د بل دپاره ځان سیځي حمیـــــــده

تل یې وي لکه د شمعې پایه بـــــــــره

(٣٦: ٢٦٤م).

دی وایي چې د خپل ځان لپاره خو هر څوک کار کولی شي، خو نر هغه څوک دي چې د نورو خلکو درد ته دوا شي او د نورو د مشکلاتو حل کوونکی و اوسي، دی وایي چې د داسې خلکو پایه بره وي هم د الله ج په وړاندې او هم په ټولنه کې محبوب وي؛ نو دی هم په دې باور دی چې انسان لارښوونې ته اړتیا لري باید سمې لارې ته رهبري شي او هغه څه ورته ور وښودل شي چې دی او ټولنه ورته ضرورت لري، تر څو پورې چې یو شخص اجتماعي نه شي نو علمي کېدلی هم نه شي؛ نو په همدې خاطر دی وایي چې انسان باید اجتماعي و اوسي او تر څنګ یې باید داسې کړنې تر سره کړي چې ببرته همدې معشرې ته په درد ولګي.

د ده په یوه قصیده کې هم دې برخې ته اشاره شوې او داسې یې واضیح کړې ده چې ببلګه یې په لاندې ډول ده:

څو به خوري پردي مالونه پـــه ســـتم

يوه ورځ به دې په نس کې شـــــي اړم

دمظلوم دمال روټۍ خپله بوټـــۍ خوري

مه شه هېڅ په دا خوراک خـــوښ خورم

بې شبهې مار او لړم دي بل څـه نه دي

راپيـــــرد لی په ستـــــــم دام او درم

(٣٦: ٢٦٥م).

دی په نوموړې قصيده کې ټولنې ته داسې پيغام ورکوي، چې ته به تر څو پورې د بل مال ته ناست يې او پردي مالونه په غلا او زور سره خورې، نو راځه دا لاره پرېږده دا د انسانيت لاره نه ده، دا د بېغېرتو خلکو کار دی، ځکه چې نارينه او ځوانمرد خلک خو يې نورو ته ګټې او له نورو څخه خو يې نه اخلي.

دی وايي په چا کې چې غيرت نه وي؛ نو په هغه کې ايمان او پښتو هم نشته؛ راځئ چې له دې ناوړه عمل څخه ځان خلاص کړو، ځکه چې نوموړی عمل موږ له څو ملي او اسلامي ارزښتونو څخه خلاصوي چې مخکې مو ورته يادونه وکړه؛ نو بيا يې اړينه نه بولم چې دلته يې نومونه واخلم.

د دې تر څنګ دی وايي چې ته کله د بل مال خورې نو ته دې ته مه خوشحالېږه؛ ځکه چې دا په حقيقت کې ستا لپاره مار او لړم دي ته په دې کې هېڅ شک او شبهه مه کوه يوه ورځ به دې همدا مار او لړم خوري. بيا به دې د خلاصون ځای هم نه وي. دلته د دې ټولو مسايلو په راوړلو سره دا موږ ته څرګندېږي چې دی په خپله ټولنه او خلکو ډېر زيات دردمند دی، دی دواړو ته زحمت او مشقت نه غواړي، دی دومره عاطفي دی چې د دواړو په حال خپل تاثر څرګندوي.

اخلاقي او تربيوي برخه

د ده په اشعارو کې دا برخه ښکاره ده، د شعر په ژبه ټولنې ته په دې برخه کې دومره کار کړی، چې هېڅوک يې هم نه شي کولی، که موږ د دې ډول اشارو ته وګورو؛ نو له همدې ځايه دی موږ ته يو لوی استاد هم ښکاري، لکه څنګه چې د ده شعر نازک دی هم د حساس او نازک ضمير خاوند و او د ټولنې ټولې خواوې يې په پوره دقت سره تر نظر لاندې نيولې وې. په دې برخه کې د کار نظرونه لري چې موږ به يې دلته د بېلګې په راوړولو سره څرګندې کړو:

نازولـــی زوی نه اخـــــــــــلي ادب

او دسيوري نخل نه نيسي رطـــــــب

ونيومه شه هغه زوی په خـــــوا پورې

چې يې نه نيولی درس وي نـــه مکتب

په غوجل کې باري خر او کــچر ښه دی

نه په خونه کې جاهل او بـــــــې طلب

د پسرپه نيکو بدو پلار يادېـــــــــرې

داخبر دی په جهان کې مجـــــــرب

په زړه مهر په خوله قهر زوی ته بـــــويه

څه ښه وايي (چېرته ډب هلتـــــــه ادب)

(٣٦: ٢٦٦م).

دی وايي چې موږ او تاسې بايد په ماشومتوب کې خپل زوی ته داسې مينه ورنه کړو چې د ده اينده له خطر سره مخ کړي او دی له سمې لارې څخه د خپل مور او پلار د بې کچې مينې او نازدانه توب له وجې خپل اصل هدف پرېږدي او په نورو ګډو وډو سر شي، دی د دې مخالف هم نه دی چې ماشوم سره دې نرم سلوک او ښه چلند نه کېږي، بلکې دی وايي چې دا دې هم وشي، خو په زړه کې. تر څو د ده ماشوم په دې ډاډه نه اوسي چې زه هر قسم ته عمل کوم پلار به مې ما ته هېڅ نه وايي.

دی وايي يو پلار بايد زوی ته وښايي چې ستا مسوولیت څه شی دی او دا هم ورته وښايي چې ټولنيز اداب څه شی دي، که داسې نه وي نو بيا له داسې اولاد څخه خر بهتر ګڼي.

سياسي برخه:

لکه څنګه چې د هغه وخت نور ټول شاعران د هغه وخت له جبر او سختۍ په امن کې نه و؛ نو همدغه علت و چې دی هم له دې برخې بې اغېزې نه دی پاتې شوی او د ده په ژوند باندې يې مستقيما اغيزه کړې ده او په شعر کې يې دا برخه په ښکاره توګه ليدل کېږي چې د دې برخې لپاره يې موږ له اشعارو يوه بېلګه رانقلوو:

دا څه دور دګردون راغی وخت نور شـــــو

چې شپوه د عادلانو ظلم زور شـــــــــو

نور دنيا دغوښتو ځای شوچېرته پاتـــــــې

چې غمخور په ظلم زور راغی خون خور شو

څوک وکومې خواته وتښتي ځان خلاص کا

په تمامې دنيا او ري دغه اور شـــــــــو

څه حاکم څه رعايت غريب وزيـــــــــر

جهان واړه دبلا په لکۍ سور شـــــــــــو

(٣٦: ٢٦٤م).

که پورته شعر ته نظر وکړو نو په ښکاره توګه راته معلومېږي چې دی هم د هغه وخت له ظلم او جبر څخه په امن کې نه دی پاتې شوی؛ بلکې دی یې هم ننګولی دی او له خولې یې دغه ډول سوې کوکې وتلي دي او د هغه وخت نظام یې په خپل شعر کې یاد کړی دی او هم یې د دوی له ظلم او جبر څخه سر ټکولی دی.

دی وایي چې زموږ په ټولنه کې داسې اور د دې ظالم حاکم له لوري بل شو چې له موږ یې د تېښتې لاره هم ورکه کړه. یعنې په ټوله محله کې یې اور بل کړی دی او هېڅ ځای او شخص ترې په امن کې نه دی پاتې. دی وایي چې جهان په یوه داسې بلا اخته شوی دی نو راځئ چې ددې بلا مخه ونیسو.

د حمید په اشعارو کې تمه او حرص

تمه او حرص دواړه داسې کلمې دي چې په خپله یې هم ځولۍ تشه ده او که څوک د چا نه څه طمع وکړي؛ نو تش لاس به ورڅخه ځي. تمه او حرص د انسان عزت او غیرت داغ دار کړي او فکر یی فلج کړي. اراده یې له عمل څخه مخ کې مذبذبه کړي، تمه او حرص د انسان تعمیري صلاحیتونه د تخریب په لور بیایي. د هغه مثبت فکر بدل کړي او په بله - بله یی سر کړي. د تمې او حرص طوق چې د چا په غاړه کې پریوتی دی، نو تل نورو خلکو لکه د بیزو په ځان پسې راکښلی دی. په دی باب حمید بابا وایي:.

چی سړی له ســـــړی کړی ددنیا طمع

سړیتوب به سپی توب شـــی په دا طمع

ددانی په طمع بند آزاد مرغـــــــی شی

زربه ستا په ځان بلا شی د ستا طمـــع

پردی پریږده که په قطع موراوپلار وی

د هیـــــــچا و چا ته مه شه پیدا طمع

ددغی طمعـــــــی طاعون ښه دی حمیده

چی کوی دنـــــــــس دپاره له چا طمع

چی په پوزه یې پـــیزوان نه وی دطمعی

دهغو خلقو گـــــــردن به وی مدام لوړ

چی په نغوته د حـــــــرص او د هوایی

کـــه څښتن د خزانو یې خـــــو گدایی

(١٤: ٢٢٨م).

پر خاصو موضوعاتو او مضامینوسربېره حمید بابا له ژوند سره تړاو لرونکو په نورو موضوعاتو هم خپله وسه کړې ده او ډېر په رندانه انداز کې یې موږ ته د ژوند حقایق بیان کړي دي.

چـــــی دانه په گلو پټه شـی خوشـه شـی
په گـــــــوگل دننـه پـټ ساته ارمـان پـټ
تـش ارمـان دسـتا پـه مـرگ هغـو ونـه خـوړ
چی ددوی دپـــاره تـا دیـن او ایمـان خـوړ
کـه د زور زمـرو زور لـری پـه ځـان کـې
د زیردســـــــتو پـه شـیوه گـوره زیرگـوره
هره چار لـــــه خپلـه وختـه سره زیـب کـا
سپین ویښتـــــــه نه دی د ځنړو ددړئی

(۱۴: ۲۳۰م).

تصوف

د دې موضوع په هکله استاد پوهاند زیور الدین زیور په خپل کتاب د(پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره) کې داسې اشاره کوي: (حمید د تصوف د کومې فرقې پیروي نه ده کړې خو په عنعنوي تو گه یې په دېوان کې یو نیم بیت راغلی دی :

که کعبې کـه بوتخـانې تـه تـگ وپـوی کـړم
زما بـل دیـار لـه مخـه مقصـود نشتـــــــه
جستجوی کړم ستا دمخ پـه دواړه ځایـــه
که کعبې کـه بتخـانې تـه تـگ وپـوی کـړم
اول وپېژنـه خـدای تـه پـه یکـــــــــۍ
درسـول پـه رسـالت مـه شـه شکـــــــۍ

(۳٦: ۲٦٦م).

حمید د تصوف په کړۍ کې نه دی نښتی، له پیرۍ او مریدۍ څخه تښتېدلی دی، چې په دې باره کې په ډاگه سره وایي:

ډېرو زهـد تـه حـــــمید راکـیښ شـیخانو
چې داخـــل په داقطـار کـې نـه ونـه شـو
له شبـــــخۍ راته بهتره شـوه رنـدي بیـا

ناصحان مې دې په سل رنګه غنـدي بيا

(٣٦: ٢٦٦م).

دی وايي چې حميد په دې کړۍ کې نه دی نښتی.

له دې ځايه مو دا هدف تر لاسه کړ، چې د ده په تصوفي برخه کې کوم ځانګړی پير نه شته او نه يې په دې برخه کې له چا څخه لاسنيوی کړی دی.

توصيف: د ده په اشعارو کې دا برخه شته او ځای نا ځای يې مختلف مناظر او اشخاص په خپلو اشعارو کې ياد کړي دي، د هغوی ستاينه يې کړې ده، همدارنګه دی په خپلو اشعارو کې د نورو خلکو تر څنګ د خپل ځان توصيف کړی دی او خپل ځان يې د نورو په وړاندې لوړ بللی دی چې موږ يې دلته يوه برخه راوړو:

اوس د فکـر تـوره واچـوه حـــــميده

چې دې نشته په پښتو کې بـل حريـف

چې له ښـو ښـوميړنو دې ميـدان يـــوړ

شـاباس شـاباس دحميـد فکـر تورزنـــه

(٣٦: ٢٦٧م).

دلته چې موږ د حميد شعر ته وګورو؛ نو دی پکې د خپل ځان ستاينه ډېره زياته کوي او د شعر په ميدان کې خپل ټول حريفان مات ګڼی او خپل ځان له دې ټولو مخکښ ګڼي.

يا:

و اسمان ته به دشعر زينې کـــېږدي

که حميد د غـــم له سره زنګون وکېښ

يا:

فـارسيانو دحيـرت ګوتې په غاښ کړې

چې حميد سخن سازي کړه په پښـــتو

(٣٦: ٢٦٨م).

د دې دواړو بيتونو له څېړنې څخه سړی دې نتيجې ته رسېږي، چې دی په ټولنه کې دې برخې ته ښه او پوره متوجه دی او د دوی کارونه تعقيبوي. په پايله کې د دې ټولو په منځ کې ځان لوړ ګڼي او د خپل ځان توصيف کوي.

دی بيا په يو بل بيت کې د انساني ښکلا او ښايست ستاينه په دې ډول سره کوي:

چې نظر يې د ګل رخ ساقي پرمخ شو

د نرګس له لاسه واوښته پیالـــــــــه

(٣٦: ٢٦٨م).

عشقي برخه

کله چې د حمید په شاعرۍ بحث کوو، نو تر هر څه دمخه به د عشق له موضوع سره مخامخېږو، ځکه چې د حمید د شاعرۍ نیمه برخه همدې مسایلو ته ځانګړې شوې ده، بله دا چې د هندي ادبي سبک پیرو و او په نوموړي سبک کې هم دې ډول مسایلو ته ډېره لمن وهل شوې ده.

د ده په اشعارو کې دا موضوع ډېره تکرار شوې او په بېلابېلو شکلونو سره یې دغه موضوع په خپلو اشعارو کې بیان کړې ده. د حمید د شاعرۍ پر عشقي برخه استاد پوهاند زیورالدین زیور داسې نظر لري: (د حمید په اشعارو کې عشق په بېلابېلو شکلونو سره راغلی دی، په دې مانا چې هغه د ښکلو او نازولو، شنو خالونو، تورو سترګو، خط او کاکل ته هر ساعت سترګکونه وهي او لکه پتنګ په سوځېدونکي شمع ځان جلوا کوي او د حسن پرستۍ بېرغ یې اوچت کړی دی.

په رښتیا سره د عشق په بازار کې د حمید هنګامه تر هر چا زیاته ده چې دغه موضوع د ده په لاندې بیتونو کې وګورو:

چې نازل شو د عشق تندر له اسمانه

ما حمیـــد د غم لایق ورته سر ونیـــو

یا:

چې د عشق په غم اباد یم دېره شوی

نور مې هېڅکله ښادي د وجود نشته

موږ دلته د دې مو ضوع په هکله د ده نورې بېلګې د موضوع د اوږدوالي په خاطر نه راوړو، خو د دې ټولو موضوعاتو ترڅنګ موږ د ده په اشعارو کې یو شمېر داسې بیتونه پیداکولی شو، چې مطلب یې ترې د مجازي مینې تر څنګ حقیقي مینه ده. د دې بیتونو د بېلګې په اړه مو د ده له دېوان څخه د یوې غزلې یوه برخه راوړې ده:

الهي دمحبت سوز او گـــــداز را — **په دا اور کې دسهي سمند ر ســـاز را**

تن پرور دې عیش کاندي په گلو — **پروانه لره په اور زما پـــــــــرواز را**

که مو نه زمویې په ویار دوگو ستر گو — **می په عشق په میخانه کې د مجاز را**

(٦٦: ١م).

موږ په دې بیت کې له ورایه لیدلی شو چې دلته د حمید له خولې څخه د رېښتینې مینې سوزنده کوکې وتلي دي. له دې بېتونو څخه د ده هدف حقیقي مینې غوښتنه ده او له الله تعالی څخه دی د رېښتینې مینې غوښتنه کوي، کومه چې روح اراموي.

حمید بابا په بنسټیزه توګه د حسن او عشق شاعردی. د ښکلا پرستاراو په ښکلا مړدی. په دې باور دی چې له مرګ څخه پس به هم د ښکلیو همدم او همنشین وي. ښکلا، ښایست او حسن څه شی دي؟ د حسن لپاره کوم داسې ټاکلی معیار نه شته چې په علمي کچه ومنل شي.

بیا دا چې انساني مزاجونو کې هم توپیر وي، یو شی یو کس ته خورا ښکلی ښکاري او بل ته نه، دعمر په بل پړاو کې هم هغه شی ورته ښایسته نه ښکاري. دا ډیر اوږده بحثونه دي، خو د ښکلا له اغېز څخه څوک انکار نه شي کولای. کله چی انسان یو ښکلي شي ته ګوري، خو هغه انساني ښکلاوي، که یا دغره، د چینې د باغ او بوستان یا چیرته د بل منظر ښکلا وي؛ نو په دغه وخت کې چې انسان ته کومه بې غرضه خوشالي پیداکیږي او د انسان په باصره، سامعه او شامعه حواسو چې کومه مستي خوره وي، دغه احساس یوازې د ښکلي شي ته د کتنې پرمهال کتونکی د دنیا د مادي توکو نه لیرې وړي، بلکې د دغه ښکلي شي په تصور د زړه خوښي هم محسوسوي.

حمید بابا یو ښکلا پېژندونکی شاعرو، د ښکلا په قدر اوقیمت پوهیده. کومه ښکلا چې د هغه د سترګو په لاره د هغه د زړه مرکز ته راغونډه شوې ده، د هغه تخیل یې رنګین کړی دی او بیا چې دغه رنګین تخیل د شعر په جامه کې راښکاره شوی دی، نو د بنګالي جادونه کم نه دی. ښکلا د حمید بابا لپاره ژوند دی او د هغه د شعر لپاره روح. حمید بابا په بېلابېلو کچو کې هم د ښکلا تعریف کړی دی او هم د خپل ښکلې محبوبې په هکله وایي:

په هـــــغو سترګوکې ګل زمـــــا پیداشه

چی به بی خپله ګلرخـــــه ګل پری کسم

خدائـــی خوبانو تـــــه کاته که زما قوت

څنګـــــــه پریـــږدم دغه قوت لایموت

چی د ښـــــکلـــیو ددرګاه ګدایی مومم

هائی توبه د مـــــــــحمد شاه د سلطنته

چی له ښکلیو می ناصح غلوی په حورو

په بانه د بدرګی کار هزنـــــــــــــــی

جستجو ئی به می روح وکړی ووتوتـــه

که له زړه می له خوبانو جستجویی لاړه

(٦٦: ٨٥م).

حمید بابا چی په کومه سیمه کې پیدا شوی او لوی شوی دی، په هغه سیمه کې نه د انساني اونه دنباتي ښکلا کمی شته. د سړبن او باگرام ښکلا خود ضرب المثل حیثیت لري. د باگرام د ترکو په ستایلو د حقیقی مینې پرستار رحمان بابا هم نه مړیده؛ نو حمید بابا چې کاملاً پر ښکلا مین شاعرو، بیا به یې ولې د باگرام او سړبن ښکلي د سترگو تور نه وو. ځکه خو وایي:

یو مـــــخی حمیده د سربن د ښکلیونه دی

مصر کـه کنعان دی که کشمیـــر دی که کابل

د حمیـــــــــد غـــوندی بلبـــل به پکې نه وی

که گلزارپـــــــــه ښکلیو نه وی سړبنـــــدونه

(٦٦: ٩٥م).

له دې څخه علاوه حمید بابا د ښکلو د ښکلا قصیدې ویلې دي او خپل فن یې په دې ښائسته کړی او رنگین کړی دی لکه چې وایي:

مرم که ژوم زمـــــــا ســـردښکلیو دردی

نشته ځـای بی دغـــــــــــه دره بل زما

په راستی می د خپل آه هســـــــی باوردی

چی همدم به یم د ښکلیو پـــــــس له مرگه

چی یې تاغوندی دلبر په څنـگ کې کشېنی

دهغوی دماغ بلند وی تـــــــــــر اورنگه

د ډیوی د بلولو حاجت نه شتـــــــــــــه

په هغه کور کې چی ناست مه جبین ته ئـی

ډیر ستائلی شیخ ملا د جنت حـــــــــوري

چی می ولیدی مخئ دستایونـــــــــه دی

(٦٦: ١١٨م).

د حمید بابا مینه مجازی وه که حقیقی، خو زړه یې د مینی په اور سوی لوغړن وو. هغه د بېلتون له لاسه سوې کوکې ایستلې دي. د هغه د اشعارو د الفاظو نه درد څاڅي، داسی ښکاري لکه چی یو کس ته ناڅاپه

کومه ستونزه پېښه شوې وي. هغه په یوه بیه هم د مینې پرېښودوته تیارنه و؛ د عشق له زمري سره یو په یو جنګېږي، خو بیلېدل نه مني. لکه چې وایې:

حمید بابا په هغه ټولو روایتي مضامینو طبع آزمایلې ده چې له ده څخه وړاندینیو شاعرانو پېژندلي؛ بلکې حمید بابا په ځینې مضامینوکې له هغوی څخه وړاندې هم تللی. تردې چې ځینې مضامین یې د مبالغې ترحده هم رسولي دي او د همدې مبالغې په سبب یې ترپښو لاندې کړي هم دي، لکه رخسار، زلفی، چشمان، لبان، خال، خوله، خندا، مسکا،ملا، قدر،قریب، زاهده، ناصح، دهجرکیفیت، امرد پرستی اونور دعشق اوعقل، د وخت ترجماني او له وخت څخه ګیله وغیره مضامین هم د حمید بابا په کلام کې موندلای شئ.

د دنیا په باره کې:

حمید مومند د دنیا په روموزو او ډولونو ډېر ښه پوهېده. ده به تل خلکو ته د دنیا پر دوستی د نه باور کولو توصیه کوله، همدا به یې ویل چې دا دنیا دومره لنډه او تنګه ده لکه د اسمان برېښنا چې د هېچا کار هم پرې نه کېږي او نه چا ته په درد خوري، صرف یوازې یو پړق وي نور هېڅ هم نه وي.

همدارنګه دا دنیا داسې ده لکه مکار ملګری، په خولې به درسره ښه وي، خو په زړه کې به درته د داسې یوې کندې په لټه کې وي چې له پرېوتلو وروسته به ټول عمر هم ونه وځې، نو د دې دومره لنډې لنډې مودې له یارانښ تېر شئ او پر ځای یې هغې دنیا ته کار وکړئ چېرته چې زموږ ابدي او تلپاتې ژوند دی په همدې اړه په خپلو اشعارو کې داسې وایي:

نه زما ده نه دا ستا ده دا دنیـــــــا — پاتې شوې له هر چا ده دا دنـــیا
دیوه غېږ کې پرته وي بل ته خاندي — څه لولی او بې حیا ده دا دنـــــیا
په رڼا یې دچا کار نه پوره کېـــــږي — داسمان برق او برېښنا ده دا دنیـــا
که ظاهر ښکلې زیبا لیده شي څه شو — په باطن توره بلا ده دا دنیـــــــا
مروت داشنایی پکې نشتـــــــــه — کنه اشنا ده نا اشنا ده دا دنیـــــــا
زر په زر به یې خواولي له کمـــــره — له هر چاچې خوا په خواده دا دنیـا
په یوه ځای یې ټیکاو هېچېرې نه شي — لکه سیوری خوا وشا ده دا دنیـــــا
په سودایې دچا کار نه پوره کېـــــږي — جوفروش ګندم نما ده دا دنیـــــا

(٦٦: ٢م).

دی په دې شعر کې د دنیا خوښوونکي خلک ناکام بولي او تر څنګ یې وایي چې په دنیا پورې زړه تړونکي خلک به ټول عمر په مشکل کې اخته وي، هر وخت به یې ژوند له سختیو سره مخ وي؛ ځکه چې دنیا ټګه او

مکاره ده، په خپل عهد وفا نه کوي، لکه د سیوري په څېر دا دنیا په یوه ځای نه ودرېږي، تل په مختلفو ځایونو گرځي؛ نو دنیا هم همداسې ده او د دې تر څنگ دی په یوه بیت کې دنیا له برېښنا سره تشبه کوي او وایي چې د دنیا ځلا همدومره کمه ده ستا تر هدفه ځان نه پاتې کوي او درڅخه ځي.

دنیا داسې یو خاصیت لري لکه ټگ او هدفي ملگری، ته به ورته په تمه یې چې زما کار به پرې وشي، خو دنیا د دې بر عکس ده ډېره ژر در څخه فنا کېږي نو په همدې بنا باید موږ په دنیا ملا ونه تړو.

نفس په باره کې : دی د نفس په باره کې وایي چې انسان باید د نفس په اشاره ژوند ونکړي او نه یې طرفدار شي، د چا چې نفس استاد شي هغه انسان به ټول عمر هم ښه ورځ ونه گوري او نه به د دنیا په چارو کې کامیابي تر لاسه کړي، ځکه چې دنفس ډېرې زیاتې غوښتنې برعکس وي او تل یې غوښتنې ناروا وي چې داسې غوښتنې سړی په دواړو دنیاوو کې د سړي د سر ټیټی باعث گرځي چې حمید یې په اړه داسې وایي:

د هرچا چې شي مفتي نفس و هـــــوا

نـــاروا شي د جهـــان ورتـــــــــــــه روا

نفس شیطان چې د چا بد تر فهمه ښه کا

هســې خـوري زهـر قاتـل لکـه حلـــــوا

(٦٦: ٩م).

موږ که چېرته دې پورته بیتونو ته وگورو راته به معلومه شي چې د انسان اصلي او اساسي دښمن نفس دی، دا چې نفس مو دښمن دی؛ نو باید هېڅ وخت د دښمن په خوله کار ونکړو ځکه چې د دښمن په خوله او مشورې سره کار کول ستا د تباهۍ باعث گرځي.

سوال په باره کې : سوال کول د یوه انسان لپاره ډېر زیات بد گڼي او موږ ته پیغام راکوي چې باید خپل زحمت وکړو او نورو ته د سوال لاس اوږد نه کړو، ځکه چې سوال کول انساني لویي له منځه وړي، په حیا او غیرت کې د انسان فرق راځي، نوموړې انسان بیا په ټولنه او معشره کې په سپکو نومونو سره یادېږي چې بېلگه یې دا ده:

چې په سوال اوږدوې لاس چاته حمیده

ښه یې وړی لاس تـــر زنې بېـــــــــنوا

(٦٦: ١٣م).

دی خپل ځانته هم وايي چې له کله زه بل چا ته د سوال لاس اوږدوم له دې همداسې اوږی او لاس تر زنې ناست ښه يم، تر څو پورې مې خپل انساني غرور له لاسه ور نکړم.

کميني او عاجزي

دی په خپل دېوان کې د کميني اوعاجزۍ په اړه وايي چې نوموړي دواړه توکه د يوه ښه انسان اوصاف کېدلی شي. کميني او عاجزي چې په کوم انسان کې وي، نو نوموړی انسان هم الله ج ته نږدې وي او هم په ټولنه کې خلکو ته محبوب او باوري وي؛ نو ضروري خبره ده چې يو انسان بايد نوموړي دواړه اوصاف ولري او ځان پرې ملبس کړي، لکه چې دی په پوه بيت کې داسې وايي:

په هر کارکې کميني کوه حميده!

ډېرو وړی د ی کمال له دې کنفه

(٦٦: ١٩٤م).

دی وايي چې کميني د يو انسان لپاره غوره او بهتر صفت دی، په دې سره يو انسان دوه ګټې کوي هم د الله ج په نزد نږدې کېږي او هم په دې دنيا کې د ټولو خلکو په خولو کې د ښه سړي په نوم سره يادېږي؛ نو موږ هم بايد په دې صفت ځانونه ملبس کړو.

مناجات

د ده په کلياتو کې يو مناجات په ډېر ښکلي رنګ سره ويل شوی دی او په دې مناجات کې له الله ج څخه دعا غوښتل شوې ده او الله تعالی ته يې په اوبلنو سترګو خپل سر ښکته کړی دی او له هغه يې بخښنه غوښتې ده چې موږ دلته د ده د مناجات يوه برخه رانقلوو:

ربه فضل مې رهبر پـه دم قـدم کـړه

دم قدم زما سيده په خپل حرم کـړه

بدرګه مې خپل کرم کړه د دې لارې

نـا هـوارې چـارې مکـړه را دوڅـارې

رهزنان له رهزنـۍ زمـا پښـېمان کـړه

دايمان مال او متاع مې په امان کـړه

محبت مې د ستا پـرې کـړه د پـوزې

د اوښ بـار مـې برابـر پـه لاره بـوځې

(٦٦: ٤٤٨م).

ترڅنګ يې دی وايي چې زه له الله تعالی څخه د هغه محبت غواړم او د خپلې زندګی، مال او متاع د ساتلو په خاطر د دعا لاسونه لپه کوم، تر څو پورې زما په ژوند کې سکون راشي.

نعت شريف

دا چې موږ ټول مسلمانانو يو په خدای ج، کتابونو او انبياوو ايمان لرو د همدغه اصل په نظر کې نيولو سره موږ په د خپلو اسلامي مقدساتو ستاينه کوو، حميد هم له دې مينې خالي نه دی د خپل رهبر ستاينه يې په ډېرو ښکلو الفاظو سره کړې ده چې بېلګه يې دا ده:

چې منشا دپيدايښت د محمد (ص) دی

چې مايا دزېبا يش دمحمــد(ص) دی

چې قبله دهر ولي دهر نـــــــبي ده

اســتانه د محمـد (ص) عربـــــــي ده

(٦٦: ۴۵۲م).

د معراج واقعه

د حميد بابا په کلياتو کې د نورو موضوعاتو تر څنګ ځينې تاريخي واقعات هم راغلي دي چې له بېلګې څخه يې موږ د معراج واقعه راوړې ده.

دی د دې څرګندې او مشهورې واقعې په اړه په خپل کلام کې داسې يادونه کوي:

هغـه شـپه چـې محمـد پورتـه بالـه شـه

پـه لـويې دمعـراج هـو مـره پالـه شـه

حـــوادث لـــه حرکتـــه پـــه ارام وو

دجهـــان لـــه خيانتـــه پـــه احـــرام وو

(٦٦: ۴۵٦م).

د کاظم خان شیدا پېژندنه

کاظم خان شیدا هم د حمید په څېر یو هنرپېشه او له کمالاتو ډک شاعر تېر شوی دی، چې په منځنۍ دوره کې یو له مهمو او مشهورو شاعرانو څخه دی. هغه شاعر دی چې شعر یې له ځان سره هر ډول خواږه لري. د ده د شعر لوستل سړی یوې بلې دنیا ته وړي.

دی د منځنۍ دورې یو د حساب شاعر یاد شوی دی، د ده په اړه په بېلابېلو کتابونو کې معلومات راغلي دي، چې موږ یې د پېژندنې په برخه کې هڅه کړې ده، چې له معتبرو ماخذونو یې معلومات راټول کړو او تر تاسو یې در ورسوو.

په دې برخه کې د ده له دېوانه لومړی استفاده کوو: (د کاظم خان شیدا د ژوند او حالاتو په اړه له هر څه لومړی د هغه کلام او بیا دېوان سریزه کې د هغې له خپلې مقدمې څخه پیل کېږي او بیا تر دې دمه یې کړي، چې په مختلفو دورونو کې مختلفو تاریخ لیکونکو پکې برخه اخیستې ده.

په دغو لیکونکو کې لومړنی سړی د هندوستان مولوي قدرت الله شوق رامپوری دی، چې د شیدا له وفات څخه څو کاله پس د هغه د ژوند او حالاتو په اړه خپله تذکره (تکملة الشعراٌهند) کې معلومات ورکړل. د دې تذکرې د لیک کال هغه (۱۱۹۲هـ ق) ښودلی دی. خو دا کال سم نه دی، ځکه چې دې تذکره کې کاظم خان شیدا د تذکرې د لیک له وخت نه څو کاله مخکې وفات ښودلی شوی دی. او د شیدا د وفات کال (۱۱۹۴هـ ق) دی، چې د شک او تردد نه پاک دی. په دې وجه د دې تذکرې د لیک کال شاید چې (۱۱۹٦هـ ق) وي او په غلطۍ سره (۱۱۹۲هـ ق) ښودلی شوی وي.

د مولوي قدرت الله شوق رامپوري نه علاوه په هندوستان کې مشهور شاعر امیر مینایي په کال (۱۲۹۰هـ ق) کې په خپله تذکره (انتخاب یادگار) او حافظ احمدعلي خان شوق رامپوري په (۱۹۲۹م) کال کې په خپله تذکره (کاملان رامپور) کې د شیدا په اړه معلومات ورکړي دي.

په ختیځ پوهانو کې مېجرایچ جي راورټي لومړنی سړی دی چې د ده په اړه یې لیکنې کړي دي، د نوموړي د ژوند په اړه یې داسې نظر ورکړی دی چې هغه په (۱۱۳۵هـ ق) کال نه وروسته د پنځو کلونو په موده کې زېږېدلی دی.

له دې څخه وروسته بلومهارت زېږېدلی دی، حبیبي صاحب په پښتانه شعرا کې (۱۱۳۵هـ) او د دېوان مرتبینو یې (۱۱۴۰هـ) کال ښودلی دی، خو لکه څنګه چې د شیدا په اړه د راورټي ورکړل شوي نور معلومات هم د باور وړنه دي، دغسې د هغه د زېږېدو کال دغه تخمین هم درست نه ښکاري.

ځکه چې ځینې تاریخي پېښې او شواهد یې مرسته نه کوي، که د تاریخي پېښو او شواهدو نه د شیدا د زېږېدو صحي کال معلوم نه شي، ولې دومره ترې ضرور معلومېږي، چې هغه له (۱۱۴۰هـ) کال څخه نه، بلکې له (۱۱۳۵هـ) کال نه هم مخکې پیدا شوی دی.

د روارتې له څېړنې وروسته په متفقه توګه زمونو څېړونکو د کاظم خان شیدا پلار افضل خان ختک ګڼلی دی.

دوست محمدکامل مومند لومړنی څېړونکی دی، چې افضل خان د شیدا پلار ګڼلو کې ځینې مشکلات ښودلي دي او تر اوسه چا هم د هغه د ښودلو مشکلاتو مدلل حل راونه ویستو. په دې لړ کې د پوهاند صدیق الله رښتین مدلل ځوابونه کامل صاحب په خپل کتاب په (۱٦۳۰م) کال کې کړي دي او د رفیع صاحب ((اواره شیدا)) هم د کامل صاحب دریځ رد نه کړی شو(۴۱: ۲۰م).

د دې ټولو مسائلو په نظر کې نیولو سره موږ دې نتیجې ته رسېږو چې د ده د ژوند په حال او احوال کې کافي اندازه مشکلات شته او تر اوسه یې د پښتو ژبې پوهان په دې لټه کې دي چې دې مشکلاتو ته د حل لاره پیدا کړي او د نوموړي مشهور شخصیت حق ادا کړي، چې تر ډېره حده دا مشکل حل شوی هم دی او لا هم هلې ځلې روانې دي، خو له ټولو مسایلو سربیره د ده د مرګ په اړه زیاتره پوهان په یوه خوله دي او وایي چې په دې کې هېڅ شک نشته ده چې دا نېټه د ده په دېوان کې په دې ډول سره راغلې ده: (د شیدا د مړینې په کال کې څه شک او تردد نشته ده، که څه هم چې د مړینې قطعه یې د دېوان په ابتدا کې ورکه شوې ده. دا تذکره له ماسره واک کې نسخه کې نشته ده، خو د هندوستان تذکره نګار د شیدا دېوان په تعارف کې داسې لیکلي دي:

د شیدا په اشیانه کې جهان تریخ شـــــــــــــه

د کباب غوندې کون و مکان سیخ شـــــــــــــه

درست بدن یې ګویا زړه وپه ســـــــــــــینه کې

دلنظیر(۱۱۹۴هـ ق) د کاظم خان د مرګ تاریخ شه

ښاغلی زلمی هېوادمل صاحب په خپل کتاب (په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه) کې هم په دې موضوع بحث کړی دی او د دې تر څنګ ښاغلي همېش خلیل صاحب هم په دې موضوع قلم خوځولی دی. په هر صورت د ده د وفات نیټه (۱۱۹۴هـ) کال ښودل شوې ده(۴۱: ۲۰م).

د شیدا شاعري

دپښتو ژبې د نازکخیال شاعرکاظم خان شیدا په شاعرۍ خبرې کول، هغه څېړل او تشریح کول دومره اسانه خبره نه ده او هر څوک دده د اشعارو نازکخیالي نشي بیانولای. کاظم خان شیدا د پښتو ژبې هغه شاعر

دی چې دنورو شاعرانو په نسبت یې خپل شعرونه په یو ځانګړي انداز سره ویلي، مطالب یې په ښه شکل سره بیان کړي او د هر مطلب لپاره یې ځانګړي فورمونه غوره کړي دي.

لکه څنګه چې کاظم خان شیدا د هندي ادبي مکتب بشپړونکی شاعر بلل شوی دی، نو په همدې بنا موږ ویلی شو چې ده به د هندي ادبي مکتب ټولې ځانګړتیاوې په خپلې شاعرۍ کې راوړې وي او بغیر له شکه به یې شاعري له همدغو ځانګړتیاوو ډکه وي او له هر بیته به یې د همدې مکتب خوند او بوی حس کېږي.

د ده شاعري په لفظي او معنوي ښایستونو مالامال ده او هم یې په شاعرۍ کې بیرونۍ موسیقي په خپل جوش کې ده، چې همدې جوش او د لفظونو تکرار ځانته په شعر کې یوه بیله نړۍ جوړه کړې ده، چې د بېلګې په توګه یې دلته یو بیت راوړم:

چې لمبو ته د تنور په شان پیـــــــدا ده

که پوهېږې دا سوخته سینه زمـــــــا ده

لکه ابر په هېڅ وخت نه شوې بـــې نمه

هر ساعت زما په ستر ګو کـــــې ژړا ده

خوښ په شور لکه ساحل د سیلاب نه یم

چې مې ایښې په عزت د کور بـــــنا ده

(۴۱: ۱۷۳م).

په پورته بیتونو کې موږ د ځینې الفاظو تکرار ډېر وینو چې همدا په خپله بهرنۍ موسیقي جوړوي، د بېلګې په توګه د (د، ر، هـ او س) لفظونه چې دا یې په کلام کې موسیقي جوړوي.

وروسته که وګورو نو د ده په کلام کې تشبه یوه ځانته ښکلا پیدا کړې ده او په شاعرۍ کې له تشبه څخه زیات کار اخیستی دی چې موږ یې دلته یوازې یوه بېلګه راوړو:

چې لمبو ته د تنور په شان پـــــیدا ده

که پوهېږې دا سوخته سینه زمـــــا ده

لکه ابر په هېڅ وخت نه شوې بې نمه

هـــر ساعـــت زما په ستر ګو کې ژړا ده

(۴۱: ۱۷۳م).

په پورته بیتونو کې شیدا خپله سینه له تنور سره تشبه کوي او وایي چې لکه څنګه چې تنور د لمبو د تاو د لاسه سوځي نو په همدې ډول زما سینه هم د ډېرو غمونو له لاسه سوزېدلې ده.

په دویم بیت کې خپله ژړا له وریځو سره تشبه کوي او وایي لکه څنګه چې وریځې بې نمه نه وي نو په همدې ډول سره زما سترګې هم هېڅ وخت وچې نه شوې، تل مې سترګې له نمه ډکې وي او د دنیا له غمونو څخه په ژړا یم چې دا یوه نوې او کم یافته تشبه ده چې د دې خصوصیاتو په لرلو سره د شیدا شاعري د خلکو خوښه ده. نوموړی ټوله شاعري په نوي رنګ سره کوي، ټول زاړه تعبیرونه او موضوعات چې د خلکو تر منځ تکرار وي په شعر کې نه راوړي او تل نوی والی خوښوي.

شاعري یې د ولس په خوښه ده، په خپلې شاعرۍ کې یې د پښتو ژبې متلونه او اصطلاحات ډېر تر سترګو کېږي او هم یې په شاعرۍ کې د هغه وخت د خلکو ټولنیز ژوند ښه انځور کړی دی. د ده په اړه ډېرو خارجي او داخلي پوهانو هم نظرونه ورکړي دي چې موږ یې د نمونې په ډول دلته را اخلو:

پوهاند حبیبي لیکي چې د کاظم خان اشعار عشقي او اخلاقي خواوې لري، مګر په پښتو شاعرانو کې د ده امتیاز د ا دی چې شیدا یو نازکخیاله، د قوي تخیل خاوند او په شاعرۍ کې د هندي سبک خاوند دی.

پوهاند رېښتین د کاظم شیدا د دېوان په سریزه کې چې د پښتو ټولنې له خوا د بېنوا په تدوین تصحیح او مقابله په (۱۳۳۱هـ ش) کال کې چاپ شوی دی داسې لیکنه کړې ده:

کاظم شیدا د نازکخیالۍ استاد د لوړ تخیل پېشوا او د جګ ادبي مقام څښتن دی. ده خپل شعرونه په رنګارنګ استعارو او خیالونو ښایسته کړل، د تخیل په دام کې یې د هوا مرغان ونیول، د بلبلانو په څېر د سرو ګلونو په ښاخونو، په خوند خوند وچغید، د شنو توتیانو په څېر د اد ب د هسکو غرونو په جیګو څوکو والوت هرغزل او هر شعر یې د ښاپیرو د ملک تصویر یا د ارم د باغ انځور دی.

د ده په شعر کې د تشبېهاتو او استعارو اباسیند غورځنکونه وهي او د نازکخیالۍ نیلی پکې لکه د سیلۍ او باد ډېر ګړندي روان دي. د شیدا دېوان د عشق مستۍ جوش او حرارت سره لمبه او د ساړه او بې سوزه ژوندانه لپاره غضب ده.

په دې لحاظ کاظم خان شیدا د حمید بابا د نازکخیالۍ د مکتب غښتلی، قوي ملګری او د پښتو ژبې یو پیاوړی شاعر ګڼل کېږي.

که د شیدا دېوان ولټول شي؛ نو درته معلومه به شي چې یوازې د ګل، بلبل، شمع، پتنګ، خط و خال، عشق او معشوق شاعر نه دی، بلکې د هغه په کلام کې جغرافیوي، اجتماعي، اخلاقي، وطن پرستي، فلسفي او د ژوندانه ډول ډول رنګونه پراته دي.

د شیدا په شاعرۍ کې چې کوم شی ډېر زموږ سترګو ته کېږي هغه د وطن یاد او د هېواد مینه ده. ده د (روهـ) (بګرام) او (سری) په یاد په خپلو شعرونو کې ډېرې چیغې او نارې وهلي دي:

پــه زړه مــې ګرځــي د غرونــو څــو کــې
حملــې دبــازو دزرکــو کــو کــــــــــې
ووايــه څــه کــا د (روهــ) نسيمــــــــــه
ګــيرا منګــولې زيبــا مښوکــــــــــې

يا:

غر بې ځايه د هند سبزانــــــــــــې دي
غنج وا د ا لري که دلستانــــــــــــي دي
چې د لبري کا بې تکلــــــــــــــفه
د (روهـ) په ملک کې ساده خو بانې دي

(٣٦: ٣٤-٣٥م).

دا نتيجه په لاس راځي چې د شيدا شاعري له سوزه ډکه او د هېواد په درد دردمند شاعر وه، چې دې ټولو ځانګړتياوو دی په ولس کې د محبوبيت تر درجې ور ساوه.

د شيدا د دېوان ځانګړتيا

شيدا يو پر جوشه ډک، خوندور او له بېلابېلو موضوعاتو ډک دېوان لري په اړه يې د همدې ځانګړې اهميت له مخې لويو، لويو ليکوالو کار کړی دی او د ده په دېوان يې سريزې او مقدمې ليکلي دي.

د شيدا د دېوان په اړه پوهاند زيورالدين زيور په خپل کتاب (د پښتو ادبياتو تاريخ منځنۍ دوره) کې داسې ويلي دي: ((کاظم خان شيدا خپل دېوان د محمدي صاحبزاده په سپارښتنه او د خپل ورور محمد عابد خان په غوښتنه په (١١١٨هـ ق) کال ترتيب او بشپړ کړی دی.

د ده د دېوان قلمي نسخې څو ځايه موندل شوي دي.

خان غازي کابلي د کابل مجلې د ېوې مقالې په ترڅ کې داسې ليکلي دي:

د شيدا د دېوان قلمي نسخې د رامپور په کتب خانه کې موجوې دي، يوه نسخه يې په غټ (جلي) قلم سره ليکل شوې ده، چې(٤١٦) مخونه لري او فيض علي په شاه جهان اباډيلي کې په (١١٩٢هـ ق) کال نقل کړې ده.

بله نسخه چې شيدا په خپل مهروه د راورټي ګوتو ته په لاهور کې ورغلې وه او په بربټېش موزيم کې اوس خوندي ده. يوه بله نسخه چې په(١١٩١هـ ق) کال کې ليکل شوې ده. اسلامي کالج پېښور په کتابخانه کې شته دی.

بله نسخه په پېښور کې د اکبرپورې عبدالمستعان کاتب په خط په (۱۳۲۵هـ ق) کافي شوې او بیا له دغې نسخې څخه په (۱۳۴۰ هـ ق) کال مولانا ابوالوفا نقل اخیستی چې دغه نسخه بیا د پوهاند حبیبي گوتو ته ورغلې وه.

د شیدا دېوان درې ځلي چاپ شوی دی: یو ځل په (۱۳۳۱هـ ش) کال کابل کې او بل ځل په (۱۹٦۵م) کال په پېښور کې او دریم ځل په (۱۹٦٦م) کال په پېښور کې چاپ شوی دی.

او په پای کې دی د خپل دېوان له لیکلو څخه دیارلس کاله وروسته چاپ شوی دی(۳٦: ۳۳۳م).

د دې ټولو خبرو سربیره د شیداد دېوان د قلمي نسخو په اړه ښاغلي حنیف خلیل په تفصیل سره بحث کړی دی او په اړه یې داسې ویلي دي:

((د شیدا د دېوان کومه قلمي نسخه چې راورټې لیدلې وه د هغې په باره کې ښاغلي حبیب الله رفیع صاحب داسې لیکلي دي:

د شیدا د دېوان ډېره زړه تر لاسه شوې نسخه هغه ده، چې په حاشیه کې یې ۱۱۸۷هـ کال د محرم ۱۳ مه نېټه لیکلې ده او ورسره په یوه یادښت کې ویل شوي دي، چې د دېوان د حاشې غزلې دې راتلونکي کاتبان په متن کې وکاږي.

دا نسخه میجر راورټي په پښتونخوا کې موندلې او اوس په بریټېش موزیم کې ساتل کېږي.

مېکنېزي عقیده لري چې دا هغه نسخه ده چې میا محمد ته په ۱۱۷۸ هـ ق کال کې لیکل شوې او تر۱۱۸۷هـ کال پورې یې د شاعر پاتې وینا په حاشیه کې کښل شوې ده، خو دا دعوه یو بې سنده اټکل دی او په اصلي نسخه کې داسې کومه نښه یا اشاره نشته.

د کاظم خان شیدا دېوان قلمي نسخې په مختلفو کتابخانو کې خوندي دي، چې زیات اهمیت پکې د هندوستان کتابخانې لري. د هندوستان په کتابخانو کې د شیدا د موجوده نسخو تعارف ښاغلي زلمي هېوادمل په خپل کتاب ((د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې یا د هند د ځینو کتابخانو د پښتو خطي نسخو فهرست)) ۱۳٦۳هـ پښتو ټولنه کې چاپ کړی دی، چې دلته یې د هېوادمل صاحب په حواله زه هم تعارف کوم:

۱ـ د شیدا دېوان ـ ویونکی کاظم خان شیدا د تدوین او ترتیب کال ۱۱۸۱هـ ق، د لیکلو کال ۱۱۹۲هـ ق خطاط فیض علي، خط نستعلیق ... کتابخانه رضا لائبرایري (پښتو کولکشن) نمره ۱۲.

۲ ـ د شیدا دېوان ـ ویونکی کاظم خان شیدا، د لیکلو کال ۱۲۰۳هـ ق، خطاط نورمحمد سهارنپوري، خط نسخ، کتابخانه د ډهلي ملي موزیم(د ټونک سرکار د کتابخانې ۱۷ مه نمره کتاب) نمره ۷۳/۲۲۵۲/ ۵۵.

۳ـ د شیدا دېوان ـ ویونکی کاظم خان شیدا د لیکلو کال ۱۲۹۵ هـ ق کال خطاط فیض علي، خط نستعلیق، کتابخانه رضا لائبرایري (پښتو کولکشن) نمره ۱۳.

۴- د شیدا دېوان ـ ویونکی کاظم خان شیدا د لیک کال او کاتب نامعلوم، خط نستعلیق کتابخانه د ډهلي ملي موزیم (د ټو نک دسر کار د کتابخانې نمره ۲۲۴۲/ ۵۵/۷۳.)

ښاغلی هېوادمل د دې څلورو نسخو خصوصیات سیاهي کاغذ د پاڼو او کرښو شمیر او کچه هم ښودلې ده، چې دلته یې تفصیلي ذکر ما ضروري ونه ګڼلو.

له دې څلورو نسخو څخه پرته مرحوم کامل صاحب د حافظ احمدعلي خان شوک رامپوري د تذکره کاملان رامپور په حواله د ریاست سوات په کتابخانه کې هم د شیدا د دېوان د دوه قلمي نسخو ذکر کړی دی.

کامل صاحب د شوق رامپور د اردو لیک پښتو ترجمه په دې ټکو کړې ده:

د شیدا د پښتو دېوان دوه نسخې د ریاست سوات په کتابخانه کې شته دی. یوه نسخه په غټ قلم لیکل شوې څلور سوه او شپاړس (۴۱٦) مخونه لري په پای کې یې دا عبارت دی ((تمت تمام شد د دیوان شیدا...))

د دې نسخې ذکر حبیب الله رفیع هم د اوره شیدا په ۵۰ مخ کې کړی ده.

د دویمې نسخې صرف ذکر شوی دی؛ خو تعارف یې نه دی شوی، پورته ذکر شوې نسخه د هېوادمل صاحب له ښودلو نسخو نه بیله ده؛ ځکه چې د لیک کال یې بدل دی او شاید، چې دویمه مذکوره نسخه هم له ذکر شوو نه پرته وي؛ خو پوره تعارف یې نه دی شوی ځکه یې پوره پته هم نه لګي.

له دغو نسخو پرته ښاغلي همېش خلیل صاحب د یوې نسخې ذکر کړی دی، چې د ادبي ټولي د لابئریري نه په لاس ورغلی دی، خو د نسخې پوره تعارف یې نه دی کړی. دغسې دا د راورټي نسخې سره اتمه قلمي نسخه شوه، چې ذکر یې وشو اروابناد عبدالروف بینوا چې کومه نسخه چاپ کړې ده د هغې په اړه یې لیکلي دي چې دا ورته خان عبدالولي خان ورلېږلې وه؛ خو د نسخې تعارف بېنوا صاحب هم سر سري غوندې کړی دی او ورسره د دوو نورو نسخو ذکر یې هم کړی دی، چې یوه د پښتو ټولنې افغانستان په واک کې ده. او دویمه د مولانا ابوالوفا صاحب نسخه چې کاتب یې د اکبرپورې پېښور عبدالمستعان دی.

د بېنوا صاحب په وینا دا دواړه نسخې نامکملې دي؛ ځکه چې بېنوا صاحب د ولي خان لېږل شوې نسخه چې په اسلامیه کالج پېښور کې ده او تر ډېره حده ممکنه ده، بنیاد ګرځولې ده. همدغه نسخه همېش خلیل صاحب د اروابناد کامل صاحب نه تر لاسه کړې وه چې د ادبي ټولي د نسخې سره د مقابلې نه وروسته یې چاپ کړې ده.

ډاکټر سیدانورالحق د درېیو قلمي نسخو ذکر کړی دی، چې خپل دېوان یې ترې ترتیب او چاپ کړی دی. یوه نسخه د اسلامیه کالج د پېښور د اورېنټل لائبرېرۍ دویمه د انډیا د افس لائبرېرۍ لندن نسخه او درېیمه د پښتو اکیډمي مایکرو فلم نسخه چې په ۱۲ محرم ۱۱۸۷هـ / ۱۷۷۳ع کال کې لیکلی شوې ده.

انورالحق صاحب یوازې د وروستۍ نسخې لنډ شان تعارف کړی دی؛ خو لومړنۍ ذکر شوې دوه نسخې یې نه دي متعارفې کړي. په دې د شیدا د معلومو قلمي نسخو شمېر د بېنوا صاحب لخوا ښودل شوی. له اسلامیه کالج نسخې علاوه دوو نسخو سره لسو او انورالحق صاحب لخوا ښودل شویو نسخو کې د کالج د نسخې نه علاوه ۱۱ ته رسي چې هره یوه د بلې نه بدله ده؛ ځکه چې د متعارفو شوو نسخو تعارف بېل بېل دی.

همدارنګه رفیع صاحب په اواره شیدا کې د کراچۍ د ملي میوزیم د یوې نسخې ذکر کړی دی، چې دې سره به د قلمي نسخو شمېر ۱۲ ته ورسېږي او که د انورالحق هغه نسخه، چې د دېوان مرتب کولو نه وړاندې یې کتلې وه بېله وي؛ نو بیا به دا شمېره ۱۳ ته ورسېږي.

چاپ دیوانونه : دشیدا دیوان تراوسه څلور ځلې چاپ شوی دی لومړی ځل عبدالروف بینوا صاحب دویم ځل همیش خلیل، په درېیم ځل ډاکټر انوارالحق داردوترجمې سره او په څلورم ځل د همیش خلیل د مرتب کړي دیوان دویم چاپ ددې ټولودیوانونو تعارف وراندې شوی دی (۱٦: ۲۸م).

د شیدا د دېوان شعري فورمونه

د ده په دېوان کې د پښتنو ژبې او اد ب د شاعري مختلف ډول شعري کالبونه راغلي دي، چې موږ یې غواړو دلته وضاحت وکړو.

د ده په دېوان کې د نورو شعري کالبونو تر څنګ د غزل فورم تر ټولو زیات تکرار شوی دی؛ چې تر ټولو مهم علت یې شاید دا وي، چې دی د هندي ادبي مکتب پیرو دی او هغوی ټولو دې فورم ته تر بل هر چا ډېر کار کړی دی.

د پښتو ژبې نور کالبونه لکه، قطعه او څلوریزې تر ټولو زیاتې تکرار شوي دي چې موږبه یې دلته په ترتیب سره یوه یوه بېلګه را واخلو، خو د دې ټولو سربېره ځینې نظمونه هم د ده په دېوان کې ډېر زیات تکرار شوي دي.

نظمونه

د د ه په د ېوان کې دا ډول نظمونه تر ټولو زیات تکرار شوي دي، د دې لپاره چې دا موضوع لانبه روښانه شي نو دلته یې له دېوانه یوه بېلګه راوړو:

ا ی په فرق د ادم تاجـــه

د تمام عالم سراجـــــــه

ته د هر نعمت لایق یـــــې

بې نظیر د خلایق یـــــــې

چې نظیر نلري ځکـــــه

ستا سایه نه وه په ځمکـــه

چې سبب د افلاک ته یې

مخطاب په لو لاک ته یې

ته سید د مرسلین یـــــې

رحمت العالمین یـــــې

(۴۱: ٦٢م).

غزل

د ده په دېوان کې دا شعري فورم تر ټولو زیات تکرار شوی دی؛ ځکه چې دی د هندي ادبي مکتب پیرو وه؛ نو په همدې ډول یې دې فورم ته تر ټولو زیات کار کړی دی موږ یې دلته یوازې یوه نمونه را اخلو:

قیل او قـا د چـا د حسـن کـورا کـــــور د ی

د بازار غوندې ټول ښهر شو ر مـا شـور دی

د مجنــون د اه لــوخړې دي چــې خېـــژي

کـه بـل شـوی د صـحرا پـه د ا مـن اور دی

محبــت وژلي یـاد شي پـس لـه مرگـــــه

نـه چـې مـړ پـه تـوده تبـه لکـــــه اور دی

معطـل پـه مـر غـزار مکـړه نازکـــــــــــې

د هـلال پـه لاس ورکـړی اسـمان لـور دی

(۴۱: ٢٦١م).

دوه ییزه (مثنوي)

دوه ییزې ته په عربي کې مثنوي وایي،ځینوفارسي لیکوالو دمزدوج په نوم هم ښودلی دی.دجوړښت له مخې دوهییزه(مثنوي)هغه ډول شعري فورم دي چې هربیت یې په خپل منځ کې گډه قافیه لري (مقفی وي)،دبیتونوشمیر یې ثابت نه دی. د دوه ییزیبیلگه:

مناجات

الهـــــــــــي دمـــــينـــي درد را گـــــــــرم دل آهـــــــــونه ســـــردرا
خـلاص کـــــــرې مـالـــه بـې در لـــــــه دي هســـــې دل ســـــــــــردی
زړه پـه شـــان دغـــونچې راکـــړه آتشـــــي زمـــــا مينـــــا کـــــــړه
تـــل دجـــوش په مى لبـــريـــزه پـــه خـــروش تـــرنى لبـــــريـــــز
بيـا په هســـې شـــان بې تا بـــــه چـې سيالـي کـــالـــــه حبـــابـــه
(۴۱: ۵۲م).

قصيده

د ده په دېوان کې له غزل څخه وروسته د قصيدو شمېر هم زيات دی او په دې قصيدو کې يې ډېرې په زړه پورې موضوعګانې وړاندې کړي دي چې موږ به يې دلته د بېلګې په توګه يوه را نقل کړو:

بيـا تحويـل شـو د حمـل ګـوره اثـار
شـګوفته پـه هـر طـرف تـازه بهـــار
څـه بيـان وکـوم د ګلـو لـه افراطـــه
يـا انـواع کـړم د ګلونـو درتـه شـــمار
يا چهچه د عندليب په ښاخ د ګلـو
يـا جلـوه د روان اب پـه سبـــزه زار
يـا خـوبي پـه هـر طـرف د خـــرمی
سر سبزي د باغ وراغ هم د کوهسـار
يا په خم کې د بهار پـه رنـګ د ګلـو
رنګينـه کـور و محلـت کلـی د يـــار
(۴۱: ۳۲۳م).

په پورته قصيده کې مو مکمل بيتونه د دې په خاطر نه دي راوړي چې د موضوع د ډېرېدو مخنيوی وشي.

څلوريزې

دا هغه شعري فورم دی چې پکې شيدا له حده زياته شاعري کړې او تقريباً نيم دېوان يې همدې فورم نيولی دی، چې بېلګه يې لاندې راوړو:

هغـه شـاعر چـې د مضـمون غـلا کـا
کلـه پټېـږي ځـان بـه رسـوا کـــــا

اواز چـې خېـژي د نـی لـه فمـــه

نسـبت يـې کلـه نـی تـه دا نـا کـــا

(۴۱: ۳۴۱م).

قطعه

دا هغه شعري فورم دی چې ده پکې تر يوې اندازې پورې شاعري کړې ده او په دې کې بيا دوه ډوله قطعې موجودې دي، چې يوې ته يې رديف لرونکې وايي او بلې ته يې بې رديفه وايي:

۲-هغه قطعه چې رديف لري لکه:

خـــه بيـــان کـــړم بـــــرودت داوبـــوچـاتـــه

خصـوصاًچې دسحـــر پـــه هنگامـه يـخ شـــــي

کـــه پـــه زړه يې چـــرې خيال داثـر تېرکـــــړې

پـــه معده کـــې په ارزان دسبب زنـــخ شـــــي

کـــه اسمـــان کاپـــه لينـــــده دجفـــــا غشـــي

پکـــې کلـــــه بـه ذرې پـه مقـــــــدارښخ شـــي

په تـــــاثيـــــر يې دسردۍ سيمرغ وفيـل هـــم

دبـــدن پـــــه ضعيفـــي مـــــــور وملـــخ شـــي

لکـــــــه عکس دآتـش پـــــه آب کـــې وينـــــي

په سردۍ کـــې يې داهسې سوړدوزخ شـــــــي

(۴۱: ۴۴۹م).

پنځه يزه (مخمس)

دپنځه يزې اوڅلوريزې عمومې جوړښت تقريباً يوشان، مگر توپيريې په دېکې دی چې په پنځه يزه کې ترمربع يوه مسره زياته وي.

يعنې دلته هربيت پنځه مسرې لري دلومړي بندپنځه واړه مسرې يوه قافيه تعقيبوي اودنورو بندونو څلورمسرې په خپل منځ کې هم قافيه اودپنځمې مسرې قافيه يې دلومړي بند دقافيېتابع ويله لومړي بند وروسته دهربندله قافيې څخه وروسته کېدای شي په څلورومسروکې بېل رديف تعقيب نه کړي، دبندونوشمېريې په موضوع پورې اړه لري يعنې چې څومره موضوع اوږدېږي په هماغه پيمانه بيتونه هم پراختيا مومې.

بېلگه:

بیـادې تیغ ولې ترملا،رخش دې زین کـــــــــــــړه
پــه لینـــده دې ولـــې غشی آغــزین کــــــــړه
پــه سرو وینودې میــدان ولې رنگین کـــــــــــړه
چـاله تـاسـره په دامیــــدان کې کین کــــــړه
داستـم دې ولــــــې خپــل رسم وآیین کـــــړه

»»»

ای په خـــوی لکـــه آتش پـــه زړه سنگینـــــې
دازمـا احـــوال هم څه په ستـــرگــــــو وینـــې
شـــوې مـــې وچې لکـــه برق دصورت وینــــــې
انتظارمې مــــرآت وار کړې سترگې سپینـــــــــې
دتاناز نظـــــراندازچــــرخ بـــــــــرین کـــــړه

»»»

چې کجــل دې څه خو پــورې په چشمان شــــې
تـــــورمــــژگان دې همگې مار بچگان شــــې
تـــــــرافسون لاندې کول یې هرگورگران شــــې
گـــــزیده یې هغــه دم خانـــه ویــــران شي
تـــــاپه دافتنه جهــان بـــــــالاپایین کـړه

(۴۱: ۴۵۰-۴۵۲م).

د شیدا د دېوان محتوا

مخکې مو په نورو بحثونو کې هم وویل چې د حمید او د هغه ټول پیروان د هندي ادبي سک پیروي کوي؛ نو له همدې امله یې په شعرونو کې سره ورته موضوعات لیدل کېږي، چې له جملې څخه یې یو هم شیدا دی چې د حمیدمومند تاثیر پرې زیات دی.

د ده په دېوان کې پر مختلفو موضوعاتو باندې بحث شوی دی، چې موږ به یې دلته په لنډه توگه راوړو، لکه: مینه، هجران، خوشحالی، خپگان، د الله ج ثنا او ستاینه، د پیغمبر (ص) ستاینه او صفت، د پښتو شعر په اړه نظر، انسان او انسانیت، د پخوانیو خلکو د وخت هغه حالت او داسې نور موضوعات د ده په شعر کې راغلي دي چې موږ به پرې دلته په ترتیب سره بحث وکړو.

همدارنګه د ده په شعر کې ځای ـ ځای عواطف او نور موضوعات چې د انسان فکر تر اغېزې لاندې راولي، زیات تکرار شوي دي چې موږ به یې دلته سر سري وڅېړو، ځکه چې پوره څېړل به یې زموږ د موضوع له حوصېلې څخه ووځي.

حمد او ثنا

د ده په شعر کې د کایناتو د ستر خالق ثنا په خورا ښه توګه بیان شوې ده. چې دا او دې ته ورته نور مسایل پکې ډېر زیات بیان شوي دي، چې همدې موضوعاتو د شیدا شعر ته ډېره زیاته ښکلا ښېلې ده، چې موږ به یې دلته بېلګه را واخلو:

ای د کــل جهــان صنیعـــــــه
ای د هــر انســان بــد یعـــــــه
کــا ملــه قــدرت د تـــــــا دی
نـــادره صـــفت د تـــــــا دی
لــوی دېــوان دې مرتــب کـــــړ
چــې انســان د ې منتخــب کـــړ
هــر ورق یــې ګونــا ګـــــون دی
هر مضمون یــې بــو قلمــون د ی
هــره ورځ ورق ګــردان یـــــــې
مخــترع د نــوي شــان یـــــــې

(۴۱: ۵۱م).

دی وایي چې الله ج د ټولې دنیا جوړونکی دی او د دې تر څنګ همدی د کایناتو پیدا کوونکی هم دی د ټولې دنیا قدرت د همده دی.

مناجات

مناجات له الله ج څخه په سوال او زاری یو څه غوښتل دي. دی هم له خپل رب څخه سوال کوي او له هماغه څخه مرسته غواړي. ده په خپل دېوان کې له رب څخه د شعر په لطیفه او نرمه ژبه دا غوښتنه کړې ده:

الهي د میـــــــــنې درد را
ګرم درد اهونه ســـــر د را
خلاص کړه ما له بې درد ی

له دا هسې دل ســـــر دی

زړه په شان د غونچې را کړه

اتشي زما مینا کـــــــــړه

تل د جوش په می لبرېــزه

(۴۱: ۵۲م).

د عشق صفت

عشق چې د هندي ادبي مکتب له اساسي او مهمو موضوعاتو څخه دی، په دې ادبي مکتب کې دغه موضوع ډېره زیاته بیان شوې ده، چې شیدا هم ترې بې اغېزې نه دی پاتې شوی. په خپل شعر کې یې دا موضوع ډېره زیاته بیان کړې ده. دی په خپل دېوان کې د عشق صفت زیات کوي او همدې ټکي ته ډېر زیات اهمیت هم ورکوي چې موږ به یې دلته په اړه یوه بېلګه راوړو:

طمطـراق واړه د عشـــــق دی

په عراق که په د مشـــق دی

که په شام که پـه حـــلب دی

په عجـم کـه پـه عـــــرب دی

زلزله شوه په درسـت روه کـې

د بد به پـه هـر گـروه کـــــې

عـالمگیر د عشـق شـکوه دی

دا نــفیر په د شـت وکـوه کـې

خراســان یــې مسخرکـــــــړ

هندو و سند یـې فرمـان برکـړ

(۴۱: ۵٦م).

د نبی کریم (ص) ستاینه

ده په خپل دېوان کې د نورو ټولو موضوعاتو سربیره د حضرت سرور کاینات (ص) ستاینه او صفت هم بیان کړی دی چې بېلګه یې دا ده :

ای پـه فـرق د ادم تاجـــــــــه

د تمـام عـالم سراجـــــــــــه

ته د هر نعمـت لایـق یـــــــې

بـې نظـير د خلايـق يـــــــې

چـې نظـير نلـري ځکـــــــه

ستا سـايه نـه وه پـه ځمکـــه

(۴۱: ٦٢م).

دی په خپل شعر کې د خوږنبي کريم (ص) ستاينه او صفت په ډېر ښه او ښکلي شکل سره کوي.

د ليلا او مجنون کيسه

د ده په اشعارو کې د نورو موضوعاتو تر څنګ د خپل قوم او خلکو پخوانۍ کيسې او روايات هم بيان شوي دي. د پښتون قام رنګ او دود يې په خپلو اشعارو کې په ډېر ښکلي شکل سره بيان کړی دی.

دی وايي چې ليلا او مجنون يو له بله سره دومره نږدې وه لکه څومره، چې له يو انسان سره د هغه کميس نږدې وي او ځان ته يې نږدې ګڼي چې په اړه يې داسې وايي:

په صحرا کـې پـروت مجنـون و

د ا جنـون يـې روز افـــزون و

غرق پـه بهـر د فنـا شـــــــو

عاقبت ښـکلی لـيلا شـــــــو

په دا وخـت کـې لـه او تاکـــه

لـيلا ور غلـه چالاکـــــــه

(۴۱: ٢٦١م).

په دې حکايت کې د ليلا او مجنون ټول حال په نظم کې بيان شوی دی.

د شيدا په شعر کې د څلور يارانو يادونه

موږ که د شيدا شاعري وګورو؛ نو راته به معلومه شي چې شيدا يوازې د خال او خط شاعر نه وه، نه يې ټول وخت يوازې په همدې مسايلو تېر کړی دی. بلکې د ده په شعر کې ځينې داسې موضوعات هم شته، چې زموږ د دين اساس جوړوي او موږ ته د قدر وړ دي، چې د هغې له جملې څخه يو برخه د ده په شعر کې د نبي کريم (ص) د يارانو يادونه ده او هم دې ته ورته د مجدد الف ثاني يادونه هم شوې ده، چې بېلګه به يې اوس دلته وړاندې شي:

حضرت ابوبکر صديق (رض):

اوس ممدو ح زمـا صديـــق دی

چې فطرت يې د تصديـــق دی

بـل سرور د صحابـــــــــه دی

د ی بهـتر د صحابـــــــــه دی

(۴۱: ۷۰م).

حضرت عمر فاروق(رض):

اوس به کړم د عمر مـــــــدحه

تل په چشم و په سر مـــــدحه

بلند بانګ يې کله نمر شـــــو

چې اسلام پرې منور شـــــــو

(۴۱: ۷۲م).

حضرت عثمان (رض):

اوس به مدحه د عـثمان کـــړم

چې سامع مزکه اسمان کـــړم

جملـه نـور تمـام انـــــــوار وو

ذوالنـــورين اسمـــــــان وار وو

(۴۱: ۷۴م).

حضرت علي (رض):

اوس پـه مدحـه د عـلي يـــم

چـــې فـــدا د دې ولي يـــــم

منتهـــا د سلاســـــــل دی

مقتـــدا د هـــر واصـــــل دی

تمـــامي د حـــق رضـــــا دی

ســـــزاور د ا رتضـــــــــا دی

(۴۱: ۷۵م).

شيخ مجدد الف ثاني

شيخ مجدد الف ثاني د وحدت الوجود د نظريې بنسټګر او باني دی؛ نو دلته چې يې نوم راوړی دی، موږ ته پته لګي چې دی به د وحدت الوجود د طريقې پيرو وي.

چې سرهند يې پاک مــولد دی

مجـد د شـيخ احمـــــــــد دی

په تجد ديد يې عالم ستايـــــي

دا منصـب وربانـــــــدې ښـايي

(۴۱: ۷۸م).

دا او دې ته ورته نور يو شمېر خلک چې په ټولنه او اسلامي نړۍ کې د حساب خلک و، ده په خپل شعر کې راوړي دي.

د کاظم خان شيدا په دېوان کې لفظي ښکلاوې

تجنيس:

تجنيس په لغت کې همجنس کولو ته وايې، د ادبي فنونو په اصطلاح کې په يوبيت يا نيم بيتې کې دوې يا زياتې داسې کلمې راشي،چې په بڼه،وزن،د تورو شمير، ليک او لوست کې يو شان يا سره ورته وي او په مانا کې سره توپېر ولري، تجنيس يې بولي، تجنيس ته ځنې جناس او مجانسه هم وايې، تجنيس په اوه ډوله دی.

موږ به له دې وروسته په هر برخه کې له پوره تشريح څخه تېر شو او په يوازې توګه به يې همدا د صنعتونو ډولونه راوړو.

زايد تجنيس:

چې په ملک کې دې وجود دی

بهره مند د تا په جـــــود دی

(۴۱: ۵۱م).

په پورته بيت کې (وجود) او (جود) سره ورته کلمې دي چې د وجود په سر کې له جود څخه يو توری يا فونيم زيات راغلی او هغه توری (و) دی،چې دا دمزيد تجنيس ښه بېلګه ده.

دويمه بېلګه:

چې په سوز د شفق خاص شم

د عـلاج له غـمه خلاص شـم

(۴۱: ۵۳م).

په پورته بيت کې د (خاص) او (خلاص) کليمې متجانسې کليمې دي چې دخلاص په کلمه کې د خاص په نسبت يو توری (ل) زيات راغلی دی، نو ځکه يې زايد مزيل تجنيس بولي.

خطي تجنيس:که چېرته متجانسې کلمې بې له ټکيو يوه بڼه ولري، خطي تجنيس يې بولي.

شاه مشغول په طبل و بـــــازو

په صـــحرا يې تگ و تـــــازو

(۴۱: ۵۹م).

دکاظم خان شيدا په پورتني بيت کې (باز، تاز) متجانسې کليمې دي، چې په ليکلو کې يو شان؛ مگر په ټکيو کې سره توپير لري، نوځکه يې خطي تجنيس بولي.

مرکب تجنيس:

چې په خندا شي د غرنو زرکــه

شهباز يې لاندې تـر نظـر زرکـه

نجات يې نشته زما پـه پوهـــه

په الواتـه کـې کـه بـاد و زر کــه

(۴۱: ۳٦۷م).

په پورته بيتونو کې لومړی (زرکه) د فارسي د (کبک) په معنی ده، چې بسيطه کلمه ده او دويمه (زرکه) مرکبه بڼه لري، (زر) د تند او تيز په معنی او (که) د کړه په معنی دي، چې د متشابه مرکب تجنيس بېلگه يې گڼلی شو.

تام تجنيس:

سپينه به نشي د صورت وينځـــــه

کېنه په سيند کې مدام يـې وينځـه

اثـر يـې نـه ځـي د بـد ذاتـــــــــی

کـه تربيـت شي غـلام يـا وينځـــه

(۴۱: ۳۵۴م).

په پورته څلوريزه کې لومړی (وينځه) د بدن په سر د (خاپ يا داغ) په معنی، دويمه (وينځه) د پرېمنځلو په معنی او درېيمه (وينځه) د غلامې په معنی کارول شوې ده، چې لومړی او درېيم يې نومونه او دويم يې فعل دی. دا د تام مستوفی تجنيس بڼه بېلگه ده.

مطرف تجنيس:

چې خبر نه يې له حالـــه

څه حاصل له قیل و قالـــه

(۴۱: ۵۱م).

په پورته بیتونو کې د (حاله، قاله) کلمې متجانسې دي چې یوازې په یو توري کې سره توپیر لري.

معما:

په لغت کې پټ ته وایي، په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی، چې شاعر په خپل کلام کې نوم، تاریخ یا کوم مطلب د ایما او رمز په ډول راوړی وي. د معما په ډولونو کې یو د جمل (حساب) له مخې معما ده، چې په دې ډول معما کې د شاعر نوم، نېټه یا کوم بل مطلب د ابجدو د حساب په واسطه په رمز راوړي.

کاظم خان شیدا دورونو د مړینې تاریخ د معما په ډول په لاندې شعر کې راوړی دی:

چې فتح الله او الله نـور لـه دنیـــا ولاړل

په غمونو کـې یـې فـرق تـر میاشتـــې کـم

په هر چا و رحلـت سـخت د دواړو رونـــو

په فراق کې یـې نـالان وو لـوی او کـــــم

تامل یې په بیـــــــان د تـاریخ وشـــــه

راتـه ووی زړه ((آهـــــــاد قلـوب غـم))

(۴۱: ۴۲۱م).

په دې بیت کې ((آهاد قلوب غم)) دمعما په ډول راغلی دی چې په لاندې ډول حلېږي:

الف: ۱ +

هـ: ۵ +

الف: ۱ +

د: ٤ +

ق: ۱۰۰ +

ل: ۳۰ +

و: ٦ +

ب: ۲ +

غ: ۱۰۰۰ +

م: ٤۰ +

۱۱۸۹

دا ټول چې سره جمع شي (۱۱۸۹) جوړوي چې دا د کاظم خان شیدا د ورونو د مړینې تاریخ دی.

ذوالقافیتین:

هغه شعرچې دوه قافیې ولري ذوالقافیتین بلل کیږي.

په رفـــعت که برین عرش دی

نسبت تا ته پاییـــن فرش دی

(۴۱: ٦٢م).

په پورته بیت کې (برین، عرش، پایین، فرش) دقافیې کلمې دي.

کله داسې هم کېږي چې د شعر ټول بیتونه مصرع وي، یعنې هر نیم بیتی یې قافیه ولري، چې دې ته هم ذوالقافیتین وایي. لکه دکاظم خان شیدا دا لاندې شعر:

بیا دې تېغ ولې ترملا، رخش دې زیـن کـــــړ

پـه لینـده دې ولـــــې غشـــــی آغزینکـــړ

په سرو وینو دې میدان ولـې رنگـین کـــــــړ

چا له تا ســـــره په دا میدان کې کـین کـــــړ

(۴۱: ۴۵۰م).

ترصیع:

ترصیح په لغت کې په گوهرو د یوه څیز ښکلي کولو ته وایي او په ادبي اصطلاح کې یو شاعر دخپل نظم یو نیم بیتی په څو برخو ویشي او په بل نیم بیتي کې دهرې برخې پر وړاندې داسې کلمې راوړي چې په روي او وزن کې په ترتیب سره د لومړني نیم بیتي له برخو سره یو شان وي، ترصیع بلل کېږي.

دا غوغا ده په بېشه کې

دا صدا ده په تېشه کې

(۴۱: ٥٦م).

لومړی نیم بیتی په (غوغا، بېشه) وېشل شوي چې په ترتیب سره په دویم نیم بیتي کې په ترتیب سره دهرې کلمې په مقابل کې (صدا،بېشه) راغلي چې په روي او وزن کې سره یو شان دي.

قلب:

په لغت کې سرچپه (نسکور) ته وایي او په اصطلاح کې که چېرته شاعر په خپل کلام کې دوې یا ډېرې داسې کلمې راوړي، چې توري یې په بڼه او شمېر کې سره یو او په ترتیب سره اوښتي وي، قلب بلل کېږي.

د بهار په دود يې چکن د دامـــــن شو

چې په سير دهر دشت وکهسار زېب کـا

(۴۱: ۵۴م).

شبه اشتقاق:

اشتقاق په ژبه کې د سوري کولو په معنی دی او اقتضاب د ځانګې دپرې کولو معنی ورکوي. د بدېع په اصطلاح که چېرته ليکوال په خپله ليکنه کې داسې کلمې راوړي چې دهغوی ترمنځ تجانس او تشابه وي. نوموړي اشتقاق ته اقتضاب او جناس اشتقاق هم وايي. او په دوه ډوله دی.

نه يې خوري نه يې خوروي خاورې يې قوت شـــــــي

ځـــوک چې جمـــع لکـــــه مار کا ګنـــــــج عبث

(۴۱: ۱۱٦م).

په پورته بيت کې (خوري، خوروي) کلمې د (خوړل) له مصدر څخه مشتق شوي دي، چې د دواړو ريښه يوه ده.

بل ډول يې داسې دی چې د دوو کليمو ريښه يوه نه وي، مګر داسې بريښې چې له يوې ريښې څخه مشتق شويدي. لکه په همدې بيت کې (خوري، خوروي او خاوري) کلمې، چې دخوروي او خوري کليمه د خوړل له مصدر څخه مشتق شوي او خاورې بيا نوم دی چې په دري کې ورته (خاک) وايي، خو په ظاهر کې بيا له يوې کلمې څخه داشتقاق په ډول څرګندېږي.

دفعلونو پرلپسينه:

هغه ادبي صنعت دی چې شاعر په خپل کلام کې څو فعلونه وکاروي چې ښکلا ترې پيداشي.

د تاله زلفو شانه ختلـــې ده

هر چا ليدلې هر چا کتلې ده

هسې زيـــبا و پر مصـــفا ده

د مار له حلقه ګويا وتلې ده

(۴۱: ۳۵۷م).

تصدير يا ردالعجز:

تصدير په لغت کې پيلولو او پورته کېنولو ته وايي او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی، چې د لومړي نيم بيتي لومړی کلمه د دويم نيم بيتي په پای کې راشي يا د دويم نيم بيتي وروستی کلمه د ورپسې بيت په سر کې راوړل شي، تصدير ورته وايي.

شي تياره په شـــان د شپې زما په ســترگو

چـــې محبوب مې د آفتاب په دود دلبر شي

(۴۱: ۲۴۱م).

په پورته بيت کې د (شي) کلمه د تصدير په ډول راغلې ده.

ملمع:

په لغت کې رنگارنگ، يا هغه حيوان ته وايي چې پر پوټکي يې داغونه يا خالونه دحيوان داصلي رنگ خلاف راغلي وي او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی، چې شاعر په خپل کلام کې له يوې ژبې څخه زياتې ژبې راوړي.

راشه گوره والذينـــــه **معه صاحب يقينـــــه**

(۴۱: ۷۱م).

په پورته بيت کې پښتو او عربي ژبې کلمې استعمال شوي دي.

ردالقافيه:

نوموړی ادبي صنعت يوازې په نظم پورې تړلی دی، کله شاعر د خپل کلام دلومړي نيم بيتي قافيه د دويم بيت په دويم نيم بيتي کې په يوه معنی او بڼه راوړي، چې دې کار ته په ادبي فنونو کې ردالقافيه وايي.

عجب سحر دی پکې درنگ درنـــگ دی

اثر مـــې شـــــــوی په زړه دا درنگ دی

دمالگې گل يـــې شگفـــــــــته تر کړ

باد يې راغلـــــــــی د باغ په درنـــگ دی

(۴۱: ۳۹٦م).

په پورته دوو بيتونو کې د (درنگ) کليمه د ردالقافيه په بڼه راغلې ده.

ازدواج:

د دوه جوختو او گاونډيو لفظونو ورته والی ازدواج بلل کېږي، يا که چېرته شاعر په خپل کلام کې دوې داسې کلمې څنگ په څنگ راوړي، چې په لومړيو تورو کې سره اختلاف ولري او په وروستيو تورو کې سره يوشان وي.

زمانه به درته خـــوان د الوان کـــېږدي

ته که وضع د فضول مهمان پيدا کـــړې

(۴۱: ۲۸۳م).

په پورته بیت کې د (خوان او الوان) په کلمو کې ازدواج ادبي صنعت راغلی دی، چې په لومړیو تورو کې سره مختلفې او په وروستیو تورو کې سره یو شان دي.

واز:

که چیرته شاعر په خپل کلام کې داسې کلمې وکاروي، چې په یوه توري کې هم شونډې سره ونه نښلي (واز) ادبي صنعت ورته وایي.

لوی راحت دی ستا دجور گزندونــه

لکه نېش هسې دنوش لري خوندونه

(۴۱: ۲۲۲م).

د پښتو ژبې د شعر په اړه دی داسې وایي:

د پښتو ژبه تمامـــــــــــه

ده بې نظمه بې نظامـــــه

له اوزانه مختلفـــــــــــه

له میزانه منحرفـــــــــــه

په میزان با ندې چې راشی

هر کلام ته و بالا شـــــي

چې په د ا ژبه گویـــا دي

د د ې فن سخن ســرا دي

که عـــالم د یا جاهـــل دي

که ناقص دي که کامل دي

(۴۱: ۸۰م).

په پورته نظم کې وایي چې له ما څخه نیولې تر ټولو پورې په پښتو ژبه کې د هېڅ یوه شخص شعر هم سم نه دی؛ ځکه چې په دې ژبه کې لکه د عربي په څېر د وزن لپاره کوم معیار نشته ده؛ نو ځکه دی وایي چې دا یوه داسې ژبه ده چې له ټولو اوزانو څخه مختلفه ده او سربیره پر دې دا خبره هم ورزیاتوي چې دا په اصل کې یوازې یو عبارت دی او د دې ژبې شاعري مسجع نثر ته ورته گڼي.

د شیدا په اشعارو کې صبر او استغناء

صبر او استغناء هم فقیرانه صفات دي. په هر حالت کې صبر کول او د خپل خالق شکراداکول صبر دی. څوك چې په هرکار کې صبر خپله دنده ګڼي، نو بریالیتوب د هغه پښې ښکلوي. شیدا یو صابر او شاکر بنده وو. هغه ته چې الله پاك هرڅه ورکړي وو په هغه قانع وو، لکه چې وایي:

رقاصې به مشت خاک لکه ګردباد کـــــــــړي

کـــه په مزکه یې مسروصاحب ســـــــــریره

(۴۱: ۱۸۲م).

د شیدا په اشعارو کې د طمعې او غوښتنې ترك

د خپلو غوښتنودپرېښودلو او د تمې نه کولو په باب زموږ شاعرانو ډېر ښکلي ښکلي شعرونه ویلي دي. د تمې او غوښتنې د پرېښودلو اړیکه هم له زړه سره ده. کوم زړه چې د تمې او خواهش د وسوسونه په آمان وي، هغه د ژوند له خواږو څخه خوند اخلي. کاظم خان شیدا یوپاك زړی، مستغني او فقیر طبع سړی و؛ ځکه نو د ده په نزد د خپلوغوښتنو پرېښودل یو پیاوړی جهاد دی.

وینې سپینې د عـالم شـوې لکـه شـمع

عاقبت به دې تنګ لاس په سرارت شي

په دا باب لکه غنچـې کـړه خـاطر جمـع

(۴۱: ۳۱۱م).

د محمدي صاحبزاده پېژندنه

دا چې د دومره لوی شاعر او د پښتو ژبې د خدمتګار ژوند تر خارو لاندې نه شي اوپه اړه یې معلومات د پښتو ژبې له ویوونکو او لیکوالو سره شریک شي؛ نو په همدې اړه د پښتو ژبې خدمتګارانو دې خدمت ته ملا وتړله او د دې لوی حقدار شاعر حق یې تر یوه حده ادا کړ، چې خوشبختانه اوس موږ سره د نوموړي د ژوند او هنر په اړه کافي معلومات شته د ده په اړه قلندر مومند د ده په دېوان کې داسې وايي: ((محمدي صاحبزاده د پېښور د مشهور ولي الله حضرت میاعمرصاحب د ځمکنو مشر زوی وه. په خپلو مختلفو کتابونو کې صاحبزاده صاحب خپله شجره بیان کړې ده، دې کې مقاصد الفقهه دی، چې له هغې نه دا د نسب شجره په دې ډول مرتب کیدی شي:

محمدي صاحبزاده ابن میاعمر ابن ابراهیم، ابن کلاخان، ابن فقیرجان، ادم ابن احمد، ابن یوسف ابن ایمل ابن یوسف ابن موسی، ابن عیسی ابن موسی، ابن ترک. یو بل کتاب چې د نوم پته یې نه لګي دوی خپله شجره تر سربښه پورې رسولې ده، دواړه ځایه یې ځانته اسرائیلي لیکلي دي.

د محمدي صاحبزاده د پیدایش په هکله یقیني معلومات نه لرو.

ښاغلي اثر افغاني خپل کتاب روحاني رابطه او روحاني تړون کې د محمدي صاحبزاده پیدایش په (۱۱۰۹هـ ق) کې ښودلی دی.

دا تاریخ په دې لحاظ صحیح نه ښکاري چې په خپله دا د اثرې افغاني د اثر له نورو برخو سره تړون نه لري. مثلا د اثر صاحب د وینا مطابق د محمدي صاحبزاده د والد محترم حضرت میاعمرصاحب فرید اباد کې (۱۰۸۴هـ ق) په (۷٦۰مخ) کې دا کال (۱۰۸۲هـ) کې پیدا شوی و.

ځمکنو ته د دوی د واپسۍ په وخت د هغوی عمر دولس یا څوارلس کاله و (۷٦۰مخ) کې ګویا په دې لحاظ میاعمرصاحب په (۱۰۹۸هـ) یا (۱۰۹هـ) کې ځمکنو ته تشریف راوړی دی او د اثرصاحب د وینا مطابق ځمکنو ته د راتللو نه پس دوی ټولو دیني علمونه حاصل کړل، د یوه کس په تحصیلاتو باندې که کم از کم پنځلس مکاله لګیدلي وي؛ نو هم تر ۱۱۱۸هـ او یا تر ۱۱۱۳هـ پورې دی طالب العلم و. او د شریعت د علمونو نه پس چې د معرفت و طریقت علومو حاصلولو ته متوجه شو؛ نو د ځان لپاره یې داسې میدان خوښ کړو چې دی پکې له خپل پیر سره یو ځای وختونه تیرول... روحاني رابطه (۷٦۳مخ) ګویا د واده لپاره هغوی کم از کم (۱۱۱۳هـ ق) پورې فارغ نه و.

دې پایلې ته رسېږو چې د محمدي صاحبزاده د پیدایش کال (۱۱۰۹هـ) ډېر غیرې اغلب دی کوم مواد چې زموږ په وړاندې موجود دي، د هغې له رویه دې ضمن کې څه حتمي فیصله کول ګران دي.

د محمدي صاحبزاده د وفات کال البته يقيني دی؛ ځکه چې مناقبت ليکونکيو محمدي دخل الجنته د هغوی د وفات ماده تاريخ ويلی وه او له دې نه (۱۲۲۰هـ ق) کال راوځي(۴۲: ز- مخ).

د محمدي صاحبزاده شاعري

د ده شاعري نسبتا ساده او روانه ده، د دې پړاو نورو شاعرانو ته يې په شاعرۍ کې يو ځانګړتيا دا ده، چې په شاعرۍ کې يې د نورو ژبو اغيز په ډېره پيمانه نه شته، په دې اړه قلندر مومند داسې ويلي دي: ((د صنايعو او بدايعو په لړ کې هم د محمدي صاحبزاده نه پس شاعرانو د هغه نه کافي فيض حاصل کړی دی، خو زما په خيال د محمدي صاحبزداه د فن اصل کمال د صنايعو او بدايعو شاعري نه ده؛ بلکې د پښتو د غزل هغه روايت مخ په وړاندې بوتلل دي چې مرزا شروع کړی، خوشحال خان پوخ کړی، رحمان بابا مقبول کړی او عبدالحميد رنګين کړی وه.

دې ته که ګورو نو محمدي صاحبزاده د پښتو په غزل کې د ځان له مکتب خاوند دی، چې ښکاره خصوصيتونه يې رومانيت، سادګي، مضمون افريني او تصوف دی. د فن په ميدان کې محمدي صاحبزاده پښتو شاعرۍ ته يوه ښکاره او د انتهايي قدر او اهميت قابله عاطيه ورکړې ده، چې شايد په لومړي ځل هغه د غزل په پيکر يو ښکلې تجربه کړې ده او هغه دا چې د پښتو د رباعۍ په مخصوص وزن کې يې غزلونه ليکلي دي. دې ضمن کې دا خبره هم قابل ذکرده، چې د دېوان له ترتيبه داسې معلومېږي چې دا تجربه هغه د خپل ادبي ژوند په وروستۍ حصه کې کړې ده.

يعنې د دېوان د(ی) د پټۍ د غزلونو نه پس چې هغه مخمسونه ختم کړي او د روايت مطابق په رباعياتو پيل کوي؛ نو له هغې نه وړاندې يې دغه غزلې د رديف د قيد نه بغير ليکلی دی او ړومبی غزل يې د(ی) د پټۍ دی.

غنچې غوړېږي موسم د ګـــــلـــو دی
په باغ کې ځکه شور د بلـــبـــلو دی
په غم دې سوځم څه خوتر ما راشـــــه
دخدای لپاره لږ خو تـر خـوا راشـــــــه
هغه اشنا چې لـه سترګو دور لـــــــرم
کلـی او کـور دواړه پـه ځـان تنورلـــــرم

(۴۲: ط-م).

له دې نه دا رائي قايمدای شي چې داغزلې رديف وار نه؛ بلکې د ليکلو په ترتيب دي او نور دېوان کې د دې غزلونو په څمکه غزلونه نه دي ليکل شوي.

د محمدي صاحبزاده ژبه ساده او سليسه ده. هر ځای مشکل مضمون په اسانه شکل سره ادا شوی دی. د ژبې په ضمن کې دا خبره کول په کار دي، چې محمدي صاحبزاده ځينې الفاظ د ژبې د شاعرۍ د رواياتو سره سم نه؛ بلکې خلاف يې استعمالوي.

مثلا: (نه اوري) اکثرا (ناوري) راوړی، دغسې له هغو تورو نه پس، چې وروسته يې حرف علت او په خاص طور سره (ی) راځي، د ضمير (ی) محذوفه راولی، مثلا (زلفي ئې) اکثره (زلفې) تړي. ما اکثره په داسې ځايونو کې د يادونې نوټونه ورکړي دي.

د محمدي صاحبزاده د دېوان ځانګړتياوې

د محمدي صاحبزداه دېوان چې تر ډېره وخته زموږ په لاس کې نه وه، د دوخت په تېرېدوسره د پښتو ژبې او ادب د لوی خدمتګار قلندرمومند په ترتيب او مقدمه په کال (۱۹۸۵م) د پېښور کوهاټ روډ کې د انورالحق داودزي په ليک سره په (۱۰۰۰) ټوکونو کې چاپ شو، چې نن خوشبختانه زموږ په مخ کې د ګټې اخيستنې په موخه پروت دی او د ژبې او داب ټول مينوال ترې خوند اخلي.

د دې دېوان په اړه د قلندر مومند د خولې ځينې خبرې دلته راوړو، چې په دې ډول سره دي: ((اوس به يو څو خبرې د دېوان د قلمي نسخې په باره کې عرض کړم. د اصل نسخې کاتب متاسفانه خپل نوم نه دی ليکلی.

به اتمام رسيد و خلعت اختتام پوشيد هذه نسخته مبارکه تصنيف شريف سراج السالکين زبدة العارفين حضرت صاحبزاده جيو انارالله برهانه که مشهور ومعروف است باسم سامي ولقب نامی دېوان ميان محمدي صاحبزاده سنه (۱۲۷٦هـ ق).

په دې حساب دا دېوان د محمدي صاحبزاده له مرګ څخه شپږپنځوس کاله وروسته ليکلی شوی دی. که خدای ج وکړل او د دېوان کومه نسخه راپيدا شوه؛ نو د هغو ځايونو اصلاح به ممکنه شي، چې دې يواځينۍ نسخه کې غلط شليدلی. يا له ځايه بې ځايه شوي وي.

د دېوان د املا په هکله هم لوستونکي خبرول غواړم، چې د پښتو د ځينې املايي مشکلاتو د حل لپاره مو په مروجه املا کې ځينې تبديلي راوستي دي او د خدای په فضل دا لومړی کتاب دی چې په دې نوې املا کې چاپ کېږي په دې غرض لوستونکي دې لاندې خبرې په ذهن کې وساتي.

الف: د زړې املا د (نړ) (ورونړه) په ځای موږ (ڼ) (ورونه) خپل کړي دي چې ورته به نون وايو.

ب: د مهموزې (ه) لپاره به اوس (هـ) ليکو لکه (تهـ) زړهـ وغيره.

ج: يائې مجهول (ی) به هغو توريو کې ليکو چې مخکې حرف ترې مفتوح وي لکه (سړی).

د: یائي مخصوص (ې) به هغو الفاظو کې لیکو چې مخکې حرف ترې نه مفتوح وي او که پوره مفتوح نه وي؛ نو نیم مسکور وي لکه (عیب) یا سړې.

ه: یائي تانیث (ی) به هغو اسمونو سره لیکو چې مونث وي او اخیر کې یې د((ی)) اواز وي، لکه څپلۍ چپلۍ وغیره. د داسې مونثو اسمونو جمع به هم په همدې توري لیکلی شي.

د دې جدت په وجه د دیوان ځینې غیرې منقوطه غزلو کې چې چیرته د زړې املا مطابق (دِ) لیکل شوی وه هلته اوس دې لیکل ابج وو.

دغسې که دغو غزلونو کې د نوې املا په وجه نقطه راغلې وي نو دا دې د شاعر غلطي ونه ګڼل شي (۴۲: ط-م).

د محمدي صاحبزاده د شاعرۍ فورمونه

د ده په شاعرۍ کې د عروضي نظمونو ټول کالبونه نه دي راغلي، خو د دې ټولو له جملې څخه بیا غزلونه، مخمسونه، رباعیات، مخمسونه، ترکیب بند، ترجیح بند او قصیده وزمه غزلې شاملې دي چې ترټولو زیاته برخه یې غزلونو نیولې ده.

غزل

غزل د عروضي نظمونو هغه برخه ده چې د ده په دیوان کې تر ټول زیاته تکرار شوې چې بېلګه یې په ډې ډول ده:

په دا باغ هر څوک د ګل کا تماشـــــــــا
د بلبل غونډې کوم بل کا تماشـــــــــا
چا به سپل په پردو سترګو کړی نـــــه وی
چې هرڅوک پـه نطر خپل کا تماشـــــــا
ستا د زلفو په دود کله یې کجک لوئې دی
که دا خلق او س د سنبل کا تماشـــــــا
هسې نه هغه ښا ئسته تـه زه ولاړ یـــــم
چې ئـې ما غنـدې زر سل کا تماشـــــــا
د خزان سیلۍ چې شته دا ګل به توې کـا
دا چې یو بل او س یـې تـل کا تما شـــــا

(۴۲: ۳م).

مخمس

مخمس له غزل وروسته هغه فورم دی چې د ده په دېوان کې ډېر تکرار شوی دی، بېلګه یې په دې ډول ده:

د سرو ســترګو تــر خنجــر تــیره نظــر دی

زمـا زړه ځکـه زخمـي هـم پـرې ځیـــګر دی

په ګریوان مې پاس د سرو ویـنو درـ در دی

د عشق لار کې چې خطر زمـا د ســـــر دی

مـا او تـا غنـدې عـالم پکـې ډېـــــر دی

(۴۲: ۳۷۵م).

رباعیات

رباعیات هم هغه شعري ډول دی چې د ده په دېوان کې تر ټولو زیات کارول شوی دی بیلګه یې په دې ډول ده:

بیلتـون سـور اور دی سـیزل د زړونـو کـــا

پرېـږدی ښـخې ډونـډ د مړونـو کـــــــا

محمدی خلـق ئـې پـه تماشـا راټـول شـــي

چـې ګټـې پـورې پـه جګـړو پرونـو کـــا

(۴۲: ۴۳۱م).

د محمدي صاحبزاده د دېوان محتوا

د ده په دېوان کې د ژوندانه په اړه بېلې بېلې او مختلفې تجربې لیکل شوي دي چې موږ یې غواړو دلته اوس په مفصل ډول سره ځینې بیان کړو. همدارنګه د ده په شعر کې ځینې موضوعات لکه: د الله ج ستاینه، تصوف، عشق، مینه او محبت، ښه اخلاق او داسې نور هم تکرار شوي دي، چې موږ به یې دلته په ترتیب سره تر یوه حده وڅېړو او په اړه به یې خبرې وکړو.

د الله ج ستاینه:

ده په خپل دېوان کې د کایناتو د لوی څښتن تعالی ستاینه او صفت په داسې ښکلي شکل سره کړی دی چې هېڅ حد نلري او د دې بیتونو په لوستلو سره یې موږ ته یو جلا حالت را په برخه کړ لکه چې دی د دېوان په یو ځای کې داسې وایي:

د دې باغ غنچـه چـې ګـل کـړه رب زمـــــــــا

ژبـه وصـف لـه بلبـل کـړه رب زمـــــــــــا

چې په دا مجلس ساقي پیاله په لاس کـــــــړه

اموخته خوله په غښتل کړه رب زمـــــــــــــا

غـاړه مـا ایښـې ده پـړي تـه د حکـــــــــــــم

خوښه دا چار پـه منـل کـړه رب زمـــــــــــــا

د لاس ګټې مې عبـث کلـه پیـــــــــــــدا دي

سـتا لمـن بخـره نیـول ګـړه رب زمـــــــــــــا

چې په د وه څلوېښت او دولس کې مقصـود دی

معـما پټـه پـه ښـکل کـړه رب زمـــــــــــــا

(۴۲: ۱م).

په پورته بیتونو کې که موږ او تاسو په دقت سره سوچ او فکر وکړو؛ نو راته به معلومه شي چې ده په څومره ښکلې توګه د خپل رب ستاینه کړې ده او د هغه ثنا او صفات یې بیان کړي دي.

دی وایي چې په دنیا کې ټولې چارې د انسان په واک کې نه دي او هر څه یو بل ذات اداره کوي، چې هغه پاک الله ج دی. موږ باید تل د خپل پاک رب ثنا بیان کړو؛ ځکه چې په موږ یې ډېر لوی احسان کړی دی او په ډېر ښکلي شکل سره یې پیدا کړي یو. دی وایي چې ژړا ده او که خندا ده، دا دواړه زما په واک کې نه دي، دا هر څه د الله ج له طرفه دي؛ نو موږ ته پکار ده چې د ده په ټول پرېکړو صبر وکړو؛ ځکه چې د ده په خوښه دنیا ته راغلو.

موږ ته د حکمت د علم په اړه هېڅ معلو مات نشته چې د الله ج د هر کار په حکمت خبر شو؛ نو موږ ته لازمه ده چې د الهي پروردګار ټولې پرېکړې ومنو، اوامر یې په روزمره ژوند کې تطبیق کړو.

د دنیا په اړه

دی په خپل دېوان کې د دنیا په هکله ډېره یوه منطقي خبره کوي او په اړه یې دا سې نظر لري:

پـه بهـار لـه ګـل کانـدي راز بـــــــــــورا

پـټ پـه غـوږ کـې ورتـه کـا اواز بـــــــــــورا

د دنیا روزګار یـو درنـګ ورتـه ښـــکارېږي

ځکـه ژر لـه ګلـو کـا پـرواز بـــــــــــورا

د شبنم د څاڅکی ډنډ د ګل پـه پاڼـــــه

پـرې اودس کـا د اخـلاص نمـاز بـــــــــــورا

(۴۲: ۱م).

په پورته بیت کې دی په ډېر ښکلي او ښایسته شکل سره د دنیا په اړه وایي چې دا دنیا به تل او همېش نه وي، چې موږ پکې و اوسو؛ نو زموږ لپاره پکار ده چې د تل لپاره پر دې دنیا باندې زړه ونه تړو او د هغې بلې اصلي او نه پنا کېدونکې دنیا لپاره کار وکړو. تر څو پورې مو راتلونکی ژوند له خوښیو ډک و اوسي، دا به زموږ لپاره یوه لویه لاسته راوړنه وي.

دی موږ ته وایي چې ای انسانه! دا دنیا نیمګړې ده په دې حقیقت چې بورا هم پوه شوی دی. هغه د دې لپاره د ګل له بوی او ښایست سره ډېره دوستي نکوي چې د دوی ژوند دلته د لنډ وخت لپاره دی تل به نه وي؛ نو چې هغه په دې حقیقت وپوهېده نو موږ انسانان خو باید زر ځلي دا هدف واخلو؛ ځکه چې اشرف المخلوقات یو. دلته دی په دې تاکید کوي چې ای انسانه! ته دومره بې خبره کېږه مه، ته په دې دنیا کې خپل مقصد او مرام تر لاسه کړه؛ ځکه چې ته د هماغې لپاره رالېږل شوی یې او نور دغه لهو او لعب کارونه پرېږده.

په بل ځای کې بیا دی همدغه مطلب په یوه بل شکل هم افاده کوي، چې موږ یې دلته را اخلو:

چې حباب غوندې مې کډه ده تړلې په دریاب کې

محمدي اوس د استوګې پاتې نه شو ځان زمـــــا

(۴۲: ۱م).

وایي چې ما په دنیا کې ډېره خواري وکړه په هېڅ وخت کې مې هم سسته ونکړه، خو بیا هم د دې ټولو سربېره نن لکه په دریاب کې حباب خپل ځای نه لرم؛ نو دا دنیا کې که موږ او تاسو هر څومره کوښښ هم وکړو موږ ته به ګټه ونکړي او هماغه ابدي کور ته به ترې روان یو.

د توحید په اړه: محمدي صاحبزاده په خپل دېوان کې د توحید په اړه داسې وایي:

چې د زړه قبلې ته مخ پـه نیـت زمـــا دی

د حضـور د لمانځـه تـه رکـن تمـــــام را

په قاعده اخره ناست په شان د غره یـــــم

لکـه سروې لـوړه ورځ مـې یـو قیـــــام را

د توحیـد پـه لمانځـه یـار یـم ودرولـــــی

ګرځـول لـه د نیـا مـخ دلتـه ســـــــلام را

د عـر فـان پـه عـر فـات د زړه ولاړ یـــــم

تلبیـه د خپـل نـوم مالـه پـه اکـــــــرام را

(۴۲: ۱م).

ده په دې بیتونو کې د توحید او عرفان یادونه کړې ده. له دې څخه دا هم په ښه توګه ثابېتېدلی شي چې دی به د تصوف په کومه فرقه کې هم تر یو حده پاتې شوی وي؛ ځکه داسې پخې او کره خبرې په دې اړه په پورته بیت کې کوي.

بېلتون او هجران:

دی په دې اړه په زړه پورې بیتونه په خپل دېوان کې لري او له دې سخت او درد ناک نوم څخه تل په خپل ټول دېوان کې سرټکوي او د دې سختې ورځې زخمونه دم په دم یادوي، هېڅ یې نه شي بیلولی؛ نو له دې څخه پته لګي چې دی هم په دې غشي زخمي شوی او یو وخت یې د دې زخم خوږ او نه هېرېدونکی درد هېڅ کړی دی چې په دې اړه یې دلته موږ ځینې بیتونه د نمونې په توګه را اخلو:

چې په زړه غم قبـول کـړی د دلـبر مـــــا
د ویښتو په دود اخیستی دی په سر مــا
بیلتانه راتـه غـم ودروو پـه مـخ کـــــــې
له پردو خپلو پـه دا واخسـت نظـر مـــــا
هغـه زور د بیلتانـه غـم رانـــــــــه وړی
کـه د مــاشي پــه وزر اړوه غــر زمـــــــا

په دې بیتونو کې خپل فریاد بیانوي او وایي چې مخکې له دې څخه زه ډېر قوي وم، خو اوس مې هېڅ وس او قدرت د حوصیلې پاتې نه دی او نه یې کولی شم.

دی له بیلتانه مخکې خپل ځان ته وایي چې دې رنځ اوس ډېر کمزوری کړی یې، نو راځه اوس غلی کېنه نور له هرڅه وغورځېدلې هېڅ دې هم له وسې پوره نه دي.

پند او نصیحت

د هندي ادبي سبک شاعران د نورو موضوعاتو ترڅنګ په خپل شعر کې ځای ـ ځای خلکو ته د پند او نصیحت څخه ډکې ویناوې هم کوي چې موږ یې دلته یوه بېلګه را وړو:

پـه دا بـاغ هرڅـوک د ګـل کـا تماشـــــــا
د بلـل غونـدې کـوم بـل کـا تماشـــــــــا
چا به سپل په پردو سـترګو کـړی نـــــه وی
چې هرڅـوک پـه نطـر خپـل کـا تماشـــــا
ستا د زلفو په دود کله یې کجک لـوئې دی

که دا خلـق اوس د سـنبل کـا تماشـــــــا

هسې نه هغه ښا ئسـته تـه زه ولاړ یـــــم

چـې ئـې مـا غنـدې زر سـل کـا تماشـــــا

(۴۲: ۳م).

په پورته بیتونو کې موږ ته د ژوند په اړه د همت او بهادرۍ درس راکوي، راته وايي چې هر څوک په ژوند کې باید په خپلو پښو ودرېږي، هېڅ وخت نورو خلکو ته د سوال لاس اوچت نکړي؛ ځکه چې په دې اړه یو عالم هم داسې نظر لري (ژوند په خپلو مټو کېږي د بل په مټو تل یوازې جنازه پورته کېږي). دی هم وايي چې هېڅ وخت ما په دنیا کې داسې څوک نه دي کتلي چې د بل په سترګو یې د دنیا ننداره کړې وي او نه مې داسې څوک لیدلي دي چې د بل په پوزه یې هوا تنفس کړي وي؛ نو د ژوند ټولې برخې په همدې ډول دي، موږ باید تل په ژوند کې خپل همت له لاسه ورنکړو او نه د بل په تمه ژوند وکړو.

دی په دې بیتونو کې یو بل منطقي نظر هم ورکوي او وايي: لکه څنګه چې په هر ګل پسې په دنیا کې خزان راروان دی؛ نو په همدې شکل په دنیا کې هم خزان راځی او دا دنیا به تلپاتې نه وي؛ نو موږ باید خپلو کړنو ته زیات دقیق و اوسو، چې الله ج څه د انسان د ګټې او فایدې لپار پیدا کړي هغه له منځه لاړل او پنا کېدونکي دي او چې هغه شیان پنا کېدونکي دي نو انسان خو به زر ځلي پنا کېدونکی وي.

دا په حقیقت کې یوه ډېره لویه خبره ده چې په شعر کې دې ته یوه داسې موضوع ثبوت ته ورسوې؛ نو له دې ځایه معلومېږي چې د دې سړي شاعري ټوله له کماله ډکه ده؛ ځکه چې ده د شعر په ژبه دومره یوه لویه موضوع ثبوت ته ورسوله چې ان په نثر کې یې هم ثبوت ته رسول ډېر وخت او کار ته ضرورت لري؛ موږ ته پکاره دا ده چې په راتلونکي وخت کې هم د دې سړي په شاعرۍ مکمل او هراړخیز بحث وکړو.

عشق

دی وايي چې د عشق لاره یوه نه شاته کېدونکې، له خوند او خطره ډکه لاره ده چې دلته سړی هر څه په نشت حسابوي، صرف خپل هدف او مقصد ته ځان رسوي، خو موږ ډېر وخت عشق په غلت نظر تعبیروو، دا خو د عشق غلتي نه ده؛ بلکې دا زموږه خپله غلتي ده چې په کم نظر ورته ګورو.

د مثال په توګه که موږ چېرته چاقو یا چاړه را واخلو د لومړي ځل لپاره پرې یوه میوه پرې کړو او د دویم ځل لپاره پرې یو انسان ووهو؛ نو راته به معلو شي چې دا هم په سمه توګه استفاده کیدای شی او هم په ناسمه توګه.

په همدې ډول د عشق مسله هم په همدې ډول ده څوک پرې له الله ج سره راز او نیاز ته ورسېدل او چا پکې په دنیا کې خپل عزت د لاسه ورکړ او په ټولنه کې په یوه ناسمه څېره مشهور شو چې هېڅوک یې نشي زغملی او دی دومره په دې ناسمه استفاده بد نام شو چې حد نه لري.

د سرو سترګو تر خنجر تیره نظـــــــــر دی

زما زړه ځکه زخمي هم پرې ځیګـــــر دی

په ګریوان مې پاس د سرو ویـــنو در در دی

د عشق لار کې چې خطر زمـــــا د سر دی

ما او تا غندې عالم پکې ډبـــــــــر دی

(۴۲: ۳۷۵م).

نادر او په زړه پورې تشبیهات:

د ده په دېوان کې نادرې او په زړه پورې تشبیهات ډېرې زیاتې راغلي دي، چې موږ یې دلته د بېلګې په تو ګه یو دوه نمونې راوړو:

تـن پـه تـن کـور پـه کـور ګـرځم لکـه خـواب

کلـه مـومم خپـل اشـنا خانـه خـــــــــراب

غـم پـه مـا لکـه سـیند وخـوت احـوال دا دی

پکـــې ورک لاړم پـــه شـــانې د حبـــــــــاب

(۴۲: ۲۹م).

که پورته بیت ته په دقیق ډول متوجه شو؛ نو راته به معلومه شي چې تشبه څومره خوند لري او ارزښت یې په څه کې دی؟ دا به زموږ لپاره یوه نوې خبره وي چې موږ دې داسې یوه تشبه وکړو، چې هېڅ دې مبتذله بڼه ونلري او په تمامه مانا دې دا یوه نوې تشبه وي، بېلګه یې په پورته بیت کې ښکار ده لکه: دی خپل ځان په لومړي بیت کې له خوب سره تشبه کوي او په دویم بیت کې ځان له حباب سره تشبه کوي، چې د دې دواړو تشبهاتو د تشبه وجه او غرض په زړه پورې خبرې جوړوي، موږ پرې دلته له نور بحث څخه تېرېږو؛ ځکه چې بحث راڅخه اوږدېږي.

نو دا او دې ته ورته تشبهات د ده په دېوان کې په لسګونو تر سترګو کېږي.

نصیب او قسمت

دی په خپل دېوان کې له نصیب او قسمت څخه سر ټکوي او ورته په دې ډول خطاب کوي:

يـو دې بيـا مونـد زمـا زړه د ترنګولـــــــــو
که بل هم چېرته ځای شته د ستا نصيبـــه
سينه سوي ګل له راشي بوی کـا درومـــي
تـا دا هـومره کـه اشـنا بـورا نصيبـــــــــــه
هغه يـار مـرور بيـا لـه مانـه لاړ شـــــــــه
بـــې ده نـــه وه راسره پخـلا نصيبـــــــــــه
ساه مې لنډه لنـده کېـږي ګونـه ځيـــــــړه
هسې ستا غم کـړم زه وارخطـا نصيبـــــــه
خداي مې وينـــې لـه ناکامـه سره مرمـــــه
اړولـــې چـارې کـړې پـه مـا نصيبـــــــــه
اوس د غم په زمکه پروت په اور کـې سـوزم
لـــه مـــين سره وم خـــوا پخـــوا نصيـــــــبه
(۴۲: ۲۹م).

په پورته بيتونو کې له خپل قسمت څخه سر ټکوي او وايي چې ما نو داسې کوم بد له تا سره کړي دي چې ته ما ته دومره سخته سزا راکوي، په قوم او ولس کې دې د هر چا د خندا کړم.

په دې غزل کې يوه بله لويه موضوع هم پرته ده چې د هغې پوره څېړل به زموږ موضوع نوره هم پراخه کړي، خو دلته ورته لنډه اشاره کوو.

دی په يوه بيت کې وايي چې له يار سره په يوه ځمکه اوسېدم همالته به د وصلت وخت وه، خو کله چې دې دنيا ته راغلم نو دا د هجران شپې دي چې تېروو يې تر څو بېرته خپل حقيقي ځای ته ورشو، په همدې ډول سره دی دلته په ژوند تنګ دی او په دې خوشحاله دی چې هېڅ دې مجازي او فاني دنيا ته نه وای راغلی.

د علی خان پېژندنه

علي خان د پښتو ژبې يو په زړه پورې شاعر تېر شوی دی چې تراوسه يې په شعر کې هماغه شان خوند او رنګ پروت دی او خلک پرې خپله تنده خړوبوي، همدارنګه دی د منځني دورې د دويم پړاو يو تکړه شاعر و، چې موږ يې هېڅ وخت هم له حسابه نشو غورځولی او تل به يې د پښتو ادب تاريخ په پاڼو کې نوم وي، دی د پښتو ژبې رنګين فکره، نازکخياله صنعتکار او فنکار شاعر دی او د پښتو شعر د کلاسيکې دورې په شاعرانو کې د ځانګړې مقام څښتن دی.

په راتلونکې شاعرۍ یې د خپل انداز او اسلوب یو ژور اثر غورځولی دی. شعر یې رنګین او خیال یې شېرین دی. د شعر فن او صنعت داسې اړخ به نه وي چې د علي خان په شعر کې نه شي موندلی.

په پښتو کې د ستر خوشحال بابا او د هغه له کورنۍ، رحمان بابا او حمید بابا نه وروسته مقبول او خوښ شاعر دی.

د ده د ژوند په اړه که موږ چېرته بحث کوو؛ نو تر ټولو لومړی ماخذ به مو د ده چاپ شوی دېوان وي چې هلته د ده په اړه مکمل بحث راغلی دی، چې دلته یې یوه برخه رانقلوو: ((تر اوسه د کلام د اندروني شهادت نه څه داسې خبر مخ ته نه ده راغلې چې د هغې په بنیاد د علي خان د کور، کلي او قامیت اندازه وکړی شي، زیاتو نقادانو د علي خان د دېوان د اندروني شهاد ت له مخې علي خان د اشنغر اوسېدونکی اشنغری بللی دی.

مګر دې خبرې ته هیچا هم پام نه دی کړی، چې په اشنغر کې د اشنغر په نوم چېرته کلی نشته، اشنغر کلی نه دی، یوه سیمه او علاقه ده، چې پکې په خپلو خپلو نومونو او تاریخي پسمنظر خپل خپل کلي موجود دي. که هر څو ویلی شي چې په بنیادي توګه دا اته کلي وه او اته واړو کلو ته یې په شریکه اشنغر ویل کېده.

د انګرېزانو په دور کې ګوپال د اس په هوایي روایت اتمانزي د علي خان کلی یاد کړی دی؛ خو دا ډېره وروسته خبره ده، لکه چې قمبرعلي خان یې د غزل په یوه مسره کې مهمنزی بولي.

بیا هم چې د وطن په توګه او له خاورې سره د مینې له احساسه د اشنغر ذکر په ویاړ کوي؛ نو باید د اشنغر وګڼلی شي او د داسې نه ګڼلو لپاره تر اوسه هېڅ پوخ دلیل مخې ته نه دی راغلی.

څه موده وړاندې د محمدي صاحبزاده د دېوان له اشاعت نه وروسته محترم سراج الاسلام سراج د محمدي صاحبزاده او علي خان په شاعري کې په یو شان والي تفصیلي لیکل کړي وو، چې له هغو ځینې دا معلومېږي لکه چې علي خان ډېره ـ ډېره استفاده د محمدي صابزاده ځینې کړي وي، استفاده څه، چې بېخي یو خیال دواړو شاعرانو راخیستی دی.

دې خبرې او انکشاف تر څه وخته علي خان متنازع او مشکوک کړی غوندې هم و او مقام یې هم لکه، چې راکوز کړی و. ولې فیصله ګرانه وه، چې چا د چا ځینې استفاده یا پېروي کړې ده؟

میا تقویم الحق کاکاخېل د علي خان ژوند د هغه له یو شعر څخه د ابجدو په شمېر تر ۱۱۸۰ هـ ق یقیني ګڼلی و:

سن د هجر غروسر د کاڼي ترې کمتـــــر و

ورځ وه دیارلسم د ذلحجې په تحریر کـــې

په دغه حساب که له غر نه کاڼی سر یعنې (ک) نفې کړی شي؛ نو ۱۱۸۵ هـ ق ترې راوځي، مګر وروسته قلندر مومند د دې شعر دا توضیح وکړه، چې له غر نه سر د کاڼي کمول نه زیاتول مراد دي، چې ۱۲۲۰هـ ق ترې راوځي او علي خان دا شعر د محمدي صاحبزاده د وفات کال ښکاره کړی دی.

له دې دور وروسته زیاتو نقادانو ورسره اتفاق هم کړی دی؛ مګر اروابناد پوهاند رېښتین له دې تشریح سره اتفاق نه لرلو او د هغه په خیال کې سر غرو کله علي خا ن چې وایي او بیا سر د کاڼي ترې کم تر و؛ نو د ګرامري اصولو په رڼا کې هم دغه شان مطلب ترې راوځي، چې سر د کاڼي ترې کم تر و زیات وربانديې نه و، بله خبره دا ده چې نور ټول غزل شوخ او رنګین دی.

د مرثیې هېڅ رنګ نه لري او نه پکې څه غم و اندوه ښکاره کړای شوی دی؛ نو په داسې حال کې چې علي خان د محمدي صاحبزاده پیرو یا مرید ګڼل کېږي؛ نو په دا قسم رنګین غزل کې د هغوی د وفات تاریخ څومره امکان لري؛ ځکه چې د غزل په وړاندې او وروسته شعرونو کې د واقعي نوعیت په هکله هېڅ اشاره نشته.

علي خان د محمدي صاحبزاده پیرو یا مرید په دې ګڼل کېږي چې د هغه په دېوان کې یو شعر داسې لیکل شوی دی:

زه پیرو محمدي یم هم تابع د پاک جامي یم

په دا دواړ پسې ماده ځکه کړې اقتـــــدا ده

او د ځینې بهرنیو شهادتونو په بنا هم دا خبره کېږي چې علي خان د حضرت میاعمر د څمکنو د دربار سره د پیرۍ او مریدۍ تعلق و(۴۸: ۷-۸م).

پورته مو د علي خان د ژوند په اړه څه نا څه معلومات واوربدل دلته به په همدې معلوماتو اکتفا وکړو او نورې برخې به یې روښانه کړو.

د علي خان شاعري

علي خان د پښتو ژبې رنګین فکره، نازکخیاله، صنعتکار او فنکار شاعر دی. د پښتو شاعرۍ د کلاسیکې دورې په شاعرانو کې د ځانګړې مقام او درجې خاوند دی. ټول ورته په درانه او ښه نظر ګوري؛ نو په همدې ډول یې اثار هم همداسې درانه او د قدر وړ دي.

د ده شعر ډېر رنګین دی او په دې رنګیني کې یې د ژوند ټول رازونه بیان کړي دي چې هر څوک یې له لوستلو څخه خوند او لذت اخلي، چې دا پخپله هم د ښوه ښه شعر ځانګړنه ده.

د شاعرۍ او کمال داسې کومه خوا به پاتې نه وي چې د علي خان په شعر کې راغلي نه وي او ده به پرې کرښې رنګيني کړي نه وي. مرکزي مضمون يې حجر، عشق او وصال دی. همدارنګه د تصوف بېلګې هم پکې ليدل کېږي.

د ده له شاعرۍ څخه داسې ښکاري چې دی به يو عالم انسان و. د غزل او تغزل په روح رسېدلی شاعر علي خان د غزل د صنعت يو داسې فنکار شاعر دی، چې تر اوسه ترې پوره تاثر اخيستل کېږي. ده پښتو غزل د تغزل له عنوان سره اشنا کړ.

شاعري يې له تکلفه خالي ده، هېڅ داسې موضوعات پکې نه شي پيداکولی چې هغه دې تا د شعر په وړاندې بې ذوقه کړي او دا دې درته وښايي چې د علي خان په شاعرۍ کې دې چېرته يوه غزل هم بې خونده او بې رنګه راغلې وي. د نورو ژبو اغېز پرې هم لکه نور شاعران دومره ډېره نه ده چې د خپلې ژبې رنګ دې تر سوال لاندې پکې راشي.

د علي خان د دېوان ځانګړتيا

د دېوان د قلمي نسخو او کاتبانو په هکله د ده په دېوان کې کوم خاص بحث نه دی راغلی او نه يې په دې برخه کې چا کار کړی دی، صرف د ده دېوان په هکله به دغومره ووايو چې د ده په ژوند کې يې کتابت شوی دی او د هغه له ژوند وروسته بيا پکې يو نيم خلکو ځينې بيتونه ورزيات کړي دي او بيا په ۱۳۸۳هـ ش کال کې د دانش خپرندويې ټولنې له لوري چاپ شو چې اوس زموږ په لاسو کې دی.

له دې نه بغير نور د نوموړي شخص په اړه هېڅ نشو ويلی ځکه چې نور معلومات يې له موږ سره په لاس کې نشته، نه يې د دېوان قلمي نسخې معرفي شوي او نه يې د چاپ شوي دېوان په مقدمه کې د دېوان په اړه د پخوانيو خلکو د کارونو يادونه شوې ده.

د علي خان د دېوان شعري فورمونه

علي خان يو له هغو شاعرانو څخه دی، چې د ژوند په اړه يې دقيق او پوره معلومات نشته، خو له دې برخې وروسته يې له دېوانه ځينې برخې موږ راخيستلی شو، لکه همدا شعري کالبونه چې عبارت دي: غزلونه، قصيده وزمه غزلې ، څلوريزې او نظمونو څخه چې موږ به يې دلته نمونې را اخلو.

د غزل شعري فورم د ده په اشعارو کې تر ټولو زيات تکرار شوی دی چې بېلګه يې په دې ډول ده:

الحذر اشنا د مينـې لـه دريـــــــــــــابه

خلقې په دې درياب کې شـوې غـر قابـــــه

بې له خدايه نلري ماڼګي ملا څـــــــوک
دا کيشتۍ ځي بې لنګره او بې تنابـــــــه
د وصال عيش او عشرت به درنه هېر شـــي
که خبر شوې د هجران له سخت عذابـــه
وصال خوږ دی په لـذت يـې نـه مړېـــــرم
خو هجران دی پکـې تـريخ تـر زهرنابـــــه
څه کا توره دی له لـر ې راتـه بـرېښ کـــړي
تشنه لب سير شوی نـه دی لـه سرابـــــه
(۴۸: ۱۲-۱۳م).

څلوريزه

د ده په دېوان کې يو څو د ګوتو په شمار څلوريزې هم راغلې دي چې موږ به يې دلته د بېلګې په توګه يـو وړاندې کړو:

ای چـــې تـــر لمـــر روښـــان جبـــين لـــرې
اننګـــي دواړه تـــر ســـپوږمۍ ســـپين لـــرې
غـــم دې د نـــورو دوســـتانو لـــرې کـــــړ
مابـــه تـــر کومـــه پـــورې غمګـــين لـــــرې
(۴۸: ۱۵۸م).

قصيده وزمه غزلې

قصيده وزمې غزلې هغو غزلو ته وايي چې د بيتونو شمېر يې له عادي غزل څخه زيات وي او نسبت اوږده مضامين پکې بيانېږي، چې موږ يې د ده په دېوان کې يو شمېر بېلګې لرو، دلته به يې د نمونې په توګه يو څو بيتونه راوړو، ځکه چې د ټولې غزلې راوړل زموږ د موضوع له حوصېلې څخه وځي:

ای د زړه سلطانه ته د زړه سلطان د چايـــــــــــې؟
ستا رنځوران ډېر دي ياره نه درمان د چايـــــــــــې؟
اور د اننګو دې څوک پاخه کړل څـوک دې وســـول
ای په مخ اتشه سود د چا نقصان د چا يـــــــــــې؟
ډېر دې ميخانې لره ورځـي د شـونډو جـام لـــــــــه
وايه ته خاصه ساقي د چا مغـان د چـا يـــــــــــې؟

مهر دې نعمت ظلم افت دی د مشتـاقـــــــــــــو

چاته یې نعمت ږدې نو افت په ځـان د چـا یـــــــې؟

(۴۸: ۱۵٦-۱۵۷م).

نظمونه

د ده په دېوان کې ځینې نظمونه هم شته، چې بېلګه یې په دې ډول ده:

ای په حق د حق رهبـــــــــره

لاس د رب د پاره راکـــــــــړه

هم تر کل مخلو قات غـــــــوره

لاس د رب د پاره راکـــــــــړه

ای نبي پاکه مـــــــــــرسله!

په مرسلو کې افضـــــــــــله!

(۴۸: ۱۸۱م).

د علي خان د دېوان محتوا

د ده په دېوان کې ټولنیزو مسایلو تر څنګ سیاسي او ادبي بحثونه هم شته، همدارنګه په دېوان کې د شعر په ژبه د ځینو کلمو تعریفونه داسې کړي دي چې په نثر کې هم بحث کول پرې ګران دي، لکه د هجران او وصال فرق او داسې نور...

د ده له دېوان څخه هغه برخې رااخیستل شوي چې موږ ورسره په ورځینې ژوند کې ډېر مخامخېږو؛ ځکه چې په ټول دېوان بحث کول به مې د موضوع حوصله راتنګه کړي او له زغم څخه به خبره ووځي.

د الله ج ثنا بیانول

ده په خپل کلام کې د خپل رب پاکي او ثنا بیان کړې ده اوهم یې د هغه لویي په ښکلو نغمو سره یو ځای د با کماله شاعر په توګه بیان کړې ده چې بېلګه یې په دې ډول ده:

ابتدا کوم په حکم د مـــــــــــولا

چې په حکم کې یې دی ارض وسـما

ای هغه جنس هنر و د ثنـــــــــــا

خاص دی تا له څه قدرت دی د بل چا

انس وجن دي که دانور عرب عجم دي

کاف ونون څخه یې دواړه کـــړل پیدا

اشرف تور کالبوت د جسم انسانـــي شو

تا راوباښه خلعت د (کرمنـــــــــــا)

انبیا پکې نورونه د حق راغلـــــــــل

بیا په دوی کې دې رسول کړل سربلا

(۴۸: ۱م).

په پورته بیتونو کې د الله ج قدرت بیان شوی و، چې نور به یې تشریح او ساده کولو ته اړتیا نه وي.

هجران او وصال

دی په خپل دیوان کې د هجران او وصال په اړه ډېر په زړه پورې نظر لري چې موږ یې دلته بېلګه راوړو، تر څو نور هم څرګند شي:

د وصال عیش او عشرت به درنه هېر شي

که خبر شوې د هجران له سخت عذابـه

وصال خوږ دی په لذت یې نه مړېـــږم

خو هجران دی پکې تریخ تر زهر نابـــه

(۴۸: ۱م).

په پورته بیتونو کې د وصال او هجران تر منځ یو فرق په دې کې کوي، چې وصال خوږ دی، په زړه ښه لګېږي او هجران تریخ دی او ترخه شیان هېڅ وخت هم په انسان ښه نه لګي؛ نو بیا د هجران تریخوالی له زهرو سره تشبه کوي چې هدف ترې دا ده، یعنې د یوه انسان د مرګ خطر لکه څنګه چې زهر سړی وژني؛ نو په همدې ډول جدایي زړه خوري او دا هم د یو انسان لپاره تدریجي مرګ دی.

تمه

دی هم لکه د دې دورې نور شاعران له نورو خلکو څخه تمه کول سم کار نه بولي او په دې باور دی چې داسې انسان په ټولنه کې د هېچا ښه نه ایسي، په همدې پار دې شخص ته داسې وایي:

د طامع د خولې اثر په سامع نه شـــــي

دا خـــبره مقرره ده څرګنـــــــــــده

(۴۸: ۳۰م).

دی وایي چې دا زموږ په ټولنه کې تجربه شوې خبره ده چې سامع انسان د هېڅ یوه کس هم ښه نه راځي؛ نو په همدې خاطر موږ ته دا درس راکوي چې باید له تمې څخه ځان وساتو او هېڅ وخت د نورو د اوږو بار نه شو.

نصیب او قسمت

دی په خپل رب د کلک او مستحکم ایمان په لرلو سره وایي چې هر انسان ته د الله ج له لوري برخې مقررې شوې دي، انسان ته پکار ده په خپل نصیب او برخه صبر وکړي او ناهیلي اختیار نه کړي. چې په نظم کې یې بېلګه دا ده:

که قسمت مې مسرت یا مصیبـــــــــت وي

خیریت دی رب دې تا لري خورسنـــــــده

په قسمت نصیب رازي شه علـــــــــي خانه

ازلي برخې څوک څنګه وي څوک مـــــنده

(۴۸: ۳۹م).

رېښتینی عشق

دی وایي چې رېښتینی عشق سړی لوړو پوړیو ته رسوي او په دواړو دنیاوو کې به سربلند او کامیاب وي:

د رېښتیني عاشق ځکه غم خوراک شـــــو

چې دا ښکلي دروغ ډېر وایي رښتیا شـــــاد

لباسایانو یې تالا د حسن باغ کـــــــــــړو

له مخلص سره خصلت کا دوفا شـــــــاد

زمانې غوندې خوبان سفله پرور شـــــــول

زیات پالي بې حیا خلک د حیا شـــــــاد

(۴۸: ۱م).

په پورته بیتونو کې د مخلص کس ستاینه کوي او وایي چې زیات وخت مخلصان خلک په ژوند کې ټکرې خوري په دې خاطر چې دوی په هر چا باور کوي.

پند او نصیحت

په یو غزل کې دې خبرې ته اشاره کوي چې ته له خلکو سره څه کوې همدا به له تا سره هم همدا کېږي، یعنې هغه متل دی چې(څه کرې هغه به ریبې)؛ نو په همدې اړه نیوټن هم یو نظر ورکړی دی چې هر عمل عکس العمل لري؛ نو ته چې څه کوې له چاره سره په یاد ولره چې تا سره به هم همداسې په ژوندانه کې یوه ورځ کېږي؛ نو راځئ چې په خپل ژوند کې له خلکو سره ښه وکړو ترڅو راسره ښه وشي:

ور دبل په ګوته وهل خپل ور نـــــــــړول دي

ویره له چا مکړه خو خپل ځان سمبال لـــــره

(۴۸: ۴۴م).

دی وايي چې څوک په ژوند کې ډېره ويره لري؛ نو تاسو په دې خبره باوري اوسئ، چې ده به په خپل ژوند کې داسې يو څه له چا سره کړي وي، چې نن يې دی د خپل ځان په وړاندې نه شي منلی دا هم يو اړواپوهنيزه موضوع ده.

يار او دوست په باره کې:

دی وايي: موږ او تاسو هر وخت د ځان لپاره دوست او ملګری لټوو؛ نو بايد ډېر محتاط و اوسو؛ ځکه چې د يو انسان پېژندل ډېر سخت کار دی او وخت ته اړتيا لري؛ خو بيا هم که چېرته په ژوند کې له داسې يو شخص سره مخ شوی، چې له ځانه پورته وعدې او د کومک تمه يې درکوله؛ نو په دې پوه شه چې دا شخص ستا دايمي دوست نه شي جوړېدلی، په وخت ورسره رابطه قطعه کړه؛ ځکه چې دا ستا سره صرف د مطلب ملګری دی، لکه چې وايي:

دا چـــې درته وايي زمـــوږ ياره زموږ يـــــــاره

يو به دې هم نه وي که خدای کاندي کال لـــره

نن که مې د ښمن زما په غم سره زړه ښه کـــــا

زړه صورت يې غم د بېلتانه پايمال لـــــــــره

(۴۸: ۴۵م).

د مينې تعريف

مينه چې د انساني ژوند اساس او بنسټ تشکيلوي او په انساني ژوند کې ورته لکه د اوبو په څېر ضرورت ليدل کېږي، دی يې په خپل کلام کې په دې ډول تعريف کوي:

بې تميزو مينه نه ده پـــــــېژندلې

با تمـــيزو ته هر ګوره ده ممتـــــازه

يا:

په خوبانوبه مين وي لکـــــــــه زه

په ښادۍ کې به غمجن وي لکـــه زه

په ترښزو نوکو غر د سينې کـــــــني

د فر هاد هـــسې کوهکن وي لکه زه

ته به وايـــې اورلړونی د نغـــــري دی

هسې ســـوی لوغړن وي لکـــــه زه

د دریاب له مر غلرو بې پروا شـــي

په سرو اوښکو دولتمن وي لکه زه

د خواخوږو نصیحت پرې اثر نه کا

باتریا او سرکودن وي لـــــکه زه

له ژوندونه له مړو دواړو وي وتـلی

چې دعشق په ځنکدن وي لکه زه

(۴۸: ۵۱م).

دی وایي چې مینه داسې یو څیز دی چې انسان له خپل عادي حالت څخه وباسي او تل به خپه وي، د یو کس خبره به هم پرې تاثیر نه کوي، تل به یې سترګې له اوښکو ډکې وي او د دنیا له هره کاره به بې غمه وي، یوازې د خپل هدف چې څه یې په زړه کې ده په هماغې پسې به هڅه کوي. دی وایي چې دا شخص به له مړي او ژوندي څخه وتلی وي د ده ټوله دارایي به یوازې خپلې اوښکې وي.

شرعة الاسلام

نوموړی کتاب د پښتو ژبې د حقدار او نازکخیال شاعر حمید مومند دی. په اصل کې دا په ډېر ښکلي انداز سره ترجمه ده. موږ دلته د شاعر د پېژند ګلوی څخه صرف نظر کوو؛ ځکه چې پېژندنه یې د دېوان په برخه کې راغلي ده، دلته به صرف د دې کتاب په اړه بحث وکړو د ده په دې کتاب کې د کیفیت له مخې دا ازاده ترجمه ده او خپله د حمید نظر هم پکې ځای لري او داسې نوي موضوعات هم پکې شته دي چې د حمید نظر هم پکې ځای لري، په دې کتاب کې داسې نوي موضوعات شته چې د حمید په نورو کتابونو کې نه دي راغلي لکه د یو عالم اجتماعي روابط، طبي مسایل او کلتوري بحثونه.

د کمیت په لحاظ د حمید په ټولو اثارو کې دغه کتاب لومړی مقام لري. چې د حمید دغه کتاب تقریبا پنځلس زره بیتونه لري.

نوموړی کتاب یو دیني، اخلاقي او اجتمایي کتاب دی، چې د منظوم عربي متن مولف یې د بخارا مفتي امام الواعظ رکن الاسلام محمود بن ابي بکرالحنفي مشهور په امام زاده په (۵۷۳هـ ق) کال کې مړ دی. چې د دې په اړه مکمل معلومات د استاد رشاد په یوه مقاله کې په دې ډول راغلي دي: په نوموړي کتاب لومړی وړه شرحه یحیی بن یخشی بن ابراهیم الرومي الحنفي(په ۸۴۰یا ۹۰۰هـ ق)کې مړ لیکلې ده. دویمه شرحه پرې متاح الجنان او مصابیح الجنان په نامه یعقوب بن یدعلي الرومي الحنفي په (۹۳۱هـ ق)کال کې مړ لیکلې ده.

دغه شرخه په (۵۷۴) مخونو کې په (۱۳۲٦هـ ق) کال په استانبول کې خپره شوې ده.

دریمه او تر ټولو لویه شرحه یې د مرشد الانام الی دارالسلام یشرح شرعة الاسلام په نامه محمد عمرالرومي چې په(قوردافندي) مشهور دی او په (١٩٩٦م) کال کې مړ دی لیکلی دی. دا کتاب په فارسي کې هم ترجمه شوی دی، چې د اخوند درویزه په تذکرة الابرار و لاشرار په ماخذو نو کې راغلی دی. د حمید مومند د شرعة الاسلام دغه قلمي نسخه نسبتا نیمګړې ده او یوازې نمایي برخه یې دلته شته ده.

د کتاب د فصلونو له ترتیبه ښکاري چې ټول کتاب په اته پنځوس فصلونو کې لیکل شوی دی. په دغه نسخه کې درې مخونه له دېرشم فصل نه پاتې دي او پاتې له یودیرش فصل نه تر اته پنځوس فصل پورې په دې نسخه کې خوندي دي، چې د مخونو شمېر یې دوه سوه او دېرش دی او په هر مخ کې یې په منځنۍ ټوګه دوه دېرش بیتونه درج دي، چې په دې حساب د ټولو موجوده بیتونو شمېر یې (٧٣٦٠) ته رسېږي.

د هر فصل عنوان په سره رنګ لیکل شوی دی او په دغه نسخه کې د پښتو خاص توري (ت، ډ، ړ، خ) په همدغه معاصره بڼه لیکل شوي دي. (څ)او(ځ) دواړه د (څ) په بڼه لیکل شوي دي او د دې تر څنګ (ږ) په همدغه بڼه او کله هم د (ژ) په (بڼه) راغلې ده.

همدارنګه د (ڼ) توری د (نړ) په څېر هم ښکاري او مجهوله(ې) د کسرې په علامه افاده شوې ده او فتحه هم کله کله په زور او کله کله د (هـ) په توري افاده شوې ده. د (سل) کلمه معمولاً د(صل) په شکل لیکل شوې ده او د اظافت د (د) لاندې غالباً د کسرې علامه اېښودل شوې ده او خدمتی ادات (په، له) غالبا د ورپسې کلمو سره کلمو سره یو ځای لیکل شوی دی او د (ته، له) له مخکینیو کلمو سره.

د دغې نسخې ناقل نه دی معلوم. د کتاب د وروستي مخ په حاشیه کې چې د ناقل ادرس او غالبا د نقل نېټه لیکل شوې ده، هغه برخه د وخت په تېرېدلو له منځه تللې ده همدومره لوستل کېږي:

تمت تمام شو کتاب د شرعة الاسلام از دست فقیر فرد تقصیر شمس الدین...

علاوه پر دې د وروستي مخ په حاشیه کې شعر چې اته بیتونه دي هغه د حمید نه دي؛ بلکې غالبا استنساخ کوونکي دي.

شرعة الاسلام په داسې تول او عروضو سره لیکل شوې دی چې هره مصرع یې (٨) سیلابه او ټول بیت (١٦) سیلابه دي، چې شعر یې د حمید د نورو اشعارو په څېر پوخ او له نزاکتونو څخه ډک دی. د حاشې د دغو اتو بیتونو هره مصرع (١٢) سیلابه او ټول بیت (٢٤) سیلابونه دي او شعر یې هم کوم ادبي کیفیت نه لري.

داسې ښکاري چې د نسخې ناقل به د پښتو د لویدیځې لهجې ویوونکی وي، ځکه چې ډېر ځله یې د (ښ) توری په (ش) او د (ږ) توری په(ژ) لیکلی دی، چې د شک او تردد د دې معنا لري چې کله ناکله ناقل د حمید د لهجې د تاکید لاندې وي او کله هم د خپلې مورنۍ لهجې تر اغیز لاندې راځي(٦٥: ٤-١م).

د بېدل پېژندنه

بېدل چې د پښتو ژبې د منځنۍ دورې شاعر و د ژوند په اړه یې لکه د دې دورې یو شمېر نور شاعران پوره او کره معلومات نشته. دی د خلکو له ذهنه بېخي فنا پاتې و هېچا داسې فکر نه کاوه، چې پښتو دې هم داسې یو شاعر ولري.

د بېدل د ژوند د زمانې په اړه که څه هم په کتابونو کې کره معلومات نشته، خو بیا هم د ده له اشعارو څخه پته لګي چې دی څوک او د کوم دور شاعر و. نومړی شاعر د اشنغر د کلي د اتمانزو د کلي اوسیدونکی و، چې نوموړی ځای یې په خپل شعر کې هم بیان کړی دی:

څه حاجــت دی چې بیان وکړم د واړو

دوه څلوېښت زما دکلي چې اتمان دی

یا په بل ځای کې د (جنیدي) د سیند یادونه کول چې دا هم د ده د شناخت په هکله یو لوی ثبوت کېدلی شي لکه:

تمام رخت د خوشدلۍ راڅخه ډوب شو

چې ګډ شوی وم د مینې په جنیدي بیا

له پورته دواړو بېتونو څخه معلومېږي چې بېدل د اتمانزو اوسیدونکی و او همدلته یې د ژوند شپې او ورځې تېرې کړي دي، ځکه چې دا د طبیعت قانون دی څوک چې یو چېرته ژوند وکړي، هغه ځای پرې مستقیماً او غېرې مستقیم تاثیر کوي؛ نو په ده هم خپل ماحول تاثیر کړی دی او له خولې څخه یې د خپلې سیمې نوم په خپلو اشعارو کې راوتلی دی.

د ده له یو شمېر شعرونو څخه دا پته لګي چې دی یو سیاحت کوونکی شخص و او په خپل شعر کې یې د هند او کشمیر یادونه هم کړې ده او هم یې له شعره د ژوند زمانې پته لګي چې دی تر سلو کالو پورې رسېدلی و.

نوموړی محمدي صاحبزاده او حمید مومند خپل معاصر ګڼي، چې له همدې موږ معلومولی شو چې د ده ژوند زمانه به (۱۱۱۸هـ ق) وي.

د بېدل شاعري

بېدل د پښتو په شاعرۍ کې د یوه اوچت او جګ مقام خاوند دی. ده د خپل شاعرانه قابلیت په زور د شعر په هار کې لعلونه او مرغلرې وپېلې د تخیل پرواز ته یې عقل ګوته په خوله دی.

بېدل د خپلې رنګینې او له سوزه ډکې شاعرۍ له کبله په پښتو ادب کې مخصوص مقام خپل کړ او د پښتو شاعري یې د داسې ښکلا ګانو ډکه کړه، چې د ادب د ښکلا ګانو او حسن معیار ګڼل کېږي. ده په پښتو

ادب کې د شاعرانه فن هغه نزاکتونه، لطافتونه او باریکۍ ور واچولې، چې تر اوسه یې خوږوالی محسوس کېږي او دا خوږ حس به یې کلونه نور هم دوام وکړي.

بېدل په خپل سبک کې د لوړ مقام او شهرت خاوند دی، له خیال پرورۍ سره د استعاراتو او تخیل یو بې پایا به او بې ساحله سمندر دی، چې کلام یې په فصاحت او بلاغت کې ساری نه لري. د افکارو له مخې د بېدل شاعري عشقي او بزمي ده، ولې کله ناکله مذهبي، اخلاقي ام اجتماعي رنګ هم لري، د ده ټول کلام له لفظي او معنوي صناعیو څخه ډک دی چې په هره یوه کې به یې بېلګه راوړل موږ له موضوع څخه لرې کړي او د موضوع کمیت ته به پراخوالی ورکړي، صرف د نمونې په توګه به یې د یو څوو نومونه واخلم لکه: (لف و نشر، عارفانه تجاهل، حسن تعلیل، مبالغه، تجنیس، تناسب، معما، رد العجز او داسې نور....)

د بیدل د دېوان ځانګړتیاوې

دا دېوان په (۱۹۵۷م) کال کې د ښاغلي همېش خلیل له لوري چاپ شوی دی. په دې دېوان کې د ټولو قلمي نسخو د لاسته راتللو ځای او نېټه په سمه توګه نه دي په نښه شوي او نه یې د نسخو د نور برخو په اړه کافي معلومات شته لکه: د کاغذ رنګ، ډول، تاریخي قدامت او داسې نور....

د دې دېوان قلمي نسخه له (پښتو ټولنې پېښور لایبرارۍ) څخه په لاس راغلې او بیا د همېش خلیل او نصرالله خان له لوري سمه شوې، له ډېر بحث وروسته چاپ ته اماده شوه. د دې نسخې اخیري برخه ټوله وینو خوړلې ده او سمه نه معلومېږي، ځینې لغات یې متروک دي اوس بېخي استعمال نه لري، تر څنګ یې په دې نسخه کې هغه ځایونه چې وینو خوړلي دي او بیا هم یې ځینې کلمات ښکاري، د وینو خوړلي ځایونه یې د لیکوال له لوري سپین پرېښودل شوي دي او ښکاره کلمات یې لیکل شوي دي.

د نسخې لیکدود له اوسني لیکدود څخه یو څه اندازه بدل دی، ځکه چې په اوسني لیکدود کې د (هـ) توری چې لیکل کېږي په هغې وخت کې به د کلمې په پای کې به د زور په شکل لیکل کېده لکه:

د چا حسن ستا په شان بندېوان نشتَ (هـ)

بل بندي (ی) زما پشان بیدېوان نشتَ(هـ)

که چېرته پورته بیتونو ته ځیر شو؛ نو راته به ښکاره شي چې د نرمې (ی) پر ځای څرګنده (ي) هم استعمال شوې ده. بله دا چې د اوږدې (ې) استعمال په دې نسخه کې بېخي نه دی شوی.

د بیدل د دیوان شعري فورمونه

بیدل په پښتو ژبه کې د عزل فورم خوند کتلی او خپله طبعه ازمایي یې پکې کړې ده. د ده په دیوان کې غزلې، قصیدې، مخمسونه، قصیده وزمه غزلې، نظمونه او رباعیات شامل دي، چې اوس به یې موږ په ترتیب سره بېلګې راوړو:

غزلې

د ده په دیوان کې زیات شمېر غزلونه راغلي دي، د ده د دیوان ډېره اندازه همدې فورم نیولې ده لکه:

ای کریمه د کرم د جام شـــــــــــــراب را

په دغو شرابو زړه مست و خـــــــــــراب را

چی پری درست له عقله هوشه بیگانــه شم

لوغړنــه ســوی مینــه د خپــل بـــــــــاب را

چی بیتا پکې نه اسم فعل او حـــــــرف وی

مطالعـــه لـــره هغـــه زیبـــا کتـــــــاب را

چی په نیم بخری ستا د مینی وریت شـــــي

پــه گوگــل کــی هغــه هســی زړه کـــــباب را

(۱۰: ۱م).

قصیدې: د ده په دیوان کې قصیدې د گوتو په شمار دي، ډېر کم مسایل یې په قصیدو کې بیان کړي دي، چې موږ به یې اوس دلته یوازې یو څو بیتونه راړو تر څو موضوع روښانه او تر څنگ یې د موضوع د ارتوالي مخه ونیول شي:

چې ښکاره شوی راته زر زی سترگی ستا

قلندر وم شوم په در خاوری ایری ســـتا

په اسره اسره می ځان ورپسی ورک کـــه

اُس توری وری لما لاړی اسری ستـــــــا

(۱۰: ۷م).

قصیده وزمې غزلې

د ده په دیوان کې له غزلو څخه وروسته قصیده وزمې غزلې هم راغلي دي، چې تر ډېره حده یې شاعري همدا فورم رانغاړي چې بېلگه یې دا ده:

چـی پـه پټـه یـی تیـغ تیـز شي پـه غضـــــــب

نتیجـه یـی پیښـه شـی تـن تـه پـه شغـــــب

پټ په پټ زیب او زینت یی په پتنـه شـــــــی

پیښـه پیشـه شـی زمـخ تـه پـه غضـــــــــب

(۱۰: ۲۰م).

مخمس

د بېدل په دېوان کې یو شمېرمخمسونه هم شته ده، چې په نوموړو مخمسونو کې یې د ژوندانه بېلابېلې برخې څېړلي دي، خو دا مخمسونه بیا له نورو فورمونو څخه بېخي کم او د گوتو په شمار دي، چې دلته به یې د بېلگې په توگه یو څو بېتونه راوړم:

داســـتم د مـــاتم دی کـــه ناتـــــار دی؟

چـی وجـود مِ سر تـر پایـه نـا قـــــرار دی

زړه مِ غـوڅ د بیلتانـه پـه ذولفقـــــار دی

روح مِ هم هسی په تن کی خـــوار او زار دی

د سرو وینـــو مِ پـــه مـخ روان رود بـــار دی

غـــمازان راتـــه کـــوی د ویـــر وینـــــا

(۱۰: ۲۳۰م).

رباعیات

د ده په شاعرۍ کې د رباعیاتو اندازه هم تر یوې اندازې راغلې ده او خپل فکر یې په دې فورم کې ټولنې ته وړاندې کړی دی چې موږ به یې دلته یوه بېلگه وړاندې کړو:

بیرته وه گرځه مسیحه دمـــــــــــه

ریز مریز لاړم ستا له ستمـــــــــــه

(۱۰: ۲۵۹م).

د بیدل د اشعارو محتوا

د ده په اشعارو کې د ټولنیز ژوند بېلا بېلې برخې، پند، نصیحت، مینه، ورورگلوي، دیني، د الله ج او د هغه د رسول الله ص ستاینه بیان شوې ده. موږ که له هرې زاویې څخه د ده شعر وگورو؛ نو تر ډېره حده به خپل

هدف حاصل کړو، ده یوازې یوه برخه نه ده بیان کړې، چې تر پایه یې شعر هماغه یو اړخ نیولی وي؛ بلکې د ژوند په هره برخه کې خپل فکر څرګند کړی دی.

وصال او هجران یې لکه د دې دور نور شاعران ښه ډېر په خپل شعر کې راوړي دي او په داسې الفاظو کې یې وړاندې کړي دي چې بار بار لوستل یې سړي ته خوند ورکوي.

مناجات

بېدل د خپل دېوان په سر کې یو مناجات راوړی دی او په دې مناجات کې یې له خپل رب څخه د پاک زړه او بخښنې غوښتنه کړې ده او هم یې په عاجزۍ سره له خپل رب نه د مینې سوال کړی او د هغه مینه یې غوښتنې ده:

ای کریمــه د کــرم د جــام شـــــــــراب را

پـه دغـو شرابـو زړه مسـت و خـــــــراب را

چی پری درست له عقله هوشه بیگـانه شـم

لوغړنه سـوی مینـه د خپـل بـــــــــاب را

چـی بیتـا پکـې نـه اسـم فعـل او حـــرف وی

مطالعــه لــره هغــه زیبــا کـــــــــتاب را

(۱۰: ۱م).

دی له خپله ربه سوال کوي او له خپل ځانته د سنګدلۍ نه د خلاصون دعا غواړي.

تاریخي واقعات

بېدل په خپل کلام کې ځینې داسې کیسې راوړي چې ان ډېرې پخوا زمانې ته رسېږي، لکه د یعقوب (ع) کیسه، د لیلا او د مجنون کیسه او داسې نورې چې دلته به یې بېلګې راوړم:

تا چه مخ له مانه نه دی جار ایســتلی

د یعقوب په دود له غمه کړم کور چـــا

(۱۰: ۱۵م).

له پورته بیته د شاعر پوهه او جهانبیني هم څرګندېږي، له دې ځایه سړی دې نتیجې ته رسېږي، چې ده په ټولو برخو کې پوهه او مطالعه درلودله. دې ته ورته په یوه بل ځای کې بیا د یوسف او ذلیخا یادونه هم کوي او وایي:

زلـــیخه محمود له چاه بند په چـا یوسف اياز کـــــــړ

که هر څو شاه و سلطان وی عشق یی که غلام د سترګو

(۱۰: ۱۸۲م).

په پورته بیت کې د یوسف، زلیخې او محمود نومونه راغلي، ده دغه ډول مسایل په خپل شعر کې ډېر مطرح کړي دي، چې دی د هندي ادبي سبک پیرو دی او په دغه ادبي سبک کې هم د عشق له سوزه ډکې کیسې او واقعې زیاتې بیان شوي دي.

عشق

بېدل په خپله شاعرۍ کې دا موضوع زیاته بیان کړې ده او ځای ـ ځای یې په دې هکله خپل تاثر څرګند کړی دی، له دې ټولو موضوعاتو څرګندېږي، چې دی په خپله یو له سوزه ډک عاشق تېر شوی دی او دا پته هم ترې لګي چې د همدې مجازي عشق په پله حقیقي عشق ته رسېدلی دی، چې دلته به د یوه مثال په راوړلو سره خلاصه کړو:

چه مِ واخسته د عشق مزکه په بـــــــــډو
په پوښتنه د غم بو خت شومه تر بـــــډو
د پرهیـز خانـان مِ واړه تـار پتـار شـــــــوه
جرګه بـې بـډو رښتیا نـه وائـی هـــــــــډو
چی مِ بوی د عاشقی په کی په کی ونه لیده
زه بیدل بازه تنها خوښ یم له گـــــــــډو

(۱۰: ۱۸۲م).

په پورته بیت کې دی د عشق لپاره یو تعریف وضعه کوي او وایي: عشق هغه کړنه ده چې له درده او سوزه بغیر انسان ته هېڅ هم نه ورکوي، خو په دې درد او سوز کې بیا هر ډول خوند محسوسېدلی شي، دی وایي چې هر انسان ته مینه ضروري ده. مینه د ژوند لپاره اساس ګڼي او هغه څوک چې مینه نه پېژني او نه یې کوي، دی ورته د حیوان خطاب کوي له انسانیت څخه یې وباسي.

په یو بل ځای کې بیا د عشق موقیعت او ځای هم ښایي، دی وایي چې د عشق موقعیت په زړه کې دی او له زړه سره سر و کار لري، د زړه په معامله کې بیا عصاب هېڅ کار هم نه لري؛ نو له همدې وجې عشق دومره درنه مسله ګڼي. دی وایي د هر څه رابطه چې له زړه سره وي هغه بیا د انسان په واک کې نه وي؛ ځکه چې انسان د خپل زړه حرکتونه په کنټرول کې نه شي راوستلی، نو چې زړه نشي کنټرولی نو کړنې به یې څنګه کنټرول کړي لکه:

که واعظ د واعظ دم باندی ډیر پوه که
ولـــی اسم د لیلا یی درون و نیـــــو

(۱۰: ۱۸۳م).

دلته په دې بیت کې له درون څخه زړه مراعت دی، ځکه چې زړه هم په سینه کې دننه دی. دی وایي چې عشق په مریضانو هېڅ ډول دم او دعا تاثیر نه کوي او تر اخیره پورې به کړېږي، تر څو پورې خپله معشوق/ معشوقه ونه گوري.

د هغه وخت جرگه

دی په خپل شعر کې موږ ته د هغه وخت د خلکو د جرگې او مرکې انځور په لاس کې راکوي؛ خو بدبختانه باید ووایم چې د هغه وخت جرگې هم د اوس په شان په بډو او رشوت ولاړې وې خپل او خپلولي به پکې کېده، چې بېلگه یې دلته په یوه بیت کې زه تاسو ته وړاندې کوم لکه:

د پرهیز خانان مِ واړه تار پتار شوه

جرگه بې بډو رښتیا نه وائی هډو

که چېرته دې بیت ته وگورو نو راته به څرگنده شي چې واقعاً هم په هغه وخت کې دغه ډول مسایل ډېر زیات و، چې تر اوسه یې موږ ته سوز او درد رارسېږي.

د وخت او عمر په اړه

دی په خپل کلام کې د وخت او عمر په هلکه ډېر ښه نظر لري، دی وایي چې وخت او عمر باقي نه پاتې کېږي دریغه – دریغه په تېرېدو دی. ده په خپل کلام کې وخت او عمر د مازدیگر او ماښام تر منځ وقفې سره تشبیه کړی دی، وایي چې عمر له دې هم لنډ دی باور پرې مه کوی لکه:

وخت د مـــازیگر دی زیړی لـــمر گوره پریوزی

تیر شو عمر تیر شو د ماښام وخت دی کیووزي

(۱۰: ۱۹۷م).

د لته تشبیه ډېره خوندوره او پرځای راغلې ده، دی هر وخت وایي چې وخت د مازیگر زیړی لمر دی، د مازدیگر وخت هم ډېر خوږ وي او عمر هم د مازدیگر وخت هم ډېر باارزښته وي او عمر هم؛ ځکه الله ج په خپله د مازدیگر په وخت سره قسم خوړلی دی؛ نو له دې څخه معلومېږي چې عمر هم ډېر باارزښته ده، باید په لهو و لعب کې یې تېر نه کړو، تر څو په هغې دنیا کې زموږ د بربادۍ سبب وگرځي. له دې ټولو نقطو موږ ته معلومېږي چې بېدل د هندي ادبي سبک خاوند دی او په نوموړي سبک کې د دې دورې تر نورو شاعرانو که مخکې نه وي؛ نو شاته به هم نه وي، ځکه چې په شعر کې یې دې ته ورته نور مو ضوعات هم په ډېر ښکلي شکل سره بیان کړي دي .

پنځه ډوله خلک

دی په خپل شعر کې د ټولنې له منځه په پنځه ډوله خلکو ډېرې سختې نیوکې کوي او ترڅنګ یې ورته دبد دعایي غوښتنه هم کوي او همدوی د ټولنې د بربادۍ سبب ګڼي. دی وایي چې په یوه ټولنه کې که چېرته دا ډول خلک وجود ولري؛ نو په هغې ټولنه کې به نفاق خپلې ریښې داسې خښې کړي، لکه سل کلنه ونه، چې یې په ځمکه کې خښوي، نو که چېرته موږ او تاسو غواړو چې سالمه ټولنه دې ولرو؛ نو باید له داسې خلکو خپله ټولنه پاکه کړو لکه:

غــل، چوغل، پدول، رقیب، غماز که دغه باز و

دا شپږ به په شپږ ځایه کړم غوڅ لکه سرکوزي

(۱۰: ۱۹۷م).

دی په دې بیت کې دغه پنځه کسان په ښکاره توګه بیانوي، حقیقت هم همداسې ده چې دا ډول (غل، چوغل خور، رقیب او غماز) خلک په ټولنه کې د بې اعتمادۍ فضا رامنځته کوي او په خلکو کې د ډلې او ګوندي کېدلو روحیه پیاوړې کوي نو لازمه ده چې د داسې خلکو مخه ونیسو.

دی د همدې غزل په یوه بل بیت کې د هغې دنیا د کامیابۍ په اړه هم خپل نظر څرګندوي او وایي چې په هغې دنیا کې به کامیاب هغه څوک وي، چې په دې دنیا کې یې زړه د دنیا له مال او سامان څخه جمع کړی وي او هم یې ورته په زړه کې سوچ نه وي کړی؛ نو په هغې دنیا کې به د داسې ډول خلکو لپاره د حورو مجلسونه او د جنت نعمتونه تیار وي لکه:

تل به عیش عِشرت له حورو تاسته انجمن که

هر چــې د فاني دنیا له سرای پـــــرای ووزی

حـــوری براق څه چی نعمتونو ته به شـــا که

لږ چې په نظر یې د دلبر جمال کیـــــــووزی

له پورته دویم نیم بیتي څخه موږ ته دا هم څرګندېږي چې ده به حتماً د تصوف پر ځمکه قدم وهلی وي او د هغوی د خانقاوو میلمستیا به یې لیدلې وي، ځکه چې دی له ټولو نعمتونو څخه لومړیتوب د خپل محبوب د دیدن ته ورکړي چې د صوفیانو یوه بارزه ځانګړنه ده. زاهدان بیا د دې برخلاف په لومړیتوب کې د جنت نعمتونه غواړي؛ نو موږ له دې پورته بیته دې نتیجې ته رسېږو چې دی به هم د اهل تصوفو ملګری او همنشین پاتې شوی وي.

غریبي او بیلتون

بېدل په خپلو اشعارو کې د غریبي او بیلتون څخه ډېر زیات سر ټکولی دی او په همدې برخه کې ډېرې سوې کوکې له خولې څخه د شعر په ژبه وتي دي. دی دواړه توکه په ژوند کې سخت ګڼي او په اړه یې وایي:

بیــلتانه یې هسې رنګه نا علاج کـــــــــړم

چه خپلوی ته هــم دسپې رقیب احتیاج کړم

غــریبې یې و هر چا وته مــحتاج کـــــــــړم

هیڅ مِ نه زده نه پوهــېږم څه علاج کـــــــــړم

(۱۰: ۲۲۸م).

دی وایي چې بېلتون ډېر سخت دی، سړی پکې هر چا ته احتیاج وي او هر وخت یې له خولې څخه د درده ډکې کوکې وځي. دی وایي چې د رقیب دوستۍ ته به دې هم احتیاج کړي چې دا په پښتو کې یو لوی عیب ګڼل کېږي، هر څوک ترې ځان ساتي او په ډډه ترې ګرځي؛ نو په همدې خاطر رقیب یې له سپې سره تشبیه کړی دی.

بله خبره دا ده چې غریبي هم ډېره سخته ده، تل به دې بل ته سترګې لکې وي، خلک به دې ټول عمر احتیاج ګڼي، په سمه سترګه به درته نه ګوري، تر دې چې خلک به دې له خپلوۍ څخه منکر شي او تا به په یوازې ځان پرېږدي.

د حضرت نبي کریم (ص) ستاینه

ده په خپلو اشعارو کې د نبي کریم (ص) د ستاینې سربېره، یو شمېر نور اصحاب کرام او د نبي کریم (ص) یاران یاد کړي او توصیف یې ورته کړی دی، چې موږ به یې یوه بېلګه دلته راوړو:

ای نــاصــره له څښتن مجب حبیـــــــــــــبه

هـــم ولي یې هم خفي یې هم عجیبـــــــــه

ای له هر نبي مرسل خدای تعالی ته قریبـــه

(۱۰: ۲۴۳م).

د قلندر افریدي پېژندنه

په منځنۍ دوره کې د قلندر په نوم څلور شاعران تېر شوي دي. کله نا کله د خلکو تر منځ د دوی په بېلتون کې شک پیدا کېږي او د دوی تر منځ ورته د بېلتون کرښه کښل یو دروند کار ښکاري، د دې په خاطر چې موږ دا خلا له منځه یوسو؛ نو اړینه ده چې لومړی دغه څلور واړه معرفي کړو، تر څو پورې خلکو ته د دوی تر منځ تفکیک اسانه شي او د خطا مخه ونیول شي.

لومړی قلندر

نوموړی شخص چې د خوشحال خان او د هغه د زوی اشرف خان هم عصر و. دوی دواړو خوشحال خان او اشرف خان د نوموړي قلندر یادونه هم کړې ده لکه چې وایي:

نن په دا دور که ښه شاعران غواړی

که دوه درې تنه دیګر یو قلندر دی

(۵۲: ۲م).

له بله طرفه بیا عبدالحیلم اثر د اباسین مجلې د ۱۴ کال په ۱۵۹ ګڼه کې د دغه قلندر په باب لیکلي دي: ((قلندر په قام یوسفزی و، په دکن کې اوسېده او په(۱۰۹۷هـ ق) کال د سوات راپېزي په موضوع تنها نه کی په حق ورسېده(۵۲: ۳م).

دویم قلندر

استاد عبدالشکور رشاد وایي چې دویم قلندر د یوولسم او دولسم قرن په حدودو کې د پېښور شاوخوا سیمو کې ژوند کړی دی او قلندر په ختې مومن و.

دریم قلندر

قلندر په تاریخونو او ادبي اثارو کې په افریدي قلندر مشهور دی چې دا دېوان هم د همدغه قلندر دی.

څلورم قلندر

قلندر په ختې اخکزی د سپین بولدک اوسېدونکی و، په ۱۲۸۱ش کې زېږېدلی و او په ۱۳۱۱ش کې په ډهلي کې وفات شوی و.

د قلندر نسب او د ژوند زمانه:

د قلندر د ژوند په اړه په لسګونو شاعرانو خپل نظر ورکړی دی او هم یې ورته په لیکلې بڼه د ژوند ځینې اړخونه روښانه کړي دي. استاد عبدالحی حبیبي یې د ژوند زمانه له (۱۱۰۰هـ ق) څخه وروسته ګڼلې ده او د مشهور مستشرق جمیز ډارمستټر په حواله یې نوموړی شاعر اپریدی ګڼلی دی.

له بله طرفه بیا استاد صدیق الله رښتین د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې لیکلي دي چې: (قلندر په قوم اپریدی و د باړې او جمرود په غاړه اوسېده او د حمید بابا هم زمانه او د ده شاګرد و) (د پښتو ادب تاریخ، ص ٦٠د ١٣٢٥ کال دپښتو و ټولنې خپرونه)

د قلندر په دېوان کې له کوم قام سره د ده د نسبي اړیکو او ارتباط په خاطر هېڅ هم نه موندل کېږي او نه کوم داسې دلیل شته، چې هغه دې دا خبره تایید کړي، چې قلندر په ختې اپریدی دی، دی د لومړي ځل لپاره د مشهور مستشرق ډار مسستټر له لوري دی افریدی ښودل شوی دی، له ده وروسته بیا ټولو ادبی تاریخونو او ادبي تذکرو بیا دا خبره تائید کړې او نقل کړې یې ده.

د قلندر شاعري

قلندر مومند په داسې یوه وخت کې شاعري کړې ده، چې د پښتون په ځمکه د ظلم او زیاتي اوربل و، خو ده په خپل شعر کې لکه د نوموړي دور نور شاعران نوموړې اوضاع دومره نه ده منعکس کړې او نه یې ورته په خپله شاعری کې دومره وخت او ځای ورکړی دی.

د ده ټوله شاعري د مینې له سوزنده جذبو ځخه ډکه ده او تل یې په خپل شعر کې د خپل زړه ېړاس ویستلی دی او له خپلې معشوقې یې سر ټکولی دی، په خپلو شعرونو کې یې، ټولنیز موضوعات ډېر کم راوړي دي.

د ده په شاعری کې ځکه دا برخه دومره نه لیدل کېږي چې د ده د ژوند زمانه چې کومه وه په دې وخت کې د ګورګانیانو خپلې نوکې د پښتون په دنیا کې خښې کړي وي، په هر لحاظ یې د پښتنو ضعف غوښته او نه یې غوښتل چې پښتانه دې خپل ځان او خپلو اصلي موخو ته متوجه شي، چې د همدې علت په اساس په پښتنه ټولنه کې هم د هندي سبک اغېزې را ښکاره شوې او خپلې ریښې یې په ټولنه کې وغځولې، چې تر اوسه یې موږ نیمګړتیاوې حس کوو، په دې وخت کې ادب د خال او خط په جال کې ګیر شوی وه، کاذبه مینه په ټولنه کې حاکمه وه یوازې د زلفو او سپین مخ ستاینه به کېدله، نور هېڅ نه و، نو قلندر مومند هم د همدغې زمانې سړی وه د چاپیریال اغېزې په ده هم خورې وې او د خال او خط په جال کې نښتی و.

که چېرته موږ د ده ټول غزلې او څلوریزې وګورو؛ نو راته به څرګنده شي چې د ده ګرېوان تل د فراق په اوښکو لوند دی او د خپل مین په غم کې تل ژړاندی ښکاري.

قلندر مومند یو لیریک شاعر دی او د همدغه ژانر د عمومي خصوصیاتو په رڼا کې خپل دروني احساسات او هیجانات په ډېر جذباتي فورم کې وړاندې کوي، د خپل معشوق او خلکو د زړه سوي د جلبولو لپاره د خپل شعر د ژبې په داخلي جوړښت کې ډېر تمثیلي امکانات محیا کوي، د ده په اشعارو کې نه تنها ټول د خال

او خط خبرې راغلې دي؛ بلکې په دې شاعرۍ کې يې کله نا کله د دوی له ظلمونو، چور و چپاول څخه پرده پورته کړې ده.

په غزلونو کې يې ځينې صوفيانه او مذهبي خبرې او روايات راوړي دي، همدارنګه په شعرنو کې د ادبي صنايعو کاربدنه هم په پراخ شکل سره شوې ده، خو د ده په کلام کې ځينې قافيوي نيمګړتياوې هم شته چې له مثالونو راوړلو څخه يې تېرېږو.

د قلندر د دېوان ځانګړتياوې

قلندر د شعر يو موجز دېوان لري، چې ټول تر زرو بېتونو پورې رسېږي، په دې دېوان کې ۱۱۴غزلې ۴۸ څلوريزې او څوارلس ټوټې شته.

د قلندر دېوان د پښتو په هغو اثارو کې حسابېږي، چې مخطوطات يې ډېر لږ دي، تر اوسه موږ ته په ټوله نړۍ کې د قلندر د همدغې يوې نسخې پته شته ده. له کومې چې سرمحقق زلمي هېوادمل دا دېوان په کال ۱۳۵٦هـ ش کې د پښتو ټولنې له لوري په خپله سريزه چاپ کړ.

د قلندر د دېوان يوه خطي نسخه محمدګل نوري د کابل مجلې په (۱۱۰) ګڼه کې د ((ميرا جان او قلندر جان د مقالې تر سرليک لاندې خپره کړې ده، چې مرحوم عبدالواحد وردګ پښتو ټولنې ته د کتنې لپاره راوړې وه.

د غه نسخه د سردارمحمد اعظم خان په وخت کې په (۱۳۸۳هـ ق) کال د منشي عبد النبي خان په سپارښتنه د اخوند الله يار لپاره د حبيب الله يا حسيب کاتب له خوا کښل شوې ده، دا دېوان ۱۱۴ غزلې، ۳۵ رباعيات او ۱۵ مسدس اشعار لري.

د جمهوري ارګ په کتابتون کې د قلندر د دېوان يوه نسخه شته ده، چې استاد يې په خپل فهرست کې لنډه شان معرفي راوړې ده دا چاپي متن د همدې نسخې له مخې برابر شوی دی، چې خصوصيات يې دا دي:

د مخطوطې ټولې پاڼې ۴۸ او مخونه يې ۹۵ دي، چې د پای په درې نيمو مخونو کې يې د کاتب مناجات راغلي دي او په پاتې نورو مخونو کې يې په ترتيب سره غزلې ټوټې او څلوريزې راغلي دي، چې د غزلونو شمېر يې ۱۱۲ او د ټوټو شمېر يې ۱۳ او د څلوريزو شمېر يې ۳۲ دی. (قلندر دېوان:۵۲ مخ)

د نسخې املايي خصوصيات په دې ډول سره دي:

دغه نسخه د پښتو د نورو نسخو په معمول رسم الخط کښل شوې ده؛ مګر ځينې ځايونه يې معمولاً (کښ) چې په پخوانيو نسخو کې معمول و په (کې) سره ليکل شوي دي، همدارنګه املايي غلطي هم زښتې زياتې لري.

د قلندر د دېوان شعري فورمونه

قلندر مومند چې پښتو ژبې یو تکړه شاعر و په پښتو ژبه کې په مختلفو کالبونو کې خپله طبع ازمایي کړې ده او خپل قلم یې د عروضي نظمونو په ځینې چوکاټونو کې چلولی دی، چې موږ به یې تاسو ته د نمونې په توګه ځینې بېلګې وړاندې کړو، خو دا باید ووایم چې د ده ډېره شاعري د غزل په فورم کې ده، ځکه چې په هغه وخت کې د هندي ادبي سبک دوران و او هر چا به تر خپلې وسې پورې په دې فورم کې خپل قلم ازمایه.

قلندرمومند د شعر یو موجز دېوان لري، چې ټول تر زرو بېتونو پورې رسېږي، په دې دېوان کې ۱۱۴غزلې ۴۸ څلوریزې او څوارلس ټوټې شته دي چې موږ به یې اوس دلته په تر تیب سره ځینې برخې راوړو:

غزل

دا فورم چې د خلکو په منځ کې ډېر رواج لري، ده هم پکې خپل قوت ښودلی دی او تقریباً ۱۱۴ غزلې یې لیکلې دي چې موږ به یې دلته اوس له جملې څخه یوه د مثال په توګه وړاندې کړو:

څو ماڼی د چا په پورته ځـي بلنـده

هومره ښکته ورته کېږي لویه کنده

غلط مه شه د فلک په شنه کندونه

په خرقه کی ګرځـوي هـزار کمنـده

خرڅوي هزار دینـاره پـه کـــودړي

چی امید کا ګدایان له دولتـــمنده

(۵۲: ۸۰-۸۱م).

څلوریزې

قلندر له غزلو وروسته د څلوریزو په ویلو سره د خپل زړه درد سپک کړی دی، چې موږ به یې دلته د نمونې په توګه یوه دانه را نقل کړو:

زه په هجران کې دې مبتلا کړم

غریب همیش دې په واویلا کړم

د رب دپاره جفا نوره پرېـــږده

زه قلندر دې میرا جلیا کـــــړم

(۵۲: ۱۵۵م).

ټوټې

په دې برخه کې هم قلندر یوه اندازه شاعري کړې ده چې موږ به یې د نمونې په توګه یوه دانه دلته راوړو:

ربه هجران کړم زه بې طاقتـــــــــــــه

چـی یـې بېـزار کـړم زه لـه قوتـــــــــــه

د میرا مینـه دغـم دانـه شـــــــــــــوه

ادم یـي کـوز کـړم زه لـه جنتـــــــــــه

قلنـــدر ځکـــــــه پـــه ورټ ورټ ژاړي

چی یي مهجـور کـړم لـه خـوب صـورته

(۵۲: ۱۷۷م).

د قلندرمومند د اشعارو محتوا

مخکې مو د شاعرۍ تر عنوان لاندې د قلندر پر اشعارو تر یوې اندازې بحث وکړ او په پای کې دې نتیجې ته ورسېدو چې د ده په اشعارو کې د مینې او محبت سوزنده چیغې ډېرې زیاتې دي او کابو زیات غزلونه یې همدغې برخې ته وقف کړي دي، خو له دې سره په ځینو برخو کې یې ټولنه هم له پامه نه ده غورځولې، د انسانیت درد یې بیان کړی او هم یې په ټولنه کې له شته بدبختیو پرده پورته کړې ده او په هغه وخت کې یې د پښتنو د ابدي دښمنانو(ګورګانیانو) له ظلمونو او چور و چپاول څخه سر ټکولی دی چې موږ به یې دلته یو شمېر بیتونه د نمونې په توګه را وړو:

پند او نصیحت

د ده په اشعارو کې ځینې داسې مسایل شته دي چې لوی درس پکې پروت دی، خو که چېرته ورته څوک په زیر سره وګوري او دا برخې ځاتنه څرګندې کړي لکه د مثال په توګه:

خـو مـاڼی دچـا پـه پورتـه ځـي بلنـده

هـومره ښـکته ورتـه کېـږي لویـه کنـده

غلـط مـه شـه د فلـک پـه شـنه کندونـه

پـه خرقـه کـی ګرځـوي هـزار کمنـده

خرڅـــوي هـــزار دینـــاره پـــه کـــودړي

چـــی امیـــد کـــا ګـــدایان لـــه دولتمنـــده

دلته که چېرته موږ لږ په دقت سره وګورو؛ نو راته به څرګنده شي چې په څومره وړو الفاظو کې یې دومره لوی پند بیان کړی دی، دی وایي چې تاسې هېڅ وخت له بل چا څخه تمه مه کوی همېش له خپلو متو کار واخلی او په ځان کې د ځوانانو خوی پیدا کړی تل کوښښ وکړی، چې نورو خلکو ته د کار زمینه برابره کړی د بل چا د کار په تمه مه کېږئ، ځکه چې د نورو په تمه ناست خلک بیا په میرو پاتې کېږي.

په دویم بیت کې بیا د اعتماد خبره کوي، دی وایي چې د هر چا په خولې باور مه کوی او مه یې په ظاهر لباس دوکه کېږئ. د سړي انسانیت په درون کې پټ وي نه په بېرون کې، ډېرو خلکو په همدې لباس سره ډېر خلک له کمرو څخه وغورځول چې تر اوسه پورې یې دردونه ګوري او لا هم په ملا مات دي؛ ځکه چې یواځینی علت یې همدا و، چې په خلکو یې ژر باور کړی و.

موږ او تاسو باید یوازې په رنګ دوکه نه شو؛ ځکه چې رنګ خو د ډېرو شیانو سره یو شان دی، خو په خوند کې فرق کوي فرض مثال موږ که په یوه ګیلاس کې مالګه او شیدې واچوو او په بل کې شوملې؛ نو له لیرې به راته پته ونه لګي چې په کوم ګیلاس کې شیدې دي تر هغې چې موږ یې له نږدې نور خواص لکه خوند او رنګ ونه ګورو؛ نو انسان هم په همدې شان دی دستي یې اصلیت او کم اصلي نه معلومېږي؛ بلکې وخت ته ضرورت لري، نو د همدې په خاطر باید په دې مسئلو کې محطاط واوسو.

د دنیا په اړه

دی د دنیا په اړه وایي چې په دنیا باور ونکړئ، ځکه چې دا دنیا ډېره بې وفا او لالهانده ده او څوک چې په دې دنیا باور کوي دوی په اصل کې د دې دنیا په اصلیت خبر نه دي او نه ورته علم شته، دی دا دنیا غولي بیابان ګڼي او خلکو ته وایي که تاسو چېرته ځانته هوښیار وایي؛ نو په دنیا پسې مه ځئ لکه په دې بیت کې:

دا دنیا په مثال غول بیا بانـــــــیده

هسی مــه درومه هوښیاره خردمنده

د ګور ګا نیانو ظلم او جبر

ده په خپلو اشعارو کې د هغه وخت له حاکمانو چې ګورګانیان وو، سر ټکولی او د هغوی ظلم او جبر یې په خپلو اشعارو کې څرګند کړی او د هغوی له چور و چپاول څخه یې هم پرده پورته کړې ده لکه چې وایي:

چی سبا ته دې مغل په خونه خېژي

له مــطاعه دی نن خونه کــه وزګاره

(۵۲: ۳۵م).

دا او دې ته ورته نور ډېر اجتماعي موضوعات د ده په شعر کې شته چې د ټولو راوړل به يې زموږ د موضوع له حوصلې څخه ووځي؛ نو په همدې خاطر د موش نمونه په همدې اکتفا کوو.

هجر او بېلتون

دا موضوعات د ده شاعرۍ بارزه او ډېره تکرار شوې برخه ده، په هر غزل کې حتماً په يوه بيت يا نيم بيتي کې له دې رنځ سر ټکولی دی لکه چې وايي:

ربه هجران کړم زه بی طاقته

چی يــې بېزار کړم زه له قوته

دی په دې پورته بيت کې خپل ځان هجر ته تسليموي او ځان د نوموړي درد د تاب نه ګڼي.

قناعت

دی په خپلو اشعارو کې دا موضوع په ښايسته شکل سره بيانوي او دا يو لوی طاقت ګڼي، دی وايي چې قناعت داسې يو مړښت دی چې هېڅ وخت به خلاص نه شي، تل به يې لرونکی شخص خوشحال او له ورځني ژوند راضي وي. د بل چا په تمه به نه اوسي هر وخت کې به په خپلو شيانو راضي وي او په ژوند کې به يې ارامي او سکون موجود وي لکه چې وايي:

قنــاعت هسی دولت دی قلندره

چې سړی کا په نيستۍ کی قلندر

(٥٢: ٢٦م).

عشق

قلندرمومند د عشق په اړه يو عجيب نظر لري، دی وايي چې د عقل د پېښدو اخيري مرحلې ته عشق وايي. دی وايي چې عشق يوه داسې پديده ده چې په مخ کې يې هېڅ نوع بهانې مانع کېدای نه شي، تر څنګ يې دی وايي چې د عشق په مخ کې عقل داسې دی لکه د پيشو په مخ کې موږک د پيشو په مخ کې موږک هېڅ نه شي کولی، همداسې د عشق په مخ کې عقل ودرېږي او هېڅ هم نه شي کولی يوازې ننداره به يې کوي لکه په دې بېتونو کې چې قلندر په خپله وايي:

نه مې پرېږدي عشق هر ګز د عقل په ورشـــو

شپه او ورځ مې سر دی تل د عشق په خر خشو

عقل به د عشق په مخ کې څرنګه د رېـــــږي

کـله به موږګ په مخ کې ودرېږي د پيشـــــو

عقل چې پوښته شي په نامه د عشق يې بولـــي(٥٢: ٦٦م).

د پوپلزی، عبدالله محزون پېژندنه

مخزون د دویمې دورې له تکړه او نوموتو شاعرانو څخه و په پښتو ژبه کې یې ډېر په زړه پورې اشعار ویلي دي. نوموړی زموږ په ادبي تذکرو کې د حاجي عبد الله پوپلزي، عبدالله محزون اوعبدالله محزون پوپلزي په نومونو یاد شوی دی. عبدالله محزون د عطامحمدخان زوی او په ختې د پوپلزیو قبیلې ته منسوب دی.

نوموړی په (۱۲٦۰هـ ق) کال کې د کندهار په بلدې نومي کلي کې زېږېدلی دی او د تذکره لیکونکو په اتفاق سره په (۱۳۳۰هـ ق) کال کې وفات شوی دی. علامه عبدالحی حبیبي لومړی سړی دی چې په خپل اثر (تاریخچه سبکهای اشعار پښتو) کې یې د عبد الله محزون زوکړه په (۱۲۵۷هـ ق) کال کې بللې ده.

علامه حبیبي لیکي چې عبد الله محزون ډېر سخي او لوړ همته سړی و. څو وارې یې د بیت الله شریف زیارت کړی او څه موده یې په کابل کې د سردار غلام محمد طرزي په خدمت کې تېره کړې دی (۱۱:۱۱م).

مرحوم محزون د حمید مومند په پیروۍ شاعري کړې ده. زموږ ځینې ادبپوهانو محزون د پښتو او فارسي صاحب الدیوان شاعر بللی دی؛خو د فارسي دیوان خبره یې ماته د تامل وړ ښکارېږي؛ ځکه محزون خپله یادونه کړې ده چې لږ لږ فارسي شعر لیکي او تر اوسه د دې خبرې سپیناوی شوی نه دی چې د محزون فارسي دیوان چېرې او چا لیدلی دی. له پښتو دیوانه پرته دوه نورې رسالې چې یوه عبرتنامه نومېږي او بله یوه اخلاقي مثنوي ده هم منسوبې دي.

د فکر او غور وړ دا ده چې کله استاد عبدالحی حبیبي د(تاریخچه سبکهای اشعار پښتو) رساله ولیکله په دې رساله کې یې د عبدالله محزون دیوان (۴۰۰۰) بېته بللی دی، خو له بل لوري د ده موجود دیوان چې چاپ شوی دی له (۲۵۴۲) بیتونو څخه نه اوړي.

د ده له شعرونو څخه معلومېږي چې د دوی ارتباط له یوې شتمنې کورنۍ سره و او تر څنګ یې دی یو عالم او د مطالعې څښتن سړی ښکارېده، ځکه چې د ده د اشعارو له لوستنې څخه سړی دې نتیجې ته رسېږي چې دی به د پوره مطالعې څښتن و، ځکه چې د ده له اشعارو څخه پته لګي چې په خپلو غزلونو کې د ټولو شاعرانو اوصاف بیان کړي دي، له دې معلومېږي چې د هغوی دیوانونه به یې لوستي وي او له هغې وروسته یې خپل نظر څرګند کړی دی.

د عبد الله محزون شاعري

عبدالله محزون د منځنۍ دورې د هغو شاعرانو له جملې څخه دی، چې شاعري یې ډېره له تکلفه ډکه نه ده او په شاعرۍ کې یې ژبې ته ډېر کار کړی دی. ده په خپلو اشعارو کې د ژوند بېلا بېل اړخونه څرګند

کړي دي او هم يې په ټولنه کې د هغو خلکو په وړاندې نظر ورکړی چې د شمار او حساب وړ به شمېرل کېدل.

مخکې مو وويل چې د هندي سبک پيرو و، خو دا چې په دې سبک کې کومې خوړلنې وې د شکل او محتوا له مخې هغه يې ټولې په يوه بدل رنګ او شکل کې راوړي دي چې دا نوښت يې يو بېل خوند لري.

ده لکه د هندي ادبي سبک نورشاعران يوازې د خپلې معشوقې زلفې، سترګې، زنه او داسې نورې برخې نه دي ستايلي؛ بلکې تر ډېره د ټولنې درد او د انسان لپاره ځينې تعريفونه په خپل شعر کې راوړي دی، چې تر عمره به يې هېڅ پښتون بچی د ياده و نه باسي او نه به يې څوک په ځمکه وغورزوي، ځکه چې د ده په اشعارو کې د کلاسيکيت مفهوم په سمه مانا ځای په ځای شوی دی.

د محزون د شاعرۍ فورمونه

مخکې مو چې کله د ده په پېژندنه خبرې کولې نو څو ځايه راته همدا مسله (شعري کالبونه) مخې ته راغله، په هر ځای او ماخذ کې دا برخه په پوره توپير سره بيان شوې ده.

د ده ټوله شاعري په يو څو مشخصو کالبونو کې شوې ده چې ډېر مشهور يې غزلې، مثنوي او قصيده وزمې غزلې دي، له دې څخه بغير سرمحقق زلمي هېوادمل د مخمسونو يادونه هم کړې ده.

اوس چې د ده کوم دېوان زموږ په لاس کې دی، په ترتيب سره يې لومړۍ برخې ټولې د غزلې دي، ورپسې د متفرقاتو په نوم يو بل باب پيلېږي چې په دې کې بيا لومړی يو ترجيح بند راغلی، ورپسې يوه مربع ده او بيا له دې وروسته ځينې نور بېتونه دي، په پای کې يې بيا مثنوي راغلې ده او په منځ کې يې يو مناجات هم راغلی دی

دلته به يې په ترتيب سره ځيې بېلګې راوړو چې موضوع لا روښانه شي.

غزل

د عبدالله محزون تقريباً (٨٠) فيصده شاعري په دې فورم کې شوې ده، چې د بېلګې په توګه بـه يـې دلتـه يوه نمونه راوړم:

کـه څـوک مينـه حقيقـي غـواړي رښـتيا
نـو دي ولـولي ايـت د لـن تـنا
تسـلي وکـړه زمـا ويـل قبـول کـړه
ر ومـال او جهـان واړه کـړه فـدا
پـه درواغـو بـه ترڅـو کـې لافـې شافـې
يـوه ورځ بـه پـه بـازار سـې د رشتيـا

تـن پـروره ولـې يـې اى بـوت پرستـــــــــه
پردې تن لـه دې تېـغ سـم شي د برېښنـــــا
دا خـــبره ده محالــه د يــار وصـــــــــــل
چـــې يـــې زړه ډک وي د نـــورو د فهـــــوا
د عنقـا نيـول اسـانه سـهل کـــــــــار دی
پر هغـه چـا چـې صـياد وي سـتا د خـــــوا
چې ستا غم گاهي په خيال د زړه ميلمه شي
د زړه خونـه کـړي هغـه سـاعت رڼـــــــــا
چې پـه زړه کـې غـيرې خيـال د نـورو ښـوري
عبـد اللـه ديـاره څـه غـواړې وفـــــــــــا
(١١: ٢٧م).

ترجيع بند

له غزلو وروسته د ده په دېوان کې يو ترجيج بند راغلی دی چې موږ به يې دلته يوازې يو څو بيتونه د بېلگې په توگه را واخلو:

چـــې اشـنا مـې عـزم وکـی د وطـن نـا ارام سـو زړه د ننـه پـه بـــــــدن
د ژوندون څخه لاس وکښه ما غمـــجن ســـوم اخته په ځـان همـــېش لکـه پمـــن
منـت بـار يـم د هـر غلـه د هـر راهـــزن رشخنـــدونه را وهـي هـر گـــړ بېـزن
دا په دا چې له اشنا يه شوم جـــدا نه مې خوب نه مې خـورک شـــته نـه خنـدا
(١١: ١١٣م).

مربع

د ده په دېوان کې له ترجيج بند څخه وروسته يوه مربع راغلې ده چې موږ به يې دلته يو څو بيتونه د نمونې په شکل راوړو لکه:

دا سـتا د مينـــې تېـغ مـــې خـــوړلی صـــورت مـــې زوړ شـــو عـــــــــمر برباد
سردار د دواړو جهـانونو تـه يـې پـر هـر چـا گـران هـم تـر تـــــور لېمـه يـې
لـړ د خوارانـو پـر خـوا نظـر کـا خـوک دې شـېرينه خـوک دې فرهـاد دی
جهـان دې خونـه تـه يـې ځـراغ يـې سـتا پـه رڼـا تـــــــــه پيـــدا کېـږې

که یې ستا حب په زړه کې نه و ایمان یې پوچ عمل برباد دی

(۱۱: ۱۱۵م).

مخمس

په دې فورم کې هم ده یوازې د حمید بابا پر یو غزل مخمس لیکلی دی، چې بېلګه یې دا ده:

ستوري بیا د نباله دار شو د اسمان په دنباله کې
اهو دم له اهو وخوړ مشک باران سو په تاله کې
که لمر مخ په نقاب ونغښت له حیا سو په ناله کې
خط پر مخ د صنم را غی که سپوږمۍ شوه په حاله کې
دا یې غاښ په خوله کې زیب کا که لالا شو په ژاله کې

****

د مجنون په شان تېرېږم د صحرا پر لندو ژرګو
تر ځیګر مې ځکه وځي شنه نلان په درګو درګو
په کاته دې زخمي کړی یم په دواړو پښتورګو
هسې سحر و جادو کا په نظر د شهلا سترګو
نه یې سیال په هند کې شته دی نه ثاني په بنګاله کې

(۱۱: ۱۱۸م).

مثنوي

په دې فورم کې یې هم یوه موضوع بیان کړې ده چې بېلګه یې داده:

حمد ثنا درود پر پېغمبر دی په رښتیا چې په تحقیق خیر البشر دی
پس له حمده یو څه وایم ته یې ګوش که یو ساعت د دنیا فکر فراموش که

(۱۱: ۱۳۷م).

د مخزون د دېوان ځانګړتیاوې

مخکې مو هم په پیل کې د ده دېوان په اړه ځینې خبرې وکړې او څه نا څه مو واضیح کړ، خو لږ په تفصیل سره پرې دلته بحث کوو، تر څو پورې د موضوع حق ادا شي او موږ هم دغه موضوع یو څه د وضاحت په طرف یوسو. د دېوان په اړه هم ټول پښتانه علما په یوه خوله نه دي لایې ځینې خبرې ځېړنې ته اړتیا لري او باید وڅېړل شي، لکه د ده د دېوان د بېتونو شمېر چې حبیبي صیب په خپل اثر (تاریخچه سبکهای اشعار

پښتو) کې د دېوان بېتونه (۴۰۰۰) ښودلي دي، خو د اوسني دېوان ټول بیتونه بیا تر (۲۵۴۲) نه اوړي او همدا یې اخیري شمېر دی چې دا برخه پوره څېړنې ته اړتیا لري.

د پوپلزي د دېوان قلمي نسخه د استاد محمدگل نوري په لاسونو او د پښتوانجمن په تاکید او مشوره دویم نقل ته واوښته او د دېوانونو اصل او کافي یې بېرته انجمن ته وسپارلې.

د محزون د دېوان یواځینې معلومه خطي نسخه د افغانستان په ملي ارشیف کې تر (۹۱) نمبر لاندې په ۴/۴۷ شماره قید ده.

د غه نسخه د ارواښاد نوري په ښکلي خط خطاطي شوې ده. نسخه په سپین خارجي کاغذ نقل سوې ده، خط یې ښکلی نسخ دی، ځای ځای نستعلیق هم پکې راځي. ټوله نسخه (۸۴) پاڼې او (١٦٧) مخونه لري. په زیاتو مخونو کې یې د بیتونو شمېر اوولس دی، خو په ځینو مخونو کې یې بیا شپاړس یا پنځلس هم دی، تر بسم الله وروسته په دې بېت سره پېلېږي:

خدایه عشق په ذوق و شوق دلربـــا را

د عبد الله محزون دېوان (۲۱۳) غزلې، یوه الف نامه، دوه فارسي شیر او شکر، یو ترجیع بند، یو مربع، یو مخمس، یو مناجات، قصه از احوال منصف او په اخیره کې یو اوږد مثنوي لري.

د دېوان د املا ډول په اوسني لیکدود دی. په پای کې دا دېوان د محمد معصوم هوتک په سریزه او لمنلیک او د مطیع الله روهیال په نقل، تصحیح او لغاتنامې سره په کال (۱۳۹۲هـ ش) کې د کندهار د اطلاعاتو او فرهنگ د ریاست له لوري زر ټوکه چاپ شو.

د مخزون اشعارو محتوا

د پوپلزي په اشعارو کې لکه د همدې دورې نور شاعران د هندي ادبي سبک رنگ غالب دی، خو د نورو نه په توپیر سره هغه توپیر یې په دې کې دی، چې د نورو هندي سبک پیروانو شاعرانو په شعرونو کې د جانان کاذبه مینه، درد، هجر، جدایي او د خپل محبوب خال او خط نغښتي دي او ټولنیز ژوند ته یې ډېره کمه توجو کړې ده، خو محزون پوپلزي بیا په هندي ادبي سبک کې شعرونه ویل یوازې همدغو موضوعاتو ته ځانگړي کړي نه دي؛ بلکې د ټولنیز ژوند ټول اړخونه یې پکې راوړي دي لکه: دنیا، اخلاق، کبر، اسلامي موضوعات، د انسان تشریح، د حقیقي مینې تعریف، الله تعالی ته دعا او زاري کول، اخلاق او داسې نور موضوعات چې په یوې ټولنه کې ورسره سړی مخامخېږي، موږ به دلته دا موضوعات په ترتیب سره یو یو بیان کړو.

مناجات

ده په خپلو اشعارو کې الله تعالی ته زاري کړې او له هغې يې د بخښنې شفقت او مهربانۍ سوال کړی دی، په دې مناجات کې يې په خپلو ګناهونو هم اعتراف کړی دی او هم يې پرې پښيماني څرګنده کړې ده، همدارنګه پکې د خوږ نبي کريم (ص) د ديدن سوال کړی دی، چې د بېلګې په توګه به يې دلته يو څو بيتونه رانقل کړو:

د مکـــې د مـــدينې پاکـــه رســـوله — د قبـــو لـــو پـــه ټوليـــو کـــې قبولـــه

د جهـــان تـــر تاجـــدارانو سر بلنـــده — د عقبـــا تـــر تاجـــدارانو هنرمنـــــده

پـــه صـــدف کـــې د جهـــان دُر يتيمـــه — د اشرافـــو د اشرف د عـــرش عظيـــــمه

پـــه قامـــت تـــر قيامـــت تېـــره پـــه لـــويۍ کـــې — تـــر همـــه خوبـــانو تېـــره خـــوبۍ کـــې

(١١: ١١٦م).

د حقيقي مينې تعريف

دی د حقيقي مينې لپاره يوه لاره ښايي او حدود ورته ټاکې، وايي هره مينه چې په همدې معيارونو برابره وه هغه په همدې تله کې راځي او هغه چې نه وه برابره هغه به کاذبه او د دوستۍ قابل مينه نه وي.

دی وايي چې حقيقي مينه دې ته وايي چې دروغ، دوکه، مکر او دوه مخي پکې نه وي؛ مګر د سر او مال قرباني، يو له بله ځاربدل او په هر وخت کې رسيدګي کول، د يوه او بل په خوشحالي خوشحالېدل او په خپګان خپه کېدل او له زړه يو او بل ته ګرانېدل بايد ورکې وي.

دلته به اوس د محزون د همدغې غزل يوه بېلګه راوړو چې په همدې باب يې ويلې ده لکه:

که څوک مينه حقيقي غـواړي رښـتيا

نـو دي ولـولي ايـت د لـن تـــــــنا

تسلي وکړه زما ويـــــــل قبـول کـړه

سر ومـال او جهـان واړه کـړه فـــــدا

په دروا غو به ترڅـــو کې لافې شافې

يوه ورځ به په بـازار ســـــې د رشـتيا

(١١: ٢٦م).

دی وايي چې په ملګرتيا او دوستۍ کې دروغ ځای نه لري، يوه ورځ به خامخا بند راځي؛ نو له دې به ښه دا وي چې دروا غ ونه وايې او له دې نقطې پرهېز وکړي.

د انسان په باب

دی وايي چې په دنيا کې هر ډول انسانان ژوند کوي، خو موږ ته ضروري ده چې په دنيا کې ښه او مضر خلک وپېژنو؛ نو په همدې خاطر د ښو انسانانو ځينې اوصاف ذکر کوي او وايي چې په دنيا کې ښه هغه خلک دي چې (نسب، علم او ادب، اصليت او نېک کردار) ولري او په همدغو اصولو برابر وي.

نوموړی د بدو خلکو په اړه وايي: بد خلک په ټولنه کې تل په مال او دولت اعتقا کوي، تل يې خوله خلاصه وي، د مجلس اداب نه مراعت کوي، د خپلو خبرو په کولو او اغېز خبر نه وي، هر چېرته يې ګډې وډې خبرې شروع کړې وي.

دی وايي له کم اصل سړي څخه پمن خر هم ښه وي، ځکه چې بار خو وړي. بله دا چې کم اصل سړی زيات خودبين وي تل هر څه د ځان لپاره غواړي او کوښښ کوي چې هر وخت لومړی د خپل ځان غم وخوري.

همدارنګه د انسان اصليت يوازې په قوم کې نه بولي، چې په قوم دې سړی اصل شي؛ بلکې په ټولنيز رفتار او ادب کې ده لکه چې په يوه غزل کې وايي:

په دنيا کې ډېر په کار دی ښه نسب — خصوصاً چې بيا لري علم ادب
د بد اصله زينت تل په سيم او زر دی — پمن خر بې کتې څوک بولي مرکب
لکه مست خر په ګورم کې هرهاره کړي — په لږ حکم غرور واخلي د منصب
خود بيني ورځينې پټ کړي سل عيبونه — د هېچا نه ګرځوي د خولې جلب
و هېچا ته سرکوزی نه کړي له کبره — يو څو ورځې يې څوک ځغلي په جلب
په لږ عمر لکه رود په اب خانه سي — و هر چا ته يې ښکاره سي اخ و ډب
هسې نه چې درانی زه اصيل بولم — چې بې علمه سوهغه دی کوڅه درب
عبد الله د ځان تقوا به په څه شان کی — ډېر عالم اخته په دې لهو لعب

(١١: ٣٠م).

په دې غزل کې د کم اصل او اصيل سړي ټول اوصاف بيانوي، چې نور به يې تشريح ته ضرورت ځکه نه وي، چې په ډېر واضيح شکل سره بيان شوي دي.

د اخرت د ورځې بيان

دی په خپل يوه غزل کې د هغې دنيا بيان کوي او د هغې دنيا اوصاف بيانوي، وايي چې هلته به بهانې نه وي چې ته پرې ځان خلاص کړې، مګر هلته رېښتيني اعمالو ته ضرورت دی.

دی وايي چې:

په دنیا کې به ځان خلاص کړې په حجت ... څه به کړې علاج په ورځ دې اخرت
شپه او ورځ د ظالمانو هـــــم کاسه یې ... کل خویونـه دې ښـکارېږي ضـلالت

(۱۱: ۳۱م).

رېښتینې مینه

د مینې په اړه وایي، چې انسان مینې ته ضرورت لري؛ خو دا مینه بیا ځانته خپله اصول لري، باید دا اصول وپالل شي او تر څنګ یې باید هغه کړنې په نظر کې ونیول شي لکه: په دوستي او مینه کې باید د سر او مال قرباني موجوده وي او هم باید د هرې سختې او اسانې پر وخت موږ یو او بل ته ځان ورسوو او په دې رابطه کې سپېڅلتیا موجوده وي د دې رابطه باید له هر مکر او کینې څخه مبرا وي، ترڅو پورې پکې بل ډول عیب پیدا نه شي او نه پکې د دوستۍ اصول او ارونه پایمال شي.

بله دا چې دی وایي په مینه او دوستۍ کې چلباز او دوکه مار سړی داسې حیثیت لري لکه مار؛ ځکه چې مار به په خپله لار روان وي، خو په زړه کې به یې یو داسې پلان موجود وي چې چېرته موقع برابره کړي او ټک درکړي؛ نو باید له داسې کړنو ځان وژغورو او په ټولنیز ژوند کې انساني ارونه وپالو، تر څو په انسانیت کې غبن او تور داغ پیدا نه شي.

منکر مه اوسه د عشق په کـــــــار او بار ... خریدار یې سه د حـــــسن پـه بـازار
رانیول یې په اسانه حاصـــــــــــلېږي ... سر و مـال و جهـان کـل غـواړي نثـــار
په اخلاص که ورنږدې شوې مراد به مومې ... کنـه یـار نـه قبلـوي خـوی د مـــــــکار
ګوږ او کین پر لارې نه تلی له عنـــــاده ... ګنه څه وه بد خویي پټـه د مـــــــار

(۱۱: ۴۰م).

ښکلا او ارزښت

عبدالله محزون د ښکلا او ارزښت په اړه بېل او جلا تعریفونه لري، چې موږ به یې دلته په تفصیل سره واضیح کړو: دی وایي چې د انسان ښکلا په دې کې نه ده چې دی دې ښه کالي واغوندي او ښه وتو کړی دې وګرځي؛ بلکې انسان په باطن کې باید ښایسته واوسي، مطلب اخلاق او رویه یې له خلکو سره ښه او اوسي او نه باید په ټولنه کې داسې کړنې وکړي چې غایه یې ځان ښودنه وي، بلکې داسې کړنې باید وکړي چې هدف یې ټول عالم انسان ته خیر ښېګڼه رسول وي او له دوی سره د مشکلاتو په حل کې مرسته وکړي.

بله دا چې د انسان د درون ګټه عامه وي او د بېروني ښایست ګټه بیا محدوده وي.

د مانـا راز پـټ سـاته طلـب تقـوی کـړه ... پـه ظـاهر جـامو غلـط نـه شـې د پیـاز
د مجـاز لـه ځایـه پاسـه وخـت بېګـا سـو ... دا منـزل تـر حـد بـې حـده دی دراز

طمع څه کړې د هر چا څخه په خبرو　　گویا غواړې د کمزوري خره جانباز

(۱۱: ۴۵م).

په دنیا کې خوشحاله ژوند

د محزون په دیوان کې چې بله کومه خبره د پام وړ ده هغه د دنیایي ژوند په اړه یوه نسخه ده دی وایي، چې په دنیا کې د ښه ژوند تېرولو لپاره باید سړی ښه اعمال وکړي، باید نرمي غوره کړي، ځکه چې انسان د نرم او ښه چلند وړی دی نرم او ښه چلند اکثره وخت د مینې باعث کېږي او انسان مینې ته ضرورت لري.

بله دا چې د ده په کلام کې یوه خبره ډېره د پام وړ ده، هغه دا چې دی د باچاخان د نظریې معکوسه نظریه ورکوي، چې تاسو سره بد کېدل تاسو هم ورسره بل مثل عمل وکړئ، تر څو پورې دوی وپوهېږي چې زما د کار نتیجه سمه نه وه او په مقابل لوري کې حساسیت را وپاراوه، که غلی پاتې شوې هغوی بیا په تا د حملې هوډ لري او تاته د مشکلاتو په پیداکولو کې لاهم نوره هسه کوي او غواړي چې په یوه قسم سره په تکلیف کړي، خو پاچا خان چې له ده څخه ډېر وروسته تېر شوی دی هغه بیا وایي چې انسان باید حلیم او نرم واوسي.

دی بیا یوه بله خبره دا کوي چې ته که په دنیا کې همېشه خوشحاله ژوند غواړې نو تل به کوښښ کوې چې ډېر زیرک او هوښیار اوسې د ژوند هر طرف ته په کلکه متوجې شې، دوست او دښمن وپېژنې؛ ځکه چې همدغه دوه فکټورونه په انسان مستقیماً تاثیر لري دوست دې خندوي او د سکون په خیال کې دې وي او دښمن دې بیا ژړوي او د خپگان لپاره دې وسایل او لوازم لټوي؛ نو موږ ته هم ضرور ده چې پورته فکټورونه په سمه توگه وپېژنو، دوست په غېږ کې ونیسو او دښمن ته بېدار واوسو، تر څو پورې یې د کوم شوم پلان ښکار نه شو لکه چې دی په خپل یوه غزل کې وایي:

که څوک غواړي پر دنیا سرفرازي　　وزر مات کړه ډېره مه کړه پروازي

په عمل سرفرازي ده په عقبا کې　　هلته نسته فلانی زي او فلانی زي

که چا رحم کړی پر مار یا پر لړمـــــــه　　گویا ویې ښوه دښمن ته جانبازي

که پر گرگ باندې د خیر گمان وکړې　　خپل پسونه دې کړم کړه په بازي

که یو ځوز د چا د لارې بېرته نه کړې　　گویا وې پاشل په خپله لار اغزي

د چا زوی چې بد ویل وکړل وبل ته　　د خپل پلار په بد ویلو سو راضي

(۱۱: ۱۱۰م).

د دې ټولو په نظر کې نیولو سره یوه بله خبره چې ډېره د پام وړ ده هغه دا چې د انسان په مشکلاتو او خوشحالیانو کې یو لوی عامل د اولاد هم وي. که دې اولاد نیک عمله وي؛ نو تاته به تل خوشحالی راوړي

او ستا پر شونډو به خندا راوړي او که بدعمله وه؛ نو تا ته به تل سرخوړی وي او ستا ګرېوان به تل د بل چا په لاس کې وي، ټول عمر به د خپل زوی پورونه خلاصوې د همدې زوی له لاسه به ته بد هم یادېږې، لازمه ده چې خپل اولادونه داسې وپالو لکه یوه مېوه داره ونه، باید له هرې کړنې څخه یې خبر واوسو تر څو پورې موږ له مشکلاتو څخه خلاص شو.

د عزت ډولونه او طبقاتي ژوند ته کتنه

دی له خپلو اشعارو داسې معلومېږي چې په ټولنیز ژوند کې د ډېرې لویې مطالعې خاوند تېر شوی دی، ځکه چې ده د ټولنې د هرې طبقې په اړه یې خپل نظر ورکړی دی او د هغوی اوصاف یې څېړلي دي، همدې کړنې ته په نظر کې نیولو سره دی وایي چې عزت دا نه دی چې ته دې ټولو خلکو ته یو شان او ښه ډوډۍ ورکړې او یا دې د هغوی ټولو سره یو ډول چلند وکړې، عزت د هرې طبقې او هرې ټولنې په خلکو کې ځانته جلا او بېل نورمونه لري او د همدې نورمونو په اساس باید نوموړي اصول وپالل شي.

د بېلګې په توګه د یوه پولیس لپاره عزت دا دی چې د هغه د لباس او وسلې احترام وشي او په درانده نظر ورته وکتل شي، که چېرته فکر وکړو د نظامي خلکو لباس ته لاس اچول غټ جرم دی. په همدې خاطر ورته دومره لوړ منسب ورکړل شوی دی.

دی وایي چې د فقیر عزت د هغه جام او کچکول ته په درانده نظر کتل دي که هېڅ هم ورته ورنکړې؛ نو پروا نه کوي، خو که کچکول ته دې ورته په سپک نظر وکتل نو بیا به له تا خپه وي او همدا د خپل ځان بې عزتي ګڼي.

دې ورته نورې طبقې او خلک تشرېح کوي او په اړه یې په تفصیل سره بحث کوي، خو موږ د ټولو له تفصیل څخه تېرېږو تر څو دا موضوع ډېره پراخه نه شي، خو د موضوع په اړه به یې دلته یو څو بېتونه رانقل کړو:

د سپاهي عزت زغره و په خول دی — د فقیر د عزت لوخی خپل کچکول دی

د ډمانو په سر ناوو ډول عزت دی — د بد رنګې ناوې تل په پسول عزت دی

د خانانانو د خانې اسباب چوخه ده — د کـــــونډیانو زخیره زړه بخچه ده

د ملا د ملایی اسباب پګړی ده — د پېغلکو دا په خیـــال او په دړی ده

(۱۱: ۱۲۳م).

کبر او ډولونه یې

دی د کبر په اړه ډېرې په زړه پورې خبرې لري چې موږ په نظم کې په یو څه لنډیز سره راوړې دي.

دی وایي چې د کبر مفهوم دا دی چې انسان باید خپلو کړنو ته توجو وکړي، ځکه که کبر یوازې نه کېږي بلکې په اوه ډوله دی، چې لومړی یې په علم دی، دویم کبر په تقوا دی، درېیم کبر په نسبت دی، څلورم

کبر په حسن او جمال دی، پینځم کبر په مال او دنیا دی، شپږم کبر په قوت او په بازي دي او اوم کبر په په خپل ځای او خادمانو دی، چې یو سړی پرې نازېږي؛ نو سړی باید دې خبرو ته ډېره پام وکړي؛ ځکه چې کبر یو له هغو اعمالو څخه دی چې پاک رب ته ډېر زیات ناخوښ دي په دې اړه په دېوان کې دا بیتونه راغلي دي:

کبر لوی عیبجن کار دی وپوهېږه — چې مغبوض د کر دګار دی وپوهېـــــــــــــږه
دې حدیث ته فکر وکه بنده خواره — چې ویلی دی پیشوا زموږ دپـــــــــــــاره
که درلود په زړه کې کبر چا پنهان — په قدر د سپیلني دانې په شـــــــــــــــان
د جنت بوی په هغه سړي حرام دی — که اصیل دی که کم اصل که غـــــــلام دی
ډېر حدیث په باب د کبر دي راغلي — چې غمخوار پېشوا حضرت دي فرمایـــــــلي
په اوه سببه کبر د ځان کېـــــــږي — هر سړی به پیوسته وساه ته لوېـــــــــــږي
اول کبر دی په علم چې بد تر دی — تر جاهل دا کبرجم عالم بد تـــــــــــر دی
دویم کبر دی په زهد په تقوا کې — نه پوهېږې وي ولېدلی په بلا کـــــــــــــې
دریم کبر په نسبت کېږي هوښیارسه — ټول یوه پلار زېږولي یو پر لار ســـــــــــه
څلرم کبر په حسن و جمال دی — او پنځم په مال او په منـــــــــــــال دی
شـــــپږم کبر په قوت او بازو دی — په هـــــــــرشي که څه بېل که تـــرازو دی
اووم کبر دی په جاه و خادمانو — په مزدور او په مریي په نوکرانـــــــــــــو

(۱۱: ۱۳۹-۱۴۰م).

د احمدشاه بابا پېژندنه

د خپل تحقیق مطابق مو اوسنی بحث په لوی امپراطور او دېوان لرونکي شاعر احمد شاه بابا دی، چې د تورې تر څنګ یې قلم هم چلولی دی او لکه څنګه چې یې په یوه لویه امپراطورۍ واکمني کړې او د یو ټوټې هېواد پولې یې تر ډېرو لرېو پرتو سیمو رسولې، په همدې ډول یې قلم هم له لاسه نه دی غورځولی او په دې برخه کې یې هم تر ډېره حده کار کړی دی، چې موږ به دلته د احمد شاه بابا په سیاسي ژوند خبرې نه کوو؛ ځکه د دې په سیاسي ژوند بې شمېره کتابونه لیکل شوي او زموږ ټول هېوادوال او نړیوال یې له هرې کارنامې او سیاسي اړخ څخه اګاه دي، مګر دلته د احمد شاه بابا په ادبي ژوند رڼا اچوو او په همدې اړخ یې خبرې کوو.

احمد شاه بابا وړاندې تر دې چې واکمني ته ورسېږي مشران یې د قوم مشران و او په وړه کچه حاکمان و؛نو دی له هماغه ماشومتوبه لکه څنګه چې د لوړو کورنیو عادت تر روزنې لاندې نیول شوی او زده کړې ته کېنول شوی و.

بابا د تنکي ځوانۍ پر مهال د قبیلوي رقابتونو له امله د شاه حسین هوتک له لوري هغه وخت زنداني شو چې د خپل ورو ذوالفقار خان سره له فراه څخه کندهار ته راغی، دی شپږ کاله د شاه حسین هوتک په زندان کې و او د ځوانۍ د فکري ودې دا مهمه دوره یې په زندان کې تېره کړه. د احمد شاه بابا د زاندانی کېدو په باب تر ډېر معلومات نشته، خو زما په اند دې دورې احمد شاه بابا ته د یو ښوونځي کار ورکړی دی، تصوف او ادب ته یې چې دواړه فکري تمرکزغواړي همدلته توجه راګرځېدلې وي. احمد شاه بابا د خپلې پاچاهي په لومړیو دوو کلونو کې خپل لومړی دېوان راغونډ او ترتیب کړ.

احمدشاه بابا له تنکۍ ځوانۍ نه تر مړینې پورې پرله پسې شاعري کړې او زیاته ادبي پانګه یې موږ ته راپرېښې ده(۱: خ،د،م).

د احمدشاه بابا شاعري

احمد شاه بابا چې ځینو د خوشحال خان خټک د ادبي مکتب پیرو ګڼلی او ځینو بیا د رحمان بابا لاروی ګڼلی، خو که چېرې د احمد شاه بابا شاعري وګورو؛ نو د نوموړي په اشعارو کې هم د خوشحال خان خټک او د رحمان بابا د شاعري ځینې نښې شته او هم یې په شاعري کې د روښانیانو د ادبي مکتب ځانګړنې لیدل کېږي، هېره دې نه وي چې په اشعارو کې د نوموړي د همعصر پیر محمد کاکړ د سبک رنګ هم شته. په پایله کې ویلی شو چې د احمد شاه بابا شاعري له تصوفي اړخه د رحمان بابا د اغېزې سربېره د روښانیانو له رنګه هم رنګ اخلي. شعر یې د رحمان بابا د شعر له سلاست، او د خوشحال بابا د شعر له

صلابت نه را ټیټ دی او کله کله له فني ګډوډیو، د قافیې له ګڼو عیبونو سره مخامخ، د بحرونو او سېلابونو له کچ او مېچ نه پرېوتی دی.

مګر د شعر یو خوندور اړخ یې د ولسي ادب رنګ دی چې پروت دی، ډېر بیتونه یې او غزلونه یې له تاریخي نارو، غاړو او ماشومانو له سندور سره نږدېوالی لري او ولسي ژبه او ادا ساتي.

په همدې اساس ویلی شو چې احمد شاه بابا د سبک له مخې ځانګړي کړه وړه، جوړښت او پایښت لري چې دا خبره به یې د دېوان د لوستلو پر مهال په ښه توګه محسوس کړای شو او دېوان د منځپانګې په برخه کې به هم پرې وپوهېږو.

د احمد شاه بابا د دېوان ځانګړنې

د احمدشاه بابا دېوان چې سریزه پرې استاد حبیب الله رفیع لیکلې، ترتیب او تدوین یې مومن موحد کړې او په لومړي ځل په (۱۳۷۸) کال چاپ شوی دی.

(د احمدشاه بابا د دېوان ګڼې قلمي نسخې موندل کېږي، موږ د ده د دېوان نسخې په دوو دورو وېشلی شو، یو هغه نسخې دي چې د ده د خپلې واکمنۍ په څلورم کال راغونډې کړي او زیاته برخه یې د ده د ځوانۍ او د پاچاهي تر دورې وړاندې شعرونه دي او دا دېوان بیا بیا نقل شوی دی چې ګڼې نسخې یې راپاتې دي.

د دې دفتر په اکثرو شعرونو کې د نوموړي نوم احمد راغلی دی او یوازې هغه غزلې یې احمد شاه لري چې د شاهي پر وخت یې ویلي دي.

بل د ده د دېوان هغه نسخې دي چې د ده تر مړینې وروسته راغونډې شوې دي او د ده ټوله شاعري پکې خوندي ده، د دېوان د دې بشپړ متن نسخې محدودې او معدودې دي.

د احمدشاه بابا دېوان د لومړي ځل لپاره علامه عبدالحی حبیبي د لوی احمد شاه بابا په نامه له یوې مفصلې او مظبوطې سریزې سره په (۱۳۱۹ ل) کال په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا خپور کړ او دویم ځل په (۱۹٦۳م) کال د پېښور د پښتو اکېډمي له خو په پېښور کې خپور شو چې د پېښور چاپ کې یې یو څه شاعري تر پاتې شوې او یو څه یې له هغه غزلیز دي چې د کابل چاپ نسخه کې نشته.

په هر حال دا چاپ د بابا ټول تر لاسه شوی کلام لري او د دې دواړو چاپي نسخو له مخې تیار شوی دی.

(۱:س ـ ش)

د احمد شاه بابا د دېوان شعري فومونه

د احمد شاه بابا په دېوان کې د فارسي اشعارو په ګډون د پښتو اشعارو هم ګڼ ډولونه شتون لري چې موږ به يې له هر شعري فورم څخه څو بيتونه د نمونې په ډول راوړو.

غزل

د احمدشاه بابا د دېوان شاعري په غزل پيلېږي او په دېوان کې د راغلي يو غزل څو بيتونه يې په لاندې ډول دي چې وايي:

پــه خــوا راغلــه محبوبــا

عجــب ښــکار کــا دلربــا

هــره چــار لــه مکــاری کــا

د عاشـــق خونـــه فنـــا

دا په خپـل حسـن غـره ده

پـــر عاشـــق پروتـــه بـــلا

عـــلاج نـــه لـــرې عاشـــقه

پـرې کـړه سر پـه تېـغ د لا

(۱ : ۳م).

رباعي

د احمد شاه بابا په دېوان کې چې ډېره برخه يې غزلې دي، خو نور شعري فورمونه هم پکې شته چې د غزلو له برخې وروسته يې رباعيات شروع کېږي، په دېوان کې راغلې يوه رباعي په لاندې ډول ده:

چـې پـه خپـل زړګـي زهـير وي الغيـاث

بې تا څوک به يې دستګير وي الغيـاث

بـې لـه تـا چـې امېـد ورتـه پـاتو نسي۔

پـه غريـب بـه سـتا نظـير وي الغيـاث

(۱ : ۴۲۱م).

مربع

په دېوان کې د رباعياتو له برخې وروسته مربع راغلي دي چې يو يې په لاندې ډول ده:

مصطفی يا مصطفی

فرياد رس يا مصطفی

مصطفی یا مصطفی

فریاد رس یا مصطفی

(۱: ۴۳۹م).

مخمس

د احمد شاه بابا په دېوان کې د راغلي یوه مخمس څو بیتونه په لاندې ډول دي:

زړه زمـا کـا چیغارونـه

د بهـار پـه زېـړ گلونـه

که هر څـو لـري خارونـه

سـینه زمـا دي پرهرونـه

رغ بـه نـه کـړم لـه ادبـه

(۱: ۴۴۷م).

الفنامه

په دېوان کې الفنامه هم شته چې څو بیتونه یې په دې ډول دي:

الـــف اســـم د اللـــه ج دی

د همـــه زړونـــو اگـــاه دی

الـف اسـم کـه یـې گـوري

ذات مې خود په خپـل گـواه دی

اســـم صـــفت عیـــان ســـه

لکـــه ارواح د روح پنـــاه دی

صفات له ذات گوښي په دا رنگ

(۱: ۴۵۵م).

د فارسي کلام نمونه

د احمدشاه بابا په دېوان کې پښتو شاعري هم شته چې په دېوان کې د راغلي یوه فارسي غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي چې وایي:

روکـه رویـم میخانـه وطـن ماسـت

گر بیمیرم درینجا عشق کفن ماست

چونکـه اسـلام جـویم میخانـه رویـم

وز نــور ایمــان پــر مــی دهــن ماســت

تــرک وجــود زدیــم از کنگــره عشــق

یــافتم لــوح وجــود عــدم دفــن ماســت

مظهـــر نمانـــد از جلـــوه دو کـــون

دو کون رود عشق سراپرده مکن ماست

(۱: ۴۷۲م).

متفرقات

تر فارسي شاعري وروسته يې په دېوان کې متفرقات راغلي چې د متفرقاتو په برخه کې يې هم په دېوان کې راغلي دوه بيتونه په لاندې ډول دي:

پـه نظـر بـه مـې رقيـب يـوه ذره سي

که دا ستا نيه نظر زه سومه کاميابـه

احمدشاهه وابستگي د دنيـا بـاد ده

د دې بـاد څونـه يـې پالکـه حبابـه

(۱: ۴۷۸م).

پورته مو د هغه شعري فورمونو يادونه له نمونو سره وکړه چې د احمدشاه بابا په دېوان کې شتون درلود، اوس به د احمد شاه بابا دېوان د منځپانګې له اړخه هم وګورو چې څه پکې شتون لري.

د احمد شاه بابا د دېوان منځپانګه

د احمد شاه بابا د شاعري په باب مو وړاندې خبرې وکړې او د نوموړي په شاعري کې مو د ځينو خواو او ځانګړنو يادونه وکړه چې اوس به يې دلته د دېوان له منځپانګې څخه يادونه وکړو، نمونې به يې راوړو او له دې سره به نه يوازې د محتوا له اړخه د احمد شاه بابا په شاعري پوه شو؛ بلکې هغه ځانګړنې به هم پکې په ښه ډول درک کړای شو.

حمد

د دېوان شروع يې په بسم الله الرحمن الرحيم او د څښتن تعالی په حمد سره کېږي چې وايي:

بسـم اللـه الـرحمن الـرحيم زمـا

ده در د زړه پـــه اقلـــيم زمـــا

بسـم اللـه الـرحمن الـرحيم زمـا

ب بـــاور مـــيم در نعـــيم زمـــا

بسـم اللـه الـرحمن الـرحيم زمـا

بسم الله ده د هر ابـر کـريم زمـا

بسـم اللـه الـرحمن الـرحيم زمـا

ده د روح بحـــر عمـــيم زمـــا

(۱ : ۱م).

مينه

د رحمان بابا په دېوان کې د مينې او محبت نمونې هم شته چې په دې باب وايي:

پــه خــوا راغلــه محبوبــا

عجــب ښــکار کــا دلربــا

هـره چـار لـه مکـاری کـا

د عاشـــق خونـــه فنـــا

دا په خپل حسـن غـره ده

پـــر عاشـــق پروتـــه بـــلا

عـــلاج نـــه لـــرې عاشـــقه

پرې کړه سر پـه تېـغ د لا

(۱ : ۳م).

د يار طلب

احمد شاه بابا مينه پالي او يار غواړي چې په لاندې بيتونو کې يې ښه ليدای شو چې بې ياره ټولې چارې هېڅ ګڼي او وايي:

راســـه راســـه مرحبـــا

تــه خدايــه غوښــتې مــا

همېشـــه مـــې يـــادولې

ای زمـــــا د زړه صـــــفا

اراسـته کـه پـه دنيـا يـم

زه يــې څــه کــوم بــې تــا

همېشـــه زاري دعـــا کـــړم

چـې مـې تـل وای دلربـا

(١ : ٦م).

د یار ستاینه

د یار زلفې له مارانو سره تشبه کوي او نور یې هم په ډېرو صفتونو موصف کوي چې وایي:

د یـار زلفـې پیچـان زمـا

گـوره تـور مـاران زمـا

مخـامخ پـه کوڅـه راغلـه

کـږې وروځـې کـمان زمـا

له ښایسته به یې څه وایم

آهـو سـترگې غلطـان زمـا

دا اوس کـه بخـت زمـا

راغلـه لـب وخنـدان زمـا

(١ : ٢٢م).

له گل سره تشبیه

انسان له گل سره تشبیه کوي او عمر یې لږ گڼي لکه چې وایي:

په قدرت دې کړ گـل جـوړ

بیـا پـه لـږ عمـر کـې زوړ

چې چمن په ده ښایسته و

اوس یې باد وړي لکه پـروړ

په کوم صبر دې صـبور کـړ

هغه بلبل چې یې غم خـوړ

په لیدو یې مړه تیانـه سـوه

اوس د یـار غمـو کـړ مـوړ

(١ : ٥٠م).

له غماز شکایت

له غمازه شکایت کوي او په باب یې د شعر په ژبه په لاندې ډول بیان کوي:

کــه پــټ ووایــم څــه راز
کـور دې ورک سي د غـماز
مــا لا حــال ویلــی نــه وي
بیــا د ده پــه خولــه اغــاز
پـه مطلـب یـې نـه پـوهېږم
سریکـــار یـــې دی لـــه از
و دلـــبر تـــه حیرانېـــږم
چې د ده په خولـه کـا سـاز
(١: ٥١م).

بېلتون

وایي کاش چې په دنیا بېلتون نه وای چې زړونه په اور کې نه سوځېدی لکه:

کشـکې نـه وای پـه دنیـا غـم د فـراق
چې ډوب نه وای زړه په دا یم د فراق
یـار پـه مهـر و پـه وفـا نتلـی مـه شـه
کــه نتلــی دی عاشــق غــم د فــراق
د عاشق زړګی به ولـې زخمـي نـه وي
تېرې تورې خوري پـه هـر دم د فـراق
اندېښنې لکه مارونه ترې چـاپیر سي
چې اغزي یې سي په زړه سم د فراق
(١: ٦٦م).

وعظ

واعظ ته په خطاب کې داسې وایي:

تـه چـې وعـظ پـه منـبر کـړې ای واعظـه
منــبر پــه وعــظ معنــبر کــړې ای واعظــه
ســـــتا هـــــم ډېـــــر دي ثوابونـــــه
چـــې ابــلاغ د پیغمــبر کــړې ای واعظــه
د ښـــــو ښـــــې خـــــبرې وایـــــې

نـــاخبره پـــه خـــبر کـــړې ای واعظـــه

د وعـــــــظ تحقيـــــــق دې بويـــــــه

بله نه وي د يوې لم د بلې کړې ای واعظـه

(۱: ۲۱۳م).

د زړونو غلا

د احمد شاه بابا په دېوان کې تر ډېره د مينې خبرې دي، دلته بيا خپلې محبوبې ته په خطاب کې وايي چې زلفې تاووې نو د زړونو ښکار کوې چې وايي:

تـــورې زلفـــې تـــاووې

بيـا دزړونـو غـلا کـوې

زړونه کـاږې لـه گوگلـه

په حسن خلق خپلـوې

تـورې زلفـې زنځيرونـه

عاشـــقان بـــه خپلـــوې

د بـــانو نـــاوکي ولـــې

بيا يـې نـه ملهـم کـوې

(۱: ۳۵۵م).

په همدې ترتيب د احمد شاه بابا په دېوان کې د مينې او بېلتون له سندرو سره سره د تصوف او نورو خواوو بحثونه هم شته چې موږ دلته په همدې پورته کرښو بسنه کوو نور يې نه اوږدو. په دې پسې به د خپل تحقيق مطابق د منځنۍ دورې د بل دېوان لرونکي شاعر په لنډ ډول پېژندنه وکړو او په دېوان او شاعري به يې هم خبرې وکړو.

د پیرمحمد کاکړ پېژندنه

تر دې وړاندې مو د خپلې موضوع مطابق د پښتو ادب د منځنۍ دورې نور دېوان لرونکې شاعران دروپېژندل او لا هم دا لړۍ دوام لري، چې په دې لړ کې اوس وار رارسېدلی د پښتو نومیالي شاعر پیر محمد کاکړ ته، نوموړی هم د منځنۍ دورې دېوان لرونکی شاعر دی چې په لومړي سر کې به یې لنډه پېژندنه وکړو او بیا به یې د موضوع مطابق په نورو اړخونو خبرې وکړو.

(پیر محمد کاکړ د پښتو ژبې او ادب نومیالی شاعر دی، په قوم کاکړ او اصلي ځای یې ږوب چې مخصوص د کاکړ پښتنو د هستوګنې هېواد دی، د پیرمحمد زېږنده هم همدلته شوې ده چې د نوموړي د پلار او نیکه ټاټوبی بلل کېږي.

د پیرمحمد کاکړ د زېږېدو نېټه په یقیني توګه څرګنده نه ده، د اټکل له مخې د ده زېږنده باید د (۱۱۲۰ هـ ق) په حدودو کې وي، ځکه چې نوموړی د احمدشاه بابا همعصر و. د پیرمحمد کاکړ ژوند تر (۱۱۹٦هـ) کال پورې یقیني دی، ځکه چې نوموړي خپل دېوان په همدې کال تمام کړی دی او تر (۱۲۰۳هـ) کال دمخه وفات شوی دی، چې په همدې کال د ده شاګرد ابراهیم خان کاکړ د ده دېوان نقل کړی دی او په خپله خاتمه کې پیرمحمد په داسې صیغه یادوي چې د پیر محمد مرګ ځنې ښه ثابتېږي(۵۵: ۸-۹م).

د پیرمحمد کاکړ شاعري

پیرمحمد چې په ټوله کې یو غمجن او ویرژلی شاعر یې ګڼلی شو، د نوموړي په ټول دېوان کې تر ډېره بریده هېڅ د سرور او خوښۍ بیت نه تر سترګو کېږي او په نشت حساب دي. دېوان یې ټول د بېلتانه له چیغو او سورو ډک دی او د غم ساندې یې ویلي دي. په دېوان کې یې تر ډېره د غم، فراق، د یارانو جدایي، د رقیب سره جګړې او داسې نور موضوعات دي.

د پیرمحمد د دېوان د عمجنې شاعري علت د ده حساسیت ګڼلی شو، نوموړی ځکه ډېر غمجن و چې له هر سړي سره یې خواخوږي کوله او ځان یې د نور په غم شریک ګاڼه. د نوموړي شاعري رحمان بابا او خوشحال دواړو ته ورته ده، خو تر ډېره یې د رحمان بابا په ادبي لار تللی ګڼلی شو، ځکه په شعر یې د نوموړي د اشعارو ډېر تاثیر ښکاري او په اشعارو کې د نوموړي یادونه هم کړې ده. نو که چېرې پیرمحمد کاکړ د جلا سبک خاوند هم وي، نو ادبي سبک یې د رحمان بابا د سبک د روزنې لاندې وده کړې او روزل شوی دی.

د پیرمحمد اشعار ساده او روان دي، ځینې د پښتو نادر لغتونه یې هم په اشعارو کې لیدل کېږي، همدا شان ځینې پښتني اصطلاحات یې هم په اشعارو کې لیدلی شو، د دې تر څنګ یې په شاعري کې ادبي

صنایع هم کارولي دي، او په اشعارو کې نورې ځانګړنې هم شته چې موږ یې د شاعري په هکله په همدې پورته څو کرښو بسنه کوو او ورځو د پیرمحمد د دېوان په نورو برخو بحث کوو.

د پیرمحمد کاکړ د دېوان ځانګړنې

د پیرمحمد کاکړ دېوان چې مدون او مقابله کوونکی یې عبدالروف بېنوا دی او په لومړي ځل په (۱۳۲۵) کال د پښتو ټولنې نشراتو له خوا چاپ شوی دی.

(دا دېوان له دوو بشپړو او یوې نیمګړې نسخې څخه تکمیل شوی دی. لومړی نسخه چې تر دوو نورو نسخو نسبتاً پوره او بشپړه ده، زما د فاضل ملګري او د پښتو ژبې د نومیالي او پیاوړي ادیب او عالم ښاغلي عبدالحی حبیبي په کتب خانې پورې اړه لري، چې دې ښاغلي درې کاله د مخکې ماته د مقابلې او نقل لپاره راکړې وه.

دا نسخه له هغې نسخې څخه استنساخ شوې ده چې د پیرمحمد یو شاګرد په (۱۲۰۳هـ) کال ابراهیم خان کاکړ د نصرالله خان شکر نویس زوی د خپل زوی نور محد جان د پاره په څلوېښتو شپو کې لیکلې وه او دا ناسخ خپله هم شاعر و(۵۵: ۱م).

د دېوان د لومړۍ نسخې په باب مو خبرې وکړې اوس به هم د پیرمحمد د دېوان په سریزه کې د راغلیو هغو څرګندونو څخه هم یادونه وکړو چې د نوموړي د دېوان د دویمې او درېیمې نسخې په باب شوي دي.

(دویمه نسخه هم یوه قلمي نسخه ده چې په شاهي کتابخانه پورې اړه لري، یعنې د دارالتحریر شاهي له کتابونو څخه ده. دا نسخه ښه خوش خطه ده، په کشمیر کې لیکلی شوې ده، مګر اکثره غزلې چې په لومړۍ نسخه کې شته له دې نسخې څخه ورکې او مسلسلې پاڼې یې هم نیمګړې دي، فقط څو بیتونه او څو غزلې لري چې په لومړۍ نسخه کې نشته او هم ځینې کلیمات یې سره فرق لري.

درېیمه نسخه یوه یوه چاپي نیمګړې نسخه ده چې په هند کې چاپ شوې ده، دا نسخه ځکه ناقصه ده چې یوازې د د، و، ه، ی ردیفونه پکې شته، نور ردیفونه نه دي پکې راخیستل شوي او دا درې ردیفونه هم خورا ډېر غلت چاپ شوي دي(۵۵: ۴-۳م).

په دېوان کې ځینې نادر لغات هم راغلي چې اوس یې په ژبه کې استعمال نشته او له استعماله لوېدلي دي.

د پیر محمد کاکړ د دېوان شعري فورمونه

هغه شعري فورمونه چې د پیرمحمد کاکړ په دېوان کې پرې شاعري شوې ده دلته به یې د هر یو یادونه د نمونې په راوړلو سره وکړو.

غزل

د پیرمحمد کاکړ په دیوان کې د اشعارو لومړی برخه غزلې دي چې په دیوان کې د راغلي یوه غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

ساقي راکړه یو ځل بیا د لبو راح

دا شراب دي و بیمارو ته مباح

بیرون نه شي ستا څېره زما له دله

په قندیل کې مې بلېږي تل مصباح

د بلبل په دود غوغا کوم پر گلو

د شبنم په دود وریږم هر صباح

مشورت صلاح امېز د رقیب نه دی

ابلیس کله رضامند وي په صلاح

(دیوان پیر محمد کاکړ:۵۱)

رباعي

تر غزلو وروسته یې د متفرقاتو برخه شروع کېږي چې په دې برخه کې تر ټولو لومړی رباعیات راغلي دي او رباعیات یې هم د الف با په تورو ترتیب شوي دي چې په دیوان کې راغلې یوه رباعي یې په لاندې ډول ده:

غماز تر څو د جفا پېښه کا

سینه مې ولي ریشه

پر فرهاد د غم د شیرنۍ خوږ دی

پر سر به سازه تیره

(۵۵: ۲۰۸م).

ترجیع بند

له رباعیاتو وروسته یې د متفرقاتو په برخه کې په دیوان کې ترکیب بند راغلی چې موږ به یې دلته یو څو بیتونه راوړو:

ستا پر مخ په تورو زلفو زه شیدا یم

صبح و شام په اه فغان و واویلا یم

په فراق کې دې تل خورم د ځیگر وینې

صبر و توان مې بې تا نشته مبتلا یم
نن فلک راباندې تیغ د جورو کیښ
له سر وینو ډک لړمون لکه حنا یم
رقیبان راسره جنګ و جدل کاندي
په دربار کې دې د سپیو مدعا یم
غزاله غوندې وحشي راڅخه مه شه
زه صیاد د وی دیدن په تمنا یم
که شل کاله د ماڼۍ وي له ما یاره
بیګانه مې هنوز ګڼه اشنا یم
له اشنا مه کړه ماڼې بې وفایي ده
چې سېځي مئین بې اوره جدایي ده
(۵۵: ۲۲۷م).

معشر

د پیرمحمد کاکړ په دیوان کې یو معشر هم راغلی چې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي چې وایي:

هجران انبار کړه په ما غمونه
ضعیف نحیف شوم په تن زبونه
اور مې بیا بل شو د زړه په خونه
ګهې ژړا کړم، ګهې اهونه
اوښې مې څاڅي له ځیګر خونه
رنج مې زیاتېږي له دې تاخونه
(۵۵: ۲۳۲م).

مخمس

د پیرمحمد کاکړ په دیوان کې مخمس هم شته چې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

بېلتانه په سرو لمبو یم کړولی
مدام ژړه ګونه ګرځم نښتېځلی
شیرین خواب مې له چشمانو دی وتلی
تر مژګانو مې خوناب دی اورېدلی

د غـم سـيل لـه مـخ يـوړم لکـه خلـی

(۵۵: ۲۳٦م).

فارسي غزل

په دېوان کې د پښتو اشعارو تر څنګ فارسي غزلې هم شتون لري چې په دېوان کې د راغلي يوه فارسي غزل څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

گر تماتشای گلستان در بهارستان خوش است

لیک از سیر گلستان دیدن جانان خـوش است

حیـف باشـد دل کـه خـالی از غـم جانـان بـود

در تمنای وصالش محنـت هجـران خـوش است

مخـــزن خـــاطر تهـــی از عشـــق روی اومبـــاد

مـومنی را در حزینـه گـوهر ایمـان خـوش است

دامــن وصــل لــبش شــوق دلم خواهــد گرفــت

ازبرای شیشه یی می مقدم مهمان خوش است

(۵۵: ۲۳۹م).

د پيرمحمد کاکړ د دېوان منځپانګه

لکه څنګه مو چې مخکې هم يادونه وکړه چې د پيرمحمد کاکړ شاعري تر ډېره د وير، بېلتون او فرق ساندې دي، خو د دې تر څنګ چې هغه نور کوم موضوعات د نوموړي په دېوان کې راغلي دي، دلته به يې د نمونو په راوړلو سره يادونه وکړو.

حمد

د پيرمحمد کاکړ د دېوان پيل هم لکه د نورو زياتو شاعرانو غوندې د څښتن تعالی په حمد سره شروع کېږي او نوموړی د ذوالجلال څښتن حمد په لاندې ډول بيانوي:

پـاک اللـه لـره د کـل حمـد و ثنـاء

چـې جـاري ده پـاس پـر ژبـه د هرچـا

هر وېښته که مـې د حـق پـه ثنـاء راشي

هـېڅ بـه شـکر د نعمـت نـه کـړم ادا

ولـې جهـد پـه قـدر د طاقـت بويـه

چـــې بنـــده دی هـــم ثنـــاء لـــره پیـــدا
ذات صفات دی حق همه واړه قدیم دی
نـــور همـــه واړه حـــادث مـــا ســـوا
(۵۵: ۲۷م).

دعا

له الله ج څخه د حمد او د ثناء توفیق غواړي او وايي:

الهـــي توفیـــق د حمـــد و د ثنـــاء را
پـه ثنـاء کـې تـر بلبـل ژبـه گویـا را
چې قفس غوندې پر ځای باند ایرې شم
ســوز گــداز د محبــت هســې و مــا را
گهـي خـوف گهـي رجـا زمـا پېشـه کـړه
گهـــي مـــا وتـــه ژړا گهـــي خنـــدا را
په دنیا کې چې رحمت د کل عـالم دی
په عقبی کې هم هغـه رسـول پېشـوا را
(۵۵: ۲۷م).

نعت

په دېوان کې د رسول الله ص ستاینه راغلې او د هغه مبارک ص په باب وايي:

اول نـــور کـــه د رســـول نـــه وای پیـــدا
روښـنایي بـه یـې پیـدا نـه وه پـر دنیـا
تـل صـلوه پـر محمـد پـه اخـلاص وایـه
ائینـــه کـــړه د خـــاطر پـــر مصـــفا
پـــه ظـــاهر محمـــد خـــتم النبـــین دی
پـــه معنـــی کـــې مقـــدم دی تـــر هرچـــا
امېـدوار یـې ه دربـار نـا امېـد نـه ځـي
محمـــد کـــان دی د جـــودو د ســـخا
(۵۵: ۲۸م).

د اصحابو کرامو په باب

د اصحابو کرامو په باب په لاندې ډول د شعر په ژبه وايي:

کـل اصـحاب د محمـد دي لکـه سـتوري هويـدا
اقتـدا چـې پسـې وکـړي هغـه مـومي اهتـدا
کـه انصـار مهـاجرين و پاسـبانان د ده د ديـن و
صـبح شـام کمـر بسـته وو د کـافروا پـه غـزا
غرق د حق په محبت وو مخلصان هم د حضرت وو
پـر رضـا د حـق وه ايښـې دوی مـدام خپلـه رضـا
ډېر افضل پکې صديق و چې کامل د ده تصـديق و
و رسـول تـه تـر سرتېـر و، هـم و تېـر تـر ماسـوا

(۵۵: ۲۹م).

ښه ياران

د ښو يارانو په باب داسې وايي چې ښه ياران هغه دي چې ښې لارې ته دې راوبلي او ستا د عقبی غم ورسره وي چې د شعر په ژبه په دې باب داسې وايي:

چې غمخوار دې د عقبی وي هغه يـار دی
پېوفـا دي نـور يـاران د دې دنيـا
په ښادی يې ولې ښاد په غـم غمجـن يـې
چـې تېرېـږي سـود و زيـان د دې دنيـا
اقامـت پـر منـزل مـه کـوه نادانـه
دم پـه دم لېـږدي کـاروان د دې دنيـا
عاقبـت بـه همگـي در پـورې اور شي
دا تـازه بـاغو بوسـتان د دې دنيـا

(۵۵: ۳۲م).

نازکخيالي

په دېوان کې ځينې داسې اشعار هم شته چې نازکخيالي پکې ده چې په همدې ډول د يو غزل څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

مـــاوې خولـــه راکـــړه بتـــا

ده وې چـــپ شـــه بـــې حيـــا

ما وې ستا خوله مـې دارو ده

ده وې درد مـــــه کـــــړه دوا

مـــاوې يـــو نظـــر خـــو بويـــه

ده وې نـــه ښـــېندم کېميـــا

مـــاوې زلفـــې پـــه لاس راکـــړه

ده وې هـــــی توبـــه لـــه تـــا

(۵۵: ۳۳م).

بېلتون

له بېلتونه سر ټکوي او داسې وايي:

خوارو زار هسې فراق کړم د خپـل يـار

چې اوس زړه راباندې سوځي د اغيـار

پر بـاړخو مـې تـل د اوښـو بـاران اوري

تـــور لېمـــه مـــې شـــوه اوره د نوبهـــار

ظـاهر بـين راتـه نسـبت کـوي د کفـر

پـر گـردان مـې تـار د زلفـو دی زنـار

گرد غبار يـې د کـوڅې پـه بـانو اخلـم

زه خاکسار به يې خاکروب يم د دربـار

(۵۵: ۵۸م).

بخل

وايي که بخيل ته ډېر زيات سيم و زر هم په لاس ورشي نو هغه به پکې د سکون څښتن نه شي چې وايي:

و خيـــل تـــه کـــه خـــرمن شي ســـيم و زر

چـې نفـاق يـې نکـړي خـاورې يـې پـه سر

مرغوب مال به کل و ده و ته سـور اور شي

چـــې تـــور مـــخ ورڅخـــه وکانـــدي ســـفر

هر سخي به د نبي ص د حوض ساقي وي

پـــر بخيـــل قـــدح حـــرام دی د کـــوثر

بيا عجـب کـه بخيـل بـوی د جنـت مـومي

کـه هـر ځـو وي ډېـر زاهـد د بحـرو بـر

(٥٥: ٦٨م).

د يار ستاينه

د يار ستاينه کوي او د صفاتو تر څنګ يې د ښکلا تاثير داسې بيانوي:

خـماري سـترګې د يـار مـلال کاتـه کـا پـه نـاز

تـر زړه مـې کـاږي هـردم د ښـو غشيـ دراز

زه پـه هجـران کـې رقـص ورتـه لـه شـوقه وهـم

چې موافق پر رباب مطربان د ښـو عشيـ دراز

حسن د کښليو تنهـا نـه شي منظـور د خـاطر

د يار پر خـوی مئـين يـم لکـه محمـود پـر ايـاز

پر ما غريب يې هرګز دلسوزي نه شي څه کړم

کـــه اه فغـــان ژړا کـــړم و دلربـــا تـــه اغـــاز

(٥٥: ٧١م).

نصيحت

خپل نفس ته د وعظ او نصحت په دود په لاندې ډول وايي:

راشه نفسه څو وينا د حکمت واخلـه

د ســعادت د پــاره نصــحت واخلــه

که مطلـب دې وي غنـا د دواړو کونـو

تـر هرڅـه اول د علـم لـذت واخلـه

(٥٥: ١٤٦م).

په پورته ډول د پيرمحمد کاکړ په ديوان کې نور هم ځينې موضوعات شته، د وير او غم سندرې هم په ديوان کې ډېرې دي، چې موږ يې په لويه کې د ځينو موضوعاتو يادونه وکړه او که غواړئ چې د پيرمحمد کاکړ شاعري په پوره ډول مطالعه کړئ او په هر اړخيز ډول يې ولولې؛ نو ديوان ته يې مراجعه وکړئ، دلته مو هم د پيرمحمد کاکړ په باب يو څه تنده خړوبېدلی شي. که موږ دلته له دې هم ډېر بحث پرې وکړو؛ نو بيا به د موضوع له حدودو تېری وي، په همدې اساس د پيرمحمد کاکړ بحث په همدې ځای پای ته رسوو.

د شمس الدین کاکړ پېژندنه

تر شمس الدین دمخه مو د منځنۍ دورې بل شاعر په باب خبرې وکړې او د نوموړي په دېوان مو څېړنه تر سره کړه، اوس به د منځنۍ دورې دېوان لرونکي شاعر شمس الدین کاکړ په هکله خبرې وکړو.

لومړی به د شمس الدین د پېژندنې په باب یو څه خبرې وکړو او تر هغه وروسته به یې د دېوان او نورو خواوو په باب تر خپلې وسې او د موضوع د حدودو په نظر کې نیولو سره بحث وکړو.

که څه هم د شمس الدین د ژوند او مړینې په باب دقیق معلومات زموږ په لاس کې نشته او نه هم په کوم اثر کې په دقیق ډول راوړل شوي دي، خو د نوموړي په دېوان کې په لاندې ډول خبرې راغلي دي.(د ده له وینا څخه داسې ښکاري چې شمس الدین اصلاً کاکړ او د کندهار په کلچ اباد کې اوسېده. د ژوند سختې یې تر دې مجبوروي چې هېواد او کلی پرېږدي او د هندوستان په لور خوځېږي، د یار مینه یې هم په کراره نه پرېږدي او د عمر په وروستیو کې بېرته هېواد ته راځي. د نوموړي د زېږېدو او مړینې په باب ښاغلی رښتین صاحب په تخمیني ډول د ده زوکړه تر (۱۱۸۰ هـ) وروسته ګڼي (٥٦: ۳-۴م).

د شمس الدین په باب نور معلومات زموږ په لاس کې نشته او نه یې په اړه نور پوهېږو.

د شمش الدین کاکړ شاعري

د شمس الدین له دېوان څخه داسې معلومېږي چې نوموړی لوی عالم او پوی شخص و، د دېوان په اشعارو کې نغښتې ده او په هره برخه کې د خپل قلم نیلی ځغلولی دی، لکه فلسفه، اخلاق، تصوف، تربیوي او داسې نور افکار په ښه ډول لیدلی شو. هېره دې نه وي چې شمس الدین په ادبي فنونو کې هم لاس درلود، د نوموړي په کلام کې بېلابېل ادبي صنایع لیدل کېږي او په کلام کې استعمال شوي دي.

په همدې ډول یې شاعري هم د اشعارو په مختلفو صنفونو کې کړې چې د دېوان د شعري فورمونو په برخه کې به یې له هر یو څخه د نمونې په راوړلو سره یادونه وکړو. اشعار یې په کلي ډول عشقي رنګ لري، په همدې اساس یې د پیرمحمد کاکړ د سبک پیرو بولي او د نوموړي د ادبي لار ملګری یې ګڼي، خو که اشعارو ته یې وګورو؛ نو د رحمان بابا، حمید مومند او نورو رنګ هم پکې ښکاري، یعنې داسې ویلی شو چې نوموړي په خپلو اشعارو کې د ټولو سبکونو څخه استفاده کړې او په کلي توګه د پیرمحمد کاکړ پیرو دی.

لکه څنګه مو چې مخکې هم یادونه وکړه د نورو اړخونو سره سره یې د ټولنې نیمګړتیاوې او ستونزې هم له پامه نه دي غورځولي او د ټولنې اخلاقي او اجتماعي ژوند یې هم په اشعارو کې منعکس کېږي او په همدې ډول نورې خواوې هم څېړي چې د دېوان د منځپانګې په برخه کې به دا هرڅه په اثبات ورسېږي.

د شمس الدين کاکړ د دېوان ځانګړنې

د شمس الدين دېوان چې د پښتو ټولنې له لوري يې دويم چاپ په (١٣٨٥هـ) کال چاپ شوی دی، په دېوان کې يې د اشعارو برخه شروع شوې او د نوموړي د ژوند، شاعري او نورو اړخونو په باب خبرې يې د دېوان په وروستي برخه کې راغلي دي. په دېوان کې د غزل په شمول نور شعري فورمونه هم راغلي دي چې د شعري فورمونو په برخه کې مو ترې يادونه وکړه. په همدې ډول په دېوان کې داسې ويل شوي دي.

(دا دېوان يوه بله برخه هم لري چې تر دغې برخې يې شعرونه ډېر دي. شمس الدين يو بل کتاب سراج الموتی په نوم پښتو کې دی. شمس الدين په فقه، تفسير او احاديثو کې د لوړ مقام څښتن و(٥٦: ٥-٤م).

پورته مو د شمس الدين د دېوان په باب يو څو خبرې وکړې تر دې وروسته به يې د دېوان په شعري فورمونو خبرې و کړو او په همدې ډول به خپل بحث ته دوام ورکړو.

د شمس الدين کاکړ د دېوان شعري فورمونه

د شمس الدين کاکړ په دېوان کې د غزل په شمول ډېرى شعري فورمونه شته چې موږ به يې دلته د ټولو يادونه د نمونو په راوړلو سره ذکر کړو.

غزل

د شمس الدين په دېوان کې لومړی د غزلو برخه شروع کېږي او د نورې شاعري په نسبت يې په دېوان کې غزلونه ډېر دي او ياد شعري فورم يې ډېر پاللی دی، چې په دېوان کې د راغلي يوه غزل څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

که له غمه يې تېرې تورې پر سر خورم
خدای دې نه کا چې له ياره به هدر خورم
ده په نيمه ګړی غم زما ونه خوږ
زه په درست غمر کې وينې د ځيګر خورم
تريخ حنظل چې يې له لاسه په نياز مومم
ګويا عين جوړ سپين کړی نې شکر خورم
د هجران فاسده وينه کمه نه شوه
په هر رنګ کې يې د تېز باڼو خنجر خورم

(٥٦: ١٢٨م).

څلوریزه

د شمس الدین کاکړ د دېوان د اشعارو دویمه برخه څلوریزې دي او په دېوان کې یې څلوریزې هم د الف با په ترتیب راغلي دي چې په دېوان کې راغلې یوه څلوریزه یې په لاندې ډول ده:

چا چې لیدلی مخ لکه لمر ستا

هغه پراته دي مدام پر در ستا

زړه یې په مثل قبله نمای شو

ورته قبله شو د کوڅې در ستا

(٥٦: ٢٤٦م).

مخمس

په دېوان کې یې مخمس هم شته چې موږ به یې دلته د یو مخمس له څو بیتونو څخه یادونه وکړو چې وایي:

برایي شپه مې څه خوب لیدلی

چې افتاب وي د مغربه راختلی

برابر مې په کوټه ننوتلی

د دې خوب په تعبیر زه یم پوهېدلی

ژر به راشي هغه یار په سفر تللی

(٥٦: ٢٦١م).

مسدس

له مخمسونو څخه وروسته یې په دېوان کې یو مسدس راغلی چې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

وخت د سهار دی مرغن چغېږي

جرس اواز کا زړه مې لړزېږي

سترګې مې غورځي باڼه پیږي

اثر د غم دی را معلومېږي

کوم بد خبر به را رسېږي

د یار د تللو خبرې کېږي

(٥٦: ٢٦٤م).

مثمن

په دېوان کې يې تر مسدس وروسته اتييز راغلی چې د ياد اتييژ څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

يـار چـې لاړ زمـا لـه څنگـه تېـغ زمـا پـه لړمانـه لاړ

غـم يـې پرېښـود وماتـه دی خوشـحاله مسـتانه لاړ

ښيښه تشه جام نسکور شو مـی سره لـه پيمانـه لاړ

د وصال مجلس مې مات شو هم مطرب هم ترانه لاړ

څـوک چـې اهـل د مجلـس وو همـه واړه پـه مانـه لاړ

دا څـه حـق د يـاری نـه دی پسـې روح د زمانـه لاړ

(٥٦: ٢٦٦م).

معشر

د شمس الدين په دېوان کې يو لسيز هم شته چې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

که څوک واوري دا زمـا د حـال بيـان

سراسره بـــه مـــې شي ورعيـــان

غرق به شې د غم پـه فکـر يـو زمـان

سر بـه وپيچـي د نجـب پـه گرېـوان

په انـدوه بـه لکـه شـمع شي گريـان

د حيرت گوته بـه نيسي پـر دنـدان

هر ساعت به کړې زما پر حال ارمان

نـور بـه نـه کـا ملامـت زمـا پـر ځـان

له دې غمه کـه ژړا کـوم گـرم نـه يـم

کـه فريـاد و واوېـلا کـوم گـرم نـه يـم

(٥٦: ٢٧١م).

د شمس الدين کاکړ د ديوان منځپانگه

د شمس الدين دېوان چې په شاعري وړاندې وغرېدو اوس به يې د اشعارو منځپانگه وڅېړو او هغه موضوعات چې د نوموړي په شاعري کې راغلي د ځينو بيتونو په راوړلو سره شرحه کړو.

حمد

د دیوان پیل د څښتن تعالی په حمد او ثناء سره کېږي چې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي لکه چې وایي:

ربه ستا په حمد گویا لرې زبان زما
ښایسته کړې په ثناء صفت بیان زما
په تحمید مې ائینه د زړه صقیل کړه
گوندې مخ پکې څرگند شي د جانان زما
چه لاله غوندې برباد کړم ځان له شوقه
کېږده داغ د محبت پر دل و جان زما
سوز گداز د مینې غواړم لکه شمع
که تر سر خېژي ماغزه د استخوان زما

(٥٦: ١م).

نعت

له حمد او د څښتن تعالی له ثناء وروسته یې په دېوان کې نعت شریف راغلی او د حضرت رسول اکرم ص ستاینه او صفت کې وایي:

پس له حمده احمدا صلو اعلیک دائما
وایمه له صدقه له صفا صلو اعلیک دائما
ستا وجود نه و پرفرش، نوم دې کښلی و پر عرش
پر نزول د هل اتی صلو اعلیک دائما
ستا و پښو ته شرنگون هم په دا سبب گردون
چې قدم کېږده په ما صلو اعلیک دائما
کوم نبي دا ستا تر ځایه رسېدلی دی تر خدایه
قاب قوسین او ادنی صلو اعلیک دائما

(٥٦: ٨م).

مینه

اشعارو کې یې اکثره د مینې او محبت سندرې دي چې په دې باب یې په دېوان کې راغلي څو بیتونه په لاندې ډول دي:

زړه مې مینه بې له یاره پر بل نه کا
ماسوا د یار له مخه بل گل نه کا

شـپه او ورځ و عـادتي د يـار پـه وصـل
په هجران کې اوس يو دم تحمـل نـه کـا
زه به خلاصه هرګز خوله په خندا نه کړم
څو يې خلاصـه سـبا تـار د کاکـل نـه کـا
پټه خوله دې پروا نـه سـوځي پـه شـمع
خاموشي د ګل په کـار کـې بلبـل نـه کـا
(٥٦: ١٩م).

له عشقه شکايت

له عشق سر ټکوي او وايي چې سر و مال مې د عشق په لار کې وبايلل خو بيا هم راڅخه يار راضي نه شو لکه چې وايي:

سر و مال مې ولاړ پـه عشـق کـې ائـين هـم لا
نشـو خـوښ را څخـه هغـه بـې ديـن هـم لا
لکه مار پـه سـنګ ريـرزو دې نـيم کشـته کـړم
بيـا مـې اړوي پـر تـورو پـه سـپيين هـم لا
ملاقـات مـې نشيـ سـتا لـه سرو قـده
د چنبيل په څېـر کـه ځـان کـړم کمـين هـم لا
لکـه تـه چـې خـود بينـي او خـود رائي کـړې
ائينـه دا هسـې نـه ده خـودبين هـو لا
(٥٦: ٢٠م).

قوم

قوم پالنه يې هم په اشعارو کې انعکاس کوي او الله ج ته سوال کوي چې پر پښتنو رحم وکړي او ته ورته نظر وکړي لکه چې وايي:

ربـه تـه پـه سر د پښـتلنه وکـړې نظـر
پـه عـزت دې وه د خپـل خيرالبشرـ
د اسـلام غـيرت يـې هسـې لـه زړه ووت
د کـافر لـه لاسـه ګـرزي دربـدر
قـراري يـې پـه دا شـان کـړې سره جمـع

چـــې يـــو ځلـــه سره شي شـــيرو شـــکر
اتفـاق او صـلاحيت يـې کـور پـه کـور کـړې
چـــې بـــه يـــو لـــه بلـــه بـــولي بـــرادر
(٥٦: ٧٢م).

بېلتون

د هجران غمونه ډېر ګڼي او وايي که څوک د هجران غمونه لږ ګڼي نو هغوی ته د بيابان شګې هم کمې دي چې وايي:

که به څوک شـمېري غمونـه د هجـران لـږ
د هغـــو پـــه نظـــر شـــګې د بيابـــان لـــږ
بې له دې چـې يـې غمونـه را پـه شـا کـړل
را معلـــوم نشـــو بـــل خـــير د جانـــان لـــږ
يـــا زمـــا پـــه يـــار کـــې مهـــر و وفـــا نشـــته
يـــا دا رســـم د وفـــا دی پـــر جهـــان لـــږ
يـو پـه سـله دې شـکران د نعمـت کانـدي
څوک چې ووينې له چا څخـه احسـان لـږ
(٥٦: ٨٢م).

وصال

د يار وصال نعمت ګڼي او وايي چې په تېر وخت پسې ارمان راځي، د دې موضوع په اړه په لاندې بيتونو کې لوستلی شو:

د وصـــال نعمـــت مـــې نـــه مونـــد بـــې تـــلاش
پـــرې کـــوم ځکـــه د خپلـــو غمـــو اش
يـــو ســـاعت مـــې فراغـــت د يـــار ونـــه کـــړ
بېلتانـــه راباانـــدې تـــريخ کـــړ خـــوږ معـــاش
سر زمـــا د يـــار پـــه لاس سره ښـــاد نـــه شـــو
هـــر غـــم لاس ورپـــورې نيسي ـ لکـــه قـــلاش
چې مې واغوست شين لباس له سـبزه خطـه

د غمونـو پـه چـچ کـې رغـړم لکـه مـاش

(٥٦: ٨٧م).

په غم خوښي

د يار د عاشقي په غم کې ځان خوښ بولي او وايي چې د يار غم داسې دی زما لپاره لکه د باشاهي تاج:

هسې يم په درد و غـم کـې د جانـان خـوښ

لکه وي په تـاج و تخـت سره شـاهان خـوښ

و هـر چـا و تـه يـې خپـل وطـن کشـمير کړ

ځکـه زه يـم همېشـه پـر خراسـان خـوښ

و دا خپلـــې يـــو مېـــدۍ تـــه امېـــد کـــړم

تل په شپه پسې راځي صباح خندان خوښ

ائينـــه غونـــدې مـــې روی وريانـــه زده

هر ساعت مې نوی نـوی دی مهـمان خـوښ

(٥٦: ٨٩م).

د فلک په باب

د فلک په باب په لاندې ډول د شعر په ژبه غږېږي:

دا فلـک چـې لـه مـا نـه کـا ان و ايـن

مگـــر نـــه يـــې دی وتلـــی د زړه کـــين

د سـهيل پرتـوی زمـا پـر خـاطر پريـووت

جميعـــت يـــې زمـــا ورکـــړ و پـــروين

(٥٦: ١٥٧م).

د زمانې په باب

د زمانې په باب هم په خپل اند د شعر په ژبه په دې ډول راغږېږي:

شـــوه عجبـــه زمانـــه د تماشـــو

چې يې ښـې خـانوادي کـړی شـو پشـو

په مجلس کـې دانايـان وينـم خاموشـه

هـر کـم اصـل و نـادان گـډ پـه ورشـو

(٥٦: ١٦١م).

پورته مو د شمس الدین په دېوان د خپلې موضوع د عنوانونو او حدودو په نظر کې نیولو سره بحث وکړ او یاده برخه مو هم وسپړله اوس به تر دې ورسته د بل دېوان لرونکي شاعر او دېوان په باب خبرې وکړو.

د عبدالرحیم هوتک پېژندنه

عبدالرحیم هوتک د منځنۍ دورې دېوان لرونکی شاعر دی، چې دلته به یې پر پېژندنه او د دېوان پر ځانګړنو وغږېږو.

(عبدالرحیم هوتک د اتو ملیزې زوی او د ملک سلطان لمسی دی، پلرنی ټاټوبی یې د کلات د سیوري ښه بولان دی. د مهاجرتنامې له مخې د عبدالرحیم هوتک کورنۍ پر کندهار باندې د نادر افشار تر تاړاک ډېره وړاندې له هېواده وتلې ده او په هغه وخت کې چې شاه حسین هوتک د پاچاهي پر تخت ناست دی، عبدالرحیم هوتک په بخارا کې د پردیسي په لمبو سوځي او د سهار باد ته د خپلو دوستانو او کور و کلي و ښار په یاد فراقیات او سلامونه خپل ټاټوبي کندهار ته لېږي.

د مهاجرتنامې د روایاتو له مخې ښاغلی حبیب الله رفیع د عبدالرحیم هوتک په باب وایي: عبدالرحیم هوتک به د (۱۱۰۰ هـ ق) کال شاوخوا زېږېدلی او (۱۱۱۰ هـ ق) کال شاوخوا کې به د یو لړ پېښو، شخړو او دښمنیو له کبله چې په مهاجرتنامه کې تته اشاره ورته کوي، له هېواده ایران ته په تلو مجبور شوی وي، تر (۱۱۲۰هـ ق) کال وروسته به بخارا ته تللی وي او هلته یې د ده د وینا له مخې تر اویا کلنۍ پورې ژوند یقیني دی او اټکل کېږي چې تر (۱۱۸۰هـ ق) کال وروسته به هورې وفات شوی وي (۷٦: ۱۸م).

د عبدالرحیم هوتک د پېژندنې او ژوند په باب ټول معلومات په تخمیني ډول دي چې په همدې پورته کرښو بسنه کوو، اوس د موضوع نورې برخې راسپړو.

د عبدالرحیم هوتک شاعري

د عبدالرحیم هوتک د شاعري په باب یې د دېوان په سریزه کې په لاندې ډول راغلي دي:

(اروابناد علامه عبدالحی حبیبي د عبدالرحیم هوتک د شاعري په باب کاږي: عبدالرحیم هوتک په پښتو شاعري کې د رحمان بابا د مکتب یو رکن دی، چې طرف دار د ساده ویلو دی، په کلام کې یې هېڅ تکلف نشته، عبدالرحیم یو خوږ ژبی وینا مقتدر شاعر دی. د نوموړي د شعر ژبه خورا سلیسه او روانه ده، هېڅکله له دایرې څخه نه وځي، د عبدالرحیم غزلیات لکه په فارسي کې د حافظ دغسې خواږه، روان او له سلاسته ډک دي.

عبدالرحیم په اصل کې د وطن د علمي خلکو له جملې څخه و، غالباً نوموړي د وخت متداوله علوم لکه فقه، تفسیر، صرف و نحو، فلسفه، منطق ویلي و، د ده په شعر کې د دغو علومو قوت او متانت له ورایه ښکاره دی(٧٦: ٢٤م).

په اشعارو کې نورې خواوې هم څېړلي دي لکه عشقي شاعري هم لري، اجتماعي خواوې هم په شاعري کې څېړل شوي دي. د وطن محبت یې شعر ته خاص رنګ وربخښلی دی. د عبدالرحیم د شاعري ټولې خواوې او ځانګړنې به د اشعارو د منځپانګې په برخه کې وګورو، نو د شاعري په باب یې په دې ځای کې په همدې پورته کرښو بسنه وکړو او لاهم د نورو برخو په باب خبرې کوو.

د عبدالرحیم هوتک د دېوان ځانګړنې

د عبدالرحیم هوتک دېوان چې سریزه، اوډنه او کتنه یې محمدصادق ژړک کړې، په (١٣٩١ ل) کال د دانش خپرندویې ټولنې له خوا چاپ شوی دی، د نوموړي دېوان قلمي نسخه چې په سریزه کې یې یادونه شوې، لږ څه نیمګړې ده او یو څو پاڼې یې ضایع شوي دي.

په دې دېوان د ښاغلي صادق ژړک له خوا په (٥٢) مخونو کې یوه لویه او هر اړخیزه سریزه لیکل شوې ده، چې د عبدالرحیم هوتک په باب له ځان سره د نوموړي په هرې خوا خبرې لري، تر سریزې وروسته د دېوان د اشعارو برخه شروع کېږي چې د شاعري لومړۍ برخه یې غزلې دي او د دېوان پیل یې په غزل سره کېږي، تر غزلو وروسته یې د نوموړي د بلې قلمي نسخې چې مهاجرتنامه ده او د حبیب الله رفیع له لوري پښتوته ژباړل شوې پښتو او دري متن راغلی دی، تر دې وروسته یې په دېوان کې د لغاتو برخه راغلې او په همدې سره یاد دېوان پای ته رسېدلی دی.

د عبدالرحیم هوتک د دېوان شعري فورمونه

دا چې زموږ بحث د عبدالرحیم هوتک په دېوان دی، نو په همدې اساس دلته د دېوان له هغه شعري فورمونو څخه یادونه کوو چې په دېوان کې راغلي دي.

غزل

د عبدالرحیم هوتک په دېوان کې تر ډېره د غزل په فورم کې شاعري شوې او د دېوان په اخر کې د مهاجرتنامې تر عنوان لاندې نوره شاعري چې حبیب الله رفیع یې پښتو ژباړه او په دېوان کې پښتو او دري دواړو یادونه شوې، موږ به یې نمونې راوړو، خو لومړی راځو د نوموړي د غزل بېلګې ته او څو بیتونه یې راوړو چې وایي:

که شـها زلفـې لـه خیالـه پـه شـانه کـه
ورپـــوهېږم کـــل عـــالم بـــه دېـــوان کـــه
کـه سـاقي سرپـوخ د خـم لـه سره واخـلي
د جهـــان رنـــدان بـــه ټولـــه مســـتانه کـــه
زاهـــدان کـــه پـــه لـــذت د مـــی خـــبر سي
پـه یقـین بـه خپـل وطـن دوی میخانـه کـه
بت پرست که ستا لـه حسـنه خـبردار شي
پـه هغـه سـاعت بـه ماتـه بـت خـان کـه
(٧٦: ١٨٣م).

مهاجرتنامه

په دېوان کې له غزلو وروسته د مهاجرتنامې برخه راغلې چې په یاده برخه کې هم شاعري راغلې ده او حبیب الله رفیع پښتو ته ژباړلې ده چې په دېوان کې پښتو او دري دواړه راغلي دي چې دلته به یې له دواړو څخه نمونې راوړو.

فارسي بېلګه:

ایـــا بـــاد صـــبا ارزوی یـــاری
بـــه شـــهر قنـــدهار ارو گـــدازی
»»»
گذر کـن سـوی انشـهر پـر انـدوه
که ان شهریست اندر دامن کـوه
»»»
در ان منـزل بـود کوهـان بسـیار
که دارد دیده ام از رشک ان خار
(٧٦: ٣٠٣م).

د عبدالرحیم هوتک د دېوان منځپانګه

عبدالرحیم هوتک په مختلفو برخو کې شاعري کړې ده، چې دلته به یې د نمونې لپاره د ځینو برخو یادونه وکړو:

د زاهد او رند په باب لاندې څو بیتونه وګورئ:

زاهــدانو غونــدې مــه کېنــه کریــاب
جرعه نوش کړه پـه لاس ونیسـه ربـاب
که ته غواړې چې یار ووینې پـه سـترګو
حیواناتو غوندې مه کړه خـور د خـواب

(٧٦: ٦٠م).

له رباب سره مینه

د عبدالرحیم له اشعارو څخه معلومېږي چې نوموړي له شاعري سره سره له موسیقي سره هم مینه لري لکه چې د رباب په باب وایي:

تـل مـې ایښـی پـر سـینه بانـدې ربـاب
زړه مـې نـه سي چـې یـې واچـوم کریـاب
د خوبـانو خیـال مـې نـه ځـی لـه خـاطره
ځکـه سـترګې مـې لمـدې مـدام پـه اب
د اشــنا مــخ مــې همــېش مــد نظــر دی
که بې هوشه که بیدار یـم کـه پـه خـواب
چې یو دم راڅخـه بېـل سي فکـر دا کـړم
که یار راغی حال به ټول کـړم ور حسـاب

(٧٦: ٦٣م).

سالک

په دېوان کې د سالک په باب هم غږېدلی او په دې باب یې د شعر په ژبه په لاندې ډول ویلي دي:

سـالکان بـې ذکـر، فکـر بـل کـار نـه کـه
بې له خدایـه محبـت پـر بـل یـار نـه کـه
په توحیـد کـې سره تللي مسـتغرق وي
یو ساعت د شـاه بـې دیـده قـرار نـه کـه
پــر مقــام د اســتغنا مــدام ولاړ وي
التفـات دوی د دنیـا پـر بـازار نـه کـه

(٧٦: ١٨٤م).

مینه

وايي چې مینه مې په یار باندې پیدا شوه نورې مینې مې په زړه کې ناروا شوې، د شعر په ژبه په لاندې ډول غږېږي:

چې زما مینه پر یـار بانـدې پیـدا شـوه
بلـه مینـه مـې پـه زړه کـې نـاروا شـوه
زه چـې تـل تـر تلـه زېـړه گونـه گـرځم
نادیـده مـې لـه اشـنا سره سـودا شـوه
زاهدانو راسـئ پـوره پیالـه نـوش کـړئ
لا ترڅو ستاسې هـنر ورد و دعـا شـوه
د لیلا له غمـه شـهر مجنـون پرېښـود
سریکار یې له وحوشه پر صـحرا شـوه

(٧٦: ١٨٧م).

یار ته

وايي چې د یار مخ ته کاته کوې؛ نو سوزه او بریان کېږه چې د شعر په ژبه یې داسې بیانوي:

همېشـه د یـار و مـخ تـه حـیران اوسـه
بیا د عشق په لنبو سـوی بریـان اوسـه
یـو سـاعت قـراري مـه کـوه پـر زمکـه
د اشــنا پــه محبــت سرگــردان اوســه
که ته غواړې چې عالم د تا نېکخواسي
پر فایده د بل د ځان پـه نقصـان اوسـه
هسې مه کړه چې په گرانه به ما پلورې
که ثواب کړې د هر شي په ارزان اوسـه

(٧٦: ١٩٠م).

د اشنا مینه

د اشنا مینه یې هم په اشعارو کې خپله ځلا راڅرگنده کړې ده او په همدې باب یې په لاندې ډول ویلي دي:

چې مې فرض کړه په خپل ځان د اشنا مینه
شب و روز مې سو خوراک د زړګي وینه
کله ناست په زړه کې حکم بادشاهي کړم
کله وي چې زړه مې خاورې ایرې سینه
کله بیا خندا هوس کوم عالمه
کله زېړه ګونه پروت اوښې مې ځینه
د دلبر په دیدن هسې تازه کېږم
لکه څوک چې په باغ ګډ ګل پرې کوینه
(٧٦: ٢٠٨م).

وايي د يار مخ مې نه هېرېږي او د دواړو سترګو نه اوښکې له شمعې سره تشبيه کوي چې وايي:

د یار مخ مې له خاطره نه هېرېږي
دواړه سترګې یې ډیوې راته بلېږي
چې د یار په خوږه مینه ګرفتار وي
ځان یې هېر وي بل شی کله وریادېږي
د وصال په شپه شفق وي سپېدې داغ سي
د هجران شپه یې قیامت سي نه تېرېږي
د عاشق چې یار و مخ ته مخامخ وي
دواړه سترګې یې په خواب کله پټېږي
(٧٦: ٢٢٩م).

د بېلتون له لاسه وايي په سينه کې مې اور بلېږي لکه:

په سینه کې مې دننه اور بلېږي
ځکه تل مې د فراق اوښې بهېږي
د مجلس یاران مې ولاړ بیا به رانسي
سوم یواځې زړه مې دوه ټوکره کېږي
چې یوسف غوندې پسر ځنې پنهان سو
د یقوب اوښې به څرنګه درېږي
هغه زړه چې خدای د عشق په لنبو وسو

که دې یخ اوبه پر تویې کړې نه سړېږي

(٧٦: ٢٣١م).

عاشق

عاشق په زړه خوږمن ګڼي او تازګي یې د یار دیدن ګڼي چې وایي:

د عاشق اوښې مدام پرمخ بهېږي

شپه او ورځ ناري وهي په زړه خوږېږي

د هغه چې تازګي د یار دیدن وي

بې له یاره په نور چا نه تازه کېږي

دا هنر د عاشقانو دی په زړه کې

چې یار نه وي په بل څه نه هوسېږي

چې یې مینه د یار فرض کړه په وجود کې

د زاهد په ملامت کله پوهېږي

(٧٦: ٢٣٣م).

عمر پسې ارمان

وایي عمر مې په ناداني کې تېر شو او اوس مې پښېماني هېڅ فایده نه لري چې وایي:

عمر سو راباندې تېر په ناداني کې

اوس فایده نسته زما په پښېماني کې

چې په وخت د ارزانۍ مې خرید ونه کړ

اوس به څه کړم په ښه رنګه ګراني کې

ستا چې هسې طمع کېږي و عقبا ته

یو دم مه کېنه غافل په دا فاني کې

مدام زاړه فقیري غواړه له خدایه

سر تر پایه دې نقصان په سلطاني کې

(٧٦: ٢٣٤م).

عبادت ته بلنه

وایي چې عمر دې تېر شو او ملا دې تېټه شوه او لا هم عبادت نه کړې، همدا موضوع د شعر په ژبه داسې بیانوي:

ملا دې ټيټه سوه له نه کړې طاعت ولې
نکړې نکړې په اخلاص عبادت ولې
د مجلس ياران دې ټول درڅخه بېل سوه
حيرانېږم وادې نخيست عبرت ولې
ته چې شپه او ورځ و نورو ته پند وايې
و دا خپل ځان ته نکړې نصيحت ولې
د ځواني وخت دې کل په تېر کړ
سپينه ږيره نه پرېږدې معصيت ولې
(٧٦: ٢٥٨م).

د زاهد په باب وايي:

د زاهد کارونه ټولې ريايي وي
د عاشق کارونه سرتر پا خدايي وي
شپه او ورځ يې په ژړا او په فرياد وي
چې يې زړه د عشق په اور کې برياني وي
سترګې ډکې له ژړا اهونه کاږي
د هغو چې له خوبانو اشنايي وي
چې دلدار په تورو سترګو وي ويشتلی
د ديوار پر مخ به پروت په ناکامي وي
(٧٦: ٢٥٩م).

له ياره خواست

دلبر ته وايي چې ولې راته نظر نه کړې، ستا په نظر مې خراب زړګی ښه کېږي او ستا په ديدن زه مړېږم چې وايي:

ای زما دلبره ولې نظر نه کړې
چې خراب تراب زړګوټی مې پرې ښه کړې
لور په لور درپسې وږی تږی ګرځم
که مې موړ د خدای د پاره په کاته کړې
زه به ستا له استانې کله سر واخلم

که مې نمري د خپل سر په وینو سره کړم
پـــه ژړا کـــې سره ونښـــلم دلـــبره
رقیبـان چـې تـه پـه خپلـه مېلمانـه کـړې
(٧٦: ٢٦٩م).

زړه بایلل

وایي زړه مې له گوله دی وتلی او د لیلا په تورو زلفو پسې تللی دی او تش گوگل ولاړ یم چې وایي:

نـــن زمـــا زړه لـــه گوگلـــه دی وتلـــی
د لـــیلا پـــه تـــور زلفـــو پســـې تللـــی
چـې یـې مـخ پـه خـواب کـې ووینـم عالمـه
تـــش گوگـــل ورتـــه ولاړ یـــم دم ختلـــی
چـــې همـــېش همـــېش نـــارې وهـــم عالمـــه
بېلتانـــه مـــې زړه تـــر حـــده دی نتلـــی
چـې لـه غمـه یـې د فکـر پـه ټـال کېـوځم
پـه خـراب زړه خـبر نـه یـم چېرتـه تللـی
(٧٦: ٢٩٨م).

د یارانو جدایي

د یارانو صحبتونه چې وریادېږي اوښکې تویوي او د یارانو بېلتون یې په چیغو ژړوي لکه چې وایي:

چـــې پـــه زړه کـــړم صـــحبتونه د یـــارانو
د فـراق اوښـې مـې درومـې تـر چشـمانو
دا خراب زړه مې له غمـه سي بـې هوشـه
چـــې را یـــادې سي خـــبرې د خوبـــانو
زه چې ډېره بـې صـبري بـې طـاقتي کـړم
پـــر لار پـــاتې ســـوم تنهـــا لـــه رفیقـــانو
هـر سـاعت راباندې نـوی نـوی غـم وي
چـې مجلـس مـې سي پـر زړه د همـدانو
(٧٦: ١٤١م).

د عبدالرحیم دېوان د څېړنې برخه په همدې ځای پای ته رسېږي او تر دې وروسته به د موضوع اړوند د منځنۍ دورې د بل دېوان لرونکې شاعر په باب خبرې وکړو.

د فیاوالدین پېژندنه

د فیاوالدین د دېوان په سریزه کې د نوموړي د پېژندنې په باب بېلابېل نظریات راوړل شوي دي چې یو نظر په دې ډول دی (د پیدایش نېټه یې (۱۷۸۰) خوا و شاه اټکل کېدی شي. پروفیسر افضل رضا د هغه د زېږېدو زمانه (۱۲۰۰هـ) یادوي چې د (۱۸۲۱ ع) کال سره سمون خوري.

غالباً ښاغلي پروفیسر افضل رضا دا د هغه دېوان د کتابت د نېټې په اساس یعنې (۱۲۸۱هـ) په حساب یاد کړې ده، خو څنګه چې مخکې مو ورته اشاره وکړه چې دې دوران کې یعنې د (۱۸۴۰ ع) نه پسته سکه شاهي په مکمل توګه مېنځه تلې ده، مقابل کې بل خارجي قوت انګرېز قابض شوی(۵۰: ۱۴م).

په دېوان کې یې د ځای په باب داسې راغلي چې نوموړی د بنو له علاقې سره تعلق درلود. د دېوان په سریزه کې د پېژندنې په باب نورې خبرې هم راغلي دي، خو ټولې خبرې په تخمیني ډول دي چې موږ په همدې پورته کرښو بسنه کوو او همدا یې د پېژندنې په برخه کې بس ګڼو.

د فیاوالدین شاعري

د فیاوالدین په شاعري کې له پښتو ژبې نه علاوه د نورو ژبو، لکه عربي، فارسي، هندي او اردو ژبو الفاظ هم شته او له دې څخه په یادو ژبو کې د نوموړي مهارت څرګندېدلی شي. له تصوف سره سره یې په شاعری کې مذهبي رنګ هم شته او رومانی رنګ هم لري.

تر ډېره یې د کلام زیاته برخه د تصوف او فلسفې ګران مضامین دي، اشعار یې د فورم له پلوه تر ډېره غزلې دي. د عربي او فارسي ژبې الفاظو یې د شعر فهم له پسې سخت کړی دی او اشعار یې عام فهمه نه دي. په کلام کې د وضاحت لپاره قرآني ایاتونه، احادیث او نور هم راوړي دي. اشعار یې د ژبني سختوالي سره سره په معنوي لحاظ هم درانه دي او په اسانۍ سره تر فهم نه شي کېدلی.

د فیاوالدین د دېوان ځانګړنې

د فیاوالدین دېوان چې ترتیب او تدوین یې پروفیسر نصرالله جان وزیر، پیرعظمت علی درانی کړی او د پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون له لوري چاپ شوی دی، په (۲۰۱۹) کې چاپ شوی دی. په دېوان یې د پیرعظمت علی درانی خوېشکي له لوري (۴۲) مخه څېړنیز لیکل راغلي دي، چې د فیاوالدین له پېژندنې څخه نیولې د نوموړي تر شاعري د دېوان د نسخو په باب، په دېوان د راغلي مهر او نورو خبرو په باب لیکل راغلي دي او هره خوا یې د نوموړي له خوا څېړل شوي دي.

د فیاوالدین د دېوان شعري فورمونه

د فیاوالدین په دېوان کې تر ډېره غزلې راغلي دي او دېوان یې ټول غزلې دي چې په دېوان کې د راغلي یو غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

غزل

هسې مست خماري یم له محبت
د وصال په تمنا له نزدیکت
صعقه بې اوښې نه دي کمالت
چې مشکوف شي ورته علم له حالت
غم ښادي د اخرت د دنیا نه کا
هسې مست وي ستا د لبو له شربت
چې په زړه شوق غلبه د عاشق وکا
خبر نه وي له دنیا له اخرت

(۵۰: ۵٦م).

د فیاوالدین د دېوان منځپانګه

د فیاوالدین د نورو خواوو په هکله مو بحث وکړ اوس به یې د دېوان په منځپانګه خبرې وکړو او هغه مضامین چې په دېوان کې پرې بحث شوی وڅېړو.

حمد

د دېوان پیل یې په حمد او ثنا سره شوی دی چې وایي:

رب تا له ده هره ښه ثنا
چې صادره ده له تانه یامنا
که له موږه څه ظاهر حمد ثنا شي
هدایت واړه له تا شوي لنا
د تکلیف د پاره شي نسبت و ځان ته
دا نسبت په حقیقت نشته دانا

(۵۰: ۴۳م).

په شعر کې یې د ایات او احادیث یادونه هم شوې چې وایي:

چې له ما سره مدام که سوال جواب
د اثـــار دی د عـــذاب یـــا د ثـــواب
حـال د عشـق بـه د مـلا پـه ژبـه وایـم
لـــه ایـــات لـــه حـــدیث انتخـــاب
یـو حـادث کـلام پیـدا کـا فـواد کـې
پـه هغـه سره عاشـق تـه کـا خطـاب
ذاوجهین شوم په میان د روح د سر کې
دا نسبت پـه دا واړه وجهـې دی مصـاب
(۵۰: ۵۰م).

محبت

لکه مخکې چې مو وویل د نوموړي د دېوان پر معنوي خوا باندې پوهېدل هم سخت دي، لکه چې د محبت په باب وايي:

هسـې مسـت خـماري یـم لـه محبـت
د وصـــال پـــه تمنـــا لـــه نزدیکـــت
عقـه بـې اوښـې نـه دي کمالـت دي
چې مشـکوف شي ورتـه علـم لـه حالـت
غـم ښـادي د اخـرت د دنیـا نـه کـا
هسې مسـت وي سـتا د لبـو لـه شربـت
چـې پـه زړه شـوق غلبـه د عاشـق وکـا
خـبر نـه وي لـه دنیـا لـه اخـرت
(۵۰: ٥٦م).

عشق

عشق له جنگ سره تشبیه کوي او وايي چې ننگیالي کولی شي عاشقي وکړي او لکه پتنگ ځان قربان کړي چې د شعر په ژبه په لاندې ډول راغږېږي:

راشـــه مـــلا د همـــت وتـــړه و جنـــگ تـــه
ننگیـــالي خـــدای پیـــدا کـــړي دي و ننـــگ تـــه

مردیـــــت د جنـــــگ د زړه پـــــه محبـــــت شي
ځـان يـې هېـر شي چـې ښـکار شي وور پتنـگ تـه
چـــې مئـــين وي هغـــه تېـــر لـــه خپلـــه سره
د مـــردۍ خـــبرې مـــه کـــوه بـــدرنگ تـــه
مئينتـــــوب لـــــه لېونتوبـــــه لـــــرې نـــــه دی
ارزو مـــه کـــوه پـــه زړه بـــوټي د بنـــگ تـــه
(٥٠: ٦٢م).

پند او نصيحت

د پند او نصحت په دود په لاندې ډول راغږېږي او وايي چې عمر عبث مه تېروئ او له گناهونو ځان وساتئ:

خوشـــې عمـــر دې تېرېـــږي پـــه عبـــث
صـــورت زړه دې پـــه گنـــاهو ملـــوث
زړه ائينـــه د ديـــدن يـــار پکـــې ليـــده شي
خـو چـې پـاک شي لـرې شي ځنـې خبـث
و نمانځـــه تـــه طهـــارت د بـــدن فـــرض دی
دغـــه تـــرک د حضـــور دي د زړه حـــدث
چې وسواس د زړه نمانځـه لـره نقصـان دی
د شـــهيد غســـل واجـــب شي مرتـــث
(٥٠: ٦٤م).

د عالمانو په باب

عالمان د رسوالله ص وارثان گڼي او په دې باب داسې وايي:

هـــر عـــالم دی د نبـــي د ديـــن وارث
پـــه قـــديم بانـــدې دليـــل دی دا حـــديث
هغـه مـخ بـه حقيقـي کعبـې تـه نـه وي
چـــې پـــه زړه يـــې د اغيـــارو خبايـــث
پـس معلـوم شـو و جنـت لـره مـوږ بـولي
چې رسـول يـې کـړه پـه مـوږ پسـې باعـث
د ارواح د نفـس دعـوه بـه کوتـاه نـه شي

مگـر پـېښ شي تـر دا ميـان خېـر ثالـث

(٥٠: ٦٦م).

د عارفانو په باب په لاندې ډول وايي او د نوموړو صفت په دې ډول کوي:

د عــارف زړه وي مشرــوح ســينه فــراخ

رب تـــه لار لـــري د زړونـــو لـــه سرخ

غــافلان د زړه لــه حالــه څــه خــبر دي

لـټ پـه لـټ اوړي پـه خـوب لـه اسـتراخ

د خـوراک غـم يـې لـه هـر څـه مقـدم وي

خوشـحالي يـې وي د نفـس لـه انتفـاخ

دوی انعـام مسـمی شـوي پـه قـران دي

هـم راحـت يـې لـه مخرجـه مسـتراخ

(٥٠: ٧٤م).

بېلتون

د بېلتون له امله په ځان عمر تريخ بولي او په دې باب په لاندې ډول د شعر په ژبه غږېږي:

لـــه فراقـــه عمـــر شـــه رابانـــدې تـــريخ

چـې کبـاب مـې شـه مـدام دا زړه پـه سـيخ

چـې لـه شـمس لـه قمـره يـې نـور نـه وي

معـــــذب شي لـــــه تـــــاثيره د مـــــريخ

چـې يـې نمـر قمـر نجـوم ليـدلی نـه وي

نـه يـې خونـد وي نـه يـې رنـګ د زړه بطـيح

راشـه ځـان پـه مهرويـانو بانـدې خـرڅ کـړه

د دې عقـــد وېـــره نشـــته لـــه تفســـيخ

(٥٠: ٧٤م).

مشايخ

لکه مخکې مو چې وويل د فياوالدين دېوان تر ډېره د تصوف، فلسفې او عرفاني مسايلو څخه ډک دی او تر ډېره يې په دېوان کې اسلامي څيزونو ته اشاره کړې چې په دې ډله کې مشايخو په باب په لاندې ډول بيان کوي چې وايي:

پـــه ظـــاهر بـــاطن پاکـــان دي مشـــايخ
د نبـــــي خليفـــــه گـــــان دي مشـــــايخ
بـــې مرســـلو انبيـــاوو چـــې بهـــتر دي
پـــه دا نـــور عـــالم نېکـــان دي مشـــايخ
چـې پـه عـرش تخـت الـثرا يـې قـرار نـه شي
ســـــاکنان د لا مکـــــان دي مشـــــايخ
د دوي حکـــم لازم شـــوی پـــه هـــر چـــا ی
د کونينـــــــو ملوکـــــــان دي مشـــــــايخ
(٥٠: ٧٥م).

د تصوف او عرفان د فنا او بقا په هکله په خپل شعر کې وايي:

کـــه دې سر شي پـــه فنـــا سره بريـــد
د بقـــا شراب بـــه څښـــې مـــما تريـــد
پـــه وجـــود بشرـــي کـــې مـــدعي يـــې
کـــه مـــراد غـــواړې مـــراد شـــه د مريـــد
لکه ايښـي پـه مشـکوة کـې چـې مصـباح وي
پـــه صـــدف کـــې د صـــورت در فريـــد
دا مصـباح روحـي د سر پـه دخاچـه کـې
لذتونـــه لـــه اهلاکـــو کـــب رخشـــيد
(٥٠: ٧٩م).

انبياء

د انبياوو ع په باب وايي چې الله ج د خپل دعوت لپاره رالېږلي او داسې يې په اړه وايي:

انبيـاء دي خـدای ج لېـږلي و دعـوت لـره
چې مخلوق بولي و کامل توحيد وحدت لـره
او پـه ميـان کـې د وحـدت د مخلوقـاتو
منـــازل دي د وصـــال و معرفـــت لـــره
او پـه مخکـې لـوړ ژور هـم مخفوفـاة دي
امـر شـاق دی و سـالک د دې وصـلت لـره

شریعـــت یـــې را لېرلـــې طریقـــه ده
د دغـه توحیـد تـه مـخ کـړه شریعـت لـره
(۵۰: ۹۰م).

څښتن تعالی ته دعا کوي چې د چا پټ راز دې نه رسوا کوي:

خـــدای څرګنـــد د هیچـــا ه کـــړه پـــت راز
چې په عشـق کـې دغـه کـار دی لـوی غـماز
د عشق اور مې په زړه بـل دی زه یـې وسـوم
یـــاره مـــه کـــړه پـــه مـــا هســـې قســـم نـــاز
د تصویر ګل مـې پـه زړه کـې زرغـون شـوی
پـــه دا هســـې تصـــور یـــم سرفـــراز
کـــه ښـــادي چېـــرې د غـــم پـــه انـــدازه وي
خـــوښ یـــم زه د دې غمونـــو پـــه انـــداز

د یار په باب وایي:

چـې مـې زړه یـاره پـه تـا پسـې بـیمار شـه
روح مـې ځکـه پـه صـورت کـې نـاقرار شـه
زمـــا زړه لکـــه جـــرس هســـې اواز کـــا
د سینې چاق مې څرګند زړه مې په دار شـه
د غـــوټۍ پـــه شـــانې چـــوي لـــه فراقـــه
د سـحر پـه وخـت پرېشـان زمـا ګلـزار شـه
چـــې هـــر څـــو یـــې غـــږوې همـــره اواز کـــا
د سرور اواز لـــه ضریـــه وار پـــه وار شـــه
(۵۰: ۱۰۵م).

خودي

خودي مرض ګڼي او وایي دا مرض له ځانه لرې کړه لکه:

چـــې پـــه زړه کـــې د خـــودي لـــرې مـــرض
هغـه خـرڅ کـا دیـن عمـل پـه دا غـرض
چـــې غـــرض د چـــا قربـــت یـــا محبـــت وي

هغــه نــه کــا پــه دنيــا بانــدې غــرض
پــاک بــه نــه شي لــه غبــاره د اغيــارو
بــې لــه جذبــه پــه صــابون او پــه قــرض
پــه تمکــين شي لکــه زر خــالص بــې غشــه
پــه تلــوين لکــه رصــاص وي مفصــنض
(٥٠: ١١٧م).

د گل محمد مالگيري پېژندنه

د خپلې څېړنيزې موضوع سره سم مو ننني بحث د منځنۍ دورې بل دېوان لرونکې شاعر دی چې لومړی به يې په لنډ ډول وپېژنو او بيا به يې په نورو خواوو بحث وکړو.

(گل محمد ولد گلزار قوم نورزی ابدالی است، که در مالگير کنار هلمند پی از سال(١١٦٠هـ) بدنيا امد، و در نهضت وزير فتح حان معروف حيات داشت، و مدتی به روزگار شازمان در کابل و پشاور کشمير همی زيست، و تا عصر شاه محمود زنده بود.

د گل محمد په دېوان کې د ده د پيدايښت په باب کوم واضيح سند وجود نه لري، خو لوی استاد يې د خپلو څېړنو له مخې د لوی احمدشاه بابا (١١٦٠ـ١١٨٦هـ ق) تر تخت نشينۍ وروسته زوکړی بولي.

له دغه حسابه موږ دا تخمين کولای شو چې گل محمد به د احمدشاه بابا په عصر کې تر (١١٦٠) زوکړی وي. که يې تر دې يې نور هم يوې مشخصې سيمې ته منسوب کړو نو ويلی شو چې گل محمد د هلمند د مالگير کلي اوسېدونکی دی، لوی استاد دغه کلی د هلمند رود پر غاړه د گرشک جنوبي خواته بولي، په مالگير کې د گل محمد د اوسېدنې په باب د ده په دېوان کې ډېر بيتونه شته(٦٠: ٨-٩م).

د گل محمد مالگيري شاعري

د پير محمد د پېژندنې په باب مو پورته يادونه وکړه اوس به د نوموړي په شعر او شعري لار ځينې خبرې وکړو چې په دې باب د نوموړي په دېوان کې داسې راغلي دي (لوی استاد علامه حبيبي د گل محمد د شعري پيروي په اړه داسې ليکي: دی کله د رحمان او کله په عبدالقادر پسې په خپل شعر کې تللی دی او په دغو کالبونو کې يې د خپل زړگي ترجماني کړې ده او غالباً د پير محمد کاکړ د مکتب شاگرد بلل کېږي (٦٠: ١٤م).

شعر کې يې تاوده عاشقانه احساسات دي او د مينې حالات پکې پياوړی دی او د پيرمحمد سبک يې ډېر ښه پاللی دی. گل محمد د خپل زړه کوکې په خورا خوږه او سوز ناکه خوږه ژبه را ايستلي دي، د خپلې مينې اظهار يې په هغه ژبه کړی دي په کومه چې پيرمحمد کاکړ کړی دی.

په اشعارو کې يې د عشق خورا نري احساسات په پوره نازکخيالي سره منعکس شوي دي، منظر کشي يې هم ډېره په زړه پورې ده، د تشبيهاتو او استعارو طبعي والي يې اشعارو ته لا ښکلا وربخښلې ده.

د نورو شاعرانو لکه رحمان بابا، عبدالقادر خان خټک او خواجه محمدبنگښ د غزلو پر طرز يې غزلې ويلي دي، چې ډېرې يې د رحمان بابا په طرز دي؛ نو په عمومي ډول ويلی شو چې گل محمد د پيرمحمد د سبک پيرو دی، خو په عين حال کې د ځينو اسلافو تر تاثير لاندې هم راغلی دی.

د گل محمد مالگيري د دېوان ځانگړنې

د گل محمد مالگيري دېوان چې سريزه، سمون او لغتنامه يې د مطيع الله روهيال له خوا شوې دي، په (۱۳۹۳ش) کال د علامه رشاد خپرندويه ټولنې ـ کندهار له لوري چاپ شوی دی. په دېوان کې د پښتو شعرونو تر څنگ دوه فارسي شير و شکر او يو فارسي غزل هم شته دی. د دېوان په سريزه کې د دې متن سربېره د هغو پخوانيو اثارو او مقالو يادونه هم شوې چې د گل محمد مالگيري په باب پکې ليکلی راغلي دي.

په همدې ډول د دې حاضر متن په باب هم خبرې راغلي دي او د قلمي نسخو په باب يې هم خبرې راغلي دي، د دېوان د ليکدود په هکله هم ځينې خبرې شوې دي. په عمومي ډول ويلی شو چې په دېوان د مطيع الله روهيال له لوري (۲٦) مخه هر اړخيزه سريزه ليکل شوې ده او د گل محمد په باب پکې ډېرې خبرې راغلې دي او د دېوان په پای کې لغتنامه راغلې او په همدې سره يې دېوان پای ته رسېدلی دی.

د گل محمد مالگيري د دېوان شعري فورمونه

د گل محمد مالگيري په دېوان کې د غزلو په شمول چې کوم شعري فورمونه راغلي دي د ټولو به د نومونو په راوړلو سره يادونه وکړو.

غزل

د گل محمد مالگيري په دېوان کې د اشعارو لومړی برخه غزلې دي چې په دېوان کې د راغلي يوه غزل څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

زړه مـــې نـــه دی پـــه صـــلا

کـــه هـــر څـــو وکـــړم بـــلا

پـــه صـــلاح نـــه را کېـــوزي

داســـې بخـــت بـــه وي د چـــا

حـق حـيران يـم ورتـه خدايـه

چـــې نـــادان دی کـــه دانـــا

خوښ دي ډېر په دا مقام کـې

کـــه لـــه غمـــه شـــوی فنـــا

(٦٠: ٢٩م).

مخمس

د مالګيري په دېوان کې له غزلو څخه وروسته د نوموړي مخمسات راغلي چې په دېوان کې د راغلي يوه مخمس څو بيتونه يې په لاندې ډول دي چې وايي:

خـراب زړه مـې پـه ديـدن پسـې بـلا کـه

شـپه و ورځ لـه خپلـه خدايـه اتـدعا کـه

چې يو دم مې له اشنايه خـوا پـه خـوا کـه

لـه غـه پسـه مـې د ده تـر سر فـدا کـه

بس دی بس دی ژوندون نه غواړم تر ډېـره

(٦٠: ١٤٠م).

رباعي

د ګل محمد په دېوان کې د مخمسونو څخه وروسته رباعيات راغلي دي او په دېوان کې يې د رباعياتو شمېر هم يو څه اندازه دی چې په دېوان کې راغلې يوه رباعي يې په لاندې ډول ده:

هغـه خـدای چـې دا سـتا اسـم مظفـر کـړ

تاج د حسن يـې دا سـتا ظـالم پـر سر کـړ

ګل محمد هغه دم خاورې پر سر دود کړې

چـې پنهـان يـې ځنـې سـتا زېبـا بشـر کـړ

(٦٠: ١٤٢م).

ترجيع بند

په دېوان کې ترجيع بند هم راغلي دي چې په دېوان کې د راغلي ترجيع بند څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

زړه د ســــــترګو پـــــه هـــــوا
ولاړ لـــه مـــا پـــر بلـــه خـــوا
عقـــل لانـــدې وســـو ســـوکړ
پـــه کـــار نـــه شـــو غالبـــا
روح هـم ولاړ لـه مـا محجـوب سـو
نـــه کـــړي نـــه کـــړي تجلـــی
نفس معلوم چې نادان دوست دی
غـــــواړي خپلـــــه مقتضـــــا
عشـــق د يـــار وفـــادار يـــار دی
بـــــاري نســـــته دايمـــــا
علـــم ولاړ لـــه مـــا مـــانې کـــړي
بـــــاطن غـــــواړي مضـــــفا
چـــې خپـــل واړه بېګانـــه شـــوه
څـــه بـــه خپـــل شي نـــا اشـــنا
اوس معلـــوم چـــې نشـــته جانـــه
يـــار اشـــنا زمـــا بـــې تـــا
ګـــل محمـــد خوشـــې ابـــتر يـــم
چـــې طالـــب د بـــل دلـــبر يـــم
(٦٠: ١٥٢م).

د ګل محمد مالګيري د دېوان منځپانګه

د ګل محمد مالګيري په نورو خواوو مو خبرې وکړې اوس يې د دېوان په منځپانګه غږېږو او د نوموړي په دېوان کې راغلي موضوعات له نومونو سره راوړو.

شکايت

د دېوان پيل يې په شکايت کېږي او الهي غږ کوي چې په ارمان له ياره جدا شوم چې د شعر په ژبه يې داسې وايي:

الهـــي پــه څــه ارمــان ســوم جــدا
زه غريــب لــه خپلــه يــاره يــک تنهــا
اندېښنو مې زړه رنځور کړ نه رغېږي
بــې لــه يــاره پــه افســون د مســيحا
ته فغـان لـه هغـه وقتـه رابـه نـه سـې
چې يار شمع زه پتنـگ واى بـې پـروا
(٦٠: ٢٧م).

مدد

له څښتن تعالى مدد غواړي او په دې باب داسې وايي:

امېــدوار ســتا د کــرم يــم يــا انــس الغربــا
سر تــر پايــه پــر پــه غــم يــم يــا انــس الغربــا
دلاور کــړم عاشــقيه لــه بــلا څخــه نــه بېرېــږم
مــدام خــوښ پــه دا مــاتم يــم يــا انــس الغربــا
پــه بــانو د تــورو زلفــو زخمــي لا قــديمي يــم
منتظــر ســتا د مــرهم يــم يــا انــس الغربــا
د هجرا ن په شب ستا د مخ په رڼا زيست دى
بنــد د زلفــو پــه تــورتم يــم يــا انــس الغربــا
(٦٠: ٢٩م).

خپل زړه غندي او وايي چې هېڅ مې په رضا نه دى او له بخته هم شکايت کوي چې وايي:

زړه مــې نــه دى پــه صــلا
کــه هــر څــو وکــړم بــلا
پــه صــلاح نــه را کېــوزي
داســې بخــت بــه وي د چــا
حــق حــيران يــم ورتــه خدايــه
چــې نــادان دى کــه دانــا
خوښ دي ډېر په دا مقام کې

کــه لــه غمــه شــوی فنــا

(٦٠: ٢٩م).

دنیا پسې ارمان

په خپل غفلت پښېمانه دی او دنیا فاني بولي وايي کاش چې عمر مې عبث نه وی تېر کړی چې یاد حالت د شعر په ژبه په لاندې ډول بیانوي:

اه ارمـــــان فـــــاني دنیـــــا

چـــې خـــبر نـــه وم لـــه تـــا

پـه غفلـت مـې عمـر تېـر کـړ

لـــــه قیامتـــــه بـــــې پـــــروا

تـل پـه فسـق و پـه فجـور کـې

پـــــه هـــــوس و پـــــه خنـــــدا

نه مې مرګ په زړه کې یـاد وو

نـــــه خواریـــــه د عقبـــــا

(٦٠: ٣٣م).

نعت

د رسول الله ص ستاینه یې هم په اشعارو کې راغلې او د هغه مبارک شان داسې ستایي:

چـې نـه عـرش و نـه کـرسي وه نـه سـما

سـتا نـور وو پـه هغـه وقـت کـې پیـدا

پـــه جنـــت کـــې و ادم تـــه جنتیـــانو

ویـــل ابـــو محمـــد تـــل پـــه هویـــدا

هیڅوک نه دي ستا د مینې بې وسواسه

ځنې پټ په عـرض ګویـا څـوک پـه غوغـا

بـــې لیـــدلو دې اقـــرار پـــه نبـــوت دی

اللـه څرنګـه مرغـوب کـړې د هـر چـا

(٦٠: ٣٤م).

له یاره شکایت

له یاره شکایت کوي او وایي چې هېڅ نظر راباندې نه کړي او زه رنځور یم هغه طبیب دی خو هېڅ گذر راباندې نه کړي چې وایي:

څه کړم خدایه چې نظر نه کاندي یار هېڅ
دی طبیب نه کړي گذر په خپل بیمار هېڅ
لکه غم پر لېوني باندې چې ډېر دی
نشته نه به وي که خدای که پر هوښیار ډېر هېڅ
زه که هرڅو گنهگار یم دی کریم دی
حجت نه کاندم و ده ته استغفار هېڅ
که نظر د عدالت پر دنیا وکړي
درمعلوم به د دنیا شي کار روزگار هېڅ

(٦٠: ٤٢-٤١م).

د مینې په انگار خپل زړه ستي گڼي او وایي چې د مینې اور مې زړه سوځولی او هله به مې زړه یخ شي چې د وصال جام راکړې چې وایي:

زړه مې سوځي ستا د مینې په انگار
یخ به نه سي په اوبو کې د ابار
منگر جام د وصال راکړې چې یې نوش کړم
چې خراب خاطر مې شي گل د بهار
گڼم خس دې د هجران په اور کې سوځي
که یې نه کېږي طاقت هم دی ناچار
د دنیا غمونه دم په دم کمېږي
ستا غمونه افزوني که وار په وار

(٦٠: ٤٩م).

بېلتون

د بېلتون او هجر شپه ډېره اوږده گڼي او وایي چې کله به سبا شي چې په دې باب په لاندې ډول وایي:

لا به کله شي د هجر شپه سحر
چې له لوري د مشرق وخېژي نمر
زه مدام له خپله خدایه دغه خواست کړم

چـــې دا ســـتا لـــه غمـــه مـــا کانـــدي ابـــتر
ســتا تــر تــورو ســترګو جــار شــم مــاه جبينــه
روی د خـــدای دی کـــه پـــر مـــا وکـــړې نظـــر
ســـم بـــاڼو دې خـــدنګ غشيـــ مـــا پـــه ولـــه
چـــې مـــې پـــورې وورې ووځـــي تـــر ځيګـــر
(٦٠: ٥٠م).

پند

د نصيحت په دود مو د څښتن تعالی ذکر ته رابولي او وايي صبر کوه چې د الله ج په در کې خاص شې، د شعر په ژبه داسې غږيږي:

صـــبحدم اللـــه اللـــه کـــړه پـــه اخـــلاص
چـې حساب شـې پـه کتـار کـې خـاص الخـاص
صـــبر پـــېښ کـــه شـــکايت د قضـــا مـــه کـــړه
ژر بـــه زر شي پـــه کېميـــا کـــه يـــې رصـــاص
صـــد هـــزارې اندېښـــنې کـــړم پـــه هـــر دم کـــې
نـــه پـــوهېږم چـــې بـــه څـــه کـــړم ځـــان خـــلاص
صـــبوري لـــه ناچاريـــه کـــړم جانانـــه
ګـــڼم مـــا بـــه کـــړ رقيـــب پـــر ځـــان قصـــاص
(٦٠: ٥٧م).

د يار ستاينه کوي او په خطاب کې ورته وايي چې ستا د حسن مثال نشته او لکه د نوبهار ګل داسې تر و تازه يې:

لکـــه نشـــته ســـتا د ښـــه حســـن مثـــال
پـــه تعريـــف کـــې هـــم تمـــام خلـــق شـــو لال
لکـــه ګـــل د نوبهـــار هســـې تـــازه يـــې
نـــه نقصـــان درلـــره شـــته دی نـــه زوال
لـــور پـــر لـــور دې عاشـــقان دي زمـــا جانـــه
ســترګې رونـــې کـــړه چـــې څـــه يـــې دی احـــوال
لار و تـــاو و تـــه د خـــدای پـــه داد مينـــده شي

پـــه تـــدبير سره يـــې نشـــته احـــتمال

(٦٠: ٦٤م).

څښتن تعالی ته زاري

ځان ګنهګار بولي او وايي چې عذر هم نه لرم، خو يا الله ج ستا له رحمه اميدوار يم او داسې وايي:

يـــا الـــه العالمينـــه ګنهګـــار يـــم

عـــذر نـــه لـــرم و تاتـــه شرمســـار يـــم

کـه هـر څـو ډېـر ګناهونـه مـې دي کـړي

لا هغســـې ســـتا لـــه رحمـــه امېـــدوار يـــم

د امېـــد شـــلېده لـــه تـــا څخـــه دی کفـــر

پـــه قـــران کـــې ايـــاتو نـــه خـــبردار يـــم

(٦٠: ٦٩م).

د شاه زمان پاچا يادونه

په شعر کې د نورو ځينو خلکو له يادولو سره سره د شاه زمان پاچا يادونه هم کوي او وايي:

ډمـــامې د شـــاه زمـــان دي ګـــډوډې

مـــه نـــارې ســـتا هجـــران دي ګـــډوډې

ډېـر غمونـه د دنيـا سـته ګوښـې ګوښـې

اندېښـــنې د ګلرخـــان دي ګـــډې وډې

ډار مـــې نـــه شي د رقيـــب لـــه پيشرـــوانو

چـــې نـــارې دي د دزدان دي ګـــډې وډې

ډاګ د زړه بـه پـه مجلـس د غمـو ډک کـړم

چـــې نـــارې دي د بـــاران دي ګـــډې وډې

(٦٠: ١٢٢م).

پورته مو د خپلې موضوع اړوند د ديوان لرونکي شاعر ګل محمد ملګيري او د نوموړي په ديوان تفصيلي بحث وکړ.

د احمد دین طالب پېژندنه

لکه د ډېرو نورو شاعرانو د احمددین طالب د پېژندنې په باب هم درست معلومات نشته او څېړونکي یې په هکله یوه خوله نه دي چې د دېوان په سریزه کې یې په لاندې ډول راغلي دي.

(اروابناد رحیم شاه د احمددین طالب دېوان (۱۹۸۵ع) چاپ، اسلام بک ستور مینگوره سوات په خپله سریزه کې د احمد دین طالب د زېږېدنې نېټه (۱۸۵۰ع) لیکي او دغه شان ستر شاعر او ادیب محقق ښاغلي محمد اشرف غمگین په خپل کتاب د هشنغر ادب چاپ کال فروري (۱۹۸۵ز) خورونکی هشنغر پښت ادبي ټولنه چارسده کې په (۴۳) مخ باندې د احمد دین طالب د زېږېدنې نېټه(۱۲۸۳ هـ ق) لېکي، چې د عېسوي کال ترې (۱۸٦٦ع) جوړېږي، چې د دې دواړو نېټو تر منځ فرق شپاړس کاله دی، خو موږ دا ویلی شو چې په دغه حساب د احمد دین زېږېدنه په دیارلسمه صدې هجري کې شوې ده.

نوموړی د هشنغر د اتمانزو کلي دی او په نسب ترین پښتون دی او په ترین کې تور ترین دی. نوموړی په ترین کې فریدخېل دی چې د نسب شجره یې تر قیس اوو سړبن پورې رسېږي(۴۴: ۲۹م).

د دېوان په سریزه کې د نورو ژوند پېښو په باب هم ګڼې خبرې شوې دي د سوات او نورو ځایونو ته د تګ او د بندي کېدو په باب یې هم خبرې شوې دي چې موږ یې همدلته په همدې لنډه پېژندنه بسنه کوو او په نورو خواو یې بحث ته دوام ورکو.

د احمد دین طالب شاعري

احمددین طالب چې د ولس د احساساتو ترجاني یې کړې او په پښتو، فارسي، عربي او اردو ژبو یې پوهه لرله. نوموړی حکیم، عالم او شاعر و، احمد دین طالب د دیني علمو او حکمت د زده کړې سره سره په پښتو ادب کې ولسي شاعري ته یو جلا رنګ او اهنګ ورکړی دی او ولسي شاعري یې په ډېره خوږه او ساده پښتو کې هم د ولس په ولسي رنګ کې وړاندې کړي.

تر ډېره یې شاعري د خلکو په اذهانو کې شته او هر ځای یې چې وخت تېر کړی شاعري یې د هغه ځای د خلکو په خولو کې ده، ځکه چې احمد دین په ساده او عام فهمه ژبه شعرونه لیکلي دي، شعرونه یې د عشق، محبت، سوز او ساز نه ډک دي او په سرو تال پوره ښکلي طرزونه او اهنګونه لري، په شعر کې یې د علمو حکمت، پند او نصیحت، ذهد او تقوا مرغلرې هم پیلې دي.

اشعار یې په خطي نسخو کې په پینځو برخو وېشل شوي دي چې رباعیات، غزلې، چاربیتې، نیمکی او ټپې پکې موجودې دي، دا څلور واړه صنفونه ولسي بحرونه او وزنونه لري چې د عربي او فارسي د عروضي شعرونو په قاعده نه دي لیکلی شوي؛ بلکې ځان د پښتو د روحیاتو او تاریخي روایاتو سره سم مخصوص

طرز، طریقه، سرود، غاړه او اهنګ لري او دې قسم شعرونو ته د ولسي ادبپوهان ملي شعرونه یا ولسي شاعري وايي.

په همدې ډول یې شعرونه نورې هم ګڼې ځانګړنې لري چې څو یې موږ دلته ذکر کړې او له ښه ښکارندويي به یې د منځپانګې او شعري فورمونو په برخه کې وشي چې موږ یې شاعري ولولو او دا هرڅه راته له نمونو سره په ډاګه شي.

د احمد دین طالب د دېوان ځانګړنې

د احمد دین طالب دېوان چې د نوموړي کلیات یې نوموي او د احمد دین د کلیات په نوم د میا وکیل شاه فقیرخېل په شننه، سپړنه او زیار باندې د دانش خپرندويه ټولنې له لوري په (۱۳۹۲) کال چاپ شوی دی.

پر دېوان باندې (۸۱) مخه هر اړخیز او څېړنیز لیکل راغلي دي چې د احمد دین د قلمي نسخو، چاپي نسخو، پېژندنېو شاعري، نسب، سفرونو، دېوان او هرې خوا په اړه پکې په هر اړخیز ډول خبرې راغلې دي، چې دلته یې زه نور د دېوان په پېژندنه ډېرې خبرې نه کوم او دېوان په منځپانګه به یې تر ډېره خبرې وکړو او شعري فورمونو یادونه به یې هم د نمونو په راوړلو سره وکړو.

د احمد دین طالب د دېوان شعري فورمونه

هغه شعري فورمونه چې د احمد دین په دېوان کې پرې شاعري شوې ده دلته به یې هر یو د نمونې په راوړلو سره راوړو.

غزل

د دېوان پیل یې په غزلو سره کېږي چې په دېوان کې د راغلي یوه غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

چې ښکارو کړو یار حجاب نه بشر نن شپه
شو خجل د څوارلسمې قمر نن شپه
دومره پېټی مې د عشق په زړه کېښود
لکه پرېږځي په جچا زوړند کمر نن شپه
لا چې کله به مرهم د وصال راوړي
زړه مې غوڅ کړ د غمونو خنجر نن شپه
منتظر لکه حاجي اختر ته ناست یم
غم دې نه شي په ماشپه د اختر نن شپه

(۴۴: ۲۳-۲۴م).

چاربیتې

د احمد دین طالب په دېوان کې له غزلو وروسته چاربیتې راغلي چې په دېوان کې راغلې یوه چاربیتې یې په لاندې ډول ده:

د گبـین نـه دې شـېرین د مـخ عـرق دي
د نبـــاتو نـــه دې عـــدم کـــړل قندونـــه
چـې لیـدلی مـې شـاه سـتا د مـخ ورق دی
د زړگـــي پرهـــر مـــې نـــه اخـــلي پیوندونـــه

(۴۴: ۳۴۲م).

ټپې

د احمد دین طالب په دېوان کې له چاربیتو وروسته ټپې راغلي دي چې دلته به یې د نمونې په ډول په دېوان کې له راغلیو څو ټپو څخه یادونه وکړو:

پـــه مـــا دې وکـــړ پـــه تـــا وشـــه
ما به پـه بـل پـورې خنـدل د خنـدا شـومه
زمـــا د یـــار شـــونډې خرمـــا دي
پـه نـوم زمـا دي ټـول عـالم یـې ښـکلوینه
زمـــا د یـــار کـــوکۍ منـــې دي
رنې رنې دي د چا لای پرې نـه پرېږدینـه
زمـــا د یـــار ســـترگې نـــرگس دي
چاته په ترس دي په چا قینچ مکیز کوینه

(۴۴: ۵۷۸م).

احمد دین طالب د دېوان منځپانگه

د احمد دین طالب د دېوان په شعري فورمونو او د نوموړي په شاعري مو یو څه خبرې وکړې، خو دلته یې د دېوان په منځپانگه خبرې کو او گورو چې د محتوا له اړخ یې په دېوان کې کوم مسایل تر ډېره بریده راغلي او انعکاس یې ورکړی دی.

حمد

د د ېوان پیل یې په حمد سره شوی او د څښتن تعالی په ثناء یې پیلوي چې وایي:

رب اول بـــــي ابتـــــدا قـــــديم دی دا
هـــم اخـــر بـــي انتهـــا رحـــيم دی دا
ذات صفات يې د تشبيه شريک نه پاک دی
پـــه واحـــد احـــد موصـــوف عظـــيم دی دا
دا اثـــار يـــې د افعـــال دی افعـــال نـــه دی
و ړومبـــی فعـــل نـــه فاعـــل حکـــيم دی دا
صـفتونه يـې نـه عـين دي نـه تـرې عـين دی
د وعيـــد وعـــد مالـــک کـــريم دی دا
(۴۴: ۱م).

الله ج ته زاري

الله ج ته سوال کوي او وايي چې مغفرت مې نصيب کړه او وايي چې ستا د يو نعمت شکرانه هم په ټول عمر نه شم ادا کولی، که دې ټول عمر په ثناء او صفت هم تېر کړم، د شعر په ژبه يې داسې وايي:

پـه حرمـت د يـو کـم سـل اسـماء حسـنی
مغفـــرت زمـــا نصـــيب کـــړې ربنـــا
ســتا د يــو نعمــت بــه شــکر ادا نــه کــړم
کـــه ټـــول عمـــر دې کـــوم صـــفت ثنـــاء
دومـره زور او طاقـت نـه ويـنم پـه عـرش کـې
کـــه جلـــوس د اســـتوا وشي معنـــا
چـــې ادم دې خليفـــه د پرښـــتو کـــړو
د شـــيطان دې نـــوم نشـــان کـــړو فوفنـــا
(۴۴: ۲م).

يار غواړي او رقيب نه

د شعر په ژبه د يار غوښتنه کوي او وايي چې ياره ته راشه او رقيب ته نه:

يـــاره تـــه مـــې خواتـــه راشـــه رقيـــب نـــا
پـــه مـــرض مـــې تـــه پـــوهېږې طبيـــب نـــا
ځکـــــه زه د بېلتانـــــه د خوفـــــه ژاړم

چې راهبر مې څنګ کې ناست دی حبیب نا
د سحر نسیم شمال دې پرې ور نه شي
بوراګان چې باغ کې وي عندلیب نا
بې د عشقه که دیدار د یار موندی شوی
دولت مند به جنتي وو غریب نا
(۴۴: ۲-۳م).

د خوږ پیغمبر حضرت محمد مصطفی ص د ژوند کیسه په دې ډول کوي:

د څلورو کالو شو چې مجتبی
ځلیده به لکه ستوری د سبا
مور خپلوانو کره یوړه مدینې ته
وې چې ووینې زما ځوی زېبا
یوه میاشت چې یې کړه تېره مدینه کې
راوسته یې بېرته کور ته د بابا
چې حجون کلي ابوا ته ورنږدې شول
موري پرېوته په تبه د وبا
(۴۴: ۴-۵م).

یار ته منت

د یار له دره نه ځي او وایي چې تر هغې مې وصال نه وي نصیب شوی او یار نه وي پخلا شوی، نو نه ځم:

بې وصال نه د یار نه ځم ماته ملا
تر هغې چې یاره ته نه یې پخلا
صبرول د زخمي زړه له یاره ګران دي
ګنې قیس به مجنون نه و د لیلا
دا څه رنګ رسم و رواج د معشوقو دی
چې په عشق کې نه اوري چېغې واوېلا
بلبلان یې د خزان له غمه ژاړي
ګل د زاغ سره خندا کړي په غلا غلا
(۴۴: ۷م).

د یار دیدن

د یار دیدن خپل معاش ګڼي او وايي چې د یار د بدن روښنايي زما روح دی چې په شعر کې یې داسې لیکي:

د معـاش ژونـدون زمـا دی دیـدن سـتا
روح زمـــا دی رڼـــايي د بـــدن ســـتا
هغـه نـور دي چـې پـه نـورو عاشـقان دي
زما روح د جسم و جـان دی بوسـتان سـتا
بادشاهان که توان لـري تمـام بـه نـه کړي
یـــو قیمـــت د ګفـــتن د رعـــدن ســـتا
بېلتانه غـوڅ کړی زړه بـه مـې ناسـور شي
کـه مـرهم نـه وي د نـاز خندیـدن سـتا

(۴۴: ۹م).

د وخت یاران

د وخت یاران غندي او هغه خلکو نه شکایت کوي چې په راحت کې یې تر څنګ و او په سختي کې یې یوازې په میدان پرېښی چې وايي:

پـــه راحـــت کـــې وو یـــاران هـــزار زمـــا
خـــو پـــه ســـخته نـــه شـــو یـــو پکـــار زمـــا
چـې د سر و مـال یـې لافـې راتـه کړلـې
نـه اخـلي اوس پـه یـو درهـم دیـدن زمـا
یا به یار د یـار پـه غـم کـې شریـک نـه وي
یـــا بـــې مهـــر و بـــې وفـــا دي یـــار زمـــا
یـــا دنیـــا د بېلتانـــه پـــه ورځ پیـــدا ده
یـــا بېلتـــون شـــو د وصـــال سردار زمـــا

(۴۴: ۱۳م).

له عشق شکایت

له عشقه سر ټکوي او وايي چې په عشق کې مې دا حال شو چې سر و مال مې پکې بایلل چې وايي:

راشـــه وګـــوره دا حـــال احـــوال زمـــا
شـو تالـه پـه عشـق کـې سر و مـال زمـا
نـه پلـو د مـخ نـه اخـلي نـه نګـاه کـړي
نـــه پـــه غـــوږو بانـــدې اوري ســـوال زمـــا
لا بـه تـه دا حيـاء شرم کـړې تـر کومـه
نشـــته نـــور د زړه طاقـــت مجـــال زمـــا
لکه سروې سرنګون يم ستا په عشـق کـې
رب دې راولـــه نســـيم شـــمال زمـــا
(۴۴: ۱۳م).

تېر وخت

د تېر وخت بېرته راتګ محال ګڼي او وايي چې بد کوې که ښه کوې ستا اختيار دی او دا اختيار او وخت بيا هېڅکله هم نه راځي چې وايي:

هغـــه بـــاغ هغـــه بهـــار نـــه راځـــي بيـــا
د هـېڅ چـا تېـر شـوی وار نـه راځـي بيـا
کـه زاغـانو تـه خنـدا کـړې کـه بلبـل تـه
سـتا اختيـار دی دا اختيـار نـه راځـي بيـا
هغـه اور چـې ابـراهيم بانـدې ګلـزار شـو
بـې لـه عشـقه هغـه نـار نـه راځـي بيـا
نن که سر و مـال دې يـار پـه يـدن غـواړي
تـرې قربـان کخـه خريـدار نـه راځـي بيـا
(۴۴: ۱۵م).

دنيا ته راتګ

دلته راتګ مو د داسې مېلمه په ډول ګڼي چې هيڅوک هم نه پېژني لکه چې وايي:

چـــې مېلمـــه راغلـــې اول پـــه دې دنيـــا
پـــردي کـــور لـــه لکـــه غـــل پـــه دې دنيـــا
همېشـه بـه سـترګې سـتا پـه ژړا سرې وې

ژړېـــدې بـــه ژبـــه لـــل پـــه دې دنيـــا
مور که تی به د شيدو په خوله کې درکه
چـپ کېـدې کلـه يـو ځـل پـه دې دنيـا
نـــه دې چـــا سره الفـــت نـــه معرفـــت وو
نـه دې ډلـه وه نـه دې ټـل پـه دې دنيـا
(۴۴: ١٦م).

تلوار

تلوار او عجله کول د کم عقل سړي کار بولي او په دې باب داسې وايي:

د تلـــوارې نـــه کـــم عقـــل تـــړي بـــار سســـت
تلوار نه کړې سوال جواب که وې هوښيار سست
چـــا ويـــل بـــزرګ جمهـــر تـــه دا دې عيـــب دی
کـــوې څلـــه پـــه دمـــه دمـــه ګفتـــار سســـت
پـــه ځـــواب کـــې يـــې بـــزرګ جمهـــور دا ووې
لکـه ړونـد پـه فکـر ګـرېدم قـدم پـه لار سسـت
چـــې د فکـــر پـــه غلبېـــل خـــبره چـــاڼ کـــړم
د مطلـــب پـــه هلـــه کـــړم ګـــذار ســـت
(۴۴: ۲۹م).

کيسه

د شعر په ژبه يې ډېرې کيسې هم په دېوان کې شته چې په دېوان کې د راغلې يوې کيسې چې د رسول الله ص، حضور ته ابوبکر صديق رض راځي؛ نو جبرائيل ع ورته پورته کېږي چې د يادې کيسې څو بيتونه په لاندې ډول دي:

يـوه ورځ جبرائيـل ناسـات و پـاک حضرت تـه
منتظـــرو د رســـول مقبـــول خـــدمت تـــه
ابـــوبکر صـــديق يـــار د رســـول راغـــی
جبرائيـل پوورتـه شـو د هغـه يـار عـزت تـه
بيـــا عمـــر، عـــثمان عـــلي درې واړه راغلـــه
جبرائيـل نـه کتـل د هغـو دېـوو وجهـت تـه

تپـــوس د جبرائيـــل نـــه حضرـــت وکـــړو
د صـــديق دې نظـــر وکـــړو کـــوم صـــفت تـــه
جبرائيـــل وې رســـوله دی زمـــا اســـتاد دی
اوچتېـــږي هـــر شـــاګرد اســـتاد اوچـــت تـــه
(۴۴: ۳۱م).

د يار وصال

کله کله د يار ديدن او وصال ته بې کچې لېواله وي او وايي که وصال مې نن ورځ نصيب شو نو سر ومال دواړه ترې قربانوم چې وايي:

که نصـيب مـې شـو وصـال د جانـان نـن ورځ
سرو مـال بـه دواړه کـړم تـرې قربـان نـن ورځ
معشـوقه کـه بيـا مونـدی پـه اسـانۍ شـوی
چا به لوند نه کړ پـه اوښـکو ګرېـوان نـن ورځ
بلـــبلان چـــې د خـــزان لـــه خوفـــه ژاړي
پـه ژړا پـورې يـې خانـدي زاغـان نـن ورځ
د زغـــن حصـــه غنچـــه باغبـــان نـــه غـــواړم
چـې مـې بنـد شي د ګيلـو نـه زبـان نـن ورځ
(۴۴: ۹۸-۹۹م).

له يو لاسه ټک نه خېژي

وايي چې بايد له اخلاص سره اخلاص وشي او چا چې تاسو ته لاس درکاوه؛ نو تاسې لستوڼی مه ورکوئ، ځکه چې له يو لاس څخه پړق نه خېژي او دا ياري بيا سرته نه رسېږي:

لا تـر څـو بـه زه اخـلاص کـړم تـه لبـاس
چـــې لســـتوڼی راکـــوې او ســـاتې لاس
دا متـل دی پـړق لـه دواړو لاسـو خېـژي
د مانچـل نـه هـېڅ چـل نـه شي بـې پټـاس
د موسـی زړه يـې چـې يـو ځلـې ازار کـړ
د بلعـــم بـــاعور حـــال تـــه وکـــړه قبـــاس
حـق باطـل داوړاه پـه عقـل پېژنـدی شي

تـه پـه عقـل فکـر نـه شـوې حـق شـناس

(۴۴: ۱۰۱-۱۰۲م).

د وحدت په باب وايي:

د هرچـا يقـين د خـداى پـه وحـدت ښـه دى

د بـــې مثلـــه لا شريـــک معرفـــت ښـــه دى

نـــن زنـــده يـــې د مـــرده د حـــال نـــه زده کـــړه

چې په چپه خولې ترې واخلې عبرت ښـه دى

رب چـــې روح لـــه دې خانـــه د جســـم درکـــړه

بلـــوې پکـــې ځـــراغ کـــه ظلمـــت ښـــه دى

د دانـــا حکـــيم پـــه زجـــر کـــې فايـــده وي

خپـل اشـنا و تـه خپـل ځـان ملامـت ښـه دى

(۴۴: ۱۹۱-۱۹۲م).

کم اصل

د کم اصل په باب هم خپل اند د شعر په ژبه په لاندې ډول را بيانوي چې وايي:

د کـم اصـل اشـنايي تـر خپـل مطلـب وي

چې مطلـب سر کـړي نـه سر نـه يـې جلبـوي

اصـــيلان اصـــيل ګلونـــه خوشـــبويي کـــړي

د کـــم اصـــلو د دېـــران مثـــال نســـب وي

بـــاغ بهـــار د بلبلانـــو مناســـب دى

طبيلـه د خـرو خـادمو تخـت عاجـب وي

اصـل بـېخ لـري پـه بـېخ محکـم ولاړ وي

د کـم اصـلو نـه يـو ديـن نـه يـې مـذهب وي

(۴۴: ۲۴۳م).

بېلتون

د يار په بېلتون ساندې وايي او له هجران څخه سر ټکوي، لکه چې وايي:

څاڅي اوښکې د غم په ګرېوان زما

ستا هجران کړو قلم دل و جان زما

ځـــــاڅي اوښـــــکې خونـــــاب

مـــــې د مـــــخ پـــــه ګـــــلاب

کـــــړو بېلتـــــون مـــــې خـــــراب

د وصـــــال خـــــورد و خـــــواب

شو رسـوا پـه عـالم شـور فغـان زمـا

(۴۴: ۲۴۹م).

جلا وطني

له وطنه بېلوالی یې هم په شعرونو کې یاد کړی او د خپل مسکن په پرېښودو یې هم د شعر په ژبه خبرې کړې دي چې وایي:

زمـا شـو پـاتې خپـل وطـن پـس لـه دې

کـه عـین دی ختـا خـتن پـس لـه دې

پـه در کـې سـتا لکـه فقـیر ناسـت یـم

سرټکـوم د ځـان پـه ویـر ناسـت یـم

راسره وکـړه یـو ګفـتن پـس لـه دې

چـې غـم زمـا نـه کـړې رفـتن پـس لـه دې

ځاڅي ترې خون زخمي ضمیر ناست یـم

د عاشـقي دې دعـوه ګـیر ناسـت یـم

(۴۴: ۲۷۵م).

د احمددین په دېوان کې دېته ورته ډېر نور موضوعات هم شته، خو موږ دلته په همدې پورته مسایلو بسنه کوو. لکه څنګه مو چې د احمد دین د شاعري په برخه کې هم د دې یادونه وکړه چې د نوموړي شاعري ساده او عام فهمه ده؛ نو په همدې خاطر یې له هر غزل او هر بیت څخه په یو ځل لوستلو معنا اخیستل کېږي او په یو لوی دېوان کې یې زیات مسئلي راټول کړي دي چې له ځینو څخه یې موږ دلته یادونه وکړه. د احمد دین د دېوان برخه همدلته پای ته رسو او له دې وروسته به د منځنۍ دورې پر بل دېوان لرونکي شاعر بحث وکړو او په دېوان به یې څېړنه وکړو.

د پیر مطیع الله پېژندنه

پیرمطیع الله د منځنۍ دورې بل دېوان لرونکی شاعر دی. دلته به لومړی د پیر مطیع الله لنډه پېژندنه وکړو او تر پېژندنې وروسته به یې په نورو خواوو بحث وکړو.

که څه هم د پیر مطیع الله د زېږېدو او مړینې په باب صحیح معلومات نشته، خو د دېوان د داخلي شهادتونو په اساس یې د دېوان په سریزه کې په لاندې ډول خبرې شوې دي: (د پیر مطیع الله د دېوان له داخلي شهادتونو څخه داسې معلومېږي چې نوموړی د تېمورشاه د واکمنۍ په زمانه کې ژوند کاوه او د شاه شجاع تر وخته هم موجود و، خو دا هم په دقیق ډول څرګنده نه ده چې نوموړی د شاه شجاع په دویمه واکنمۍ کې موجود و او که اوله واکمني به یې په خپلو اشعارو کې یاده کړې وي، موږ د یو محتاطي اندازې مطابق پیر مطیع الله (۱۷۳۷ او ۱۸۴۴) د دور شاعر ګڼلی شو او په قوم پیرخېل و. پیر مطیع الله د ځینو شاعرانو نومونه هم اخیستي چې په هغو کې انوراورکزی، قنبرعلي خان اورکزی، بیاض جدون، قاضي نجیب الله او نور دي(٦٤: ٨-٩م).

د پیر مطیع الله د دېوان له شاعري څخه داسې معلومېږي چې نوموړی د رحمان بابا د ادبي مکتب پیرو دی، د نوموړي په شاعري کې هر رنګ شته چې د رحمان بابا رنګ یې په شاعري کې غالب دی او د نوموړي تاثیرات پرې له ورایه معلومېږي.

د پیر مطیع الله شاعري

پیر مطیع الله چې د رحمان بابا د ادبي مکتب پیرو دی، د نوموړي په کلام کې نږدې ټول د وخت مروج اصناف شته لکه غزل، رباعي، مخمس، مسدس او نور. د مضمون او منځپانګې له اړخ یې هم په شاعري کې عشقي شاعري، اصلاحي، اخلاقي، ځینې عارفانه خیالات او نور مضامین شته.

پورته ذکر شوي مضامین په پوره لوړ ادبي ذوق او ساده ژبه وړاندې کوي چې په اسانۍ سره کولی شو پرې وپوهېږو او خوند یې حس کړو. د شاعري په باب یې دلته خپلې خبرې اوږدول نه غواړم د شعري فورمونو او د منځپانګې په برخه کې کولی شو د نوموړي د شاعري په باب ټولې خبې او دخوبیانې له نمونو سره وګورو.

د پیر مطیع الله د دېوان ځانګړنې

د پیر مطیع الله دېوان چې حاشیه او سمونه یې همېش خلیل کړې، ترتیب او تدوین یې ډاکټر اقبال نسیم خټک کړی دی، په (١٩٨٦ م) کال د منظورعام پرېس پېښور له لوري چاپ شوی دی. په دېوان تقریباً (۵۳) مخه تفصیلي لیکل شوي چې د پیر مطیع الله په باب یې هر اړخیزې خبرې کړي دي. د پیرمطیع

الله په دېوان کې غزلياتو، رباعيات، متفرقات، د نوموړي فارسي کلام او نورې برخې شاملې دي چې په اخر کې لغتنامه راغلې او په همدې سره پای ته رسېدلی دی.

د پير مطيع الله د دېوان شعري فورمونه

د پير مطيع الله په دېوان کې نږدې په ټولو شعري اصنافو شاعري شوې ده، چې دلته به يې په دېوان کې د راغلي هر شعري فورم يادونه د څو بيتونو په راوړلو سره وکړو.

غزل

د پير مطيع الله د دېوان د اشعارو لومړی برخه غزلې دي چې په دېوان کې د راغلي يوه غزل څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

تـورې زلفـې دې پـه مـخ کـړې اوېزانـدې
سور پېزوان دې کړو اوېزاند په شونډو بانـدې
خـدای د پـاره يـو ځـل مـخ بيـا راښـکاره کـړه
د سـحر مينـې دې وسـوم لانـدې بانـدې
خپلـې مينـې سـتا پـه حسـن هسـې وسـوم
لکـه اور بانـدې چـې و دوړوې سـپاندې
چې په نيت د لوټ دې سترګې کړې را پورتـه
عقـل و هـوش دې رانـه يـوړه لـه زړه وړانـدې

(٦٤: ٧٩م).

رباعي

د پير مطيع الله په دېوان کې رباعيات هم شته چې په دېوان کې راغلې يوه رباعي يې په لاندې ډول ده:

پـه خـران تـوی شـو د بـڼ ګلونـه
بلبـل چيغـار کـا پـه وچ شـاخونه
سحر افسوس کا د زړه لـه سـوځه
ربـه سـپرلی کـړې پـه زېـړ ګلونـه

(٦٤: ٢٤٧م).

مخمس

د مطیع الله په دېوان کې د متفرقاتو په برخه کې مخمسونه هم شته چې په دېوان کې د راغلي یوه مخمس څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

هغه یار چې ښایست بیاموند له افتابه

مخ یې هر لور جلوه کا لکه مهتابه

زما زړه پرې ډېر مئین شه بېحسابه

لاس مې وښکل د دنیا له هر اسبابه

ملاقات که مې خدای وکا له احبابه

(٦٤: ٢٥٤م).

فارسي کلام

د پیر مطیع الله د دېوان په وروستۍ برخه کې د نوموړي فارسي کلام هم راغلی چې دلته به یې څو بیتونه د نمونې په ډول راوړو:

یکی روزی به بوستان رفته بودم

به انواع گلی خوش دیده بودم

یکی گل روی دیدم چور پری بود

به ازار دل مایل همی سود

چنان افسوس و سحرا ز دیده انداخت

که مارا بر زمین از پای انداخت

بیک نغمه مرا تاراج کرده

بیک دیده دلم را وهاج کرده

(٦٤: ٢٨٥م).

د پیر مطیع الله د دېوان منځپانګه

د پیر مطیع الله دېوان چې د مځپانګې له اړخه پکې هر ډول مسایل لکه عشق، اخلاق، پند، وعظ، ستاینه، ویرینه او داسې نور راغلي دي، چې یاد مضامین یې ټول په ساده او روانه ژبه بیان کړي چې دلته به یې له ځینو څخه د نمونو په راوړلو سره یادونه وکړم.

حمد: د پیر مطیع الله په دېوان کې لکه د نور ډېرو شاعرانو په لومړي سر کې د څښتن تعالی حمد او ثناء راغلې او پیل یې په حمد سره شوی چې وایي:

گوره هسې رنګ غفار دی رب زما

چې ستار د هر بدکار دی رب زما

نه په نېکو څه پروا که نه په بدو

خو راضي په نېک کردار دی رب زما

کل ګناه د عالم وینې څه نه وایي

د هر چا د عیب ستار دی رب زما

تل قادر او بر کمال مشکل یې نشته

په یو حال مدام قرار دی رب زما

(٦٤: ٥٥م).

نعت

د پیرمطیع الله په دېوان کې د نعتیه کلام جلا برخه ده او په هغه برخه کې تر ډېره د حضرت محمد مصطفی ص ستاینه او صفت راغلی دی چې په دېوان کې د راغلي یوه نعتیه کلام څو بیته یې په لاندې ډول دي:

یا حضرت چې تا ظاهر کړو په دنیا مخ

د نمرود د مانۍ لاړی په فنا مخ

کل بتان په ځمکه پرېوته نسکور شوو

هغه شپه چې جلوه وکړه ستا زېبا مخ

نجومیانو ویل هسې ځوان پیدا شو

چې به تل ځنې خجل وي د ترسا مخ

هسې درز دې په جمله کافرو پرېوت

چې له وېرې زېړ زرغون شو د هر چا مخ

(٦٤: ٢٢٠م).

مرثیه

د پیر مطیع الله په دېوان کې ویرنې هم شته چې په دېوان کې راغلې یوه مرثیه چې د نجم خان په مرګ یې ویلې ده، څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

غم زده زړګی مې بیا بېلتون چور چور کړ

چې یې جم د نجم خان په وینو سور کړ

هېڅ ګناه تقصیر یې نه و پاک شهید شو
د جنت حورو هغه دم پرې حضور کړ
تورې څڼې یې په سرو وینو کې رنګ شوې
سپینکی مخ یې ملایکو په سیند ورکړ
د خط لیکه یې تازه په مخ راتلله
دې فلک له خوارې عمره نامامور کړ
(٦٤: ٢٤٢م).

هوښیار او احمق

د هوښیار او احمق په باب یې نظر په لاندې ډول دی:

هوښیاران د دنیا کور تالا کوینه
احمقان ګوره سرایونه سازوینه
خو اخر به ځنې پاتې شي بېشکه
بادشاهان له ښو مانیو لاړدینه
ته په اصل یې کوچی مقام دې نشته
دل بستګي په دغه ځای تاته نه ښاینه
دا چې ته پکې نن اوسې دا د چا و
فکر وکړه چې هغه چرته ولاړ دینه
(٦٤: ١٣٨م).

د عاشقانو په باب وایي:

عاشقان سرفه په مال او په سر نه کا
چې رښتوني وي بې یاره نظر نه کا
ته چې یار لره ورځې په اخلاص درومه
مهرویان پرواه د سیم او دزر نه کا
که طالب یې نظر عین په معنی کا
فهمدار شه چې وسواس دلربا نه کا
د یار مینه مې په زړه کې زرغونه ده

که له شاخ يې اغزی تـوی شـه ثمـر نـه کـا

(٦٤: ٥٨م).

بېلتون

له هجران سر ټکوي او په باب يې وايي:

لکـه زه يـم پـه تنـور کـې د هجـران وريـت
هسې رنګ به کباب نـه وي پـه دوکـان وريـت
دا سرخـي چـې د غـروب پـه وخـت ليـده شي
دا زمـا لـه اه مـخ شـو د اسـمان وريـت
تـه ګـمان د دروغجـن رابانـدې مـه کـړه
زه مجنون سره په عشق کې يم يکسان وريت
بلـبلان پـه سـحر ځکـه کـوکې کانـدي
چې يې زړونه وي پـه غـم کـې د خـزان وريـت

(٦٤: ٦٩م).

د يار ستاينه

خپل يار په بېلو بېلو القابو ستايي او په دې باب وايي:

مـا چـې واورېـدو د يـار د حسـن نقـل
لـه حيرتـه مـې لـه سره لاړ شـه عقـل
ساقي راکـړه جـام د ميـو ډک چـې نـوش کـړم
د مسـتانو کلـه کېـږي سـود پـه دقـل
تـورې سـترګې هـم يـې زلفـې هسـې زېـب کـا
چـې نـه ترکـو کـې يـې سـيال شـته نـه چقـل
هـر سـحر لـه خوابـه و لـوېږم نـارې کـړم
جـدايي راتـه ځـان ديـو کانـدي د اقـل

(٦٤: ١٢٧م).

له عشقه شکايت کوي، وايي عشقه زه دې بدنام کړم او ډېر غم دې راکړ، لکه:

عشـقه تـا را وښـيل زه دې بـدنام کـړم
ډېـر غـم تـا راتـه راکـړل زه دې بـدنام کـړم

مـــا پخپلـــه رضـــا زړه نـــه دی درکـــړی
تـا پـه زور رانـه وښـکل زه دې بـدنام کـړم
چـــې پـــرون درسره تللـــم پـــه کوڅـــه کـــې
تـا پخپلـه خلـق ویشـتل زه دې بـدنام کـړم
هســـې نـــه چـــې زه وم جنـــګ لـــره درغلـــی
تـــا غـــماز راوبلـــل زه دې بـــدنام کـــړم
(٦٤: ١٣٠م).

د بډایه او پیسه دارو په اړه وایي:

چې خپټې یې له غوړې ډوډۍ ډکې وي، نو د هغوی زړونه ډېر سخت وي، لکه چې وایي:

چې همېش خوري ډکه ګېډه ډوډۍ غوړه
د هغـــو زړونـــه بـــه ســـخت وي لکـــه تـــړه
لذتونـــه د دنیـــا بـــه دې ټـــول هېـــر شي
کـــه تـــه وخـــورې د شـــهۍ د لاســـو ګـــوړه
درست وجود مې پکې پت دی لیدی نـه شي
لـــور د لـــوره هـــومره راغلـــه د غـــم لـــړه
چـــې مـــې واورېـــد ګفتګـــو د یـــار د وصـــل
هغـــه دم مـــې د زړه لاړه د غـــم شـــخړه
(٦٤: ١٤٦م).

مرګ

په نیکۍ امر کوي او له بدۍ څخه منعه کوي او وایي چې له بدۍ ځان وساتئ او په نیکۍ کې مخکېوالی کوه، لکه چې وایي:

عمـر ځـي مرګـی راځـي پـه طاعـت زود کـړه
بـــدي مـــه کـــوه هرګـــز نیکـــي افـــزود کـــړه
د دنیـــا پـــه ټولولـــو حـــرص مـــه کـــړه
اول کـــړه د رب ثنـــاء پســـې درود کـــړه
احمقـان دي چـې دنیـا پـه طاعـت پېـري
تـه هوښـیار شـه پـه دنیـا د عقبـا سـود کـړه

د دنیـــا محبـــت لـــوی د زړه غـــدود دی
ذکـــر واخلـــه لـــه کاملـــه ورک غـــدود کـــړه
(٦٤: ١٤٧م).

د نېک برخورد په اړه وايي:

وايي که ته له يو چا سره نېکه رويه وکړې؛ نو بل هم له تا سره نېکه رويه کوي او که له چا سره جګړه ونه کړې؛ نو بل هم له تا سره جګړه نه کوي او موږ ته د دنيا په چارو کې په نېکۍ امر کوي چې وايي:

کـــه تـــه نـــه کـــوې لـــه چـــا سره جګـــړه
بـــل هـــم نـــه کـــوي لـــه تـــاسره رګـــړه
چې تر ميان يې معامله او حساب نشته
د مهمنـــدو جګـــړه نشـــته لـــه رځـــړه
معرفت چې خدای حاصل کاندي و چاته
تـــر هرچـــا ده د هغـــو مرتبـــه لـــوړه
غـــيرې مينـــې دې پـــه زړه پـــورې ونښـــتې
ائينـــه يـــې کـــړه د ســـتا د زړګـــي خـــړه
(٦٤: ١٤٨م).

حقيقت

په لاندې غزل کې د حقيقت په باب غږېږي چې وايي:

اول ځان نيست کا چې شې اخر د هست مستانه
سر حلقـه بـه شـې د واړو تـه سرمسـت مسـتانه
حقيقي شراب که نوش کړې ستا به زنګ لرې شي
د منصور غوندې به شې ته دست په دست مستانه
د هغـو د معرفـت سـيالي دې هيحـوک نـه کـا
چې يې ځان کړ په دنيا تر هرچا پست مستانه
ودان کـور کـه ورانـوي هـېڅ ملامـت پـرې مکـړه
ښـه پـوهېږي د خپـل کـار پـه بندوبسـت مسـتانه
(٦٤: ١٥١م).

تصوف

په لاندې غزل کې د عرفان او تصوف مقامونه یادوي چې وايي:

چې په ملک د جبروت باندې قایم دي
هم هغه د یار په وصل کې قایم دي
ځینې ځینې د لاهوت په مقام تېر شو
ځینې ځینې د ناسوت په ملک نایم دي
ځینو ځینو ملکوت په سترګو ولید
ځینې ځینې د خلوت په بند ایم دي
عاشقي به یې په هغه مقام بوځي
چې حیران هلته ملک، بنې ادم دی

(٦٤: ١٦٠م).

یار ته رسېدل

یار ته رسېدل ډېر په مشکل ګڼي او وايي چې تر هغو لکه بلبل په شان ونه چیغېږې نو د باغ ګلونو ته به ونه رسېږې چې وايي:

څو بلبل غوندې ګویا په چیغار نه شي
د یار یاد به یې په زړه کې وېسار نه شي
عاشقان به هومره ورنشي تر یاره
څو تر میانه وسیله د ریبار نه شي
د شهی د مخ ټیکونه راشه ګوره
چې صفت یې په ما تا غوندې خوار نه شي
د یار مخ لکه د لمر هسې څرګند دی
هغه ړوند دی چې په لمر یې اقرار نه شي

(٦٤: ١٦٦م).

د دنیا مکر

دنیا مکاره ګڼي، نادانان پرې اخته ګڼي او د دنیا مثال د ناوې ورکوي چې وايي:

د دنیا ناوی ښکلې پسللی
نادان زلمی دی پسې غولېدلی
نادان زلمی یې په ښېوه ډوب کړ

ایمـــان عمـــل یـــې غـــماز لـــوټلی
مومنان به درومي سپین مخ عقبا تـه
کمبختان بـه درومـي تـور مـخ نـاولي
ځینـــو ګټنـــې دنیـــا کـــې وکـــړې
ځینـــې تـــرې درومـــي ســـینه داغلـــی
(٦٤: ١٦٨م).

دیدن

دیدن یې د زړه زنګ لرې کوي او وایي:

مینـــه د خوبـــانو نـــام و ننـــګ لـــرې کـــوي
تـــش دیـــدن د ښـــکلو د زړه زنـــګ لـــرې کـــوي
تـــل ارزو لـــرم چـــې بـــه پـــټ حـــال و یـــار تـــه وایـــم
کلـــه ســـپی غـــماز لـــه یـــاره څنـــګ لـــرې کـــوي
خوښ د معشوقو هغه عاشق وي چې بې ننـګ وي
ځکـــه هـــر ملنـــګ لـــه ځانـــه لنـــګ لـــرې کـــوي
زلفـــې کـــه د یـــار پـــه لاس کـــې ونیســـې یـــو ځلـــه
سر بـــه دې هـــر ګـــوره هغـــه درنـــګ لـــرې کـــوي
(٦٤: ١٧٣م).

مینه

کله مینه ستایي او کله بیا داسې وایي چې مینه جنجال دی چې پرې اخته شوې، نو بیا به تل شه کشالو کې وې چې وایي:

ګرفتـــار چـــې شي د مینـــې پـــه جنجـــال کـــې
نـــه خلاصـــېږي همېشـــه وي پـــه کشـــال کـــې
عاشـــقان ګرېـــوان پـــاره ورپســـې درومـــي
ځي په حسن مست له کبره پـه ډېـر خیـال کـې
عاشـــقان لکـــه پتنـــګ وربانـــدې ســـوزي
ورښـکارېږي نـور د یـار سـپین مـخ مشـال کـې
ناســـت ولاړ د ښـــکلیو واړه ښایســـته دي

هـېڅ گـمان مـه کـړه د ښـکلیو پـه اوبـال کـې

(٦٤: ١٧٩م).

پورته مو د پیر مطیع الله په دېوان په تفصیل سره بحث وکړ او د موضوع مطابق مو د پیر مطیع الله د دېوان څېړنه وکړه.

د حسین پېژندنه

د حسین د ژوند په اړه موږ ته کره او دقیق معلومات نشته او نه د نوموړي په دېوان کې یادونه شوې، خو له ځینو بیتونو څخه معلومېږي چې نوموړی د اورنګزېب د بادشاهۍ د زمانې شاعر و.

چې وایي:

چې مجنون غوندې تور زن پکې پېدا شي

اورنګزېب د عقل ځې د عشق له هنده

(۱۵: ج ،م).

د دېوان په خاکه کې دا هم راغلي چې د نوموړي دېوان د عبدالقادر خان خټک په مهر ثبت دی؛ نو له دې څخه هم معلومېږي چې نوموړی د عبدالقادر خان خټک د زمانې او یا هم له هغه څخه لږ وړاندې تېر شوی دی.

حسین د هزار ضلعې د پکلۍ د علاقې د ملک پور د کلي دی، په کوچنیوالي کې یې مور وفات شوې او د نوموړي پالنه یې ترور کړې ده.

کله چې رالویېږي، د همدې ترور له لور سره یې مینه پېدا کېږي، چې له هغې سره یې نکاح شرعاً جایز نه وه، ځکه له هغې سره یې یوځای شیدې خوړلې وې. اخر حسین مجبورېږي او کور پرېږدي او هرات ته ځي. نوموړی یو ګرځنده او سیاح شاعر و، چې د هندوستان مختلفو ځایونو ته تللی و. د مرګ په هکله یې دقیق معلومات نشته، خو له یو بیت څخه یې معلومیږي چې نوموړی تر ډېر زوړوالي هم ژوندی و چې وایي:

اوس پـــه سپیـنه ږیره څـرنګه توبه کړم

یـمه عشق ســره اشنـا پـه حیـرانۍ کې

د حسین شاعري

حسین چې د مینې سوز د شعر رنګ اخیستی او هغه څه چې خپلې محبوبې ته د شعر په ژبه ویل د کاغذ پر مخ یې نقش کړل او له نېکه مرغه تر موږ را ورسېدل. د حسین خوږه او روانه وینا، د شعر سادګي، د عشق په شرابو کې ډوب الفاظ او دلنشین تاثرات ذهن ته په راتلو سره سم زړه ته پرېوځي.

حسین چې د شعر له نازکخیالۍ او اوچت شاعرانه قابلیت له مخې د حمید مومند، بېدل، شیدا او کامګار خټک په صف کې د راتلو حق لري. نوموړی ځینو د خپل خوږ کلام او نازکخیالۍ او لوړ احساس له مخې چا د خوشحال، چا د رحمان او چا د حمید سبک پیرو ګڼلی او ځینې لا دا هم وایي چې نوموړی د ځانګړي طرز او خپل سبک څښتن دی.

د حسین په شاعري کې دا ځانګړنه هم له خپل اوچت ارزښت څخه برخمنه ده چې نوموړی د پښتني چاپېریال عکاسي او انځور ګري په داسې ساده، سوچه سپېڅلې او روانه توګه کوي چې سړی ورته ګوته په خوله پاتې شي. د حسین شاعري تقریباً د فارسي او عربي له الفاظو څخه پاکه او سوچه ده. په همدې ډول د حسین شاعري داسې نورې ځانګړنې هم لري چې د نوموړي د لوړ ذوق او لوړ خیال ښکارندويي کوي، موږ دلته په همدې پورته څو کرښو بسنه کوو او د حسین شاعري او لوړ خیال به یې موږ د کلام د راوړلو په برخه کې ووینو.

د حسین د دېوان ځانګړنې

د حسین دېوان چې ترتیب یې د همېش خلیل په واسطه شوی او د پبلیک ارټ پېښور له لوري چاپ شوی دی. پر دېوان باندې په لومړي سر کې د همېش خلیل له خوا د مقدمه تر عنوان لاندې څو پاڼې د حسین د پېژندنې، ژوند حالاتو او ان تر شاعري پورې په تفصیل سره بحث شوی.

د اشعارو په برخه کې د دېوان لومړی برخه غزلې دي، په غزلو پسې مخمسونه دي، چې د مخمسونو په پای ته رسېدو سره یې رباعیات شروع کېږي او له رباعیاتو وروسته په دېوان کې ټپې هم راغلي دي. هېره دې نه وي چې په دېوان کې ځینې یو دوه بیتونه هم راغلي دي. د اشعارو د برخې په پای ته رسېدو سره یې د دېوان غلطنامه ده او ځینو سمونو ته پکې اشاره شوې ده چې په همدې سره یې دېوان پای ته رسېږي.

د حسین د دېوان شعري فورمونه

د حسین دېوان چې ډېره او لومړی برخه یې غزلې دي، د غزلو په شمول یې په دېوان کې مخمسونه، رباعیات او په وروستی برخه کې ټپې هم راغلي دي چې دلته به یې له هرې برخې څخه څو بیتونه د نمونې په ډول راوړم.

غزل

د حسین په دېوان کې له الف څخه تر ی پورې د هرې پټۍ غزلې شته چې دلته به یې په دېوان کې د راغلي یوه غزل څو بیتونه راوړم لکه چې وایي:

زړه مې نه اخلي هېڅ د صبر هدایت
که ښایم ورته له هجره روایت
په کوشش د هوښیارانو نه سرکېږي
ې موقوف وي هغه کار په عنایت
په ازار به مې ماخوذ شي محتسب

بې له عشقه مې بل کوم دی جنایت
پټ رموز دی محبت د خوږو زړونو
وایه نه شي دغه سر په حکایت
(۱۵: ٥٦م).

مخمس

د حسین په دېوان کې مخمسونه هم شته چې په دېوان کې د راغلي یوه مخمس څو بیتونه په لاندې ډول دي:

ډوب ډوب تلی ستا په غم یم دل افګاره
اندېښتو وښکلم له بله کارو باره
دواړه کسي- مې شو سپین له انتظاره
زړه را وسېزه یو ځل د خدای لپاره
مخ را واړوه په ناز راته دلداره
(۱۵: ۴۹۴م).

رباعي

له مخمسونو وروسته یې په دېوان کې رباعیات راغلي چې په دېوان کې راغلې یوه رباعي په لاندې ډول ده:

شوه مې په تا پسې ژبې
ځیګر مې تود دی لکه تبې
ژوندون مې رمق په تن کې ګرځي
وهم حباب غوندې ډبې
(۱۵: ۵۰۴م).

تپې

د حسین د دېوان وروستۍ برخه تپې دي چې څو تپې یې په لاندې ډول دي:

رب دې زما په حال خبر کړه
چې دې د زړه کوڅه جدا له خلکو شینه
په هسې یار باندې مئین یم
نه یې مثال شته نه مکان چرته لرینه
زه په بې مثله یار مئین یم

دا عاشــقان مــې دلالان نيــولي دينــه

د ســــــترگو تــــــور د زړه ملهمــــــه

په غم کــې ډوب اشـنا سـلام درتـه کاونـه

(١٥: ٥٠٦م).

د حسين د دېوان منځپانگه

د حسين په دېوان کې د منځپانگې له اړخه ډېر موضوعات څېړل شوي، له مجازي عشق څخه نيولې تر حقيقي عشق پورې او همداسې نور موضوعات په دېوان کې شته چې دلته به يې د ځينو يادونه وکړو او د هماغې موضوع اړوند بيتونه به يې هم راوړو.

حمد

د څښتن تعالی په وصف يې پيل کړی او د دېوان لومړی شعر يې د الله ج حمد او ثناء ده چې وايي:

ربـه وصـف مـې جـاري کـړی پـه زبـان سـتا

چې تر مرگه يم شاکر ښه پـه احسـان سـتا

ځمکــه نــه پورتــه کــوي سر لــه ســجوده

ټيټـه مـلا اسـمان ولاړ دی پـه فرمـان سـتا

لــه مکانــه يــې پــه لــږ نظــر بېــرون کــړې

لا کــان پــه نــور رڼــا کــا ســالکان ســتا

هر زنده دې د نعمت په خوان محظوظ دی

ستړی نه دی پرې قدرت روزي رسـان سـتا

د دنيا په باب

د دې دنيا مينه عبث گڼي او د دې دنيا دولت سيم و زر نه گڼي، لکه چې وايي:

څــوک خــوږ مــه شــه پــه ضرر د دې دنيــا

دولــــت نــــه دی ســــيم و زر د دې دنيــــا

پــــه اوو دريــــابونو بــــه ســــوړ نــــه شي

ســــوی لــــوی پــــه شرر د دې دنيــــا

دوزخــي غونـدې پـه خپلـو خولـو ډوب وي

چـــې ولاړ وي پـــه محشرـــ د دې دنيـــا
د زړه سر يـــې د حـــرص پـــه زهـــر وچـــوي
هـــپ دې نـــه کـــا څـــوک اکـــدر د دې دنيـــا
(۱۵: ۱۰م).

د نصيب په باب يې نظر داسې دی:

د نصيب په باب وايي که طبيب شې او که هوښيار شې خو نصيب ته به بدلون ورنکړې او بدل به يې نکړې لکه چې وايي:

کـــه هـــزار ځلـــه هوښـــيار شـــې يـــا طبيـــب
وران به نکړې پـــه کوشـــش ښـــکلی نصـــيب
چې يې هر نفـــس د مـــرګ مـــزل غوســـېږي
هـــر ســـړی پـــه خپـــل وطـــن کـــې وي غريـــب
دغـــه روح چـــې دې لـــه تـــن سره همـــراز وي
عاقبـــت بـــه منـــبر پرېـــږدي دا خطيـــب
د اسمان په دود د خلکو په سر پـــاس شـــم
چـــې يـــو دم راسره کېنـــې خپـــل حبيـــب
(۱۵: ۳۷م).

د ځان په باب وايي:

نشـــته مـــا غونـــدې اوتـــر مجنـــون مـــزاج
يـــم د يـــار لـــه غمـــه خـــوښ محـــزون مـــزاج
پټه مينه مې په درست جهان رسـوا شـوه
پـــه بـــاطن مـــې شـــه شـــاهد بېـــرون مـــزاج
عاقبـــت بـــه مـــې د صـــبر دېـــوال پرېـــوځي
دواړه کسيـــ چـــې لـــرم ســـيحون مـــزاج
افلاطـــون د زمـــانې ورتـــه حـــيران شي
ګـــډوډ مـــه کـــړه د هيچـــا بېلتـــون مـــزاج
(۱۵: ۸۲-۸۳م).

اخلاص

د اخلاص په باب وايي:

که څه کار دی نو هم کار دی د اخلاص
تېز له نوره روڼ انوار دی د اخلاص
هغه مات زړونه د خلکو پیوندي کا
چې په لاس یې تنه کار دی د اخلاص
سپین صیقل د ائینې په دود روښان دی
چې پسرې پروت غبار دی د اخلاص
په خلیل چې سرې لمبې د ګلو باغ شه
دا همه واړه کردار دی د اخلاص

(۱۵: ۲۲۷م).

په غلتې لار تګ ښه نه بولي او وايي:

ځای ته نه رسي روان په لار غلط
دی پوی شوی خود پرست په کار غلط
زر په زر به شي اوڅار له نوره خلکه
چې یې نه کا ستا په څېر او څار غلط
ته به څرنګه د بل قدر شناس شې
چې غرور در څخه که مقدار غلط
کاږه غشي د ښو په زړونو ښخ کړه
ګنه نه لرې رسا ګذار غلط

(۱۵: ۲۳۳م).

له عشق شکایت

کله کله له عشق څخه سر هم ټکوي او وايي چې لوی جنجال دی چې وايي:

چې اخته د محبت په لوی جنجال یم
د جهان انګشت نما لکه هلال یم
د اوبو ګوهر به څنګه په لاس راوړم
چې د اوښکو له دریابه تش چنګال یم

هـم وعـظ لکـه موسـی د هـر فرعـون یـم
هـم قاتـل لکـه عیسـی د هـر دجـال یـم
کوڼ په غوږ و گونگ په ژبه ړوند په سترگو
زه په عشق کـې ښـکلی نقـش د دېـوال یـم
(۱۵: ۳۲۱-۳۲۲م).

د رقیب غندنه

رقیب سخت غندي او سپی ورته وایي:

لـه دې شرمـه ورتـه غـټ نـه شـم کتـی
چـې سـاتې راتـه رقیـب خـوړونکی سـپی
لږ مې وپوښته چې حال دې د زړه څـه دی
کلـه څرېکـې کـا لـه غمـه کلـه سـوی
کـه هـزار ځلـه لـه ځـان سره جرگـه شـم
هـېڅ مـې نـه راځـي پـه صـبر دسـت بـری
پـه رڼـا د عقـل ځـم کـوهي تـه لـوېږم
کـږې کنـدې مـې د عشـق نـه کـا سـمې
(۱۵: ۴۱۱م).

نازکخیالي

په اشعارو کې یې نازکخیالي هم لیدل کېږي:

څو په مینه کې چوک چوک نه شي بنـد بنـد
اوبـه نـه وینـې د ښـکلو چشـمان برنـد
چې مې شونډې یار په شونډو باندې کېښوې
بـې زبېښـلو مـې تـالو تـه لاړو قنـد
ښه چې ستا په څېر بشر پـه جهـان نشـته
رب دې مـا درتـه لـوگی کـا لکـه سـپند
ناچـاری پـه جـدایی د یـار راضي کـړم
دوغښـې کلـه خوښـېږي پـه خپـل ژونـد
(۱۵: ۱۰۰-۱۰۱م).

د عشق په باب

په عشق کې ځان خوښ بولي او وايي:

هـېڅ د عشـق پـه ګرانـو لارو رهـبر نـه يـم
چـې د روغـو سره ناسـت يـم اوتـر نـه يـم
تل د ځان په سوو خوښېږم په خپل عشق کې
زه پتنـګ يـم سـتا د مـخ سـمندر نـه يـم
د هجـران پـه اور کبـاب غونـدې تلېـږم
سـتا د مينـې لـه خوښـو لاس پـه سر نـه يـم
که لـه يـاره خـوا پـه خـوا شـم هـم مهجـور يـم
لا پـه ترهـه کـې تـرې پـروت يـم زړور نـه يـم

حقيقي عشق

د حقيقي عشق نمونې يې هم په دېوان کې تر سترګو کېږي، لکه چې وايي:

بـل طـرف بـه څـه لـه درومـم مسـلمان يـم
ايښـی سر پـه اسـتانه د خپـل جانـان يـم
په جذبه مې يـې د عشـق حسـن غالـب شـه
نندارچي شوم د خپل ځان د يار په شـان يـم
هـم پـه دا تحصـيل تمـام د محبـت شـوم
چـې لـه عقلـه کنـاره چـورلم نـادان يـم
پـه زوال مـې هـېڅ کـې د کـمال نـه شي
مـخ پـه ځـوړ کـه لکـه سـيند مـدام روان يـم

(۱۵: ۳۱۱-۳۱۲م).

د يار په مينه فخر کول

وايي که يار راته خپل در خلاص کړي او ترې مې پردی نه کړي، نو زه به له کبره تندی هيچا ته کوز نه کړم چې وايي:

کـوز بـه هيچاتـه لـه کـبره تنـدی نـه کـړم
کـه دلـبر لـه خپلـه دره پـردی نـه کـړم

کـه سـاتلې مـې سـاتي زلفـې و مـرګ تـه
لـه مـرۍ بـه لـرې دا غړونـدی نـه کـړم
ټولې خولې مې د امېد غنچـې شي مـړاوې
چې سپرلی د خـوږ خـاطر ورتـه دی نـه کـړم
کـه څـوک راکـه بادشـاهي تـر شرقـه غربـه

پـرې بـه ور د ګلرخـانو کنـدې نـه کـړم
(۱۵: ۳۱۹م).

د یار په مینه مستي

کله د یار په مینه مست شي او وایي چې هر ماښام د یار د مینې جام څښم لکه په لاندې بیتونو کې چې راغلي:

اوس د یـار د مینـې جـام
څښـم پـه ډاګـه هـر ماښـام
هـېڅ پـروا مـې پـه چـا نشـته
کـه نېکنـام یـم کـه بـدنام
نه یې قند په زړه کې ګرځـي
نـه شـېرین لذیـذ طعـام
چې یې نقش شي په زړه کې
خـوږې شـونډې د ګلفـام
(۱۵: ۳۳۴م).

له بخته شکایت

له خپل بخت څخه شکایت کوي او وایي چې نه دې یار راسره جوړ کړ او نه مې یار پسې ساه ووته چې وایي:

یـم مـدام لـه خپلـه اه
سـوی لـوی حـال تبـاه
سـنګین زړه د دلبرانـو
نـه کـا هـېڅ را څخـه تـراه
هـی زمـا کړلـی بختـه

څه کوږ کـوږ درومـې ګمـراه

نــه دې يــار راسره ســاز کــه

نــه مــې خېــژې پســې ســاه

(۱۵: ۴۰٦م).

په پورته ډول د حسين په دېوان کې لسګونه نور موضوعات هم شته چې د ټولو يادول دلته يادول نه غواړم او په همدې پورته څو کرښو بسنه کوو.

د رحمت داوي پېژندنه

رحمت داوي چې د خپلو غزلو د مقطع په بیتونو کې ځان رحمت الله، رحمت او رحمت داوي په نومونو یادوي او د منځنۍ دورې صاحب دېوان شاعر دی، نوموړي د دېوان تر څنګ د لیلی او مجنون کیسه هم په خورا خوندور انداز ترجمه کړې ده. د رحمت داوي د زوکړې دقیقه نېټه نه ده څرګنده، خو د دېوان په سریزه کې یې په لاندې ډول ویل شوي دي: (زموږ مورخینو په تخمیني ډول دیوان د داخلي شهادتونو له مخې د رحمت داوي د زوکړې نېټه (١١٥٦ ق، ١١٥٧ق او ١١٦٠ ق) شاوخوا ښودلې ده.

د مړینې دقیقه نېټه یې هم معلومه نه ده؛ خو په (١٢١٠ ق) کال یې د لیلی و مجنون کیسه نظم کړې ده، دا مهال شاه زمان د افغانستان پاچاه دی، نو ویلای شو چې تر دې وخته پورې د رحمت داوي ژوند یقیني دی او تر دې وروسته یې د ژوند په باب معلومات نشته. رحمت داوي ځان د کندهار بولي او په خپلو شعرونو کې کندهار او د کندهار همزولي یادوي. له کندهار څخه تر وتو وروسته لومړی کوهسار او بیا کشمیر ته مسافر شوی دی، چې هغه مهال د کشمیر والي جمعه الکوزی دی او رحمت داوي له نوموړي څخه سر ټکوي، د هغه له مړینې وروسته یې زوی نواب عبدالله خان الکوزی د کشمیر والي شو چې هغه رحمت داوي نازولی او د رحمت داوي قدر یې کړی دی(٢٩: ١٢-١٣م).

پورته مو د رحمت داوي د پېژندنې په باب یو څو کرښې ولیکلې او نور د نوموړي د ژوند په باب یې زموږ مخې ته څه معلومات رانغله.

د رحمت داوي شاعري

د رحمت داوي شاعري چې زیاتره یې د عشق او جمال داستان دی. شعر یې زیاتره په دولسو او اتو سپلابونو په کالب کې ویلی دی، نو ځکه یو ډول یک نوخته لګېږي. له اشعارو څخه یې لوړ شاعرانه فهم او ادبي ذوق معلومېږي.

په اشعارو کې یو نیم تصوفي مفاهیم او تصوفي غزل هم لیدل کېږي، ځینې د کثرت او وحدت خبرې یې هم کړي دي، خو په ټوله کې ویلای شو چې نوموړی صوفي نه دی او ګمان کېږي چې نوموړی دې د تصوف د لارې پیرو وي. په اشعارو کې وطني مینه هم ښکاري او په خپلو شعرونو کې د نادر افشار، احمدشاه بابا او تیمورشاه یادونه کړې ده.

د رحمت داوي په دېوان کې چې یوه قصیده او یوه الفنامه راغلې ده، نورې ټولې غزلې دي؛ نو ویلی شو چې رحمت داوي د غزل شاعر دی او غزلې یې خوږې دي، په موضوعي لحاظ یې هم په اشعارو کې لږ اخلاقي او تصوفي مسایل موندل کېږي، خو د مینې او عشق ډېر پیچلي موضوعات یې په خورا ساده او روان ژبه وړاندې کړي دي.

تر ډېره يې کار له مينې سره دی، د دېوان ډېرې خبرې يې په مينه او عشق را څرخي، له بېلتون سر ټکوي او د وصال غوښتنه کوي، خو داسې معلومېږي چې وصال نه مومي او تر اخره د يار مينې ته هوسېږي او دومره په مينه کې غرق دی چې د يار راتلو په زېري کې سر نذرانه کوي چې وايي:

که چا نارې کړې چې دا دی يار دې راغی

زه رحمت غريب بـه سر ورکـړم پـه زېـري

(۲۹: ۳۸۸م).

د رحمت داوي شعر د خيال په لحاظ لوړ، د فکر په لحاظ ژور، طبع يې هر ډول فکر وړاندې کولو ته برابره ده او په ټوله معنا يو زبردست او پر موضوعاتو مسلط شاعر دی. رحمت داوي د رحمان بابا د ادبي مکتب پيرو شاعر دی، له رحمان بابا متاثره دی او د اشعارو په ځينې ځايونو کې کټ مټ د بابا خيال اخلي او په خپلو الفاظو يې بيانوي.

په اشعارو کې د رحمان بابا تر څنګ د ځينو نورو شاعرانو يادونه هم کړې چې له دغو ټولو څخه د رحمت داوي د پوهې او علميت څرنګوالی معلومولی شو. د رحمت داوي د شاعري په باب نور نه غږېږو او نمونې به يې د شعري فورمونو او منځپانګې په برخه کې راوړو.

د رحمت داوي د دېوان ځانګړنې

رحمت داوي يو بشپړ دېوان لري، خو متاسفانه چې تر اوسه يې بشپړه قلمي نسخه نه ده موندل شوې، کومې قلمي نسخې چې موندل شوي ټولې نيمګړې او ناقصې دي.(تر لاسه شوو خطي نسخو کې تر ټولو بشپړه نسخه د حبيب الله رحمن نومي خطي نسخه ده چې د پېښور په مردان کې اوسېده، خو هغې نسخې هم د سر له خوا نيمګړي لرله.

ښاغلي استاد حبيب الله رفيع له دغه نقل څخه ځينې غزلې انتخاب کړي او د سره غره ګلونه نومې رساله کې يې چاپ کړې، د دغې نيمګړي نقل د بيتونو شمېر تر دوه زره اوښتی او د غزلو شمېر يې (۲۲۰) ښودل شوی دی. رحمت داوي يو بل اثر هم لري چې د ليلی او مجنون کيسه ده چې رحمت داوي په پوره کمال پښتو کړې ده. همدارنګه يې د يوې بلې مثنوي ذکر هم راغلی چې هغه هم نيمګړې يادوي(۲۹: ۸۱-۱۹م).

د رحمت داوي له درې قلمي نسخو څخه يادونه شوې چې له يوې څخه مو پورته يادونه وکړه. دويمه يې په کندهار کې موندل شوې، د دغې نسخې څو پاڼې ښاغلي حمدالله صحاف ته په لاس ورغلي او هغه ښاغلي استاد حبيب الله رفيع ته سپارلي او رفيع صيب په لومړي ځل د داوي په هکله مقاله کې خپرې کړي دي او دريمه قلمي نسخه يې همدا زموږ په لاسونو کې ده چې دا حاضر متن ترې ترتيب شوی دی.

دا نسخه په کندهار کې د اوښاد حاجي عبدالغفار توخي په کتابخانې پورې اړه لري. د نسخې نورې ځانګړنې هم ذکر شوي چې موږ ترې تېرېږو او دومره یادونه کوو چې د رحمت داوي دېوان چې سریزه، سمون او لغتنامه یې مطیع الله روهیال کړي په (۱۳۹۵ ل) کال د علامه رشاد خپرندویه ټولنې کندهار له خوا چاپ شوی دی.

د رحمت داوي د دېوان شعري فورمونه

د رحمت داوي په دېوان کې لکه څنګه مو چې وړاندې یادونه وکړه تر ډېره غزلې دي او له غزلو پرته یې په دېوان کې یوه قصیده او یوه الفنامه راغلې چې په دېوان کې د راغلو شعري فورمونو څخه به یې د بیتونو په راوړلو سره یادونه وکړو.

غزل

د داوي په دېوان کې د راغلي یوه غزل څو بیتونه په لاندې ډول دي:

بې لـه یـاره هرګـز نـه شي زمـا صـبر
بېهـوده راتـه سـتايي ناصـحان صـبر
هجران اور دی رالګېږي زړه مې سوځي
راتـه وايـي څرنـګ کـړم لـه ژړا صـبر
چې په تنده وچه خوله وي سوی سرې
کلـه کېـږي و اوبـو تـه د چـا صـبر
چـې امېـد يـې د وتلـو ځنـې کېـږي
څـوک بـه وکانـدي پـه ميـان د بـلا صـبر

(۲۹: ۱۱٦-۱۱۷م).

الفنامه

د داوي په دېوان کې الفنامه هم شته چې ځینې بیتونه یې نیمګړي دي، خو زه یې دلته هغه بیتونه راوړم چې بشپړ دي:

الـف قـد ښايسـتو بلـلای بويـه
ب بيـان د ښايسـتو ويـلای بويـه
زه زه وايـم و شـيدا تـه درومـه ژاړه
س سـندونه د وصـال غوښـتلای بويـه

ش شرر دي په جهان کې له رقیبه

ص صابر دې صبر ډېر سهلا بویه

ض ضایع دې له غمونو دلګیر مه شه

ط طاهره د غمو خندلای بویه

(۲۹: ۳۴۰م).

د رحمت داوي د دېوان منځپانګه

لکه څنګه مو چې پورته هم یادونه وکړه د رحمت داوي دېوان نیمګړی دی او د غزلو ځینې بیتونه یې نشته چې موږ به دلته هڅه وکړو تر څو پوره غزلې را واخلو.

حمد

د دېوان پیل یې د څښتن تعالی په حمد او ثناء سره شوی دی چې د دې غزل هم ځینې بیتونه نیمګړي دي چې وایي:

بسم الله مې وویله ابتدا

..... اغاز کړم هویدا

بسم الله مې نوم د خدای د کلام سر دی

هر عارف په بسم الله سره ګویا

بسم الله هم سر د امر ذي بال دی

چې ونه شي بسم الله کار بې وفا

بسم الله مې که مدد شي سخ ځما دی

پر هر کار به توکل کړم بې پروا

(۲۹: ۳۷م).

د یار په مینه مست

د یار په مینه مست دی او چې د یار په رخسار یې نظر کېږي نو حیرانېږي لکه چې وایي:

چې نظر کړم پر رخسار د محبوبا

ورته پاتو شم حیرانه عجبا

هېڅ ذره صبر و شکیب را پاته نه شي

که هزار نصحت راکړي اقربا

گرمې اوښې مې تر سترگو را بهېږي
لا و غم ته د يار وايم مرحبا
اه فغان مې هېڅ اثر ورباندې نه کا
زما په بخره کړه خدای هسې دلربا
(۲۹: ۳۹م).

د يار له غمه فرياد

د يار له غمه اه او فرياد کوي، لکه چې وايي:

د اشنا له غمه نول کا زړه زما
هم سيندونه بهوي لېمه زما
تر چشمانو مې په ورټ ورټ اوښې دورمي
گويا کاندي د دې تور مخ وله زما
خبر نه يم دا مې کومه کمبختي ده
و اشنا ته بد ښکارېږي ښه زما
ما به ځان تر يار قربان کړ باري څه کړم
چې نا کړي په حساب کا کړه زما
(۲۹: ٥٦م).

له ښکلو شکايت

له ښايستو شکايت کوي او وايي چې ښکلي وفا نه کوي او سل رنگه جفاگانې چې وايي:

ښايسته نه کا له چا سره وفا
همېشه کاندي په سل رنگه جفا
هغه څوک چې عاشقي کا له خوبانو
د هجران سواره يې گرځي په قفا
په ويل د مدعيانو چرکين نه شول
له ازله چې خدای کړه سينه صفا
هغه زړه چې خدای د ترکو په تېغ غوڅ کړ
په دارو د طبيب نه مومي شفا
(۲۹: ٦۰م).

د یار ستاینه

د یار ستاینه کوي او وایي که زلفې شانه کړي؛ نو عاشقان به له حیرته لېوني شي:

یـار کـه یـو ځلـه دوې زلفـې پـه شـانه کـا
عاشــقان بــه لــه حیرتــه دېوړانــه کــا
پــه خــرام خــرام کــه ورشي لکــه شــمع
واړه جمــع د مجلــس بــه پروانــه کــا
د سرو شونډو مې که یو ځله پـه نـوش کـا
زاهــدان د صــومعې بــه رندانــه کــا
چې یې هېڅ نظر په نام و په ننـګ نـه وي
صـد سـاله زاهـد بـه هسـې مسـتانه کـا

(٢٩: ٦٢-٦٣م).

له یاره شکایت

له یار ګیله من دی او وایي چې زړه یې راڅخه یوړه؛ نو اوس زما غریب پوښتنه نه کوي چې وایي:

ولــې یــار لــه مــا غریبــه یــاري نــه کــا
غم یې راکړ په هېڅ رنګ غمخواري نـه کـا
پــه جــادو د تــورو ســترګو دلبرانــو
زړه مـې یـوړو څـه فایـده دلـداري نـه کـا
وبـه نـه وینـې عاشـق د اشـنا سـترګې
څو تودې اوښـې تـر سـترګو جـاري نـه کـا
زه بـه وصـل شـوم لـه یـاره پـه ښـه وجـه
کـه اغیـار مـې تـر اا میـان اغیـاري نـه کـا

(٢٩: ٦٤م).

د دنیا په باب

کله چې دنیا ته پام کوي زړه یې تورېږي او د دې دنیا په انکار خوښېږي لکه په لاندې بیتونو کې چې دې موضوع ته اشاره کوي:

مــا چــې ولیــده روزګــار د دې دنیــا
زړه مـې خـوښ شـو پـه انکـار د دې دنیـا

عاقبت به د یار مخ ورته ښکاره شي
څوک چې وي شکر ګذار د دې دنیا
بې له شکه به په اور کې د غم سوځي
هغه څوک چې دی غمخوار د دې دنیا
بېهوده یې غم لرې عاقله واوره
هیچا نه کړ سم رفتار د دې دنیا
(٢٩: ٦٥م).

احتیاج

احتیاج ډېر بد ګڼي او دعا کوي چې الله ج دې هیحوک هم نه احتیاجوي چې په دې باب خپل قلم داسې خوځوي:

ګوره څه عجب روزګار دی احتیاج
پرده در د پرده دار دی احتیاج
خدای ورمه کړه هیچاته رنګ یې بد شه
تف لعنت شه شرمسار دی احتیاج
ډېر بې قربه شي عزت یې ځنې واخلي
که پسرې د مور و پلار دی احتیاج
که په قدر د یو جنس وي و حیاته
په مقدار لکه خروار دي احتیاج
(٢٩: ٨٣-٨٤م).

شوخي

یار په ډول ډول القابو یادوي، په لاندې غزل کې د یار شوخي یادوي او وایي:

راکړ خدای و ماته هسې جانان شوخ
چې تر وصل دی ډېر خوښ په هجران شوخ
چې په زړه یې کړې وروځې زلفان کړم
را دوخاره شي لړم و ماران شوخ
په هر دم مې تر زړه خېژي پورې ورې
هسې رنګ یې شو ناوک د مژګان شوخ

تېـــرې تـــورې ورپـــه لاس زړه مـــې ور وژني

مردمـک يـــې بـــې صرفي د چشـــمان شـــوخ

(۲۹: ۹۲م).

حريص

رحمت داوي وايي که د حريص په لاس کې دا ټول جهان هم ورکړې، نو بيا به هم نوموړی حرص کوي چې د شعر په ژبه يې په لاندې ډول ياده موضوع بيان کړې ده:

که جهان وي درست په لاس کـې د حـريص

لا بـــه زړه وي پـــه وســـواس کـــې د حـــريص

لک و کروړ که يې په کور کې نقـد پراتـه وي

لا وي ســـترګې پـــه افـــلاس کـــې د حـــريص

لـــــه همـــــه و بېګانـــــه مـــــرور ګرځـــــي

شر بـــه وي پـــه خيرالنـــاس کـــې د حـــريص

پر خپل ځای يې هېڅ ارام و نشست نه شي

اور لوېـــدلی پـــه لبـــاس کـــې د حـــريص

(۲۹: ۱٦۷م).

تمه کوونکی

تمه کوونکی د هرچا منت بار بولي او وايي چې ترڅو ژوندی وي نو د نورو منت وړونکی به يې لکه چې وايي:

څـــو ژونـــدی پـــر دا دنيـــا ګرځـــي طـــامع

منـــت بـــار بـــه د هـــر چـــا ګرځـــي طـــامع

همېشـــــه بـــــه وي ولاړ د بـــــل و در تـــــه

پـــه عـــالم کـــې بـــه رســـوا ګرځـــي طـــامع

لـوی هلـک بـه هـېڅ حيـاء ورځنـې نـه کـا

تـــل بـــه هســـې بـــې حيـــا ګرځـــي طـــامع

په امېـد چـې بـل تـه ورشي شرمنـده شي

لـــه همزولـــو بـــه پـــه غـــلا ګرځـــي طـــامع

(۲۹: ۱۸۴م).

دروېشان

د درويشانو په باب داسې وايي:

کـه خـبر شـې پـه همـت د درويشـانو
همېشـه بـه کـړې خـدمت د درويشـانو
هرګز شک ورباندې مه کړه که دانا يې
ګـوره حـق دی کرامـت د درويشـانو
ناست پر ځمکه وي دستار پر عرش تړينه
هسـې لـوی دی قـد قامـت د درويشـانو
څه شو نن که خوار خسته په دنيا ګرځي
سـلطنت دی پـه قيامـت د درويشـانو

(۲۹: ۱۴۳م).

د مظلوم ازار

هغه څوک چې په دنيا کې په مظلوم ظلم کوي؛ نو ځای يې جهنم ګڼي او په دوزخ کې به ازارېږي لکه چې وايي:

پـه قيامـت بـه پـه دوزخ کـې ازارېـږي
څـوک چـې اخـلي د مظلومـو ازارونـه
راشـه لار د راسـتۍ ونيسـه روان شـه
بېوفـا دي د درواغـو قطارونـه
چې نـن ستا سبا د بـل وي کـه دانـا يـې
اعتبـار مـه کـړه پـه هسـې روزګارونـه
د بنـو تـر ځنبـول چـې فـاني کېـږي
دنيـا څـه ده چـې بـه وي د دې کارونـه

(۲۹: ۳۳۱م).

دا د رحمت داوي د ديوان منځپانګه وه، چې د نمونو په راوړلو سره مو ذکر کړه، په همدې ډول يې په ديوان کې نور موضوعات هم شته چې موږ په همدې پورته ذکر شويو بسنه کوو او د رحمت داوي بحث په همدې ځای پای ته رسوو.

د مصري خان گگیانې پېژندنه

د منځنۍ دورې دېوان لرونکي شاعر مصري خان گگیانې به لومړی لنډه پېژندنه وکړو او بیا به یې په دېوان بحث وکړو. (مصري خان په قوم گگیانی چې په دېوان کې هم ځای ځای ذکر کړی دی، تخلص یې عموماً مصر کړی دی او کله یې مکمل نوم مصري خان هم ویلی دی(۵۴: ۱۰م).

د نوموړي د پیدایښت او مړینې په هکله داسې څرگند معلومات نشته، خو د دېوان له داخلي شهادتونو څخه یې چې څه جوتېږي هغه به یې دلته راواخلو. (مصري خان د هجري یولسمې صدۍ د اخري برخې او د دولسمې صدۍ اولنۍ برخې تر منځ وخت کې ژوند کړی دی. د مغلو د پاچاهۍ د عروج او زوال دواړو تر منځ دورې یې په خپلو سترگو لیدلي دي(۵۴: ۲۴م).

د نومړي له اشعارو څخه داسې معلومېږي چې د ځوانۍ لومړی وخت یې په خوښۍ کې تېر کړی او له غمونو او اندېښنو لرې دی، تر بوډاوالي رسېدلی او د ژوند اخري برخه یې په غمونو کې تېره شوې.

مصري خان گگیانې شاعري

مصري خان چې شاعري په دوه ژبو فارسي او پښتو کړې او په دېوان کې ځینې داسې اشعار هم شته چې په پښتو او فارسي دواړو ژبو (ذوالسانین) دي. که د نوموړي پښتو کلام ته وکتل شي نو نوموړی د اولني صف په شاعرانو کې شمېرلی شو او ویلی شو چې د نوموړي پښتو کلام یو اوچت او اعلی کلام دی. هېره دې نه وي چې شاعري یې په پښتو او فارسي دواړو ژبو کې له غزل څخه نیولې، رباعي، قصاید، متفرقات او نور ټول لري.

په اشعارو کې عشق، اخلاقیات، سیاست، تاریخ، پند، نصحت، مرثیه او داسې نور موضوعات شتون لري. د مصري خان په کلام کې تر ډېره غمناک او سوز ناک اشعار ډېر دي، له دې سره سره یې یوه خوا هم همداسې تته نه ده پرېښې او په هره برخه کې یې د خپل کلام نیلی ځغلولي دي.

لکه څنگه چې عشق او شاعري داسې تړلي او نه جلاکېدونکي ښکاري؛ نو مصري خان هم په کلام کې عشقي شاعري لري او تر ډېره یې کلام عشقي رنگ لري لکه چې وایي:

نوزاده مې د زړه غوړ په محبت دي

چې له عشقه بې بهره ویل سپور کا

(۵۴: ۳۲م).

په همدې ډول یې په شاعري کې ټولې خواوې رانغاړلي او نور به یې د دېوان منځپانگې په برخه کې اشعار هم ولولو.

د مصري خان ګګیاڼي د دېوان ځانګړنې

د مصري خان ګګیاڼي دېوان چې ترتیب او تدوین یې خیال بخاري کړی او د پښتو اکاډمي، د پېښور یونېورسټي له خوا چاپ شوی دی.

د دېوان په لومړي سر کې د مولانا عبدالقادر او بیا ورپسې د خیال بخاري اوږده لیکل راغلي دي چې تقریباً دغه لیکل تر (٦٦) مخونو رسېږي.

د مصري خان په دېوان کې له غزل، رباعي، قصیدې او نوره شاعري چې د پښتو او دري دواړو برخو کې شامله ده. د دېوان لومړۍ برخه یې پښتو غزلې، ورپسې رباعي او په همدې ترتیب نوره شاعري دي، چې له پښتو شاعري وروسته یې فارسي شاعري شروع کېږي. په اخره کې د غلطنامې تر عنوان لاندې ځینې سمونې شوي او په همدې سره یې دېوان پای ته رسېدلی دی.

د مصري خان ګګیاڼي د دېوان شعري فورمونه

د مصري خان ګګیاڼي په دېوان کې لاندې شعري فورمونه شتون لري چې له ځینو څخه به یې د څو بیتونو په راوړلو سره یادونه وکړو.

غزل

د مصري خان دېوان لومړۍ برخه د غزلو ده چې پکې د راغلي یو غزل څو بیتونه په لاندې ډول دي:

چې یې نقش په زړه خیال شي د اشنا
وظیفه یې قیل و قال شي د اشنا
تر دا لویه ولجه نشته په جهان کې
چې فدا یې سر و مال شي د اشنا
همېشه به په عاشقو کې سرخ رو وي
چې د عشق په تېغ حلال شي د اشنا
که یې قد و قامت سم لکه الف وي
خم په عشق کې لکه دال شي د اشنا

(۵۴: ۵م).

متفرقات

په دېوان کې ډېره برخه متفرقات دي او بېلابېل بېتونه پکې راغلي دي، په متفرقاتو کې راغلي څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

هېر مې نه يې هېر به دې نه کړم
که عالم ډېر دی زه به يې څه کړم
عزيز مظلوم دی تاته معلوم دی
په وړاندې درومم بېرته کاته کړم
په زړه کې ته يې ناست يم له خلکه
غم خو د ستا مصر زه يې اوبه کړم
(۵۴: ۱۴۱م).

رباعي

په دېوان کې له متفرقاتو وروسته رباعيات دي چې يوه رباعي يې په لاندې ډول ده:

پـه ښـه خـبره چـې څـوک عمـل نـه کـا
بخت به همراه نه که دولت بـه مـل نـه کـا
مرد خام اندېش نه وي پخته اندېش نه وي
پـه کـار تلـوار کـا طـول امـل نـه کـه
(۵۴: ۱۸۴م).

فارسي کلام

د مصري خان په دېوان کې له رباعياتو وروسته د نوموړي فارسي کلام شروع کېږي چې په دېوان کې د راغلي يوه فارسي غزل څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

دلم ز ديـــدن تـــو ديـــده بـــر نگرفـــت
گـدا بـه طمـع ز خـوان کـرم نظـر نگرفـت
مـــرا بکـــوی تـــو بنمـــود راه رهـــبر عشـــق
بـه کـام دل نرسـد هـر کـه راه بـر نگرفـت
بـــر مـــراد زنخـــل امېـــد نتـــوان چيـــد
هـر انکـه قـد تـوای سـيمبر بـه بـر نگرفـت
لبم ز وصل تو خشک ست و چشم تر ز فراق
خـد يـو روم چنـين ملـک بحـر و بـر نگرفـت
(۵۴: ۱۸۹م).

د دېوان د فارسي په متفرقاتو کې د يوې قصيدې څو بيتونه په لاندې ډول دي:

در وصف بهار شادمانی و مدح گل ارغوانی

عنفوانی مرزای مرزا غازی بیگ عطوفت نشان

پسر- اقبال دعوالی پناه چین پلوچ خان

خزان بگذشت وه وه وه جهان ارا بهار امد

حریفان چمن شد مست و ساقی هوشیار امد

ز عشق بلبل سر گذشته تاثیر عجب دیدم

که گل یک ساله ره او را زبهر اعتذار امد

سحاب فیض پیشه رونق افزای جهان گردید

بشادابی گلهای چمن بهر نثار امد

(۵۴: ۲۲۳م).

د مصري خان ګګیاڼي د دېوان منځپانګه

د مصري خان دېوان د منځپانګې له اړخه عشقي، اخلاقي، ټولنیز مسایل او نورو ګڼ اړخونه رانغاړي، چې موږ به یې د ځینو موضوعاتو یادونه د بیتونو په راوړلو سره وکړو.

حمد

د څښتن تعالی په حمد او ثناء سره یې د دېوان شاعري پیلېږي لکه چې وایي:

ای اوله اول دی له تا پیدا

ای اخره اخر هم پیدا له تا

هم اول یې هم اخر یې که اخر یې

نه اخر یې چې اخر وي منتها

اول بې اوله اخر دې بې اخره

بې اوله بې اخره یې خدا

خدایا ته خدا خود او بې تا خدایه

نیست و هست وو همه واړه نا پیدا

(۵۴: ۱م).

عشق

مصري خان عشق هم پاللی او په دېوان کې یې په دې باب ډېرې نمونې شته لکه:

چې يې نقش په زړه خيال شي د اشنا
وظيفه يې قيل و قال شي د اشنا
تر دا لويه ولجه نشته په جهان کې
چې فدا يې سر و مال شي د اشنا
همېشه به په عاشقو کې شرخ رو وي
چې د عشق په تېغ حلال شي د اشنا
که يط قد و قامت سم لکه الف وي
خم په عشق کې لکه دال شي د اشنا
(۵۴: ۵م).

د يار ستاينه

خپل محبوب له گل سره تشبيه کوي او د يار په نشتون کې د چمن ټول گلونه خار بولي لکه چې وايي:

چې له نازه په خندا شي يار زما
شگفته ي د عشرت بهار زما
په گلزار کې چې يې نه وينم په سترگو
هر يو گل شي و نظر ته خار زما
بې د يار له سهي قده له قامته
سهي سرو د چمن شي دار زما
په هيبت به يې نفس شي پورې ووري
غر به وسهلي نه شي بار زما
(۵۴: ۷م).

د انسان اوصاف

د انسان لپار شرف په ښه خوی کې گڼي، د انسان او حيوان تر منځ ښه عمل فرق ښايي چې وايي:

د سړي شرف په خوی دی نه په ذات
نه په زور و زر په فرش و په قنات
د انسان و حيوان فرق په ښه عمل دی
او که نه پر اصل واړه حيوانات

روښنايي که د افتاب په مخ کې نـه وای
دا رڼـــا ورځ بـــه هـــر چـــا بللـــه رات
چې حاصل يې معرفت نه وي جاهل دی
کـه څـوک ولـولي تفسـير او يـا مشـکات
(۵۴: ۱۰م).

د دنيا په باب

د دې دنيا چارې عبث بولي او وايي چې په خوښي او غم پورې بايد زړه ونه تړو او دا فنا کېدونکی جهان دی چې د شعر په ژبه يې داسې وايي:

د دنيـــا کارونـــه کـــل واړه عبـــث
د فنـــا کارونـــه کـــل واړه عبـــث
مه يې زړه په ښادۍ ښاد مه په غم بد کړه
بـــې بقـــا کارونـــه کـــل واړه عبـــث
کـه د هـر در گـدايي کـه سـلطاني کـړې
هغـــه دا کارونـــه کـــل واړه عبـــث
پـه دا نقـد نفـس لاس پـه لاس سـودا کـړه
د نســـيا کارونـــه کـــل واړه عبـــث
(۵۴: ۱۳م).

د مرگ يادونه

وار په وار د يارانو تلون يادوي، ځان مخاطب کوي او زموږ پام هم مرگ ته ور اړوي او وايي چې بايد تياری ورته وکړو، په دېوان کې په دې باب داسې راغلي:

وار پـــه وار مـــين يـــاران کـــوي ســـفر
تـه پـه څـه هسـې بـې غـم يـې بـې خـبر
لـور پـه لـور د مـرگ نـارې پـه غـوږو اورې
پـه شـنوا غـوږو غفلـت کـړې کـور و کـر
چـې تـر کـوچ پخـوا د کـوچ زېرمـه ونـه کـا
هغـــه کـــس بللـــی بويـــه گـــاو خـــر
نېـــک عمـــل د لارې مـــل درسره پايـــه

پـــــــه دا لارې حـــــــيراني ده سرا سر

(۵۴: ۲۷م).

اعتدال

په کارونو او هره چاره کې د اعتدال او میانه روي پلوی دی، لکه چې وايي:

کـار پـه اعتـدال کـړه مـه افـراط کـړه مـه تفـريط
ښـه شـه ښـه خصـال کـړه مـه افـراط مـه تفـريط
ښـــه کـــړه لـــه نېکـــانو پـــه هـــنر بـــد لـــه بـــدانو
کل پـه خپـل مهـال کـړه مـه افـراط کـړه مـه تفـريط
بـاور تحمـل کـړه نـه چـې ورک وقـر وقـار کـړې
قطـع لـه ارزال کـړه مـه افـراط کـړه مـه تفـريط
کم وايه خوش گوی شه جرات مه کړه په گفتار کې
فهـم پـه خپـل قـال کـړه مـه افـراط کـړه مـه تفـريط

(۵۴: ۴۴م).

خوښي

د يار په ديدن کې لکه شراب مستېږي، په وصال يې خوشحالېږي او د يار د کبر خريداري هم کوي چې وايي:

لکـه زه دې پـه وصـال يـم نـن خوشـحال
هېڅ مهجور به خوشحال نه وي په وصـال
لکـه زه دې د ديـدن پـه شراب مسـت يـم
بل به نه وي څوک زما غوندې مست حـال
لکـــه زه دې خريـــدار د کـــبر خيـــال يـــم
بل به هسې خريـدار نـه وي سـتا د خيـال
ستا د در د خـاک نشـينو همـراه جـاه دی
چـــې حـــيران دی ورتـــه شـــاه ذوالاقبـــال

(۵۴: ۵۴م).

د يار غم

د یار غم هم چاته په اساني نه ورکوي او درد او غم ته یې ملهم نه غواړي، وايي چې زه پکې خوښ یم چې کلام یې به لاندې ډول دی:

وربـه نـه کـړم پـه ښـادۍ غـم د صـنم
درد و داغ لـره یـې نـه غـواړم ملهـم
لـه طبیبـه ارزو د عـلاج نـه کـړم
مـا خـوښ کـړی دی د یـار د درد و الم
د عشـق غـم پـه غـم بـالا شي وی ښـادي دي
دا ښـادي پـه بختـورو مسـلم
عشق د هر خراب عاشق په زړه کې ګنج وي
نـور د چـا دی هسـې ګـنج محتشـم
چـې د عشـق اسـیب پـرې ولګـي ابـتر شي
نـه چلېـږي پـر د عقـل افسـون دم

(۵۴: ٦١م).

فلک

له فلکه شکایت کوي او وايي:

دا فلـک چـې هسـې ګـج ګرځـي بـې واکـه
ګـمان مـه کـړه چـې د چـا د درد دوا کـه
لـه یـوه غمـه لا زړه خـلاص شـوی نـه وي
لـس بـه نـور غونـه نـوي ور پـه خـوا کـه
غمخـوار یـاران مونـه پـه جهـان نـه شي
اوس یـاري پـه پـولاوو پـه خـوروا کـه
پـه نعمـت راحـت کـې ډېـر یـاران پیـدا شي
پـه محنـت افـت کـې واړه ځـان سـېوا کـه

(۵۴: ۹۰م).

بېلتون

جدايي ګرانه بولي او داسې يې ګڼي لکه له روح چې له تن څخه جلا کېږي وايي:

روح له تنه نه بېلېږي په اسانه

د جانـــان جـــدايی ســـخته ده لـــه ځانـــه
بـې يوسـفه يعقـوب ع څـه رنـگ نـه ړنـدېږي
چـــې يـــې نـــور چشـــم درومـــي لـــه کنعانـــه
غـــم مـــاتم شي د بلبلـــو پـــه کـــور نـــوی
چـــې موســـم د گلـــو درومـــي لـــه بســـتانه
بـــې نـــوا يـــې لـــه بورجلـــه هســـې درومـــم
لکـــه وړی چـــې څـــوک وشـــړي لـــه خوانـــه
(۵۴: ۹۲م).

د ښکلو غندنه

ښکي غندي او د دې دور ټول ښکلي بې وفا بولي چې وايي:

ښـــکلي د دې دور بـــې وفـــا دي څرگنـــدېږي
واړه جفـــا کـــار دي وفـــادار نـــه مونـــده کېـــږي
وکـــه دلـــبري پـــه اول زړه د ســـړي يـــوسي
بيا چې ديدن غواړې لکه غـل هسـې پټېـږي
زه ورپســـې گـــرزم مبـــتلا پـــه زړه نتلـــی
دی زمـــا پـــه غـــم پـــورې حنـــدا کـــه هوســـېږم
يـــوسي قـــراري ارام زمـــا لـــه جـــان و دلـــه
بـــې لـــه ده نـــه يـــو ســـاعت پـــه مـــا کلـــه تېرېـــږي
(۵۴: ۱۱۳م).

نصيحت

د پند او نصيحت په ډول وايي چې بېهوده کارونه پرېږدئ او دا کارونه د نادانۍ دي چې وايي:

پرېـــږده بېهـــوده کارونـــه و ان د نـــادانۍ
کـــــار د نـــــادانۍ سراسر د ويرانـــــۍ
عمـــر چـــې لـــه لســـو کـــالو ورسي تـــر شـــلو
نور مناسب نه ده چې څوک کاندي حيـوانۍ
(۵۴: ۱۷۴م).

د مصري خان په دېوان کې په پورته ډول د ګڼو نور موضوعاتو یادونه هم شوې او نږدې ټولې خواوې یې د شعر په ژبه په خپل دېوان کې رانغاړلي دي چې موږ یې دلته په همدې پورته ذکر شویو بېلګو بسنه کوو.

د میافقیرجمیل بېګ خټک پېژندنه

لکه څنګه چې زموږ څېړنه د منځنۍ دورې د دېوانونو په اړه ده او په دې لړ کې د منځنۍ دورې دېوانونه څېړو، خو په دې کې ځینې داسې دېوان لرونکي شاعران شته، چې دېوانونه یې یا نه دي چاپ او یا تر موږ نه دي را رسېدلي، خو یادونه یې دلته اړینه ده او باید په شاعري او یا هم په هغه اثر چې زموږ په لاس کې دی بحث وکړو، چې له دې جملې څخه یو هم د ستر خوشحال خان خټک ورو میا فقیرجمیل بېګ خټک دی چې د نوموړي په مناقب نومي اثر به بحث وکړو.

جمیل بیګ د شهباز خان زوی او د پښتو ژبې د ستر شاعر خوشال بابا سکنی او کشری ورور دی. هغه د فقیر جمیل بیګ او میا جمیل په نامه سره هم مشهور دی. خوشال بابا په خپلو شعرونو کې د ده ستاینه کړې ده او په خپلې یوه بوللـه) قصیدې) کې یې، چې په ۱۰۸۰ لیږدي سپوږمیز کال کې یې لیکلې ده، داسې وایي:

یو مـــې سکه ورور دی چې حق لاره یې نیولې

دوه ورونه مې نور دي یو په غم درېیم بې غمه

د افضل خان خټک په تاریخ مرصع کې راغلي دي، کله چې د ده پلار شهباز خان شهید شو، جمیل بیګ هم ټپي شوی وو، نو له خپل ورور سره په اس سور شو، د خپل پلار د وینو بدل یې واخیست او تر هغې وروسته یې فقیري غوره کړه.

فقیر جمیل بیګ د کاکا صاحب شیخ رحمکار مرید و. د کاکا صاحب خاورو ته سپارلو په وخت کې خوشال بابا او فقیر جمیل بیګ د هغه جسد قبر ته ورکوز کړ او په دې وخت کې فقیر جمیل بیګ د شیخ رحمکار په اړوند لاندینۍ لنډۍ (ټپه) وویله:

په بوی دې ټول عالم خوشبوی شو **اصلي چندنه په تا پریوتل ګردونه**

په هغه دره کې چې دی اوسېده، یو جومات او یوه حجره یې جوړه کړې وه او په دغه حجره کې قرآن کریم او د فقهې کتابونه هم ایښودل شوي وو. که څه هم دی د شیخ رحمکار مرید وو، نو ده خپله هم ډېر مریدان درلودل چې له مریدانو نه یې یو هم شیخ یحیی دی چې په (حضرت جي اټکي) سره مشهور دی.

تاریخ مرصع لیکي: «جمیل بیګ به په وخت د مستۍ کې داریا او دف واهه او سندرې او سماع به یې کولې «.عبدالقادر خان خټک د فقیر جمیل بیګ د مستۍ، شور او جذبې داسې ستاینه کړې ده:

په خلفـاوو کـې یـې مسـت فقیـر جمیـل و

صـاحب حـال و مسـتانه یـې قـال وقیـل و

ابراهیم غوندې خـانې میـرې یـې پریښـوه

په اختیار یې فقیری ته غاړه کیښوه

فقیر جمیل بیګ د مستۍ او جذبې په وخت کې ځینې منظومې ټوټې هم ویلې دي چې یوه بیلګه یې قاضي میر احمد شاه په تحفة الا ولیاء کې راخیستې ده:

په دې خوړ کې سره او سپین انبار انبار دي　　فقیر نه اخلي او نه یې څه په کار دي

شیخ جمیل بیګ چې یو فقیر، صوفي او عرفاني شخصیت و په عرفان او تصوف کې یې ډیر کتابونه کښلي دي چې د ځینونومونه یې دادي:

تذکرة الا ولیاء ،نور محمدیه، خلاصة الطالبین ، شمس العارفین، اسرار العاشقین ، زبدة السالکین، تحفة المقربین او قدوة العارفین یې د یادو لو وړ دي

فقیر جمیل بیګ (تذکره شیخ رحمکار) په پارسي ژبه لیکلی دی چې خطي نسخې یې د کابل په ملي ارشیف کې شته چې په ۱۳٦۵ لمریز کال کې په کابل کې چاپ شوې او ښاغلي اسدالله شعور پرې په پارسي ژبه سریزه کښلې ده.

د فقیر جمیل بیګ مزار د پښتونخوا د ختکو د سیمې نوښار ته نږدې دی او د ده د مزار پر ډبره لیکل شوي دي چې نوموړی په ۱۱۱٦ کال کې مړ شوی دی. اروا یې ښاده او جنت یې ځای شه.

و(۲۰: ۱۴-۱۵م).

د میا فقیر جمیل بېګ ختک شاعري

د میاجمیل فقیربېګ ختک شاعري تر ډېره د عقیدې پورې تړلې ده او په اشعارو کې یې د څښتن تعالی ثناء او صفت، د دواړو جهانونو د سردار او ملګرو یې ستاینه او ځانګړنې بیان کړي دي. هېره دې نه وي چې د میافقیرجمیل په دېوان کې تر ډېره شاعري د مثنوي په فورم کې شوې او یوازې د دېوان په پای کې یو مخمس راغلی دی.

د میا فقیر جمیل بېګ ختک د اثر پېژندنه او ځانګړنې

(دا نسخه د مناقب میافقیرجمیل بېګ ختک په قلمي نسخو کې له ټولو څخه قدیمه ده او ملا بایزید بستاني د فقیرجمیل بېګ او د هغه د سکه لمسي میا اورنګ په خاطر لیکلې وه.)

مناقب د میافقیرجمیل بېګ هغه اثر دی چې مصنف یې میا شمس الدین کاکا خېل دی او تحقیق و ترتیب یې راج ولي شاه ختک کړی دی، د پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي له لوري چاپ شوی دی. په یاد اثر د

راج ولي شاه خټک له لوري اتلس مخه سريزه هم ليکل شوې چې تر ډېره يې د مياباباپه ژوند او مذهبي اړخ خبرې کړې دي.

د ميافقيرجميل بېګ خټک د اثر شعري فورمونه

د ميا فقير جميل بېګ په اثر کې راغلي شاعري څخه داسې معلومېږي چې نوموړي تر ډېره خپله شاعري چې عقيدوي رنګ لري د مثنوي په فورم کې کړې او د دېوان په اخر کې يې يو مخمس راغلی چې دلته به يې د ځينو بيتونو يادونه وکړو.

مثنوي

د ميافقيرجميل بېګ په دېوان کې تر ډېره د نوموړي شاعري د مثنوي په فورم کې شوې چې په دېوان کې راغلي څو بيتونه يې چې د دويز يا مثنوي په فورم کې دي په لاندې ډول دي چې وايي:

توفيـــــق راکـــــړې ربنـــــا

ســـتا د حمـــد ســـتا د ثنـــا

تـــه لايـــق د کـــل ثنـــا يـــې

تـــه خـــالق يـــې ربنـــا يـــې

کـه سـړی دی کـه ملـک دی

د زمـــين کـــه د فلـــک دی

که پېريـان دي کـه دېـوان دي

که چار پای دي که مرغان دي

(۲۰: ۱۹م).

مخمس

د مياجميل بېګ د دېوان په وروستۍ برخه کې يو مخمس راغلی چې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

بـــې وفـــا يـــم دروغجـــن

پـــه ګنـــاه يـــم مـــخ تـــورن

کـــړه نـــازل ســـبا بېګـــاه

تـه مـې خـدای يـې ذوالمـنن

زمـــــا وبخښـــــې گنـــــاه

(۲۰: ۲۵۳م).

د میافقیرجمیل بېگ ختک د اثر منځپانگه

لکه څنگه مو چې پورته هم یادونه وکړه د میاجمیل بېگ په دېوان کې راغلې ټوله شاعري په اسلامي رنگ رنگینه ده او ټوله شاعري په عقیدیوي لحاظ ده چې زه به یې د ځینو بیتونو یادونه دلته وکړم.

حمد

د اثر پیل یې د څښتن تعالی په حمد او ثناء سره کړی، لکه:

توفیـــــق راکـــــړې ربنـــــا

ســـتا د حمـــد ســـتا د ثنـــا

تـــه لایـــق د کـــل ثنـــا یـــې

تـــه خـــالق یـــې ربنـــا یـــې

کـه سـړی دی کـه ملـک دی

د زمـــین کـــه د فلـــک دی

که پېریـان دي کـه دېـوان دي

که چار پای دي که مرغان دي

(۲۰: ۱۹م).

نعت

د حضرت محمد ص ستاینه کوي او د هغه په باب وایي:

الهـــــــم زر صـــــــلوت

هـــم ســـلام هـــم تحیـــات

پـــه حضرـــت خـــیر البشرـــ

تـــه نـــازل کـــړې مکـــرر

بهـترین کـړی تـا سـبحان دی

هـــتر کـــړی تـــا رحـــمان دی

ره کـــــړی تـــــا جبـــــار دی

ی رســـول د تـــا اللـــه ج دی

(۲۰: ۲۳م).

د حضرت محمد ص د معجزې په باب وايي

واوره دا نقـــــــل گلرنـــــــگ

معجـــزه بـــزرگ خوشرنـــگ

پـــه کتـــاب کـــې هســـې نقـــل

راوي کانـــــدي وکـــــړه عقـــــل

يـــوه ورځ بـــو جهـــل ســـگ

شـــوم لعـــين پـــه زړگـــي ټـــگ

(۲۰: ۲۷م).

د الصابرين په هکله وايي:

يعـــين دی حضرـــت رســـول

ډېـــر صـــابر پـــه انـــدوه نـــول

صـابرين کـه ډېـر هـم نـور دي

کلـه څـوک د ده پـه څېـر دي

لکـــــه و حضرـــــت صـــــبور

پـــــه بـــــلا صـــــبور شـــــکور

يعنـــــې دی حضرـــت صـــديق

پـــه دا وصـــف کـــې عتيـــق

(۲۰: ۳۴م).

والقانتين

په دې پسې په لاندې ډول ويل کا:

يعنـــــــې دی حضرـــــت سرور

پـــــه دا وصـــــف لکـــــه لمـــــر

قـــــانتين کـــــه وي بســـــيار

د حضرت اصحاب کبار

کله بل و مشتهر

لکه دی چې اشهر

(۲۰: ۳۵م).

د شعر په ژبه په دې باب داسې غږېږي:

یعنې دی حضرت عثمان

په دا وصف ډېر روشان

(۲۰: ۳۵م).

پورته مو د میا فقیر جمیل بېګ خټک د اشعارو ځینې بېلګې ذکر کړې د نوموړي ټوله شاعري په همدې ډول ده او ټول اشعار یې د ښښتن تعالی ثنا و صفت، د رسول الله ص نعت او د اصحابو کرامو سیرتونو ته ځانګړي شوي دي چې په همدې پورته څو بېلګو راوړلو یې بسنه کوو او دا بحث په همدې ځای پای ته رسوو.

د میرزاحنان بارکزي پېژندنه

تر دې وړاندې مو د بل دېوان لرونکي شاعر په هکله خبرې وکړې او د نوموړي د لنډې پېژندنې تر څنګ مو د هغه په دېوان بحث وکړ. اوس هم له موضوع سره سم لومړی د میرزاحنان بارکزي لنډه پېژندنه کوو او بیا یې په دېوان تفصلي بحث کوو.

(حنان بارکزی د کندهار ولایت جنوبي لور ته د مرت کلا په کلي کې زېږېدلی دی، د پلار نوم یې محمد حسن و، چې په (۱۲۴۸ هـ ق) کال کې وفات شوی دی. حنان بارکزي د برهان په نامه یو ورور هم درلود چې د حنان په ژوند وفات شوی دی(۷: ب،م).

په همدې ډول یې په دېوان کې نورې خبرې هم د ژوند په هکله راغلي دي، چې هغه هم یوه خوله نه دي او په دقیق ډول یې معلومات نشته، خو د دېوان په سریزه کې دا هم ویل شوي چې نوموړی تر (۱۲۹۲ هـ ق) کال پورې چې د امیر شېرعلي خان دویم ځل واکمني کې ژوندی و. د حنان بارکزي د اولاد او قبر په هکله زموږ په لاس کې کوم معلومات نشته.

د نوموړي په باب یې د دېوان په سریزه کې دا هم ویل شوي دي چې ګوندې فارسي دېوان هم لري او ځینې نور تالیفات هم لري، خو په پښتو دېوان کې یو فارسي غزل راغلی او همدا د پښتو دېوان یې موږ په لاس کې لرو، نور اثار او فارسي دېوان یې زموږ په لاس کې نشته.

د میرزاحنان بارکزي شاعري

د میرزاحنان له شاعري څخه داسې معلومېږي چې نوموړی د هندي ادبي مکتب پیرو او د حمیدمومند لاروی دی. په دېوان کې هم څو څو ځایه لیدلی شو چې نوموړي دا ویلي چې د حمید د سبک پیرو دی، لکه چې وایي:

پیـــروي مې د حـــمید موشگاف وکړه

ما حنان د شعر لاس کړ د رحمان مات

(۷: ۱۵م).

د حنان په اشعارو کې له حمید پرته د ځینو نورو شاعرانو اغېزې هم ښکاري چې نوموړي یې بیتونه د تضمین په ډول اخیستي دي، لکه د رحمان بابا، پیرمحمد کاکړ او ځینو نورو بیتونه یې د تضمین په ډول اخیستي دي. هېره دې نه وي چې د حنان بارکزي په کلام کې د نورو موضوعاتو تر څنگ اخلاقي موضوعات هم شته او د تصوف رنگ هم پکې خال خال لیدل کېږي.

د حنان بارکزي په دېوان کې گڼ ادبي صنایع هم کارېدلي دي او په اشعارو کې ورڅخه استفاده شوې ده. د حنان بارکزي په شاعري ډېرې خبرې کېدلی شي خو زه په همدې پورته څو کرښو بسنه کوم او له دې وروسته خپل نور بحث ته دوام ورکوم چې د منځپانگې په برخه کې به یې لا ښه د اشعارو په باب وپوهېږو.

د میرزا حنان بارکزي د دیوان ځانگړنې

د میرزاحنان بارکزي دېوان چې سریزه، سمون او لغتنامه یې محمدمعصوم هوتک کړې په (۱۳۷۰ ل) کال د حمدالله صحاف کندهاري له خوا چاپ شوی دی. دېوان یې په (۱۲۸۰ هـ ق) کال مکمل کړی دی. د حنان بارکزي د دېوان په سریزه کې د دغه متن تر عنوان لاندې راغلي چې (د دېوان خطي نسخې د پاڼو شمېر یې یو شپېته دی، مخونه یې منظم رکابونه لري او په هر مخ کې څلور غزلې راغلې دي.

دا نسخه تر ډېره املایي غلتي نه لري. دا نسخه (۴۲۸) غزلې، (۴) قطعې، (۵) قصیده وزمه غزلې، (۱۳) څلوریزې، ترجیع بند، ترکیب بند، سراپا او د کتاب د ختم مثنوي لري. په نسخه کې یو فارسي غزل هم شته چې د دې متن(دېوان) په (۱۰۲) مخ کې راوړل شوی دی.

په همدې ډول یې د دېوان گڼې نورې ځانگړنې هم ذکر شوي دي او دا هم ویل شوي چې دېوان یې تر دې وړاندې یا بل ځل د چا له خوا چاپ شوی دی، خو موږ په همدې کرښو بسنه کوو او د موضوع بل عنوان ته ورځو.

د میرزا حنان بارکزي د دېوان شعري فورمونه

د میرزا حنان بارکزي دېوان په غزلو سره پیلېږي او له غزلو څخه وروسته یې قطعې راغلي دي، له قطعو وروسته د متفرقاتو برخه شروع کېږي چې پکې ترجیع بند، مخمس او رباعیات هم راغلي دي چې دلته به یې د هر فورم یادونه د څو بیتونو په راوړلو سره وکړو.

غزل

د دېوان پیل یې په غزلو شوی او د دېوان ډېره برخه یې غزلې دي چې په دېوان کې د راغلي یوه غزل څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

د یـــار عشـــق راکـــې پیـــدا کـــړ هســـې ســـوز
ســـــمندر راتـــــه حـــــیران دی شـــــب و روز
خوشـــحالي بېغمـــي نشـــته پـــه هـــېڅ فصـــل
لکـــه پـــېښ پـــه محـــرم کـــې سي نـــوروز
مـــا سرخـــط د بنـــده گـــۍ و یـــار تـــه وکـــړ
نـــــاخبر مـــــې بېگانـــــه بـــــولي هنـــــوز
څـــوک بـــه وگنـــډي زمـــا د زړگـــي زخـــم
نـــا پیـــدا دی پـــه دا شـــهر کـــې دلـــروز

(۷: ۳۴م).

قطعه

د حنان په دېوان کې د غزلو له برخې وروسته قطعې شروع شوي چې په دېوان کې راغلې یوه قطعه یې په لاندې ډول ده:

دا څو کاره له دا څـو طـایفو نـه سي
دا خـــبره ازمـــوده ده پـــه څـــو واره
لـه عربـه ادب مـه غـواړه خـبر سـه
رومي مه پوښته له موره یـا لـه پـلاره
شجاعت له شېرازي څخه مه غـواړه
نـه بـه هـېڅ خراسـاني وي وفـاداره
د ازبک په زړه کې رحم هر گز نشته

نـه راسـتي بخـارايي لـري لـه يـاره

(۷: ۲۳۳-۲۳۴م).

رباعي

د حنان بارکزي په دېوان کې د نوموړي څو رباعيات هم راغلي چې يوه يې په لاندې ډول ده:

مـخ دې سـيالي کـوي لـه افتابـه

زه يـې کـړم ويلـې لـه ډېـره تابـه

سـايه دې د زلفـو رابانـدې وکـړه

تور بخت مې ويښ که له شکر خوابه

(۷: ۲۳۹م).

ترجيع بند

په دېوان کې د راغلي ترجيح بند څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

يار مې ولاړ سو په سفر لـه دې وطنـه

کـه ارواح و کـوچ يـې وکـړ لـه بدنـه

کـه بلبـل پـه انـدوه والـوت لـه گلشـنه

کـه وروسـتی دم و د مـړي لـه دهنـه

چا به کړي وي لـه سـتړي زړه پوښـتنه

چـا بـه ايښـی وي ملهـم پـه زړه دننـه

دروغجن يې يم په مينه کې هـر گـوره

يـار مـې ولاړ سـو زه ونـه وتـم لـه کـوره

(۷: ۲۱۷م).

مخمس

د حنان په دېوان کې د نورو فورمونو سربېره مخمس هم شته چې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

عقل و هوښ صبرو ارام را څخـه تللـی

څـو بـه بحـر د عشـق زه يـم کېـوتلی

زړه مې هېڅکلـه ارام نـه دی مونـدلی

پـه کـړو د کـاره بخـت يـم پوهېـدلی

د گرداب په میانه کې گرځم لکه لـی

(۷: ۲۲۰م).

د میرزا حنان بارکزي د دېوان منځپانگه

د حنان بارکزي دېوان چې د منځپانگې له اړخه هم پکې گڼ موضوعات د شعر په ژبه بیان شوي دي او دا هر څه یې په رنگین او لوړ شاعرانه ذوق سره بیان کړي دي چې موږ به یې دلته له ځینو موضوعاتو څخه یادونه وکړو او اړوند بیتونه به یې هم راوړو.

حمد

د حنان بارکزي دېوان هم لکه د ډېرې شاعرانو د دېوانونو په شان د څښتن تعالی په حمد او ثناء پیلېږي، لکه چې وایي:

الهـــي د مـــــحبت پـــه اور کـــې تـــوان را
ســـمندر رنگـــه د پټـــې خـــولې تـــوان را
کـــل ســـختي مـــې لـــه زړه وباســـې قـــادره
لکـــه زلفـــې د خوبـــانو زړه پرېشـــان را
چې د فیض لباس هر حوک را څخـه یـوسي
د دانـــش لـــه رختـــه ډک هســـې دوکـــان را
چې مې شناخت له تا پرې وسي ذوالجلالـه
پـــه لطـــف سره ډک جـــام د عرفـــان را

(۷: ۱م).

د یار ستاینه

د یار مخ له گل سره تشبیه کوي او په ډېرو لوړو صفاتو یې ستایي، چې بېلگه یې لاندې لیدلی شو:

دا تور خط دې لکه مشک او مخ دی گـل ستا
دواړه ســترگې دې نـرگس زلفـې ســنبل ســتا
د اســـیرو زړو تـــړل دي بـــل څـــه نـــه دي
چـــې و غـــوړو تـــه خـــم شـــوی دی کاکـــل ســـتا
هـــر گـــز نـــه اوري زگېـــروی د مهجورانـــو
افـــرین دې وي پـــر هســـې تغافـــل ســـتا

کـــه بـــه اه چېـــرې قبلېـــږي د عشـــاقو
نـــه دې وي هرګـــز د حســـن تنـــزل ســـتا
(٧: ٦م).

له عشقه شکایت

د یار عشق کې ځان په غم ګڼي او وایي چې عشق له قیامت وړاندې راته قیامت وښود لکه چې وایي:

ســتا د عشــق پــه غــم کــې نــه یــم ملامــت
راتـــی وښـــود تـــر قیامـــت پخـــوا قیامـــت
لـه خـاطره مـې ستا خیـال پـه ظلـم نـه ځـي
تنـــده نـــه درومـــي لـــه تـــږي پـــه زحمـــت
مـــوزون قـــد چـــې مـــوذن ولیـــد پـــه ســـترګو
پـــه مســـجد کـــې یـــې ویـــل قامـــت قامـــت
د دریـــاب اوبـــه صـــدف لـــره دي زهـــر
شربـــت نـــه څښـــي د چـــا تـــږی د رحمـــت
(٧: ١٨م).

نصیحت

موږ ته وایي چې د دنیا عبث کارونه پرېږدئ، له غیبت او بهتان څخه ځان وساتئ، چې دا موضوع یې په لاندې څو بیتونو کې لیدل کېږي:

راســـه پرېـــږده د دنیـــا روزګـــار قبـــیح
پـه لاس واخلـه د نبـي ص د دیـن تسـبیح
لـــه غیبتـــه لـــه بهتانـــه ځـــان نګـــاه کـــړه
کلیمـــــه وایـــــه پـــــه زبـــــان فصـــــیح
ځان د خدای بې یاده مه کړه څو ژوندی یې
هلتـــه نـــه سي چـــې اجـــل دې کـــه ذبـــیح
کـه ځـای غـوارې د اسـمان پـر بـام د پاسـه
لـــه دنیـــا کـــه مینـــه پـــرې لکـــه مســـیح
(٧: ٢٢م).

د بېلتون په باب

خوږ ژوند د هجران له لاسه تریخ ګڼي او ځان د هجران له امله زنداني ګڼي لکه چې وايي:

خوږ ژوندون راپورې هسې کړ هجران تریخ
لکه حال وي پر بندیانو د زندان تریخ
نوخطان که د عاشق له ژړا بد وړي
پر سبزه باندې بې وخته وي باران تریخ
په وصلت کې له رقیبه نه خلاصېږم
پر موسم د ګل اوقات سي د باغوان تریخ
می حرام دي په مجلس کې چې یار نه وي
بې له ګله و بلبل ته سي بوستان تریخ

(۷: ۲۳م).

د هوښیار او نادان فرق

د هوښیار او نادان تر منځ توپیر کوي او دا فرق یې په لاندې بیتونو کې لیدل کېږي:

نادان نه سي کړای سخن لکه هوښیار
د بیده نفس جدا وي تر بیدار
عیش مې تریخ دی د جهان په باغ کې هسې
لکه ډک وي جام له زهرو د کوکنار
مردود نه درومي د عشق له دره هیڅوک
دغه اور نه که له دې خاشاکه عار
غافل هېڅ فیض د یار له مخه نه وړي
مفلس تېر سي په خالي لاس تر بازار

(۷: ۲۸م).

د یار په مینه فخر

د یار په مینه فخر کوي او ځان هغه وخت سرفراز بولي چې د یار مینه یې شروع کړه، لکه لاندې څو بیتونه د بېلګې په توګه راوړو:

چې داستان مې ستا د مینې کړ اغاز
زه هاله شوم په عالم کې سرفراز
مصور که دې صورت کیښ حیرانېږم

چـې پـه څـه دسـتور بـه وکـاږي سـتا نـاز
زمـــا د زړه د خونریزیـــه پـــه طلـــب کـــې
پټـې سـترګې مـدام ناسـت یـې لکـه بـاز
د رقیـب د پنـد پومبـه دې دي پـه غـوږ کـې
ځکـــــه نـــــه اورې زمـــــا د درد اواز

(۷: ۴۲م).

اخلاص

د اخلاص په باب وایي:

اشـــنایي سره رســـېږي پـــه اخـــلاص
د دریـــاب کښـــتۍ چلېـــږي پـــه اخـــلاص
پـه لبـاس مریـد لـه پـیره برخـه نـه وړي
د ایمـــان څـــراغ بلېـــږي پـــه اخـــلاص
چـې لـه سره غـواص تېـر سي در وکـاږي
لـــه دریـــاب در حاصـــلېږي پـــه اخـــلاص
چې خپل سر په صدق لاندې کـه تـر خـاورو
دانـــه ګـــوره زرغـــونېږي پـــه اخـــلاص

(۷: ۴۹م).

د دنیا په باب

موږ ته وایي چې دا دنیا ثبات نه لري او په غم کې یې مه اوسئ، دا موضوع د شعر په ژبه داسې بیانوی:

دا دنیـــا و مـــا فیهـــا چـــې وینـــې واړه
ثبـــات نـــه لـــري هرګـــز مـــه پســـې ژاړه
و اِذَا حَکمـــــتُم بَـــــینَ النـــــاسَ واوره
حـق باطـل سره جـدا کـړه مـه یـې نغـاړه
مـداماً چـې لکـه بـاز غوښـې د کـام خـورې
عاقبـت بـه سـې بنـدي پـه پښـو پـه غـاړه
جـــوړوې نـــوي قصرـــونه خـــبر نـــه یـــې

نـــن ســـبا دې ابـــادي ويـــنم ويجـــاړه

(۷: ۱۲۳م).

غرور او کبر

غرور او کبر غندي او هغه څوک چې د غرور پر بام گرځي وايي عقبت به دې له بامه را پرېوځي لکه چې وايي:

لـه غـــروره چـــې و لـــوړو تـــه خاتـــه کـــا
عاقبـــت بـــه لـــه دې لـــوړې پرېواتـــه کـــا
لـه خـامی د عشـق بلبـل پـه نـارو سر دی
پتنـــگ پټـــه خولـــه پـــه اور کـــې الواتـــه کـــا
چې دې خيال راڅخه ولاړ سي په هغه دم
روح رخصـــت لـــه تنـــه وغـــواړي واتـــه کـــا
پـــه يـــوه نظـــر مـــې زړه پـــاره پـــاره کـــړي
د تېـــرو تـــورو گـــوزار د يـــار کاتـــه کـــا

(۷: ۱۳۵م).

حقيقي عشق

په دېوان کې د حقيقي عشق ځينې بېلگې هم شته چې لاندې څو بيتونو کې يې ليدلی شو:

که يو ځل جام د عشق له ميـو نـوش کـړې
د جهـــان ښـــادی بـــه واړه فرامـــوش کـــړې
د منصـــور مقـــام بـــه مـــومې تـــل تـــر تلـــه
که د عشق د خاکساری حلقه بگوش کړې
همېشه به وحشـت خـورې لـه خپلـه ځانـه
کـه لـه جـام حقيقـي څـه بـاده نـوش کـړې
کامل عشـق بـه دې تـر ځايـه پـورې بـوځي
که تکيه د پير کامل اسـتاد پـه دوش کـړې

(۷: ۱۷۳م).

رښتينی يار

د رښتيني يار او دوست په باب يې هم ويل کړي چې په لاندې ډول ترې يادونه کو:

یـار هغـه دی چـې د یـار پـه پـت ولاړ وي
کـه راحـت ورتـه رسـېږي کـه زحمـت وي
روی گـردان لـه یـاره نـه وي پـه هـېڅ طـور
د یار ظلـم یـې پـر ځـان لـوی سـعادت وي
(۷: ۲۰۵م).

د مینې راز نه ویل

وایي د مینې راز چاته مه وایه او په دې اړه یې د ایاز او محمود واقعې ته اشاره کوي چې لاندې څو بیتونو یې د بېلگې په توگه راوړو:

و چاتــه مــه وایــه د مینـــې راز
حـــذر کـــړه مـــدام لـــه غـــماز
ولې ته نه وینې چې یـوې ښـځې
محمود کـړ بیـل پـه دوره لـه ایـاز
(۷: ۲۴۰م).

پورته مو د حنان بارکزي د دېوان د منځپانگې له اړخه د ډېرو موضوعاتو یادونه وکړه او د نوموړي د دېوان، د شاعري او پېژندنې په باب مو هم ځینې خبرې وکړې او هغه شعري فورمونه چې د نوموړي په دېوان کې راغلي د نمونې په توگه ذکر کړل، په همدې سره د حنان بارکزي د دېوان بحث پای ته رسوو.

د احمد پېژندنه

د احمد دپېژندنې په باب د نوموړي د دېوان په لومړي مخ کې د تعارف تر عنوان لاندې ځینې خبرې راغلي چې له هغو خبرو څخه هم د نوموړي د پیژندنې په باب کوم ښکاره معلومات نه حاصلېږي او یوازې دومره ویل شوي چې احمد په دېره اسماعیل خان کې اوسېده او د خپل وخت د لوړې پایې شاعر و. د نوموړي د پیژندنې په باب نور داسې څه نه دي ویل شوي چې موږ ترې د نوموړي د پېژندنې او یا د اوسېدو د ځای په باب کره او دقیق معلومات حاصل کړو.

د احمد شاعري

د احمد شاعري ساده او روانه ده او د همدې ځانگړنې په درلودو ویلی شو چې نوموړی د رحمان بابا د ادبي مکتب پیرو دی او د رحمان بابا ادبي لار یې تعقیب کړې ده. د احمد په اشعارو کې د عشق داسې مظاهره شوې چې دا عشق په ښکاره ډول معلومېږي چې حقیقي عشق دی او مجازي نه دی، لکه چې وایي:

د عشق بې حده لذت خو په درد او په محنت دی

عارفــانو دی مونــدلی وایــم زه لــه کــرو کــوره

(۲: ۳٦م).

په همدې باب یې په دیوان کې ګڼې نورې نمونې هم تر سترګو کېږي. د نوموړي له شعرونو څخه دا هم څرګندېږي چې د تصوف او سلوک په باب هم پوهېده او په دې برخه کې د ژوند یوه برخه او یا هم ژوند تېر کړی دی، ځکه نوموړی د اولیاوو، د روحانیاتو د کراماتو منونکی دی، لکه چې وایي:

په شمار به نـه شي بزرګـان سـتوري د اسـمان دي

غــرض دا چــې کــم او لــوی زېــړي ګــلان دي

(۲: ۲۰م).

په نورو خواوو کې هم شاعري کړې چې په نورو برخو به یې د دیوان د منځپانګې په برخه کې خبرې وکړو، دلته یې د شاعري په باب په همدې څو کرښو بسنه کوم.

د احمد د دیوان ځانګړنې

د احمد دیوان چې د حجم په لحاظ کوچنی دیوان دی او ټول په (٦٧) مخونو کې راټول شوی دی، دا دیوان د ګړهی حضرت خېل (تهانه) ملاکنډ ایجنسي له خوا چاپ شوی دی، په لومړي سر کې له حمد څخه شروع شوې او په همدې ترتیب یې په پرله پسې ډول نور شعرونه هم راغلي دي، په دیوان کې د کاتب له خوا به ځینو لغاتو او کلیماتو کې د اصلاح لپاره لاسوهنه شوې ده او اصلاح شوي دي، ځینې د قافیو د خرابېدو او وزن له لاسه ورکولو لپاره په خپل حال پرېښې دي. د دیوان په لومړي سر کې د تعارف تر عنوان لاندې ځینې خبرې شوي او له دې وروسته د دیوان اصلي برخه (شعرونه) شروع کېږي او دیوان یې په (٦٧) مخ کې پای ته رسېږي.

د احمد د دیوان شعري فورمونه

د احمد په دیوان کې تر ډېره غزلیات تر سترګو کېږي، د غزلونو تر څنګ یې په دیوان کې یوه الفنامه هم شته او د دې تر څنګ یې په دیوان کې یو مخمس هم شته، چې د پورته ذکر شویو ټولو فورمونو څخه به څو څو بیتونه د مثال په ډول راوړو.

غزل

ربــه کلــه بــه پــه مــا هغــه وخــت راشي

چې نصیب به مې دیدن د خپـل اشـنا شي

زه پـه هـره شـپه پـه زړه کـې خيـال کـړم
که خدای کا نن به مونده د يار وصـال کـړم
په امېد امېد دا شـپه پـه ځـان د کـال کـړم
لالـــی نـــه وي لمـــر راوخېـــژي ســـبا شي
زه د يـــار لـــه جـــدايي هســـې ناچـــار يـــم
چـې پـه روغ صـورت د مـړو پـه قطـار يـم
(۲: ۴۲م).

الفنامه

د احمد په دېوان کې يوه الفنامه موجوده ده چې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

الـــف اســـم د اللـــه ج وايـــه هـــر دم
چـــې خـــالق دی هـــم رازق د ټـــول عـــالم
ب بـاور کـړه پـه زړه چـې لا شريـک دی
بـــې لـــه ده نـــور هـــر څـــه وګنـــه عـــدم
ت توخـه د اخـرت پـه نېـک عمـل کـړه
بـــد عمـــل دی د دوزخ مـــار و لـــړم
ث ثنـا د حـق تعـالی پـه ښـه اخـلاص کـړه
تـــر دوو ســـترګو تويـــوه د اوښـــکو نـــم
(۲: ۳۳م).

مخمس

د احمد په دېوان کې يو مخمس دی چې څو بيتونه يې په دې ډول دي:

ای طالبـه شـه اګـاه
په ثنـاء د پـاک اللـه
له غفلتـه شـه نګـاه
وايه دا په هـره سـاه
لاالـــــه الا اللـــــه
(۲: ۲۵م).

د احمد د دیوان منځپانګه

د منځپانګې له اړخه د احمد په دیوان کې له حمد او نعت سربېره، عشق او نورې خواوې هم څېړل شوي چې دلته به یې د نمونو په راوړلو سره له ټولو څخه یادونه وکړم.

حمد

د دیوان پیل یې د الله ج په حمد او ثناء سره شوی دی، چې په لاندې ډول دی:

همګـــي ثنـــاء صـــفت ښـــايي د تـــا
چې خالق يـې هـم رازق د هـر اشـيا
ستا قدرت په هـره چـار رسي قـادره
محتاج نه يې چې مدد غواړې له چا
بې لښکره بادشاهي کړې تل تر تلـه
بـــې وزيـــره بـــې تـــدبيره يـــې دانـــا
بې له سترګو يې بينا بې غوږو اورې
بـــې زبانـــه يـــې پـــه ښـــه ويـــل ګويـــا

(۲: ۷م).

نعت

په دیوان کې له حمد پسې د پیغمبر ص ستاینه (نعت شریف) راغلی چې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

تـــه د دوه کونـــو بادشـــاه يـــې محمـــده
بهـــترين تـــر خلـــق اللـــه يـــې محمـــده
ســـتا مقـــام تـــه رســـېده د هيچـــا نشـــته
بـــالاتر پـــه عـــزو جـــاه يـــې محمـــده
نور دا ستا د خدای لـه نـوره ظـاهر شـوی
ښايســـته تـــر مهـــرو مـــاه يـــې محمـــده
عام و خاص دا ستا په ښکلي نوم نـازېږي
تـــه د درســـت عـــالم پنـــاه يـــې محمـــده

(۲: ۹م).

د محمد ص په باب بل ځای وايي:

ستا په رنګ خوبرویان نشته په عـالم کـې
کـه یـې وغـواړم پـه جملـه بنـي ادم کـې
کــه څــوک وغــواړي اتلــس زره قامــه
ملائیــک ســړی پــیری دنیــا تمــام
رسـېده نشـته د هیچـا سـتا تـر مقـام
خدای سردار کړې په عرب او په عجم کې
پـه اولـه ورځ پیـدا چـې شـوې لـه مـوره
نشـانې دې را څرګنـد شـوې هـر ګـوره
(۲: ۱۳م).

د اولیاوو کرامو په باب وایي:

نن مې بیا زړګـی تـازه د ګـل پـه شـان دی
چې راغلی مې پـه خولـه عجـب بیـان دی
چــــې سردار دی د همــــه اولیــــاوو
زه غـلام د هغـه پـیر یـم چـې سـلطان دی
هــر ولي د ده لــه دره برخــه مــومي
سـخاوت یـې بـې حسـابه بـې پایـان دی
خدای پـه ده بانـدې دی فضـل کـرم کـړی
دی د نــور عــالم هــادي رهنمایــان دی
(۲: ۱٦م).

د مرګ نه ناخبري:

لکــه زه چــې یــم لــه مرګــه نــا خــبر
بـل بـه نـه وي پـه دا شـان جـن و بشرـ
لـور پـه لـور د ښـو یـارانو بېلتـون ویـنم
زمـا هـېڅ نـه دی خپـل ځـان وتـه نظـر
شپه او ورځ دغه ګهریال دی چې واهه شي
چــې فــلان د فــالانی زوی وکــړ ســفر
رب راکــړی شــنوا غــوږ او بینــا ســترګې

پــه دې ســترګو، شــنوا غــوږو کــورو کــر

(۲: ۲۱م).

بې ثباتي دنيا

دا دنيا د سکونت ځای نه ګڼي او وايي چې تګ ترې دومره ژر دی لکه د برېښنا په شان، د دې موضوع د بيان لپاره څو بيتونه د نمونې په حيث راوړو:

هســې ځــي لــه دې جهانــه يــاران ژر ژر

لکـه درومـي چـې برېښـنا پـه اسـمان ژر ژر

دا مقـــام د ســـکونت نـــه دی عالمـــه

پکــې ناســت مســافران يــو زمــان ژر ژر

يــک تنهــا واړه راغــلي پــه دا ملــک يــو

تـرې بـه بېرتـه پـه دا رنـګ شـو روان ژر ژر

په مقصود پس تلوار وکړه وخـت کوتـاه دی

تيـز تـر بـاد ځـي سـتا د عمـر کـاروان ژر ژر

(۲: ۲۴م).

نصيحت

ښکلي نصيحتونه کوي لکه چې وايي:

ای طالبه شه اګاه

په ثناء د پاک الله

له غفلته شه نګاه

وايه دا په هره ساه

لا الـــه الاالـلـــه

(۲: ۲۵م).

د عشق په باب وايي:

نن خبر دې رنګا رنـګ کـړم د خسـته زړګـي لـه زوره

غـير فکـر پکـې نشـته بـې د عشـق لـه شرا شـوره

د عشق لويه مرتبه ده که خدای راکـړه ډېـره ښـه ده

چې په تـاو د عشـق و مـرم تـر دا ښـه نـه ويـنم نـوره

دا د عشق برخه عجب هر چې چا مونده له رب
دی دې ښه په طلب ګرځي دا شاهي ده له غمخوره
د عشق بېحده لذت دی خو په درد و په محنت دی
عارفانو دی موندلی وایم ځکه له کرو کوره
(۲: ۳٦م).

د بېلتون درد

زه چې اه فریاد کومه په درتګ
شو بې تانه درست جهان را باندې تنګ
سر فراز به شم په دوه سره جهانه
که په مهر راته وګورې تر څنګ
ستا د حسن په شغلو سره به موم شي
که هر څو یې زړګی سخت وي لکه سنګ
عاشقي غوندې لذت د نور څه نشته
که سکندر د زمانې شې یا اورنګ
(۲: ۴۰م).

د عشق ارمانونه

د یار د دیدن ارمان کوي او په دې باب وایي:

ربه کله به په ما هغه وخت راشي
چې نصیب به مې دیدن د خپل اشنا شي
زه به هره شپه په زړه کې خیال کړم
که خدای کا نن به مونده د یار وصال شي
په امید امید دا شپه په ځان د کال کړم
لالی نه وي لمر راوخېژي صبا شي
زه د یار له جدایي هسې ناچار یم
چې په روغ صورت د مړو په قطار یم
(۲: ۴۲م).

له بېلتون شکایت

له بیلتون څخه شکایت کوي او د بیلتون غم له غر سره تشبیه کوي، لکه چې وایي:

غـم د بېلتانـه مـې پـه زړګـي بانـدې انبـار شـه
وسوم سر تر پایـه شـېرین عمـر مـې پـه دار شـه
حکـم د خـدای نـه و کـه نـه روح مـې لـه صـورته
هجــر د محبــوب کــې الوتلــو تــه تیــار شــه
ډېر په مرګي خوښ یم چې له یاره بېلتون نه وی
بې له خپل جانانه درست وطـن راتـه انګـار شـه
تــل د عنــدلیب غونــدې نــارې وهــم عالمــه
وخـت د خـزان راغـی سـاعت تېـر د نوبهـار شـه
(۲: ٤٦م).

د محبوبا سخت چلند

په دې باب وایي:

نـن مسـته محبوبـه ده چـې پـه سـیل بیـا د ګلـزار ځـي
پلــو لــرې وړي لــه مخــه د زلمیــو پــه ناتــار ځــي
عجـب درومـي پـه څـو شـانه پـه نخـرو کـې خرامانـه
رنګارنــګ ږدي قدمونــه کلــه زر کلــه قــرار ځــي
ســترګې پټــې وړي لــه خیالــه سر و قـد حـورې مثالـه
شینکی خیال یې دی وهلـی د مـین زړه پـه ښـکار ځـي
لاس یـې مـه ګـوره طبیبـه حـق حـیران بـه شـې غریبـه
په دارو به یې پوه نه شې چې د عشق په رنځ بیمار ځـي
(۲: ۵۱-۵۲م).

د هجران له لاسه فریاد

روغ صورت مـې د هجـران پـه رنـځ رنځـور دی
شـیرین عمـر مـې پـه دار لکـه منصـور دی
زه چې اه کړم شین لوګی مې تر خولې درومي
بیلتانــه راکــړی داغ پــه زړګــي ســور دی
سر تــر پایــه پکــې وســوم بــې انګــاره

د دلـــبر دا جـــدايي هســـې تنـــور دی
نه په وصل کې څوک عرش ته الوتی شي
نـــه لـــه هجـــره دم ختلـــی د مهجـــور دی
(۲: ۵۴م).

د یار ستاینه

د یار ښکلا له لمر او سپوږمۍ څخه ډېره ګڼي، لکه په لاندې بیتونو کې:

اور مـــې بـــل دی پـــه خـــاطر د یـــار د مینـــې
ځکـــه ژاړم تـــر دوه ســـترګو اوښـــکې وینـــې
لمـر سـپوږمۍ دا سـتا لـه مخـه شرمنـده دي
خیال دې نشـته پـه ښایسـت کـې مـاجبینې
تورې زلفې دې شانه په سـپین رخسـار کـړې
کـه پـرې سـازې دې کـړې لښـتې عنبرینـې
بلـــبلان بـــه ننـــداره د ګلـــو پرېـــږدي
کـه خـبر شي سـتا پـه حسـن ګـل رنګینـې
(۲: ۵۷م).

د یار وصال

د یار وصال اختر ګڼي او په دې هکله وایي:

نـــن بیـــا پـــه مـــا اخـــتر دی لـــیلا راغلـــه برابـــره
زېبـــا پـــه شـــان د حـــورو سر تـــر پایـــه منـــوره
نـن بیـا پـه مـا اخـتر دی لـیلا راغلـه خوشـحاله
بـــې حـــده ســـازه ولي ماجبینـــه مشـــکین خالـــه
دوه ســـترګې خـــماري کـــا کـــه باڼـــه ابـــرو هلالـــه
د حسن سیال یې نشته په دوه کونو کې له سره
(۲: ٦٦-٦٧م).

پورته مو د احمد، د ده د دیوان او نورو خواوو په باب خبرې وکړې، چې دا بحث په همدې ځای پای ته رسوو.

د شریف پېژندنه

د خپلې موضوع مطابق مو اوسنی بحث د منځنۍ دورې دیوان لرونکی شاعر شریف دی، چې د تېر په څېر یې لومړی لنډه پېژندنه کوو او بیا یې د دیوان په بېلابېلو برخو خبرې کوو.

د شریف د زېږېدو د نېټې په باب موږ مستند مواد نه لرو او لکه د خپلو نورو ډېرو شاعرانو او نومیالیو په څېر یې د زېږېدو کره نېټه نه ده معلومه. (د کابل مجلې په یوه ګڼه کې ښاغلي جرار د هغه په باب لیکلي دي چې شریف د ننګرهار د لالپورې و، چې په (۱۳۰۷ ق) کال کې وفات شوی دی. نوموړی یو ولسي شاعر و، خو ډېر ښکلي او منسجم شعرونه یې ویلي دي(۴۰: ۸م).

د شریف په باب ویل کېږي چې ډېر اشعار یې په مختلفو شعري فورمونو کې ویلي دي چې ټول یې موږ ته په لاس نه دي راغلي او هغه یې چې را پاتې دي په دیوان کې خوندي دي. شریف په ځینو اشعارو کې د نورو پیروي کړې ده چې په ځینو غزلو کې د رحمان بابا لار تعقیب کړې ده او د نوموړي د سبک پیروي یې کړې ده.

د شریف د مرګ د نېټې په باب نور روایات هم شته خو داسې باوري خبر نشته چې مستند وي، بس موږ په هدغه پورته ذکر شوې نېټې بسنه کوو او د شریف د پېژندنې په باب هم همدغه څو کرښې بس ګڼو.

د شریف شاعري

شریف چې په ډېرو ځایونو کې د ولسي شاعر په نامه هم یاد شوی دی، چې دا خبر ډېره حقیقت ته نږدې هم ګڼلی شو او د شریف نږدې ټوله شاعري ولسي رنګ لري، په اشعارو کې د ولسي ادب بېلابېل ډولونه لکه چاربیتې او نور راغلي دي، ښه په خوند او ذوق یې د ولسي ادب رنګ پاللی دی.

نوموړی په ولسي شاعرانو کې د استادي مقام ته رسېدلی دی او په استاد مشهور و. د نوموړي اشعار او سندرې به په مینه شوقیانو یادولې او په مینه مینه به خلکو اورېدل. د نوموړي د استادي او محبوبیت یو دلیل دا هم دی چې د نوموړي سندرې او اشعار تر اوسه هم د خلکو یاد دي. ځینو نورو ولسي شاعرانو هم په خپلو اشعارو کې د شریف د نوم یادونه کړې ده او نوموړی یې په خپلو اشعارو کې یاد کړی دی. شریف ډېری شاګردان هم درلودل چې په دې کې دوه تنه ډېر مشهور دي، چې یو یې حکیم او بل یې وزیر نومېده، دا دواړه هم په خپل وخت کې ښه شاعران وو او د ښو شاعرانو په نامه پېژندل شوي دي.

پورته مو د شریف د شاعري په باب یو څو کرښې ولیکلې او په همدې بسنه کوو، د شریف شاعري په نورو خواوو به په نورو سرلیکونو کې هم وغړېږو، د شاعري بحث یې همدلته پای ته رسوو.

د شریف د دېوان ځانګړنې

د پیرمطیع الله دېوان چې د امیر کروړ د دولس سوه پنځوسم تلین په مناسبت د شریف د دیوان تر نامه لاندې د زرین انځور په سریزې او زیار سره په (۱۳٦۳هـ ق) کال د کتاب مجلې له لوري چاپ شوی دی. د دیوان په پیل کې د سریزې په ډول په پښتو او ولسي شاعري، د شریف په ژوند او په دیوان خبرې اترې شوي دي او بیا یې د شاعري بېلابېلې برخې په پرله پسې ډول راغلي دي.

په دیوان کې یې ګڼې کیسې هم راغلي دي او نورې د ولسي ادب بیلا بیلې ځانګړنې هم په دیوان کې شته، چې موږ ته به د شعري فورمونو او د دیوان د منځپانګې په برخه کې ښه پوه شو او راته به ثبوت شي.

د شریف د دېوان شعري فورمونه

د شریف په دیوان کې هم لکه د نورو ګڼو شاعرانو د غزلو په شمول دا لاندې شعري فورمونه موجود دي، چې دلته به یې د ځینو یادونه د بېلګو په راوړلو سره وکړم.

چاربیته:

د شریف په دیوان کې له راغلو چاربیتو څخه د یوې چاربیتې څو بیتونه په لاندې ډول دي:

نه شته دی ثاني زما د حسن په زمین کې

ښه سینه ګلزار زما

وهلي مې خالونه رنګارنګ دي په جبین کې

چې را نه شي په لار زما

وهلي مې خالونه زه چې داوړه سترګې توري کړم

ښې زلفې چورۍ لرم

ستا په شانته خلکو باندې سرې لمبې ورپورې کړم

شان د ښاپېرۍ لرم

(۹:۴۰م).

مثنوي

د شریف په دیوان کې ځینې کیسې هم د مثنوي په فورم کې راغلي چې د یوې مثنوي څو بیتونه یې په لاندې ډول دي.

بابا علیه السلام چې رب پیدا کړ په قدرت
خوړل به یې نعمتونه په جنت کې زما یاره
کیسه به درته وکړم د بابا علیه السلام
د بېلې بېلې خاورې یې پیدا شو هر اندام
د سر خاوره یې وایمه په حکم د جلیل
د بیت المقدس نه وه راوړې جبرائیل
(۴۰: ۱۴م).

غزل

د شریف په دیوان کې یو څو غزلې هم شته دي چې په دیوان کې د راغلي یوه غزل څو بیتونه یې په دې ډول دي:

چې د چا په غاړه پروت د عشق زنځیر دی
هغه گوره همېشه د ځان په ویر دی
ته چې کېنې وایې په ما تېرې خواری شوې
د مجنون په شانته چا کړی شوگیر دی
له چشمانو یې اوښکې تلې غم یې خوراک و
دی خو ځکه عاشقانو کې امیر دی
(۴۰: ۱۴۸م).

د شریف د دېوان منځپانگه

نعت

د شریف په دیوان کې د حضرت رسول اکرم ص ستاینه هم راغلې او په دې باب یې په لاندې ډول ویلي دي:

ستا نه ځار شم په زر وارې محمده
د الله ج په در رویدار یې محمده
اولین او اخرین الله ج پیدا کړې
معشوقه د کردگار یې محمده
ته په ځمکه کې محمود پاس محمد یې

دواړه کونـــو کـــې سردار يـــې محمـــده

شـفاعت بـه د محشرـ پـه لويـه ورځ کـړې

د امـــت بـــه مـــددگار يـــې محمـــده

(۴۰: ۱۴۰م).

د يار ستاينه

د شريف د ديوان په ډېر ځايونو کې په ساده او روانو الفاظو کې ولسي رنگ د يار او محبوب ستاينه راغلې او د يار ښکلا يې ستايلې ده، چې په خپله يوه چاربيته کې په لاندې ډول وايي:

ســـتا ســـپين مـــخ دی گـــلاب

سره لـــب پـــه پـــانو رنـــگ

گلان يې کتار کړي د اوربل په کنـارو

راتلـــــــــه پـــــــــه سر درو

شـــاه راغلـــه نـــن لـــه باغـــه

کـــــړه ځـــــي لـــــه دماغـــــه

پـــــه زړه يـــــې راکـــــه داغـــــه

(۴۰: ۴۷م).

د چکنور ملا غزا

د شريف په ديوان کې د ځينو غزاگانو او جنگونو کيسې هم د شعر په ژبه راغلي دي، چې په ديوان کې د راغلې يوې غزلې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي.

د خـدای رحمـت پـه دې مـلا شـه

د ده ملگـــری پـــا ک اللـــه شـــه

غـزا يـې وکـړه پـه اختيـار بانـدې

چپـاو يـې وکـړ پـه کفـار بانـدې

د چکنـــور مـــلا اختيـــار وکـــړ

د غـــزا نيـــت يـــې پـــه تلـــوار وکـــړ

کور په کور و گرځېد په مومند باندې

راځـئ غـزا وکـړو پـه خونـد بانـدې

(۴۰: ٦٢م).

د خاپښ جنګ

په همدې ډول يې د خاپښ جنګ تر عنوان لاندې يوه چاربيته کې داسې ويلي دي:

جنـــګ جـــوړ شـــو پـــه خـــاپښ کـــې
د کفـــــــــــــــر د اســـــــــــــــلام
مومندو فتحه وکړه نوم يې هر طرف ته خور شو
معلـــــــوم يـــــــې ورتـــــــه زور شـــــــو
مومنـــد شـــو اتفـــاق، وايـــې اچـــوه طـــلاق
راضي شـــــــــــــــو تـــــــــــــــرې رزاق
لـوی وو کـه واړه وو تـړلي تلـه پـه شـغ کـې
جنـــګ جـــوړ شـــو پـــه خـــاپښ کـــې

(٤٠: ٦٨م).

د شاه منصور کيسه

په ديوان کې يې لکه مخکې مو چې هم وويل زياتې کيسې راغلي دي، چې ځينې د مثنوي په فورم کې دي، لکه چې وايي:

کيســـــــه د شـــــــاه منصـــــــور وايـــــــم
تاتـــــــه يـــــــې پـــــــه خضـــــــور وايـــــــم
غـوږ کېـږده شـاګرده د شـيطان کلانکـاري ګـوره
همدغـــــــــــه مکـــــــــــاري ګـــــــــــوره
ده تـــــه چـــــې يـــــې چغـــــلي وکـــــړه
او ډېـــــره يـــــې بـــــد فعـــــلي وکـــــړه
ته چې شې ويده خور دې روانه شي حجرو پسې
ګرځـــــــــــــــي مســـــــــــــــخرو پســـــــــــــــې

(٤٠: ٧٤م).

د ادم ع په باب

د شريف د ديوان په راغلو کيسو کې ډېرې يې ديني اړخ لري، چې د پيغمبرانو ص او نورو نېکانو کېسې دي، په همدې لړ کې د ادم ع کيسه هم کړې چې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي:

بابا علیه السلام چې رب ج پیدا کړ په قدرت
خوړل یې نعمتونه په جنت کې زما یاره
کیسه به درته وکړم د بابا علیه السلام
د بېلې بېلې خاورې یې پیدا شو هر اندام
د سر خاوره یې وایمه په حکم د جلیل
د بیت المقدس نه وه راوړې جبرائیل
د مخ خاوره یې وایمه د جنت نه وه راوړې
شاگرده په کتاب کې مې په خپله ده لیدلې
(۴۰: ۷۹م).

شمس تبریز

د شمس تبریز په باب یې په دیوان کې په لاندې ډول ویلي دي:

شمس تبریز ته شه روان
زیارت یې جوړ دی په ملتان
چې را کوز کړی یې و افتاب
پرې پخاوه به ده کباب
غوث الاعظم شو خبر دار
زر را روان شو په تلوار
چې دغه ولي کړي نامداره
هېڅ نه ویرېږي له ازاره
(۴۰: ۱۱۳م).

د یار په باب

تا بیا د تور اوربل په سر قطار کړه تاویزونه
وهې په جبین خال
ناترسې ولې اخلې د ویشتلو ازارونه
مخلوق دې کړ پایمال
تا بیا د سره اوربل په سر قطار کړه سره ماران
همېش له خیاله خورې

سینه باندې دې زانګې ستا د زلفو ښاماران

شانه زلفې سمسورې (۴۰: ۱۲٦م).

نورنامه

د شریف په دیوان کې نامې هم شته چې د نورنامې څو بیتونه یې په لاندې ډول دي:

قصـــــه کـــــوم د نـــــور د محمـــــد نبـــــي سرور

اویـــازره ملکـــې یـــې پـــه لوســـتلو پیـــدا کېـــږي

د ده د پیدایښـــت بنـــا چـــې وکـــړه ذوالجـــلال

یـو بهـر یـې پیـدا کـړ پـه هغـې کـې یـې جـوړ لعـل

هغه لعل یې په منځ نیم که رب پیدا کړ ترې یـو سـیند

څلوېښـــت زره کلونـــه یـــې ژور و تـــاترین

د ده نـــور چـــې پیـــد شـــو و پـــه شـــانې د طـــاووس

راوړي کتـــابونو مـــا یـــې کـــړی و تپـــاوس

(۴۰: ۱۵۷م).

پایله

د دې څېړنې پایله دا شوه چې په منځنۍ دورې کې د ډېرو شاعرانو دېوانونه چاپ شوي دي. په دوی کې ځینې داسې شاعران شته چې دېوانونه یې په څلونو چاپ شوي دي او داسې شاعران هم شته چې دېوانونه یې په متوسط ډول یو یا دوه ځلې چاپ شوي او داسې شاعران هم لرو چې یوازې یې د دېوانونو یادونې شته، خو چاپ نه دي؛ مګر د یوې خبرې یادونه اړینه ده چې د دوی د دېوانونو خطي نسخې د نړۍ په کتابتونونو کې شته.

د دوی دېوانونه د محتوا او شکلي جوړښت له مخې په زیات او کم توپیر سره ډېر ورته والی لري. د دوی افکار هم په لږ توپیر سره ډېر مشترکات لري. د هرې دورې شعرونه خپلې ځانګړنې لري چې هره دوره له بلې دورې څخه په همدغو ځانګړنو سره بېل شوي دي.

په دغو شاعرانو کې د درې کټګوریو خلک شته، یو هغه شاعران دي چې شعرونه یې لوړ ارزښت لري او د هنریت او شعریت له مخې یې ساری نه لیدل کېږي، داسې شاعران هم شته چې شعرونه یې نه ډېر لوړ ارزښت لري او نه ډېر ادنا شاعري کوي، په همدې ډول داسې شاعران هم شته چې شعرونه یې پیغام وړاندې کوي، خو نظمونه یې د ژبې د پانګې په ډول د یادونې وړ دي خو هنري او شعري ارزښت یې کم دی.

په منځنۍ دوره کې په لسګونو تنه شاعران شته چې شعري دېوانونه يې چاپ شوي، چې په دې څېړنه کې ورباندې بحث شوی او د شاعرانو پېژندنې او د دېوانونو شکلي او محتوايي ځانګړنې يې راوړل شوي دي.
په دې څېړنه کې د روښاني ادبي مکتب د شاعرانو پېژندنې او د دېوانونه ځانګړتياوې ښودل شوي، همدارنګه د اخونددرويزه او لارويانو پېژندنې او د دېوانونو ځانګړنې يې هم راوړل شوي او د خوشحال خان ختک، عبدالرحمان بابا، عبدالحميدمومند د مکتبونو د بنسټګرانو او لارويانو پېژندنې او د دېوانونو ځانګړنې بيان شوي، تر څنګ يې د احمد شاهي عصر او د داسې شاعرانو پېژندنې او د دېوانونو ځانګړنې بيان شوي، چې د کوم ادبي مکتب پورې تړاو نه لري.
په ټوله کې به دا څېړنه د منځنۍ دورې د شاعرانو او د دوی د دېوانو په هکله يو داسې اثر وي، چې د ټولو په اړه لنډ خو هر اړخيز معلومات لري.

مناقشه

څېړونکو ته لازمه ده چې خپله څېړنه په يو داسې موضوع تر سره کړي، چې د څېړنې ارزښت ولري، دا ځکه چې بې ارزښته موضوعات لوستونکي نه لري او مسلک ته کومه ګټه نه رسوي، بلکې يوازې د وخت ضايع وي او بيا چې د څېړنې لپاره د لارښود استاد او د څېړنې د کميټې د غړو اجازه اړينه وي، همدارنګه څېړونکی د ژوري هئيت پر وړاندې د خپل تحقيق پر دفاع اړ وي؛ نو بيا خو اړينه ده چې څېړونکی په يو داسې ورکه موضوع خپله څېړنه وکړې چې تکرار نه وي، نوښت ولري، مسلک کې يوه زياتونه وي، لوستونکي ولري، د څېړنې لپاره ورته شرايط برابر وي او د څېړنې ټولې ځانګړنې په پام کې ونيسي، نو که څېړونکی دې نقطو ته متوجه وي او خپله څېړنه د همدې اساساتو له مخې تر سره کړي، نو بيا به هله په څېړنه کې بريالی وي.
دا موضوع (د پښتو ادب منځنۍ دورې د دېوانونو څېړنه) د څېړنې د اصولو مطابق تر سره شوي او ټولې هغه ځانګړنې چې يوه څېړنه يې بايد ولري، په دې کې ليدل کېږي، دا ځکه چې له دې وړاندې په دې موضوع کار نه دی شوی، چې همدا د يوې نوې څېړنې لپاره مهم اساس دی او بله دا چې د لارښود استاد مشورې او سپارښتنې مې هم عملي کړي دي.
بايد ووايم چې له دې وړاندې زما موضوع ته ورته کار، لکه ادب تاريخونو کې د منځنۍ دورې د شاعرانو او د دوی د دېوانونو پېژندنې، يا هم په ادبي تذکرو کې د دوی پېژندنې راغلي دي، همدارنګه په جلا جلا ډول د ځينو دېوان لرونکو شاعرانو په باب بحثونه شته او يو نيم ځای د دوی د دېوانونو ځانګړنې هم بيان شوې، خو زما کار له دې ټولو سره جوت توپير لري، ځکه چې هلته بحث سطحي شوی او ما بيا په دقيق ډول څېړلي، همدارنګه په نورو کتابونو کې د يو يا څو د ګوتو په شمېر شاعرانو ذکر شوي دي، ما بيا د امکان تر حده د منځنۍ دورې د ټولو دېوان لرونکو شاعرانو او د دوی د ېوانونو په هکله په دې څېړنه کې خبرې کړي، چې دا به د دې تحقيق يو ځانګړنه وي.

باید ووایم چې په نورو اثارو کې په محتوا هم سطحي بحث شوی دی او په زیاترو ځایونو کې یې چې بیتونه راخیستي دي ماخذونه یې هم نه دي ځرګند؛ مګر په دې څېړنه کې پر محتوا اوږد بحث شوی او د نوې څېړنې مطابق د هر بیت ماخذ په هماغه ځای کې په نښه شوی دی.
همدارنګه ځینې دېوانونه له څېړونکو څخه ورک و او یا هم د منځنۍ دورې دېوان لرونکي شاعران لوستونکو ته معلوم نه و، چې د دې څېړنې په لوستلو سره به د پښتو ادب د مینوالو او لوستونکو دا ستونزه حل شي.

نتیجه ګیري

که د پښتو ادب دغه شاعران او لیکوال په دقیق ډول مطالعه شي، نو بیا به حتمي همدا پریکړه کوې، چې دوی په خپل وخت کې پښتو ژبې او ادب ته لوی خدمت کړی دی، په خپلو شعرونو او لیکونو کې یې بېلابېلې خواوې رانغاړلي، خپلې لیکنې یې د فورم او محتوا له مخې غني کړي دي، لکه د عروضي نظمونو ډېره زیاته برخه یې پښتو شعر ته را دننه کړه، چې له دې وړاندې په پښتو ادب کې دا برخه کم رنګه وه.
همدارنګه که وګورو د معنا له مخې یې په پښتو شعر کې یو لوی بدلون رامنځته کړی دی. شعر یې ته د تصوف او عرفان تر څنګ د ټولنیز ژوند هره برخه وردننه کړه لکه: مینه، اخلاق، پښتونولي... او داسې نور.
باید ووایو چې د دې دورې ځینې دېوانونه له املایي اړخه نیمګړتیاوې لري، چې د څېړنو په پایله کې اصلاح کېږي، همدارنګه د پښتو ژبې خپل لغتونه چې اوس نه کارول کېږي، په دې دېوانونو کې لیدل کېږي، چې د دې په رابرسیره کولو سره به پښتو ژبه نوره هم غني شي.
باید ووایم چې د ځینو دېوانونو د خطاطانو نومونه نشته او د دې ټولو تر څنګ په ځینو دېوانو کې د لیکلو نېټه او ځای نه دی ځرګند، چې د دې څېړنې یوه موندنه همدا هم ده چې دغسې دېوانونه پکې ځرګند شوي دي.
په ټوله کې ویلی شو، چې دا څېړنه د منځنۍ دورې د دېوان لرونکو شاعرانو د پېژندنې او د دوی د دېوانونو د ځانګړنو پېژندلو یو ښه ماخذ کېدای شي.

وړاندیزونه

۱) دا چې په پوهنتونونو کې د پښتو ادبیاتو درې واړه دورې تدریسېږي؛ نو اړتیا ده چې په دې هکله معیاري څېړنې وشي، چې محصلین د دې دورو ټول شاعران او د دوی د شاعرۍ ځانګړنې وپېژني.

۲) د منځنۍ دورې هر شاعر ډېر کار ته ضرورت لري؛ ځکه د دوی دېوانونه له هر ډول مسایلو ډک دي، پوهنتونونه باید خپلو محصلینو ته په دوی څېړنیز کارونه ورکړي تر څو د دوی د شاعرۍ اصل نور هم راڅرګند شي.

۳) علومو اکاډمي باید په دې هکله خلکو ته د تحقیق زمینه برابره کړي، چې د دېوانونو په هکله نور هم دقیق او کره څېړنې تر سره شي.

٤) ټول پوهنتونونه باید هر کال لږ تر لږه د یوه ځانګړي شاعر په هکله سیمینار برابر کړي او څېړونکو ته یې په اړه د بېلابېلو مقالو لیکلو سپارښتنې وکړي، په دې سره موږ کولی شو، چې د هغوی فکر په ټولنه کې عام کړو، تر څو خلک یې له کړنو او افکارو سره نور هم اشنا کړو.

٥) د دې دورې ځینې دېوانونه له املایي اړخه نیمګړتیاوې لري، څېړونکي باید د خپلو څېړنو په پایله کې دا واضیح او اصلاح کړي.

ماخذونه

۱. احمد شاه بابا. (۱۳۹۲ل). د احمد شاه بابا دېوان. سریزه حبیب الله رفیع. (دویم چاپ). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۲. احمد. دیوان احمد. (د چاپ کال نه لري). پېښور: ملاکنډ ایجنسي.

۳. اخونزاده ، عبدالعلی .(۱۳۸٦ل). اخونزاده ، عبدالعلی مرجانو لړ غزلو غورچاڼ ،پېښور: دانش خپرندویه ټولنه .

٤. امیر، ملا. (۱۳۹۵ل). د ملا امیر دېوان. سریزه، ترتیب، لمنلیکونه او لغتنامه محمد معصوم هوتک. کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه.

٥. انصاري، میرزا خان.(۱۳۵۳ل).د میرزا خان انصاري کلیات .کابل :پښتو ټولنه .

٦. بابو جان. (۲۰۱۴ز). د بابو جان مجموعه. تحقیق و حواشي سلیم بنگش. کوټه: پښتو اکېډمي بلوچستان.

۷. بارکزی، میرزا حنان. (۱۳۷۰ل). د میرزا حنان بارکزي دېوان. سریزه، سمون، او لغتنامه د محمد معصوم هوتک. کندهار.

۸. بنگښ، خواجه محمد. (۱۹٦۵ز). دېوان خواجه محمد بنگښ. دیباچه پریشان خټک. پېښور: پښتو اکیډیمي د پېښور یونیورسټي.

۹. بیاض. (۲۰۰۱ز). د بیاض دېوان. نقل، سمون، حاشیې او مقدمه د عبدالله بختاني خدمتگار. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۰. بیدل. (۱۹۵۷ز). دېوان بیدل. مرتب همیش خلیل. پېښور: شاهین پرییس.

۱۱. پوپلزی، عبدالله محزون. (۱۳۹۲ل). د عبدالله پوپلزي دېوان. سریزه او لمنلیکونه محمد معصوم هوتک. کندهار: د کندهار د اطلاعاتو او فرهنگ ریاست.

۱۲. توخي، جدید. (۲۰۱۵ز). د جدید توخي دېوان. سریزه، سمون او لغتنامه مطیع الله روهیال. کوټه: پښتو اکېډیمي بلوچستان.

۱۳. حبیب الله. (۱۳٦۰ل). د حبیب الله دېوان. سریزه، سمون، لغتنامه او فهرستونه د محمد عارف غروال. کابل: د افغانستان د علومو اکاډیمي د ژبو او ادبیاتو علمي او تحقیقاتي مرکز پښتو ټولنه.

۱٤. حبیبي ،عبدالحی .(۱۳۸٦ل).پښتانه شعراء لومړی ټوک ،لیکونکی او راټوونکی حبیبي او د پښتو ټولنې نور غړي ،کابل : دولتي مطبعه .

۱۵. حسین. (۱۹۵۸ز). دېوان حسین. مرتب همېش خلیل. پېښور: پبلک ارټ پرییس پېښور.

۱٦. حنیف ، خلیل. (۲۰۱۷ز). شرح د دیوان کاظم خان شیدا. پېښور: اعراف پرنټرزمحله جنگي پېښور.

۱۷. خټک، خوشحال خان. (۲۰۰۹ز). ارمغان خوشحال. (دریم چاپ). مقدمه سید رسول رسا. پېښور: یونورسټي بک ایجنسي.

۱۸. خټک، خوشحال خان.(۱۳۹۷ل). د خوشحال خان خټک کلیات. تدوین سید محی الدین هاشمي. پېښور: میهن خپرندویه ټولنه.
۱۹. خټک، عبدالقادر. (۲۰۰۲ز). د عبدالقادر خان خټک دېوان. تحقیق او ترتیب پروفیسر جهان زیب نیاز. پېښور: پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي.
۲۰. خټک، فقیر جمیل بیک. (د چاپ کال نه لري). مناقب د فقیر جمیل بیک خټک. مصنف میا شمس الدین کاکاخېل. پېښور. پښتو اکیډیمي پېښور یونورسټي.
۲۱. خټک، گوهر خان. (۲۰۰۲ز). د قلب السیر شاعري. تحقیق او ترتیب محمد زبیر حسرت. پېښور: مرکه پبلیشیز.
۲۲. خټک، کامگار خان. (۱۳۹۳ل). د کامگار خان خټک کلیات. شننه، سپړنه او زیار میا وکیل شاه فقیرخېل. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۲۳. خټک، کامگار. (د چاپ کال نه لري). د کامگار خټک دېوان. کابل: د خوشحال خټک د مړینې د درې سوم تلین د بین الملي سیمینار په ویاړ.
۲٤. خټک، معاذ الدین. (۱۳۹۳ل). د معاذالدین خټک دېوان. سریزه، کتنه او وییپانگه میاوکیل شاه فقیرخېل. پېښور. دانش خپرندویه ټولنه.
۲۵. خدیجه بیگم.(۱۳۸٦ل).د خوشحال خان ژوند او اثار،پېښور : دانش خپرندویه ټولنه .
۲٦. خویشکی، ارزاني. (۲۰۰۵ز). د ارزاني خویشکي کلیات. سمون او څېړنه پروېز مهجور خویشکی. پېښور: پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي.
۲۷. خویشکی، شیخ ادم. (۱۳۹۳ل). د شیخ ادم خویشکي دېوان. سریزه، سمون او لغتنامه د محمد معصوم هوتک. کراچي: صحاف نشراتي موسسه.
۲۸. خیبري، یونس. (۱۳۵٦ل). د یونس دېوان. نقل، مقابله، سمون، مقدمه او حاشیه عبدالله خدمتگار. کابل: د اطلاعاتو او کلتور وزارت.
۲۹. داوي، رحمت. (۱۳۹۵ل) د رحمت داوي دېوان. سریزه، سمون او لغتنامه مطیع الله روهیال. کندهار. علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
۳۰. درویزه، اخوند. (۱۹۸۷ز). مخزن. مقدمه سید محمد تقویم الحق کاکاخېل. پېښور: پښتو اکاډمي.
۳۱. رحمان بابا. (۲۰۱۸ز). د رحمان بابا کلیات. تحقیق، ترتیب او سمون دوست محمد خان کامل مومند او قلندر مومند. پېښور: یونیورسټي بوک ایجینسي.
۳۲. رفیق، مولوي محمد. (۱۹۹۳ز). دیوان شمس الفلک. مولوي محمد رفیق. پېښور: پښتو اکېډیمي.
۳۳. روښان، بایزید. (۱۳٦۴ل). بایزید روښان. د علم رساله. مرتب دوست شینواری. کابل: د افغانستان د علومو اکاډیمي د ژبو او ادبیاتو مرکز پښتو ټولنه.

٣٤. روښان، بايزيد. (١٣٨٥ل). فرحت المجتبى. سريزه او سمون زلمی هېوادمل. کابل. کابل مجله، د ژبو او ادبياتو مرکز.
٣٥. روښاني، واصل. (١٣٦٥ل). د واصل روښاني دېوان. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز پښتو ټولنه.
٣٦. زيور، زيور الدين. (١٣٧٨ل) ادب تاريخ (منځنۍ دوره). جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه.
٣٧. سعيد. (١٣٩٠ل). د سعيد دېوان. (دريم چاپ). ترتيب، تحقيق او مقدمه همېش خليل. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.
٣٨. سکندر خان. (د چاپ کال يې معلوم نه دی). سکندر خان دېوان. مقدمه دوست محمد کامل مومند. پېښور، سرحد قصه خوانی.وروستی چاپ .(١٣٩٩). مياوکيل شاه فقير خيل.
٣٩. شاد محمد خان. (د چاپ کال نه لري). شاد محمد خان دېوان. مقدمه ډاکتر سيد عظيم شاه خيال بخاري. پېښور: پښتو اکيډيمي پېښور يونيورسټي.دويم چاپ .(١٣٧١).پرويز مهجورخيشکي په زيار.
٤٠. شريف .(١٣٦٣ هـ ق). د دولس سوه پنځوسم تلين په مناسبت د شريف ديوان د زرين انځور په سريزې او زيار ، کابل: کتاب مجلې خپرندويه ټولنه .
٤١. شيدا، کاظم خان. (١٣٨٤ل). د کاظم خان شيدا دېوان. تدوين، سريزه، يادښتونه او وييپانگه حنيف خليل. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.
٤٢. صاحبزاده، محمدي. (١٣٨٥ل). د محمدي صاحبزاده دېوان. ترتيب او مقدمه قلندر مومند. پېښور.
٤٣. صديق. (١٣٥٨ل). د صديق دېوان. سريزه او تصحيح دوست شينواری. کابل: د افغانستان د علومو اکاډيمي د ژبو او ادبياتو انستيتيوت.
٤٤. طالب ، احمددين .(١٣٩٢ل).د احمدالدين طالب ديوان ، سريزه او زيار د مياوکيل شاه فقيرخيل ، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه .
٤٥. طلب شاه. (٢٠٠٥ز). د طلب شاه دېوان. مرتب همېش خليل. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.
٤٦. عبدالعظيم. (١٩٩٠ز). دېوان عبدالعظيم بابا. ترتيب الطاف احمد خليل او عبدالباقي شاه. پېښور: زيب ارت پبلشرز.
٤٧. عثمانوف، عارف. (١٣٩٧). نابغه خوشحال. (اول ټوک). د خوشحال خان په رباعياتو کې اخلاقي افکار. په زيار د لال پاچا ازمون. کابل: د افغانستان علومو اکاډمي او کابل پوهنتون.
٤٨. علي خان. د علي خان دېوان.(١٣٨٣ل). زيار عبدالله پاچا. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.
٤٩. علي، مير. (١٣٨٦ل). د مير علي دېوان. ټولونه او څېړنه د عبدالروف خان رفيقي. پېښور: يونيورسټي بوک ايجنسي.

۵۰. فیاوالدین .(۱۳۹۸ل).د فیاوالدین دېوان ، سریزه اوډنه ډاکټر نصرالله جان وزیر ، پېښور :پښتو اکاډامۍ .
۵۱. فیروزالدین، خدیجه. (۱۳۸۷ل). د خوشحال خان ختک ژوند و هنر، ژباړه اجمل ښکلی. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
۵۲. قلندر. (۱۳۵٦ل). د قلندر دېوان. سریزه او سمون زلمی هېوادمل. کابل: پښتو ټولنه.
۵۳. قیومي ، عبدالشکور.(۱۳۹۹ل).په کلاسیکه دوره کې پښتو ادبي مکتبونه .کابل :الهام نبي زاده خپروندیه ټولنه .
۵٤. گگیاڼی، مصري خان. د مصري خان گگیاڼي دېوان. (د چاپ کال نه لري). ترتیب او تدوین خیال بخاري. پېښور: پښتو اکاډیمي.
۵۵. کاکړ، پیرمحمد. (۱۳۸۵ل). د پیر محمد کاکړ دېوان. مدون او مقابله عبدالروف بېنوا. (دویم چاپ). کابل: پښتو ټولنه.
۵٦. کاکړ، شمس الدین. (۱۳۸۵ل). د شمس الدین کاکړ د اشعارو دېوان. (دویم چاپ). کابل: پښتو ټولنه.
۵۷. کاکړ، ملاجان محمد. (۱۳۹۲ل). د ملا جان محمد کاکړ دېوان. سریزه، کتنه ویپپانگه عبدالکریم عامر. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۵۸. لتاړ، ملا. (۱۳٦۷ل). د ملالتاړ دېوان. نقل، مقدمه، لمنلیک او نعت نامه عبدالرحیم ځدران. کابل: د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو ریاست.
۵۹. لواڼی ، دولت .(۱۳۹۱ل).د دولت لواني دېوان .سریزه عبدالشکور رشاد (دویم چاپ).پېښور ،دانش خپرندویه ټولنه .
٦۰. مالگیري ، گل محمد .(۱۳۹۳ل).د گل محمدمالگیري دېوان ، سریزه ، سمون او لغتنامه مطیع الله روهیال ،کندهار : علامه رشاد خپرندویه ټولنه .
٦۱. مخلص، علي محمد. (۱۹۹۸ع). د علي محمد مخلص دېوان. سمون او څېړنه ډاکتر پرویز مهجور خویشکی. پېښور: د پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستي.
٦۲. مست. (۱۳٦۴ل). منختبات د مست له سلوک العزات او نورو رسالو څخه. کابل: پښتو ټولنه.
٦۳. مسلم دوست، عبدالرحیم. (۱۳۸۹ل). خوږه ژبه. پېښور: سبا کتابتون، نعلبندی،قصه خوانۍ بازار،پېښور.
٦٤. مطیع الله، پیر. (۱۹۸٦ ز). د پیر مطیع الله دېوان. حاشیه او سمون همیش خلیل. پېښور: منظور عام پرییس پېښور.
٦۵. مومند، حمید. (۱۳٦٦ل). شرعت الاسلام. زیار دوست شینواری. کابل: د افغانستان د علومو اکاډیمي، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز.

٦٦. مومند، عبدالحمید. (١٣٨٦ل). د عبدالحمید مومند کلیات. اوډون او ویپپانګه محمد اصف صمیم. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
٦٧. مومند، معزالله خان. (٢٠١٢ز). دېوان معزالله خان مومند. ترتیب همېش خلیل. (دریم چاپ). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
٦٨. میا داد، اخوند. (٢٠١١ز). د اخوند میاداد دېوان. څېړنه بدرالحکیم حکیم زی. لاهور: اداره نشر المعارف.
٦٩. میا نعیم. (١٩٦٤ز). دېوان میا نعیم. ترتیب او تدوین خیال بخاري. پېښور: پښتو اکیډیمي د پېښور یونیورسټي.
٧٠. نجیب. (١٩٧٢ز). دېوان نجیب. ترتیب، تدوین او دیباچه خیال بخاري. پېښور: پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.
٧١. هاشمي، سید اصغر. (١٣٩٤ل). د ادبي دورو ټاکنه ، ننګرهار :هاشمي خپرندویه ټولنه .
٧٢. هاشمي، سید اصغر. (١٣٩٥ل). ادبي ترمینالوژي،ننګرهار: قلم خپرندویه ټولنه .
٧٣. هاشمي، سید اصغر. (١٣٩٩ل). د پښتو نظم تاریخ (لومړی او دویمه دوره).(دویم چاپ) پېښور: قلم خپرندویه ټولنه.
٧٤. هاشمي، سید محی الدین. (١٣٩٥ل). د ادب پوهنې څانګې. پېښور: میهن خپرندویه ټولنه.
٧٥. هجري، اشرف خان. (٢٠٠١ز) .د اشرف خان هجري دېوان. تحقیق او ترتیب همېش خلیل. پېښور: د پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.
٧٦. هوتک .عبدالرحیم .(١٣٩١ل). د عبدالرحیم هوتک دېوان ، سریزه، اوډنه او کتنه ،محمدصادق ژړک ،کندهار .
٧٧. هېوادمل، زلمی.(١٣٨١ل).ننګیالی دزمانې، جرمني:د افغانستان کلتوري ودې ټولنه .
٧٨. هېوادمل، زلمی.(١٣٩٣ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغونې او منځنۍ دوره . (دریم چاپ). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.